الورد الشذی

پښتو شرح د

جامع الترمذی

افادات
شیخ الاسلام فقیه العصر
محمد حسن جان المدنی شهید رحمه الله

خصوصیات
- معرب متن
- په متن باندې اعراب
- د باب نمبر
- د حدیث نمبر
- ترجمه او تشریح
- حل لغات
- د راوی حالات
- د حدیث تخریج
- تحقیق د مذاهب اربعه
- متن مع السند بالاستیعاب

حدیث
۱ تا ۳۰۵

جمع وترتیب
خادم العلماء ...
ابو هلال عبد الخالق
... خان عفی عنه

مکتبه رحمانیه
محله جنگی قصه خوانی پشاور
0302-6709815
0315-9400041



Maktaba Tul Ishaat



تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقه	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفه	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

Contact Us: maktaba.tul.ishaatofficial.com

وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوىٰ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحىٰ

الـــورد الشـــذي

بشرح

جامع الترمذي

الجزء الســـادس

من ـ ۲۵۲۳ ـ الى ـ ۳۱۴۸ ـ

جمع وترتيب: خادم العلماء المفتقر الي الله ابوهلال: **عبد الخالق بن خان محمد**

خريج الجامعة امداد العلوم الاسلامية پشاور ـ وفاضل وفاق المدارس العالمية (ايم اى اسلاميات)

ازافادات

شيخ الاسلام فقيه العصر محمد حسن جان (المدني) شهيد (رحمه الله)

ناشـــر: مكتبه رحمانيه پشاور

اسم الكتاب: الورد الشذي بشرح الجامع للترمذي

جلد: سادس

من _٢٥٢٣_ الى _ ٣١٤٨_

تاليف: ابوهلال "**عبدالخالق**" خَرِيْجُ الْجَامِعَة اِمْدَادُ الْعُلُوْمِ الْاِسْلَامِيَّةِ پِشَاوَر_
وفاضل وفاق المدارس العالمية (ايم اى اسلاميات) رابطه نمبر ٠٣٣٣٩١٢١١٩٢

سال اشاعت: **٢٠٢١**

تعداد: ١٠٠٠

ناشر: مكتبه رحمانيه محله جنگي نزد قصه خواني (پشاور)

اهتمام طباعت: الحاج شاه زاده صاحب

بسم الله الرحمن الرحيم

فهرس العناوين والمحتويات

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ، وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

(سورة الصافات:١٨٢)

****

كتاب صفة الجنة (عن رسول الله صلى الله عليه وسلم)

١_ باب مَا جَاءَ فِي صِفَةِ شَجَرِ الْجَنَّةِ

٢٥٢٣_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: "إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَشَجَرَةً يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي ظِلِّهَا مِائَةَ سَنَةٍ"، وفي الباب عن أَنَسٍ وَأَبِي سَعِيدٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي په جنت کې يوه ونه ده چې په ښه ساتلي شوي تيز رفتار اس سور سړی به يی لاندي سل کاله مزل کوي،

امام ترمذي وايي: داحديث صحيح دي او په دي باب کي دانس او ابوسعيد خدري رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

لغات: راکب؛ سور دماشي ضد دي جمع يي رکاب راځي، ظِل: معني سوري جمع يي ظلال راځي.

تشريح: ددي وني سوری به دومره وي چې تيزرفتار اس يي په سلو کالو کې ختمولی نشي علماء وائي دوني نه مراد خاښونه دي سوری مراد نه دی ځکه چې په جنت کې به نمر نه وي نو چې نمر نه وي نو سوری څنګه کيدی شي په پورتني حديث کې دجنت دونو اوږدوالی او پلنوالی وسعت بيان شوی دی چې ونې به يي دومره دومره وي.

په پورتني حديث کې چې دکومي وني ذکر راغلی دی ديته "شجرة طوبي" وئيلی شي لکه چې په يو اوږد حديث کې ديو اعرابي واقعه راغلي ده او هغه دادی چې کله ده دجنت دوني او عهد په باره کې سوال لوکړو نو رسول الله ورته اوفرمائيل په جنت کې ديوي وني نوم طوبي دی او هغه يي ددنيا په ونو کې د جوزه سره مشابه اوګرځولو اعرابي بيا سوال اوکړو چې ددي وني وکي به څومره وي ورته يي اوفرمائيل ددومره مصافي په مقدار به وي چې مسلسل به ديوي مياشتي پوري الوزولی شي اعرابي بيا تپوس اوکړو چې ددي جرړي به څومره وي ورته يي اوفرمائيل ستا دکور په اوښانو کې چې کوم ځوان اوښ روان وي نو ددي دجرړو احاطه نشي کولی تردي چې دا اوښ به بوډا شي غرض دا چې دي اعرابي بيا دانګور په باره کې هم سوال اوکړو.

1_ صحيح مسلم/الجنة ا (٢٨٢٦) (تحفة الأشراف: ١٣٢١٣)

****

٢٥٢٤_حَدَّثَنَا عَبَّاسٌ الدُّورِيُّ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ شَيْبَانَ، عَنْ فِرَاسٍ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " فِي الْجَنَّةِ شَجَرَةٌ يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي ظِلِّهَا مِائَةَ عَامٍ لَا يَقْطَعُهَا، وَقَالَ: ذَلِكَ الظِّلُّ الْمَمْدُودُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ أَبِي سَعِيدٍ. ([1])

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په جنت كي يوه داسي ونه ده چې په اس سور بنده ددي لاندي سلو كالو پوري مزل اوكړي نو بيا به هم ددي سوري ختم نكړي او دا يي هم اوفرمائيل همدا ظل ممدود دي (دكوم ذكر چې په قران كي راغلي دي.

امام ترمذي وايي: دابوسعيد خدري دا حديث حسن غريب دي.

****

٢٥٢٥_حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ الْأَشَجُّ، حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ الْحَسَنِ بْنِ الْفُرَاتِ الْقَزَّازُ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَا فِي الْجَنَّةِ شَجَرَةٌ إِلَّا وَسَاقُهَا مِنْ ذَهَبٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ أَبِي سَعِيدٍ. ([2])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په جنت كي هيڅ يوه ونه داسي نشته چې تنه يي دسرو زرو نه وي.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن غريب دي.

****

٢_بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ الْجَنَّةِ وَنَعِيمِهَا

دجنت وصف او ددي د نعمتونو بيان

٢٥٢٦_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ حَمْزَةَ الزَّيَّاتِ، عَنْ زِيَادٍ الطَّائِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ، مَا لَنَا إِذَا كُنَّا عِنْدَكَ رَقَّتْ قُلُوبُنَا وَزَهِدْنَا فِي الدُّنْيَا وَكُنَّا مِنْ أَهْلِ

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٢٢١)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٤١٨)

الآخِرَةِ، فَإِذَا خَرَجْنَا مِنْ عِنْدِكَ فَآنَسْنَا أَهَالِينَا وَشَمَمْنَا أَوْلَادَنَا أَنْكَرْنَا أَنْفُسَنَا ! فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْ أَنَّكُمْ تَكُونُونَ إِذَا خَرَجْتُمْ مِنْ عِنْدِي كُنْتُمْ عَلَى حَالِكُمْ ذَلِكَ لَزَارَتْكُمُ الْمَلَائِكَةُ فِي بُيُوتِكُمْ، وَلَوْ لَمْ تُذْنِبُوا لَجَاءَ اللَّهُ بِخَلْقٍ جَدِيدٍ كَيْ يُذْنِبُوا فَيَغْفِرَ لَهُمْ". قَالَ: قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مِمَّ خُلِقَ الْخَلْقُ؟ قَالَ: "مِنَ الْمَاءِ". قُلْنَا: الْجَنَّةُ مَا بِنَاؤُهَا؟ قَالَ: "لَبِنَةٌ مِنْ فِضَّةٍ وَلَبِنَةٌ مِنْ ذَهَبٍ وَمِلَاطُهَا الْمِسْكُ الْأَذْفَرُ وَحَصْبَاؤُهَا اللُّؤْلُؤُ وَالْيَاقُوتُ وَتُرْبَتُهَا الزَّعْفَرَانُ، مَنْ دَخَلَهَا يَنْعَمُ وَلَا يَبْأَسُ، وَيَخْلُدُ وَلَا يَمُوتُ، لَا تَبْلَى ثِيَابُهُمْ، وَلَا يَفْنَى شَبَابُهُمْ". ثُمَّ قَالَ: "ثَلَاثَةٌ لَا تُرَدُّ دَعْوَتُهُمْ، الْإِمَامُ الْعَادِلُ، وَالصَّائِمُ حِينَ يُفْطِرُ، وَدَعْوَةُ الْمَظْلُومِ يَرْفَعُهَا فَوْقَ الْغَمَامِ، وَتُفَتَّحُ لَهَا أَبْوَابُ السَّمَاءِ، وَيَقُولُ الرَّبُّ عَزَّ وَجَلَّ: وَعِزَّتِي لَأَنْصُرَنَّكِ وَلَوْ بَعْدَ حِينٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِذَاكَ الْقَوِيِّ وَلَيْسَ هُوَ عِنْدِي بِمُتَّصِلٍ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ بِإِسْنَادٍ آخَرَ، عَنْ أَبِي مُدِلَّةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې مونږ عرض اوکړو اي دالله رسوله ددي څه وجه ده چې کله مونږ تاسره موجود يو نو زمونږ په زړونو رقت او نرمي راخوره وي او دغه وخت کي مونږ ددنيا نه بيزاره يو او داخرت باره کي فکر مند يو ليکن کله چې مونږ ستا نه جدا شو او خپل بال بچ ته لاړ شو اوددوئ سره يوځاي شو نو مونږ خپلو زړونو لره بدل شوي وينو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل که تاسو هميشه په دغه کيفيت پاتي شئ په کوم کيفيت چې تاسو زما دخوا نه وتلي يئ نو فرشتي به تاسو سره ستاسو په کورونو کي ملاقاتونه کوي، او که چري تاسو ګناهونه اونکړئ نو الله تعالي به نور داسي مخلوق پيدا کړي چې ګناهونه به کوي او بيا به يي الله تعالي ګناهونه معاف کوي، ما عرض اوکړو اي دالله رسوله دا مخلوق دڅه څيز نه پيدا کړي شوي دي؟ رسول الله اوفرمائيل داوبو نه مونږ عرض اوکړو جنت دڅه څيز نه جوړ دي نو وبي فرمائيل يوه خښته يي دسپينو زرو ده او بله خښته يي دسرو زرو ده او ختِه يي دمشکو او اذفر نه ده او کانړي ددي دملغرو او ياقوتو نه دي او خاوره يي دزعفرانو ده څوك چې ديته داخل شي هغه به عيش او ارام کوي او هيڅ کله به په تکليف کي مبتلا نشي او په دي کي به هميشه اوسيږي اومرګ به ورته هيڅ کله نه راځي نه به يي جامي زړيږي او نه به يي ځواني تيريږي، بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دري قسمه کسان داسي دي چې دعا يي نه رد کيږي اول عادل بادشاه دي دويم هغه روژه دار دي چې کله افطار کوي او دريم دهغه مظلوم دعا ده چې کله خيري اوکړي الله تعالي دده خيري دوريځو سره

---
1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٢٩٠٥) وانظر مسند احمد (٣٠٤/٢، ٣٠٥)

خیژوي او دده دپاره داسمان دروازي پرانیزي او الله تعالي وائي زما دي پخپل عزت قسم وي زه به ضرور ستا مدد کوم اګر که لږ وروسته وي.
امام ترمذي وایي: ددي حدیث سند قوي نه دي او زما په نزد متصل هم نه دي داحدیث په بل سند دابو مدله په واسطه هم مروي دي کوم چې دابوهریره رضي الله عنه نه او ابوهریره یې دنبي کریم صلي الله علیه وسلم نه نقل کوي.

****

٣_بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ غُرَفِ الْجَنَّةِ

دجنت دکمرو دحالت او وصف بیان

٢٥٢٧_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ إِسْحَاق، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ عَلِيٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَغُرَفًا يُرَى ظُهُورُهَا مِنْ بُطُونِهَا، وَبُطُونُهَا مِنْ ظُهُورِهَا، فَقَامَ إِلَيْهِ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ: لِمَنْ هِيَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: "هِيَ لِمَنْ أَطَابَ الْكَلَامَ، وَأَطْعَمَ الطَّعَامَ، وَأَدَامَ الصِّيَامَ، وَصَلَّى لِلَّهِ بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ تَكَلَّمَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ إِسْحَاق هَذَا مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ وَهُوَ كُوفِيٌّ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ إِسْحَاق الْقُرَشِيُّ مَدَنِيٌّ وَهُوَ أَثْبَتُ مِنْ هَذَا.[1]

ترجمه: دعلي رضي الله عنه بیان دي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي په جنت کي داسي کوټي دي چې دننه حصه به یې دبهر نه او بهرنۍ حصه به یې د دننه نه ښکاري، دي وخت کي یو باندچي اودریدو او عرض یې اوکړو اې دالله رسوله دا دچا دپاره دي رسول الله اوفرمائیل دا به دهغه چا دپاره وي څوك چې ښائسته او نیکۍ خبري کوي او خلقو ته خوراکونه ورکوي او په پابندۍ سره روژي نیسي او چې خلق کله اوده وي نو دي دالله تعالي درضا دپاره دغه وخت کي دشپې مونځونه کوي.

امام ترمذي وایي: داحدیث غریب دي بعضي اهل علمو په عبدالرحمن بن اسحاق باندي دحفظ په اعتبار سره کلام کړي دي او عبدالرحمن دکوفي اوسیدونکي دي او کوم عبدالرحمن بن اسحاق چې قریشي دي هغه دمدیني اوسیدونکي دي او کوفي والا عبدالرحمن زیات اثبت دي.

****

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٢٩٥) وانظر مسند احمد (٢/٢٠٤، ٢٠٥)

٢٥٢٨ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ الصَّمَدِ أَبُو عَبْدِ الصَّمَدِ الْعَمِّيُّ، عَنْ أَبِي عِمْرَانَ الْجَوْنِيِّ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِنَّ فِي الْجَنَّةِ جَنَّتَيْنِ آنِيَتُهُمَا وَمَا فِيهِمَا مِنْ فِضَّةٍ، وَجَنَّتَيْنِ آنِيَتُهُمَا وَمَا فِيهِمَا مِنْ ذَهَبٍ، وَمَا بَيْنَ الْقَوْمِ وَبَيْنَ أَنْ يَنْظُرُوا إِلَى رَبِّهِمْ إِلَّا رِدَاءُ الْكِبْرِيَاءِ عَلَى وَجْهِهِ فِي جَنَّةِ عَدْنٍ ". وَبِهَذَا الإِسْنَادِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَخَيْمَةً مِنْ دُرَّةٍ مُجَوَّفَةٍ عَرْضُهَا سِتُّونَ مِيلًا فِي كُلِّ زَاوِيَةٍ مِنْهَا أَهْلٌ مَا يَرَوْنَ الآخَرِينَ يَطُوفُ عَلَيْهِمُ الْمُؤْمِنُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو عِمْرَانَ الْجَوْنِيُّ اسْمُهُ: عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ حَبِيبٍ، وَأَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي مُوسَى. قَالَ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ: لَا يُعْرَفُ اسْمُهُ، وَأَبُو مُوسَى الأَشْعَرِيُّ اسْمُهُ: عَبْدُ اللهِ بْنُ قَيْسٍ، وَأَبُو مَالِكٍ الأَشْعَرِيُّ اسْمُهُ: سَعْدُ بْنُ طَارِقِ بْنِ أَشْيَمَ. ([1])

ترجمه : دابوموسی اشعري عبدالله بن قیس رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په جنت کي دوه داسي باغونه دي چې ددي لوښي او تمام سامانونه يي دسپينو زرو وي او دوه پکي داسي باغونه دي چې لوښي او تمام سامانونه يي دسرو زرو دي. په جنت عدن کي به دخلقو او ددوئ دپروردګار د ديدار په مينځ کي صرف څادر کبريايي حائل وي کوم چې دهغه په مخ باندي وي.

او په همدي سند منقول دي چې په جنت کي به يوه داسي خيمه وي چې د شپيته ميله پلني ملغلري نه به جوړه شوي وي ، چې د يو ګوټ والا به يي بل ګوټ والا نه ويني او دي ته به اهل ايمان څي راځي.

امام ترمذي وايي: دا حديث صحيح دی اود ابو عمران جوني نوم عبد الملك بن حبيب دی، د ابو بكر بن موسي باره کي امام احمد بن حنبل وايي دده نوم مشهورنه دی ، اود ابو موسي اشعري نوم عبد الله بن قيس دی.

****

٤ـ باب مَا جَاءَ فِي صِفَةِ دَرَجَاتِ الْجَنَّةِ

د جنت د اوصافو او درجو بيان

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /تفسير سورة الرحمن ١ (٤٨٧٨) ، و ٢ (٤٨٨٠) . والتوحيد ٢٤ (٧٤٤٤) . صحيح مسلم /الإيمان ٨٠ (١٨٠) . سنن ابن ماجه/المقدمة ١٣ (١٨٦) (تحفة الأشراف : ٩١٣٥) ، و مسند احمد (٤/٤١١، ٤١٦) . وسنن الدارمي/الرقاق ١٠١ (٢٨٦٣)

۲۵۲۹ـ حَدَّثَنَا عَبَّاسٌ الْعَنْبَرِيُّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا شَرِيكٌ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُحَادَةَ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "فِي الْجَنَّةِ مِائَةُ دَرَجَةٍ مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ مِائَةُ عَامٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په جنت كي سل درجي دي او دهري يوي درجي نه تر بلي درجي پوري په مينځ كي دسلو كالو دمزل په مقدار فاصله ده.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي.

****

۲۵۳۰ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، وَأَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ البصري، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ صَامَ رَمَضَانَ وَصَلَّى الصَّلَوَاتِ وَحَجَّ الْبَيْتَ لَا أَدْرِي أَذَكَرَ الزَّكَاةَ أَمْ لَا إِلَّا كَانَ حَقًّا عَلَى اللَّهِ أَنْ يَغْفِرَ لَهُ إِنْ هَاجَرَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ مَكَثَ بِأَرْضِهِ الَّتِي وُلِدَ بِهَا". قَالَ مُعَاذٌ: أَلَا أُخْبِرُ بِهَذَا النَّاسَ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ذَرِ النَّاسَ يَعْمَلُونَ، فَإِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، وَالْفِرْدَوْسُ أَعْلَى الْجَنَّةِ وَأَوْسَطُهَا، وَفَوْقَ ذَلِكَ عَرْشُ الرَّحْمَنِ، وَمِنْهَا تُفَجَّرُ أَنْهَارُ الْجَنَّةِ فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللَّهَ فَسَلُوهُ الْفِرْدَوْسَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَكَذَا رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ هِشَامِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، وَهَذَا عِنْدِي أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ هَمَّامٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، وَعَطَاءٌ لَمْ يُدْرِكْ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ، وَمُعَاذٌ قَدِيمُ الْمَوْتِ مَاتَ فِي خِلَافَةِ عُمَرَ. (2)

ترجمه: دمعاذ بن جبل رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي درمضان روژي اونيولي او مونځونه يي اوكړل او حج يي اوكړو (عطاء بن يسار وائي ماته معلومه نه ده چي معاذ زكوة ذكر كړو او كنه) نو په الله تعالي باندي دا حقه ده چي ده لره اوبخي اگر كه دي دالله په لاره كي هجرت اوكړي او يا پخپل پيدائشي وطن كي پاتي شي معاذ اووئيل ايا زه خلقو ته ددي خبر ورنكړم؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل خلق پريږده

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۱۴۲۰۱)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۱۴۲۰۱)

چې عمل کوي څکه چې په جنت کې سل درجې دي او دهر دوه درجو په مينځ کې دومره فاصله ده څومره چې دزمکې او اسمان مينځ کې ده او فردوس دجنت اعلي او دټولو نه اوچته درجه ده او ددې دپاسه عرش درحمان دي او هم ددينه دجنت نهرونه بهيږي لهذا کله چې تاسو دالله نه جنت غواړئ نو جنت الفردوس ورنه اوغواړئ.

امام ترمذي وايي دارنګې دا حديث عن هشام بن سعد عن زيد بن اسلم عن عطاء بن يسار عن معاذ بن جبل سند سره هم مروي دي او دا زما په نزد دهمام دهغه حديث نه زيات صحيح دي کوم چې هغه عن زيد بن اسلم عن عطاء بن يسار عن عبادة بن الصامت سند سره نقل کړي دي کوم چې روسته راروان دي څکه چې عطاء دمعاذ بن جبل سره ملاقات نه دي شوي يعني ملاقات يې ورسره ثابت نه دي او معاذ بن جبل دعباده بن صامت نه مخکې دعمر رضي الله عنه دخلافت په دور کې وفات شوي دي.

****

٢٥٣١_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا هَمَّامٌ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ أَسْلَمَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "فِي الْجَنَّةِ مِائَةُ دَرَجَةٍ مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ الأَرْضِ وَالسَّمَاءِ، وَالْفِرْدَوْسُ أَعْلاَهَا دَرَجَةً وَمِنْهَا تُفَجَّرُ أَنْهَارُ الْجَنَّةِ الأَرْبَعَةُ، وَمِنْ فَوْقِهَا يَكُونُ الْعَرْشُ، فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللَّهَ فَسَلُوهُ الْفِرْدَوْسَ".

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ نَحْوَهُ. ([1])

ترجمه : دعباده بن الصامت رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په جنت کې سل درجې دي او دهر دوه درجو مينځ کې دومره فاصله ده څومره چې دزمکې او اسمان مينځ کې ده او د درجې په اعتبار فردوس اعلي جنت دي او هم ددينه دجنت نهرونه بهيږي او ددې دپاسه عرش واقع دي لهذا کله چې تاسو دالله نه جنت غواړئ نو جنت الفردوس ورنه اوغواړئ.

****

٢٥٣٢_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ دَرَّاجٍ أَبِي السَّمْحِ، عَنْ أَبِي الْهَيْثَمِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ لَوْ أَنَّ الْعَالَمِينَ اجْتَمَعُوا فِي إِحْدَاهُنَّ

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥١٠٢)

لَوَسِعَتْهُمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه دابوسعید خدري رضي الله عنه بیان دي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي په جنت کي سل درجي دي که چري دتمام جهان ټول خلق په یوه درجه کي راجمع شي نو همدا به ددوئ ټولو دپاره کافي وي

امام ترمذي وايي: داحدیث غریب دي

* *

٥ـ باب فِي صِفَةِ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ

دجنت دښځو بیان

٢٥٣٣ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ. حَدَّثَنَا فَرْوَةُ بْنُ أَبِي الْمَغْرَاءِ. أَخْبَرَنَا عَبِيدَةُ بْنُ حُمَيْدٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِنَّ الْمَرْأَةَ مِنْ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ لَيُرَى بَيَاضُ سَاقِهَا مِنْ وَرَاءِ سَبْعِينَ حُلَّةً حَتَّى يُرَى مُخُّهَا، وَذَلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ يَقُولُ: كَأَنَّهُنَّ الْيَاقُوتُ وَالْمَرْجَانُ (الرحمن : ٥٨) فَأَمَّا الْيَاقُوتُ فَإِنَّهُ حَجَرٌ لَوْ أَدْخَلْتَ فِيهِ سِلْكًا ثُمَّ اسْتَصْفَيْتَهُ لَأُرِيتَهُ مِنْ وَرَائِهِ ".(2)

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي دجنت په ښځو کي دهري ښځي دپنډئ سپین والي به داویا جوړو نه بهر ښکاري تردي پوري چې ماذغه به یي هم ښکاري همدا وجه ده چې الله تعالي فرمائیلي دي ''کانهن الیاقوت والمرجان'' یعني ته به وائي ګویا کي دوئ یاقوت او ملغلري دي یاقوت یو داسي کاڼړي دي که تاسو په دي کي تار واچوئ او بیا یي پاک کړئ نو تار به تاسو ته دبهر نه ښکاري او په همدي سند عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه هم ددي هم معني روایت مروي دي.

* *

٢٥٣٤ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ. حَدَّثَنَا عَبِيدَةُ بْنُ حُمَيْدٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ. (3)

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٤٠٥٣)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٩٣٨٨)

3 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٩٣٨٨)

ترجمه : او په همدي سند هم دعبدالله بن مسعود په واسطه د نبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت مروي دي

د امام ترمذي قول دی: او دا روايت ابوالاحوص مرفوع نه دي بيان كړي او دا روايت دعبيده بن حميد د روايت نه زيات صحيح دي همدا رنګي جرير او نورو راويانو دا حديث دعطاء بن سائب نه غير مرفوع نقل كړي دي.

****

حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ وَلَمْ يَرْفَعْهُ، وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ عَبِيدَةَ بْنِ حُمَيْدٍ، وَهَكَذَا رَوَى جَرِيرٌ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ وَلَمْ يَرْفَعُوهُ. حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ نَحْوَ حَدِيثِ أَبِي الأَحْوَصِ، وَلَمْ يَرْفَعْهُ أَصْحَابُ عَطَاءٍ وَهَذَا أَصَحُّ.(1)

ترجمه : عمرو بن ميمون هم دعبدالله بن مسعود نه ددي هم معني روايت نقل كړي دي او مرفوع يي نه دي بيان كړي مګر دا روايت د عبيده بن حميد د روايت نه زيات صحيح دي جرير او نورو راويانو هم دا حديث دعطاء بن سائب نه نقل كړي دي او مرفوع يي نه دي ذكر كړي جرير دعطاء بن سائب نه دابوالاحوص پشان روايت نقل كړي دي او مرفوع يي نه دي بيان كړي او دا زيات صحيح دي.

****

٢٥٣٥ـ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ فُضَيْلِ بْنِ مَرْزُوقٍ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِنَّ أَوَّلَ زُمْرَةٍ يَدْخُلُونَ الجَنَّةَ يَوْمَ القِيَامَةِ ضَوْءُ وُجُوهِهِمْ عَلَى مِثْلِ ضَوْءِ القَمَرِ لَيْلَةَ البَدْرِ، وَالزُّمْرَةُ الثَّانِيَةُ عَلَى مِثْلِ أَحْسَنِ كَوْكَبٍ دُرِّيٍّ فِي السَّمَاءِ، لِكُلِّ رَجُلٍ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ عَلَى كُلِّ زَوْجَةٍ سَبْعُونَ حُلَّةً يُرَى مُخُّ سَاقِهَا مِنْ وَرَائِهَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.(2)

ترجمه : دابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي اولنۍ ډله چې به جنت ته ننوزي دهغوی مخونه به د قيامت په ورځ لكه

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩٤٨٨)

2 ـ انظر حديث رقم ٢٥٢٢

دخوارلسمی سپوږمۍ رڼا کوئ. ورپسی به دډیر پرقیدونکي ستوري په شان وي. دهر یو جنتي به دوه بیبیانی وي او هري بي بي به اویا جوړي اغوستلي وي. دومره ښایسته او صفا بدن والاچې دپنډۍ اډوکي کې به یې دبهر نه مازغه ښکاري.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دی.

لغات: الذهب: مصدر دي معني سره زر جمع يي اذهاب اوذهوب او ذهبان راځي

تشريح: دا جنتيان به نه واړه بول کوي نه لوئ نه به توکانړی توکي او نه به پوزه سونړي دهغوئ ګومنزی به دسروزرو وي خوله به يې دمشکو په شان خوشبويه وي دعودو خوشبويه لوګی به ورته کيږي دغتو سترګو والا ښايسته حوری به يی بيبيانی وي دجنتيانو ټولو ځوانی به يو شان وي دخپل پلار ادم عليه السلام په شان به شپيته ذراعه څنګلی دنګ وي.

"اول زمرة يدخلون الجنة" دلته ددي خبري بيان دی چې جنت ته دداخليدو په وخت کې به دجنتي شکل او صورت څنګه وي ددي جواب دادی چې داعمالو په مناسبت سره به ددوئ خکلا وي چې بعضي به دستورو پان وي او بعضي به دسپوږمۍ پشان وي خو ددي په خلاف ددوزخيانو مخونه به تور وي.

مجامرهم الالوة عود الطيب: ددوئ په نغرو کې به دسوزولو دپاره خوشبودار لرګي وي ددنيا دنغرو خشاک لرګي او کويله وغيره وي مګر دجنت خشاک به داسي لرګي وي چې خوشبودار او قيمتي به وي.

اواجهم الحورالعين: حور جمع دحوراء ده او حوره هغه ښائسته ښځي ته وئيلی شي چې دسترګو سپين والی يي زيات وي او توروالی يي کم وي او سترګي يي غټي وي.

سوال: مخکې د دوه اويا حورو ذکر شوی دی چې جنتي ته به ملاويږي او دلته د دوو ذکر راغی.

جواب: په پورتني حديث کې دجنتيانو دحورو تعداد نه دی بيان شوی دلته صرف دومره بيان شوي دي چې دجنتانو په حورو کې به دوه صفات وي يعني که هغوئ زمکي ته راکوزي شي نو دزمکي نه تراسمانه پوري به يو پړق اوشي او دهغوئ صرف يوه لوپټه ددنيا او مافيها نه قيمتي ده.

****

٢٥٣٥ـ حَدَّثَنَا الْعَبَّاسُ بْنُ مُحَمَّدٍ الدُّورِيُّ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا شَيْبَانُ، عَنْ فِرَاسٍ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "أَوَّلُ زُمْرَةٍ تَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَلَى صُورَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ، وَالثَّانِيَةُ عَلَى لَوْنِ أَحْسَنِ كَوْكَبٍ دُرِّيٍّ فِي السَّمَاءِ، لِكُلِّ

رَجُلٍ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ عَلَى كُلِّ زَوْجَةٍ سَبْعُونَ حُلَّةً يَبْدُو مُخُّ سَاقِهَا مِنْ وَرَائِهَا ". قَالَ ابو عيسي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي اولنئ ډله چې به جنت ته ننوزي دهغوئ مخونه به د قيامت په ورځ لکه دخوارلسمی سپوږمئ رڼا کوي، وروسی به دډير پرقيدونکي ستوري په شان وي، دهر يو جنتي به دوه بيبيانی وي او هري بي بي به اويا جوړي اغوستلي وي، دومره ښايسته او صفا بدن واله چې دپنډئ اډوکي کې به يې د وراندي نه مازغه ښکاري.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دی.

تشريح: سابقه باب کي تشريح تيره شوه.

****

٦ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ جِمَاعِ أَهْلِ الْجَنَّةِ

دجنتيانو د جماع د حالت او کيفيت بيان

٢٥٣٦ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، وَمَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، عَنْ عِمْرَانَ الْقَطَّانِ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " يُعْطَى الْمُؤْمِنُ فِي الْجَنَّةِ قُوَّةَ كَذَا وَكَذَا مِنَ الْجِمَاعِ "، قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَوَيُطِيقُ ذَلِكَ ؟ قَالَ: " يُعْطَى قُوَّةَ مِائَةٍ ". وَفِي الْبَابِ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عِمْرَانَ الْقَطَّانِ. (2)

ترجمه : انس رضي الله عنه د نبي کريم صلي الله عليه وسلم نه روايت نقل کوي فرمائي چې هر مومن ته به په جنت د جماع دومره دومره طاقت ورکړی شي، چا عرض وکړو اي رسول الله دوئ به دومره طاقتور وي ، رسول الله اوفرمائيل يو يو کس ته به د سلو کسانو طاقت ورکړی شي،

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح غريبب دی او مونږ يي صرف دقتاده په سند د انس په واسطه د عمران القطان په روايت پيژنو..

---

1 ـ انظر حديث رقم ٢٥٢٢

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٣٢٢)

****

٧_باب مَا جَاءَ فِي صِفَةِ أَهْلِ الْجَنَّةِ

دجنتيا نو داوصافو بيان

٢٥٣٧_حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَوَّلُ زُمْرَةٍ تَلِجُ الْجَنَّةَ صُورَتُهُمْ عَلَى صُورَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ لَا يَبْصُقُونَ فِيهَا وَلَا يَمْتَخِطُونَ، وَلَا يَتَغَوَّطُونَ. آنِيَتُهُمْ فِيهَا الذَّهَبُ، وَأَمْشَاطُهُمْ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ، وَمَجَامِرُهُمْ مِنَ الْأَلُوَّةِ، وَرَشْحُهُمُ الْمِسْكُ، وَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ يُرَى مُخُّ سُوقِهِمَا مِنْ وَرَاءِ اللَّحْمِ مِنَ الْحُسْنِ، لَا اخْتِلَافَ بَيْنَهُمْ وَلَا تَبَاغُضَ، قُلُوبُهُمْ قَلْبُ رَجُلٍ وَاحِدٍ يُسَبِّحُونَ اللهَ بُكْرَةً وَعَشِيًّا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ، وَالْأَلُوَّةُ هُوَ الْعُودُ. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي اولني ډله چې جنت ته داخل شي ددوئ مخونه به دڅوارلسمي شپي دسپوږمۍ پشان وي نه به جنتيان په دوئ کي لاړي توکي او نه به پوزه پاکوي او نه به دوئ په جنت کي اودس ماتوي په جنت کي به ددوئ لوښي دسرو زرو وي او ددوئ بنګري به دسرو زرو او سپينو زرو وي او ددوئ نغري به دعود لرګي وي او خوله به يي دمشکو وي په دوئ کي به دهر بنده دپاره (کم از کم) دوه دوه بيبياني وي دښائست په وجه به ددوئ په پنډو کي ماذغه دغوښي نه بهر ښکاري ددوئ په مينځ کي به هيڅ اختلاف نه وي او نه به ددوئ په مينځ کي عداوت او دوشمني وي ددوئ زړونه به ديو کس دزړه پشان وي سحر او مانبام به دالله تسبيح وائي

امام ترمذي وايي: داحديث صحيح دي او "الالوة" دعود لرګي ته وئيلي شي

****

٢٥٣٨_حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ عَامِرِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَوْ أَنَّ مَا يُقِلُّ ظُفُرٌ مِمَّا فِي الْجَنَّةِ بَدَا لَتَزَخْرَفَتْ لَهُ مَا بَيْنَ خَوَافِقِ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ،

---

1 _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /بدء الخلق ٨ (٣٢٤٥، ٣٢٤٦، ٣٢٥٤) و أحاديث الأنبياء ١ (٣٣٢٧)، صحيح مسلم /الجنة ٦ و ٧ (١٤/٢٨٣٤، ١٧)، سنن ابن ماجه/الزهد ٣٩ (٤٣٣٣) (تحفة الأشراف : ١٤٦٧٨)

وَلَوْ أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ اطَّلَعَ فَبَدَا أَسَاوِرُهُ لَطَمَسَ ضَوْءَ الشَّمْسِ كَمَا تَطْمِسُ الشَّمْسُ ضَوْءَ النُّجُومِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ بِهَذَا الْإِسْنَادِ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ ابْنِ لَهِيعَةَ، وَقَدْ رَوَى يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، وَقَالَ: عَنْ عُمَرَ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (1)

ترجمه دسعد بن ابي وقاص رضي الله عنه نه روايت دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي كه چري دنوك په مقدار په دنيا كي دجنت كوم څيز ظاهر شي نو هغه به دزمكي او اسمان كناري اوپرقوي او كه دجنت كوم بنده راشي او دهغه يو بنګړي ظاهر شي نو هغه به د نمر رڼړا داسي ختمه كړي څنګه چې نمر دستورو رڼړا ختموي

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي مونږ دا صرف دابن لهيعه په سند پيژنو، يحي بن ايوب دا حديث ديزيد بن ابي حبيب په روايت نقل كړي دي او سند يي داسي بيان كړي دي عن عمر بن سعد بن ابي وقاص عن النبي صلي الله عليه وسلم.

****

٨_بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ ثِيَابِ أَهْلِ الْجَنَّةِ

دجنتيانو دجامو بيان

٢٥٣٩_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، وَأَبُو هِشَامٍ الرِّفَاعِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَامِرٍ الْأَحْوَلِ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَهْلُ الْجَنَّةِ جُرْدٌ مُرْدٌ كُحْلٌ لَا يَفْنَى شَبَابُهُمْ وَلَا تَبْلَى ثِيَابُهُمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (2)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي جنتيان به بغير دويختو امرد او تورو سترګو والا وي نه به يي ځواني ختميږي او نه به يي جامي زړيږي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي.

****

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٨٢٨)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٤٩٩)

٢٥٤٠_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا رِشْدِينُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ دَرَّاجٍ أَبِي السَّمْحِ، عَنْ أَبِي الْهَيْثَمِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْلِهِ: وَفُرُشٍ مَرْفُوعَةٍ سورة الواقعة :٣٤، قَالَ: "ارْتِفَاعُهَا لَكَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ مَسِيرَةَ خَمْسِ مِائَةِ سَنَةٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ رِشْدِينَ بْنِ سَعْدٍ، وَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي تَفْسِيرِ هَذَا الْحَدِيثِ: إِنَّ مَعْنَاهُ الْفُرُشُ فِي الدَّرَجَاتِ وَبَيْنَ الدَّرَجَاتِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ. ([1])

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم دالله تعالي دقول ''وفرش مرفوعة'' داسي تفسير بيان کړو دجنت دفرشونو لوړوالي به دومره وي څومره چې دزمکي او اسمان په مينځ کي فاصله ده يعني دپنځه سوه کالو په مصافه.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي او مونږ دا صرف د رشدين بن سعد په روايت پيژنو بعضي اهل علمو ددي حديث دتفسير باره کي وئيلي دي ددي مفهوم دادي چې دجنت په فرشونو کي به درجي وي او ددي درجو مينځ کي به دومره فاصله وي څومره چې دزمکي او اسمان مينځ کي ده.

****

٩_بَاب مَا جَاءَ فِي صِفَةِ ثِمَارِ أَهْلِ الْجَنَّةِ

دجنت دميوو بيان

٢٥٤١_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ بُكَيْرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاق، عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبَّادِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ، قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "وَذُكِرَ لَهُ سِدْرَةُ الْمُنْتَهَى، قَالَ: يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي ظِلِّ الْفَنَنِ مِنْهَا مِائَةَ سَنَةٍ أَوْ يَسْتَظِلُّ بِظِلِّهَا مِائَةُ رَاكِبٍ شَكَّ يَحْيَى فِيهَا فِرَاشُ الذَّهَبِ كَأَنَّ ثَمَرَهَا الْقِلَالُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. ([2])

ترجمه : داسماء بنت ابي بکر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي او هغه وخت کي ورته دسدرة المنتهي ذکر شوي دي رسول الله

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٤٠٥٧)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٥٧٤٦)

اووئیل ددي دخاښونو په سوري کي به په اس سور بنده سلو کالو پوري مزل کوي، او یا به ددې په سوري کي اس سور بنده دسلو کالو پوري وي (دحدیث دراوي دیحی دطرفه شك دی) په دي کيږ داوده کيږو دپاره بستري دي او میوي یي دمنګو پشان (لوي) دي.
امام ترمذي وایي: داحدیث صحیح غریب دی.

****

١٠_بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ طَيْرِ الْجَنَّةِ

دجنت دمرغو داوصافو بیان

٢٥٤٢_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا الْكَوْثَرُ قَالَ: "ذَاكَ نَهْرٌ أَعْطَانِيهِ اللَّهُ، يَعْنِي فِي الْجَنَّةِ، أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ، وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ، فِيهَا طَيْرٌ أَعْنَاقُهَا كَأَعْنَاقِ الْجُزُرِ، قَالَ عُمَرُ: إِنَّ هَذِهِ لَنَاعِمَةٌ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَكَلَتُهَا أَحْسَنُ مِنْهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بنِ مُسْلِمٍ هُوَ ابْنُ أَخِي ابْنِ شِهَابٍ الزُّهْرِيِّ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُسْلِمٍ قَدْ رَوَى عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ. [1]

ترجمه: دانس بن مالك رضي الله عنه بیان دي فرمائي چې درسول الله صلي الله علیه وسلم نه مي تپوس اوکړو چې کوثر څه څیز دي؟ رسول الله اوفرمائیل دا یو نهر دي چې الله تعالي مونږ ته په جنت کي راکړي دي، ددي اوبه دشودو نه زیاتي سپیني او دشهدو نه زیاتي خوږي دي په دي کي داسي مرغۍ دي چې غړۍ به یي داوښانو دغړو پشان وي، عمر رضي الله عنه اووئیل دا خو واقعي دنعمت دجملي نه دي رسول الله اوفرمائیل ددي خوړونکي به ددوی نه په زیات نعمت کي وي.

امام ترمذي وایي: داحدیث حسن غریب دي، محمد بن عبدالله بن مسلم دابن شهاب زهري وراره دي، عبدالله بن مسلم دابن عمر او انس بن مالك رضي الله عنهم نه احادیث نقل کړي دي.

****

١١_بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ خَيْلِ الْجَنَّةِ

---

[1] ــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩٧٥)

دجنت داسونو داوصافو بيان

٢٥٤٣_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَ: أَخْبَرَنَا عَاصِمُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا الْمَسْعُودِيُّ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ مَرْثَدٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، هَلْ فِي الْجَنَّةِ مِنْ خَيْلٍ ؟ قَالَ: " إِنِ اللهُ أَدْخَلَكَ الْجَنَّةَ فَلَا تَشَاءُ أَنْ تُحْمَلَ فِيهَا عَلَى فَرَسٍ مِنْ يَاقُوتَةٍ حَمْرَاءَ يَطِيرُ بِكَ فِي الْجَنَّةِ حَيْثُ شِئْتَ إِلا فَعَلْتَ ". قَالَ: وَسَأَلَهُ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، هَلْ فِي الْجَنَّةِ مِنْ إِبِلٍ ؟ قَالَ: فَلَمْ يَقُلْ لَهُ مِثْلَ مَا قَالَ لِصَاحِبِهِ. قَالَ: إِنْ يُدْخِلْكَ اللهُ الْجَنَّةَ يَكُنْ لَكَ فِيهَا مَا اشْتَهَتْ نَفْسُكَ وَلَذَّتْ عَيْنُكَ ".[1]

ترجمه : دبريده رضي الله عنه نه مروي دي چې يو كس دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دتپوس كولو په حال كي عرض اوكړو اي دالله رسوله ايا په جنت كي به اسونه وي؟ رسول الله اوفرمائيل كه الله تعالي تاسو جنت ته داخل كړئ نو ستاسو دخواهش مطابق به تاسو دسرو ياقوتو په اسونو سورلي كوئ او تاسو چې هر چرته تلل غواړئ دوئ به مو هلته په هوا رسوي. يو كس تپوس اوكړو اي دالله رسوله ايا په جنت كي به اوښان وي؟ بريده وائي چې رسول الله دي كس ته دمخكني كس پشان جواب ورنكړو او بيا يي اوفرمائيل كه الله تعالي تاسو جنت ته داخل كړئ په دي كي به ستاسو دپاره هر هغه څيز موجود وي دكوم چې تاسوخواهش لرئ او په كوم چې ستاسو ستركي يخيږي.

****

حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ مَرْثَدٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَابِطٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ، وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ الْمَسْعُودِيِّ.[2]

ترجمه : علقمه بن مرثد دعبدالرحمن بن ثابت په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي او دا روايت دمسعودي دروايت نه زيات صحيح دي

****

٢٥٤٤_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل بْنِ سَمُرَةَ الْأَحْمَسِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ وَاصِلٍ هُوَ ابْنُ

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٩٣٩)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٩٣٩)

السَّائِبِ، عَنْ أَبِي سَوْرَةَ، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ، قَالَ: أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْرَابِيٌّ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي أُحِبُّ الْخَيْلَ أَفِي الْجَنَّةِ خَيْلٌ؟ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنْ أُدْخِلْتَ الْجَنَّةَ أُتِيتَ بِفَرَسٍ مِنْ يَاقُوتَةٍ لَهُ جَنَاحَانِ فَحُمِلْتَ عَلَيْهِ ثُمَّ طَارَ بِكَ حَيْثُ شِئْتَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ، وَلَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ أَبِي أَيُّوبَ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَأَبُو سَوْرَةَ هُوَ ابْنُ أَخِي أَبِي أَيُّوبَ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ، ضَعَّفَهُ يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ جِدًّا، قَالَ: وَسَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ يَقُولُ: أَبُو سَوْرَةَ هَذَا مُنْكَرُ الْحَدِيثِ يَرْوِي مَنَاكِيرَ عَنْ أَبِي أَيُّوبَ لَا يُتَابَعُ عَلَيْهَا. (1)

ترجمه : دابو ايوب انصاري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په وړاندي يو بانډچي دراتلو نه پس عرض اوكړو اي دالله رسوله زما خو اسونه ډير خوښ دي ايا په جنت كي به اسونه وي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل كه ته جنت ته داخل كړې شوي نو تاته به دياقوت نه جوړ اس دركولي شي ددي به دوه وزري وي او ته به وربانـدي سورلي كوي او بياچې ته چرته تلل غواړي دا به دي په هوا رسوي.

امام ترمذي وايي: ددي حديث سند څه خاص دقوت حامل نه دي، مونږ دابو ايوب روايت صرف په همدي سند پيژنو، او ابو سوره د ابو ايوب وراره دي او په باب دحديث كي ضعيف دي يحي بن معين دده ډير زيات تضعيف كړي دي ما دامام بخاري نه اوريدلي دي چې ابو سوره منكرالحديث دي او دي دابوايوب رضي الله عنه نه ډير منكر احاديث نقل كوي چې هيچا يي متابعت نه دي كړي.

****

١٢_باب مَا جَاءَ فِي سِنِّ أَهْلِ الْجَنَّةِ

دجنتيا نو دعمرونو بيان

٢٥٤٥_حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ مُحَمَّدُ بْنُ فِرَاسٍ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا عِمْرَانُ أَبُو الْعَوَّامِ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ غَنْمٍ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "يَدْخُلُ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ جُرْدًا مُرْدًا مُكَحَّلِينَ أَبْنَاءَ ثَلَاثِينَ أَوْ ثَلَاثٍ وَثَلَاثِينَ سَنَةً". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ وَبَعْضُ أَصْحَابِ قَتَادَةَ رَوَوْا هَذَا عَنْ قَتَادَةَ مُرْسَلًا

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٤٩٦)

وَلَمْ يُسْنِدُوهُ. ([1])

ترجمه : دمعاذ بن جبل رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي جنتيان به جنت ته په داسي حال كي داخليږي چې په بدن به يي ويخته نه وي امرد به وي او تور كړي شوو سترګو والا به وي او د ديرشتو يا د دري ديرشتو كالو په عمر كي به وي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي، دقتاده بعضي شاګردانو دا روايت دقتاده نه مرسل نقل كړي دي او مسند يي نه دي بيان كړي .

****

١٣_باب مَا جَاءَ فِي صَفِّ أَهْلِ الْجَنَّةِ

دجنتيانو داوصافو بيان

٢٥٤٦_حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ يَزِيدَ الطَّحَّانُ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ ضِرَارِ بْنِ مُرَّةَ، عَنْ مُحَارِبِ بْنِ دِثَارٍ، عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " "أَهْلُ الْجَنَّةِ عِشْرُونَ وَمِائَةُ صَفٍّ، ثَمَانُونَ مِنْهَا مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ وَأَرْبَعُونَ مِنْ سَائِرِ الْأُمَمِ " ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ مَرْثَدٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا، وَمِنْهُمْ مَنْ قَالَ: عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، وَحَدِيثُ أَبِي سِنَانٍ، عَنْ مُحَارِبِ بْنِ دِثَارٍ حَسَنٌ، وَأَبُو سِنَانٍ اسْمُهُ: ضِرَارُ بْنُ مُرَّةَ، وَأَبُو سِنَانٍ الشَّيْبَانِيُّ اسْمُهُ: سَعِيدُ بْنُ سِنَانٍ، وَهُوَ بَصْرِيٌّ، وَأَبُو سِنَانٍ الشَّامِيُّ اسْمُهُ: عِيسَى بْنُ سِنَانٍ هُوَ الْقَسْمَلِيُّ. ([2])

ترجمه : دبريده رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دجنتيانو به يو سل او شل صفونه وي په دي كي به اتيا صفونه ددي امت وي او څلويښت صفونه به دنورو امتونو وي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي دا حديث عن علقمه بن مرثد عن سليمان بن بريده عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره مرسل مروي دي بعضي راويانو ددي سند داسي بيان كړي دي عن سليمان بن بريده عن ابيه، او دابوسنان كوم حديث چې دمحارب بن دثار په واسطه

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١١٣٢٦) . و مسند احمد (٥/٢٣٢، ٢٤٠، ٢٤٣) . و حديث رقم ٢٥٣٩

[2] _ سنن ابن ماجه/الزهد ٣٤ (٤٢٨٩) (تحفة الأشراف : ١٩٣٨)

مروي دي حسن دي، او دابوسنان نوم ضرار بن مره دي، او دابوسنان شيباني نوم سعيد بن سنان دي او دبصري اوسيدونكي دي او دشام والا ابو سنان نوم عيسي بن سنان دي او دا قسملي دي.

****

٢٥٤٧_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، قَالَ: سَمِعْتُ عَمْرَو بْنَ مَيْمُونٍ يُحَدِّثُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قُبَّةٍ نَحْوًا مِنْ أَرْبَعِينَ، فَقَالَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَتَرْضَوْنَ أَنْ تَكُونُوا رُبُعَ أَهْلِ الْجَنَّةِ؟ قَالُوا: نَعَمْ، قَالَ: أَتَرْضَوْنَ أَنْ تَكُونُوا ثُلُثَ أَهْلِ الْجَنَّةِ؟ قَالُوا: نَعَمْ، قَالَ: أَتَرْضَوْنَ أَنْ تَكُونُوا شَطْرَ أَهْلِ الْجَنَّةِ؟ إِنَّ الْجَنَّةَ لَا يَدْخُلُهَا إِلَّا نَفْسٌ مُسْلِمَةٌ مَا أَنْتُمْ فِي الشِّرْكِ إِلَّا كَالشَّعْرَةِ الْبَيْضَاءِ فِي جِلْدِ الثَّوْرِ الْأَسْوَدِ، أَوْ كَالشَّعْرَةِ السَّوْدَاءِ فِي جِلْدِ الثَّوْرِ الْأَحْمَرِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وفِي البابِ عن عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ. ([1])

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې په يوه خيمه كي تقريبا څلويښت كسان دنبي كريم صلي الله عليه وسلم سره موجود وو چې موږ ته يي اوفرمائيل ايا تاسو په دي خبره خوشحاله يئ چې تاسو دجنت څلورمه حصه شئ خلقو اووئيل هو په دي باندي حوشحاله يو، رسول الله بيا اوفرمائيل ايا تاسو په دي باندي خوشحاله يئ چې تاسو دجنتيانو دريمه حصه شئ خلقو اووئيل هو رسول الله اوفرمائيل ايا تاسو په دي خوشحاله يئ چې تاسو دجنتيانو نصف شئ چې په دي كي به صرف مسلمانان ځي او دمشركانو په مقابل كي ستاسو مثال داسي دي لكه دتور غوبي په څمڼه چې سپين ويخته وي او يا دسور غوبي په څمڼه چې تور ويخته وي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي ، او په دي باب كي دعمران بن حصين او ابوسعيد خدري رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي .

****

١٤_بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ

دجنت د دروازو بيان

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الرقاق ٤٥ (٦٥٢٨) . والأيمان والنذور ٣ (٦٦٤٢) . صحيح مسلم /الإيمان ٩٥ (٢٢١) . سنن ابن ماجه/الزهد ٣٤ (٤٢٨٣) (تحفة الأشراف : ٩٤٨٣)

٢٥٤٨_حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنُ بْنُ عِيسَى الْقَزَّازُ، عَنْ خَالِدِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "بَابُ أُمَّتِي الَّذِي يَدْخُلُونَ مِنْهُ الْجَنَّةَ عَرْضُهُ مَسِيرَةُ الرَّاكِبِ الْجَوَادَ ثَلَاثًا، ثُمَّ إِنَّهُمْ لَيُضْغَطُونَ عَلَيْهِ حَتَّى تَكَادُ مَنَاكِبُهُمْ تَزُولُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، قَالَ: سَأَلْتُ مُحَمَّدًا عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ فَلَمْ يَعْرِفْهُ، وَقَالَ لِخَالِدِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ مَنَاكِيرُ عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ.[1]

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په كومه دروازه چې زما امت جنت ته داخليږي ددي دروازي پلن والي به تيز رفتار اس ددري ورځو دمزل سره برابر وي مګر بيا به هم په دروازه كې دومره جم جوش وي چې دخلقو اوږي به وتلو ته نژدي شوي وي.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي، ما دامام بخاري نه دي حديث باره كې تپوس اوكړو نو هغه ته دا نه وومعلوم او وئيل يي دسالم بن عبدالله په واسطه دخالد بن ابي بكر نه ډير منكر احاديث جوړ شوي دي.

****

١٥_بَاب مَا جَاءَ فِي سُوقِ الْجَنَّةِ

دجنت دبازاربيان

٢٥٤٩_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْحَمِيدِ بْنُ حَبِيبِ بْنِ أَبِي الْعِشْرِينَ، حَدَّثَنَا الأَوْزَاعِيُّ، حَدَّثَنَا حَسَّانُ بْنُ عَطِيَّةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، أَنَّهُ لَقِيَ أَبَا هُرَيْرَةَ، فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: أَسْأَلُ اللَّهَ أَنْ يَجْمَعَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ فِي سُوقِ الْجَنَّةِ، فَقَالَ سَعِيدٌ: أَفِيهَا سُوقٌ؟ قَالَ: نَعَمْ، أَخْبَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ إِذَا دَخَلُوهَا نَزَلُوا فِيهَا بِفَضْلِ أَعْمَالِهِمْ ثُمَّ يُؤْذَنُ فِي مِقْدَارِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ مِنْ أَيَّامِ الدُّنْيَا فَيَزُورُونَ رَبَّهُمْ وَيُبْرِزُ لَهُمْ عَرْشَهُ وَيَتَبَدَّى لَهُمْ فِي رَوْضَةٍ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ، فَتُوضَعُ لَهُمْ مَنَابِرُ مِنْ نُورٍ وَمَنَابِرُ مِنْ لُؤْلُؤٍ وَمَنَابِرُ مِنْ يَاقُوتٍ وَمَنَابِرُ مِنْ زَبَرْجَدٍ وَمَنَابِرُ مِنْ ذَهَبٍ وَمَنَابِرُ مِنْ فِضَّةٍ، وَيَجْلِسُ أَدْنَاهُمْ وَمَا فِيهِمْ مِنْ دَنِيٍّ عَلَى كُثْبَانِ الْمِسْكِ وَالْكَافُورِ، وَمَا يُرَوْنَ أَنَّ أَصْحَابَ الْكَرَاسِيِّ بِأَفْضَلَ مِنْهُمْ مَجْلِسًا". قَالَ أَبُو

---

[1]_ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٦٨٦٠)

هُرَيْرَةَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ ؟ وَهَلْ نَرَى رَبَّنَا ؟ قَالَ: " نَعَمْ. قَالَ: هَلْ تَتَمَارَوْنَ فِي رُؤْيَةِ الشَّمْسِ وَالْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ ؟ " قُلْنَا: لَا. قَالَ: " كَذَلِكَ لَا تَتَمَارَوْنَ فِي رُؤْيَةِ رَبِّكُمْ وَلَا يَبْقَى فِي ذَلِكَ الْمَجْلِسِ رَجُلٌ إِلَّا حَاضَرَهُ اللهُ مُحَاضَرَةً حَتَّى يَقُولَ لِلرَّجُلِ مِنْهُمْ: يَا فُلَانُ بْنَ فُلَانٍ أَتَذْكُرُ يَوْمَ قُلْتَ: كَذَا وَكَذَا ؟ فَيُذَكِّرُهُ بِبَعْضِ غَدَرَاتِهِ فِي الدُّنْيَا. فَيَقُولُ: يَا رَبِّ أَفَلَمْ تَغْفِرْ لِي ؟ فَيَقُولُ: بَلَى فَبِسَعَةِ مَغْفِرَتِي بَلَغَتْ بِكَ مَنْزِلَتَكَ هَذِهِ. فَبَيْنَمَا هُمْ عَلَى ذَلِكَ غَشِيَتْهُمْ سَحَابَةٌ مِنْ فَوْقِهِمْ فَأَمْطَرَتْ عَلَيْهِمْ طِيبًا لَمْ يَجِدُوا مِثْلَ رِيحِهِ شَيْئًا قَطُّ. وَيَقُولُ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى: قُومُوا إِلَى مَا أَعْدَدْتُ لَكُمْ مِنَ الْكَرَامَةِ فَخُذُوا مَا اشْتَهَيْتُمْ. فَنَأْتِي سُوقًا قَدْ حَفَّتْ بِهِ الْمَلَائِكَةُ فِيهِ مَا لَمْ تَنْظُرِ الْعُيُونُ إِلَى مِثْلِهِ وَلَمْ تَسْمَعِ الْآذَانُ، وَلَمْ يَخْطُرْ عَلَى الْقُلُوبِ. فَيُحْمَلُ لَنَا مَا اشْتَهَيْنَا لَيْسَ يُبَاعُ فِيهَا وَلَا يُشْتَرَى، وَفِي ذَلِكَ السُّوقِ يَلْقَى أَهْلُ الْجَنَّةِ بَعْضُهُمْ بَعْضًا. قَالَ: فَيُقْبِلُ الرَّجُلُ ذُو الْمَنْزِلَةِ الْمُرْتَفِعَةِ فَيَلْقَى مَنْ هُوَ دُونَهُ وَمَا فِيهِمْ دَنِيٌّ فَيَرُوعُهُ مَا يَرَى عَلَيْهِ مِنَ اللِّبَاسِ فَمَا يَنْقَضِي آخِرُ حَدِيثِهِ حَتَّى يَتَخَيَّلَ إِلَيْهِ مَا هُوَ أَحْسَنُ مِنْهُ، وَذَلِكَ أَنَّهُ لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ أَنْ يَحْزَنَ فِيهَا، ثُمَّ نَنْصَرِفُ إِلَى مَنَازِلِنَا. فَتَتَلَقَّانَا أَزْوَاجُنَا فَيَقُلْنَ: مَرْحَبًا وَأَهْلًا لَقَدْ جِئْتَ وَإِنَّ بِكَ مِنَ الْجَمَالِ أَفْضَلَ مِمَّا فَارَقْتَنَا عَلَيْهِ. فَيَقُولُ: إِنَّا جَالَسْنَا الْيَوْمَ رَبَّنَا الْجَبَّارَ، وَيَحِقُّنَا أَنْ نَنْقَلِبَ بِمِثْلِ مَا انْقَلَبْنَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. وَقَدْ رَوَى سُوَيْدُ بْنُ عَمْرٍو. عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ شَيْئًا مِنْ هَذَا الْحَدِيثِ. ([1])

ترجمه : دسعيد بن مسيب نه مروي دي فرمائي چې زه دابوهريره رضي الله عنه سره ملاؤ شوم نو ماته يې اووئيل زه دالله تعالي نه دعا غواړم چې ما او تا دجنت په بازار کې يوځاي کړي سعيد وائي ما اووئيل ايا په جنت کې بازار هم شته؟ ابوهريره اووئيل هو ماته رسول الله صلي الله عليه وسلم خبر راکړې دي چې جنتيان کله جنت ته داخل شي نو دوئ به دي بازار ته دخپلو اعمالو مطابق ورځي، بيا به ورته ددنيا په ورځو کې دجمعې دورځې په مقدار اجازت ورکړې شي او دوئ به دخپل رب ملاقات اوزيارت اوکړي او عرش به دوئ ته ښکاره کړې شي او دجنت په يو باغ کې به ورته ښکاره شي او بيا به ددوئ دپاره دنور منبر، دجواهراتو منبر، دياقوت منبر، زمرود منبر، دسرو زرو منبر، او دسپينو زرو منبر کيخودلې شي او ددوئ ادنې درجې والا او حال دادې چې په دوئ کې به ادنې درجې والا هيڅوک نه وي دمشک او کافور په ډيرکئ باندې کيني او دنور منبرونو والا باره کې به دوئ دا خيال نه کوي چې هغوئ به ددينه په

---

1 ـ سنن ابن ماجه/الزهد ٣٩ (٤٣٣٦) (تحفة الأشراف : ١٣٠٩١)

بهتر ځاي کي ناست وي، ابوهريره وائي ما عرض اوکړو اي دالله رسوله ايا مونږ به خپل رب وينو رسول الله اوفرمائيل هو، ايا تاسو ته ... يا دڅوارلسمي شپي دسپوږمۍ په ليدو کي څه مشکل او تکليف وي؟ مونږ اووئيل نه رسول الله اوفرمائيل داسي به تاسو خپل رب وينئ او په ليدو کي به درته کوم تردد نه وي، بلکه په دي مجلس کي به داسي يو کس نه وي چي بالمشافه به دالله تعالي سره خبري نشي کولي تردي پوري چي الله تعالي به په دوئ کي هر يو کس ته وائي اي فلان بن فلان ايا تاته ياده ده چي تا په فلانئ ورځ داسي وئيلي وو او ده ته به دده بعضي ګناه رایاده کړي، دي به عرض اوکړي اي الله ايا تا زه معاف کړي نه يم الله تعالي به اوفرمائي ولي نه زما دمغفرت دوسعت په وجه خو ته دي منبر ته رارسيدلي يي، او په دي دوران کي به جنتيان يوه داسي وريځ پټ کړي او دداسي خوشبو باران به ورباندي اوکړي کومه چي به دوئ هيڅ کله نه وي بوي کړي بيا به ورته الله تعالي اوفرمائي پاڅئ او زما دنعمتونو طرف ته ورشئ کوم چي ما ستاسو دپاره تيار کړي دي او چي کوم موخوښ وي هغه واخلئ بيا به مونږ دي بازار طرف ته روان شو او فرشتي به ورنه چاپير وي او په دي کي به داسي څيزونه وي کوم چي به هيچرته هيڅ يوي سترګي نه وي ليدلي او نه به کوم غوږ اوريدلي وي او نه به په کوم زړه کي ددي خيال تير شوي وي چنانچي مونږ ته به هر هغه شي راکړي شي دکوم چي به مونږ خواهش کوو او هلته به اخستل او خرڅول نه وي، بيا به هلته جنتيان يو دبل سره ملاقات کوي، ددينه پس نبي کريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل بيا به په جنتيانو کي داعلي مرتبي والا جنتي دخپل ځان نه کمي درجي والا جنتي سره ملاقات اوکړي او حال دادي چي په دوئ کي به هيڅوك کمي درجي والا نه وي نو دده به دهغوئ لباس خوښ شي تردي وخته پوري به لا دده خبره پوره شوي نه وي چي ددوئ په بدن به ددينه بهتر لباس موجود شي دا به ددي دپاره وي چي هلته دچا غمژن کيدل دجنت دشان خلاف دي ، او بيا به مونږ ددي بازار نه دخپلو کورونو طرف ته روان شو هلته چي کله زمونږ دخپلو بيبيانو سره ملاقات اوشي نو هغوئ به وائي "مرحبا واهلا" تاسو خو دمخکي نه زيات ښائسته حالت کي راواپس شوئ، مونږ به وايو نن مونږ دخپل جبار رب دمجلس نه راغلي يو لهذا هم ددي حسن او جمال مستحق يو.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي او مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو او ددي حديث بعضي حصه سويد بن عمرو داوزاعي نه هم نقل کړي ده.

****

٢٥٥٠ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، وَهَنَّادٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَسُوقًا مَا فِيهَا شِرَاءٌ وَلَا بَيْعٌ إِلَّا الصُّوَرَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ فَإِذَا اشْتَهَى الرَّجُلُ صُورَةً دَخَلَ فِيهَا". قَالَ أَبُو

عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. ([1])

ترجمه : د علي رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمانيل په جنت کي به داسي بازار وي په کوم کي چي به اخستل او خرڅول نه وي البته په دي کي به دښځو او سړو تصويرونه وي د چا چي کوم خوښ شي نو دی به هم هغه شان شي.
امام ترمذي وايي: دا حديث حسن غريب دی.

****

١٦ـ باب مَا جَاءَ فِي رُؤْيَةِ الرَّبِّ تَبَارَكَ وَتَعَالَى

د الله تعالي د ليدلو بيان

٢٥٥١ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْبَجَلِيِّ، قَالَ: "كُنَّا جُلُوسًا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَنَظَرَ إِلَى الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ. فَقَالَ: " إِنَّكُمْ سَتُعْرَضُونَ عَلَى رَبِّكُمْ فَتَرَوْنَهُ كَمَا تَرَوْنَ هَذَا الْقَمَرَ. لَا تُضَامُونَ فِي رُؤْيَتِهِ فَإِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ لَا تُغْلَبُوا عَلَى صَلَاةٍ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَصَلَاةٍ قَبْلَ غُرُوبِهَا فَافْعَلُوا ثُمَّ قَرَأَ: وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ (ق : ٣٩) ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه : جرير بن عبدالله بجلي رضي الله عنه وايي چي مونږ د رسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر وو او هغه دپوره سپوږمۍ والا شپه وه نو رسول الله صلي الله عليه وسلم سپوږمۍ طرف ته اوکتل او ويې فرمائيل چي تاسو به عنقريب خپل رب ته پيش شئ او په داسي داشان سره به يي اووينئ څنګه چي سپوږمۍ وينئ او دالله په ليدلو کي به هيڅ مشکل حائل نه وي! که چري تاسو دا کولی شئ نو ضروريې اوکړئ چي ستاسونه (دسحر اومازيګر) دنمر ختلو نه مخکي او دنمر پريوتلو نه مخکي مونځونه قضانه شي، او په يو روايت کي دادي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دڅوارلسمی شپي سپوږمۍ طرف ته اوکتل ، او بيا يي دا ايت تلاوت کړو" وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ " يعني دخپل رب تسبيح او تحميد دنمر ختلو او نمر پريوتلو نه وړاندی کوه.

---

[1] ـ تفرد به المؤلف

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /المواقيت ١٦ (٥٥٤) ، والتوحيد ٢٤ (٤٤٣٥) ، صحيح مسلم /المساجد ٣٧ (٦٣٣) ، سنن ابي داود/ السنة ٢٠ (٤٧٢٩) ، سنن ابن ماجه/المقدمة ١٣ (١٧٧) (تحفة الأشراف : ٣٢٢٣) ، ومسند احمد (٣٦٠/٤)

لغات: لاتضامون: دالفظ دضيم نه مشتق دي په معني دتكليف او مشقت سره

تشريح: دمياشتي په څوارلسمه شپه سپوږمۍ مكمل وي او رڼا يي پوره وي دروايت مطلب دادی لكه څرنگه چې په سوارلسمه شپه سپوږمۍ سرگنده ښكاري نو دا رنگي به مومنان په قيامت كې خپل رب لره اويني داهل سنت والجماعت دا عقيده ده چې مومنان به په قيامت كې الله تعالي ويني دا خبره دقران مجيد نه هم ثابته ده او احاديث هم په دي باره كې وارد دي لكه چې په پورتني روايت كې تير شول چې دقيامت په ورځ به مسلمانان دالله ملاقات كوي همدا رنگي ددي خبري وضاحت هم اوشو چې دمازيگر او دسحر دمونځ اهتمام ضروري دی او ددي دپابندۍ په بركت سره دالله تعالي ديدار نصيب كيږي كوم چې دټولو نعمتونو نه بالاتر عظيم نعمت دی.

د ايت كريمه " وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ " پس منظر دادی: مكي والا رسول پاك صلي الله عليه وسلم ته قسم قسم تكليفونه رسول او په بدو الفاظو به يي يادولو كله به يي ورته كاذب وئيل او كله ساحر او كله نورڅه نوقران كريم ددي دا علاج اوخودلو چې تاسو ديته التفات مه كوۍ او نه به انتقام اخلۍ او خپل ځان به په عبادت كې مشغول ساتۍ كله چې الله تعالي ته دانسان توجه جوړه شي او دا يقين يي راشي چې په دنيا كې هيڅ يو كار دالله دمشيت نه بغير كيدی نشي او دهغه په كارونو كې حكمت وي نو پداسي وخت كې دمخالف نه درسيدونكو ضررونو غصه او غضب پخپله ختميږي بعضي مفسرين وائي په دي ايت كې دي خبري ته اشاره ده چې چاته دالله ديادولو توفيق وركړی شي نو هغه دي په دي باندي فخر او ناز نه كوي بلكه دالله حمد او شكر دي خپله وظيفه جوړه كړي چې دالله دا ذكر يا عبادت ددي توفيق ثمره ده.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دی.

****

٢٥٥٢_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ صُهَيْبٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْلِهِ: لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَى وَزِيَادَةٌ (يونس: ٢٦) قَالَ: " إِذَا دَخَلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ نَادَى مُنَادٍ إِنَّ لَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ مَوْعِدًا، قَالُوا: أَلَمْ يُبَيِّضْ وُجُوهَنَا وَيُنَجِّنَا مِنَ النَّارِ، وَيُدْخِلْنَا الْجَنَّةَ ؟ قَالُوا: بَلَى. قَالَ: فَيَنْكَشِفُ الْحِجَابُ، قَالَ: فَوَاللَّهِ مَا أَعْطَاهُمْ شَيْئًا أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِنَ النَّظَرِ إِلَيْهِ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ إِنَّمَا أَسْنَدَهُ حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ وَرَفَعَهُ، وَرَوَى سُلَيْمَانُ بْنُ الْمُغِيرَةِ، وَحَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ هَذَا الْحَدِيثَ.

عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى قَوْلَهُ. (1)

ترجمه : دصهيب رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دايت كريمه "للذين احسنوا الحسني وزيادة" باره كي اوفرمائيل كله چې جنتيان جنت ته داخل شي نو يو اواز كونكي به اواز اوكړي چې دالله تعالي دطرف نه يو بل څيز تاسو ته دركړي كيدونكي دي دوئ به اووائي ايا الله تعالي زمونږ مخونه روښانه كړي نه دي، او ايا مونږ ته يي دجهنم نه نجات راكړي نه دي او ايا مونږ يي جنت ته داخل كړي نه يو؟ اواز كونكي به اووائي ولي نه، بيابه حجاب پورته كړي شي رسول الله اوفرمائيل په الله قسم الله تعالي دوئ ته داسي كوم څيز نه دي وركړي كوم چې ددوئ په نزد دالله تعالي دديدارنه زيات محبوب وي؟

امام ترمذي وايي: داحديث حماد بن سلمه نه مسند او مرفوع مروي دي، سليمان بن مغيره او حماد بن زيد دا حديث دثابت بناني په واسطه دعبدالرحمن بن ابي ليلي نه دده دذاتي قول په حيثيت نقل كړي دي.

****

١٧_باب مِنْهُ

دروئيت الهي متعلق يو بل باب

٢٥٥٣_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنِي شَبَابَةُ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ ثُوَيْرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً لَمَنْ يَنْظُرُ إِلَى جِنَانِهِ وَأَزْوَاجِهِ وَنَعِيمِهِ وَخَدَمِهِ وَسُرُرِهِ مَسِيرَةَ أَلْفِ سَنَةٍ، وَأَكْرَمَهُمْ عَلَى اللَّهِ مَنْ يَنْظُرُ إِلَى وَجْهِهِ غَدْوَةً وَعَشِيَّةً ثُمَّ قَرَأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ ، إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ . (القيامة)" قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ ثُوَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ مَرْفُوعٌ، وَرَوَاهُ عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ أَبْجَرَ، عَنْ ثُوَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ مَوْقُوفٌ، وَرَوَى عُبَيْدُ اللَّهِ الْأَشْجَعِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ ثُوَيْرٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَوْلَهُ وَلَمْ يَرْفَعْهُ حَدَّثَنَا بِذَلِكَ أَبُو كُرَيْبٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ الْأَشْجَعِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ ثُوَيْرٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ نَحْوَهُ

---

1 ـ صحيح مسلم/الإيمان ٨٠ (١٨١) . سنن ابن ماجه/المقدمة ١٣ (١٨٧) . (تحفة الأشراف : ٤٩٦٨) . و مسند احمد (٤/٣٣٢، ٣٣٣) . ويأتي برقم: ٣١٠٥

وَلَمْ يَرْفَعْهُ. (1)

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دېتولو نه كم تر درجي والاجنتي به هغه وي څوك چې به خپل باغونه او بيابياني او نعمتونه او خادمان او تختونه اويني چې دزرو كالو دمصافي په مقدار به مشتمل وي او دالله تعالي په نزد په ټولو كي مكرم هغه څوك دي څوك چې دهغه مخ ته سحر او مابنام ګوري بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم دا ايت تلاوت كړو " وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ ، إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ "يعني په دغه ورځ به ډير مخونه تر او تازه وي او الله تعالي ته به كتونكي وي.

امام ترمذي وايي: داحديث په ډيرو سندونو داسرائيل په واسطه كوم چې هغه د ثوير نه اوثوير دابن عمر نه نقل كوي مرفوعا وارد دي مګر عبدالملك بن جبير دثوير په واسطه دابن عمر نه موقوفا نقل كوي او عبيدالله بن اشجعي دسفيان نه او هغه د ثوير نه او هغه دمجاهد نه دابن عمر قول نقل كړي دي او مرفوع يي نه دي كړي.

****

٢٥٥٤ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ طَرِيفٍ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا جَابِرُ بْنُ نُوحٍ الْحِمَّانِيُّ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " تُضَامُونَ فِي رُؤْيَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ وَتُضَامُونَ فِي رُؤْيَةِ الشَّمْسِ ؟ قَالُوا: لاَ، قَالَ: فَإِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ كَمَا تَرَوْنَ الْقَمَرَ لَيْلَةَ الْبَدْرِ، لاَ تُضَامُونَ فِي رُؤْيَتِهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَهَكَذَا رَوَى يَحْيَى بْنُ عِيسَى الرَّمْلِيُّ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَرَوَى عَبْدُ اللَّهِ بْنُ إِدْرِيسَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَحَدِيثُ ابْنِ إِدْرِيسَ، عَنِ الأَعْمَشِ غَيْرُ مَحْفُوظٍ، وَحَدِيثُ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصَحُّ، وَهَكَذَا رَوَاهُ سُهَيْلُ بْنُ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

---

1 ـ تفرد به المؤلف، وأعاده في تفسير القيامة (٣٣٣٠) (تحفة الأشراف: ٦٦٦٦) ، وانظر حم (٢/١٣، ٦٤)

مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ مِثْلُ هَذَا الْحَدِيثِ، وَهُوَ حَدِيثٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ايا دڅوارلسمي شپي سپوږمۍ ته په کتلو کي تاسو ته څه مشکل او مذاحمت وي؟ او ايا نمر ته په کتلو کي تاسو ته څه مذاحمت وي؟ خلقو اووئيل نه، رسول الله اوفرمائيل تاسوبه په دغه ورځ خپل رب لره دڅوارلسمي شپي سپوږمۍ پشان ښکارهويني چې په ليدو کي به يي هيڅ مشکل اومذاحمت نه وي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي، يحي بن عيسي رملي او نورو راويانو عن الاعمش عن ابي صالح عن ابي هريرة عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره نقل کړي دي او عبدالله بن ادريس عن الاعمش عن ابي صالح عن ابي سعيد عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره نقل کړي دي دابن ادريس کوم حديث چي داعمش په واسطه مروي دي غير محفوظ دي او دابو صالح حديث کوم چې دابوهريره په واسطه مروي دي زيات صحيح دي، او سهيل بن ابي صالح دخپل پلار نه او هغه دابوهريره نه او هغه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه نقل کړي دي، دا حديث دابوسعيد خدري په واسطه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه په نورو سندونو هم ددي هم معني مروي دي او هغه زيات صحيح دي.

تشريح : په پورتني حديث کې دالله تعالي ددیدار ذکر دی چې مومنانو ته به دقيامت په ورځ دالله تعالي ديدار نصيب شي په دي باندي داهل حق اجماع ده، دا به دومره لوي نعمت وي چې ددي په مقابله کې به دتمامو نعمتونو هيڅ حيثيت نه وي دا خبره په قران او احاديث متواتره ثابته ده، په رساله فقه اکبر کې داسي دي:

يراه المومنون وهم في الجنة بأعين رؤسهم بلاتشبيه ولا كيفيت ولا كمية ولايكون بينه وبين خلقه مسافة: (شرح فقه اكبر: ١٠٠).

مومنان به په جنت کې دسر په سترګو دخپل رب زيارت کوي خو بغير دتشبيه او کيفيت او کميت نه دالله تعالي او دهغه دمخلوق په مينځ کي به مسافه نه وي.

مولانا محمد ادريس کاندهلوي په شرح دمشکوة کې دابن قيم نه نقل کوي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم نه او صحابه کرامو نه په دي موضوع احاديث متواتره منقول دي چې په جنت کې به مومنان دالله تعالي ديدار کوي دا خبره دمتعددو صحابه کرامو نه منقول ده لکه

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الأذان ١٢٩ (٨٠٦) ، والرقاق ٥٢ (٦٥٧٣) ، والتوحيد (٧٤٣٧) ، صحيح مسلم/الإيمان ٨١ (١٨٢) ، والزهد ١ (٢٩٦٨) ، سنن ابي داود/ السنة ٢٠ (٤٧٣٠) (تحفة الأشراف : ١٢٣٣٦) ، وسنن الدارمي/الرقاق ٨١ (٢٨٢٣)

ابوبکر صدیق ، ابوهریره، ابو سعید خدري، جرير بن عبدالله، صهیب بن سنان رومي، عبدالله بن مسعود ، علي بن ابي طالب، ابو موسي اشعري، عدي بن حاتم انس بن مالك، بريده بن حصيب، ابورزين العقيلي، جابر بن عبدالله، ابوامامه، زيد بن ثابت، عمار بن ياسر، ام المومنين عائشه، عبدالله بن عمر عماره بن زيبه، سلمان فارسي، حذيفه بن يمان ، عبدالله بن عباس، عبدالله بن عمر، ابئ بن كعب، كعب بن عمير، فضاله بن عبيد رضي الله عنهم او يو نامعلوم صحابي نه هم ددي باره کې يو روايت منقول دی.

****

١٨_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٢٥٥٥_حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ اللَّهَ يَقُولُ لِأَهْلِ الْجَنَّةِ: يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ، فَيَقُولُونَ: لَبَّيْكَ رَبَّنَا وَسَعْدَيْكَ، فَيَقُولُ: هَلْ رَضِيتُمْ؟ فَيَقُولُونَ: مَا لَنَا لَا نَرْضَى وَقَدْ أَعْطَيْتَنَا مَا لَمْ تُعْطِ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ، فَيَقُولُ: أَنَا أُعْطِيكُمْ أَفْضَلَ مِنْ ذَلِكَ، قَالُوا: أَيْ وَأَيُّ شَيْءٍ أَفْضَلُ مِنْ ذَلِكَ؟ قَالَ: أُحِلُّ عَلَيْكُمْ رِضْوَانِي فَلَا أَسْخَطُ عَلَيْكُمْ أَبَدًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه ابوسعید خدري رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي بيشكه الله تعالي به جنتيانو ته اواز وركړي اى جنتيانو هغوئ به اووائي لبيك ربنا وسعديك ، اى زمونږ ربه مونږ حاضريو ،الله تعالي به ورته اوفرمائي ايا تاسو راضي شوئ، هغوئ به عرض اوكړي يا الله مونږ به ولی نه راضي كيږو تا مونږ ته داسی نعمتونه راكړل چې بل يو مخلوق ته دی نه دي وركړي الله تعالي به اوفرمائي ايا ددی ټولو نعمتونو نه زيات بل نعمت دركړم هغوئ به عرض اوكړي يا الله ددی نه به زيات نعمت بل څه وي الله تعالي به اوفرمائي زه به درباندی خپله رضا نازله كړم بيا به درنه هيچرى نه خفه كيږم (يعنى دا نعمتونه مودائمي شو چرى نه به ختميږي).

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دی.

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الرقاق ٥١ (٦٥٤٩) . والتوحيد ٣٨ (٧٥١٨) . صحيح مسلم /الجنة ٣ (٢٨٣١) (تحفة الأشراف : ٤١٦٢)

لغات : خير اسم تفضيل دي داخير نه مخفف دي ، مونث يي خيرة راځي اوجمع يي خيور ده

تشريح : "فلا اسخط عليكم بعده ابدا" يعني ددينه پس به زه ستاسو نه ناراضه نه شم. دالله جل جلاله رضامندي خو دتمامو نعمتونو او سعادتونو نه ډير لوي نعمت دی او دالله تعالي ناراضتيا دتمامو بدبختيانو نه ډيره لويه ده دجنتيانو دټولو نه لوي نعمت به دا وي چې دالله تعالي دطرفه به دوئ ته زيری ورکړی شي چې اوس به زه هميشه دپاره ستاسو نه راضي او خوشحال يم ددي نعمت په مقابله کې دجنت نعمتونه هيڅ نه دي مومنان چې دجنت کوم طلب کوي نو دا ددي دپاره کوي چې هلته په کامل طور سره دالله رضامندي حاصلیږي او الله دهغه بندګانو نه راضي کيږي ځوك چې په هر حال کې دخپل رب نه راضي وي يعني په دنيا کې چې بنده خپل ژوند دالله په رضا کې ختم کړي.

بهرحال دالله رضامندي دلوي کاميابئ علامه ده چې په جنت کې به هرجنتي ته نصيب کيږي لکه چې ارشاد الهي دی "ورضوان من الله اكبر" يعني دالله رضامندي دټولو نه لوي نعمت دی.

****

١٩_ باب مَا جَاءَ فِي تَرَائِي أَهْلِ الْجَنَّةِ فِي الْغُرَفِ

دجنت په کورونو او کوټو کي دجنتيانو يو بل لره ليدل

٢٥٥٦_ حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا فُلَيْحُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ هِلَالِ بْنِ عَلِيٍّ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ لَيَتَرَاءَوْنَ فِي الْغُرْفَةِ كَمَا تَتَرَاءَوْنَ الْكَوْكَبَ الشَّرْقِيَّ أَوِ الْكَوْكَبَ الْغَرْبِيَّ الْغَارِبَ فِي الْأُفُقِ وَالطَّالِعَ فِي تَفَاضُلِ الدَّرَجَاتِ"، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ أُولَئِكَ النَّبِيُّونَ، قَالَ: "بَلَى وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ وَأَقْوَامٌ آمَنُوا بِاللهِ وَرَسُولِهِ وَصَدَّقُوا الْمُرْسَلِينَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دمراتبو دفرق باوجود به يو جنتي بل جنتي لره داسي ويني لکه څنګه چې مشرقي يا مغربي ستوري په نظر راځي چې په افق کي راختونکي او پريوتونکي وي، صحابه کرامو عرض اوکړو اي دالله رسوله ايا دوئ به انبياء وي؟ رسول الله اوفرمائيل هو، زما دي په هغه ذات قسم وي دچا په لاس کي چې زما روح دي او هغه کسان به هم وي چاچې په الله او دهغه په رسول ايمان راوړي وي او درسولانو تصديق يي کړي وي.

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٤٢٢٠) ، وانظر مسند أحمد (٢/٣٣٥، ٣٣٩)

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دي.

****

٢٠_باب مَا جَاءَ فِي خُلُودِ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَأَهْلِ النَّارِ

په جنت کي د جنتيا نو او په دوزخ کي د دوزخيا نو د هميش والي بيان

٢٥٥٧_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "يَجْمَعُ اللَّهُ النَّاسَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ ثُمَّ يَطَّلِعُ عَلَيْهِمْ رَبُّ الْعَالَمِينَ فَيَقُولُ: أَلَا يَتْبَعُ كُلُّ إِنْسَانٍ مَا كَانُوا يَعْبُدُونَهُ. فَيُمَثَّلُ لِصَاحِبِ الصَّلِيبِ صَلِيبُهُ، وَلِصَاحِبِ التَّصَاوِيرِ تَصَاوِيرُهُ، وَلِصَاحِبِ النَّارِ نَارُهُ، فَيَتْبَعُونَ مَا كَانُوا يَعْبُدُونَ، وَيَبْقَى الْمُسْلِمُونَ فَيَطَّلِعُ عَلَيْهِمْ رَبُّ الْعَالَمِينَ فَيَقُولُ: أَلَا تَتَّبِعُونَ النَّاسَ ؟ فَيَقُولُونَ: نَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْكَ نَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْكَ اللَّهُ رَبُّنَا هَذَا مَكَانُنَا حَتَّى نَرَى رَبَّنَا، وَهُوَ يَأْمُرُهُمْ وَيُثَبِّتُهُمْ. ثُمَّ يَتَوَارَى، ثُمَّ يَطَّلِعُ فَيَقُولُ: أَلَا تَتَّبِعُونَ النَّاسَ ؟ فَيَقُولُونَ: نَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْكَ نَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْكَ اللَّهُ رَبُّنَا وَهَذَا مَكَانُنَا حَتَّى نَرَى رَبَّنَا وَهُوَ يَأْمُرُهُمْ وَيُثَبِّتُهُمْ. قَالُوا: وَهَلْ نَرَاهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ ؟ قَالَ: وَهَلْ تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ ؟ قَالُوا: لَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: فَإِنَّكُمْ لَا تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَتِهِ تِلْكَ السَّاعَةَ. ثُمَّ يَتَوَارَى، ثُمَّ يَطَّلِعُ فَيُعَرِّفُهُمْ نَفْسَهُ ثُمَّ يَقُولُ: أَنَا رَبُّكُمْ فَاتَّبِعُونِي، فَيَقُومُ الْمُسْلِمُونَ وَيُوضَعُ الصِّرَاطُ فَيَمُرُّونَ عَلَيْهِ مِثْلَ جِيَادِ الْخَيْلِ وَالرِّكَابِ وَقَوْلُهُمْ عَلَيْهِ سَلِّمْ سَلِّمْ، وَيَبْقَى أَهْلُ النَّارِ فَيُطْرَحُ مِنْهُمْ فِيهَا فَوْجٌ، ثُمَّ يُقَالُ: هَلِ امْتَلَأْتِ ؟ فَتَقُولُ: هَلْ مِنْ مَزِيدٍ ؟ ثُمَّ يُطْرَحُ فِيهَا فَوْجٌ فَيُقَالُ: هَلِ امْتَلَأْتِ ؟ فَتَقُولُ: هَلْ مِنْ مَزِيدٍ ؟ حَتَّى إِذَا أُوعِبُوا فِيهَا وَضَعَ الرَّحْمَنُ قَدَمَهُ فِيهَا وَأَزْوَى بَعْضَهَا إِلَى بَعْضٍ، ثُمَّ قَالَ: قَطْ، قَالَتْ: قَطْ قَطْ، فَإِذَا أَدْخَلَ اللَّهُ أَهْلَ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ، وَأَهْلَ النَّارِ النَّارَ، قَالَ: أُتِيَ بِالْمَوْتِ مُلَبَّبًا فَيُوقَفُ عَلَى السُّورِ بَيْنَ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَأَهْلِ النَّارِ، ثُمَّ يُقَالُ: يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ، فَيَطَّلِعُونَ خَائِفِينَ، ثُمَّ يُقَالُ: يَا أَهْلَ النَّارِ، فَيَطَّلِعُونَ مُسْتَبْشِرِينَ يَرْجُونَ الشَّفَاعَةَ، فَيُقَالُ لِأَهْلِ الْجَنَّةِ وَأَهْلِ النَّارِ: هَلْ تَعْرِفُونَ هَذَا ؟ فَيَقُولُونَ هَؤُلَاءِ وَهَؤُلَاءِ: قَدْ عَرَفْنَاهُ هُوَ الْمَوْتُ الَّذِي وُكِّلَ بِنَا، فَيُضْجَعُ فَيُذْبَحُ ذَبْحًا عَلَى السُّورِ الَّذِي بَيْنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ، ثُمَّ يُقَالُ: يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ خُلُودٌ لَا مَوْتَ، وَيَا أَهْلَ النَّارِ خُلُودٌ لَا مَوْتَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رِوَايَاتٌ كَثِيرَةٌ مِثْلُ هَذَا مَا يُذْكَرُ فِيهِ أَمْرُ الرُّؤْيَةِ أَنَّ النَّاسَ يَرَوْنَ

رَبَّهُمْ، وَذِكْرُ الْقَدَمِ وَمَا أَشْبَهَ هَذِهِ الْأَشْيَاءَ وَالْمَذْهَبُ فِي هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنَ الْأَئِمَّةِ، مِثْلِ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَمَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، وَابْنِ الْمُبَارَكِ، وَابْنِ عُيَيْنَةَ، وَوَكِيعٍ، وَغَيْرِهِمْ أَنَّهُمْ رَوَوْا هَذِهِ الْأَشْيَاءَ، ثُمَّ قَالُوا: تُرْوَى هَذِهِ الْأَحَادِيثُ وَنُؤْمِنُ بِهَا، وَلَا يُقَالُ: كَيْفَ؟ وَهَذَا الَّذِي اخْتَارَهُ أَهْلُ الْحَدِيثِ أَنْ تُرْوَى هَذِهِ الْأَشْيَاءُ كَمَا جَاءَتْ، وَيُؤْمَنُ بِهَا وَلَا تُفَسَّرُ وَلَا تُتَوَهَّمُ وَلَا يُقَالُ كَيْفَ. وَهَذَا أَمْرُ أَهْلِ الْعِلْمِ الَّذِي اخْتَارُوهُ وَذَهَبُوا إِلَيْهِ، وَمَعْنَى قَوْلِهِ فِي الْحَدِيثِ فَيُعَرِّفُهُمْ نَفْسَهُ يَعْنِي يَتَجَلَّى لَهُمْ.[1]

ترجمه : دابوهریره رضي الله عنه بیان دي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي الله تعالي به دقیامت په ورځ تمام خلق په یو وسیع میدان کي راجمع کړي او بیا به الله تعالي دمخلوقاتو مخي ته ناڅاپه راشي او ولي به نه راځي هر انسان به په هغه چا پسي روان وي دچاچي هغه عبادت کولو چنانچي دصلیب بندګي کونکو په وراندي به دصلیب شکل جوړ شي او دبوت بندګي کونکو په وراندي به دبوت شکل جوړ شي او د اور بندګي کونکو په وراندي به د اور شکل جوړ شي او بیا به خلق پخپلو معبودانو پسي وریسي شي او مسلمانان به پاتي شي چې الله تعالي رب العالمین به ورته راشي دوئ ته به اووائي تاسو هم دنورو خلقو سره ولي نه يئ تلي دوئ به اووائي مونږ په تا باندي پناه غواړو زمونږ رب خو الله تعالي دي او مونږ به هم دلته پاتي یو چې تر څو پوري به خپل رب سره مخامخ شوي نه یو او لیدلي مو نه وي الله تعالي به حکم اوکړي او دوئ به ثابت قدم کړي او غائب به شي، بیا به راظاهر شي او مخلوقاتو ته به اووائي تاسو دنورو خلقو سره ولي نه يئ تلي دوئ به اووائي مونږ په الله پناه غواړو او مونږ په تا باندي دالله پناه غواړو او زمونږ رب الله دي او زمونږ مقام همدا دي تردي پوري چې مونږ خپل رب اووینو نو الله تعالي به حکم اوکړي او دوئ به ثابت قدم شي صحابه کرامو عرض اوکړو اي دالله رسوله ایا مونږ به الله تعالي وینو؟ رسول الله اوفرمائیل ایا دڅوارلسمي شپي په لیدو کي څه مشکل وي صحابه کرامو عرض اوکړو نه وي اي دالله رسوله رسول الله اوفرمائیل داسي به تاسو ته دالله تعالي په لیدو کي هیڅ مشکل او مذاحمت نه وي او بیا به الله تعالي غائب شي او یو دم به ظاهر شي او دوئ سره به تعارف اوکړي او بیا به اووائي زه ستاسو رب یم په ما پسي راځئ چنانچي مسلمانان به اودریږي او پل صراط به قائم کړي شي او مسلمانان به په دي باندي دتیز رفتاره اسونو او سورو پشان تیریږي او تیریدو وخت کي به دا کلمات وائي "سلم سلم"، او جهنمیان به باقي پاتي شي په دوئ کي به یوه ډله

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٠٥٥)، وانظر مسند احمد (٢/٣٦٨)

جهنم ته اوغورځولي شي او بيا به ورنه تپوس اوشي ايا ته ډك شوي جهنم به اووائي "هل من مزيد" نو بيا به ديته يوه بله ډله وروغورځولي شي او دجهنم نه به تپوس اوكړي شي ايا ته ډك شوي نو جهنم به اووائي هل من مزيد تردي پوري چې كله ديته تمام خلق اوغورځولي شي نو رحمان ذات به ديته خپله خپه كوزه كړي او دجهنم يوه حصه به په بله حصه كي داخله كړي شي بيا به الله تعالي اووائي بس نو جهنم به دا كلمات اووائي قط قط يعني بس بس كله چې الله تعالي جنتيان جنت ته او جهنميان جهنم ته داخل كړي نو مرګ به هغه ديوال ته په راښكلو راوستلي شي كوم چې دجنت او جهنم په مينځ كي دي او بيا به اواز اوشي اي جنتيانو نو هغوئ به دويري په حال كي راتوپ كړي او بيا به اوا ز اوكړي شي اي دوزخيانو نو هغوئ به دشفاعت په اميد راټوپ كړي بيا به ټولو ته اووئيلي شي ايا تاسو دا پيژنئ؟ نو دواړه ډلي به اووائي او هغه به پخپله هم اووائي چې مونږ اوپيژندلو دا هغه مرګ دي كوم چې په مونږ مقرر كړي شوي دي بيا به دجهنم او جنت په مينځ كي ديوال ته زوړند كړي شي او په يو ځل به ذبح كړي شي بيا به جنتيانو ته اووئيلي شي اوس په جنت كي هميشه اوسيدل دي او مرګ به نه راځي او جهنميانو ته به اووئيلي شي اوس په جهنم كي هميشه اوسيدل دي تاسو لره او مرګ به نه راځي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه ددي هم مضمون ډير احاديث مروي دي په كومو كي چې د ديدار الهي ذكر دي چې خلق به خپل رب ويني او په دي كي دقدم او دامثالو ذكر هم دي، په دي سلسله كي بعضي اهل علمو لكه سفيان ثوري، مالك بن انس، ابن مبارك، ابن عيينه، او وكيع رحمهم الله مسلك دادي چې دوئ دا ځيزونه نقل كوي او وائي چې دا په احاديثو كي وارد دي او مونږ په دوئ باندي ايمان لرو ليكن دباري تعالي دصفاتو دكيفيت بازه كي هيڅ وئيل پكار نه دي دمحدثينو هم دا مسلك دي چې دا ځيزونه به همداسي نقل كولي شي څنګه چې وارد دي نه به ددي باطل تفسير كولي شي او نه به په دي كي څه وهم كولي شي او نه به ددي دكيفيت او حقيقت باره كي تپوس كولي شي اهل علمو همدا مسلك اختيار كړي دي او اكثر اهل علم دي طرف ته تلي دي، په حديث كي د "فيعرفهم نفسه" مطلب دادي چې الله تعالي به دوئ ته تجلي اوكړي.

****

٢٥٥٨_حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ فُضَيْلِ بْنِ مَرْزُوقٍ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ يَرْفَعُهُ، قَالَ: "إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ أُتِيَ بِالْمَوْتِ كَالْكَبْشِ الأَمْلَحِ فَيُوقَفُ بَيْنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ فَيُذْبَحُ وَهُمْ يَنْظُرُونَ، فَلَوْ أَنَّ أَحَدًا مَاتَ فَرَحًا لَمَاتَ أَهْلُ الْجَنَّةِ، وَلَوْ أَنَّ أَحَدًا مَاتَ حَزَنًا لَمَاتَ أَهْلُ النَّارِ".

قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دقيامت په ورځ به مرګ دځورب ګډ په شکل کي راوستلي شي او دجهنم او جنت په مينځ کي به اودرولي شي او بيا به ذبح کړي شي چې جنتيان او جهنميان به ورته ګوري نو که څوك دخوشحالۍ نه مړ کيدلي نو جنتيان به مړه شوي وو او که دډير غم په وجه مرګ وي نو جهنميان به مړه شوي وو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢١_بَاب مَا جَاءَ حُفَّتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ وَحُفَّتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ

جنت په تکليفونو او جهنم په خواهشاتو کي ګير کړي شوي دي

٢٥٥٩ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا عَمْرُو بْنُ عَاصِمٍ، أَخْبَرَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ حُمَيْدٍ، وَثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " حُفَّتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ، وَحُفَّتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (2)

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي جنت په دنيا کي د تکليفونو په سوري کي مرتب کړي دي او جنتم يي په دنيا کي په نفساني خواهشاتو کي مرتب کړي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند حسن غريب صحيح دي.

****

٢٥٦٠_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَمَّا خَلَقَ اللهُ الْجَنَّةَ وَالنَّارَ أَرْسَلَ جِبْرِيلَ إِلَى الْجَنَّةِ، فَقَالَ: انْظُرْ إِلَيْهَا وَإِلَى مَا أَعْدَدْتُ لِأَهْلِهَا فِيهَا، قَالَ: فَجَاءَهَا وَنَظَرَ إِلَيْهَا وَإِلَى مَا أَعَدَّ اللهُ لِأَهْلِهَا فِيهَا، قَالَ: فَرَجَعَ إِلَيْهِ قَالَ: فَوَعِزَّتِكَ لَا يَسْمَعُ بِهَا أَحَدٌ إِلَّا دَخَلَهَا، فَأَمَرَ بِهَا فَحُفَّتْ بِالْمَكَارِهِ، فَقَالَ: ارْجِعْ إِلَيْهَا فَانْظُرْ إِلَى مَا أَعْدَدْتُ لِأَهْلِهَا فِيهَا، قَالَ: فَرَجَعَ إِلَيْهَا فَإِذَا هِيَ قَدْ حُفَّتْ بِالْمَكَارِهِ،

1_ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٤٢٣٠)

2_ صحيح مسلم/الجنة ١(٢٨٢٢) (تحفة الأشراف : ٣٢٩، و ٦١٥) ، و مسند احمد (٣/١٥٣، ٢٥٤، ٢٨٤)

فَرَجَعَ إِلَيْهِ فَقَالَ: وَعِزَّتِكَ لَقَدْ خِفْتُ أَنْ لَا يَدْخُلَهَا أَحَدٌ. قَالَ: اذْهَبْ إِلَى النَّارِ، فَانْظُرْ إِلَيْهَا وَإِلَى مَا أَعْدَدْتُ لِأَهْلِهَا فِيهَا، فَإِذَا هِيَ يَرْكَبُ بَعْضُهَا بَعْضًا، فَرَجَعَ إِلَيْهِ، فَقَالَ: وَعِزَّتِكَ لَا يَسْمَعُ بِهَا أَحَدٌ فَيَدْخُلَهَا، فَأَمَرَ بِهَا فَحُفَّتْ بِالشَّهَوَاتِ، فَقَالَ: ارْجِعْ إِلَيْهَا، فَرَجَعَ إِلَيْهَا فَقَالَ: وَعِزَّتِكَ لَقَدْ خَشِيتُ أَنْ لَا يَنْجُوَ مِنْهَا أَحَدٌ إِلَّا دَخَلَهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چې الله تعالي جنت او جهنم يې پيدا كړو نو جبرائيل يې جنت ته اوليږلو او ورته يې اووئيل جنت او په جنت كې چې دجنتيانو دپاره الله تعالي څه تيار كړي دي ورشه او ويې ګوره رسول الله اوفرمائيل جبرائيل ورغلو او په جنت كې دجنتيانو دپاره تيار شوي څيزونه يې اوليدل رسول الله اوفرمائيل دهغې نه پس الله تعالي ته واپس ورغلو او عرض يې اوكړو ستا په عزت مې دې قسم وي هر څوك چې ددې په باره كې واوري هغه به ديته ضرور داخليږي، بيا الله تعالي حكم اوكړو دا خو په تكليفونو كې ګير كړې شوي دي، الله تعالي بيا اووئيل دوباره ورته ورشه او په دې كې چې مونږ دجنتيانو دپاره څه تيار كړي دي هغې ته اوګوره رسول الله اوفرمائيل جبرائيل عليه السلام دوباره جنت ته ورغلو نو جنت په تكليف وركونكو څيزونو كې ګير وو چنانچې جبرائيل الله تعالي ته واپس راغلو او عرض يې اوكړو ماسره خو دا ويره پيدا شوه چې ديته به هيڅوك هم داخل نشي الله تعالي اوفرمائيل اوس جهنم طرف ته ورشه جهنم او په جهنم كې چې څه دجهنميانو دپاره تيار كړي شوي دي اوګوره نو جبرائيل اوكتل چې يوه حصه يې په بله حصه باندې ورخيژي نو جبرائيل الله تعالي ته راغلو او عرض يې اوكړو ستا په عزت مې دې قسم وي دجهنم باره كې چې څوك هم خبر شي نو ديته به داخل نشي بيا الله تعالي حكم اوكړو نو جهنم دشهواتو نه ډك شو الله تعالي اوفرمائيل دوباره ورته ورشه نو جبرائيل عليه السلام دوباره ورغلو او چې كله واپس راغلو عرض يې اوكړو ستا په عزت مې دې قسم وي زما سره خو دا ويره پيدا شوه چې ددينه به هيڅوك هم بچ پاتې نشي بلكه په دې كې به داخليږي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٢ـ باب مَا جَاءَ فِي احْتِجَاجِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ

[1] ـ سنن ابي داود/ السنة ٢٥ (٤٧٤٤). سنن النسائي/الأيمان والنذور ٣ (٣٧٩٣) (تحفة الأشراف: ١٥٠٦٤). و مسند احمد (٢/٣٣٣، ٣٥٤، ٣٧٣)

دجنت او جهنم مينځ كې دمناظرې كولو بيان

٢٥٦١_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "احْتَجَّتِ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ، فَقَالَتِ الْجَنَّةُ: يَدْخُلُنِي الضُّعَفَاءُ وَالْمَسَاكِينُ، وَقَالَتِ النَّارُ: يَدْخُلُنِي الْجَبَّارُونَ وَالْمُتَكَبِّرُونَ، فَقَالَ لِلنَّارِ: أَنْتِ عَذَابِي أَنْتَقِمُ بِكِ مِمَّنْ شِئْتُ، وَقَالَ لِلْجَنَّةِ: أَنْتِ رَحْمَتِي أَرْحَمُ بِكِ مَنْ شِئْتُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دجنت او جهنم مينځ كې تكرار اوشو جنت اووئيل ماته به مسكينان او كمزوري خلق داخليږي، جهنم اووئيل ماته به ظالمان او تكبركونكي داخليږي الله تعالي دفيصلې كولو وخت كې جهنم ته اوفرمائيل ته زما عذاب يې او زه ستا په ذريعه چې دچا نه بدل اخستل اوغواړم بدل ورنه اخلم او جنت ته يې اووئيل ته زما رحمت يې زه ستا په ذريعه چې په چا باندې رحم كول اوغواړم رحم ورباندې كوم.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٣_بَابُ مَا جَاءَ مَا لأَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مِنَ الْكَرَامَةِ

داد نې درجې جنتي دپاره به څومره اعزاز او اكرام وي

٢٥٦٢_حَدَّثَنَا سُوَيْدٌ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ، أَخْبَرَنَا رِشْدِينُ بْنُ سَعْدٍ، حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ الْحَارِثِ، عَنْ دَرَّاجٍ، عَنْ أَبِي الْهَيْثَمِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ الَّذِي لَهُ ثَمَانُونَ أَلْفَ خَادِمٍ، وَاثْنَتَانِ وَسَبْعُونَ زَوْجَةً، وَتُنْصَبُ لَهُ قُبَّةٌ مِنْ لُؤْلُؤٍ وَزَبَرْجَدٍ وَيَاقُوتٍ كَمَا بَيْنَ الْجَابِيَةِ إِلَى صَنْعَاءَ". (2)

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دكمې درجې والا جنتي به هغه څوك وي دچا دپاره چې به اتيازره خادمان او دوه اويا بيبياني

---

1 _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /تفسير سورة ق ١ (٤٨٥٠) صحيح مسلم /الجنة ١٣ (٢٨٤٦) (تحفة الأشراف: ١٥٠٦٣) . و مسند احمد (٢/٢٧٦، ٣١٤، ٣٥٠).

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٥٠٩)

وي دده دپاره به دملغلرو او زمرود او ياقوت نه جوړه شوي خيمه اودرولي شي چې دجابيه مقام نه واخله صنعاء (يمن) پورې به ددي لوي والي وي.

****

وَبِهَذَا الْإِسْنَادِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ مَاتَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ مِنْ صَغِيرٍ أَوْ كَبِيرٍ يُرَدُّونَ أَبْنَاءَ ثَلَاثِينَ فِي الْجَنَّةِ، لَا يَزِيدُونَ عَلَيْهَا أَبَدًا، وَكَذَلِكَ أَهْلُ النَّارِ".([1])

ترجمه : په مذكوره سند باندي هم دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دا فرمان مروي دي چې فرمائيل يي دجنتيانو نه چې هر څوك مړ شي ماشوم وي او كه لوي وي ددوئ عمر به په جنت كي ديرش كاله وي چې هيڅ كله به په دي باندي زيات نشي او همدا رنګي حال دجهنميانو هم دي.

****

وَبِهَذَا الْإِسْنَادِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ عَلَيْهِمُ التِّيجَانَ إِنَّ أَدْنَى لُؤْلُؤَةٍ مِنْهَا لَتُضِيءُ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ رِشْدِينَ بْنِ سَعْدٍ.([2])

ترجمه : په مذكوره سند باندي هم دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دا فرمان مروي دي چې فرمائيل يي يقينا دجنتيانو په سرونو به تاجونه وي چې ادني ملغلره به يي دمشرق نه تر مغرب پورې علاقه روښانه كوي.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي او درشدين بن سعد دسند نه علاوه په بل سند مونږ ته معلوم نه دي.

****

٢٥٦٣ـ حَدَّثَنَا بُنْدَارٌ، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ عَامِرٍ الْأَحْوَلِ، عَنْ أَبِي الصِّدِّيقِ النَّاجِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْمُؤْمِنُ إِذَا اشْتَهَى الْوَلَدَ فِي الْجَنَّةِ كَانَ حَمْلُهُ وَوَضْعُهُ وَسِنُّهُ فِي سَاعَةٍ كَمَا يَشْتَهِي". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَقَدِ اخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي هَذَا، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: فِي الْجَنَّةِ جِمَاعٌ وَلَا يَكُونُ وَلَدٌ. هَكَذَا رُوِيَ

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٥٠٥٩)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٥٠٥٩)

عَنْ طَاوُسٍ، وَمُجَاهِدٍ، وَإِبْرَاهِيمَ النَّخَعِيِّ، وَقَالَ مُحَمَّدٌ: قَالَ إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ فِي حَدِيثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا اشْتَهَى الْمُؤْمِنُ الْوَلَدَ فِي الْجَنَّةِ كَانَ فِي سَاعَةٍ وَاحِدَةٍ كَمَا يَشْتَهِي وَلَكِنْ لَا يَشْتَهِي". قَالَ مُحَمَّدٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَبِي رَزِينٍ الْعُقَيْلِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ لَا يَكُونُ لَهُمْ فِيهَا وَلَدٌ"، وَأَبُو الصِّدِّيقِ النَّاجِيُّ اسْمُهُ: بَكْرُ بْنُ عَمْرٍو وَيُقَالُ: بَكْرُ بْنُ قَيْسٍ أَيْضًا.[1]

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چې يو جنتي په جنت كي دخوي خواهش اوكړي نو دده حمل كيدل او ولادت كيدل او دده عمر زياتيدل دا ټول كارونه به دده دخواهش مطابق په يو ساعت كي سرته ورسيږي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي ، دي باره كي داهل علمو اختلاف دي بعضي علماء وائي په جنت كي به جماع وي مګر بچي به نه پيدا كيږي، دطاوس، مجاهد، او ابراهيم نخعي نه هم داسي مروي دي، امام بخاري وائي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم ددي حديث متعلق داسحاق بن ابراهيم بن راهويه دا قول دي كله چې په جنت كي مومن دبچي خواهش اوكړي نو په يو ساعت كي به اوشي څنګه چې هغه خواهش په يو ساعت كي كړي وي ليكن جنتيان به ددي څيز خواهش نه كوي، امام بخاري وائي دابو رزين عقيلي رضي الله عنه نه روايت دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دجنتي به په جنت كي بچي نه پيدا كيږي، او دابوصديق ناجي نوم بكر بن عمرو دي چې بكر بن قيس ورته هم وئيلي شي.

****

٢٤_بَاب مَا جَاءَ فِي كَلَامِ الْحُورِ الْعِينِ

په جنت كي دجنت دحورو دترا نو بيان

٢٥٦٤_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، وَأَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَمُجْتَمَعًا لِلْحُورِ الْعِينِ يُرَفِّعْنَ بِأَصْوَاتٍ لَمْ يَسْمَعِ الْخَلَائِقُ مِثْلَهَا"، قَالَ: يَقُلْنَ: نَحْنُ الْخَالِدَاتُ فَلَا نَبِيدُ، وَنَحْنُ النَّاعِمَاتُ فَلَا نَبْأَسُ، وَنَحْنُ الرَّاضِيَاتُ فَلَا نَسْخَطُ، طُوبَى لِمَنْ كَانَ لَنَا وَكُنَّا لَهُ"، وَفِي

---

[1] ـ سنن ابن ماجه/الزهد ٣٩ (٤٣٣٨) (تحفة الأشراف : ٣٩٧٤)

الباب عن أَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَأَنَسٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَلِيٍّ حَدِيثٌ غَرِيبٌ. ([1])

ترجمه دعلي رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي په جنت كي به دحور عين يو محفل وي په دي كي به دوئ خپلي نغمي كوي چې په مخلوقاتو كي به هيچا ددوئ پشان اواز نه وي اوريدلي رسول الله اوفرمائيل دوئ به داسي وائي هميشه اوسيدل دي او هيڅ كله پناه كيدل نشته دي مونږ ناز او نعمت والا يو او هيڅ كله محتاجه كيږو نه مونږه خوشحالي كونكي يو هيڅ كله خفګان كونكي نه يو. پس دهغه چا دپاره دي زيري او مباركي وي څوك چې زمونږ وي او مونږ دهغه يو.

امام ترمذي وايي: دعلي رضي الله عنه حديث غريب دي، او په دي باب كي دابوهريره، ابوسعيد، انس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٢٥٦٥ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، عَنِ الأَوْزَاعِيِّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، فِي قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ: فَهُمْ فِي رَوْضَةٍ يُحْبَرُونَ (الروم :١٥، قَالَ السَّمَاعُ: وَمَعْنَى السَّمَاعِ: مثل ما ورد في الحديث "أَنَّ الْحُورَ الْعِينَ يُرَفِّعْنَ بِأَصْوَاتِهِنَّ". ([2])

ترجمه يحي بن ابي كثير دارشاد الهي "فهم في روضة يحبرون" يعني دوئ به دجنت په باغونو كي خوشحالي كونكي وي په باره كي وائي چې ددينه مراد سماع ده. او دسماع مفهوم هغه دي كوم چې په حديث كي راغلي دي چې حورعين به پخپلو نغمو اوازونه پورته كوي.

****

٢٥ـ باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٢٥٦٦ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي الْيَقْظَانِ، عَنْ زَاذَانَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ثَلَاثَةٌ عَلَى كُثْبَانِ الْمِسْكِ أُرَهُ قَالَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَغْبِطُهُمُ الأَوَّلُونَ وَالآخِرُونَ: رَجُلٌ يُنَادِي بِالصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، وَرَجُلٌ يَؤُمُّ قَوْمًا وَهُمْ بِهِ رَاضُونَ، وَعَبْدٌ أَدَّى حَقَّ اللَّهِ وَحَقَّ مَوَالِيهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف ١٠٢٩١)

[2] ـ تفرد به المؤلف

نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَأَبُو الْيَقْظَانِ اسْمُهُ: عُثْمَانُ بْنُ عُمَيْرٍ وَيُقَالُ: ابْنُ قَيْسٍ. (1)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دري قسمه كسان داسي دي چې دمشكو په ډيركو به ناست وي راوي وائي زما خيال دي رسول الله اوفرمائيل چې دقيامت په ورځ او مخكني او روستني به ددوئ سره په دي باندي كينه كوي يو څو هغه كس دي څوك چې دشپي او ورځي دمونځونو دپاره اذان كوي، دويم هغه كس دي څوك چې يو قوم ته امامت وركوي او هغوئ دده نه راضي وي او دريم هغه غلام دي څوك چې دالله تعالي او دخپلو مالكانو حق اداء كوي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي دا مونږ ته صرف دسفيان ثوري په سند معلوم دي.

****

٢٥٦٧ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَيَّاشٍ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ يَرْفَعُهُ، قَالَ: "ثَلَاثَةٌ يُحِبُّهُمُ اللَّهُ: رَجُلٌ قَامَ مِنَ اللَّيْلِ يَتْلُو كِتَابَ اللَّهِ، وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ صَدَقَةً بِيَمِينِهِ يُخْفِيهَا"، أُرَاهُ قَالَ: "مِنْ شِمَالِهِ، وَرَجُلٌ كَانَ فِي سَرِيَّةٍ فَانْهَزَمَ أَصْحَابُهُ فَاسْتَقْبَلَ الْعَدُوَّ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَهُوَ غَيْرُ مَحْفُوظٍ، وَالصَّحِيحُ مَا رَوَى شُعْبَةُ وَغَيْرُهُ عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ظَبْيَانَ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ كَثِيرُ الْغَلَطِ. (2)

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دري قسمه كسان دي چې الله تعالي ورسره محبت كوي يو هغه كس دي څوك چې دشپي پاځي او د الله دكتاب تلاوت كوي، دويم هغه كس دي چې پخپل ښي لاس صدقه وركړي او پټه يي اوساتي، او دريم هغه كس دي چې په كومه سريه كي تلي وي او دده دشكست خوړلو نه پس دوباره د دشمن مقابلي ته تيار شي.

امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند غريب دي او محفوظ نه دي صحيح روايت هغه دي كوم چې شعبه وغيره عن منصور عن ربعي بن حراش عن زيد بن ضبيان عن ابي ذر عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره نقل كړي دي، او ابوبكر بن عياش يو كثيرالغلط راوي دي.

****

---

1 ـ انظر حديث رقم ١٩٨٦

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٩١٩٩)

٢٥٦٨_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، قَالَا: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ مَنْصُورِ بْنِ الْمُعْتَمِرِ، قَالَ: سَمِعْتُ رِبْعِيَّ بْنَ حِرَاشٍ يُحَدِّثُ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ظَبْيَانَ، يَرْفَعُهُ إِلَى أَبِي ذَرٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " ثَلَاثَةٌ يُحِبُّهُمُ اللَّهُ، وَثَلَاثَةٌ يُبْغِضُهُمُ اللَّهُ، فَأَمَّا الَّذِينَ يُحِبُّهُمُ اللَّهُ: فَرَجُلٌ أَتَى قَوْمًا فَسَأَلَهُمْ بِاللَّهِ وَلَمْ يَسْأَلْهُمْ بِقَرَابَةٍ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُمْ فَمَنَعُوهُ فَتَخَلَّفَ رَجُلٌ بِأَعْقَابِهِمْ فَأَعْطَاهُ سِرًّا لَا يَعْلَمُ بِعَطِيَّتِهِ إِلَّا اللَّهُ وَالَّذِي أَعْطَاهُ، وَقَوْمٌ سَارُوا لَيْلَتَهُمْ حَتَّى إِذَا كَانَ النَّوْمُ أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِمَّا يُعْدَلُ بِهِ نَزَلُوا فَوَضَعُوا رُءُوسَهُمْ فَقَامَ أَحَدُهُمْ يَتَمَلَّقُنِي وَيَتْلُو آيَاتِي، وَرَجُلٌ كَانَ فِي سَرِيَّةٍ فَلَقِيَ الْعَدُوَّ فَهُزِمُوا وَأَقْبَلَ بِصَدْرِهِ حَتَّى يُقْتَلَ أَوْ يُفْتَحَ لَهُ، وَالثَّلَاثَةُ الَّذِينَ يُبْغِضُهُمُ اللَّهُ: الشَّيْخُ الزَّانِي، وَالْفَقِيرُ الْمُخْتَالُ، وَالْغَنِيُّ الظَّلُومُ ".[1]

ترجمه : دابوذر رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دري قسمه خلق داسي دي چې الله تعالي ورسره محبت كوي او دري قسمه نور خلق داسي دي چې الله تعالي ورنه نفرت كوي دكومو خلقو سره چې الله تعالي محبت كوي هغوئ دادي يو خو هغه كس دي څوك چې يو قوم ته ورشي او دالله تعالي په خاطر ورنه سوال اوكړي او ددوئ سره چې دده كومه رشته داري ده دهغي په خاطر ورنه سوال اونكړي او خلق ورته انكار اوكړي او بيا په دي كسانو كي يو كس يواخي لاړ شي او په پټه دي غوښتونكي ته څه وركړي او ددي وركړي نه دالله تعالي او ددي كس نه علاوه بل څوك خبر نشي (دويم هغه كس دي چې كوم كسان دشپي سفر كوي او خوب دوئ ته دهر څيز نه محبوب شي او دي سر كيږدي او اوده شي، نو الله تعالي فرمائي دي وخت كي دا كس اودريږي او زما په دربار كي ژړاګاني كوي او زما دايتونو تلاوت كوي (او دريم كس هغه دي) څوك چې په يو جنګ كي شريك وي او دشمن ورته مخامخ شي نو نور خلق په شا لاړ شي ليكن ده ورته خپله سينه مخامخ نيولي وي ترديِ پوري چې قتل كړي شي او يا ميدان اوګټي (كومه حده پوري چې ددي خلقو تعلق دي كومو لره چې الله تعالي نه خوښوي نو په هغوئ كي يو بودازناكار دي او يو متكبر فقير دي او يو ظلم كونكي بادشاه دي.

****

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ، عَنْ شُعْبَةَ، نَحْوَهُ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ

1_ سنن النسائي/قيام الليل ٧ (١٦١٦)، والزكاة ٧٥ (٢٥٧١) (تحفة الأشراف : ١٩١٣) . و مسند احمد (٥/١٥٣)

صَحِيحٌ، وَهَكَذَا رَوَى شَيْبَانُ، عَنْ مَنْصُورٍ نَحْوَ هَذَا، وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَيَّاشٍ. (1)

ترجمه : نضر بن شميل د شعبه نه ددي هم معني روايت نقل كړي دي.

امام ترمذي وايي: دا حديث صحيح دي دا رنګي روايت شيبان هم دمنصور نه نقل كړي دي او دا روايت دابوبكر بن عياش درروايت نه زيات صحيح دي.

****

۴۶_بَاب مِنْهُ

سابقه باب متعلق يو بل باب

۲۵۶۹_حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ الْأَشَجُّ، حَدَّثَنَا عُقْبَةُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، عَنْ خُبَيْبِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ جَدِّهِ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يُوشِكُ الْفُرَاتُ يَحْسِرُ عَنْ كَنْزٍ مِنْ ذَهَبٍ فَمَنْ حَضَرَهُ فَلَا يَأْخُذْ مِنْهُ شَيْئًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي يقينا دفرات په درياب كې به دسروزرو يوه خزانه څرګنديږي خو څوك مسلمان چې هلته حاضروي دی خزانی نه دی هيڅ شی نه اخلي.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن ضحيح دي.

لغات : الفرات: داد يو لوي او مشهور درياب نوم دي کوم چې بحر فارس ته رسيدلي دي ، فرات خوګو اوبوته ويلي شي.

تشريح: "يحسر الفرات" مطلب دادی چې دفرات اوبه به اوچي شي او ددينه به دسرو زرو هغه خزانه راوځي كومه چې به دغرونو په شان وي، په يو بل روايت كې راغلي دي "فمن حضره فلاياخذ منه شيئا" يعني څوك چې په دغه وخت كې موجود وي نو هغه دي ددي خزانې نه هيڅ څيز نه اخلي مګر دپورتني حديث نه معلوميږي چې خلق به ددي مال لالچ او حرص كوي تردي چې په هرو سلو كې به نهه نوي كسان قتل كړی شي ځكه چې دا خزانه بـه دمكروه مال پـه حكم كې وي.

---

1 ــ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الفتن ٢٢ (٤١١٩) . صحيح مسلم /الفتن ٨ (٢٨٩٤) . سنن ابن ماجه/الفتن ٢٥ (٣٠٣٥) (تحفة الأشراف : ١٢٢٦٣) . و مسند احمد (٢/٢٦١ . ٢٢٢ . ٣٦٠)

2 ــ تفرد به المؤلف رحمه الله تعالي في سننه الجامع.

****

٢٥٧٠ـ حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ الأَشَجُّ، حَدَّثَنَا عُقْبَةُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: "يَحْسِرُ عَنْ جَبَلٍ مِنْ ذَهَبٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه په همدي سند دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه ددي هم معني روايت مروي دي مگر دواړو كي فرق دادي چې په دي حديث كي رسول الله فرمائيلي دي دسرو زرو غر به راښكاره شي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٧ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ أَنْهَارِ الجَنَّةِ

دجنت دنهرونو بيان

٢٥٧١ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا الجُرَيْرِيُّ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ مُعَاوِيَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ فِي الجَنَّةِ بَحْرَ المَاءِ وَبَحْرَ العَسَلِ وَبَحْرَ اللَّبَنِ وَبَحْرَ الخَمْرِ، ثُمَّ تُشَقَّقُ الأَنْهَارُ بَعْدُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَحَكِيمُ بْنُ مُعَاوِيَةَ هُوَ وَالِدُ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ، وَالجُرَيْرِيُّ يُكْنَى: أَبَا مَسْعُودٍ وَاسْمُهُ: سَعِيدُ بْنُ إِيَاسٍ.[2]

ترجمه : دمعاويه بن حيده قشيري نه مروي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په جنت كي داوبو يو سمندر دي او يو سمندر دشهدو دي او يو سمندر دشودو دي او يو سمندر دشرابو دي بيا ددينه واړه نهرونه وتلي دي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٥٧٢ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ بُرَيْدِ بْنِ أَبِي مَرْيَمَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ

---

[1] ـ انظر ماقبله (تحفة الأشراف: ١٣٧٩٥)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١١٣٩٤)

مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ سَأَلَ اللهَ الْجَنَّةَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، قَالَتِ الْجَنَّةُ: اللَّهُمَّ أَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ، وَمَنِ اسْتَجَارَ مِنَ النَّارِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، قَالَتِ النَّارُ: اللَّهُمَّ أَجِرْهُ مِنَ النَّارِ"، قَالَ: هَكَذَا رَوَى يُونُسُ بْنُ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ بُرَيْدِ بْنِ أَبِي مَرْيَمَ، عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ بُرَيْدِ بْنِ أَبِي مَرْيَمَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ مَوْقُوفًا أَيْضًا. (1)

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چې دالله تعالي نه دري پيري جنت غواړي نو جنت وائي اي الله ده لره جنت ته داخل کړې او څوك چې دري پيري دجهنم نه پناه غواړي نو جهنم وائي اي الله ده ته دجهنم نه نجات ورکړې

امام ترمذي وايي: داحديث په همدي مضمون يونس بن ابي اسحاق عن ابي اسحاق عن بريد بن ابي مريم عن انس عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره مروي دي، داحديث عن ابي اسحاق عن بريد بن ابي مريم عن انس بن مالك سند سره موقوفا هم مروي دي.

****

كتاب صفة جهنم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم

د جهنم د متعلقه امورو او لوازمو تفصيلات

١_ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ النَّارِ

د جهنم د اور د كيفيت بيان

٢٥٧٣_ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ خَالِدٍ الْكَاهِلِيِّ، عَنْ شَقِيقِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يُؤْتَى بِجَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لَهَا سَبْعُونَ أَلْفَ زِمَامٍ، مَعَ كُلِّ زِمَامٍ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ يَجُرُّونَهَا". قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، وَالثَّوْرِيُّ لَا يَرْفَعُهُ. (2)

---

1 _ سنن النسائي/الاستعاذة ٥٦ (٥٥٢٣). سنن ابن ماجه/الزهد ٣٩ (٤٣٤٠) (تحفة الأشراف : ٢٤٣). و مسند احمد (٣/٢٠٨)

2 _ صحيح مسلم/صفة الجنة ١٢ (٢٨٤٢) (تحفة الأشراف : ٩٢٩٠)

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه دا هم روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چې دقيامت په ورځ به دوزخ په اويا زره واګو کې کير راوستلی شي چې اويا زره فرشتې به يې دهرواګي سره وي او راکاږي به يې.
امام ترمذي وايي: د عبد الله بن عبد الرحمن قول دي چې سفيان ثوري به دا حديث مرفوع نه بيانولو.
لغات : زمام: هر هغه شي په کوم چې کوم شي رابنکلی شي يعني مهار جمع يې ازمّة راځي دنصر ينصر باب نه لکه زمّم الجمال يعني اوښانو ته يې مهارونه واچول. القربة مشك.
تشريح : پورتنی حديث محدثينو دمتشابهاتو نه شميرلی دی چې ددي تعلق دغيبي امورو سره دی ايمان راوړل پرې ضروري دي خو کيفيت يې مونږ ته نه دی معلوم ظاهرا ددي روايت دا مطلب کيدی شي چې دقيامت په ورځ به په لکونو فرشتې جهنم راکاږي او دحشر ميدان ته به يې راوړي او بيابه دوئ جهنم په هغه ځاي کې کيږدي چې د اهل محشر او جنت په مينځ کې به حائل شي او جنت ته دتلو دپاره به دپل صراط نه علاوه بله لار نه وي پل صراط به دجهنم دپاسه کيخودی شي او په دې باندې په تيريدو سره به خلق جنت ته رسيږي.
- "سبعون الف ملك يجرونها" يعني اويا زره فرشتې به يې راکاږي بعض علماء وائي کله چې جهنم راوړی شي نو په انتهائي غضب ناك حالت کې به وي او دا به غواړي چې دا تمام مخلوق تير کړم مګر فرشتې به يې دواګو په ذريعه منع کوي که چرې فرشتې يې پريږدي نو تمام مومنان او کافران به راکاږي.

****

حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عَمْرٍو أَبُو عَامِرٍ الْعَقَدِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ خَالِدٍ بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ وَلَمْ يَرْفَعْهُ. [1]

ترجمه : په مذکوره سند هم دماقبل هم معني روايت مروي دي مګر مرفوع يې نه دي بيان کړي.

****

٢٥٧٤ - حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاوِيَةَ الْجُمَحِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُسْلِمٍ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَخْرُجُ عُنُقٌ مِنَ النَّارِ يَوْمَ

---

[1] ـ صحيح مسلم /صفة الجنة ١٢ (٢٨٤٢) (تحفة الأشراف : ٩٢٩٠)

الْقِيَامَةِ لَهَا عَيْنَانِ تُبْصِرَانِ، وَأُذُنَانِ تَسْمَعَانِ، وَلِسَانٌ يَنْطِقُ، يَقُولُ: إِنِّي وُكِّلْتُ بِثَلَاثَةٍ: بِكُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ، وَبِكُلِّ مَنْ دَعَا مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ، وَبِالْمُصَوِّرِينَ ". وفي الباب عن أبي سعيد، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ بَعْضُهُمْ عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ هَذَا، وَرَوَى أَشْعَثُ بْنُ سَوَّارٍ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ. (1)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دقيامت په ورځ به دجهنم نه يوه غړئ راوځي او دوه سترګي به يي وي چې ليدل به کوي، دوه غوږونه به يي وي چې اوريدل به کوي او ژبه به يي وي چې خبري به کوي او داسي به وائي زه په دري قسمه خلقو مقرر شوي يم، په هر سرکش ظالم، او په هر هغه بنده څوك چې دالله تعالي نه علاوه دبل چا بندګي کوي، او په بتانو جوړونکي باندي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب صحيح دي، او په دي باب کي دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي، او بعضي راويانو دا حديث عن الاعمش عن عطيه عن ابي سعيد عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره ددي هم معني نقل کړي دي، اشعث بن سوار هم عن عطيه عن ابي سعيد الخدري عن النبي صلي الله عليه وسلم سره ددي په مثل نقل کړي دي.

****

٢_بَاب مَا جَاءَ فِي صِفَةِ قَعْرِ جَهَنَّمَ

دجهنم دژوروالي بيان

٢٥٧٥_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ عَلِيٍّ الْجُعْفِيُّ، عَنْ فُضَيْلِ بْنِ عِيَاضٍ، عَنْ هِشَامٍ، عَنِ الْحَسَنِ، قَالَ: قَالَ عُتْبَةُ بْنُ غَزْوَانَ: عَلَى مِنْبَرِنَا هَذَا مِنْبَرِ الْبَصْرَةِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِنَّ الصَّخْرَةَ الْعَظِيمَةَ لَتُلْقَى مِنْ شَفِيرِ جَهَنَّمَ فَتَهْوِي فِيهَا سَبْعِينَ عَامًا وَمَا تُفْضِي إِلَى قَرَارِهَا "، قَالَ: وَكَانَ عُمَرُ، يَقُولُ: أَكْثِرُوا ذِكْرَ النَّارِ فَإِنَّ حَرَّهَا شَدِيدٌ وَإِنَّ قَعْرَهَا بَعِيدٌ وَإِنَّ مَقَامِعَهَا حَدِيدٌ "، قَالَ أَبُو عِيسَى: لَا نَعْرِفُ لِلْحَسَنِ سَمَاعًا مِنْ عُتْبَةَ بْنِ غَزْوَانَ، وَإِنَّمَا قَدِمَ عُتْبَةُ

1_ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٢٤٣٢)، وانظر مسند احمد (٢/٣٣٦)

بْنُ غَزْوَانَ الْبَصْرَةَ فِي زَمَنِ عُمَرَ وَوُلِدَ الْحَسَنُ لِسَنَتَيْنِ بَقِيَتَا مِنْ خِلَافَةِ عُمَرَ. (١)

ترجمه : حسن بصري وائي غزوه بن غزوان رضي الله عنه زمونږ دبصري په دي منبر باندي بيان کړل چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي که چري يوه ډيره لويه ګټه ،کمر، دجهنم غاړي ته راوړلي شي او جهنم ته اوغورځولي شي او داويا کالو په مقدار رفتار اوکړي نو بيا به هم دجهنم تل ته اونه رسيږي، عتبه وائي عمر رضي الله عنه به فرمائيل جهنم په کثرت سره يادوئ ځکه چي ګرم والي يي ډيرزيات دي او ژور والي يي ډير زيات دي او ددي ګرزونه داوسپني دي.

امام ترمذي وايي: دعتبه بن غزوان نه دحسن بصري سماع ثابت نه دي دعمر رضي الله عنه دخلافت په دور کي عتبه بن غزوان بصري ته راغلي دي او دحسن بصري پيدائش هغه وخت کي شوي دي کله چي دعمر رضي الله عنه دخلافت دوه کاله باقي وو.

****

٢٥٧٦ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُوسَى، عَنِ ابْنِ لَهِيعَةَ، عَنْ دَرَّاجٍ، عَنْ أَبِي الْهَيْثَمِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " الصَّعُودُ جَبَلٌ مِنْ نَارٍ يَتَصَعَّدُ فِيهِ الْكَافِرُ سَبْعِينَ خَرِيفًا وَيَهْوِي فِيهِ كَذَلِكَ مِنْهُ أَبَدًا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ مَرْفُوعًا إِلَّا مِنْ حَدِيثِ ابْنِ لَهِيعَةَ. (٢)

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي صعود په جهنم کي يو غر دي ديته به کافر اويا کاله ورخيژي او په هم دومره کلونو کي به ورنه واپس کوزيږي او دا عذاب به کافر ته هميشه دپاره ورکولي شي.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي دا مونږ ته صرف دابن لهيعه په سند مرفوع رارسيدلي دي.

****

٣ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي عِظَمِ أَهْلِ النَّارِ

دجهنميا نو دځورب والي او غټوالي بيان

---

1 ـ صحيح مسلم/الزهد ١ (٢٩٦٧) . سنن ابن ماجه/الزهد ١٢ (٤١٥٦) (مختصراً جداً) (تحفة الأشراف : ٩٧٥٧) . و مسند احمد (٤/١٧٤) . (٥/٦١)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٤٠٦٣)

٢٥٧٧_حَدَّثَنَا عَبَّاسٌ الدُّورِيُّ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا شَيْبَانُ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ غِلَظَ جِلْدِ الْكَافِرِ اثْنَانِ وَأَرْبَعُونَ ذِرَاعًا، وَإِنَّ ضِرْسَهُ مِثْلُ أُحُدٍ، وَإِنَّ مَجْلِسَهُ مِنْ جَهَنَّمَ كَمَا بَيْنَ مَكَّةَ، وَالْمَدِينَةِ". هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ الأَعْمَشِ. ([1])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دكافر دځرمن پيړوالي به دوه څلويښت ګزه وي او يو غاښ به يي داحد دغر په مقدار وي او په جهنم کي به دده دناستي ځاي به دومره وي څومره چي دمکي او مديني مينځ کي فاصله ده.
امام ترمذي وايي: داحديث داعمش په روايت حسن صحيح غريب دي.

****

٢٥٧٨_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمَّارٍ، حَدَّثَنِي جَدِّي مُحَمَّدُ بْنُ عَمَّارٍ، وَصَالِحٌ مَوْلَى التَّوْءَمَةِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ضِرْسُ الْكَافِرِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِثْلُ أُحُدٍ، وَفَخِذُهُ مِثْلُ الْبَيْضَاءِ، وَمَقْعَدُهُ مِنَ النَّارِ مَسِيرَةُ ثَلاثٍ مِثْلُ الرَّبَذَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَمِثْلُ الرَّبَذَةِ: كَمَا بَيْنَ الْمَدِينَةِ، وَالرَّبَذَةِ، وَالْبَيْضَاءُ: جَبَلٌ مِثْلُ أُحُدٍ. ([2])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دقيامت په ورځ به دکافر غاښ داحد دغر برابر وي او يو ورون به يي دبيضاء غر پشان وي او په جهنم کي به دده دناستي ځاي ددري ميله مسافي سره برابر وي لکه څومره چي د ربذي لري والي دي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي د "مثل الربذة" مطلب دادي څومره چي ربذه غر دمديني نه لري دي، ربذه او بيضاء داحد پشان دوه غرونه دي.

****

٢٥٧٩_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا مُصْعَبُ بْنُ الْمِقْدَامِ، عَنْ فُضَيْلِ بْنِ غَزْوَانَ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَفَعَهُ، قَالَ: "ضِرْسُ الْكَافِرِ مِثْلُ أُحُدٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَأَبُو

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٢٢١١)

[2] ـ صحيح مسلم/الجنة ١٣ (٢٨٥١) (تحفة الأشراف : ١٣٥٠٥، و١٣٥٩٦)

حَازِمٍ هُوَ الْأَشْجَعِيُّ اسْمُهُ: سَلْمَانُ مَوْلَى عَزَّةَ الْأَشْجَعِيَّةِ. (1)

ترجمه : ابوحازم دابوهريره رضي الله عنه نه دا روايت مرفوع نقل كړي دي چې فرمائيل يي دكافر يو غاښ به داحد دغر پشان وي.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن دي او دابو حازم اشجعي نوم سلمان دي.

****

٢٥٨٠ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ، عَنِ الْفَضْلِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ أَبِي الْمُخَارِقِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " " إِنَّ الْكَافِرَ لَيُسْحَبُ لِسَانُهُ الْفَرْسَخَ وَالْفَرْسَخَيْنِ يَتَوَطَّؤُهُ النَّاسُ " ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. وَالْفَضْلُ بْنُ يَزِيدَ هُوَ كُوفِيٌّ. قَدْ رَوَى عَنْهُ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الْأَئِمَّةِ وَأَبُو الْمُخَارِقِ لَيْسَ بِمَعْرُوفٍ. (2)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كافر به خپله ژبه يو يا دوه فرسخو پورې په خان پسې راكاږي او خلق به ورباندي كرځي.

امام ترمذي وايي: دا حديث غريب دي دا مونږ ته صرف په همدې سند معلوم دي، او فضل بن يزيد دكوفي اوسيدونكي دي او دده نه دعلم حديث ډيرو علماؤ نقل دروايت كړي دي، او ابو المخارق غير مشهور راوي دي.

****

٤ـ بَاب مَا جَاءَ فِي صِفَةِ شَرَابِ أَهْلِ النَّارِ

دجهنميانو دمشروباتو بيان

٢٥٨١ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا رِشْدِينُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ دَرَّاجٍ، عَنْ أَبِي الْهَيْثَمِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْلِهِ: كَالْمُهْلِ (الكهف :٢٩)، قَالَ: " كَعَكَرِ الزَّيْتِ فَإِذَا قَرَّبَهُ إِلَى وَجْهِهِ سَقَطَتْ فَرْوَةُ وَجْهِهِ فِيهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ رِشْدِينَ بْنِ سَعْدٍ، وَرِشْدِينُ قَدْ تُكُلِّمَ فِيهِ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ. (3)

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دارشاد

---

1 ـ صحيح مسلم/الجنة ١٣(٢٨٥١) (تحفة الأشراف : ١٣٥٠٥، و١٣٥٩٦)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٨٥٩٣)

3 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٤٠٥٨)

الهي "كالمهل" باره كي اوفرمائيل چې ددوئ دڅكلو څيزونه به دتيلو دخيرې پشان وي چې كله يي كافر خولي ته رانژدي كړي (نو دګرم والي په وجه به) ددوئ دمخ څرمن په دي كي راپريوځي.
امام ترمذي وايي: داحديث مونږ صرف درشدين بن سعد په روايت پيژنو او په رشدين محدثينو كلام كړي دي.

****

٢٥٨٢ـ حَدَّثَنَا سُوَيْدٌ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا سَعِيدُ بْنُ يَزِيدَ، عَنْ أَبِي السَّمْحِ، عَنِ ابْنِ حُجَيْرَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ الْحَمِيمَ لَيُصَبُّ عَلَى رُءُوسِهِمْ، فَيَنْفُذُ الْحَمِيمُ حَتَّى يَخْلُصَ إِلَى جَوْفِهِ، فَيَسْلِتُ مَا فِي جَوْفِهِ حَتَّى يَمْرُقَ مِنْ قَدَمَيْهِ، وَهُوَ الصَّهْرُ، ثُمَّ يُعَادُ كَمَا كَانَ". وَسَعِيدُ بْنُ يَزِيدَ يُكْنَى: أَبَا شُجَاعٍ وَهُوَ مِصْرِيٌّ، وَقَدْ رَوَى عَنْهُ اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَابْنُ حُجَيْرَةَ هُوَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ حُجَيْرَةَ الْمِصْرِيُّ. ([1])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دجهنميانو په سرونوبه "ماء حميم" (ګرمي اوبه) واچولي شي او دا به ددوئ په سرونو كي سرايت اوكړي تردي پوري چې خيټي ته به اورسيږي او ددوئ په خيټه كي چې څه دي دا به ختم كړي تردي پوري چې ددوئ دخپو (كناټو) نه به لاتدي اوځي او همدا هغه "صهر" دكوم ذكر چې په قران كريم كي راغلي دي او بيا به خپل حالت ته داسي واپس شي څنګه چې مخكي وو.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي.

****

٢٥٨٣ـ حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا صَفْوَانُ بْنُ عَمْرٍو، عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ بُسْرٍ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْلِهِ: وَيُسْقَى مِنْ مَاءٍ صَدِيدٍ . يَتَجَرَّعُهُ (إبراهيم :١٥-١٦)، قَالَ: "يُقَرَّبُ إِلَى فِيهِ فَيَكْرَهُهُ، فَإِذَا أُدْنِيَ مِنْهُ شَوَى وَجْهَهُ وَوَقَعَتْ فَرْوَةُ رَأْسِهِ، فَإِذَا شَرِبَهُ قَطَّعَ أَمْعَاءَهُ حَتَّى يَخْرُجَ مِنْ دُبُرِهِ". يَقُولُ اللهُ: وَسُقُوا مَاءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَاءَهُمْ (محمد:١٥) وَيَقُولُ: وَإِنْ يَسْتَغِيثُوا يُغَاثُوا بِمَاءٍ كَالْمُهْلِ يَشْوِي الْوُجُوهَ بِئْسَ الشَّرَابُ (الكهف:٢٩)

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٥٩١)

". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَهَكَذَا قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ بُسْرٍ، وَلَا نَعْرِفُ عُبَيْدَ اللَّهِ بْنَ بُسْرٍ إِلَّا فِي هَذَا الْحَدِيثِ، وَقَدْ رَوَى صَفْوَانُ بْنُ عَمْرٍو، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُسْرٍ صَاحِبِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيْرَ هَذَا الْحَدِيثِ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ بُسْرٍ لَهُ أَخٌ قَدْ سَمِعَ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأُخْتُهُ قَدْ سَمِعَتْ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَعُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ بُسْرٍ الَّذِي رَوَى عَنْهُ صَفْوَانُ بْنُ عَمْرٍو حَدِيثَ أَبِي أُمَامَةَ، لَعَلَّهُ أَنْ يَكُونَ أَخَا عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُسْرٍ.[1]

ترجمه : دابوامامه رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دارشاد الهي "وَيُسْقَى مِنْ مَاءٍ صَدِيدٍ ، يَتَجَرَّعُهُ" (يعني صديد اوبه به په دوئ باندي ځکولي شي چې ګوټ ګوټ به په سخته تيروي) باره کي اوفرمائيل چې صديد کله دوئ خولي ته رانژدي کړي نو بد به يي اوګنړي کله چې ورته دا نور رانژدي کړي شي نو مخ به يي پوخ شي او دسر څرمن به يي پريوځي او چې کله يي څکي نو کولمي به يي اودوړيږي تردي پوري چې ددوئ دکوناتو نه به لاتدي اوځي الله تعالي فرمائيلي دي "وسقوا ماء حميما فقطع امعاءهم" يعني په دوئ باندي به ګرمي اوبه څکولي شي او دا به ددوئ کولمي پري کوي، او الله تعالي فرمائيلي دي " وَإِنْ يَسْتَغِيثُوا يُغَاثُوا بِمَاءٍ كَالْمُهْلِ يَشْوِي الْوُجُوهَ بِئْسَ الشَّرَابُ " او که دوئ فرياد اوکړي نو ددوئ فرياد رسي به په داسي اوبو باندي اوکړي شي کومي چې به دتيلو دخيري پشان وي دمخ غوښه به پخوي او دا انتهائي بدترين مشروط دي.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي دارنګي امام بخاري هم په سند کي عن عبيدالله بن بسر ذکر کړي دي او مونږ ته عبيدالله بن بسر صرف په همدي حديث کي معلوم دي، صفوان بن عمر دعبدالله بن بسر نه څوک چې دنبي کريم صلي الله عليه وسلم صحابي دي يو بل حديث نقل کړي دي او دعبدالله بن بسر يو ورور دي چاچې دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه احاديث اوريدلي دي او دهغه يوه خور هم شته چې درسول الله صلي الله عليه وسلم نه يي حديث اوريدلي دي او دکوم عبدالله بن بسر نه چې صفوان بن عمر داحديث نقل کړي دي هغه صحابي نه دي بل څوک دي.

****

٢٥٨٤_حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا رِشْدِينُ بْنُ سَعْدٍ، حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ الْحَارِثِ، عَنْ دَرَّاجٍ، عَنْ أَبِي الْهَيْثَمِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

---

[1] _ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى)

وَسَلَّمَ قَالَ: "كَالْمُهْلِ (الكهف :٢٩) كَعَكَرِ الزَّيْتِ فَإِذَا قُرِّبَ إِلَيْهِ سَقَطَتْ فَرْوَةُ وَجْهِهِ فِيهِ".([1])

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كالمهل يعني دتيلو دخيري پشان به وي چې كله يي جهنمي خولي ته رانزدي كړي نو دجهنمي دمخ څرمن به په دي كي پريوځي.

****

وَبِهَذَا الإِسْنَادِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لِسُرَادِقِ النَّارِ أَرْبَعَةُ جُدُرٍ كِثَفُ كُلِّ جِدَارٍ مِثْلُ مَسِيرَةِ أَرْبَعِينَ سَنَةً".([2])

ترجمه : په مذكوره سند دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دا هم مروي دي دجهنم دانګړ څلور ديوالونه دي او دهر ديوال مسافه دڅلويښتو كلونو دمزل په مقدار ده.

****

وَبِهَذَا الإِسْنَادِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَوْ أَنَّ دَلْوًا مِنْ غَسَّاقٍ يُهَرَاقُ فِي الدُّنْيَا لأَنْتَنَ أَهْلَ الدُّنْيَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ رِشْدِينَ بْنِ سَعْدٍ، وَفِي رِشْدِينَ مَقَالٌ، وَقَدْ تُكُلِّمَ فِيهِ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ، وَمَعْنَى قَوْلِهِ كِثَفُ كُلِّ جِدَارٍ يَعْنِي: غِلَظَهُ.([3])

ترجمه : په مذكوره سند دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دا مضمون هم مروي دي كه چري يوه بهوكه دغساق نه دي دنيا ته راوغورخولي شي نو ټوله دنيا او اهل ددنيا به بدبويه كړي.

امام ترمذي وايي: دا حديث مونږ صرف درشدين بن سعد په سند پيژنو او په رشدين محدثينو كلام كړي دي او دحافظي په اعتبار قوي نه دي او د "كثف كل جدار" نه مراد غلاظت دي.

****

٢٥٨٥ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلاَنَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ هَذِهِ الآيَةَ: اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلاَ تَمُوتُنَّ إِلاَّ وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ (آل عمران :١٠٢) قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْ أَنَّ قَطْرَةً مِنَ الزَّقُّومِ قُطِرَتْ فِي دَارِ الدُّنْيَا لأَفْسَدَتْ عَلَى أَهْلِ الدُّنْيَا مَعَايِشَهُمْ، فَكَيْفَ بِمَنْ يَكُونُ طَعَامَهُ". قَالَ

---

1 ـ انظر حديث رقم ٢٥٨١

2 ـ انظر حديث رقم ٢٥٨١

3 ـ انظر حديث رقم ٢٥٨١

أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دا ايت كريمه اولوستلو " اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلا تَمُوتُنَّ إِلا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ " يعني تاسو دالله تعالي نه داسي ويره كوئ څنګه چې دويري حق دي او مرګ دي تاسو ته په داسي حال كي راشي چې تاسو په اسلام قائم يئ، او بيا يي اوفرمائيل كه چري دزقوم يوه تكره دنيا ته راوغورځولي شي نو دټولي دنيا والا زندګي به خرابه كړي پس دهغه كس به څه حال وي دچا خوراك چې صرف زقوم وي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٥ـ باب مَا جَاءَ فِي صِفَةِ طَعَامِ أَهْلِ النَّارِ

دجهنميا نو دخوراك بيان

٢٥٨٦ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا عَاصِمُ بْنُ يُوسُفَ، حَدَّثَنَا قُطْبَةُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ شِمْرِ بْنِ عَطِيَّةَ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يُلْقَى عَلَى أَهْلِ النَّارِ الْجُوعُ فَيَعْدِلُ مَا هُمْ فِيهِ مِنَ الْعَذَابِ فَيَسْتَغِيثُونَ فَيُغَاثُونَ بِطَعَامٍ مِنْ ضَرِيعٍ لَا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِي مِنْ جُوعٍ، فَيَسْتَغِيثُونَ بِالطَّعَامِ فَيُغَاثُونَ بِطَعَامٍ ذِي غُصَّةٍ فَيَذْكُرُونَ أَنَّهُمْ كَانُوا يُجِيزُونَ الْغُصَصَ فِي الدُّنْيَا بِالشَّرَابِ، فَيَسْتَغِيثُونَ بِالشَّرَابِ فَيُرْفَعُ إِلَيْهِمُ الْحَمِيمُ بِكَلَالِيبِ الْحَدِيدِ، فَإِذَا دَنَتْ مِنْ وُجُوهِهِمْ شَوَتْ وُجُوهَهُمْ، فَإِذَا دَخَلَتْ بُطُونَهُمْ قَطَّعَتْ مَا فِي بُطُونِهِمْ، فَيَقُولُونَ: ادْعُوا خَزَنَةَ جَهَنَّمَ. فَيَقُولُونَ: أَلَمْ تَكُ تَأْتِيكُمْ رُسُلُكُمْ بِالْبَيِّنَاتِ، قَالُوا: بَلَى، قَالُوا: فَادْعُوا وَمَا دُعَاءُ الْكَافِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَالٍ، قَالَ: فَيَقُولُونَ: ادْعُوا مَالِكًا فَيَقُولُونَ: يَا مَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ (الزخرف :٧٧،) قَالَ: فَيُجِيبُهُمْ إِنَّكُمْ مَاكِثُونَ (الزخرف :٧٧ "،) قَالَ الأَعْمَشُ: نُبِّئْتُ أَنَّ بَيْنَ دُعَائِهِمْ وَبَيْنَ إِجَابَةِ مَالِكٍ إِيَّاهُمْ أَلْفَ عَامٍ، قَالَ: " فَيَقُولُونَ: ادْعُوا رَبَّكُمْ فَلَا أَحَدَ خَيْرٌ مِنْ رَبِّكُمْ، فَيَقُولُونَ: رَبَّنَا غَلَبَتْ عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا وَكُنَّا قَوْمًا ضَالِّينَ ١٠٦ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْهَا فَإِنْ عُدْنَا فَإِنَّا ظَالِمُونَ ١٠٧ (المؤمنون :١٠٦-١٠٧) قَالَ:

---

[1] ـ سنن ابن ماجه/الزهد ٣٢ (٣٣٢٥) (تحفة الأشراف : ٦٣٩٨)

فَيُجِيبُهُمْ اخْسَئُوا فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ (المؤمنون :١٠٨) قَالَ: فَعِنْدَ ذَلِكَ يَئِسُوا مِنْ كُلِّ خَيْرٍ وَعِنْدَ ذَلِكَ يَأْخُذُونَ فِي الزَّفِيرِ وَالْحَسْرَةِ وَالْوَيْلِ ". قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ وَالنَّاسُ لَا يَرْفَعُونَ هَذَا الْحَدِيثَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: إِنَّمَا نَعْرِفُ هَذَا الْحَدِيثَ عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ شِمْرِ بْنِ عَطِيَّةَ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، قَوْلَهُ: وَلَيْسَ بِمَرْفُوعٍ، وَقُطْبَةُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ هُوَ ثِقَةٌ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ. [1]

ترجمه : دابو الدرداء رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په جهنميانو به داسي ولږه مسلط کړي شي او دا عذاب به په دوئ باندي دوامي شي نو دوئ به فرياد اوکړي او ددوئ فرياد رسي به په ضريع باندي اوکړي شي (او دا يو ازغي دار بوټي دي) چې نه به څربول کوي او نه به مړول کوي بيا به دوئ دوباره دخوراك فرياد اوکړي نو ددوئ فرياد رسي به په مرئ کي په انختونکي څيز باندي اوکړي شي نو دوئ به بيا فرياد اوکړي چې په دنيا کي انختلي نوړئ به مونږ داوبو په ذريعه تيروله نو داوبو فرياد به اوکړي دي وخت کي به ددوئ فرياد رسي په حميم (دجهنميانو غلاظت) باندي اوکړي شي چې داوسپني په لوښو کي به ورکولي شي کله چې دا مواد ددوئ مخونو ته رانژدي کړي شي نو ددوئ مخونه به پاخه شي او چې کله يي خيټي ته ورسيږي ددوئ په خيټو کي چې څه دي دا به ټول کټ کړي دوئ به اواز اوکړي چې دجهنم څوکيدار راوغواړئ هغه چې راشي دوئ ته به اووائي ايا تاسو ته رسولان په واضحه دلائلو نه وو درغلي؟ دوئ به اووائي ولي نه څوکيدار به ورته اووائي ډيري چغي اووهئ دکافرانو په چغو به عمل نه کيږي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل جهنميان به اووائي مالك راوغواړئ نو دوئ به اووائي اي مالك دخپل رب نه اوغواړه چې زمونږ فيصله اوکړي (چې مونږ ته مرګ راکړي) رسول الله اوفرمائيل مالك به دوئ ته جواب ورکړي تاسو هميشه په دوزخ کي اوسيدونکي يئ، اعمش وائي چې ددوئ دبلني او دمالك په جواب کي به دزر کالو وقفه وي رسول الله اوفرمائيل جهنميان به اووائي خپل رب راوبلئ ځکه چې ستاسو درب نه بهتر بل هيڅوك نشته نو دوئ به اووائي اي زمونږه ربه په مونږ باندي زمونږ بدبختي غالبه شوي وه او مونږ بي لاري شوي وو اي زمونږه ربه مونږ ددي عذاب نه اوباسي او كه مونږ دوباره بيا داسي اوكړل نو مونږ به ظالمان يو رسول الله اوفرمائيل الله تعالي به دوئ ته جواب ورکړي کوري شئ تاسو به په دي کي هميشه پراته يئ او ماته چغي مه وهئ رسول الله اوفرمائيل دغه وخت کي به دوئ دخير نه محروم شي او دي وخت کي به دخرو

---

[1] ـــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٠٩٨٤)

پشان هنړار کوي او په حسرت هلاکت کي به مبتلا وي.
امام ترمذي وايي: دعبدالله بن عبدالرحمن دارمي قول دي محدثينو دا روايت مرفوع نه ذكر كوي او دا حديث مونږ ته صرف عن الاعمش عن شمر بن عطيه عن شهر بن حوشب عن ام الدرداء عن ابي الدرداء سند سره پيژنو او دا دابو الدرداء خپل قول دي او مرفوع حديث نه دي.

****

٢٥٨٧_حَدَّثَنَا سُوَيْدٌ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ يَزِيدَ أَبِي شُجَاعٍ، عَنْ أَبِي السَّمْحِ، عَنْ أَبِي الْهَيْثَمِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: وَهُمْ فِيهَا كَالِحُونَ (المؤمنون:١٠٤)، قَالَ: "تَشْوِيهِ النَّارُ فَتَقَلَّصُ شَفَتُهُ الْعُلْيَا حَتَّى تَبْلُغَ وَسَطَ رَأْسِهِ وَتَسْتَرْخِي شَفَتُهُ السُّفْلَى حَتَّى تَضْرِبَ سُرَّتَهُ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَأَبُو الْهَيْثَمِ اسْمُهُ: سُلَيْمَانُ بْنُ عَمْرِو بْنِ عَبْدٍ الْعُتْوَارِيُّ، وَكَانَ يَتِيمًا فِي حِجْرِ أَبِي سَعِيدٍ.[1]

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دا ايت كريمه "وهم فيها كالحون" (يعني دوزخيان به په جهنم كي بدشكله وي) باره كي اوفرمائيل ددوئ مخونه به اور سوزوي او ددوئ ژبي به اوچوي او دسر مينځ ته به ورسيږي او ددوئ لاندېني شونډه به نوم ته ورسيږي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي.

****

٦_بَاب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٥٨٨_حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ، أَخْبَرَنَا سَعِيدُ بْنُ يَزِيدَ، عَنْ أَبِي السَّمْحِ، عَنْ عِيسَى بْنِ هِلَالٍ الصَّدَفِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْ أَنَّ رَصَاصَةً مِثْلَ هَذِهِ وَأَشَارَ إِلَى مِثْلِ الْجُمْجُمَةِ أُرْسِلَتْ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ هِيَ مَسِيرَةُ خَمْسِ مِائَةِ سَنَةٍ لَبَلَغَتِ الْأَرْضَ قَبْلَ اللَّيْلِ، وَلَوْ أَنَّهَا أُرْسِلَتْ مِنْ رَأْسِ السِّلْسِلَةِ لَسَارَتْ أَرْبَعِينَ خَرِيفًا اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ قَبْلَ أَنْ تَبْلُغَ أَصْلَهَا أَوْ قَعْرَهَا"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ إِسْنَادُهُ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَسَعِيدُ بْنُ يَزِيدَ هُوَ مِصْرِيٌّ، وَقَدْ رَوَى عَنْهُ اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ وَغَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الْأَئِمَّةِ.

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٠٦١)، ويأتي في تفسير المؤمنون (٣١٧٦)

([1])

ترجمه : دعبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي که ددي برابر يوه تکړه (او رسول الله خپل سر ته اشاره اوکړه) داسمان نه زمکي ته چې دپنځه سوه کالو مسافه ده راپريخودلي شي نو زمکي ته به دشپې راتلونه مخکې راورسيږي او دغه تکړه دزنځير(چې ذکر يې په قران کې راغلي دي) دسر نه راپريخودلي شي نو ددي زنځير لاندي درسيدو نه مخکې به څلويښت کاله شپې او ورځې تيري شي.

امام ترمذي وايي: ددي حديث سند حسن صحيح دي، سعيد بن يزيد دمصر اوسيدونکي دي او دده نه ليث بن سعد او نورو ډيرو راويانو نقل دروايت کړي دي.

****

٧ـ بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ نَارَكُمْ هَذِهِ جُزْءٌ مِنْ سَبْعِينَ جُزْءًا مِنْ نَارِ جَهَنَّمَ

دد نيا اور دجهنم داور په اويا حصو کي يوه حصه ده

٢٥٨٩ـ حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "نَارُكُمْ هَذِهِ الَّتِي يُوقِدُ بَنُو آدَمَ جُزْءٌ وَاحِدٌ مِنْ سَبْعِينَ جُزْءًا مِنْ حَرِّ جَهَنَّمَ". قَالُوا: وَاللهِ إِنْ كَانَتْ لَكَافِيَةً يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: "فَإِنَّهَا فُضِّلَتْ بِتِسْعَةٍ وَسِتِّينَ جُزْءًا كُلُّهُنَّ مِثْلُ حَرِّهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَهَمَّامُ بْنُ مُنَبِّهٍ هُوَ أَخُو وَهْبِ بْنِ مُنَبِّهٍ وَقَدْ رَوَى عَنْهُ وَهْبٌ. ([2])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ستاسو ددنيا اور چې تاسو يې بلوئ دجهنم داور په اويا حصو کې يوه تکړه ده خلقو عرض اوکړو اې دالله رسوله که همدا اور اخرت دپاره هم باقي پريخودلي شوي وي نو دا به کافي وو رسول الله اوفرمائيل هغه ددينه يو کم اويا حصې زيات دي او دهري يوي حصې ګرمولې يې ددي پشان دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٥٩٠ـ حَدَّثَنَا الْعَبَّاسُ بْنُ مُحَمَّدٍ الدُّورِيُّ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا شَيْبَانُ، عَنْ فِرَاسٍ،

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٩١٠)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٤٦٩٠)

عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " نَارُكُمْ هَذِهِ جُزْءٌ مِنْ سَبْعِينَ جُزْءًا مِنْ نَارِ جَهَنَّمَ لِكُلِّ جُزْءٍ مِنْهَا حَرُّهَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ أَبِي سَعِيدٍ. (1)

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ستاسو دا اور دجهنم داور په اويا حصو كي يوه حصه ده او دهغي دهري حصي گرموالي ددي پشان دي.

امام ترمذي وايي: داحديث دابوسعيد خدري په روايت حسن غريب دي.

****

۸_ باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

۲۵۹۱_ حَدَّثَنَا عَبَّاسٌ الدُّورِيُّ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي بُكَيْرٍ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ عَاصِمٍ هُوَ ابْنُ بَهْدَلَةَ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " أُوقِدَ عَلَى النَّارِ أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى احْمَرَّتْ، ثُمَّ أُوقِدَ عَلَيْهَا أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى ابْيَضَّتْ، ثُمَّ أُوقِدَ عَلَيْهَا أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى اسْوَدَّتْ فَهِيَ سَوْدَاءُ مُظْلِمَةٌ ". (2)

ترجمه : دابو هريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دجهنم اور زر كاله بل كړي شوي دي تردي پوري چې تك سور شو بيا زر كاله نور بل كړي شو تردي پوري چې سپين شو بيا زر كاله نور بل كړي شو تر دي پوري چې تك تور شو او اوس هغه تك تور دي.

****

حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ شَرِيكٍ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، أَوْ رَجُلٍ آخَرَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، نَحْوَهُ وَلَمْ يَرْفَعْهُ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ فِي هَذَا مَوْقُوفٌ أَصَحُّ، وَلَا أَعْلَمُ أَحَدًا رَفَعَهُ غَيْرَ يَحْيَى بْنِ أَبِي بُكَيْرٍ، عَنْ شَرِيكٍ. (3)

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف)

2 _ سنن ابن ماجه/الزهد ۳۸ (۴۳۲۰) (تحفة الأشراف : ۱۲۸۰۷)

3 _ : سنن ابن ماجه/الزهد ۳۸ (۴۳۲۰) (تحفة الأشراف : ۱۲۸۰۷)

ترجمه : په مذكوره سند دابوهريره رضي الله عنه نه دماقبل پشان روايت مروي دي او مرفوع يي نه دي بيان كړي.
امام ترمذي وايي: په ذي باب كي دابوهريره موقوف حديث زيات صحيح دي او ديحي بن ابي بكير نه علاوه چې دشريك نه يي نقل كړي ماته بل څوك نه دي معلوم چې دا حديث يي مرفوع ذكر كړي وي.

****

٩_بَاب مَا جَاءَ أَنَّ لِلنَّارِ نَفَسَيْنِ وَمَا ذُكِرَ مَنْ يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مِنْ أَهْلِ التَّوْحِيدِ

دجهنم د دوه ساكا نو اخستلو او د دينه دموحدينو دبهر ويستلو بيان

٢٥٩٢_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُمَرَ بْنِ الْوَلِيدِ الْكِنْدِيُّ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا الْمُفَضَّلُ بْنُ صَالِحٍ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اشْتَكَتِ النَّارُ إِلَى رَبِّهَا، وَقَالَتْ: أَكَلَ بَعْضِي بَعْضًا. فَجَعَلَ لَهَا نَفَسَيْنِ: نَفَسًا فِي الشِّتَاءِ، وَنَفَسًا فِي الصَّيْفِ. فَأَمَّا نَفَسُهَا فِي الشِّتَاءِ فَزَمْهَرِيرٌ، وَأَمَّا نَفَسُهَا فِي الصَّيْفِ فَسَمُومٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ. قَدْ رُوِيَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، وَالْمُفَضَّلُ بْنُ صَالِحٍ لَيْسَ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ بِذَلِكَ الْحَافِظِ.[1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي جهنم خپل رب ته شكايت اوكړو چې زما بعضي حصه بلي بعضي حصي لره خوري نو په دي وجه الله تعالي ددي دپاره دوه ساګاني مقرر كړي يوه سا په ګرمۍ كي او يوه ساه په يخنۍ كي په يخنۍ كي دجهنم ساه اخستلو سره سخته يخني راځي او په ګرمۍ كي دجهنم په ساه اخستلو سره په مزه كيږي.
امام ترمذي وايي: داحديث صحيح دي او دابوهريره په واسطه دا حديث دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه په بل سند هم مروي دي او مفضل بن صالح دمحدثينو په نزد قوي حافظي والا نه دي.

****

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /المواقيت ٩ (٥٣٧) . وبدء الخلق ١٠ (٣٢٦٠) . صحيح مسلم /المساجد ٣٢ (٦١٧) . سنن ابن ماجه/الزهد ٣٨ (٤٣١٩) (تحفة الأشراف : ١٢٤٦٣) . والمؤطاء: وقوت ٨ (٢٨) . و مسند احمد (٢/٢٣٨، ٢٧٧، ٢٦٢، ٥٠٣) . وسنن الدارمي/الرقاق ١١٩ (٢٨٨٧)

٢٥٩٣_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، وَهِشَامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ، وَقَالَ شُعْبَةُ: أَخْرِجُوا مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَكَانَ فِي قَلْبِهِ مِنَ الْخَيْرِ مَا يَزِنُ شَعِيرَةً، أَخْرِجُوا مِنَ النَّارِ مِنَ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَكَانَ فِي قَلْبِهِ مِنَ الْخَيْرِ مَا يَزِنُ بُرَّةً، أَخْرِجُوا مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَكَانَ فِي قَلْبِهِ مِنَ الْخَيْرِ مَا يَزِنُ ذَرَّةً"، وَقَالَ شُعْبَةُ: مَا يَزِنُ ذُرَةً مُخَفَّفَةً، وفي الباب عن جَابِرٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَعِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هر هغه څوك به دجهنم نه اوځي (او شعبه پخپل روايت كي وائي الله تعالي به اوفرمائي هر هغه څوك دجهنم نه اوباسئ چاچې لا اله الا الله وئيلي دي او دده په زړه كي دوربشي ددانې برابر خير موجود وي هغه هم دجهنم نه اوباسئ او هغه څوك هم دجهنم نه اوباسئ چې لااله الا الله يې وئيلي وي او په زړه كي يې دغنم د دانې برابر نيكي وي، او هغه څوك هم دجهنم نه اوباسئ چې لا اله الاالله يې وئيلي وي او په زړه كي يې داوري ددانې برابر خير وي دشعبه په روايت كي دجوار ددانې برابر خير هم مذكور دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دجابر، ابوسعيد خدري، او عمران بن حصين رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٢٥٩٤_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، عَنْ مُبَارَكِ بْنِ فَضَالَةَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "يَقُولُ اللَّهُ: أَخْرِجُوا مِنَ النَّارِ مَنْ ذَكَرَنِي يَوْمًا أَوْ خَافَنِي فِي مَقَامٍ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. ([2])

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي به اوفرمائي هغه څوك دجهنم نه اوباسئ چاچې يوه ورځ هم زه ياد كړي يم او يا په يو وخت كي زما نه ويريدلي وي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي.

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الإيمان ٣٣ (٤٤)، والتوحيد ١٩ (٧٤١٠) (في سياق حديث الشفاعة الكبرى) و٣٦ (٧٥٠٩)، ومسلم /الإيمان ٨٣ (٣٢٥/١٩٣) (تحفة الأشراف: ١٢٧٢، و١٣٥٦)، ومسند احمد (١١٦/٣، ١٧٣، ٢٤٨، ٢٧٦)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٨٦)

****

۱۰_ باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق یو بل باب

۲۵۹۵_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَبِيدَةَ السَّلْمَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنِّي لَأَعْرِفُ آخِرَ أَهْلِ النَّارِ خُرُوجًا، رَجُلٌ يَخْرُجُ مِنْهَا زَحْفًا فَيَقُولُ: يَا رَبِّ قَدْ أَخَذَ النَّاسُ الْمَنَازِلَ، قَالَ: فَيُقَالُ لَهُ: انْطَلِقْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ، قَالَ: فَيَذْهَبُ لِيَدْخُلَ فَيَجِدُ النَّاسَ قَدْ أَخَذُوا الْمَنَازِلَ، فَيَرْجِعُ فَيَقُولُ: يَا رَبِّ قَدْ أَخَذَ النَّاسُ الْمَنَازِلَ، قَالَ: فَيُقَالُ لَهُ: أَتَذْكُرُ الزَّمَانَ الَّذِي كُنْتَ فِيهِ؟ فَيَقُولُ: نَعَمْ، فَيُقَالُ لَهُ: تَمَنَّ، قَالَ: فَيَتَمَنَّى، فَيُقَالُ لَهُ: فَإِنَّ لَكَ مَا تَمَنَّيْتَ وَعَشَرَةَ أَضْعَافِ الدُّنْيَا، قَالَ: فَيَقُولُ: أَتَسْخَرُ بِي وَأَنْتَ الْمَلِكُ؟ قَالَ: فَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ماته معلوم دى تپولو نه اخر کې دوزخ وتونکى يو سړى به ددوزخ نه په تختيدو تختيدو راووزي الله تعالي به ورته اوفرمائي ځه جنت ته ننوزه هغه به جنت ته ورشي نو جنت به ورته ډك ښكاره شي، بيابه واپس راشي او به وائي يا الله هغه خو ډك دى، الله تعالي به ورته بيا اوفرمائي: لاړ شه جنت ته ننوزه جنت کې ستا دپاره دټولي دنيا په لس چنده ځاى دى. ﴿اوته وايې چې ډك دى ځايى پكې نشته﴾ هغه به اووائي يا الله ته راپورى ټوقى كوى ياته راپورى خندا كوى او ته بادشاه يې دټولي دنيا مالك يې ﴿ماغوندې﴾ محتاج پورى خندا ستا دشان سره نه ښائي راوي وائي پدى خبره رسول الله صلي الله عليه وسلم داسي وخاندل چې دجامو غاښونه مبارك يې ښكاره شول.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دى.

لغات : الملك : مصدر دي بادشاه، جمع يي ملوك او املاك وملك الاملاك راځي، يعني دبادشاهانو بادشاه املك القوم فلانا عليهم بادشاه كيدل ، الملك ، الله، بادشاه ، صاحب اقتدار، جمع يي ملوك او املاك ده.

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع /الرقاق ٥١ (٦٥٧١) ، والتوحيد ٣٦ (٧٥١١) ، مسلم /الإيمان ٨٣ (١٨٦) ، ابن ماجه/الزهد ٣٩ (٤٣٣٩) (تحفة الأشراف : ٩٤٠٥) ، و مسند احمد (١/٣٦٠)

تشریح : په دي حديث کې دهغه جنتي ذکر دی کوم چې به دټولو نه وروسته جنت ته داخل شي ، دی به وائي ای زما پروردګاره ایا ته په ما پوري توقي کوي الله تعالي به ورته اووائي خپل جنت ته دي ورځه کوم چې ددنیا نه لس چنده لوي دی دی به اووائي چې ای پروردګاره ته مزاق کوي علماء وائي چې دډیري خوشحالئ په وجه به دی دا الفاظ اووائي لکه چې په یو روایت کې راغلي دي کله چې دیو سړي سورلئ دسامان سره ورکه شي او دده دموندلو څه امید نه وي او ناڅاپه ورته ملاؤ شي نو یکدم دده په ژبه دا الفاظ جاري وي "انت عبدي وانا ربك " یعني ای الله ته زما بنده او زه ستا رب یم ، یعني دا الته الفاظ بي اختیاره دده دخولي نه خارج شي نو دا رنګي دلته هم بي اختیاره دخوشحالئ په وجه دده دخولي نه اوځي چې ای الله ایا ته مزاق کوي.

"دي خبري په نقل کولو رسول الله دومره وخاندل چې نواجذ غاښونه یي ښکاره شول" څکه چې درسول الله عام عادت مسکا کول وو لیکن دلته په ادني جنتي باندي دالله دفضل او کرم په وجه رسول الله بي اختیاره وخاندل.

علماء وائي دا ادني ترین جنتي دی چاته چې به دومره نعمتونه ملاویږي نو داعلي ترین جنتي دنعمتونو به څه حال وي ددي تصور څنګه کیدی شي؟

****

٢٥٩٦ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنِ المَعْرُورِ بْنِ سُوَيْدٍ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنِّي لَأَعْرِفُ آخِرَ أَهْلِ النَّارِ خُرُوجًا مِنَ النَّارِ، وَآخِرَ أَهْلِ الجَنَّةِ دُخُولًا الجَنَّةَ، يُؤْتَى بِرَجُلٍ فَيَقُولُ: سَلُوا عَنْ صِغَارِ ذُنُوبِهِ وَاخْبَئُوا كِبَارَهَا، فَيُقَالُ لَهُ: عَمِلْتَ كَذَا وَكَذَا يَوْمَ كَذَا وَكَذَا، عَمِلْتَ كَذَا وَكَذَا فِي يَوْمِ كَذَا وَكَذَا، قَالَ: فَيُقَالُ لَهُ: فَإِنَّ لَكَ مَكَانَ كُلِّ سَيِّئَةٍ حَسَنَةً، قَالَ: فَيَقُولُ: يَا رَبِّ لَقَدْ عَمِلْتُ أَشْيَاءَ مَا أَرَاهَا هَا هُنَا، قَالَ: فَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضْحَكُ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : د ابو ذر رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي ماته معلوم دی ټولو نه اخر کې دوزخ وتونکی یا ټولو نه اخر کې جنت ته تلونکی یو سړی به ددوزخ نه په تښتیدو تښتیدو راووزي او الله تعالي به (فرشتو ته) اووائي دده نه دوړو وړو ګناهونو باره کې تپوس اوکړئ او لوي ګناهونه یي پټ کړئ ده ته به اووئیلي شي تا په فلانئ ورځ داسي داسي ګناهونه کړي وو او تا په فلانئ ورځ داسي داسي ګناهونه کړي وو؟ رسول الله

---

[1] ـ صحیح مسلم /الإیمان ٨٣ (١٩٠) (تحفة الأشراف : ١١٩٨٣)

اوفرمائيل ده ته به اوونيلي شي ستا دهري گناه په بدل كي ستا دپاره يوه نيكي ده رسول الله اوفرمائيل دي به عرض اوكړي اي زما ربه ما بعضي داسي گناهونه هم كړي وو كوم چې مي دلته اونه ليدل، ابوذر رضي الله عنه وائي ما رسول الله صلي الله عليه وسلم دي وخت كي دخندا په حالت اوليدو تردي چې غاښونه مبارك يي ښكاره شو.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٥٩٧_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي سُفْيَانَ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يُعَذَّبُ نَاسٌ مِنْ أَهْلِ التَّوْحِيدِ فِي النَّارِ حَتَّى يَكُونُوا فِيهَا حُمَمًا ثُمَّ تُدْرِكُهُمُ الرَّحْمَةُ فَيُخْرَجُونَ وَيُطْرَحُونَ عَلَى أَبْوَابِ الجَنَّةِ، قَالَ: فَيَرُشُّ عَلَيْهِمْ أَهْلُ الجَنَّةِ المَاءَ، فَيَنْبُتُونَ كَمَا يَنْبُتُ الغُثَاءُ فِي حِمَالَةِ السَّيْلِ ثُمَّ يَدْخُلُونَ الجَنَّةَ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ جَابِرٍ. [1]

ترجمه : دجابر رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په موحدينو كي به څه كسانو ته په جهنم كي عذاب وركولي شي تردي پوري چې سكاره به ورنه جوړ شي بيا به ورباندي درحمت الهي سوري اوشي نو دوئ به راوويستلي شي او دجنت په دروازه به اوغورځولي شي رسول الله اوفرمائيل جنتيان به په دوئ باندي اوبه چنړكاؤ كړي نو دوئ به داسي راشنه شي لكه دسيلاب په اوبو كي چې دانه شنه كيږي اوددينه پس به جنت ته داخل شي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او دا حديث په نورو سندونو هم دجابر رضي الله عنه نه مروي دي.

****

٢٥٩٨_حَدَّثَنَا سَلَمَةُ بْنُ شَبِيبٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "يُخْرَجُ مِنَ النَّارِ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنَ الإِيمَانِ". قَالَ أَبُو سَعِيدٍ: فَمَنْ شَكَّ فَلْيَقْرَأْ: إِنَّ اللَّهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢٣٣٢)، وانظر مسند احمد (٣/٣٩١)

(النساء: ٤٠. قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دابوسعيد خدري بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دجهنم نه به هغه كس اوويستلي شي دچا په زړه كي چې دذري برابر ايمان وي ابوسعيد خدري اوفرمائيل دچا په زړه كي چې شك وي هغه دي دا ايت كريمه "ان الله لايظلم مثقال ذرة" اولولي يعني الله تعالي دذري برابر چاسره ظلم نه كوي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٥٩٩ـ حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ، أَخْبَرَنَا رِشْدِينُ بْنُ سَعْدٍ، حَدَّثَنِي ابْنُ أَنْعُمَ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ أَنَّهُ حَدَّثَهُ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ رَجُلَيْنِ مِمَّنْ دَخَلَ النَّارَ اشْتَدَّ صِيَاحُهُمَا، فَقَالَ الرَّبُّ عَزَّ وَجَلَّ: أَخْرِجُوهُمَا. فَلَمَّا أُخْرِجَا قَالَ لَهُمَا: لِأَيِّ شَيْءٍ اشْتَدَّ صِيَاحُكُمَا؟ قَالَا: فَعَلْنَا ذَلِكَ لِتَرْحَمَنَا. قَالَ: إِنَّ رَحْمَتِي لَكُمَا أَنْ تَنْطَلِقَا فَتُلْقِيَا أَنْفُسَكُمَا حَيْثُ كُنْتُمَا مِنَ النَّارِ. فَيَنْطَلِقَانِ فَيُلْقِي أَحَدُهُمَا نَفْسَهُ فَيَجْعَلُهَا عَلَيْهِ بَرْدًا وَسَلَامًا، وَيَقُومُ الْآخَرُ فَلَا يُلْقِي نَفْسَهُ. فَيَقُولُ لَهُ الرَّبُّ عَزَّ وَجَلَّ: مَا مَنَعَكَ أَنْ تُلْقِيَ نَفْسَكَ كَمَا أَلْقَى صَاحِبُكَ؟ فَيَقُولُ: يَا رَبِّ إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ لَا تُعِيدَنِي فِيهَا بَعْدَ مَا أَخْرَجْتَنِي. فَيَقُولُ لَهُ الرَّبُّ: لَكَ رَجَاؤُكَ. فَيَدْخُلَانِ جَمِيعًا الْجَنَّةَ بِرَحْمَةِ اللهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: إِسْنَادُ هَذَا الْحَدِيثِ ضَعِيفٌ. لِأَنَّهُ عَنْ رِشْدِينَ بْنِ سَعْدٍ، وَرِشْدِينُ بْنُ سَعْدٍ هُوَ ضَعِيفٌ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ، عَنِ ابْنِ أَنْعُمَ وَهُوَ الْأَفْرِيقِيُّ، وَالْأَفْرِيقِيُّ ضَعِيفٌ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ. [2]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي جهنم ته په داخليدونكو كي به دوه كسان په چغو شي الله تعالي به اوفرمائي دوئ دواړه راوباسه كله چې دوئ راوويستلي شي نو الله تعالي به ورنه تپوس اوكړي تاسو ولي په چغو شوئ؟ دوئ به عرض اوكړي دا كار مونږ په دي وجه اوكړو چې ته رابانندي رحم اوكړي الله تعالي به اوفرمائي ستاسو دواړو دپاره زما رحمت همدادي چې تاسو لاړشئ خپل ځانونه هغه جهنم ته اوغورځوئ په كوم كي چې تاسو مخكي وئ نو دوئ به روان شي نو په دوئ كي به يو كس خپل ځان جهنم

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /التوحيد ٢٤ (٧٤٣٩)، و صحيح مسلم /الإيمان ٨١ (١٨٣) (تحفة الأشراف: ٤١٨١)

وانظر مسند احمد (٣/٩٤)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٥٤٤٨)

ته اوغورځوي نو الله تعالي به جهنم دده دپاره يخ او سلامتئ والا اوګرځوي او دا دويم کس به ولاړ پاتي شي او خپل ځان به نه غورځوي دده نه به الله تعالي تپوس اوکړي جهنم ته دځان غورځولو نه کوم څيز منع کړي يي؟ څنګه چې ستا ملګري ځان اوغورځولو دي به عرض اوکړي اي زما پروردګاره زما اميد دي چې ته مالره دجهنم نه دوتو نه پس دوباره جهنم ته نه غورځوي الله تعالي به ورته اوفرمائي ستا دپاره به ستا تمنا پوره شي او بيا به دوئ دواړو ته رحمت الهيه سره جنت ته داخل شي.

امام ترمذي وايي: ددي حديث سند ضعيف دي ځکه چې درشدين بن سعد په واسطه مروي دي او رشدين دمحدثينو په نزد ضعيف دي او رشدين دعبدالرحمن بن انعم نه روايت کوي او دا نعم دافريقي اوسيدونکي دي او دا هم دمحدثينو په نزد ضعيف دي.

****

٢٦٠٠ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ ذَكْوَانَ، عَنْ أَبِي رَجَاءٍ الْعُطَارِدِيِّ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَيَخْرُجَنَّ قَوْمٌ مِنْ أُمَّتِي مِنَ النَّارِ بِشَفَاعَتِي يُسَمَّوْنَ الْجَهَنَّمِيُّونَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَأَبُو رَجَاءٍ الْعُطَارِدِيُّ اسْمُهُ: عِمْرَانُ بْنُ تَيْمٍ وَيُقَالُ: ابْنُ مِلْحَانَ. (1)

ترجمه : دعمران بن حصين رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما دامت يوه ډله به زما په شفاعت دجهنم نه راويستلي شي او ددي ډلي نوم به جهنميان وي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٦٠١ـ حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ يَحْيَى بْنِ عُبَيْدِ اللهِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا رَأَيْتُ مِثْلَ النَّارِ نَامَ هَارِبُهَا، وَلَا مِثْلَ الْجَنَّةِ نَامَ طَالِبُهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ يَحْيَى بْنِ عُبَيْدِ اللهِ، وَيَحْيَى بْنُ عُبَيْدِ اللهِ ضَعِيفٌ عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْحَدِيثِ تَكَلَّمَ فِيهِ شُعْبَةُ، وَيَحْيَى بْنُ عُبَيْدِ اللهِ هُوَ ابْنُ مَوْهَبٍ

---

1 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الرقاق ٥٠ (٦٥٥٩) . سنن ابي داود/ السنة ٢٣ (٤٧٤٠) . سنن ابن ماجه/الزهد ٣٧ (٤٣١٥) (تحفة الأشراف : ١٠٨٧١) . و مسند احمد (٤/٤٣٤)

وَهُوَ مَدَنِيٌّ.(1)

ترجمه : د ابو هريره نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: ما د جهنم پشان داسي کوم شي نه دي ليدلي چي تختيدونکي ورنه اوده وي، او ما د جنت پشان داسي کوم شي نه دي ليدلي چي طلب کونکي يي اوده وي.

امام ترمذي وايي: دا حديث مونږ ته صرف د يحي بن عبيد الله په سند معلوم دي، او يحي د محدثينو په نزد ضعيف دي، شعبه ورباندي کلام کړی دی. او د يحي د نيکه نوم موهب دي اود مديني اوسيدونکي دي.

****

١١ـ بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ أَكْثَرَ أَهْلِ النَّارِ النِّسَاءُ

اکثر جهنميان ښځي وي

٢٦٠٢ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ أَبِي رَجَاءٍ الْعُطَارِدِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اطَّلَعْتُ فِي الْجَنَّةِ فَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا الْفُقَرَاءَ، وَاطَّلَعْتُ فِي النَّارِ فَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا النِّسَاءَ".(2)

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ما چي جنت ته وکتل نو زيات ترمي پکي غريبانان اوليدل او چي دوزخ ته مي سر وربشکاره کړو نو زيات مي پکي زنانه اوليدلي.

لغات : اطلعت: اطلع الامر وعليه، معني معلومول او ناخاپه راتلل ، اطلع الفجر سحر ليدل اطلع العدو ددشمن دپټ حال نه واقف کيدل.

تشريح : "فرائيت اکثر اهلها الفقراء" يعني زه چي جنت ته ورغلم نو اکثر اهل جنت مي فقيران اوليدل ، معلومه خبره ده چي دمال زياتوالی انسان لره سرکشه کوي او په مختلف قسم گناهونو کي يي مبتلا کوي مطرف بن شخير به فرمائيل چي دبادشاهانو په عيش او عشرت او عمده لباس نظر مه کوئ بلکه دا سوچ اوکړئ چي ددوئ انجام به څه وي.

"فرائيت اکثر اهلها النساء" زه چي جهنم ته ورغلم نواکثر اهل جهنم مي ښځي اوليدلي په يو

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٤١٢٢)

2 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الرقاق ١٦ (تعليقا عقب حديث ٦٤٤٩) ، صحيح مسلم/الذكر والدعاء ٢٦ (٢٧٣٧) (تحفة الأشراف: ٦٣١٤) ، و مسند احمد (١/٢٩٤، ٣٥٩).

بل روايت کې ددي وجه راغلي ده چې "تکثرن اللعن وتکفرن العشير" يعني تاسو دلعنت لفظ زيات استعمالوئ او دخپل خاوند ناشکرياني کوئ په يو بل روايت کې راغلي دي رسول الله په صلاة الکسوف کې ددوزخ او جنت مشاهده اوکړه نو پدغه وخت کې هم رسول الله په دوزخ کې دښځو کثرت اوليدو کله چې صحابه کرامو ددي دوجې تپوس اوکړو نو رسول الله اوفرمائيل دوئ احسانات ډير هيروي او دخاوند ناشکري کوي تمام عمر وربانددي خاوند احسان اوکړي او بيا چرته معمولي شان خبره پيدا شي نو فورا وائي چې ما په تا کې هيڅ خير نه دی ليدلی.
که ښځي غواړي چې جنت ته لاړي شي نو ددي طريقه هم رسول الله په يو روايت کې بيان کړي ده چې صدقي دي ورکوي او دصدقو په وجه ددينه بچ کيدل ممکن دي کله چې رسول الله په يو موقعه کې داسي اوفرمائيل نو ښځو فورا دخپلو غوږونو زيورات او دخپلو غاړو هارونه رلووېستل او دبلال رضي الله عنه په څادر يي اوغورځول. (روضة الصالحين)

****

٢٦٠٣ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، وَمُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، وَعَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ، قَالُوا: حَدَّثَنَا عَوْفٌ هُوَ ابْنُ أَبِي جَمِيلَةَ، عَنْ أَبِي رَجَاءٍ الْعُطَارِدِيِّ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اطَّلَعْتُ فِي النَّارِ فَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا النِّسَاءَ، وَاطَّلَعْتُ فِي الْجَنَّةِ فَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا الْفُقَرَاءَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَهَكَذَا يَقُولُ عَوْفٌ، عَنْ أَبِي رَجَاءٍ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، وَيَقُولُ أَيُّوبُ، عَنْ أَبِي رَجَاءٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَكِلَا الإِسْنَادَيْنِ لَيْسَ فِيهِمَا مَقَالٌ، وَيُحْتَمَلُ أَنْ يَكُونَ أَبُو رَجَاءٍ سَمِعَ مِنْهُمَا جَمِيعًا، وَقَدْ رَوَى غَيْرُ عَوْفٍ أَيْضًا هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ أَبِي رَجَاءٍ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ.[1]

ترجمه : د عمران بن حصين رضي الله عنهما نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ما چې دوزخ ته مي سر ورښکاره کړو نو زيات مي پکې زنانه اوليدلی. او چې جنت مي وکتلو نو زيات ترمي پکې غريبانان وو.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي، عوف دسند بيانولو په حال کې داسي وائي عن ابي رجاء عن عمران بن حصين او ايوب داسي وائي عن ابي رجاء عن ابن عباس په دواړو سندونو هيڅ قسم کلام نه دي شوي ددي خبري احتمال شته چې ابورجاء دعمران بن حصين او

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /بدء الخلق ٨ (٣٢٤١) . والنكاح ١٨ (٥١٩٨) . والرقاق ١٦ (٦٤٤٩) . و ٥١ (٦٥٤٦) (تحفة الأشراف : ١٠٨٤٣) . و مسند احمد (٤/٤٢٩، ٤٤٣)

ابن عباس دوارو نه اوريدلي دي دعوف نه علاوه نورو راويانو هم دا حديث دابو رجاء په واسطه دعمران بن حصين نه نقل كړي دي.

****

۱۲_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٦٠٤_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ أَهْوَنَ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ رَجُلٌ فِي أَخْمَصِ قَدَمَيْهِ جَمْرَتَانِ يَغْلِي مِنْهُمَا دِمَاغُهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وفِي الباب عن الْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، وَأَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ.[1]

ترجمه: دنعمان بن بشيررضي الله عنه نه روايت دی چې ما د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا فرمان اوريدلی دی چې دوزخيانو کې به معمولي او سپك عذاب دهغه چا وي چې دهغه د خپو په تلو کې به داور دوه سکروټی کيښودی شي چې دهغی دګرموالي په وجه به يې دماغ خوټيږي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دعباس بن عبدالمطلب، ابوسعيد خدري، او ابو هريره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

لغات: اهون: اسم تفضيل دي هان هونا دنصر نه په معني دنرم او اسان كيدو دي لكه: هُن عندي اليوم يعني نن زما سره ارام وكړه.

اخمص: اخمص القدم يعني دخپي هغه حصه کومه چي دزمکي سره نه لګي او کله کله ورنه پوره خپه مراد وي خمص دنصر نه خموصا په معني دزخم دخپي دي.

يغلي: غلي يغلي د ضرب نه غليا وغليانا په معني دخوټيدو دي.

تشريح: دټولو نه به سپك عذاب والا ابو طالب وي، په يو روايت كې داسي راغلي دي "اهون اهل النار عذابا ابو طالب وهو متنعل بنعلين يغلي منهما دماغه"

يعني دټولو نه به سپك عذاب والا په جهنم كې ابو طالب وي چې د اور پيزار به يي اچولي وي چې دده دماغ به خوټكوي.

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الرقاق ١٥ (٦٥٦١، ٦٥٦٢) . صحيح مسلم /الإيمان ٩١ (٢١٣) (تحفة الأشراف : ١١٦٣٦) . و مسند احمد (٤/٢٧٤)

ددي روايت نه معلومه شوه چې د اهون اهل النار نه مراد ابي طالب دی چې په قيامت کې به ورته دټولو نه سپك عذاب ورکولی شي څکه چې هغه دنه مسلمانيدو باوجود درسول الله صلي الله عليه وسلم ډيرمدد کړی دی نوددي په عوض کې به ورته الله تعالي دټولو نه سپك عذاب ورکوي

"في اخمص قدميه جمرتان" يعني په خپو کې به يي دوه سکروټي وي ديو بل روايت نه معلوميږي چې د اور يو دوه پيزارونه به ورواچولی شي چې دهغي په وجه به يي دماغ خوټکيږي اشد منه عذابا، يعني دټولو نه سخت عذاب والا.

علماؤ ليکلي دي چې په جهنم کې دټولو نه سپك عذاب والا به خپل خان لره دټولو نه دسخت عذاب والا گڼړي غرض داچې دجهنم معمولي عذاب هم سخت دی او په جنت کې معمولي مزي والا به هم خپل څان دډيرو مزو والا گڼړي څکه چې دجنت معمولي نعمت هم ډير زيات وي. (روضة الصالحين)

****

۱۳_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

۲٦۰۵_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مَعْبَدِ بْنِ خَالِدٍ، قَالَ: سَمِعْتُ حَارِثَةَ بْنَ وَهْبٍ الْخُزَاعِيَّ، يَقُولُ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ الْجَنَّةِ كُلُّ ضَعِيفٍ مُتَضَعِّفٍ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللَّهِ لَأَبَرَّهُ، أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ النَّارِ كُلُّ عُتُلٍّ جَوَّاظٍ مُتَكَبِّرٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : حارثه بن وهب رضي الله عنه روايت کوي چې ما د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا فرمان اوريدلی دی چې ايا زه تاسو ته دا خبره اونه ښايم چې جنتيان کوم خلق دي؟ واورئ هر هغه کمزوری کس چې کمزوری اوسپك گڼړلی شي (جنتي دی) که چري دالله تعالي په اعتماد باندي قسم وکړي نو الله تعالي هغه پوره کوي بيايی اوفرمائيل ايا دا درته اونه ښايم چې دوزخي څوك دی؟ واورئ! هريدخويه متکبر او بخيل

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

لغات: عُتُل: عتَل عتلا دنصر او ضرب نه معني په سختئ سره راښکل، اود سمع نه غلطئ

---

[1] ـــ اورده البخاري في الجامع الصحيح /تفسير سورة القلم ۱ (۴۹۱۸)، والأدب ٦۱ (٦۰۷۱)، والأيمان والنذور ۹ (٦٦۵۷)، صحيح مسلم/الجنة ۱۳ (۲۸۵۳)، سنن ابن ماجه/الزهد ۴ (۴۱۱٦) (تحفة الأشراف: ۳۲۸۵)، ومسند احمد (۴/۳۰٦)

طرف ته دراښكلو په معني استعماليږي.
جواز: جاز جوزا وجوزانا دنصر نه په معني دتلو دي په تكبر سره.
متضعف: دتفعيل نه په معني دحقير سره.
لابره: نو ضرور به يي قسم پوره كړي وو.
مستكبر: متكبر كيدل.
امام نووي وايي عتل بدخويه متكبر ځان لويي ګڼرونكى، جواظ، بخيل بعضو وئيلي دي ډير غرورسره تلونكى ځنو وئيلي دي غټ خيټى.

تشريح: "اهل الجنة كل ضعيف" يعني په جنتيانو كې هر كمزورى دلته دجنتي سړي علامه بيانيږي چې دا به هر هغه كس وي څوك چې كمزورى وي او په خلقو كې شهرت نه لري او په معاشره كې يي كوم امتيازي مقام نه وي مګر دايمان او تقوي په اعتبار سره اعلي مقام لري ددي خبري دليل دادى چې دده دالله په ذات دومره اعتماد دى چې كه دى په كومه خبره قسم اوخوري نو الله تعالي دده خبره پوره كوي.
كل عتل جواظ، دلته دجهنميانو علامه بيانوي چې دى به سركش او بخيل اومتكبر وي.

حارثه بن وهب رضي الله عنه حالات

نوم حارثه دپلار نوم وهب او دمور نوم ام كلثوم بنت جرول ابن مالك بن المسيب الخزاعيه وو ددينه عموما ابواسحاق السبيعي او معبد بن خالد الجهني رضي الله عنه نقل دروايت كوي، دمروياتو شمير يي شپږ دى چې څلور په دي كې متفق عليه دي. (روضة الصالحين)

****

كتاب الإيمان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم

دايمان او اسلام داحكام او مسائلو بيان

١ـ باب مَا جَاءَ أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ

ماته حكم شوي دي چې څو پورې خلقو ايمان نه وي راوړي زه به ورسره جنګيږم

٢٦٠٦ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، فَإِذَا قَالُوهَا مَنَعُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلاَّ بِحَقِّهَا وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللَّهِ ". وفي الباب عن جَابِرٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ،

وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : د ابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ماته حکم شوي دي چې خلقو سره هغه پوري اوجنګيږئ څو پوري چې دوئ دلااله الاالله اقرار نه وي کړي بيا چې کله دوئ ددي اقرار اوکړي نو دوئ خپليويني او خپل مالونه زمانه محفوظ کړي مګر دکوم حق په بدل کي او ددوئ مکمل حساب په الله تعالي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دجابر او ابوسعيد او ابن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٢٦٠٧ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ عُقَيْلٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُودٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: لَمَّا تُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاسْتُخْلِفَ أَبُو بَكْرٍ بَعْدَهُ كَفَرَ مَنْ كَفَرَ مِنَ الْعَرَبِ، فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ لِأَبِي بَكْرٍ: كَيْفَ تُقَاتِلُ النَّاسَ وَقَدْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَمَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ عَصَمَ مِنِّي مَالَهُ وَنَفْسَهُ إِلَّا بِحَقِّهِ وَحِسَابُهُ عَلَى اللَّهِ". قَالَ أَبُو بَكْرٍ: وَاللَّهِ لَأُقَاتِلَنَّ مَنْ فَرَّقَ بَيْنَ الزَّكَاةِ وَالصَّلَاةِ، فَإِنَّ الزَّكَاةَ حَقُّ الْمَالِ، وَاللَّهِ لَوْ مَنَعُونِي عِقَالًا كَانُوا يُؤَدُّونَهُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَاتَلْتُهُمْ عَلَى مَنْعِهِ. فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ: فَوَاللَّهِ مَا هُوَ إِلَّا أَنْ رَأَيْتُ أَنَّ اللَّهَ قَدْ شَرَحَ صَدْرَ أَبِي بَكْرٍ لِلْقِتَالِ فَعَرَفْتُ أَنَّهُ الْحَقُّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَهَكَذَا رَوَى شُعَيْبُ بْنُ أَبِي حَمْزَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. وَرَوَى عِمْرَانُ الْقَطَّانُ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ. وَهُوَ حَدِيثٌ خَطَأٌ. وَقَدْ خُولِفَ عِمْرَانُ فِي رِوَايَتِهِ عَنْ مَعْمَرٍ.[2]

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الجهاد ١٠٢ (٢٩٤٦). صحيح مسلم /الإيمان ٨ (٢٦١٠). سنن ابي داود/ الجهاد ١٠٣ (٢٦٤٠). سنن النسائي/الجهاد ١ (٣٠٩٢). سنن ابن ماجه/الفتن ١ (٣٩٢٧) (تحفة الأشراف: ١٢٥٠٦)، و مسند احمد (٢/٢١٣، ٣٧٧، ٤٢٣، ٤٣٩، ٤٧٥، ٤٨٢، ٥٠٢، ٥٢٨)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الزكاة ٢ (١٣٩٩)، و ٤٠ (١٤٧٥). والمرتدين ٣ (٦٩٢٤). والإعتصام ٢ (٧٢٨٤). صحيح مسلم /الإيمان ٨ (٢١). سنن ابي داود/ الزكاة ١ (١٥٥٦). سنن النسائي/الزكاة ٣ (٢٤٤٥). والجهاد ١ (٣٠٩٤، ٣٠٩٥). والمحاربة ١ (٣٩٧٥) (تحفة الأشراف: ١٠٦٦٦)، و مسند احمد (٢/٥٢٨)

ترجمه: د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم وفات شو او ابوبکر رضي الله عنه خليفه شو او په عربو کې ځني خلق کافر شو (زکوٰة ورکولو نه يې انکار اوکړو) نو ابوبکر رضي الله عنه هغوئ سره دجهاد نيت اوکړو نو عمر رضي الله عنه ورته اووئيل دی خلقو سره به مونږ څنګه جنګ اوکړو؟ چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ماته حکم شوی دی چې دخلقو سره جهاد اوکړم تردې چې لااله الاالله اووائي چاچې دا کلمه طيبه اووئيل خپل مالونه اوسرونه يې رانه بچ کړل، مګر دشريعت په حکم اودزړونو حساب يې الله جل جلاله سره دی (يعني رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچې کلمه اووئيله هغه له جنګ نه په امان شو) او دا خلق کلمه وائي، نو مونږ ورسره جنګ څنګه کولی شو؟ ابوبکر رضي الله عنه ورته اوفرمائيل والله زه به جنګ کوم هغه خلقو سره څوك چې په مونځ او زکوٰة کې فرق کوي (يعني مونځ کوي او زکوٰة نه ورکوي) ځکه چې زکوٰة دالله حق دی په مال کې (او رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي "الا بحقه" يعني دشريعت دحق دپاره به ورسره جنګ کيدی شي) نو والله که څوك دزکوٰة يو رسئ منع کوي، کومه چې يې د رسول الله صلي الله عليه وسلم په زمانه ورکوله نوزه به ورسره دی رسئ دپاره جنګ کوم (اوداسلام حق به تری په زور اصولوم) عمر رضي الله عنه فرمائي والله زه پوهه شوم چې الله دابوبکر رضي الله عنه سينه جنګ ته پرانستلي ده او په دی خبره کې دی په حقه دی.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي دارنګې شعيب بن ابي حمزه هم دزهري نه او زهري دعبيدالله بن عبدالله نه او عبيدالله دابوهريره نه روايت نقل کړي دي، عمران بن قطان دا حديث دمعمرو نه معمرو دزهري نه او زهري دانس بن مالك نه او انس دابوبکر رضي الله عنه نه نقل کړي دي ليکن ددي حديث په سند کي غلطي ده او هغه داده چې دمعمرو په واسطه دعمران دروايت مخالفت شوي دي.

لغات: فعرفت: عرف يعرف عرفة وعرفانا په معني دمعرفت سره دي دباب سمع نه: عقال معني پړي جمع يي اعقال راځي.

تشريح: کفر من کفر من العرب: دعربو بعضي قبيلي کافري شوي علماؤ ليکلي دي چې د وفات نبوي نه پس څلور قسمه ارتداد شروع شو، اول بت پرستي شروع شوه، دويم دتوحيد داقرار قائل پاتي شول ليکن درسالت نه منکر شول او دمتنبيانو نبوت يي اومنلو، دريم صرف دزکوٰة دفرضيت نه يي انکار اوکړو چې دا په نبي پوري مخصوص وو او زکوٰة اخستل او دزکٰت حکم اوس ختم شو، څلورم خليفه ته يي دزکات ورکولو نه انکار اوکړو او وئيل به يي زمونږ خپله خوښه ده چې چاته يي ورکوو په هغوئ به يي پخپله تقسيموو.

دابن حجر بيان دی چې کفر من کفر من العرب مجازا فرمائيلی شوي دي ورنه هغوئ ټول

كافران شوي نه وو اولنئ طبقي حقيقتاكفر كړى وو ليكن نوري دوه طبقي كفر ته نژدي شوي وي.

امرت ان اقاتل الناس. ماته حكم شوى دى چې دخلقو سره به جنګ كوم مطلب دادى لكه څنګه چې دمونځ نه مرتد كافر او مرتد دى او په پوهولو سره نه پوهيږي نو قتل كولى به شي نو دارنګي كه دزكات منكر هم په پوهولو پوهه نشي نو دى به هم قتل كولى شي او دده خلاف به جنګ كولى شي ځكه چې مونځ بدني عبادت دى او زكات مالي عبادت دى.

د شاانورشاه كشميري قول دى چې عمر رضي الله عنه ددي معاملي په ابتداء كې متردد وو ددي تردد منشاء دواقعي دصورت په تشخيص كې اختلاف وو عمر رضي الله عنه دا ګڼړل چې مانعين دزكات صرف ديو عمل نه دبغاوت جرم كوي او دحالاتو دتقاضت تقاضا داده چې په دي وخت كې دباغيانو سره جنګ اونكړى شي ليكن دابوبكر تحقيق دا وو چې دزكاة نه منكر دمونځ نه دمنكر پشان دى لكه څرنګه چې دمونځ نه منكر مرتد وي نو دارنګي دزكاة نه منكر هم مرتد دى.

من فرق بين الصلاة والزكواة: علامه نووي وائي چې ابوبكر رضي الله عنه زكوٰة په مونځ باندي قياس كړو ددينه معلوميږي چې دمنكر نماز سره جنګ كول دصحابه كرامو په مينځ كې متفقه مسئله وه نو په دي وجه ابوبكر رضي الله عنه دزكوٰة اختلافي مسئله دمونځ په اتفاقي مسئلي قياس كړه.

قد شرح صدر ابي بكر: كله چې عمر رضي الله عنه دصديق اكبر درائي او د دليل دقول نه متاثر شو نو فورا يي تسليم كړو ددينه معلوميږي چې كله چاته حق معلوم شي نو فورا دهغي تسليمول پكار دي او دضد په وجه انكار كول نه دي پكار. (روضة الصالحين)

****

۲_بَاب مَا جَاءَ فِي قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمِرْتُ بِقِتَالِهِمْ حَتَّى يَقُولُوا لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَيُقِيمُوا الصَّلاَةَ

ماته دوئ سره د جنګ كولو حكم شوي دي چې څو پوري دوئ لااله الا الله ونيلي نه وي او مونځ يي قائم كړي نه وي

۲۶۰۸_حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ يَعْقُوبَ الطَّالَقَانِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا حُمَيْدٌ الطَّوِيلُ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، وَأَنْ يَسْتَقْبِلُوا قِبْلَتَنَا، وَيَأْكُلُوا ذَبِيحَتَنَا، وَأَنْ يُصَلُّوا صَلَاتَنَا،

فَإِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ حُرِّمَتْ عَلَيْنَا دِمَاؤُهُمْ وَأَمْوَالُهُمْ إِلَّا بِحَقِّهَا، لَهُمْ مَا لِلْمُسْلِمِينَ، وَعَلَيْهِمْ مَا عَلَى الْمُسْلِمِينَ "، وفي الباب عن مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ وَقَدْ رَوَاهُ يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ نَحْوَ هَذَا. [1]

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ماته دخلقو سره دهغه وخته پوري دجنگ كولو حكم شوي دي څو پوري چې دوئ ددي خبري شهادت نه وي وركړي چې دالله نه علاوه بل حقدار دبندگئ نشته او محمد (صلي الله عليه وسلم) دهغه بنده او رسول دي او زمونږ قبلي ته يي عبادت شروع كړي نه وي او زمونږ ذبيحه خوړل يي شروع كړي نه وي او زمونږ دطريقي مطابق مونځ يي شروع كړي نه وي كله چې دوئ دا ټول اعمال شروع كړي نو ددوئ وينه او مالونه په مونږ باندي حراميږي مگر دكوم حق په بدل كي او دوئ ته به هرهغه څه حاصل وي كوم چې عامو مسلمانانو ته حاصل دي او په دوئ به هغه ذمه وارياني عائد وي كومي چې په عامو مسلمانانو عائد دي.

امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي، يحي بن ايوب دحميد نه اوحميد دانس نه ددي هم معني روايت نقل كړي دي، او په دي باب كي دمعاذ بن جبل اوابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٣ـ باب مَا جَاءَ بُنِيَ الإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسٍ

داسلام بنياد په پنځه څيزونو ايخودلي شوي دي

٢٦٠٩ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ سُعَيْرِ بْنِ الْخِمْسِ التَّمِيمِيِّ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " بُنِيَ الإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسٍ: شَهَادَةُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَإِقَامُ الصَّلَاةِ، وَإِيتَاءُ الزَّكَاةِ، وَصَوْمُ رَمَضَانَ، وَحَجُّ الْبَيْتِ "، وفي الباب عن جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوُ هَذَا، وَسُعَيْرُ بْنُ الْخِمْسِ ثِقَةٌ عِنْدَ

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الصلاة ٢٨ (٣٩٢)، سنن ابي داود/ الجهاد ١٠٢ (٢٦٤١)، سنن النسائي/تحريم الدم (المحاربة) ١ (٣٩٧١)، والإيمان ١٥ (٥٠٠٦) (تحفة الأشراف: ٤٠٦)، ومسند احمد (٣/١٩٩، ٢٢٤)

أَهْلِ الحَدِيثِ. ([1])

ترجمه : ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي داسلام بنياد په پنځو کارونو دی .دا اقرار کول چې الله نه سوا بل هيڅوك دعبادت قابل نه شته، او رسول الله صلي الله عليه وسلم دالله رسول دی . ، مونځ پابندئ سره کول ،زکوٰة ورکول ،دبيت الله حج کول اودرمضان روژی نيول.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او دابن عمر په واسطه په يو څو سندونو مروي دي دارنګي دا حديث په يو څو سندونو دابن عمر په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه هم مروي دي، او په دي باب کي دجرير بن عبدالله رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

لغات : بَنى الاسلام: بني يبني بنيا وبناء وبنية وبناية معني کور جوړول بناء معني عمارت جمع يي ابنية راځي ، ايتاء: ادا کول اود باب ضرب نه په معني دراتلو دي.

تشريح : "بني الاسلام علي خمس" يعني داسلام بنياد په پنځه څيزونو ايخودلی شوی دی، په پورتني حديث کې داسلام تشبيه ديوعظيم الشان عمارت سره ورکړی شوي ده نو داسي عمارت سره چې په پنځه ستنو ولاړ وي لکه څرنګه چې دستنو اوبنياد نه بغير عمارت قائميدی نشي نو همدارنګي ددي پنځه ارکانو نه بغير داسلام وجود باقي پاتي کيدی نشي هغه پنځه اركان دادي اول كلمه دشهادت ، دويم مونځ، دريم زکواة، څلورم حج، پنځم درمضان روژي همدا وجه ده كه څوك پنځه څيزونو کې ديو نه هم انكار اوكړي نو دتمام اهل اسلام په نزد کافر کيږي او که چري په دي کې غفلت او سستي اوکړي نو دتمامو فقهاؤ په نزد فاسق او فاجر ګرځي.

****

حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ حَنْظَلَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ الْجُمَحِيِّ، عَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ خَالِدٍ الْمَخْزُومِيِّ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه : په مذكوره سند هم دابن عمر رضي الله عنهما په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت مروي دي.

---

[1] ــ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الإيمان ٢ (٨) . صحيح مسلم /الإيمان ٥ (١٦) . سنن النسائي/الإيمان ١٣ (٥٠٠٣) (تحفة الأشراف : ٦٦٨٢) . و مسند احمد (٢/٩٣، ١٢٠، ١٤٣)

[2] ــ انظر ماقبله (تحفه الأشراف: ٧٣٤٤)

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي.

****

٤_باب مَا جَاءَ فِي وَصْفِ جِبْرِيلَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الإِيمَانَ وَالإِسْلَامَ

رسول الله صلي الله عليه وسلم ته د جبرائيل عليه السلام د ايمان او اسلام اوصاف بيا نول

٢٦١٠_حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ الْخُزَاعِيُّ، أَخْبَرَنَا وَكِيعٌ، عَنْ كَهْمَسِ بْنِ الْحَسَنِ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ يَعْمَرَ، قَالَ: أَوَّلُ مَنْ تَكَلَّمَ فِي الْقَدَرِ مَعْبَدٌ الْجُهَنِيُّ، قَالَ: فَخَرَجْتُ أَنَا وَحُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحِمْيَرِيُّ حَتَّى أَتَيْنَا الْمَدِينَةَ فَقُلْنَا: لَوْ لَقِينَا رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلْنَاهُ عَمَّا أَحْدَثَ هَؤُلَاءِ الْقَوْمُ، قَالَ: فَلَقِينَاهُ يَعْنِي عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ وَهُوَ خَارِجٌ مِنَ الْمَسْجِدِ، قَالَ: فَاكْتَنَفْتُهُ أَنَا وَصَاحِبِي، قَالَ: فَظَنَنْتُ أَنَّ صَاحِبِي سَيَكِلُ الْكَلَامَ إِلَيَّ، فَقُلْتُ: يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ إِنَّ قَوْمًا يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ وَيَتَقَفَّرُونَ الْعِلْمَ وَيَزْعُمُونَ أَنْ لَا قَدَرَ وَأَنَّ الْأَمْرَ أُنُفٌ، قَالَ: فَإِذَا لَقِيتَ أُولَئِكَ فَأَخْبِرْهُمْ أَنِّي مِنْهُمْ بَرِيءٌ، وَأَنَّهُمْ مِنِّي بُرَآءُ، وَالَّذِي يَحْلِفُ بِهِ عَبْدُ اللهِ لَوْ أَنَّ أَحَدَهُمْ أَنْفَقَ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا مَا قُبِلَ ذَلِكَ مِنْهُ حَتَّى يُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ، قَالَ: ثُمَّ أَنْشَأَ يُحَدِّثُ فَقَالَ: قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ: كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَجَاءَ رَجُلٌ شَدِيدُ بَيَاضِ الثِّيَابِ، شَدِيدُ سَوَادِ الشَّعَرِ، لَا يُرَى عَلَيْهِ أَثَرُ السَّفَرِ، وَلَا يَعْرِفُهُ مِنَّا أَحَدٌ حَتَّى أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَلْزَقَ رُكْبَتَهُ بِرُكْبَتِهِ، ثُمَّ قَالَ: يَا مُحَمَّدُ مَا الْإِيمَانُ؟ قَالَ: "أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ"، قَالَ: فَمَا الْإِسْلَامُ؟ قَالَ: "شَهَادَةُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، وَإِقَامُ الصَّلَاةِ، وَإِيتَاءُ الزَّكَاةِ، وَحَجُّ الْبَيْتِ وَصَوْمُ رَمَضَانَ" قَالَ: فَمَا الْإِحْسَانُ؟ قَالَ: "أَنْ تَعْبُدَ اللهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ فَإِنَّكَ إِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ"، قَالَ: فِي كُلِّ ذَلِكَ يَقُولُ لَهُ: صَدَقْتَ، قَالَ: فَتَعَجَّبْنَا مِنْهُ يَسْأَلُهُ وَيُصَدِّقُهُ، قَالَ: فَمَتَى السَّاعَةُ؟ قَالَ: "مَا الْمَسْئُولُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ" قَالَ: فَمَا أَمَارَتُهَا؟ قَالَ: "أَنْ تَلِدَ الْأَمَةُ رَبَّتَهَا، وَأَنْ تَرَى الْحُفَاةَ الْعُرَاةَ الْعَالَةَ أَصْحَابَ الشَّاءِ يَتَطَاوَلُونَ فِي الْبُنْيَانِ" قَالَ عُمَرُ: فَلَقِيَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ ذَلِكَ بِثَلَاثٍ، فَقَالَ: "يَا عُمَرُ هَلْ تَدْرِي مَنِ السَّائِلُ؟ ذَاكَ جِبْرِيلُ أَتَاكُمْ يُعَلِّمُكُمْ مَعَالِمَ دِينِكُمْ".

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ، أَخْبَرَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا كَهْمَسُ بْنُ الْحَسَنِ، بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ.[1]

ترجمه : ديحي بن يعمر بيان دي فرمائي چې دټولو نه اول چې چا دتقدير نه انکار کړي دي هغه کس معبد جهني دي زه او عبدالرحمن حميري دواړه په سفر روان وو تردي چې مديني ته ورسيدو مونږ پخپل مينځ کي مشوره اوکړه او ددي خبري خواهش مو اوکړو چې کاش دنبي کريم صلي الله عليه وسلم په صحابه کرامو کي دچا سره زمونږ ملاقات اوشي نو مونږ به ورنه ددي فتني باره کي تپوس کوو چې کومه په خلقو کي پيدا شوي ده چنانچې زمونږ دخوش قسمتئ په وجه زمونږ ددوئ سره يعني دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما سره په داسي حال کي ملاقات اوشو چې دمسجد نه دوتلو په حال کي وو چې يو دم ورنه زه او زما ملګري چاپير شو ماته دا اندازه اولګيده چې زما ملګري دخبري کولو ذمه داري او حق ماته سپاري نو ما عرض اوکړو اي ابو عبدالرحمن بعضي داسي خلق پيدا شوي دي چې قران لولي او په قران کي دغور او فکر او تلاش کولو دعوي هم کوي مګر ددي باوجود هم دا عقيده لري چې تقدير هيڅ څيز نه دي او معامله ټوله دسر او ابتداء نه شروع ده ابن عمر رضي الله عنهما اوفرمائيل تاسو چې کله دداسي کسانو سره مخامخ شوئ نو ورته اووائي چې زه ددوئ نه بيزار يم او دوئ زما نه بيزار دي، زما دي په هغه ذات قسم وي په چا باندي چې قسم خوړلي کيږي (يعني الله تعالي) که چري په داسي کسانو کي يو کس داحد دغر برابر سر زر هم خرچ کړي خو چې په ښه او بد تقديري ايمان نه وي راوړي ترهغي به ددوئ دا خرچې ددوئ نه قبوله نشي او بيا يي حديث بيان کړو او وئيل يي چې عمر فاروق رضي الله عنه فرمائي چې مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم په مجلس کي حاضر وو ناڅاپه يو سړی راښکاره شو ډيری صفا کپړی ، تور ويخته دسفر نښي پرې نه وي او نه زمونږ نه چا هغه پيژندو ، هغه درسول الله صلي الله عليه وسلم زنګونو سره زنګونه ملاؤ کړل او دواړه لاسونه يی درسول الله په پتونو کيښودل کيناستو، بيا يي عرض اوکړو اي محمد (صلي الله عليه وسلم) بيا هغه اووئيل چې ماته اووايه چې ايمان څه څيز دی؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دالله او دهغه درسولانو او دهغه دفرښتو دهغه دکتابونو او دقيامت دورځي تصديق دارنګ دتقدير ښه والی او بدوالی ايمان دی، بيا يي ووئيل ماته داسلام حقيقت بيان کړه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل، اسلام دادی چې ته دا ګواهي ورکړی چې دالله نه سوا هيڅوك دعبادت لائق نشته او رسول الله صلي الله عليه وسلم دهغه رسول دی او دا چې مونځ قائم کړی، زکوٰة ورکړی، درمضان روژی

---

[1] ـ مسلم/الإيمان ١(٨) . سنن ابي داود/ السنة ١٧(٤٦٩٥) . و النسائي/الإيمان ٥ (٤٩٩٣) . سنن ابن ماجه/المقدمة ٩ (٦٣)
(تحفة الأشراف : ١٠٥٧٢) . و مسند احمد (١/٢٧، ٢٨، ٥١، ٥٢)

اونيسي او كه طاقت دي وي نو دالله دكور حج اوكړى بيايى اووئيل ماته اوښايه چې احسان څه دى نبي صلي الله عليه وسلم وفرمايل چې دالله تعالي عبادت داسي كوه ګوياكي چې ته الله تعاليويني او كه چرې دا (مقام او تصور درته حاصل) نه وي نو دا خيال كوه چې هغه تاويني او هغه به دهر سوال دجواب سره وئيل چې تا درست اووئيل او مونږ ورته دحيرانتيا په نظر كتل چې دا څومره نااشنا سړي دي چې سوال هم كوي او دجواب تصديق هم پخپله كوي بيا هغه اووئيل چې دقيامت متعلق ماته څه بيان كړه؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل په دي معامله كې زما علم دسائل نه زيات نه دى نو هغه اووئيل دقيامت علامې او نښې راته اوښايه نوو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چې وينځه به خپل سردار اوزيږوي او اوږي، بربنډ، نادار، مفلس او نيسمن شپونكي قسم خلق به ته په لوړو ابادو او بلډينګونو كې اووينې چې فخر او كبر به كوي، بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم ددي واقعې نه دري ورځي پس زما سره ملاؤ شو او ماته يي اوفرمائيل اى عمر رضي الله عنه پيژنې دا سوال كونكي څوك وو ، ما عرض اوكړو چې الله او دهغه رسول ښه پوهيږي نو ويي فرمائيل دا جبرائيل وو تاسو ته ددين خودلو دپاره راغلى وو.

لغات اماراتها: امارات جمع د امارة ده په معني دعلامې سره.

تلد: ولدت تلد وولادة معني زيګول دي.

الحفاة: حفِيَ حفاً دسمع نه په معني د بربنډو ښپو تلو سره دي ، صفت يي حافٍ او جمع يي حفاة راځي.

العراة: عري عرية وعريا دسمع نه په معني دبربنډيدو دي صفت يي عار او عريان راځي او جمع يي عراة راځي.

العالة: عال عيلا وعيلة د ضرب نه په معني دمحتاج كيدو دي.

رعاء: رعي رعيا په معني دڅاروو څرلودي الراعي فاعل دي يعني شپونكي جمع يي رعاة او رعيان او رعاء راځي.

الشاة: الشاة په معني دچيلي سره دي او جمع يي شياه راځي.

ربتها ، معني سرداره ده ، مطلب دادى چې دوينزو به دومره كثرت وي چې مالك به هغې سره جماع اوكړي او هغه وينزه به جينئ اوزيږوي حديث كې دبنت السيد نه سردار مراد دى "عالة" په معني دنيسمن دى د "مليا" معني اوږده زمانه ده بعضو درى ورځى موده مراد كړي ده.

تشريح: دي حديث ته حديث دجبريل هم وئيلي شي، د مسلم په يو روايت كې راغلي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: زمانه به تپوسونه كوئ ليكن صحابه كرامو به ورنه دهغه دهيئت دغلبي په وجه تپوس نه كولو نو جبريل امين الله راوليږلو چې دخلقو په

وراندي درسول الله نه ددين دبنيادي خبرو تپوسونه وكړي چي خلقو ته ورنه فائده ورسيږي.
بعضي علماؤ ددي حديث دجامعيت متعلق ليكلي دي لكه څنګه چي دقراني علومو او معارفو خلاصه په سورت الفاتحه کې مذكور ده د كوم په وجه چي سورت الفاتحي ته ام القران وئيلي شي نو دارنګي حديث جبريل هم په خپل جامعيت کې ددي خبري قابل دي چي ام السنة ورته ووئيلي شي ، لكه چي علامه ابن حجر د امام قرطبي قول نقل كړي دي: هذا الحديث يصلح ان يقال له ام السنة لما تضمنه من حمل علم السنة.
مولانا ادريس دحافظ تور پشتي نه نقل كړي دي چي دحديث جبريل زمانه لسم هجري دحجة الوداع نه پس وه په دي حديث د تمام شريعت احكام راغلي دي ددي دپاره چي په دي کې دنبي كريم صلي الله عليه دتمام ژوند داحكامو خلاصه راجمع شي.
او همدا خبره تقريبا مولانا شبير احمد عثماني هم ذكر كړي ده: يحتمل ان يكون بعد حجة الوداع لانه ورد لفظ اخر عمره.
"وَوَضَعَ كَفَّيهِ عَلَى فَخِذَيهِ" زنګون ته يي زنګون ور نزدي كړو اوخپل دواړه لاسونه يي پخپلو زنګنانو كيخودل او كيناستلو ، په دي جمله کې په كفيه کې د ضمير مرجع په اتفاق سره راتلونكي كس(جبريل) دي ، مګر د فخذيه دضمير متعلق دوه اقوال دي اول قول دادي:
دا ضمير هم راتلونكي كس ته راجع دي او ترجمه داسي ده چي هغه خپل دواړه ورغوي پخپلو دواړو ورنونو كيخودل ، دويم قول دادي چي ددي ضمير مرجع رسول الله صلي الله عليه وسلم دي ترجمه به داوي وي چي هغوئ خپل دواړه ورغوي درسول الله په زنګنونو باندي كيخودل ، اوددينه يي مقصد رسول الله لره ځان طرف ته متوجه كول وو ددي دويم قول تائيد په يوبل روايت سره هم كيږي چي حتي وضع يده علي ركبتي رسول الله صلي الله عليه وسلم.
"أَخبِرنِي عَنِ الإِسلامِ" اولني سوال يي داسلام متعلق كړي دي ځكه چي اسلام دشرائعو دقبلولو اود التزام دفرائضو نوم دي نو په دي وجه ددي متعلق سوال د هرڅه نه مخكې كول پكار وو نو ددي په جواب کې يي داسلام بنيادي اركان بيان كړل چي توحيد ، مونځ ، زكواة، روژه، حج دي.
"فَأَخبِرنِي عَنِ الإِيمَانِ" ايمان په هغه خبرو ديقين كولو نوم دي د كوموم‌تعلق چي رسول الله صلي الله عليه وسلم احكامات جاري كړي دي ، ددي ايماني خبرو دجملي نه هغه اساسي ايمانيات هم دي كوم چي په دي روايت کې بيان شوي، مثلا:
په الله باندي يقين كول
په فرشتو باندي ايمان لرل
په اسماني كتابونو ايمان لرل

په رسولانو يقين او ايمان لرل

په قيامت ايمان لرل

په تقدير دخير او شر باندي ايمان لرل.

"فَأَخْبِرْنِي عَنِ الإِحْسَانِ. قَالَ: ((أَنْ تَعْبُدَ اللهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ" يعني دالله تعالي عبادت داسي كول لكه چي ته يي ويني چونكه په دنيا كې څوك الله لره په حقيقي ستركو نشي ليدلي نو ځكه يې دلته حرف تشبيه كانَ استعمال كړو.

"فَأَخْبِرْنِي عَنِ السَّاعَةِ" دلته ترقي ده دادني نه اعلي ته يعني انسان اول په اسلام كې داخل شي بيا يي ايمان جوړ شي په دي پسي داحسان او اخلاص درجه راځي بيا په دي شان سره دانسان ترقي كمال ته ورسيږي او هريو شي چي كله انتهاء ته ورسيږي نو هغه دتنزل كول شروع كړي نو چي عبادت سر ته ورسيدو نو ور پسي يي قيامت ذكر كړو په كوم چي زوال ته اشاره ده.

((مَا الْمَسْؤُولُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ))يعني ددي دتاريخ په عدم تعين كې مونږ دواړه يوشان او يوبرابر يو ، يعني دهيچا سره ددي علم نشته.

((أَنْ تَلِدَ الأَمَةُ رَبَّتَهَا)) دا جمله كنايه ده ددي خبري چي اولاد به دمور پلار نافرمان وګرځي يعني والدين به دغلامانو پشان شي او او اولاد به دمالكانو پشان شي.

" وأَنْ تَرَى الْحُفَاةَ الْعُرَاةَ" مطلب دادي دبربنډو او وږو شپونكيانو پشان ذليلان خلق به لوړ لوړ محلونه جوړ كړي. (روضة الصالحين)

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ مُعَاذٍ، عَنْ كَهْمَسٍ بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ. وَفِي الْبَابِ عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ، وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. قَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ نَحْوُ هَذَا، عَنْ عُمَرَ. وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَالصَّحِيحُ هُوَ ابْنُ عُمَرَ، عَنْ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ. ([1])

ترجمه : معاذ بن معاذ هم دكهمس نه په دي سند دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي.

امام ترمذي وايي: او په دي باب كې دطلحه بن عبيدالله او انس بن مالك رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي او داحديث حسن صحيح دي او ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم مروي دي دا زنګي دا روايت دابن عمر په واسطه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مروي دي

---

[1] _ مسلم /الإيمان ١(٨) . سنن ابي داود/ السنة ١٧ (٤٦٩٥) : و النسائي/الإيمان ٥ (٤٩٩٣) . سنن ابن ماجه/المقدمة ٩ (٦٣) (تحفة الأشراف : ١٠٥٧٢) . و مسند احمد (١/٢٧، ٢٨، ٥١، ٥٢)

مگر زیات صحیح هغه روایت دي کوم کي چې ابن عمر دعمر په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم ارشاد نقل کوي.

****

٥_باب مَا جَاءَ فِي إِضَافَةِ الْفَرَائِضِ إِلَى الإِيمَانِ

په ايمان کي د نورو فرائضو او واجباتو د داخليدو بيان

٢٦١١_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ عَبَّادٍ الْمُهَلَّبِيُّ، عَنْ أَبِي جَمْرَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَدِمَ وَفْدُ عَبْدِ الْقَيْسِ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا: إِنَّا هَذَا الْحَيَّ مِنْ رَبِيعَةَ وَلَسْنَا نَصِلُ إِلَيْكَ إِلَّا فِي أَشْهُرِ الْحَرَامِ، فَمُرْنَا بِشَيْءٍ نَأْخُذُهُ عَنْكَ وَنَدْعُو إِلَيْهِ مَنْ وَرَاءَنَا، فَقَالَ: " آمُرُكُمْ بِأَرْبَعٍ: الْإِيمَانِ بِاللَّهِ ثُمَّ فَسَّرَهَا لَهُمْ، شَهَادَةُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللَّهِ، وَإِقَامَ الصَّلَاةِ، وَإِيتَاءَ الزَّكَاةِ، وَأَنْ تُؤَدُّوا خُمُسَ مَا غَنِمْتُمْ ".[1]

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې کله رسول الله صلي الله عليه وسلم ته وفد دعبدالقيس راغلو نو عرض يي اوکړو اي دالله رسوله زمونږ او ستا په مينځ کي ربيعه قبيله حائل ده او دحرمت والا مياشتو نه علاوه مونږ تاسو ته نشو راتلي نو په دي وجه مونږ ته کوم داسي حکم اوکړه چې مونږ يي ستاسو نه ياد کړو او چې کوم خلق زمونږ نه وروسته پاتي دي هغوئ ته يي ورسوو رسول الله اوفرمائيل زه تاسو ته په څلورو څيزونو حکم کوم (١) په الله تعالي باندي دايمان راوړلو ، او بيا يي دوئ ته ددي تفسير او تشريح اوکړه چې دلااله الاالله، او د ، محمد رسول الله ګواهي ورکول دي،(٢) مونځ قائمول دي (٣) زکوٰة ورکول دي (۴) دغنيمت دمال نه پنځمه حصه ويستل دي.

****

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَبِي جَمْرَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو جَمْرَةَ الضُّبَعِيُّ اسْمُهُ: نَصْرُ بْنُ عِمْرَانَ، وَقَدْ رَوَاهُ شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي جَمْرَةَ أَيْضًا، وَزَادَ فِيهِ: " أَتَدْرُونَ مَا الْإِيمَانُ؟ شَهَادَةُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللَّهِ "، وَذَكَرَ الْحَدِيثَ، سَمِعْت قُتَيْبَةَ بْنَ سَعِيدٍ يَقُولُ: مَا رَأَيْتُ مِثْلَ هَؤُلَاءِ الْفُقَهَاءِ الْأَشْرَافِ الْأَرْبَعَةِ: مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، وَاللَّيْثِ بْنِ سَعْدٍ، وَعَبَّادِ بْنِ عَبَّادٍ الْمُهَلَّبِيِّ، وَعَبْدِ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيِّ، قَالَ

---

[1] ـ انظر حديث رقم ١٥٩٩

قُتَيْبَةُ: كُنَّا نَرْضَى أَنْ نَرْجِعَ مِنْ عِنْدِ عَبَّادٍ كُلَّ يَوْمٍ بِحَدِيثَيْنِ، وَعَبَّادُ بْنُ عَبَّادٍ هُوَ مِنْ وَلَدِ الْمُهَلَّبِ بْنِ أَبِي صُفْرَةَ. ([1])

ترجمه: په مذكوره سند هم ابوجمره دابن عباس په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او دابوجمره الضبيعي نوم نضر بن عمران دي، همدارنګې دا روايت شعبه دابوجمره نه دڅه اضافي سره هم نقل كړي دي او هغه اضافه داده چې رسول الله ددوئ نه تپوس اوكړو ايا تاسوته معلومه ده چې ايمان څه څيز دي؟ ايمان دلااله الاالله ګواهي وركولو ته او ددي خبري ګواهئ وركولو ته وئيلي شي چې زه دالله رسول يم او بيا يې باقي حديث پوره ذكر كړو، امام ترمذي وائي دقتيبه بن سعيد نه مي اوريدلي دي وئيل يې چې ددي څلورو كسانو پشان فقهاء او شريفان خلق مابل چرته نه دي ليدلي چې يو مالك بن انس، او بل ليث بن سعد او بل عباد بن عباد دي او بل عبدالوهاب ثقفي دي، عبدالوهاب ثقفي وائي قتيبه به وئيل مونږ به ديته ترجيح وركوله چې هره ورځ دعباد بن عباد نه دوه حديثونه ياد كړو او عباد بن عباد د ملهب بن ابي صفرة دخاندان سره تعلق لري.

****

٦_بَاب مَا جَاءَ فِي اسْتِكْمَالِ الإِيمَانِ وَزِيَادَتِهِ وَنُقْصَانِهِ

دايمان دكاملولو او په ايمان كي دزيادت او نقصان راتلو بيان

٢٦١٢_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ ابْنُ عُلَيَّةَ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ الْحَذَّاءُ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ مِنْ أَكْمَلِ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا وَأَلْطَفُهُمْ بِأَهْلِهِ". وفي الباب عن أَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ وَلَا نَعْرِفُ لِأَبِي قِلَابَةَ سَمَاعًا مِنْ عَائِشَةَ، وَقَدْ رَوَى أَبُو قِلَابَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يَزِيدَ رَضِيعٍ لِعَائِشَةَ، عَنْ عَائِشَةَ غَيْرَ هَذَا الْحَدِيثِ، وَأَبُو قِلَابَةَ اسْمُهُ: عَبْدُ اللَّهِ بْنُ زَيْدٍ الْجَرْمِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، قَالَ: ذَكَرَ أَيُّوبُ السَّخْتِيَانِيُّ أَبَا قِلَابَةَ فَقَالَ: كَانَ وَاللَّهِ مِنَ الْفُقَهَاءِ ذَوِي الْأَلْبَابِ. ([2])

---

[1] _ انظر حديث رقم ١٥٩٩

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٦١٩٥). وانظر مسند احمد (٦/٤٧، ٩٩)

ترجمه : د عائشه رضي الله عنها نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په تاسو کې ډير کامل ايمان والا هغه مومنان دي چې اخلاق يې ډير ښه وي ، او په تاسو کې بهتر کسان هغه دي چې پخپلو ښځو ډير مهربان وي.

امام ترمذي وايي: او په دي باب کي دابوهريره او انس بن مالك رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي او دا حديث صحيح دي مګر دابو قلابه سماع دعائشه نه ثابت نه ده او ابو قلابه دعبدالله بن يزيد نه چې رضيع دعائشي دي هم ددي حديث نه علاوه نور احاديث نقل کړي دي او دابوقلابه نوم عبدالله بن زيد الجرمي دي، ماته ابن ابي عمر دسفيان بن عيينه نه روايت بيان کړي دي چې ابوايوب سختياني دابوقلابه باره کي اووئيل په الله قسم چې ابوقلابه دقابل ترينو فقهاؤ نه دي.

تشريح : احسنهم خلقا ، کوم چې ښو اخلاقو والا وي، دحسن بصري او عبدالله بن مبارك قول دی ښه اخلاق ديته وائي چې ته دخلقو سره په رونړ تندي مخامخ شي او ښه سلوك ورسره اوکړي او دتکليف ورکونکي څيزونو نه يي بچ کړي.

كنز العمال ، دابن عمر رضي الله عنهما قول نقل کړی دی چې مکارم اخلاق ديته وئيلی شي څوك چې دالله درضا دپاره دبل چا ملاقات اوکړي او چاته چې ورغلی وي هغه دراتلونکي اکرام اوکړي او ورتلونکي کس ته چې هر څه ملاؤ شي اګر که داوبو ګوټ وي خو په هغي باندي خوشحاله شي.

ابو العباس أحمد وائي چاچې لوړه مرتبه موندلي وه نو هغه يي دښو اخلاقو په وجه موندلي وه.

الطفهم باهله. علماء وايي چې دښځو سره نيك سلوك کول ، غلطياني ورته معاف کول د انبياء عليهم السلام شان دي.

****

٢٦١٣ـحَدَّثَنَا أَبُو عَبْدِ اللَّهِ هُرَيْمُ بْنُ مِسْعَرٍ الأَزْدِيُّ التِّرْمِذِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ النَّاسَ فَوَعَظَهُمْ، ثُمَّ قَالَ: "يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ، تَصَدَّقْنَ فَإِنَّكُنَّ أَكْثَرُ أَهْلِ النَّارِ". فَقَالَتِ امْرَأَةٌ مِنْهُنَّ: وَلِمَ ذَاكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: "لِكَثْرَةِ لَعْنِكُنَّ، يَعْنِي: وَكُفْرِكُنَّ الْعَشِيرَ". قَالَ: "وَمَا رَأَيْتُ مِنْ نَاقِصَاتِ عَقْلٍ وَدِينٍ أَغْلَبَ لِذَوِي الأَلْبَابِ وَذَوِي الرَّأْيِ مِنْكُنَّ". قَالَتِ امْرَأَةٌ مِنْهُنَّ: وَمَا نُقْصَانُ دِينِهَا وَعَقْلِهَا: قَالَ: "شَهَادَةُ امْرَأَتَيْنِ مِنْكُنَّ بِشَهَادَةِ رَجُلٍ، وَنُقْصَانُ دِينِكُنَّ الْحَيْضَةُ تَمْكُثُ إِحْدَاكُنَّ الثَّلاَثَ وَالأَرْبَعَ لاَ تُصَلِّي" وفي الباب عن أَبِي سَعِيدٍ، وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ

صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم خلقو ته خطبه ورکړه او وعظ او نصيحت يي اوکړو او بيا يي اوفرمائيل اي دښځو جماعته صدقي ډيري ورکوئ ځکه چې تاسو دجهنم اکثره حصه يئ دي وخت کي دښځو نه يوي ښځي اووئيل ددي څه وجه دي اي دالله رسوله رسول الله اوفرمائيل تاسو لعنت ډير استعمالوئ او ناشکرئ زياته کوئ راوي وائي چې بيا يي داسي اوفرمائيل ستاسو نه په عقل او دين کي زيات کمزوري ما بل څوک نه دي ليدلي نو يوي ښځي اووئيل څه دي نقصان ددين زمونږه او دعقل زمونږه رسول الله اوفرمائيل ايا د دوه ښځو ګواهي ديو سړي دګواهئ سره برابره نه ده او نقصان ددين ستاسو دادي چې هره مياشت تاسو دري او څلور ورځي په کورونو کي بغير دمونځ کولو تيروئ.

امام ترمذي وايي: او په دي باب کي دابوسعيد خدري او ابن عمر رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي او دا حديث په دي سند حسن صحيح غريب دي.

لغات : اللعن: اللعنة : دلعن اسم مرة دي معني يي عذاب ده جمع يي لعان ده دفتح نه لعنا معني په چا باندي لعنت کول، کنځل کول، دخير نه لري کول رټل، لعن نفسه علي لعنة الله ، په ځان باندي لعنت کول، لعّن تلعينا عذاب ورکول، لاعن لعانا ملاعنه په يوبل لعنت ويل التعن په ځان لعنت کول، تلاعن دبعضو په بعضو لعنت کول.

تشريح: "يامعشر النساء" يعني اى دښځو جماعته رسول الله دښځو دپاره مستقل بيان کړى دى ددي بيان نه په اسلام کي دښځو اهميت معلوميږي.

"فاني رئيتكن اكثر اهل النار" يعني ما په جهنم کي دښځو اکثريت اوليدو ددي ليدلو نه مراد دمعراج شپه ده ځکه چې په دغه شپه نبي کريم صلي الله عليه وسلم ته دجهنم او جنت نظاره خودلى شوي وه په دي حديث کي دښځو يو فطري کمى او نقصان بيان شوى دى او هغه دادى چې ددوئ دين او عقل ناقص وي او په همدي وجه شريعت ددوئ ګواهي دنيم سړي دګواهئ برابر ګرځولي ده او صدقه ورکول دجهنم دعذاب نه ډير بچ کونکى څيز دى او ګناهونو لره ختمونکى دى نو په دي وجه رسول الله صلي الله عليه وسلم په ډير اهتمام سره ښځو ته دصدقي ورکولو حکم اوکړو.

****

---

1 _ مسلم /الإيمان ۳۴ (۸۰) (تحفة الأشراف : ۱۲۷۳۳) . ومسند احمد (۲/۳۷۳، ۳۷۴)

۲٦١٤_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الإِيمَانُ بِضْعٌ وَسَبْعُونَ بَابًا فَأَدْنَاهَا إِمَاطَةُ الأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ، وَأَرْفَعُهَا قَوْلُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَهَكَذَا رَوَى سُهَيْلُ بْنُ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَرَوَى عُمَارَةُ بْنُ غَزِيَّةَ هَذَا الحَدِيثَ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الإِيمَانُ أَرْبَعَةٌ وَسِتُّونَ بَابًا".[1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دايمان څه دپاسه اويا اجزا دي، په ټولو کې اسان جز دلاري نه دتکليف څيز لري کول دي او په ټولو کې بهتر جز دلااله الاالله وئيل دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او دا رنګي دا روايت سهيل بن ابي صالح دعبدالله بن دينار نه او هغه دابوصالح نه او هغه دابوهريره نه نقل کړي دي او عماره بن عزية دا حديث دابوصالح نه او هغه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه دي تغير سره نقل کړي دي چې په ايمان کي څلور شپيته دروازي دي.

لغات: بضع: البضع د دريوو نه دنهو پوري عدد ته وئيلي شي.

(امام نووي فرمائي) دبضع لفظ دريو نه تر نهو پوري څيزونو ته وئيلي شي د "ب" زير دی او کله کله يې زور هم وئيلی شي "شعبه" يوي ټکړی او حصی ته وئيلی شي.

شعبة: الشعبة معني دوني خاښ ډلي او فرقي ته هم وئيلي شي.

الحياء: حيي حياة دسمع نه په معني دژوندي پاتي کيدو.

تشريح: دبضع په مصداق کې دحافظ ابن حجر يو څو اقوال دي مشهور قول دادی چې د دريو نه ترنهه پوري عدد ته وئيلي شي، دابن منده قول دی چې دبضع اطلاق دلسو پوري کيدی شي او يوبل قول دنهه پوري او بل قول د دوو نه ترلسو پوري دی.

علماء فرمائي تمامي ايماني شعبي په دوه قسمه دي اول هغه دي دکومو تعلق چې دحقوق الله سره دی او دويم قسم يي هغه دی چې تعلق يي دحقوق العباد سره دی نو اولنۍ خبره خو يي په لااله الاالله سره ذکر کړه يعني کله چې دی دبل چا ايخودلی شوی ضرري څيز لري کوي نو پخپله څنګه چاته ضرر رسولی شي ليکن بعضي محدثين وائي چې ايماني شعبي په دوه قسمه دي

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الإيمان ٣ (٩) . صحيح مسلم /الإيمان ١٢ (٣٥) . سنن ابي داود . السنة ١٥ (٤٦٧٦) . سنن النسائي /الإيمان ٦ (٥٠٠٧) . سنن ابن ماجه /المقدمة ٩ (٥٧) (تحفة الأشراف : ١٢٨١٦) . و مسند احمد (٢/٤١٤، ٤٤٢)

قولي او فعلي په قولي کې يې لااله الله ذکر کړو او په فعلي کې يې اماطة الاذي عن الطريق، ذکر کړو او دي برخي ته يې اشاره اوکړه چې دايمان مضبوطولو دپاره داقوالو او افعالو صحيح کيدل ضروري دي.

دايماني شعبو دوضاحت په باره کې يوڅواهم کتابونه ليکلی شوي دي کوم چې مندرجه ذيل دي: (١) المنهاج ، امام ابو عبدالله حليمي (٢) شعب الايمان امام ابوبکر البيهقي (٣) شعب الايمان شيخ عبدالجليل (۴) کتاب النصائح امام قرطبي (٥) وصف الايمان وشعبه امام ابو حاتم، ابن حبان.

****

قَالَ: حَدَّثَنَا بِذَلِكَ قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا بَكْرُ بْنُ مُضَرَ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ غَزِيَّةَ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [1]

ترجمه : په مذکوره سند هم ابوصالح دابوهريره په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل پشان روايت نقل کړي دي.

****

٧_ بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ الْحَيَاءَ مِنَ الإِيمَانِ

حياء دايمان يوه حصه ده

٢٦١٥_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، وَأَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، المعنى واحد، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِرَجُلٍ وَهُوَ يَعِظُ أَخَاهُ فِي الْحَيَاءِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْحَيَاءُ مِنَ الإِيمَانِ". قَالَ أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ فِي حَدِيثِهِ: إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعَ رَجُلًا يَعِظُ أَخَاهُ فِي الْحَيَاءِ، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وفي الباب عن أَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي بَكْرَةَ، وَأَبِي أُمَامَةَ. [2]

ترجمه : دابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ديوکس په

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٢٨٥٣)

[2] _ اورده البخاري في الجامع /الإيمان ١٦ (٢٤) ، والأدب ٧٧ (٦١١٨) . صحيح مسلم /الإيمان ١٢ (٣٦) . ابي داود/ الأدب ٧ (٤٧٩٥) . سنن النسائي/الإيمان ٢٧ (٥٠٣٦) . سنن ابن ماجه/المقدمة ٩ (٥٨) (تحفة الأشراف : ٦٨٢٨) . والمؤطاء: حسن الخلق ٢ (١٠) . ومسند احمد (٢/٥٦، ١٤٧)

خوا کې تير شوچې هغه خپل رورته دحيا نصيحت کولو (چې ډيره حيامه کوه) رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل پريږده ده لره حيا خو دايمان جزء دی.
امام ترمذي وايي: احمد بن منيع پخپل روايت کي داسي الفاظ نقل کړي دي چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم ديو کس نه واوريدل چې خپل ورور ته يې دحياء باره کي نصيحت کولو.
امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دابوهريره او ابوبکره او ابو امامه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.
لغات: دعه: دفتح نه يعني پريږده، اودع مالا عنده يعني امانت ايخودل، ودّعه، رخصت يي کړو وادّعه صلح کول، الوديعة امانت جمع يي ودائع راځي.
تشريح: ابن حجر ليکلي دي دکوشش باوجود انصاري خپل ورور ته نصيحت کوي او څه چې اوري هغه نامعلومه نه شوه.
دعه فان الحياء من الايمان، يعني پريږده ځکه چې حياء دايمان حصه ده، دا اګر چې يو فطري وصف دی يعني ډير خلق پيدائشي طور خيرن وي تردي چې ددوئ تربيت اوشي او بيا ددوئ مخه نيکو ته اوګرځولی شي نو په دي وجه ددوئ په شرم او حياء کې مزيد اضافه کيږي اوهمدا په اسلام کې مطلوب دي په دي کې ددي خبري جواب هم اوشو چې حياء خو يو فطري څيز دی اوفطري څيزغيراختياري وي نوچې کله غير اختياري شوه نو په دي باندي ثواب څنګه ملاويږي نو دلته ددي جواب اوشو چې کومه فطري حياء وي هغه دلته مراد نه ده بلکه هغه فطري حياء مراد ده دکومي سره چې مزيد اضافه شوي وي او اختياري ګرځولی شوي وي هغه يې دايمان جزء ګنړلی دی.

****

٨_بَاب مَا جَاءَ فِي حُرْمَةِ الصَّلَاةِ

دمونځ دتقدس او فضيلت بيان

٢٦١٦_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ الصَّنْعَانِيُّ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ أَبِي النَّجُودِ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، قَالَ: كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ، فَأَصْبَحْتُ يَوْمًا قَرِيبًا مِنْهُ وَنَحْنُ نَسِيرُ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ، وَيُبَاعِدُنِي عَنِ النَّارِ، قَالَ: "لَقَدْ سَأَلْتَنِي عَنْ عَظِيمٍ وَإِنَّهُ لَيَسِيرٌ عَلَى مَنْ يَسَّرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ، تَعْبُدُ اللَّهَ وَلَا تُشْرِكْ بِهِ شَيْئًا، وَتُقِيمُ الصَّلَاةَ، وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ، وَتَصُومُ رَمَضَانَ، وَتَحُجُّ الْبَيْتَ" ثُمَّ قَالَ: "أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى أَبْوَابِ الْخَيْرِ: الصَّوْمُ جُنَّةٌ، وَالصَّدَقَةُ تُطْفِئُ الْخَطِيئَةَ كَمَا يُطْفِئُ الْمَاءُ النَّارَ، وَصَلَاةُ الرَّجُلِ مِنْ جَوْفِ

اللَّيْلِ، قَالَ ثُمَّ تَلَا: تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ (السجدة :١٦ حَتَّى بَلَغَ يَعْمَلُونَ (السجدة :١٩. ثُمَّ قَالَ: "أَلَا أُخْبِرُكَ بِرَأْسِ الْأَمْرِ كُلِّهِ وَعَمُودِهِ وَذِرْوَةِ سَنَامِهِ؟" قُلْتُ: بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ. قَالَ: "رَأْسُ الْأَمْرِ الْإِسْلَامُ، وَعَمُودُهُ الصَّلَاةُ، وَذِرْوَةُ سَنَامِهِ الْجِهَادُ". ثُمَّ قَالَ: "أَلَا أُخْبِرُكَ بِمَلَاكِ ذَلِكَ كُلِّهِ؟" قُلْتُ: بَلَى يَا نَبِيَّ اللهِ. فَأَخَذَ بِلِسَانِهِ قَالَ: "كُفَّ عَلَيْكَ هَذَا". فَقُلْتُ: يَا نَبِيَّ اللهِ وَإِنَّا لَمُؤَاخَذُونَ بِمَا نَتَكَلَّمُ بِهِ؟ فَقَالَ: "ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ يَا مُعَاذُ وَهَلْ يَكُبُّ النَّاسَ فِي النَّارِ عَلَى وُجُوهِهِمْ أَوْ عَلَى مَنَاخِرِهِمْ إِلَّا حَصَائِدُ أَلْسِنَتِهِمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : معاذ رضي الله عنه نه روايت دی چې ما عرض اوکړو يا رسول الله داسې کار راته اوښايه چې جنت ته مې بوځي اودوزخ نه مې لرې کړي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل..... دېر اوچت (ګران) کار تپوس دې اوکړو ليکن چې الله تعالي يې چاته اسان کړي نو ډير اسان دی هغه دادی خالص دالله جل جلاله عبادت کوه هيڅ بل شی ورسره مه شريکوه مونځ پابندئ سره کوه زکات ورکوه، درمضان روژې نيسه او حج کوه که دورتلو طاقت دې وو بيايې اوفرمائيل ايا دنيکئ دروازې درته اونه ښايم، روژه دګناهونو ډال دی او خيرات ګناهونه داسې ختموي لکه اوبه چې اور مړ کوي اودنيمې شپې مونځ (تهجد هم ګناهونه ختموي) بيايې ددی ايت تلاوت اوکړو "تتجا في جنوبهم عن المضاجع" تر يعملون پورې بيايې اوفرمائيل ايا ددين دکار بنيادونه اوستنې او داوښ کوهان يعنې دهغه بلندي او اعلي درجې درته اونه ښايم ما عرض اوکړو يا رسول الله ضرور يې راته اوښايه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ددين بنياد اسلام دی يعني دالله اورسول اطاعت اوستنې يې مونځ دی او اوچته څوکه يې جهاد دی بيايې اوفرمائيل ايا هغه شی درته اونه ښايم چې دا ټول يې په قبضه کې دي ما عرض اوکړو ضرور يې راته اوښايه يا سول الله رسول الله صلي الله عليه وسلم خپلې ژبې مبارکې ته اشاره اوکړه دا په قبضه کې کړه ما عرض اوکړو يا رسول الله په خبرو به هم نيولې شو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل معاذه مور درباندې بوره شه ددې ژبې دلاسه خو خلق مرمخې اور کې غورزولې شي.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دی.

لغات : مضاجع دمضجع جمع ده معني خوابګاه دباب فتح نه .

تشريح : په دې حديث کې داسلامي ارکانو اهميت بيان شوی دی چې هر يو رکن پخپل ځای خاص اهميت لري.

---

1 ـ سنن ابن ماجه/الفتن ١٢ (٣٩٧٣) (تحفة الأشراف : ١١٣١١)

انالمواخذون بمانتكلم به: يعني مونږ چې كومي خبري كوو ايا په دي به مونږ نيولى كيږو؟ دلته دا بيانيږي كه دژبي حفاظت اونه شي نو ددي په ذريعه دانسان تمام اعمال صالحه بربادېږي او بيا جنت ته دتلو په ځاي جهنم ته رسيږي، يو بزرګ وائي خپلي خبري دمال پشان محفوظ ساته چې كله يي خرچ كوي نو ګوره او په سوچ سمج سره يي خرچ كوه.

****

٢٦١٧_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ دَرَّاجٍ أَبِي السَّمْحِ، عَنْ أَبِي الْهَيْثَمِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا رَأَيْتُمُ الرَّجُلَ يَتَعَاهَدُ الْمَسْجِدَ فَاشْهَدُوا لَهُ بِالْإِيمَانِ فَإِنَّ اللَّهَ تَعَالَى يَقُولُ: إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ (التوبة :١٨ "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. ([1])

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چې تاسو وليدل چې يو كس دمسجد سره تعلق ساتي نو تاسو دده دپاره په ايمان ګواهي وركړئ ځكه چې الله تعالي فرمائيلي دي " إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ " يعني يقينا تعمير دمساجدو هغه څوك كوي چې په الله تعالي او په ورځ داخرت ايمان لري او قائموي مونځونه او اداء كوي زكاتونه.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي.

****

٩_بَاب مَا جَاءَ فِي تَرْكِ الصَّلَاةِ

دمونځ په پريخودلو دوعيد بيان

٢٦١٨_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، وَأَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي سُفْيَانَ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " بَيْنَ الْكُفْرِ وَالْإِيمَانِ تَرْكُ الصَّلَاةِ "، حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَسْبَاطُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنِ الْأَعْمَشِ، بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ، وَقَالَ: " بَيْنَ الْعَبْدِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ أَوِ الْكُفْرِ تَرْكُ

---

[1] ـ سنن ابن ماجه/المساجد ١٨ (٨٠٢) (تحفة الأشراف : ٤٠٥٠)

الصَّلَاةِ".([1])

ترجمه : د جابر رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي.
د ايمان او كفر مينځ كي فرق كونكي شي مونځ پريښودل دي.
امام ترمذي وايي: اثبات هم په مذكوره سند داعمش نه دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي او فرمائيلي يي دي چي دبنده او دشرك او كفر مينځ كي فرق مونځ پريخودل دي.
تشريح: په پورتني حديث كې دمونځ په پريخودو سخت وعيد راغلى دى او په همدي وجه اهل ظواهرو قول كړى دى چې مونځ پريخودونكى كافر كيږي او دامام شافعي په نزد او امام مالك په نزد كافر كيږي خو نه ليكن سزا يي قتل ده او دامام ابوحنيفه په نزد بـه ددي مرتكب جيـل تـه ليږلى شي.

****

٢٦١٩_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَسْبَاطُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنِ الأَعْمَشِ بِهَذَا الإِسْنَادِ، نَحْوَهُ. وَقَالَ:"بَيْنَ الْعَبْدِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ أَوِ الْكُفْرِ تَرْكُ الصَّلَاةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو سُفْيَانَ اسْمُهُ طَلْحَةُ بْنُ نَافِعٍ.([2])

ترجمه : د اعمش نه هم په مذكوره سند د ماقبل هم معني روايت مروي دي چي فرمائيل يي:
د بنده اود كفر او شرك مينځ كي فرق كونكي شي مونځ پريښودل دي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او دابوسفيان نوم طلحه بن نافع دي.

****

٢٦٢٠_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "بَيْنَ الْعَبْدِ وَبَيْنَ الْكُفْرِ تَرْكُ الصَّلَاةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو الزُّبَيْرِ اسْمُهُ: مُحَمَّدُ بْنُ مُسْلِمِ بْنِ تَدْرُسَ.([3])

ترجمه : د جابر رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي

---

[1] _ مسلم/الإيمان ٣٥ (٨٢) . سنن ابي داود/ السنة ١٥ (٤٦٧٨) . سنن النسائي/الصلاة ٨ (٤٦٥) . سنن ابن ماجه/الإقامة ٧٧ (١٠٧٨) (تحفة الأشراف : ٢٣٠٢) . و مسند احمد (٣/٣٧٠)

[2] _ صحيح مسلم/الإيمان ٣٥ (٨٢) . سنن ابي داود/ السنة ١٥ (٤٦٧٨) . سنن النسائي/الصلاة ٨ (٤٦٥) . سنن ابن ماجه/الإقامة ٧٧ (١٠٧٨) (تحفة الأشراف : ٢٣٠٢) . و مسند احمد (٣/٣٧٠)

[3] _ انظر ماقبله (تحفة الأشراف : ٢٧٤٦)

د مومن او كافرانو ترمينځه فرق مونځ پرېښودل دی
امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دی .اود ابو الزبير نوم محمد بن مسلم بن تدرس دی.
لغات : كفر: كفر يكفر كفرا او كفرانا ، دنصر نه الشيء معني پټول ديو شي، لكه كفر درعه بثوبه يعني خپله زغره يي په جامه پټه كړله كفرا او كفرانا دايمان ضد دي بالخالق . نفي كول ، او ناشكري كول او بيزار كيدل، مكافرة انكار كول ، اكفر كفر اختيارول.

****

٢٦٢١ـحَدَّثَنَاأَبُو عَمَّارٍ الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، وَيُوسُفُ بْنُ عِيسَى، قَالَا: حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنِ الْحُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ. ح وَحَدَّثَنَاأَبُو عَمَّارٍ الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، وَمَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ، عَنْ أَبِيهِ. ح وَحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَلِيِّ بْنِ الْحَسَنِ بْنِ شَقِيقٍ، وَمَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحَسَنِ بْنِ شَقِيقٍ، عَنِ الْحُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْعَهْدُ الَّذِي بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمُ الصَّلَاةُ فَمَنْ تَرَكَهَا فَقَدْ كَفَرَ" ، وفِي الباب عن أَنَسٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. ([1])

ترجمه : دبريده رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زمونږ او كافرانو ترمينځه چې كومه وعده ده هغه مونځ دی چاچې مونځ ترك كړو كافر شو.
امام ترمذي وايي: او په دي باب كي دانس او ابن عباس رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي او دا حديث حسن صحيح غريب دي.
تشريح : العهد الذي بيننا وبينهم الصلاة. يعني زمونږ ددوئ په مينځ كې عهد دي هغه مونځ دي.

****

٢٦٢٢ـحَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَقِيقٍ الْعُقَيْلِيِّ، قَالَ: "كَانَ أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، لَا يَرَوْنَ شَيْئًا مِنَ الْأَعْمَالِ تَرْكُهُ كُفْرٌ غَيْرَ الصَّلَاةِ" ، قَالَ أَبُو عِيسَى: سَمِعْت أَبَا مُصْعَبٍ الْمَدَنِيَّ، يَقُولُ: مَنْ قَالَ الْإِيمَانُ قَوْلٌ يُسْتَتَابُ فَإِنْ تَابَ وَإِلَّا

[1] ـ سنن النسائي/الصلاة ٨ (٤٦٣) . سنن ابن ماجه/الإقامة ٧٧ (١٠٧٩) (تحفة الأشراف : ١٩٦٠) . و مسند احمد (٥/٣٤٦.

ضُرِبَتْ عُنُقُهُ. (١)

ترجمه : دعبدالله بن شقيق عقيلي بيان دي فرمائي چې محمد صلي الله عليه وسلم په صحابه كرامو كي به هيڅا داعمالو په پريښودلو چاته دكفر نسبت نه كولو مګر علاوه دمونځ نه.

امام ترمذي وايي: دابومصعب مدني نه مي اوريدلي دي وئيل يي كه څوك داسي وائي چې ايمان صرف اقوالو سره تعلق لري (او داعمالو سره يي تعلق نشته) نو داسي كس ته دي دتوبي پيشكش اوكړي شي كه توبه يي اوويستله ډيره ښه ده او كه توبي ويستلو ته تيار نه وي نو دده څټ دي په توره اووهلي شي.

****

١٠_بَاب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٢٦٢٣_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ ابْنِ الْهَادِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، عَنِ الْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "ذَاقَ طَعْمَ الْإِيمَانِ مَنْ رَضِيَ بِاللَّهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (٢)

ترجمه : دعباس بن عبدالمطلب رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې ما دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي فرمائيل يي چې يقينا هغه چا دايمان خوند اوڅكلو څوك چې راضي شو په الله تعالي درب په حيثيت او په اسلام باندي ددين په حيثيت او په محمد صلي الله عليه وسلم باندي دنبي په حيثيت.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٦٢٤_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ وَجَدَ بِهِنَّ طَعْمَ الْإِيمَانِ: مَنْ

---

[1] _ تفرد به المؤلف

[2] _ صحيح مسلم/الإيمان ١١(٣٤) (تحفة الأشراف: ٥١٢٦)، و مسند احمد (١/٢٠٨)

كَانَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا، وَأَنْ يُحِبَّ الْمَرْءَ لَا يُحِبُّهُ إِلَّا لِلَّهِ، وَأَنْ يَكْرَهَ أَنْ يَعُودَ فِي الْكُفْرِ بَعْدَ إِذْ أَنْقَذَهُ اللَّهُ مِنْهُ كَمَا يَكْرَهُ أَنْ يُقْذَفَ فِي النَّارِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ قَتَادَةُ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.[1]

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي دری خويونه داسي دي چې دا په چا کې وي دايمان په خوږو به پوه شي ، اول چې الله او رسول سره هر څه نه زياته مينه لري ، دويم ، چې يو سړي سره خالص دالله درضاء دپاره مينه لري ، دريم چې کفر ته واپس کيدل ورته پس ددی نه چې الله تري خلاص کړو داسی بد ښکاري لکه څوك چې په اور کې غورځوي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي دارنګي دا روايت قتاده هم دانس بن مالك په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه نقل کړي دي.

لغات : انقذه: نقذ نقذا ونقذ وانقذ فلانا من کذا. په معني دنجات ورکولو دي . قذف دضرب نه په معني دقي کولو دي.

تشريح : "طعم الايمان" يعني دايمان خوږوالی اودالله اودرسول درضا دپاره لوي لوي تکليفونه برداشت کول مراد دي او دبعضي علماؤ په نزد اخرت ته په دنيا ترجيح ورکول مراد دي' مَنْ كَانَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا، دالله تعالي سره خويه ځکه محبت ساتي چې هغه رب الارباب او منعم حقيقي دی تمام نعمتونه دهغه دفضل او کرم سره وابسته دي.
اودنبي کريم صلي الله عليه وسلم سره به ځکه محبت ساتي چې هغه دروحاني علومو او انعامات الهيه واسطه ده.(شرح رياض الصالحين)

****

١١_ باب مَا جَاءَ لَا يَزْنِي الزَّانِي وَهُوَ مُؤْمِنٌ

يو مومن دمومن کيدو په حالت کي زنا نه کوي

٢٦٢٥_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا عَبِيدَةُ بْنُ حُمَيْدٍ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَزْنِي الزَّانِي حِينَ يَزْنِي وَهُوَ مُؤْمِنٌ، وَلَا يَسْرِقُ

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع /الإيمان ٩ (١٦) و ١٣ (٢١) . والأدب ٤٢ (٦٠٢١) . ووالإكراه١ (٦٩٤١) . مسلم /الإيمان ١٥ (٤٣) النسائي/الإيمان ٢ (٤٩٩٠) . و ٣ (٤٩٩١) . ابن ماجه/الفتن ٢٣ (٤٠٣٣) (تحفة الأشراف : ٩٣٦) . و مسند احمد (٣/١٠٣، ١١٣. ١٧٢. ١٧٤. ٢٣٠. ٢٤٨. ٢٧٥. ٢٨٨)

السَّارِقُ حِينَ يَسْرِقُ وَهُوَ مُؤْمِنٌ، وَلَكِنِ التَّوْبَةَ مَعْرُوضَةٌ"، وفي الباب عن ابْنِ عَبَّاسٍ، وَعَائِشَةَ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِذَا زَنَى الْعَبْدُ خَرَجَ مِنْهُ الْإِيمَانُ فَكَانَ فَوْقَ رَأْسِهِ كَالظُّلَّةِ فَإِذَا خَرَجَ مِنْ ذَلِكَ الْعَمَلِ عَادَ إِلَيْهِ الْإِيمَانُ"، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيٍّ أَنَّهُ قَالَ فِي هَذَا: خَرَجَ مِنَ الْإِيمَانِ إِلَى الْإِسْلَامِ. وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: "فِي الزِّنَا وَالسَّرِقَةِ مَنْ أَصَابَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا فَأُقِيمَ عَلَيْهِ الْحَدُّ فَهُوَ كَفَّارَةُ ذَنْبِهِ وَمَنْ أَصَابَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا فَسَتَرَ اللهُ عَلَيْهِ فَهُوَ إِلَى اللهِ إِنْ شَاءَ عَذَّبَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَإِنْ شَاءَ غَفَرَ لَهُ"، رَوَى ذَلِكَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ، وَعُبَادَةُ بْنُ الصَّامِتِ، وَخُزَيْمَةُ بْنُ ثَابِتٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. ([1])

ترجمه : د ابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چې زناكار زنا كوي نو دزنا كولو په وخت كي دده سره ايمان باقي نه پاتي كيږي او كله چې غل غلا كوي نو دغلا كولو په وخت كي دده سره ايمان موجود نه وي ليكن ددينه پس هم د توبي دروازه پرانيستلي وي.

امام ترمذي وايي: په دي سند دابوهريره حديث حسن صحيح غريب دي، او په دي باب كي دابن عباس، عائشه، او عبدالله بن ابي اوفي، رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او دابوهريره نه دي باره كي يو بل حديث مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چې يو كس زنا كوي نو ايمان دده نه راوځي او دده په سر دچترۍ پشان دپاسه زورند وي او كله چې ددي گنده كار نه فارغ شي نو ايمان ورته واپس راشي، دابوجعفر محمد بن علي بيان دي فرمائي چې كله زنا كار داسي حركت كوي ايمان دده نه اوځي او صرف مسلم پاتي شي، دعلي بن ابي طالب، عباده بن صامت، او خزيمه بن ثابت رضي الله عنهم نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم دزناكار او غل باره كي فرمائيلي دي كه چري يو كس ددي قسم گناه ارتكاب اوكړي او بياورباندي حد جاري كړي شي نو حد جاري كيدل به دده دگناه كفاره وي او كه ديو كس نه په دي سلسله كي كومه گناه اوشي او بيا ورباندي الله تعالي پرده واچوي نو دده مغفرت او عدم مغفرت دالله تعالي په مشيت پوري منحصر دي كه الله اوغواړي نو دقيامت په

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الإيمان ٣٠ (٢٤٧٥) . والأشربة ١ (٥٥٧٨) . والحدود ٢ (٦٧٧٢) . و٢٠ (٦٨١٠) . صحيح مسلم/الإيمان ٢٣ (٥٧) . سنن ابي داود/ السنة ١٦ (٤٦٨٩) . سنن النسائي/قطع السارق ١ (٤٨٨٦) . والأشربة ٤٢ (٥٦٧٥) (تحفة الأشراف : ١٢٥٣٩) . و مسند احمد (٢/٢٤٣، ٣٧٦، ٣٨٦، ٤٧٩)

ورځ به ورته عذاب ورکړي او که اوغواړي نو معافي به ورته اوکړي.

****

٢٦٢٦_حَدَّثَنَا أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ أَبِي السَّفَرِ وَاسْمُهُ: أَحْمَدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْهَمْدَانِيُّ الْكُوفِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ يُونُسَ بْنِ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيِّ، عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ، عَنْ عَلِيٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ أَصَابَ حَدًّا فَعُجِّلَ عُقُوبَتَهُ فِي الدُّنْيَا فَاللهُ أَعْدَلُ مِنْ أَنْ يُثَنِّيَ عَلَى عَبْدِهِ الْعُقُوبَةَ فِي الْآخِرَةِ، وَمَنْ أَصَابَ حَدًّا فَسَتَرَهُ اللهُ عَلَيْهِ وَعَفَا عَنْهُ فَاللهُ أَكْرَمُ مِنْ أَنْ يَعُودَ فِي شَيْءٍ قَدْ عَفَا عَنْهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ، وَهَذَا قَوْلُ أَهْلِ الْعِلْمِ لَا نَعْلَمُ أَحَدًا كَفَّرَ أَحَدًا بِالزِّنَا أَوِ السَّرِقَةِ وَشُرْبِ الْخَمْرِ.[1]

ترجمه: دعلي بن ابي طالب رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچې گناه اوکړه او دگناه دجرم سزا ورته ورکړې شوه نو الله تعالي ددينه زيات انصاف خوښونکي دي چې هغه دي خپل بنده ته په اخرت کي دوباره سزا ورکړي او چاچې کومه گناه اوکړه او الله تعالي په هغه باندي پرده واچوله او معافي يي ورته اوکړه نو دالله تعالي کرم ددينه ډير زيات دي چې هغه دوباره په هغي گناه دخپل بنده مؤاخذه اوکړي کومه چې هغه مخکي معاف کړي وي.

امام ترمذي وايي داحديث حسن غريب صحيح دي او په همدي اهل علمو قول کړي دي او مونږ ته هيڅوك داسي نه دي معلوم چې د زناکار او غل او شرابي تکفير يي کړي دي

****

١٢_بَابُ مَا جَاءَ فِي أَنَّ الْمُسْلِمَ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ

کامل مسلمان هغه څوك دي دچا دلاس او دژبي دضرر نه چې نور مسلمانان محفوظ وي

٢٦٢٧_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنِ الْقَعْقَاعِ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ، وَالْمُؤْمِنُ مَنْ أَمِنَهُ النَّاسُ عَلَى دِمَائِهِمْ وَأَمْوَالِهِمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَيُرْوَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ سُئِلَ أَيُّ الْمُسْلِمِينَ أَفْضَلُ؟ قَالَ: "مَنْ سَلِمَ

---

[1] ـ سنن ابن ماجه/الحدود ٣٣ (٢٦٠٣) (تحفة الأشراف: ١٠٣١٣)

الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ". وفي الباب عن جَابِرٍ، وَأَبِي مُوسَى، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو. (1)

ترجمه : د ابو هريره رضي الله عنه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي. كامل مسلمان هغه څوک دی دچا دلاس او ژبي نه چي نور مسلمانان محفوظ وي او مومن صرف هغه څوک دی چالره چي خلقو دخپليويني او مال په معامله کي امين ګرځولی وي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دجابر، ابوموسي، او عبدالله بن عمرو رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مروي دي چي تپوس ورنه اوکړي شو په ټولو کي بهتر مسلمان څوک دي نو ويې فرمائيل دچا دژبي او دلاس دضرر نه چي مسلمانان محفوظ وي.

لغات:سلم: سلم سلامة دسمع نه په معني دمحفوظ کيدو او بري کيدو دي.

تشريح: المسلم، په المسلم کي الف لام عهدي دی يعني المسلم الکامل يعني کامل مسلمان؟

سوال: په پورتني حديث کي د المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده مطلب دادی چي سړی به صرف خلقو ته تکليف نه ورکوي برابره خبره ده چي مونځ کوي او که نه روژي نيسي او که نه نيسي خو دی کامل مسلمان دی.

جواب: ابن حجر وائي په داسي روايتونو کي مع مراعات باقي الارکان قيد مقدر دی يعني دباقي پاتي نورو ارکانو رعايت به هم کوي.

سوال: ايا غيرمسلم وغيره ته نقصان ورکول جائز دي حال دادی چي په احاديثو کي خو ددينه هم ممانعت راغلی دی.

جواب: دلته يي داکثريت په اعتبارسره وئيلي دي ځکه چي دمسلمانانو اکثره واسطه دمسلمانانو سره راتلی شي يا د مسلمان قيد ددوئ دعظمت شان په اعتبار سره دی ، دمحارم کافر نه علاوه هيچاته نقصان رسول درست نه دي.

من لسانه، په دي کي کنځل کول لعن طعن کول او بهتان وغيره ټول شامل دي.

من يده، په دي کي وژل قتل کول دفع کول وغيره ټول شامل دي.

سوال: دلاس تخصيص ولي شوی دی ځکه چي ضرر خو په نورو اعضاؤ سره هم ورکولی کيدی شي.

جواب: اکثر افعال په لاسونو کي کيږي ځکه يي دلته دلاس تخصيص کړی دی.

سوال: لسان په يد ولي مقدم کړی شوی دی.

---

1 _ سنن النسائي/الإيمان ٨ (٤٩٩٨) (تحفة الأشراف : ١٢٨٦٣) ، ومسند احمد (٢/٣٧٩)

جواب: دژبي نه تکليف زيات او عام دي ځکه چې په دي باندي حاضر او غيرحاضر دواړه نشانه کيدی شي په خلاف دلاس چې په دي باندي صرف حاضر نشانه کيدی شي په همدي باره کې علامه بدرالدين عيني دا شعر ليکلی دی.

جراحات السنان لها التيام　　ولا يلتام ما جرح اللسان

يعني دتورو او نيزو زخمونه جوړيږي خو دژبي زخمونه نه جوړيږي.

د توري سل پرهاره جوړ شي　　د ژبي زخم تر قيامته پوري وينه

****

۲٦۲۸ـحَدَّثَنَا بِذَلِكَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعِيدٍ الْجَوْهَرِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ جَدِّهِ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ أَيُّ الْمُسْلِمِينَ أَفْضَلُ ؟ قَالَ: " مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ حَسَنٌ مِنْ حَدِيثِ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (1)

ترجمه : ابوموسي رضي الله عنه نه روايت دی چې ما عرض اوکړو يا رسول الله په مسلمانانو کې افضل څوک دی، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دچا دژبی اولاس نه چې نور مسلمانان محفوظ وي، يعني چې چاته په ژبه يالاسو څه نقصان نه رسوي.

امام ترمذي وايي: داحديث دابو موسي اشعري په روايت چې دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي صحيح غريب حسن دي.

لغات : لسان : معني ژبه جمع يي السنة راځي ، يد معني لاس جمع يي ايادي راځي.

تشريح : من سلم المسلمون: په دي کې کفار او حيوانات هم داخل دي ليکن مسلمانان يې دعظيم الشان کيدو په وجه خاص کړي دي.

لسانه: په ژبه کنځلي کول، لعن طعن کول، بهتان او غيبت کول ټول په دي کې داخل دي علماء وائي چې لسانه يي اوفرمائيل او قوله يي اونه فرمائيل ځکه چې قوله صرف دوئيلو سره تعلق لري پدي کې خو ژبه خوزول داخل نه شول

يده په دي کې وژل او قتل کول وغيره ټول داخل دي.

سوال تکليف خو دنورو اعضاؤ نه هم رسيدی شي نو دلته يي صرف ژبه او لاس ولي ذکر کړل

جواب: ددي دواړو نه ضرر زيات رسيږي ځکه يي دا ذکر کړي دي.

سوال: ژبه په لاس ولي مقدم کړی شوي ده؟ ددي دوه جوابونه دي.

---

1 ـ انظر حديث رقم: ۲٥۰۲

اول جواب: په ژبې سره چې كوم تكليف وركولى شي هغه حاضر او غائب دواړو ته رسيدى شي په خلاف دلاس څكه چې په لاس سره صرف حاضر ته تكليف وركولى شي غائب ته نه شي.
دويم جواب: دژبې زخم دلاس دزخم نه زيات شديد وي.

سوال: دحديث دالفاظو "من سلم المسلمون من لسانه ويده. نه معلوميږي چې څوك چاته ضرر نه رسوي هغه مسلمان دى برابره خبره ده چې مونځ نه كوي يا روژه نه نيسي حال دادى چې دا قول صحيح نه دى ددي هم دوه جوابونه دي.
اول جواب: علامه ابن حجر وائي ددينه مراد مع مراعات باقي الاركان. قيد دى يعني چې باقي تمام اركان هم ادا كړي.
دويم جواب: دلته يي داهميت په پيش نظر دا بيان كړى دى او ددينه دباقي احكامو او اركانو نفي مراد نه ده.

****

١٣_ بَابٌ مَا جَاءَ أَنَّ الإِسْلَامَ بَدَأَ غَرِيبًا وَسَيَعُودُ غَرِيبًا

اسلام د نا اشناوالي په حالت كي راغلي وو او د نا اشناوالي په حالت كي به واپس ځي

٢٦٢٩_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي الأَحْوَصِ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ الإِسْلَامَ بَدَأَ غَرِيبًا وَسَيَعُودُ غَرِيبًا كَمَا بَدَأَ، فَطُوبَى لِلْغُرَبَاءِ". وفي الباب عن سَعْدٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَجَابِرٍ، وَأَنَسٍ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ مَسْعُودٍ إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ، عَنِ الأَعْمَشِ، وَأَبُو الأَحْوَصِ اسْمُهُ: عَوْفُ بْنُ مَالِكِ بْنِ نَضْلَةَ الْجُشَمِيُّ تَفَرَّدَ بِهِ حَفْصٌ. (1)

ترجمه: دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي اسلام داجنبي توب په حالت كي راغلي وو او د اجنبي توب په حالت كي به عنقريب واپسي اوكړي لهذا په داسي وخت كي په دي باندي دقائم پاتي كيدونكو غرباؤ دپاره زيري او مباركي ده

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي، او په دي باب كي دسعد، ابن عمر، جابر، او عبدالله بن عمرو رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او دا حديث ماته صرف

---

1 _ سنن ابن ماجه/الفتن ١٥ (٣٩٨٨) (تحفة الأشراف: ٩٥١٠) . و مسند احمد (١/٣٩٨) . وسنن الدارمي/الرقاق ٤٢ (٢٧٩٤)

دحفص بن عياث په روايت چې داعمش په واسطه يې نقل كوي رارسيدلې دي او دابو الاحوص نوم عوف بن مالك بن فضله جشمي دي، او ابوحفص ددې حديث په نقل كولو كې منفرد دي.

****

٢٦٣٠ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ أَبِي أُوَيْسٍ، حَدَّثَنِي كَثِيرُ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَوْفِ بْنِ زَيْدِ بْنِ مِلْحَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِنَّ الدِّينَ لَيَأْرِزُ إِلَى الحِجَازِ كَمَا تَأْرِزُ الحَيَّةُ إِلَى جُحْرِهَا، وَلَيَعْقِلَنَّ الدِّينُ مِنَ الحِجَازِ مَعْقِلَ الأُرْوِيَّةِ مِنْ رَأْسِ الجَبَلِ، إِنَّ الدِّينَ بَدَأَ غَرِيبًا وَيَرْجِعُ غَرِيبًا، فَطُوبَى لِلْغُرَبَاءِ الَّذِينَ يُصْلِحُونَ مَا أَفْسَدَ النَّاسُ مِنْ بَعْدِي مِنْ سُنَّتِي". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه: دعمرو بن عوف رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي يو داسې وخت به راشي چې اسلام دين به حجاز ته ورټول شي لكه مار چې خپلې سوړې ته ننوتلو وخت كې ورټولېږي او يقينا دين به حجاز ته په راتلو سره داسې محفوظ شي لكه څرنګه چې دغره چيلۍ دمحفوظ كيدو دپاره دغرونو ډېركو ته ورخيژي او دين په اجنبي حالت كې راغلې وو او په همدې اجنبي حالت كې به واپس كيږي مګر زيرې او مباركي ده دداسې ګمنام مصلحينو دپاره څوك چې به زما نه پس زما په سنتو كې دخلقو پيداكړو نقصاناتو اصلاح كوي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

١٤ـ بَاب مَا جَاءَ فِي عَلَامَةِ الْمُنَافِقِ

دمنافق دعلاماتو بيان

٢٦٣١ـ حَدَّثَنَا أَبُو حَفْصٍ عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ قَيْسٍ، عَنِ العَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " آيَةُ المُنَافِقِ ثَلَاثٌ: إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ، وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ العَلَاءِ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٧٧٨)

وفي الباب عن ابْنِ مَسْعُودٍ، وَأَنَسٍ، وَجَابِرٍ.[1]

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دمنافق دري نښي دي: اول چې خبره کوي دروغ وائي .دويم دا چې وعده وکړي خلاف يې کوي. دريم داچې امانت ورسره کيخودی شي خيانت پکې کوي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي دعلاء په روايت او دابوهريره په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم مروي دي او په دي باب کي دابن مسعود او انس او جابر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارددي.

لغات: كذب كذبا دضرب نه د ضرب نه په معني ددروغ وئيلو او په قصد سره دروغ خبر ورکول.

خَلَف او خلف خلفا دسمع نه معني وعده نه پوره كول.

خان: خان خَونا وخيانة دنصر نه په معني خيانت كولو په امانت كي.

تشريح: په يو روايت کې دا توته ورسره ده (داسي سړی منافق دی) اګر چې روژه نيسي او مونځ کوي او ځان مسلمان ګڼي.

منافق هغه چاته وئيلي شي څوك چې په ژبه داسلام اظهار کوي ليکن په زړه کې يي کفر پټ پروت وي ، نفاق په ګناه کې دکفر نه سخت دي، همدا وجه چې الله په قران کې ددوئ دپاره سخته سزا بيان کړي ده.

ان المنافقين في الدرك الاسفل من النار، دلته دعهد نبوي منافقين مراد دي چې رسول الله ته يي دوحي په ذريعه خبر ورکړي شوي وو.

په دي خبره دعلماؤ اتفاق دي چې اعتقادي نفاق درسول الله په دور کې ختم شوي دي ليکن عملي نفاق په مسلمانانو کې اوس هم موندلي شي داد کفر نه په درجه کې کم دي، ليکن ځان ورنه ساتل ضروري دي.

سوال : په پورتني حديث کې دمنافقانو دري عادات بيان شوي دي اوپه بعضو کې څلور دي لکه اربع من كن فيه .

جواب: دري او څلور کيدل قيد اتفاقي دي ، دبعضو قول دي اول رسول الله دري بيان کړي وو بيا يي څلور بيان کړل

****

[1] ـ اورده البخاري في الصحيح /الإيمان ٢٤ (٣٣) . والشهادات ٢٨ (٢٦٨٢) . والوصايا ٨ (٢٧٤٩) . والأدب ٦٩ (٦٠٩٥) . صحيح مسلم/الإيمان ٢٥ (٥٩) . سنن النسائي/الإيمان ٢٠ (٥٠٢٤) (تحفة الأشراف : ١٣٠٩٦) . و مسند احمد (٢/٣٥٧)

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ أَبِي سُهَيْلِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو سُهَيْلٍ هُوَ عَمُّ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ وَاسْمُهُ: نَافِعُ بْنُ مَالِكِ بْنِ أَبِي عَامِرٍ الْأَصْبَحِيُّ الْخَوْلَانِيُّ. (1)

ترجمه : سهل بن مالك دخپل پلار په روايت دابوهريره په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه ددي هم معني روايت نقل كړي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث صحيح دي او ابو سهيل دمالك بن انس تره دي او دده نوم نافع بن مالك بن ابي عامر الاصبحي الخولاني دي.

****

٢٦٣٢_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ سُفْيَانَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُرَّةَ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " أَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ مُنَافِقًا، وَإِنْ كَانَتْ خَصْلَةٌ مِنْهُنَّ فِيهِ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنَ النِّفَاقِ حَتَّى يَدَعَهَا: مَنْ إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ، وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ، وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : عبدالله ابن عمرو ابن العاص رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څلور خويونه دي دا تول چې په چا كې وي نو پوخ منافق دى. اوكه ددى خويونو نه يو يكې وي نو دنفاق يوه نښه ده تردى چې لري يى كړي، يو هغه كس دي چې كله خبره كوي نو دروغ وائي، او كله چې وعده اوكړي نو بي لوظي كوي، كله چې يى جګړه وي كنځلى كوي او چې معاهده وكړي نو دوكه كوي.

امام ترمذي وايي. داحديث حسن صحيح دي.

لغات :منافق: نافق ينافق منافقة ونفاقا في دينه يعني په زړه كې كفر پټول او اسلام لره ښكاره كول. انفق: محتاج كيدل په مجردو كې دنصر او سمع نه راځي.

تشريح : په دي حديث كې دمنافقانو يو څو علامات بيان شوي دي، منافق دباب مفاعلي نه

---

1 _ انظر ماقبله (تحفة الأشراف: ١٣٣٤١)

2 _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الإيمان ٢٣ (٣٤). والمظالم ١٧ (٢٤٥٩). والجزية ١٧ (٣١٧٨)، صحيح مسلم/الإيمان ٢٥ (٥٨). سنن ابي داود/ السنة ١٦ (٤٦٨٨). سنن النسائي/ الإيمان ٢٠ (٥٠٢٣) (تحفة الأشراف: ٨٩٣١). و مسند احمد (١٨٩/٢، ١٩٨)

داسم فاعل صيغه ده معني مخالفت کونکی او په اصطلاح کې داسي کس ظاهرا مسلمان وي لیکن په باطن کې کافر وي.

سوال: ددینه په مخکني روایت کې دمنافقانو دري علامات او دلته څلور بیان شوي دي.

اول جواب: د دري مطلب دا نه دی چې ددینه زیاتیدی نه شي په مخکې کې دري بیان شوي دي دلته ورسره څلورم بیان شوي دي

دویم جواب: رسول الله ته اول د دري باره کې علم ورکړې شوی وو بیا ورته دڅلورم علم ورکړې شو څومره چې به ورته معلومه وه هغه هومره به یې بیانوله.

دریم جواب دموقع او محل په مناسبت سره چې به یې څومره ضرورت محسوس کړو نو دومره به یې بیان کړل.

سوال: که دا خصلتونه په مومن کې اوموندلی شي نو ایا دی به منافق وي ددي څلور جوابونه دي.

اول داامام نووي قول دی که دا علامات په مومن کې اوموندلی شي نو دی به دمنافق مشابه شي او په پورتني حدیث کې چې راغلي دي کان منافقا خالصا ددي مطلب دادی چې کان شدید الشبه بالمنافقین.

دویم جواب: که په مومن کې دا علامات اوموندلی شي نو دی به عملي منافق ګڼړلی شي دخطابي په قول په پورتني حدیث کې نفاق في العقیده مراد دی.

دریم جواب: دمسلمانانو یرول مقصود دي چې چرته ددي علاماتو په وجه منافقان نشي.

څلورم: شاه انورشاه کشمیري وائي په دي حدیث کې صرف علامات بیان شوي دي او دا لازمي نه ده چې چرته علامه وي هلته دي منافق هم وي لکه چې دتبي علامه چې دبدن ګرمائش دی دا ضروري نه ده چې کله بدن ګرم وي تبه دي ضرور وي ځکه چې نمر ته دکیناستو په وجه هم بدن حرارت پیدا کوي.

****

حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُرَّةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَإِنَّمَا مَعْنَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ نِفَاقُ الْعَمَلِ، وَإِنَّمَا كَانَ نِفَاقُ التَّكْذِيبِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، هَكَذَا رُوِيَ

عَنِ الْحَسَنِ الْبَصْرِيِّ شَيْءٌ مِنْ هَذَا أَنَّهُ قَالَ: النِّفَاقُ نِفَاقَانِ: نِفَاقُ الْعَمَلِ، وَنِفَاقُ التَّكْذِيبِ. ([1])

ترجمه : اعمش په مذكوره سند دعبدالله بن مره نه ددي هم معني روايت نقل كړي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او داهل علمو په نزد ددينه مراد نفاق في العمل دي او نفاق في التكذيب درسول الله صلي الله عليه وسلم په زمانه كي وو همدارنګي دحسن بصري نه هم ددي متعلق يو روايت مروي دي چي وئيل يي نفاق په دوه قسمه دي يو نفاق في العمل دي او يو نفاق التكذيب دي.

****

٢٦٣٣ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ طَهْمَانَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِ الأَعْلَى، عَنْ أَبِي النُّعْمَانِ، عَنْ أَبِي وَقَّاصٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا وَعَدَ الرَّجُلُ وَيَنْوِي أَنْ يَفِيَ بِهِ فَلَمْ يَفِ بِهِ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ، عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ الأَعْلَى ثِقَةٌ، وَلَا يُعْرَفُ أَبُو النُّعْمَانِ وَلَا أَبُو وَقَّاصٍ وَهُمَا مَجْهُولَانِ. ([2])

ترجمه : د زيد بن ارقم رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي يو سړي وعده اوكړي او اراده يي ددي دپوره كولو وي خو پوره يي نكړي شي نو داسي كس دالله تعالي په نزد ماخوذ نه دي.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي او سند يي دقوت حامل نه دي او علي بن عبدالاعلي ثقه راوي دي او ابو النعمان او ابو وقاص غير مشهور او مجهول راويان دي.

****

١٥ـ بَاب مَا جَاءَ سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوقٌ

مسلمان ته كنځل كول دګناه كار دي

٢٦٣٤ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بَزِيعٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْحَكِيمِ بْنُ مَنْصُورٍ الْوَاسِطِيُّ، عَنْ عَبْدِ

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الإيمان ٢٤ (٣٤) . والمظالم ١٧ (٢٤٥٩) . والجزية ١٧ (٣١٧٨) . صحيح مسلم/الإيمان ٢٥ (٥٨) . سنن ابى داود/ السنة ١٦ (٤٦٨٨) . سنن النسائي/الإيمان ٢٠ (٥٠٢٣) (تحفة الأشراف : ٨٩٣١) . و مسند احمد (١٨٩/٢، ١٩٨)

[2] ـ سنن ابى داود/ الأدب ٩٠ (٤٩٩٥) (تحفة الأشراف : ٣٦٩٣)

الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "قِتَالُ الْمُسْلِمِ أَخَاهُ كُفْرٌ، وَسِبَابُهُ فُسُوقٌ". وَفِي الْبَابِ عَنْ سَعْدٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُغَفَّلٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ مَسْعُودٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ رُوِيَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ. (1)

ترجمه: دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ديو مسلمان خپل يو مسلمان ورور سره قتل كول كفر دي او بي عزته كول يي ګناه ده.

امام ترمذي وايي: په دي باب كي دسعد، عبدالله بن مغفل رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي او دابن مسعود حديث حسن صحيح دي او دا روايت دابن مسعود رضي الله عنه نه په ډيرو سندونو مروي دي.

****

٢٦٣٥ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ زُبَيْدٍ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوقٌ، وَقِتَالُهُ كُفْرٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَمَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ: قِتَالُهُ كُفْرٌ لَيْسَ بِهِ كُفْرًا مِثْلَ الِارْتِدَادِ وَالْحُجَّةُ فِي ذَلِكَ مَا رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: "مَنْ قُتِلَ مُتَعَمِّدًا فَأَوْلِيَاءُ الْمَقْتُولِ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءُوا قَتَلُوا وَإِنْ شَاءُوا عَفَوْا". وَلَوْ كَانَ الْقَتْلُ كُفْرًا لَوَجَبَ الْقَتْلُ وَلَمْ يَصِحَّ الْعَفْوُ، وَقَدْ رُوِيَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَطَاوُسٍ، وَعَطَاءٍ، وَغَيْرِ وَاحِدٍ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ قَالُوا: كُفْرٌ دُونَ كُفْرٍ، وَفُسُوقٌ دُونَ فُسُوقٍ. (2)

ترجمه: ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي مسلمان ته بدرد وئيل يا كنځلی كول يعني دمسلمان بی عزتي كول غټه ګناه ده اودمسلمان سره جنګ كول كفر دی.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او د قتاله كفر معني داده چې دمرتدكيدو پشان كافر كيدل دلته مراد نه دي او ددي دليل دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دا حديث دي چې فرمائيل يي څوك چې قتل كړي يو مومن لره قصدا نو دمقتول وارثانو ته اختيار دي چې په

---

1 ـ انظر حديث رقم ١٩٨٣ (تحفة الأشراف: ٩٣٦٠)

2 ـ انظر حديث رقم ١٩٨٣

بدل كي ده لره قتل كوي او كه معافي ورته كوي نو كه چري چالره قتل كول كفر وي نو په بدل كي به قتل كول واجب وو او عفوه كول به جائز نه وو همدارنګي دابن عباس او طاوس او عطاء وغيره اكثرو اهل علمو قول دي چې دا خو كفر دي ليكن دكمتر درجي او فسق دي ليكن دوړي درجي فسق دي

لغات : سباب سبه سبا معني سخت كنځل ، او په مقعد كې په نيزه وهل ، الحبل معني رسۍ

تشريح : "سباب المسلم فسوق" يعني مسلمان ته كنځل كول ګناه ده مطلب دادی چې دالله په نزد دمسلمان عظمت او حرمت دومره لوي دی چې ده ته بد رد وئيل هم ګناه ده.
"قتاله كفر" يعني دمسلمان قتل كول كفر دی دلته دكفر نه مجازي معني مراد ده او په دي وجه علماء وائي ددي دا مطلب نه دی كه چا كوم مسلمان قتل كړو نو دی كافر شو بلكه ددي مطلب دادی چې په ګناه او حرمت كې قتل كول دكفر سره مشابه دي ددي جملي په سبب دقتل كولو ګناه واضح كول دي.

****

١٦_باب مَا جَاءَ فِيمَنْ رَمَى أَخَاهُ بِكُفْرٍ

خپل يو مسلمان وروړ ته دكفر د نسبت كولو دمما نعت بيان

٢٦٣٦_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ يُوسُفَ الأَزْرَقُ، عَنْ هِشَامٍ الدَّسْتُوَائِيِّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي قِلاَبَةَ، عَنْ ثَابِتِ بْنِ الضَّحَّاكِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَيْسَ عَلَى الْعَبْدِ نَذْرٌ فِيمَا لاَ يَمْلِكُ، وَلاَعِنُ الْمُؤْمِنِ كَقَاتِلِهِ، وَمَنْ قَذَفَ مُؤْمِنًا بِكُفْرٍ فَهُوَ كَقَاتِلِهِ، وَمَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِشَيْءٍ عَذَّبَهُ اللَّهُ بِمَا قَتَلَ بِهِ نَفْسَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ". وفي الباب عن أَبِي ذَرٍّ، وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه : دثابت بن ضحاك رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي لازم نه دي په يو بنده دهغه نذر پوره كول كوم چې دده په اختيار او وس كي نه وي او لعنت وئيل په مومن باندي دهغه دقتل كولو پشان دي او چاچې يو مومن ته دكفر نسبت اوكړو نو داسي ده لكه چې قتل يي كړئ او چاچې خپل نفس په يو څيز باندي قتل كړو

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الجنائز ٨٣ (١٣٦٣) ، والأدب ٤٤ (٦٠٤٧) ، و ٧٣ (٦١٠٥) ، والأيمان والنذور ٧ (٦٦٥٢) ، صحيح مسلم /الأيمان ٤٧ (١١٠) ، سنن ابي داود/ الأيمان ٩ (٣٢٥٧) ، سنن النسائي/الأيمان ٧ (٣٨٠١، ٣٨٠٢) ، و ٣١ (٣٨٤٤) (تحفة الأشراف : ٢٠٦٢) ، و مسند احمد (٣٣/٤، ٣٤) (وانظر ماتقدم عند المؤلف برقم ١٥٢٧)

(خودکشي يي اوکړه) نو دقيامت په ورځ به الله تعالي ده ته په همدغه څيز عذاب ورکوي.
امام ترمذي وايي: او په دي باب کي دابوذر او ابن عمر رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي او داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٦٣٧_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "أَيُّمَا رَجُلٍ قَالَ لِأَخِيهِ كَافِرٌ فَقَدْ بَاءَ بِهِ أَحَدُهُمَا". هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. وَمَعْنَى قَوْلِهِ بَاءَ يَعْنِي: أَقَرَّ.[1]

ترجمه : ابن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هر چاچې خپل يو مسلمان ورور ته اووئيل اي کافره نو يقينا چې په دي دواړو کي به يو په کفر کي مبتلا کيږي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي او د "باء" معني اقرار کول دي.

****

١٧_باب مَا جَاءَ فِيمَنْ يَمُوتُ وَهُوَ يَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ

دمرګ وخت کي دلا اله الا الله ګواهي ورکول

٢٦٣٨_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ عَجْلاَنَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ، عَنِ ابْنِ مُحَيْرِيزٍ، عَنِ الصُّنَابِحِيِّ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، أَنَّهُ قَالَ: دَخَلْتُ عَلَيْهِ وَهُوَ فِي الْمَوْتِ فَبَكَيْتُ، فَقَالَ: مَهْلًا لِمَ تَبْكِي؟ فَوَاللَّهِ لَئِنْ اسْتُشْهِدْتُ لَأَشْهَدَنَّ لَكَ، وَلَئِنْ شُفِّعْتُ لَأَشْفَعَنَّ لَكَ، وَلَئِنْ اسْتَطَعْتُ لَأَنْفَعَنَّكَ. ثُمَّ قَالَ: وَاللَّهِ مَا مِنْ حَدِيثٍ سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَكُمْ فِيهِ خَيْرٌ إِلَّا حَدَّثْتُكُمُوهُ، إِلَّا حَدِيثًا وَاحِدًا وَسَوْفَ أُحَدِّثُكُمُوهُ الْيَوْمَ وَقَدْ أُحِيطَ بِنَفْسِي، سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "مَنْ شَهِدَ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ النَّارَ". وفي الباب عن أَبِي بَكْرٍ، وَعُمَرَ، وَعُثْمَانَ، وَعَلِيٍّ، وَطَلْحَةَ، وَجَابِرٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَزَيْدِ بْنِ خَالِدٍ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ أَبِي عُمَرَ يَقُولُ: سَمِعْتُ ابْنَ عُيَيْنَةَ يَقُولُ: مُحَمَّدُ بْنُ عَجْلَانَ كَانَ ثِقَةً مَأْمُونًا فِي الْحَدِيثِ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَالصُّنَابِحِيُّ

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الأدب ٧٣ (٦١٠٣) . صحيح مسلم/الإيمان ٢٦ (٦٠) (تحفة الأشراف : ٧٢٣٣) ، والمؤطاء :الكلام ١(١) . و مسند احمد (٢/١٨، ٤٤، ٦٠)

هُوَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عُسَيْلَةَ أَبُو عَبْدِ اللهِ، وَقَدْ رُوِيَ عَنِ الزُّهْرِيِّ أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ". فَقَالَ: إِنَّمَا كَانَ هَذَا فِي أَوَّلِ الإِسْلَامِ قَبْلَ نُزُولِ الْفَرَائِضِ وَالأَمْرِ وَالنَّهْيِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَوَجْهُ هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنَّ أَهْلَ التَّوْحِيدِ سَيَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَإِنْ عُذِّبُوا بِالنَّارِ بِذُنُوبِهِمْ فَإِنَّهُمْ لَا يُخَلَّدُونَ فِي النَّارِ. وَقَدْ رُوِيَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ، وَأَبِي ذَرٍّ، وَعِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: "سَيَخْرُجُ قَوْمٌ مِنَ النَّارِ مِنْ أَهْلِ التَّوْحِيدِ وَيَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ". هَكَذَا رُوِيَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، وَإِبْرَاهِيمَ النَّخَعِيِّ، وَغَيْرِ وَاحِدٍ مِنَ التَّابِعِينَ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي تَفْسِيرِ هَذِهِ الآيَةِ: رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ كَانُوا مُسْلِمِينَ (الحجر :٢ قَالُوا: إِذَا أُخْرِجَ أَهْلُ التَّوْحِيدِ مِنَ النَّارِ، وَأُدْخِلُوا الْجَنَّةَ يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ كَانُوا مُسْلِمِينَ. ([1])

ترجمه : دصنابحي نه مروي دي فرمائي چې زه عباده بن صامت رضي الله عنه ته هغه وخت کي ورغلم کله چې هغه دمرګ په حالت کي وو ما چې اوليدلو نو په ژړا شوم هغه راته اووئيل بس بس ولي ژاړي زما دي په الله قسم وي که زما نه ګواهي طلب کړي شوه نو زه به په اخرت کي ستا په ايمانداري ګواهي ورکوم او که دشفاعت موقعه راته راکړي شوه نو ستا شفاعت به ضرور کوم او که وس مي اوشو نو تاته به ضرور څه فائده رسوم او بيا يي اووئيل په الله قسم داسي هيڅ يو حديث نشته چې مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي او په هغي کي ستاسو دپاره خيروي او ماتاسو ته بيان کړي نه وي، مګر علاوه ديو حديث نه او هغه زه نن تاسو ته بيانوم ځکه چې زما مرګ رانزدي شوي دي مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي وو چې فرمائيل يي : څوک چې ددی خبری ګواهي ورکړي چې داالله نه سوا هيڅوک دعبادت لائق نشته او رسول الله صلي الله عليه وسلم دالله پاک رسول دی نو الله پاک هغه باندي ددوزخ اور حراموي. ددي سند په بنياد داحديث حسن صحيح غريب دي، ما دابن ابي عمر نه اوريدلي دي چې ابن عيينه به وئيل محمد بن عجلان يو ثقه راوي دي او په حديث کي قابل داعتماد دي، او د صنابحي نه مراد عبدالرحمن بن عسيله ابوعبدالله دي، او په دي باب کي دابوبکر، عمر، عثمان علي،طلحه، جابر، ابن عمر، او زيد بن خالد رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، دزهري قول دي چې زما نه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم دفرمان "من قال لااله الاالله دخل الجنة" يعني څوک چې لااله الاالله اووائي جنت ته به داخل شي، په باره کي

---

[1] ـ صحيح مسلم/الإيمان ١٠(٢٩) (تحفة الأشراف : ٥٠٩٩)

تپوس اوکړي شو چې ددي څه مطلب دي نو هغه اووئيل دا داسلام دابتدائي زماني خبره وه او دهغه وخت خبره وه کله چې فرائض او امر او نهي او واجبات نه وو راغلي، بعضي اهل علمو په نزد په دي حديث کي دا توجيه ده چې اهل توحيد به جنت ته داخليږي اګر که دګناهونو په وجه دوئ ته داور سزا ولي نه وي ورکړي شوي خکه چې دوئ به په جهنم کي هميشه نه پاتي کيږي، دعبدالله بن مسعود، ابوذر، عمران بن حصين، جابر بن عبدالله، ابن عباس، ابوسعيد خدري، او انس بن مالك رضي الله عنهم نه مروي دي نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي عنقريب به دتوحيد دقائلينو يو جماعت دجهنم نه راوځي او جنت ته به داخل شي دارنګي روايت دسعيد بن جبير، ابراهيم نخعي، او نورو ډيرو تابعينو نه هم مروي دي او هغوئ دايت کريمه "ربما يودالذين كفروا لوكانوا مسلمين" يعني کافران به دخپل ځان دمسلمان کيدو متعلق ډير ارمانونه اوکړي، دا تفسير کوي چې کله اهل توحيد دجهنم نه راوويستلي شي او جنت ته داخل کړي شي نو کافران به دا ارزو اوکړي چې کاش مونږ هم مسلمانان وي.

****

٢٦٣٩_حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ. أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ لَيْثِ بْنِ سَعْدٍ، حَدَّثَنِي عَامِرُ بْنُ يَحْيَى، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمَعَافِرِيِّ ثُمَّ الْحُبُلِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللهَ سَيُخَلِّصُ رَجُلًا مِنْ أُمَّتِي عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَنْشُرُ عَلَيْهِ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ سِجِلًّا كُلُّ سِجِلٍّ مِثْلُ مَدِّ الْبَصَرِ. ثُمَّ يَقُولُ: أَتُنْكِرُ مِنْ هَذَا شَيْئًا؟ أَظَلَمَكَ كَتَبَتِي الْحَافِظُونَ؟ فَيَقُولُ: لَا يَا رَبِّ، فَيَقُولُ: أَفَلَكَ عُذْرٌ؟ فَيَقُولُ: لَا يَا رَبِّ، فَيَقُولُ: بَلَى، إِنَّ لَكَ عِنْدَنَا حَسَنَةً فَإِنَّهُ لَا ظُلْمَ عَلَيْكَ الْيَوْمَ. فَتَخْرُجُ بِطَاقَةٌ فِيهَا أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، فَيَقُولُ: احْضُرْ وَزْنَكَ. فَيَقُولُ: يَا رَبِّ مَا هَذِهِ الْبِطَاقَةُ مَعَ هَذِهِ السِّجِلَّاتِ؟ فَقَالَ: إِنَّكَ لَا تُظْلَمُ. قَالَ: فَتُوضَعُ السِّجِلَّاتُ فِي كَفَّةٍ وَالْبِطَاقَةُ فِي كَفَّةٍ. فَطَاشَتِ السِّجِلَّاتُ وَثَقُلَتِ الْبِطَاقَةُ. فَلَا يَثْقُلُ مَعَ اسْمِ اللهِ شَيْءٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ. عَنْ عَامِرِ بْنِ يَحْيَى بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ. بِمَعْنَاهُ وَالْبِطَاقَةُ هِيَ الْقِطْعَةُ. (1)

ترجمه : دعبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهمابيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي به دقيامت په ورځ زما په امت کي يو کس راولي او دټولو خلقو په

---

[1] ـ سنن ابن ماجه/الزهد ٣٥ (٣٠٠) (تحفة الأشراف: ٨٨٥٥)

مخامخ به يي اودروي او دده دګناهونو يو کم سل دفترونه به کولاؤ کړي او هر يو دفتر به دسترګو دښکار په اندازه وي بيابه الله تعالي تپوس اوکړي ايا ته په دي ګناهونو کي دکومي ګناه نه انکار کوي؟ او ايا په تا باندي زما محافظ کاتبانو ظلم کړي دي؟ دي به اووائي نه اي زما پروردګاره بيا به الله تعالي اوفرمائي ايا تاسره څه عذر شته؟ دي به اووائي نه اي زما پروردګاره، نو الله تعالي به اوفرمائي هيڅ خبره نشته زمونږ سره ستا يوه نيکي او نن ورځ به په تاباندي هيڅ ظلم نه کيږي او بيا به يوه وړه پرچې راوويستلي شي چې په هغي به اشهدان لااله الا الله واشهدان محمدا عبده ورسوله " ليکلي شوي وي، يعني زه ګواهي ورکوم چې دالله تعالي نه علاوه بل هيڅ لائق دبندګۍ نشته او محمد (صلي الله عليه وسلم) دالله تعالي (مقرب) بنده او دهغه رسول دي، الله تعالي به اوفرمائي ورشه او داعمالو دتول وخت کي د تلي سره موجود اوسه دي به اووائي اي زما پروردګاره ددي دفترونو په وړاندي ددي پرچي به څه حيثيت وي، الله تعالي به اوفرمائي تاسره به ظلم نه کيږي، رسول الله اوفرمائيل بيا به دا تمام دفترونه دتلي په يوه کاسه کي کيخودلي شي او دا پرچه به په بله کاسه کي کيخودلي شي نو ټول دفترونه به پورته لاړ شي او پرچه به درباندي درنه شي او رښتيا خبره داده چې دالله تعالي دنوم سره يعني دالله دنوم په مقابل کي چې کله کوم څيز تللي کيږي هغه څيز دالله په نوم درنيدلي نشي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي.

****

۱۸_بَاب مَا جَاءَ فِي افْتِرَاقِ هَذِهِ الأُمَّةِ

دامت محمديه په فرقو تقسيمدلو بيان

۲٦٤٠_حَدَّثَنَا الحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ أَبُو عَمَّارٍ، حَدَّثَنَا الفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "تَفَرَّقَتِ اليَهُودُ عَلَى إِحْدَى وَسَبْعِينَ أَوِ اثْنَتَيْنِ وَسَبْعِينَ فِرْقَةً وَالنَّصَارَى مِثْلَ ذَلِكَ، وَتَفْتَرِقُ أُمَّتِي عَلَى ثَلَاثٍ وَسَبْعِينَ فِرْقَةً". وفي الباب عن سَعْدٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَعَوْفِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي يهوديان په يو اويا فرقو تقسيم شوي دي او نصاري هم داسي تقسيم شوي دي او زما امت به په

---

[1] _ سنن ابن ماجه/الفتن ١٧ (٣٩٩١) (تحفة الأشراف : ١٥٠٨٢)

دري اويا فرقو تقسيم شي.
امام ترمذي وايي: دابوهريره دا حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دسعد عبدالله بن عمرو او عوف بن مالك رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٢٦٤١ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الْحَفَرِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ زِيَادِ بْنِ أَنْعُمَ الأَفْرِيقِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَيَأْتِيَنَّ عَلَى أُمَّتِي مَا أَتَى عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ، حَذْوَ النَّعْلِ بِالنَّعْلِ حَتَّى إِنْ كَانَ مِنْهُمْ مَنْ أَتَى أُمَّهُ عَلَانِيَةً لَكَانَ فِي أُمَّتِي مَنْ يَصْنَعُ ذَلِكَ، وَإِنَّ بَنِي إِسْرَائِيلَ تَفَرَّقَتْ عَلَى ثِنْتَيْنِ وَسَبْعِينَ مِلَّةً، وَتَفْتَرِقُ أُمَّتِي عَلَى ثَلَاثٍ وَسَبْعِينَ مِلَّةً كُلُّهُمْ فِي النَّارِ إِلَّا مِلَّةً وَاحِدَةً، قَالُوا: وَمَنْ هِيَ يَا رَسُولَ اللَّهِ ؟ قَالَ: مَا أَنَا عَلَيْهِ وَأَصْحَابِي ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مُفَسَّرٌ، لَا نَعْرِفُهُ مِثْلَ هَذَا إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [1]

ترجمه : دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما په امت به بالكل هغه شان حالت راځي كوم چې په بني اسرائيلو راغلي وو (يعني په مماثلت كي به دواړه برابروي) تردي پوري كه په دوئ كي چا دخپلي مور سره ښكاره زنا كړي وي نو زما په امت كي به هم داسي كس وي چې ددي بدترين كارارتكاب به اوكړي بني اسرائيل په دوه اويا فرقو تقسيم شوي وو او زما امت به په دري اويا فرقو تقسيمېږي او ديوي فرقي نه علاوه به نوري ټولي فرقي جهنم ته داخلېږي صحابه كرامو عرض اوكړو اي دالله رسوله دا به كومه يوه فرقه وي؟ رسول الله اوفرمائيل: دا به هغه ډله وي كوم چې زما او زما دصحابه كرامو په طريقه روان وي.
امام ترمذي وايي: دا حديث په كوم كي چې دابوهريره دحديث په مقابله كي زيات وضاحت دي حسن غريب دي او دامونږ ته صرف په همدي سند رارسيدلي دي.

****

٢٦٤٢ـ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَرَفَةَ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي عَمْرٍو السَّيْبَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الدَّيْلَمِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ خَلَقَ خَلْقَهُ فِي ظُلْمَةٍ، فَأَلْقَى عَلَيْهِمْ مِنْ نُورِهِ، فَمَنْ أَصَابَهُ مِنْ ذَلِكَ

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٨٨٦٢)

النُّورِ اهْتَدَى، وَمَنْ أَخْطَأَهُ ضَلَّ. فَلِذَلِكَ أَقُولُ: جَفَّ الْقَلَمُ عَلَى عِلْمِ اللَّهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (1)

ترجمه : دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي خپل مخلوق په تياره کي پيدا کړو او بيا يي په دوئ باندي دخپل نور نه نور اوغورځولو پس چاته چي ددي نور نه نور ورسيدو هغه هدايت حاصل کړو او چاته چي ددي نور نه نور اونه رسيدو هغه بي لاري شو نو په همدي وجه وايم چي دالله تعالي په علم د تقدير قلم اوچ شو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٦٤٣ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَتَدْرِي مَا حَقُّ اللَّهِ عَلَى الْعِبَادِ؟ " قُلْتُ: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: " فَإِنَّ حَقَّهُ عَلَيْهِمْ أَنْ يَعْبُدُوهُ وَلَا يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا ". قَالَ: " أَتَدْرِي مَا حَقُّهُمْ عَلَيْهِ إِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ؟ " قُلْتُ: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: " أَنْ لَا يُعَذِّبَهُمْ ". هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ. (2)

ترجمه : دمعاذ بن جبل رضي الله عنه بيان دي چي څه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل: اى معاذه! ايا تاته پته شته چي دالله تعالي حق په بندګانو څه دي ؟ ما اووئيل الله تعالي او دهغه رسول ښه پوهيږي، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي دالله تعالي حق خو دبندګانو په ذمه دادى چي صرف دهغه عبادت اوکړي او هيڅوك ورسره شريك نکړي، بيا يي اوفرمائيل: ايا تاته پته شته چي دبندګانو په الله تعالي څه حقونه دي؟ ما اووئيل الله تعالي او دهغه رسول ښه پوهيږي، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل د بندګانو حق په الله تعالي دادي چي عذاب ورته ورنکړي.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دي اود معاذ بن جبل نه په ډيرو سندونو مروي دي.

تشريح: فان حق الله علي العباد، يعني دالله تعالي حق په بندګانو دادى چي شريك ورسره مقرر

---

1 ــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف) . و مسند احمد (٢/١٧٦، ١٩٧)

2 ــ اورده البخاري في الصحيح /الجهاد ٤٦ (٢٨٥٦) . واللباس ١٠١ (٥٩٦٧) . والاستئذان ٣٠ (٦٢٦٧) . والرقاق ٣٧ (٦٥٠٠) . والتوحيد ١ (٧٣٧٣) . صحيح مسلم /الإيمان ١٠ (٣٠) . سنن ابن ماجه /الزهد ٣٥ (٤٢٩٦) (تحفة الأشراف : ١١٣٥١)

نكړي ځكه چې مشركانو بتانو لره او نصاري عيسي عليه السلام يا دهغه مور لره دالله تعالي سره شريك كړځولي وو.

فحق العباد علي الله. يعني دبندګانو حق په الله تعالي باندي ، او هغه دادی چې عذاب ورته ورنكړي.

سوال: ايا په الله تعالي باندي دچا حق واجب كيدی شي ددي سوال دري جوابونه دي اول جواب دادی چې حق دلته په معني دجدير دی يعني لائق ده چې په طور داحسان ورته عذاب ورنكړي، دويم جواب علامه قرطبي كړی دی چې الله تعالي دعمل كولو په بدله كې چې داجر وعده كړي ده دا تفضلي ده واجبي نه ده ځكه چې الله تعالي وعده خلافي نه كوي لكه چې ارشاد قراني دی، ان الله لايخلف الميعاد ، ورنه په الله خو دالله دطرفه هيڅ څيز واجب نه وي.

دريم جواب، علامه محي الدين وائي چې په أولنۍ جمله حق العباد علي الله كې حق لفظ دی نو دا رنګې په طريقې دمقابلې او مشاكلې په حق العباد كې هم حق لفظ استعمال شوی دی لكه چې په ومكروا ومكر الله، وجزاء سيئة سيئة بمثلها.

****

٢٦٤٤ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، وَعَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ رُفَيْعٍ، وَالأَعْمَشِ، كُلُّهُمْ سَمِعُوا زَيْدَ بْنَ وَهْبٍ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "أَتَانِي جِبْرِيلُ فَبَشَّرَنِي فَأَخْبَرَنِي أَنَّهُ مَنْ مَاتَ لَا يُشْرِكُ بِاللَّهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ. قُلْتُ: وَإِنْ زَنَى، وَإِنْ سَرَقَ ؟ قَالَ: نَعَمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وفِي الْبَابِ عن أَبِي الدَّرْدَاءِ.[1]

ترجمه : ابوذر غفاري رضي الله عنه بيان كوي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: جبريل عليه السلام ماته زيري راكړو او راته يي ووئيل چې ستاسو دامت نه څوك هم وفات شو او دالله تعالي سره يی شرك نه وي كړی هغه به جنت ته داخليږي ، ما عرض اوكړو اګر چې هغه زنا كړی وي او اګر چې غلايی كړي وي، ويی فرمائيل اګر چې غلا او زنا يی كړي وي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دابوالدرداء رضي الله عنه نه

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الاستقراض ٣ (٢٣٨٨) . و بدء الخلق ٦ (٣٢٢٢) . والاستئذان ٣٠ (٦٢٦٨) . والرقاق ١٣ (٦٤٤٣) . و ١٣ (٦٤٤٤) . والتوحيد ٣٣ (٧٤٨٧) . صحيح مسلم /الإيمان ٣٠ (٩٣) . والزكاة ٩ (٣٢/٩٤) (تحفة الأشراف : ١١٩١٥) . ومسند احمد (٥/١٥٩)

هم حديث وارد دي.

تشريح: من مات من امتك لايشرك الله شيئا . يعني چې ستا دامت نه څوك په داسي حال کې مړ شي چې دالله تعالي سره يي شريك نه وي مقرر کړی نو هغه به جنت ته داخليږي اګر که کبيره ګناهونه يي هم کړي وي خو الله تعالي به يي پخپل فضل سره معاف کړي او يا به دسزا تيرولو نه پس جنت ته لاړ شي او يا دا چې دمرګ نه مخکې به يي دکبيره ګناهونو نه خالص توبه کړي وي.

د ابوذر رضي الله عنه دزندګئ حالات:

نوم جندب کنيه ابو ذر دپلار نوم جناده او دمور نوم يي رمله وو چې دبني غفار قبيلي سره يي تعلق وو ، په شروع کي مشهور ډاکو وو خو يك دم يي په زندګئ کي انقلاب راغی پخپله دابوذر رضي الله عنه بيان دی چې داسلام راوړو نه دري کاله مخکي هم ما مونځونه کول (طبقات ابن سعد).

کله چې درسول الله ددعوت نه خبر شو نو خپل ورور انيس يي دتحقيق کولو دپاره اوليږلو او پخپله دعلي رضي الله عنه سره ملاؤ شو او درسول الله په خدمت کي حاضر شو او اسلام يي قبول کړو نو رسول الله دی دده قوم ته دتبليغ دپاره اوليږلو ددينه پس به يي خپل ټول وخت په تبليغ او دعوت کي خرچ کولو تردي چې نيمه قبيله په همدي وخت مسلمانه شوه او نيمه قبيله يي دهجرت نه پس مسلمانه شوه (مسند احمد).

درسول الله دهجرت نه پس هغوئ مديني ته هجرت کړی دی (طبقات ابن سعد).

ابوذر يوتارك الدنيا او زاهد انسان وو درسول الله او ابوبکر په زمانه کي په مدينه کي پاتي شوی دی او بيا يي شام ته هجرت کړی دی.

وفات: کله چې دده طبعيت خراب شو نو ښځي يي ژړل چې په دي صحرا کي به څوك زمونږه انتظام کوي هغه ورته اووئيل زه تاسو ته زيری درکوم چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چې په تاسو کي به يو تن په صحرا کي مري او هلته به دمسلمانانو يو جماعت راځي او هغوئ به دده تدفين کوي زما نه چې علاوه کوم خلق وو هغوئ په ابادئ کي مړه شوي دي چنانچې همداسي اوشول عبدالله بن مسعود ديوي ډلي سره راغی او هغه عراق ته روان وو په ده باندي يي جنازه اوکړه او هم دلته يي دفن کړو (مستدرك حاكم).

مرويات: دده درواياتو شمير ۲۸۱دی چې دولس متفق عليه دي او ده په بخاري کي دي او اوه په مسلم کي دي (تهذيب الكمال ٤٤٩).

****

كتاب العلم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم

دعلم او پوهې متعلق مسائلو او احكامو بيان

١ـ بَاب مَا جَاءَ إِذَا أَرَادَ اللَّهُ بِعَبْدٍ خَيْرًا فَقَّهَهُ فِي الدِّينِ

كله چې الله تعالى يو بنده دپاره دخير اراده اوكړي هغه ته په دين كې پوهه وركړي

٢٦٤٥ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِنْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ يُرِدِ اللَّهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ"، وفي الباب عن عُمَرَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَمُعَاوِيَةَ. هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: دا بن عباس رضي الله نه روايت دى چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاته چې الله تعالي بهتري وركول اوغواړي ددين پوهه وركړي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دابن عمر، ابوهريره، او معاويه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

لغات: يفقهه يعني فقيه يي جوړ كړي تفقه معني علم فقه حاصلول ، الدين په معني دملت او مذهب دي او جمع يي اديان راځي.

تشريح: دپورتني حديث مضمون په نورو روايتونو كې هم موندلى شي مثلا په شرح السنه كي دسفيان ثوري دا قول منقول دى چې ماته دعلم زده كونكي نه افضل بل هيڅ يو شى معلوم نه دى په يو بل روايت كې راغلي دي چې كله الله تعالي په چا باندي دخير اراده اوكړي نو په هغه كې دري صفتونه پيدا كړي اول ددين علم دويم ددنيا نه بيزاري، دريم پخپلو عيبونو نظر يعني الله تعالي چې دچا سره ښيگړه كول غواړي نو هغه ته په دين كې ژور علم وركړي حديث خو يو وي مگر ددي په پوهه كې اشخاص مختلف وي بعضي خلق صرف ددي په ظاهري مطلب پوهيږي او بعضي په دي كې ژور نظر لري او په سلگونو مسائل ورنه معلوموي عرض داچې چاته په دين كې محارت حاصل وي هغه ډير خوش نصيب وي.

سوال: ددي حديث نه معلوميږي چې خير او كاميابي په فقهاؤ كې منحصر دي او حال دادى چې دخير كارونه په غير فقهاؤ كې هم موندلى شي.

جواب: په خيراً كې تنوين دتعظيم دپاره دى مطلب دادى چې الله تعالي دچا سره دډير خير معامله كول اوغواړي نو هغه لره فقيه اوگرځوي دويم جواب دادى چې په خيراً كې تنوين

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (٥٦٦٤) . وانظر مسند احمد (١/٣٠٦)

دتنکیر دپاره دی او دلته کلام دتنزیل الناقص بمنزلة المعدوم دقبیلي نه دی مطلب دادی اګر چې په غیر فقهاؤ کې هم خیر موندلی شي لیکن دفقهاؤ په مقابله کې دومره ناقص دی لکه دمعدوم په شان.

****

٢_بَاب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ طَلَبِ الْعِلْمِ

دعلم دحاصلولو دفضیلت بیان

٢٦٤٦_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَلْتَمِسُ فِيهِ عِلْمًا سَهَّلَ اللَّهُ لَهُ طَرِيقًا إِلَى الْجَنَّةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ.[1]

ترجمه : ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي څوك چې علم حاصلولو دپاره په یولار روان شو (چاچې علم حاصلولو دپاره سفر اوکړو) الله تعالي به ورته دجنت لار اسانه کړي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

لغات: سلك يسلك سلكا وسلوكا معني په يوه لاره تلل.

يلتمس: معني طلب كوي، تلاش كوي، حاصلول كوي،

سهل : اسانول سهل يسهل سهولة معني نرم كيدل، اسان كيدل، سهل ، اسانول.

تشريح: په دي حديث كې دعلم حاصلونكي يوخاص فضيلت بيان شوى دى او هغه دادى څوك چې ددين دزده كولو دپاره خپل عزيزان او وطن او اقارب پريږدي او دعيش او ارام نه جدا شي نو دده ددي مشقت په وجه الله تعالي ده ته دجنت لار اسانوي يا دا مطلب دى چې طالب علم كله مصيبتونه او پريشانۍ برداشت كړي نو الله تعالي ورته په دي باندي دعمل كولو توفيق وركوي او كله چې دى پخپل علم باندي عمل كوي نو الله تعالي ورته جنت ته داخليدل اسانوي يا دا چې دعلم حاصلول هم جنت ته ددخول سبب دى ځكه چې دعلم په وجه دى نيك اعمال پيژني او په حق او باطل كې تميز كولى شي او دادهدايت ذريعه ده او هدايت جنت ته ددخول سبب دى.

---

[1] ـ صحيح مسلم/الذكر والدعاء ١٨ (٢٦٩٩) ، سنن ابي داود/ العلم ١ (٣٦٤٣) ، سنن ابن ماجه/المقدمة ١٧ (٢٢٥) ، ويأتي في القراءات ١٢ (٢٩٤٥) (تحفة الأشراف : ١٢٤٨٦) ، و مسند احمد (٢/٢٥٢، ٣٢٥، ٤٠٧) ، وسنن الدارمي/المقدمة ٣٢ (٣٥٦)

****

٢٦٤٧_حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، قَالَ: حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ يَزِيدَ الْعَتَكِيُّ، عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ الرَّازِيِّ، عَنِ الرَّبِيعِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ خَرَجَ فِي طَلَبِ الْعِلْمِ فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ حَتَّى يَرْجِعَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَرَوَاهُ بَعْضُهُمْ فَلَمْ يَرْفَعْهُ. (1)

ترجمه : انس رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چې علم دين حاصلولو پسی دکور نه اووتو هغه دالله په لار کې دی تردی چې کورته راواپس شي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي او بعضي راويانو غير مرفوع يعني موقوف بيان کړي دي.

لغات : خرج: ووتلو، خرج يخرج خروجا په معني دوتلو ،طلب: معني لټول طلب يطلب طلبا دنصر نه معني غوښتل ، يرجع: رجع يرجع رجوعا ، واپس کيدل.

تشريح: مطلب دادی چې څوك د ارام تمام څيزونه پريږدي او دعلم زده كولودپاره ورنه خپل وطن پاتي شي نو ده ته به دمجاهد في سبيل الله ثواب ملاويږي او مجاهد هم دسر نه كفن تړلی وي او ددي جلتئ په وجه ميدان ته راغلی وي چې دالله تعالي دين غالب شي او كه نه نو زه به دخپل ځان نظرانه دالله په دربار كې پيش كوم.

بعينه همدا جذبه ددينى علم په حاصلونكو كې وي چې هغوئ هم ملاتړلي وي تردي چې دين زده كړي او نورو ته يي اوښايي او دشيطان دمكر او فريب نه خلق بچ كړي يا دا چې په دي حديث كې دي خبري ته هم اشاره ده چې علم زده كونكي كله كورته واپس راځي نو دی نور زيات فضيلت والاګرځي او چې كله دكور نه وتلو نو دنبوت دعلم نه بي برخي وو ليكن كله چې كورته راځي نو دنبوت علم ورسره دی او دانبياؤ وراثت تاج يي په سر پروت دی په همدي بنا دخصوصيت سره واپس شو.

****

٢٦٤٨_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حُمَيْدٍ الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُعَلَّى، حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ خَيْثَمَةَ، عَنْ أَبِي دَاوُدَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَخْبَرَةَ، عَنْ سَخْبَرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ طَلَبَ الْعِلْمَ

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٣٠)

كَانَ كَفَّارَةً لِمَا مَضَى ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ ضَعِيفُ الْإِسْنَادِ. أَبُو دَاوُدَ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ، وَلَا نَعْرِفُ لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَخْبَرَةَ كَبِيرَ شَيْءٍ وَلَا لِأَبِيهِ، وَاسْمُ أَبِي دَاوُدَ: نُفَيْعٌ الْأَعْمَى تَكَلَّمَ فِيهِ قَتَادَةُ وَغَيْرُ وَاحِدٍ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ. [1]

ترجمه : د سنجره نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چې علم حاصل كړي نو دا به دده دمخكنو ګناهونو كفاره وګرځي.

امام ترمذي وايي: ددي حديث سند ضعيف دي ابو داود راوي دنفيع اعمي دحديث په بيانولو كي ضعيف دي او مونږ ته دعبدالله بن سنجره نه مروي زيات احاديث معلوم نه دي او نه دده دپلار نه (يعني دوئ دواړه غير معروف راويان دي) دابوداود نوم نفيع الاعمي دي چې قتاده او نورو اهل علمو ورباندي كلام كړي دي.

****

٣_باب مَا جَاءَ فِي كِتْمَانِ الْعِلْمِ

دعلم په پټولو دوعيد بيان

٢٦٤٩_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ بُدَيْلِ بْنِ قُرَيْشٍ الْيَامِيُّ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ زَاذَانَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْحَكَمِ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ سُئِلَ عَنْ عِلْمٍ عَلِمَهُ ثُمَّ كَتَمَهُ أُلْجِمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِلِجَامٍ مِنْ نَارٍ ". وفي الباب عن جَابِرٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ. [2]

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چانه چې ديو ديني مسئلې تپوس اوشو اوهغه مسئله پټه كړه ورته يې ونه ښودله دقيامت په ورځ به ورته په خوله كې داور واګی واچولی شي.

امام ترمذي وايي: دابوهريره حديث حسن دي او په دي باب كي دجابر او عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

لغات : فكتمه: كتم معني پټول كتم يكتم كتما پټول، الجم : لجم يلجم لجما ، واګي اچول.

تشريح : ددي حديث نه ظاهرا معلوميږي چې كله څوك سوال اوكړي نو فورا جواب وركول

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٣٨١٣)

[2] _ ابي داود/العلم ٩ (٣٦٥٨) . سنن ابن ماجه/المقدمة ٢٣ (٢٦١) (تحفة الأشراف : ١٤١٩٦)

پکار دي شاه ولي الله سيب ليکلي دي دسائل دسوال په جواب کې دومره تاخير کول چې يو خل هغه خپله خبره پوره کړي دا په کتمان علم کې داخل نه دي او کتمان علم په ګناهونو کې يوه ګناه ده ليکن دکتمان علم دوعيد دمستحق کيدو دپاره علماؤ يو څو شرائط بيان کړي دي که په دوئ کې هر يو شرط مفقود شي نو دکتمان علم ګناه به واقع شي او هغه دادي:

اول: چې دچا پخپله په مسئله کې تردد وي او ددي تردد په وجه يي پټه کړي نو دی به ګنهګار نه وي.

دويم: چې سائل صادق نه وي او کوم بل مقصد لري نو بيا ورته په جواب نه ورکولو کې ګناه نشته.

دريم: چې سوال کونکی په دي مسئلي دپوهيدو صلاحيت هم اولري.

څلورم: دا چې هلته بل څوك جواب ورکونکی نه وي او که هلته کوم بل څوك هم وي نو بيا به جواب نه ورکونکی دکتمان علم په وعيد کې داخل نه وي(روضة)

****

٤ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الِاسْتِيصَاءِ بِمَنْ يَطْلُبُ الْعِلْمَ

دعلم حاصلونکو سره دخير خواهئ کولو بيان

٢٦٥٠ـ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الْحَفَرِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي هَارُونَ الْعَبْدِيِّ، قَالَ: كُنَّا نَأْتِي أَبَا سَعِيدٍ فَيَقُولُ: مَرْحَبًا بِوَصِيَّةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ النَّاسَ لَكُمْ تَبَعٌ وَإِنَّ رِجَالًا يَأْتُونَكُمْ مِنْ أَقْطَارِ الْأَرَضِينَ يَتَفَقَّهُونَ فِي الدِّينِ فَإِذَا أَتَوْكُمْ فَاسْتَوْصُوا بِهِمْ خَيْرًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: قَالَ عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ: قَالَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ: كَانَ شُعْبَةُ يُضَعِّفُ أَبَا هَارُونَ الْعَبْدِيَّ، قَالَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ: مَا زَالَ ابْنُ عَوْنٍ يَرْوِي، عَنْ أَبِي هَارُونَ الْعَبْدِيِّ حَتَّى مَاتَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَأَبُو هَارُونَ اسْمُهُ: عُمَارَةُ بْنُ جُوَيْنٍ.[1]

ترجمه: دابوهارون بيان دي فرمائي چې مونږ به ابوسعيد خدري رضي الله عنه ته دعلم حاصلولو دپاره ورتلو نو هغه به وئيل درسول الله صلي الله عليه وسلم دوصيت مطابق زه تاسو ته پخير راغلي وايم، رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي خلق په تاسو پسي اقتداء کونکي دي او څه کسان به تاسو ته د زمکي دلري حصو نه دعلم حاصلولو دپاره راځي کله چې هغوئ تاسو ته راشي نو تاسوورسره احسانات او ښيګړي اوکړئ.

---

[1] ـ سنن ابن ماجه/المقدمة ٢٢ (٢٤٩) (تحفة الأشراف: ٤٣٦٢)

امام ترمذي وايي دعلي بن عبدالله المديني قول دي يحي بن سعيد به وئيل چې شعبه دابوهارون تضعيف كړي دي ، يحي بن سعيد وائي ابن عون چې څو پوري ژوندي وو دابوهارون نه به يي روايتونه نقل كول، او دابوهارون نوم عماره بن جوين وو.

****

٢٦٥١ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا نُوحُ بْنُ قَيْسٍ، عَنْ أَبِي هَارُونَ الْعَبْدِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " يَأْتِيكُمْ رِجَالٌ مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ يَتَعَلَّمُونَ، فَإِذَا جَاءُوكُمْ فَاسْتَوْصُوا بِهِمْ خَيْرًا "، قَالَ: فَكَانَ أَبُو سَعِيدٍ إِذَا رَآنَا قَالَ: مَرْحَبًا بِوَصِيَّةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ أَبِي هَارُونَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ. [1]

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دمشرق دطرف نه به څه كسان تاسو ته دعلم حاصلولو دپاره راځي كله چې هغوئ تاسو ته راشي نو تاسو ورسره نيك ښه سلوك اوكړئ، راوي وائي دابوسعيد خدري رضي الله عنه حال دا وو چې كله به يي مونږ ته كتل نو درسول الله صلي الله عليه وسلم د وصيت مطابق به يي مونږ ته پخير راغلي وئيلو.

امام ترمذي وايي: داحديث مونږ ته صرف دابوهارون په سند معلوم دي چې دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه يي نقل كړي دي.

****

٥ـ باب مَا جَاءَ فِي ذَهَابِ الْعِلْمِ

دعلم دختميدو بيان

٢٦٥٢ـ حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ اللَّهَ لَا يَقْبِضُ الْعِلْمَ انْتِزَاعًا يَنْتَزِعُهُ مِنَ النَّاسِ، وَلَكِنْ يَقْبِضُ الْعِلْمَ بِقَبْضِ الْعُلَمَاءِ، حَتَّى إِذَا لَمْ يَتْرُكْ عَالِمًا اتَّخَذَ النَّاسُ رُءُوسًا جُهَّالًا، فَسُئِلُوا فَأَفْتَوْا بِغَيْرِ عِلْمٍ فَضَلُّوا وَأَضَلُّوا ". وفي الباب عن عَائِشَةَ، وَزِيَادِ بْنِ لَبِيدٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ الزُّهْرِيُّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَعَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ

---

[1] ـ سنن ابن ماجه/المقدمة ٢٢ (٢٤٩) (تحفة الأشراف : ٤٢٦٢)

هَذَا. (1)

ترجمه : دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي علم لره داسي نه پورته کوي چې دخلقو دسينو نه يي راوکاږي ليکن الله تعالي علم لره دعلماؤ دوفات کولو په ذريعه پورته کوي تردي پوري چې الله تعالي به هيڅ يو عالم لره باقي پري نږدي نو خلق به جاهلان خپل مشران مقرر کړي او دهغوئ نه به دعلم دمسائلوتپوس کوي او هغوئ به ورته دعلم نه بغير فتوي ورکوي نو هغوئ به پخپله هم گمراه شي او نورو لره به هم گمراه کړي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي، داحديث زهري دعروه نه او عروه دعبدالله بن عمرو نه نقل کړي دي او زهري په يو بل سند دعروه نه او عروه دعائشه رضي الله عنها په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه ددي په مثل نقل کړي دي ، او په دې باب کي دعائشه او زياد بن لبيد رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

لغات : انتزاعا: ويستل، نزع دضرب نه نزوعا او نزع دفتح نه نزاعا او نزوعا په معني دمشتاق کيدو دي.

تشريح : ددي پشان دعمر رضي الله عنه نه هم روايت دی چې علم به داسي نه قبض کيږي چې دسينو نه وځي بلکه په دي شان سره به وي چې علماء به ختم شي.

دعبدالله بن ثابت رضي الله عنه بيان دی چې عالمان به مري او ددوئ په مرگ به دحق نشانات ختميږي نو ددي په سبب به گمراهي مکمل شي.

دابن مسعود رضي الله عنه بيان دی چې په دي شان سره دعلم دقبض کيدو نه مخکي دا زده کړئ چې دعلم قبض کيدل داهل علمو ختميدل دي، داسي به ولي کيږي؟ ددي يوه وجه خو داده چې دعلماؤ په زړونو کي به ددنيا لالچ پيدا شي او ددوئ سره به دعلم قدر نه وي نو چې داسي وي نو نورو ته به څه فائده ورسيږي دويمه وجه داده چې په عمومي طور سره دعلم او اهل علمو قدر به ختم شي دريمه وجه داده چې په پورتني حديث کي ورته اشاره شوي ده چې اهل حق علماء به ختم شي او دنياپرست خلق به ددوئ جانشين شي پخپله به هم گمراه وي او خلق به هم گمراه کوي.

****

۲۶۵۳ـحَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنِي مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ،

---

1 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /العلم ۳۴ (۱۰۰) ، والإعتصام ۸ (۷۳۰۷) . صحيح مسلم/العلم ۵ (۲۶۷۳) . سنن ابن ماجه/المقدمة ۸ (۵۲) (تحفة الأشراف : ۸۸۸۳) ، ومسند احمد (۲/۱۶۲، ۱۹۰) ، وسنن الدارمي/المقدمة ۲۶ (۲۴۵)

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَشَخَصَ بِبَصَرِهِ إِلَى السَّمَاءِ ثُمَّ قَالَ: "هَذَا أَوَانُ يُخْتَلَسُ الْعِلْمُ مِنَ النَّاسِ حَتَّى لَا يَقْدِرُوا مِنْهُ عَلَى شَيْءٍ". فَقَالَ زِيَادُ بْنُ لَبِيدٍ الْأَنْصَارِيُّ: كَيْفَ يُخْتَلَسُ مِنَّا وَقَدْ قَرَأْنَا الْقُرْآنَ؟ فَوَاللَّهِ لَنَقْرَأَنَّهُ، وَلَنُقْرِئَنَّهُ نِسَاءَنَا، وَأَبْنَاءَنَا. فَقَالَ: "ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ يَا زِيَادُ إِنْ كُنْتُ لَأَعُدُّكَ مِنْ فُقَهَاءِ أَهْلِ الْمَدِينَةِ. هَذِهِ التَّوْرَاةُ وَالْإِنْجِيلُ عِنْدَ الْيَهُودِ، وَالنَّصَارَى فَمَاذَا تُغْنِي عَنْهُمْ". قَالَ جُبَيْرٌ: فَلَقِيتُ عُبَادَةَ بْنَ الصَّامِتِ، قُلْتُ: أَلَا تَسْمَعُ إِلَى مَا يَقُولُ أَخُوكَ أَبُو الدَّرْدَاءِ؟ فَأَخْبَرْتُهُ بِالَّذِي قَالَ أَبُو الدَّرْدَاءِ. قَالَ: "صَدَقَ أَبُو الدَّرْدَاءِ إِنْ شِئْتَ لَأُحَدِّثَنَّكَ بِأَوَّلِ عِلْمٍ يُرْفَعُ مِنَ النَّاسِ الْخُشُوعُ يُوشِكُ أَنْ تَدْخُلَ مَسْجِدَ جَمَاعَةٍ فَلَا تَرَى فِيهِ رَجُلًا خَاشِعًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَمُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ ثِقَةٌ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ، وَلَا نَعْلَمُ أَحَدًا تَكَلَّمَ فِيهِ غَيْرَ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الْقَطَّانِ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ صَالِحٍ نَحْوُ هَذَا، وَرَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [1]

ترجمه : دابوالدرداء رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم سره موجود وو چې ناڅاپه يې اسمان ته اوکتل او بيا يې اوفرمائيل داسي وخت به راشي چې دخلقو دسينو نه به علم اوتختولي شي تردي پوري چې خلقو سره به هيڅ قسم علم باقي پاتي نشي زياد بن لبيد انصاري اووئيل اي دالله رسوله علم به زمونږ نه څنګه تختولي کيږي او حال دادي چې مونږ به قران لولو په الله قسم مونږ به قران ضرور لولو او ضرور به يې خپلو ښځو ته بيانووا و خپلو بچو ته به يې زده کوو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي زياد دخپلي مور نه ورك شي زه خو تا دمديني په فقهاؤ کي شميرم، تورات او انجيل خو موجود دي مګر ديهود او نصاري څه پکار راغلل (يعني دوئ ته تورات او انجيل څه فائده اورسوله) جبير راوي وائي کله چې دعباده بن صامت سره زما ملاقات اوشو نو ما ورته اووئيل ايا اوريدل نه غواړي چې ستا ورور ابوالدرداء څه وئيل؟ او بيا چې ابوالدرداء څه وئيلي وو ما ورته بيان کړل هغه اووئيل ابوالدرداء رښتيا وئيلي دي او که چرې ته مزيد پوهيدل غواړي نو زه يې درته خودلي شم چې په اول اول کي دخلقو نه دعلم پورته کيدل خشوع ختميدل دي او ډيره نزدي ده چې داسي وخت به راشي چې تاسو به جامع مسجد ته داخل شئ ليکن هلته به تاسو ته په حقيقي معنو خشوع او خضوع والا هيڅوك نه ښکاري.

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٠٩٢٨)

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي، معاويه بن صالح محدثينو په نزد ثقه دي او ديحي بن سعيد القطان نه علاوه مونږ ته بل څوك نه دي معلوم چې په ده باندي يي كلام كړي وي. دمعاويه بن صالح نه هم ددي په مثل حديث مروي دي بعضي راويانو دا حديث دعبدالرحمن بن زبير بن نكير نه او عبدالرحمن دخپل پلار جبير نه او جبير دعوف بن مالك په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي.

****

٦_بَاب مَا جَاءَ فِيمَنْ يَطْلُبُ بِعِلْمِهِ الدُّنْيَا

په ديني علم دد نيا حاصلولو دمذمت بيان

٢٦٥٤_حَدَّثَنَا أَبُو الْأَشْعَثِ أَحْمَدُ بْنُ الْمِقْدَامِ الْعِجْلِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا أُمَيَّةُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ يَحْيَى بْنِ طَلْحَةَ، حَدَّثَنِي ابْنُ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "مَنْ طَلَبَ الْعِلْمَ لِيُجَارِيَ بِهِ الْعُلَمَاءَ، أَوْ لِيُمَارِيَ بِهِ السُّفَهَاءَ، أَوْ يَصْرِفَ بِهِ وُجُوهَ النَّاسِ إِلَيْهِ أَدْخَلَهُ اللَّهُ النَّارَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَإِسْحَاقُ بْنُ يَحْيَى بْنِ طَلْحَةَ لَيْسَ بِذَاكَ الْقَوِيِّ عِنْدَهُمْ، تُكُلِّمَ فِيهِ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ. [1]

ترجمه : دكعب بن مالك رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي دي څوك چې دي دپاره علم زده كوي چې ددي په ذريعه دعلماؤ سره ځان برابر كړي او دبي عقلو او جاهلانو سره پري بحث او تكرار اوكړي او يا دعلم په ذريعه دخلقو توجه ځان ته راوګرځوي داسي كس به الله جهنم ته داخل كړي.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو، اسحاق بن يحي بن طلحه دمحدثينو په نزد قوي نه دي دحافظي په اعتبار وربانديكلام شوي دي.

****

٢٦٥٥_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ نَصْرِ بْنِ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبَّادٍ الْهُنَائِيُّ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ أَيُّوبَ السَّخْتِيَانِيِّ، عَنْ خَالِدِ بْنِ دُرَيْكٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ تَعَلَّمَ عِلْمًا لِغَيْرِ اللَّهِ أَوْ أَرَادَ بِهِ غَيْرَ اللَّهِ فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ". وفي الباب عن جابر. قَالَ أَبُو

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١١١٣٠)

عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ أَيُّوبَ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

ترجمه دعبدالله بن عمررضي الله عنهما نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچې دالله تعالي درضا نه بغير په بله اراده علم حاصل کړو نو داسي کس دي په جهنم کي دخان دپاره ځاي جوړ کړي

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن غريب دي او مونږ يي صرف دايوب په روايت پيژنو، او په دي باب کي دجابر رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي.

تشريح: علم ددنيا کټلو ذريعه جوړولو دممانعت او وعيداتو باره کي احاديث په کثرت سره وارد دي. مثلا ابوداود د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت کوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچې په دي غرض داسي علم حاصل کړو کوم باندي چي دالله تعالي رضاحاصليدی شي (يعني علم دين) چي ددنيا څه فائده تري واخلي، دقيامت په ورځ به دجنت بوئ هم نه مومي.

ددي حديث مضمون په ډيرو روايتونو راغلی دی علامه عبدالبر واقعه نقل کړي ده چي څه عراقيان کسان دابوذرغفاري رضي الله عنه په خدمت کي حاضر شول او داحاديث اوريدو درخواست يي اوکړو ابوذر غفاري اووئيل ايا تاسو ته معلومه ده چي دا احاديث صرف دالله درضا دپاره حاصلولی شي ورنه که څوك په دي باندي دنيا کټل اوغواړي هيڅ کله به جنت ته داخل نشي او نه به دجنت خوشبو اوګوري.

علماء وائي چي دا وعيد صرف دديني علم حاصلولو په باره کي دی مګر که څوك په دنياوي علم سره دنيا حاصله کړي په دي کي څه قباحت نشته.

لم يجد عرف الجنة: دا کنايه ده ددي خبري نه چي داسي کس به جنت ته داخل نشي ليکن ددي حديث نه دداسي کس په باره کي دا معلومول چي هيڅ کله به ورته مغفرت اونه شي صحيح خبره نه ده حافظ توريشتي وائي چي دا استدلال دنصوصو نه خلاف دی ځکه چي دنصوصو نه داهل ايمان ناجي کيدل معلوميږي، دا يوه جدا خبره ده چي داسي کسان به دسزا ځکلو نه پس جنت ته داخليږي.

لم يجد عرف الجنة، ددي جملي مطلب دادی چي دی به په شروع کي محروم کړی شي او وروسته به ورته ورکړی شي يادا مطلب دی چي دخول جنت به يي نصيب شي خو خوشبو به ورته نه ملاويږي اولنی قول زيات راجح دی په دي حديث کي دي خبري ته اشاره ده چي ددي علم حاصلول دجنت دخوشبو دحاصلولو او دپريشانئ دختمولو سبب دی او په دي کي يوه بله

---

1 ـ سنن ابن ماجه/المقدمة ۲۳ (۲۵۸) (تحفة الأشراف : ٦٧١٢)

اشاره هم ده چې څوك خالص دالله تعالي درضا دپاره علم حاصل کړي او بيا ورته دنيا هم راشي نو په دي کې څه حرج نشته.

****

٧_باب مَا جَاءَ فِي الْحَثِّ عَلَى تَبْلِيغِ السَّمَاعِ

نورو ته ددين داحکامو رسولو متعلق ترغيب

٢٦٥٦_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، أَخْبَرَنَا عُمَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ مِنْ وَلَدِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ أَبَانَ بْنِ عُثْمَانَ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: خَرَجَ زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ مِنْ عِنْدِ مَرْوَانَ نِصْفَ النَّهَارِ، قُلْنَا: مَا بَعَثَ إِلَيْهِ فِي هَذِهِ السَّاعَةِ إِلَّا لِشَيْءٍ سَأَلَهُ عَنْهُ؟ فَسَأَلْنَاهُ، فَقَالَ: نَعَمْ سَأَلَنَا عَنْ أَشْيَاءَ سَمِعْنَاهَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "نَضَّرَ اللَّهُ امْرَأً سَمِعَ مِنَّا حَدِيثًا فَحَفِظَهُ حَتَّى يُبَلِّغَهُ غَيْرَهُ، فَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ إِلَى مَنْ هُوَ أَفْقَهُ مِنْهُ، وَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ لَيْسَ بِفَقِيهٍ". وفي الباب عن عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، وَمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، وَجُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، وَأَبِي الدَّرْدَاءِ، وَأَنَسٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ. ([1])

ترجمه : د ابان بن عثمان رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې د غرمي وخت کي زيد بن بن ثابت ﷺ د مروان د خوا نه روان شو، مونږ اووئيل شايد چې مروان به ورنه دڅه څيز باره کي تپوس کولو نو ځکه به يي ليږلي وي بيا ورنه مونږ تپوس اوکړو نو هغه اووئيل هو هغه زما نه ديو څو خبرو تپوس اوکړو مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چې الله تعالي دي هغه کس تر او تازه اوساتي چاچې زمونږ نه حديث واوريدو او ياد يي کړو تردي چې دايي نورو ته هم ورسوو ځکه چې ډير خلق داسي دي چې ددين خبره دخپل ځان نه پوهوخلقوته هم رسوي څوك چې پخپله فقهاء نه دي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي نو په دي باب کي دعبدالله بن مسعود، معاذ بن جبل، جبير بن مطعم، ابو الدرداء او انس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٢٦٥٧_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، قَالَ:

---

[1] _ سنن ابي داود/ العلم ١٠ (٣٦٦٠)، سنن ابن ماجه/المقدمة: ١٨ (٢٣٠) (تحفة الأشراف: ٣٦٩٤)، و مسند احمد (١/٤٣٧)، و (٥/١٨٣)، وسنن الدارمي/المقدمة ٢٤ (٢٣٥)

سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "نَضَّرَ اللَّهُ امْرَأً سَمِعَ مِنَّا شَيْئًا فَبَلَّغَهُ كَمَا سَمِعَ فَرُبَّ مُبَلَّغٍ أَوْعَى مِنْ سَامِعٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عُمَيْرٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ. ([1])

ترجمه : ابن مسعودرضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هغه بنده دي الله تعالي تروتازه کړي چې څما نه څه خبره واوري او نورو ته يي ورسوي، څنګه چې يی اوريدلي وي کيدی شي چې چاته خبره اورسولی شي هغه داوريدونکي نه زيات حفاظت اوکړي.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دي او دا حديث عبدالملك بن عمير دعبدالله بن عبدالرحمن په واسطه بيان کړي دي.

لغات : نضر د نصر او سمع او کرم نه معني سر سبز اوشاداب او ترو تازه کيدل ، فبلغه: بلغ يبلغ بلوغا معني رسيدل، اوعي يادول دضرب نه مستعمل دي.

تشريح: په دي حديث کې دنبي کريم صلي الله عليه وسلم احاديثو لره ديادولو نه پس خلقو ته دبيانولو ترغيب دی.

"نضر الله" دماضي صيغه ده په دي کې دوه احتمالونه دي اول احتمال دادی چې ماضي پخپله معني ده يعني اخبار دی نو دحديث اوريدو نه پس بل چاته درسولو دپاره په دي کې دتراوتازه کيدو خبر ورکولی شي دا خبره اګر چې دمستقبل سره تعلق لري مګر ديقيني کيدو په وجه ورنه په ماضي سره تعبير شوی دی دويمه داده چې ماضي دلته په معني ددعا ده يعني نبي کريم صلي الله عليه وسلم دداسي کس دپاره دعا کوي.

اهل الحديث طويلة اعمارهم ووجوههم بدعاء النبي منضرة

"اوعي" داداسم تفضيل صيغه ده په معني دمحفوظ کولو علماء وائي دلته دوه صورتونه کيدی شي يو زيات حفاظت کونکی کيدل او دويم زيات پوهه کيدل په دي بنا چې کله بل چاته خبره رسولی شي نو ممکن ده چې په دوئ کې دا دويم زيات پوهه وي يايوشان وي خو په هر حال کې تبليغ دفائدي نه خالي نه دی او په عدم تبليغ سره علم محدود پاتي کيږي بل چاته درسولو په صورت کې سمج داران ورنه استفاده کولی شي او دعلم دمحدود پاتي کيدو په ځاي وسعت اختياروي.

---

[1] ـ سنن ابن ماجه/المقدمة ١٨(٢٣٢) (تحفة الأشراف: ٩٣٦١)

په نورو الفاظو حاملين حديث يعني دحديث يادونكي او راتلونكو نسلونو ته رسونكي ددين ډير لوي خدمت كوي چې په پورتني حديث كې ورته دعا شوي ده مگر فقهاء صرف د الفاظو په يادولو اكتفاء نه كوي بلكه دنبوت دعلومو په سمندر كې غوپه كيږي اود تل نه يي قيمتي جواهر را اوباسي او امت ته يي پيش كوي.

دپورتني حديث نه دا هم معلومه شوه چې كه څوك دحديث الفاظ ياد كړي دهغه دپاره ضروري نده چې په حديث دي فهم هم ولري ده لره پكار دي چې د كوم فقيه اتباع وكړي هر كله چې دداسي كس دپاره دفقيه اتباع ضروري ده نو دعوامو دپاره خو دفقهاؤ اتباع په درجه اولى ضروري او لازمي ده.(روضة)

****

٢٦٥٨ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "نَضَّرَ اللَّهُ امْرَأً سَمِعَ مَقَالَتِي فَوَعَاهَا وَحَفِظَهَا وَبَلَّغَهَا فَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ إِلَى مَنْ هُوَ أَفْقَهُ مِنْهُ، ثَلَاثٌ لَا يُغِلُّ عَلَيْهِنَّ قَلْبُ مُسْلِمٍ: إِخْلَاصُ الْعَمَلِ لِلَّهِ، وَمُنَاصَحَةُ أَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ، وَلُزُومُ جَمَاعَتِهِمْ، فَإِنَّ الدَّعْوَةَ تُحِيطُ مِنْ وَرَائِهِمْ".([1])

ترجمه: دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هغه بنده دي الله ترو تازه ساتي څوك چې زما خبري يادي كړي اوځان ورباندي پوهه كړي او بيا يي نورو خلقو ته اورسوي ځكه چې زيات خلق چې كله كله دعلم خبره داسي خلقو ته رسوي څوك چې ددوئ نه زيات سمجدار او پوهه وي اوپه دري خبرو كې دمسلمان زړه بخل نه كوي دخلوص سره دالله تعالي دپاره عمل كول، دمسلمانانو خيرخواهي لټول، اودمسلمانانو دډلي ره تعلق ساتل، هيڅ شك نشته چې ددوئ دعوت به په وروستنو احاطه اوكړي

****

٨ـ بَاب مَا جَاءَ فِي تَعْظِيمِ الْكَذِبِ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

رسول الله صلي الله عليه وسلم ته په دروغه ديوي خبري نسبت كول عظيمه گناه ده

٢٦٥٩ـ حَدَّثَنَا أَبُو هِشَامٍ الرِّفَاعِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ، حَدَّثَنَا عَاصِمٌ، عَنْ زِرٍّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ

---

[1] سنن ابن ماجه/المقدمة ١٨ (٢٣٢) (تحفة الأشراف: ٩٣٦١)

النَّارِ".(١)

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: چاچې په ماباندی په قصد دروغ جوړ کړل (يعني دداسې خبرې نسبت يې رسول الله صلي الله عليه وسلم ته اوکړو چې رسول الله صلي الله عليه وسلم نه وي کړي) نوځان ته دی په دوزخ کې ځايې تيار کړي (دهغه ځايې دوزخ دی).

لغات : كذب : كذب يكذب كذبا دضرب نه معني دروغ ويل ، متعمدا: معني قصدا .

تشريح: "من كذب علي متعمدا" دحديث په دي حصه کې دهغه چا دپاره وعيد بيان شوی دی څوك چې دخپل ځان نه احاديث جوړوي ددي کار په حکم کې اختلاف دی دابومحمد جويني په نزد دا کار کفر دی ليکن دجمهورو علماؤ او امام الحرمين خيال دادی که څوك دا کار حلال اوګنړي نو کفر دی ورنه لويه ګناه ده.

****

٢٦٦٠ـ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ مُوسَى الْفَزَارِيُّ ابْنُ بِنْتِ السُّدِّيِّ، حَدَّثَنَا شَرِيكُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ مَنْصُورِ بْنِ الْمُعْتَمِرِ، عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَكْذِبُوا عَلَيَّ، فَإِنَّهُ مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ يَلِجُ فِي النَّارِ". وفي الباب عن أَبِي بَكْرٍ، وَعُمَرَ، وَعُثْمَانَ، وَالزُّبَيْرِ، وَسَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَأَنَسٍ، وَجَابِرٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَعَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ، وَعُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، وَمُعَاوِيَةَ، وَبُرَيْدَةَ، وَأَبِي مُوسَى الْغَافِقِيِّ، وَأَبِي أُمَامَةَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، وَالْمُنْقَعِ، وَأَوْسٍ الثَّقَفِيِّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَلِيٍّ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. قَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ مَنْصُورُ بْنُ الْمُعْتَمِرِ، أَثْبَتُ أَهْلِ الْكُوفَةِ، وَقَالَ وَكِيعٌ: لَمْ يَكْذِبْ رِبْعِيُّ بْنُ حِرَاشٍ فِي الْإِسْلَامِ كَذْبَةً.(٢)

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په ما پوري دروغ مه تړئ ځکه چې په ما پوري دروغ تړونکي به جهنم ته داخليږي.

امام ترمذي وايي: دعلي رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي، او په دي باب کې دابوبکر،

---

[1] ـ سنن ابن ماجه/المقدمة ٤ (٣٠) . وانظر أيضا ماتقدم برقم ٢٢٥٧ (تحفة الأشراف : ٩٢١٢) . و مسند احمد (١/٣٨٩، ٤٠١، ٤٠٢، ٤٠٥، ٤٣٦، ٤٥٣)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /العلم ٣٨ (١٠٦) . صحيح مسلم /المقدمة ٢ (١) . سنن ابن ماجه/المقدمة ٤ (٣١) (تحفة الأشراف : ١٠٠٨٧) . و مسند احمد (١/٨٣، ١٢٣، ١٥٠)

عمر، عثمان، زبير، سعيد بن زيد، عبدالله بن عمرو، انس، جابر، ابن عباس، ابوسعيد، عمرو بن عبسه، عقبه بن عامر، معاويه، بريده، ابوموسي، ابوامامه، عبدالله بن عمر، مقنع، او اوس ثقفي رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٢٦٦١ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ حَسِبْتُ أَنَّهُ قَالَ: مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ بَيْتَهُ مِنَ النَّارِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسٍ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.[1]

ترجمه: دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچې زما باره کي دروغ اووئيل (انس وائي) زما خيال دي چې رسول الله د "من كذب علي" نه پس متعمدا لفظ هم اووئيل يعني چې قصدا په ما پوري دروغ اوتړي دداسي كس داوسيدو ځاي جهنم دي.

امام ترمذي وايي: دا حديث په دي سند حسن صحيح غريب دي يعني دزهري په هغه سند چې په کوم يي دانس بن مالك نه نقل كړي دي، او دا حديث په متعددو سندونو دانس رضي الله عنه په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي.

****

٩ ـ بَابُ مَا جَاءَ فِيمَنْ رَوَى حَدِيثًا، وَهُوَ يَرَى أَنَّهُ كَذِبٌ

قصدا په دروغه دموضوعي حديث بيا نولو والا دمذمت بيان

٢٦٦٢ ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ مَيْمُونِ بْنِ أَبِي شَبِيبٍ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ حَدَّثَ عَنِّي حَدِيثًا وَهُوَ يَرَى أَنَّهُ كَذِبٌ فَهُوَ أَحَدُ الْكَاذِبِينَ"، وفي الباب عن عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، وَسَمُرَةَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَرَوَى شُعْبَةُ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ سَمُرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا الْحَدِيثَ. وَرَوَى الْأَعْمَشُ، وَابْنُ أَبِي لَيْلَى،

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /العلم ٣٨ (١٠٨). صحيح مسلم /المقدمة ٢ (٢). سنن ابن ماجه /المقدمة ٣ (٣٢) (تحفة الأشراف: ١٥٢٥)

عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ عَلِيٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَكَأَنَّ حَدِيثَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ سَمُرَةَ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ أَصَحُّ. قَالَ: سَأَلْتُ أَبَا مُحَمَّدٍ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ حَدِيثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ حَدَّثَ عَنِّي حَدِيثًا وَهُوَ يَرَى أَنَّهُ كَذِبٌ فَهُوَ أَحَدُ الْكَاذِبِينَ". قُلْتُ لَهُ: مَنْ رَوَى حَدِيثًا وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّ إِسْنَادَهُ خَطَأٌ أَيُخَافُ أَنْ يَكُونَ قَدْ دَخَلَ فِي حَدِيثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ أَوْ إِذَا رَوَى النَّاسُ حَدِيثًا مُرْسَلًا فَأَسْنَدَهُ بَعْضُهُمْ أَوْ قَلَبَ إِسْنَادَهُ يَكُونُ قَدْ دَخَلَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ؟ فَقَالَ: لَا إِنَّمَا مَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ إِذَا رَوَى الرَّجُلُ حَدِيثًا وَلَا يُعْرَفُ لِذَلِكَ الْحَدِيثِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصْلٌ فَحَدَّثَ بِهِ فَأَخَافُ أَنْ يَكُونَ قَدْ دَخَلَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ.[1]

ترجمه : دمغيره بن شعبه رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچې ماته دمنصوب كولو په حال كي قصدا دروغ اووئيل او د دروغو حديث يي بيان كړو نو دي به په دوه دروغ ويونكي كي يو وي.

امام ترمذي وايئ: داحديث حسن صحيح دي، شعبه دحكم نه او حكم دعبدالرحمن بي ابي ليلي نه او عبدالرحمن دسمره نه او سمره دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دا حديث نقل كړي دي، او اعمش او ابن ابي ليلي دحكم نه او حكم دعبدالرحمن نه او هغه دسمره رضي الله عنه نه نقل كړي دي او دا دمحدثينو په نزد زيات صحيح دي، او په دي باب كي دعلي بن ابي طالب او سمره رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي ما د ابو محمد عبدالله بن عبدالرحمن دارمي نه ددي حديث باره كي تپوس اوكړو چې ددينه څه مراد دي ما ورته اووئيل ايا دا ورنه مراد دي چې چا يو حديث بيان كړو او هغه ته پته وي چې ددي په سند كي غلطي ده نو ايا دا خوف او خطره به محسوس كيږي چې داسي كس دنبي كريم صلي الله عليه وسلم ددي حديث په وعيد كي داخل شو؟او كنه ددينه مراد دادي چې خلقو مرسل احاديث بيان كړي دي او بيا بعضي خلقو دغه مراسيل مرفوع كړي دي او يا يي ددي سند التهه كړي وي نو دا خلق رسول الله پوري ددي حديث دمرفوع كولو كومه اصل وجه نه پيژني او دا كس يي مرفوع بيان كړي چې رسول الله داسي فرمائيلي دي پس زه ويريږم هسي نه چې دا كسان ددي حديث په مصداق كي داخل نشي.

****

[1] ـ صحيح مسلم/المقدمة ١ (بدون رقم). سنن ابن ماجه/المقدمة ٥ (٣١) (تحفة الأشراف: ١١٥٢١)

١٠_باب مَا نُهِيَ عَنْهُ أَنْ يُقَالَ عِنْدَ حَدِيثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

درسول الله د حديث اوريدو وخت كي څه وئيل منع دي

٢٦٦٣_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، وَسَالِمٍ أَبِي النضر، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ أَبِي رَافِعٍ وَغَيْرِهِ، رَفَعَهُ قَالَ: "لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ مُتَّكِئًا عَلَى أَرِيكَتِهِ يَأْتِيهِ أَمْرٌ مِمَّا أَمَرْتُ بِهِ أَوْ نَهَيْتُ عَنْهُ فَيَقُولُ: لَا أَدْرِي مَا وَجَدْنَا فِي كِتَابِ اللَّهِ اتَّبَعْنَاهُ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ عَنْ سُفْيَانَ، عَنِ ابْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا، وَسَالِمٍ أَبِي النَّضْرِ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَكَانَ ابْنُ عُيَيْنَةَ إِذَا رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ عَلَى الِانْفِرَادِ، بَيَّنَ حَدِيثَ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، مِنْ حَدِيثِ سَالِمٍ أَبِي النَّضْرِ، وَإِذَا جَمَعَهُمَا رَوَى هَكَذَا، وَأَبُو رَافِعٍ مَوْلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْمُهُ: أَسْلَمُ.[1]

ترجمه: دابو رافع وغيره نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زه دي په تاسو كي هيڅوا لره په داسي حال كي اونه مومم چي هغه پخپل تخت ډډه وهلي وي او هغه ته زما دامر يا نهي كوم حكم اورسيږي او دي داسي اووائي چي ماته پته نشته مونږ خو چي دالله په كتاب كي هر څه موندلي دي دهغي پيروي مو كړي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي بعضي راويانو دسفيان نه او سفيان دابن منكدر نه او ابن منكدر دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه داحديث مرسل نقل كړي دي، او بعضي راويانو دسالم ابو النضر نه او سالم دعبيدالله بن ابي رافع نه او عبيدالله دخپل پلار ابو رافع په ذريعه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي، ابن عيينه چي كله دا حديث يواځي بيانولو نو دمحمد بن منكدر دحديث نه چي كوم دسالم بن نضر نه نقل دي جدا بيانوي او چي كله به يي دواړه احاديث جمع كول نو داسي به يي نقل كول څنګه چي په دي حديث كي دي ابو رافع درسول الله صلي الله عليه وسلم ازاد كړي غلام وو او دده نوم اسلم دي.

****

٢٦٦٤_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ جَابِرٍ اللَّخْمِيِّ، عَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِ يكَرِبَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

---

[1] _ سنن ابي داود/ السنة ٦ (٤٦٠٥). سنن ابن ماجه/المقدمة ٢ (١٣) (تحفة الأشراف: ١٢٠١٩). و مسند احمد (٦/٨)

وَسَلَّمَ: "أَلَا هَلْ عَسَى رَجُلٌ يَبْلُغُهُ الْحَدِيثُ عَنِّي وَهُوَ مُتَّكِئٌ عَلَى أَرِيكَتِهِ فَيَقُولُ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ كِتَابُ اللَّهِ فَمَا وَجَدْنَا فِيهِ حَلَالًا اسْتَحْلَلْنَاهُ وَمَا وَجَدْنَا فِيهِ حَرَامًا حَرَّمْنَاهُ وَإِنَّ مَا حَرَّمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا حَرَّمَ اللَّهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

ترجمه: دمقدام بن معديكرب رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي خبردار ډيره نزدي ده يو سړي ته به په داسي حالت کي زما حديث اورسيږي چي پخپل تخت به يي ډډه وهلي وي او ناست به وي او دي به وائي بس زمونږ او ستاسو په مينځ کي دفيصلي څيز دالله تعالي کتاب دي په دي کي چي مونږ څه حلال مومو هم هغه به حلال ګنړو او کوم څه چي په دي کي حرام وي هغه به حرام ګنړو، ياد ساتئ يقينا رسول الله صلي الله عليه وسلم چي کوم څيز حرام ګرځولي دي دا داسي حرام دي څنګه چي دالله تعالي حرام کړي څيز وي.

امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند حسن غريب دي.

****

١١_بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ كِتَابَةِ الْعِلْمِ

(په ابتداء داسلام کي) داحاديثو ليکلو دمما نعت بيان

٢٦٦٥_حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: "اسْتَأْذَنَّا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْكِتَابَةِ فَلَمْ يَأْذَنْ لَنَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ أَيْضًا عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، رَوَاهُ هَمَّامٌ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ. (2)

ترجمه: دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي مونږ (په ابتداء داسلام کي) درسول الله صلي الله عليه وسلم نه داحاديثو ليکلو اجازت اوغوښتلو نو مونږ ته يي ددي دليکلو اجازت رانکړو.

امام ترمذي وايي: داحديث ددي سند نه علاوه هم په نورو سندونو دزيد بن اسلم په واسطه مروي دي او دا حمام دزيد بن اسلم نه نقل کړي دي.

****

[1] _ سنن ابن ماجه/المقدمة ٢ (١٢) (تحفة الأشراف: ١١٥٥٢)

[2] مسلم/الزهد ١٦ (٣٠٠٤)

١٢_باب مَا جَاءَ فِي الرُّخْصَةِ فِيهِ

درسول الله صلي الله عليه وسلم دطرفه داحاديثو ليكلو داجازت بيان

٢٦٦٦_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ الخَلِيلِ بْنِ مُرَّةَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: كَانَ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ يَجْلِسُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَسْمَعُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الحَدِيثَ، فَيُعْجِبُهُ وَلَا يَحْفَظُهُ، فَشَكَا ذَلِكَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي أَسْمَعُ مِنْكَ الحَدِيثَ فَيُعْجِبُنِي وَلَا أَحْفَظُهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اسْتَعِنْ بِيَمِينِكَ وَأَوْمَأَ بِيَدِهِ لِلْخَطِّ"، وفي الباب عن عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ إِسْنَادُهُ لَيْسَ بِذَلِكَ القَائِمِ، وَسَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ يَقُولُ: الخَلِيلُ بْنُ مُرَّةَ مُنْكَرُ الحَدِيثِ.
([1])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې يو انصاري به درسول الله صلي الله عليه وسلم په مجلس کې کيناستلو او احاديث به يې اوريدل او احاديث به دهغه ډير زيات خوښ وو ليکن ياديدل به يې نه نو هغه د نه ياديدو متعلق رسول الله صلي الله عليه وسلم ته شکايت اوکړو اي دالله رسوله زه ستاسو نه احاديث اورم او زما ډير زيات خوښ دي مګر زما نه ياديږي رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل دخپل لاس نه کار واخله او ددي وئيلو په حال کې يې په لاس ليکلو ته اشاره اوکړه.

امام ترمذي وايي: ددي حديث سند قوي او مضبوط نه دي، ما دامام بخاري نه اوريدلي دي خليل بن مره منکر الحديث دي، په دي باب کې دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه هم حديث وارد دي.

****

٢٦٦٧_حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، وَمَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، قَالَا: حَدَّثَنَا الوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا الأَوْزَاعِيُّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ فَذَكَرَ القِصَّةَ فِي الحَدِيثِ، قَالَ أَبُو شَاهٍ: اكْتُبُوا لِي يَا رَسُولَ اللهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اكْتُبُوا لِأَبِي شَاهٍ"، وَفِي الحَدِيثِ قِصَّةٌ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ،

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٢٨١٣)

وَقَدْ رَوَى شَيْبَانُ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ مِثْلَ هَذَا. ([1])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي ديً فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم يو ځل خطبه ورکړه او دخطبي په دوران کي يي يوه قصه بيان کړه نو ابو شاه (صحابي) اووئيل اي دالله رسوله دا زما دپاره په چا باندي اوليکه رسول الله صلي الله عليه وسلم صحابه کرامو ته اوفرمائيل دا دابوشاه دپاره اوليکئ او په دي حديث کي پوره واقعه مذکور ده.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دي شيبان ديحي بن ابي کثير نه ددي پشان روايت نقل کړي دي.

****

٢٦٦٨ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ وَهْبِ بْنِ مُنَبِّهٍ، عَنْ أَخِيهِ وَهُوَ هَمَّامُ بْنُ مُنَبِّهٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: "لَيْسَ أَحَدٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكْثَرَ حَدِيثًا عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنِّي إِلَّا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو، فَإِنَّهُ كَانَ يَكْتُبُ وَكُنْتُ لَا أَكْتُبُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَوَهْبُ بْنُ مُنَبِّهٍ عَنْ أَخِيهِ هُوَ هَمَّامُ بْنُ مُنَبِّهٍ. ([2])

ترجمه : دهمام بن منبه قول دي چې ما دابوهريره رضي الله عنه نه اوريدلي دي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم په صحابه کرامو کي داحاديثو په بيانولو کي دعبدالله بن عمرو نه علاوه زما نه بل څوك زيات نشته زما او دعبدالله بن عمرو په مينځ کي فرق دا وو چې هغه به احاديث ليکل او ما به نه ليکل.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي، او په دي روايت کي چې وهب بن منبه عن اخيه راغلي دي نو داخيه نه مراد همام بن منبه ده.

****

١٣ـ باب مَا جَاءَ فِي الْحَدِيثِ عَنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ.

داسرائيلي روايتونو دبيا نولو دپاره داجازت غوښتلو بيان

٢٦٦٩ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ، عَنِ ابْنِ ثَوْبَانَ هُوَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ

---

[1] ـ انظر تخريج حديث رقم ١٣٠٥

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /العلم ٣٩ (١١٣) (تحفة الأشراف : ١٤٨٠٠)

ثَابِتِ بْنِ ثَوْبَانَ، عَنْ حَسَّانَ بْنِ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي كَبْشَةَ السَّلُولِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "بَلِّغُوا عَنِّي وَلَوْ آيَةً، وَحَدِّثُوا عَنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَلَا حَرَجَ، وَمَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دعبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څما دطرفه خلقو ته ددين احكام اورسوئ، اګر چې يو ايت وي اودبني اسرائيلو تاريخي واقعات بيانوي پدى کې څه حرج نشته اوچاچې په ماباندى په قصد دروغ جوړ کړل (يعني دداسي خبرى نسبت يې رسول الله صلي الله عليه وسلم ته اوکړو چې رسول الله صلي الله عليه وسلم نه وي کړي) نوځان ته دى په دوزخ کې ځاى تيار کړي (دهغه ځاى دوزخ دى).

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

لغات : بلغوا: بلغ يبلغ بلوغا په معني درسيدو دي ، كذب : كذب يكذب كذبا دضرب نه معني دروغ ويل ، متعمدا: معني قصدا .

تشريح: ولو اية: اية خبر دى دكان محذوفه كان او ددي اسم محذوف دى تقدير دعبارت داسي دى ولوكان المبلغ اية، داية نه مراد دقران كريم ايت دى يا مطلق دى او الكلام المفيد ورنه مراد دى نو په دي کې به ددين هره خبره داخل وي داولني مطلب په اعتبار دقراني ايت تخصيص ددي داهميت په وجه شوى دى، علماء واي كله كله كومه مختصره خبره هم دانسان دپاره دهدايت باعث ګرځي.

سوال: ددي حديث نه خو معلوميږي چې صرف په قران سره دي تبليغ اوكړى شي او دحديث ذكر پكې نشته .

اول جواب: دقراني ايت تبليغ حكم دى دلته دحديث دتبليغ نفي نشته.

دويم جواب: دايت لغوي معني مراد ده كومه چې په معني دعلامي ده او قراني ايت او حديث نبوي او فقهي مسائلو ته شامله ده.

دريم جواب: كله چې دايت تبليغ باوجود دمحفوظ كيدو دقران ضروري دى نو دحديث خو په درجي اولي ضروري دى.

حدثوا عن بني اسرائيل ولا حرج: دبني اسرائيلو خبري بيانوي په دي کې هيڅ خرج نشته.

سوال: كله چې عمر رضي الله عنه درسول الله صلي الله عليه وسلم په وړاندي دتورات نسخه

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع /أحاديث الأنبياء ٥٠ (٣٤٦١) (تحفة الأشراف : ٨٩٦٤)

اولوستله نورسول الله صلي الله عليه وسلم ورته غصه شو او دلته ورته رسول الله صلي الله عليه وسلم پخپله دااسرائيليياتو دنقل كولو اجازت وركوي

جواب: دلته په دي حديث كې مراد اسرائيلي قصي دي او نصيحتونه دي چې نقل كولى شي په طور دعبرت او چې عمر رضي الله عنه يي منع كړې وو دهغي نه مراد احكامات دي كوم چې منسوخ شوي دي خلاصه دا شوه چې په اسرائيلي احكامو عمل كول منع دي او دعبرت دپاره يي بيانول جائز دي.

"من كذب علي متعمدا" دحديث په دي حصه كې دهغه چا دپاره وعيد بيان شوى دى څوك چې دځپل ځان نه احاديث جوړوي ددي كار په حكم كې اختلاف دى دابومحمد جويني په نزد دا كار كفر دى ليكن دجمهورو علماؤ او امام الحرمين خيال دادى كه څوك دا كار حلال اوګڼړي نو كفر دى ورنه لويه ګناه ده. (روضة الصالحين).

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ، عَنْ حَسَّانَ بْنِ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي كَبْشَةَ السَّلُولِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ وَهَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : ابوكبشه سلولي دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

١٤_بَاب مَا جَاءَ الدَّالُّ عَلَى الْخَيْرِ كَفَاعِلِهِ

نيكئ ته رهنمائي كونكي د نيكي كونكو پشان دي

٢٦٧٠_حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ بَشِيرٍ، عَنْ شَبِيبِ بْنِ بِشْرٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ يَسْتَحْمِلُهُ فَلَمْ يَجِدْ عِنْدَهُ مَا يَتَحَمَّلُهُ، فَدَلَّهُ عَلَى آخَرَ فَحَمَلَهُ، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ، فَقَالَ: " إِنَّ الدَّالَّ عَلَى الْخَيْرِ كَفَاعِلِهِ "، وفي الباب عن أَبِي مَسْعُودٍ الْبَدْرِيِّ، وَبُرَيْدَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع /أحاديث الأنبياء ٥٠ (٣٤٦١) (تحفة الأشراف: ٨٩٦٤)

الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (1)

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې يو كس دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شو چې د سورلئ مطالبه يي كوله رسول الله صلي الله عليه وسلم ده ته دوركولو دپاره هيڅ قسم سورلئ اونه موندله نو ده ته يي يو بل كس اوخودلو نو هغه ده ته سورلئ وركړه دا چې كله نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته واپس راوګرځيدو نو واقعه يي ورته بيان كړه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل نيكئ طرف ته رهنمائي كونكى دنيكئ كونكي پشان دى.

امام ترمذي وايي: او په دي باب كي دابومسعود بدري او بريده رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي. او دا حديث په دي سند دانس په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه غريب دي.

****

٢٦٧١ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْأَعْمَشِ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا عَمْرٍو الشَّيْبَانِيَّ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْبَدْرِيِّ، أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَحْمِلُهُ، فَقَالَ: إِنَّهُ قَدْ أُبْدِعَ بِي، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ائْتِ فُلَانًا ". فَأَتَاهُ فَحَمَلَهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ دَلَّ عَلَى خَيْرٍ فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِ فَاعِلِهِ " أَوْ قَالَ: " عَامِلِهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو عَمْرٍو الشَّيْبَانِيُّ اسْمُهُ: سَعْدُ بْنُ إِيَاسٍ، وَأَبُو مَسْعُودٍ الْبَدْرِيُّ اسْمُهُ: عُقْبَةُ بْنُ عَمْرٍو. (2)

ترجمه : د ابو مسعود بدري انصاري رضي الله عنه بدري نه روايت دى چې رسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كي يو كس حاضر شو چې سورلئ يي ورنه غوښتله او وئيل يي چې زه بي سورلئ شوي يم رسول الله ورته اوفرمائيل فلاني ته ورشه نو دي ورته ورغلو هغه ورته سورلئ وركړه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چاچې بل ته يو نيك كار اوخودو هغه ته به هم دكوونكي هومره اجر وركولى شي .

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او دابوعمرو شيباني نوم سعد بن اياس دي او دابومسعود بدري نوم عقبه بن عمرو دي.

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٩٠٢)

2 ـ صحيح مسلم/الإمارة ٣٨ (١٨٩٣) ، سنن ابي داود/الأدب ١٢٢ (٥١٢٩) (تحفة الأشراف : ٩٩٨٦) ، و مسند احمد (٤/١٢٠)

لغات: دلّ دلالة ودلولة دنصر نه په معني درهنمايي كولو.

تشريح: "من دلّ علي خير فله مثل اجر فاعله" يعني څوك چې دنيكۍ طرف ته رهنمايي وكړي نو په دي باندي دعمل كونكي داجر برابر اجر ده ته هم ملاويږي.

ددي حديث شان ورود دادي چې كله يو صحابي د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه دسورلۍ مطالبه وكړله نو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زما سره خو سورلۍ نشته نو يوكس ووئيل زه به داسي كس دروښايم چې ده ته به سورلۍ وركړي نو په دي وخت كې رسول الله صلي الله عليه وسلم پورتني ارشاد اوفرمائيلو.

په دي حديث كې دالله تعالي دطرفه دزبردست انعام وعده ده يو څوك پخپله دومره ثواب نشي كټلي څومره چې ورته ددعوت تبليغ په وجه ملاويږي چې خلقو ته ترغيب وركړي او هغوئ اجر حاصل كړي او دي هم ورسره شريك شي.

****

حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي عَمْرٍو الشَّيْبَانِيِّ، عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، وَقَالَ: "مِثْلُ أَجْرِ فَاعِلِهِ" وَلَمْ يَشُكَّ فِيهِ. (1)

ترجمه: ابوعمرو شيباني هم دابومسعود په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي مګر دده په حديث كي مثل اجرفاعله الفاظ راغلي دي او بغير دشك نه يي ذكر كړي دي.

****

٢٦٧٢ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، وَالْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ قَالُوا: حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ جَدِّهِ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " اشْفَعُوا وَلْتُؤْجَرُوا وَلْيَقْضِ اللَّهُ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ مَا شَاءَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَبُرَيْدٌ يُكْنَى: أَبَا بُرْدَةَ أَيْضًا هُوَ ابْنُ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ وَهُوَ كُوفِيٌّ ثِقَةٌ فِي الْحَدِيثِ رَوَى عَنْهُ شُعْبَةُ، وَالثَّوْرِيُّ، وَابْنُ عُيَيْنَةَ. (2)

---

1 ـ صحيح مسلم/الإمارة ٣٨ (١٨٩٣)، سنن ابي داود/الأدب ١٢٢ (٥١٢٩) (تحفة الأشراف: ٩٩٨٦)، و مسند احمد (٤/١٢٠)

2 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح/الزكاة ٢١ (١٤٣٢)، والأدب ٣٦ (٦٠٢٧)، و ٣٧ (٦٠٢٨)، والتوحيد ٣١ (٧٤٧٦). صحيح مسلم/البر والصلة ٤٤ (٢٦٢٧)، سنن ابي داود/الأدب ١٢٦ (٥١٣١)، سنن النسائي/الزكاة ٦٥ (٢٥٥٧) (تحفة الأشراف: ٩٠٣٦) و مسند احمد (٤/٤٠٠، ٤٠٩، ٤١٣)

ترجمه : ابو موسي اشعري رضي الله عنه روايت كوي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمائيل: سفارش كوئ تاسو ته به هم دهغي اجر ملاويږي او الله تعالي ته چې كومه خبره خوښه وي هغه دخپل رسول الله صلي الله عليه وسلم په ذريعه صادر وي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او د بريد اسم كنيه ابوبرده ده او دا رنګي ابن ابي موسي هم دده اسم كنيه ده او دي دكوفي اوسيدونكي او يو ثقه راوي دي په باب دحديث كي چې شعبه او سفيان ثوري او ابن عيينه ورنه نقل درروايت كړي دي.

لغات: اشفعوا : شفع شفاعة دفتح نه په معني دسفارش كولو.

تشريح: اشفعوا توجروا ، سفارشو نه كوئ او اجرونه حاصل كړئ، چې يو كس يوكار پخپله نشي كولي اوځوك چاته ترغيب وركړي نو چرته چې دي كار كونكي ته ثواب ملاويږي هلته به ترغيب وركونكي هم محروم نه پاتي كيږي.

ويقضي الله علي لسان نبيه يعني الله تعالي چې دخپل رسول په ژبه څنګه فيصله صادرول اوغواړي هم هغه شان صادروي، مطلب دادي چې دنبي په ژبه چې څه جاري وي هغه دالله تعالي په خوښه اوحكم سره وي ، رسول دخپل طرفه هيڅ نه وايي ، دلته يي هم په سفارش داجر وركولو وعده وكړله داهم دالله فضل او احسان دي چې دكار كولو نه بغير اجر ملاويږي.

****

٢٦٧٣ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، وَعَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُرَّةَ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَا مِنْ نَفْسٍ تُقْتَلُ ظُلْمًا، إِلَّا كَانَ عَلَى ابْنِ آدَمَ كِفْلٌ مِنْ دَمِهَا، وَذَلِكَ لِأَنَّهُ أَوَّلُ مَنْ أَسَنَّ الْقَتْلَ "، وَقَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ: " سَنَّ الْقَتْلَ "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په دنيا كې چې چيرته ځوك بی ګناه په ظلم قتل كړی شي د ادم ځوي ته دهغی قتل په ګنا كې حصه رسي، ځكه چې هغه په دنيا كې ړومبی سړی دی چې دقتل طريقه يی روانه كړه.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

---

[1] ـ اورده البخاري في الصحيح /أحاديث الأنبياء ١ (٣٣٣٥) . والديات ٢ (٦٨٦٧) . والاعتصام ١٥ (٧٣٢١) . مسلم /القسامة (الحدود) ٧ (١٦٧٧) . سنن النسائي/المحاربة ١ (٣٩٩٠) . سنن ابن ماجه/الديات ١٢ (٢٦١٦) (تحفة الأشراف : ٩٥٦٨) . ومسند احمد (١/٣٨٣، ٤٣٠، ٤٣٣)

لغات: كفَل: كفَل كفِل او كفُل كفلا وكفولا دنصر او ضرب او سمع نه او كرم نه په معني د چاد مال ضامن كيدلو ته ونيلي شي. الكفل: حصه.

تشريح: "الا كان علي ابن ادم كفل من دمها" مګر دادم عليه السلام د اولني بچي به په دي خون كې حصه وي، دا واقعه دقران كريم په مندرجه ذيل ايت كې هم په مفصل طور سره بيان شوي ده:

واتل عليهم نبأ ابني ادم بالحق اذ قربا قربانا فتقبل من احدهما ولم يتقبل من الاخر قال لاقتلنك قال انما يتقبل الله من المتقين.

دا حديث ددينه دمخكې حديث دپاره ضابطه ده علامه نووي وايي څوك چې دكوم غلط كار ابتداء وكړي نو ددي ګناه هم اوكه په دي باندي څوك وروسته عمل كوي دهغي ګناه به هم په ده باندي وي، او دا سلسله به دقيامته پوري جاري وي.

په دي حديث كې په دي خبره تنبيه ده چې څوك دي داسي كار نه شروع كوي كوم چې خلاف شرع او بد كار وي. چې وروسته يي بيا خلق تقليد شروع كړي ، دا يو دومره لوي جرم دي چې دقيامته پوري هرڅوك پدي عمل كوي نو دي بدعت ايجاد كونكي ته به ددي ګناه رسيږي لكه مخكې تير شول چې څوك نيكه طريقه جاري كړي نو ددي اجر اوثواب به ددي طريقي جاري كونكي ته رسيږي.

****

حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ، قَالَ: " سَنَّ الْقَتْلَ ".[1]

ترجمه: داعمش نه هم په دي سند باندي دماقبل هم معني روايت مروي دي مګر دده په حديث كي سن القتل الفاظ راغلي دي.

****

١٥_ بَاب مَا جَاءَ فِيمَنْ دَعَا إِلَى هُدًى فَاتُّبِعَ أَوْ إِلَى ضَلَالَةٍ

هدايت او ګمراهۍ ته د رابلو نكو بيان

[1] ـ اورده البخاري في الصحيح/أحاديث الأنبياء ١ (٣٣٣٥). والديات ٢ (٦٨٦٧). والاعتصام ١٥ (٧٣٢١). مسلم/القسامة (الحدود) ٧ (١٦٧٧). سنن النسائي/المحاربة ١ (٣٩٩٠). سنن ابن ماجه/الديات ١ (٢٦١٦) (تحفة الأشراف: ٩٥٦٨). و مسند احمد (١/٣٨٣، ٤٣٠، ٤٣٣)

٢٦٧٤_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنِ العَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ دَعَا إِلَى هُدًى كَانَ لَهُ مِنَ الأَجْرِ مِثْلُ أُجُورِ مَنْ يَتَّبِعُهُ لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا، وَمَنْ دَعَا إِلَى ضَلَالَةٍ كَانَ عَلَيْهِ مِنَ الإِثْمِ مِثْلُ آثَامِ مَنْ يَتَّبِعُهُ لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ آثَامِهِمْ شَيْئًا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه : دابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي چاچې خلق نیکۍ ته راوبلل هغه ته به دومره اجر ورکولی شي څومره چې به دهغه تولو تابعدارو ته ورکولی شي او دهغوئ داجر نه به څه نه کمیږي اوچاچې خلق ګمراهۍ ته راوبلل دهغه به دومره ګناه وي څومره ګناهونه چې دهغه د تابعدارو وي او دهغوئ دګناهونو نه به څه نه کمیږي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

لغات: تبعه: تبع تبعا دسمع نه په معني دوزیسي کیدو.

ضلّ : ضلالا وضلالة دضرب‌ضلو سمع نه چې معني يي ددين نه اوړيدل دي اوحق لاري پريخودل.

تشريح : " قال من دعي الي هدي" يعني څوك چې هدايت طرف ته رابلل کوي، د هدايت نه مراد سنت نبوي دي لکه چې په نورو روايتونو کې راغلي دي:

من احيا سنة من سنتي قد اميتت من بعدي، او، من استن خيرا. ددي روايتونو نه معلومه شوه که څوك هغه خير ته دعوت ورکړي کوم چې د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه منقول دي نو دي کس ته ددي اجر ملاويږي، لکه چې ارشاد الهي دي: هل جزاء الاحسان الا الاحسان. او همدارنګي که څوك د کومي ګناه سبب جوړ شي نو دده به په ګناهونو کې حصه وي ، لکه چې په يو اثر کې راغلي دي: الدال علي الشر كفاعله. ارشاد الهي دي: جزاء سيئة سيئة مثلها.

****

٢٦٧٥_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا الْمَسْعُودِيُّ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنِ ابْنِ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ سَنَّ

[1] _ صحيح مسلم/العلم ٦ (٢٦٧٤). سنن ابي داود/السنة ٧ (٤٦٠٩) (تحفة الأشراف: ١٣٩٧٦). وسنن الدارمي/المقدمة

سُنَّةَ خَيْرٍ فَاتُّبِعَ عَلَيْهَا فَلَهُ أَجْرُهُ وَمِثْلُ أُجُورِ مَنِ اتَّبَعَهُ غَيْرَ مَنْقُوصٍ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا، وَمَنْ سَنَّ سُنَّةَ شَرٍّ فَاتُّبِعَ عَلَيْهَا كَانَ عَلَيْهِ وِزْرُهُ وَمِثْلُ أَوْزَارِ مَنِ اتَّبَعَهُ، غَيْرَ مَنْقُوصٍ مِنْ أَوْزَارِهِمْ شَيْئًا". وفي الباب عن حُذَيْفَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوُ هَذَا، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنِ الْمُنْذِرِ بْنِ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ جَرِيرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْضًا. [1]

ترجمه : دجرير بن عبدالله بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچې کومه نيکه طريقه جاري کړه او دنيکي طريقي پيروي يي اوکړهيو خو به ده ته په دي باندي دعمل کولو اجر ورکولي شي او دويم به ورته دهغه چا داجر په مقدار اجرورکولي شي چاچې په دي باندي عمل کړي وي او د هيڅ قسم کمي کولو نه بغير به دهغوئ داجر او ثواب برابر اجر او ثواب ده ته هم ورکولي شي، او چاچې کومه بده طريقه جاري کړه او بيا يي ددي بدي طريقي پيروي اوکړه يو خو به په ده باندي دخپل عمل بوج دګناه بار وي او دويم به دهغه چا بوج دګناه په ده بار وي چاچې په دي باندي عمل کړي وي بغير ددينه چې د پيروي کونکو په ګناه کي څه کمي اوکړي شي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي، او دا حديث په ډيرو سندونو دجرير بن عبدالله رضي الله عنه نه مروي دي او هغه په همدي مضمون دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه نقل کړي دي دا حديث دمضر بن جرير بن عبدالله نه هم مروي دي کوم چې هغه دخپل پلار جرير نه او هغه دعبدالله په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه نقل کړي دي، دا حديث دعبيدالله بن جرير په واسطه هم مروي دي او عبيدالله دخپل پلار جرير نه نقل کړي دي اوجرير درسول الله صلي الله عليه وسلم نه، او په دي باب کي دحذيفه رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي.

****

١٦_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْأَخْذِ بِالسُّنَّةِ وَاجْتِنَابِ الْبِدَعِ

په سنت پابندئ سره عمل کولو او دبدعت نه د ځان ساتلو بيان

[1] ـ مسلم/الزكاة ٢٠ (١٠١٧). والعلم ٦ (١٠١٧/١٥). سنن ابن ماجه/المقدمة ١٤ (٢٠٣) (تحفة الأشراف : ٣٢٦٢) و مسند احمد (٣٥٧/٤، ٣٥٨، ٣٦١، ٣٦٢). وسنن الدارمي/المقدمة ٤٤ (٥١٨)

٢٦٧٦ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ. حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ بْنُ الْوَلِيدِ، عَنْ بَحِيرِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَمْرٍو السُّلَمِيِّ، عَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ، قَالَ: وَعَظَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا بَعْدَ صَلَاةِ الْغَدَاةِ مَوْعِظَةً بَلِيغَةً ذَرَفَتْ مِنْهَا الْعُيُونُ وَوَجِلَتْ مِنْهَا الْقُلُوبُ. فَقَالَ رَجُلٌ: إِنَّ هَذِهِ مَوْعِظَةُ مُوَدِّعٍ. فَمَاذَا تَعْهَدُ إِلَيْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ ؟ قَالَ: " أُوصِيكُمْ بِتَقْوَى اللَّهِ، وَالسَّمْعِ، وَالطَّاعَةِ، وَإِنْ عَبْدٌ حَبَشِيٌّ فَإِنَّهُ مَنْ يَعِشْ مِنْكُمْ يَرَى اخْتِلَافًا كَثِيرًا، وَإِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتِ الْأُمُورِ فَإِنَّهَا ضَلَالَةٌ. فَمَنْ أَدْرَكَ ذَلِكَ مِنْكُمْ فَعَلَيْهِ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ. عَضُّوا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَى ثَوْرُ بْنُ يَزِيدَ، عَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَمْرٍو السُّلَمِيِّ، عَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ هَذَا. ([1])

ترجمه: عرباض بن ساريه رضي الله عنه راوي دی چې يوه ورځ د سحر د مونځ نه پس رسول الله صلي الله عليه وسلم ډير مؤثر او بهترين انداز کې مونږ ته وعظ اوفرمائيلو چې هغې سره زمونږ دسترګو نه اوښکي رواني شوي او زړونه نرم شول، مونږ عرض اوکړو اي دالله رسوله! داسي معلوميږي چې دا اخري درخصتيدو وعظ وي، پس تاسو مونږ ته نور څه نصيحت او وصيت کول غواړئ؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل څه تاسو ته دالله پاك نه دويري وصيت کوم دارنګي دحکم اوريدلو او هغي باندي دعمل کولو درته نصيحت کوم اګر که حبشي غلام ستاسو حاکم او امير جوړکړی شي تاسو کې چې څوك څمانه پس ژوندي پاتی شو هغه به بی حده زيات اختلاف اويني، خبردار ددين په معامله کي پخپل خيال نوي کارونه جوړولو نه ځان وساتئ ځکه چي دا ګمراهي ده، پس که په تاسو چا باندي دغه وخت راشي نو لازم دي په تاسو چې ځما د سنتو او ځما دهدايت يافته خلفاؤ دطريقي اتباع اوکړئ او هغه په غاښونو کې کلك اونيسئ.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي، ثور بن يزيد په سند د خالد بن معدان عن عبدالرحمن بن عمرو السلمي عن عرباض بن ساريه عن النبي صلي الله عليه وسلم سره ددي هم معني هم نقل کړي دي

لغات: وجلت وجلا وجلا وموجلا دسمع او نصر نه په معني دويريدو دي.

---

[1] ـ سنن ابي داود/ السنة ٦ (٤٦٠٧). سنن ابن ماجه/المقدمة ٦ (٤٢) (تحفة الأشراف: ٩٨٩٠). وسنن الدارمي/المقدمة ١٦(٩٦)

ذرفت: ذرف ذرفا وذريفا دسمع نه په معني د اوښکو بهيولو دي.
عضوا: عضّ عضا وعضيضا دسمع نه په معني دنيولو دي.
النواجذ: نجذ نجذا دفتح نه په معني د پريکولو دي په غاښونو سره، او په معني داصرار کولو دي لکه چي وئيلي شي ضحك حتي بدت نواجذه،نواجذ دناجذ جمع ده.
نواجذ ذال سره دکومو غاښونو چې نوکونه راوتلی وي هغی ته نواجذ وائي ليکن بعضي حضراتو د نواجذنه مراد دجامي غاښونه اخستی دی.

تشريح: موعظة بليغة ، يعني اثرناك بيان يي اوکړو ، علامه توريشتي ددي دا مطلب بيان کړی دی چې رسول الله دتخويف او انذار ډير خاص اهتمام اوکړو، کانها موعظة مودع داسي بيان يي اوکړو لکه څنګه چې يو رخصتيدونکی درخصتولو په وخت کې کوي چې زه درنه اوس جدا کيدونکی يم نو همدارنګي رسول الله هم په دي موقعه کې دپخولو ښه کوشش اوکړو.

تأمر عليكم عبد حبشي، که په تاسو باندي حبشي غلام بادشاه شي نو ترڅو پوري چې دده امارت په شرعي طريقي سره نافذ وي ترهغي به تاسو په جائزکارونو کې دده اطاعت کوي او په همدي باندي دعلماؤ اجماع ده.
سوال دغلام حاکم جوړول جائز ندي
جواب خليفه کول يي جائز ندي ليکن د کومي علاقي والي جوړيدي شي ، په حديث کې همدا مراد دي يا په مبالغه محمول دي يعني که حاکم حبشي غلام هم وي نو اطاعت به يي کوئ ، زه مترجم وايم چې دلته دعبد حبشي ذکر تمثيلا دی.
فعليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين، يعني لکه چې درسول الله اطاعت واجب دي نو دخليفه اطاعت هم لازم دي.

"اياكم ومحدثات الامور" بدعت ديته وئيلی شي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم او خلفاء راشدينو په زمانه کې نه وي شوی اوخلق يي ددين حصه ګنړي او نه کونکو لره ملامت ګنړي، امام شافعي وائي هره يوه نوي خبره چې په دين کې پيدا کړی شي نو که دا دکتاب الله سره مخالفه وي او دصحابه کرامو داقوالو سره منافي وي او دامت داجماع خلاف وي نو دا ضلالت او ګمراهي ده او که داسي نه وي نو په دي کې څه حرج نشته.

د عرباض بن ساريه رضي الله عنه حالات

نوم عرباض کنيه ابو نجيح ده او دپلار نوم يي ساريه وو داصحاب صفه نه شميرلی شي دی پخپله وائي چې زه څلورم نمبر مسلمان يم او زما نه مخکې دري کسان په اسلام کې داخل شوي دي.

وفات: شام ته لاړو او بياحمص ته لاړو او هلته يې دژوند اخري ورځې تيرې کړې چې دشاګرداتو تعداد يې کافي ډير دی او ۷۵ روايات ورنه منقول دي ليکن ابن حزم ۳۱ ليکلې دي.

****

حَدَّثَنَا بِذَلِكَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ قَالُوا: حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنْ ثَوْرِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَمْرٍو السُّلَمِيِّ، عَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، وَالْعِرْبَاضُ بْنُ سَارِيَةَ يُكْنَى: أَبَا نَجِيحٍ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ، عَنْ حُجْرِ بْنِ حُجْرٍ، عَنْ عِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ. ([1])

ترجمه : عبدالرحمن بن عمرو سلمي هم دعرباض بن ساريه رضي الله عنه په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معنی روايت نقل کړی دی او دعرباض بن ساريه اسم کنيه ابو نجيح ده دا رنګې دا حديث د جبير بن حجر نه دعرباض بن ساريه په واسطه هم دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معنی مروي دي.

****

۲۶۷۷ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ مَرْوَانَ بْنِ مُعَاوِيَةَ الْفَزَارِيِّ، عَنْ كَثِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ هُوَ ابْنُ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ الْمُزَنِيُّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِبِلَالِ بْنِ الْحَارِثِ: "اعْلَمْ". قَالَ: مَا أَعْلَمُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: "اعْلَمْ يَا بِلَالُ". قَالَ: مَا أَعْلَمُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: "إِنَّهُ مَنْ أَحْيَا سُنَّةً مِنْ سُنَّتِي قَدْ أُمِيتَتْ بَعْدِي فَإِنَّ لَهُ مِنَ الْأَجْرِ مِثْلَ مَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا، وَمَنِ ابْتَدَعَ بِدْعَةَ ضَلَالَةٍ لَا يَرْضَاهَا اللَّهُ وَرَسُولَهُ كَانَ عَلَيْهِ مِثْلُ آثَامِ مَنْ عَمِلَ بِهَا لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ أَوْزَارِ النَّاسِ شَيْئًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عُيَيْنَةَ هُوَ مَصِيصِيٌّ شَامِيٌّ، وَكَثِيرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ هُوَ ابْنُ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ الْمُزَنِيُّ. ([2])

ترجمه : دعمرو بن عوف رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې نبي کريم صلي الله عليه

---

[1] ـ سنن ابي داود/ السنة ٦ (٤٦٠٧)، سنن ابن ماجه/ المقدمة ٦ (٤٢) (تحفة الأشراف : ٩٨٩٠)، وسنن الدارمي/ المقدمة ١٦ (٩٦)

[2] ـ سنن ابن ماجه/ المقدمة ١٥ (٢١٠) (تحفة الأشراف : ١٠٧٧٦)

وسلم بلال بن حارث رضي الله عنه ته اوفرمائیل پوهه شه هغه اووئیل دپوهیدو لائق څه خبره ده اي دالله رسوله رسول الله اوفرمائیل پوهه شه او خبر شه هغه بیا اووئیل دپوهیدو او خبریدو لائق څه څیز دي اي دالله رسوله رسول الله اوفرمائیل چاچې زما کوم سنت ژوندي کړو او کوم چې خلقوزما نه پس عمل پریحودلي وي نو ده ته به دومره ثواب ورکولي شي څومره چې په دي باندي عمل کونکي ته ورکولي شي او ددوئ په اجر کي به هیڅ کمي نه کیږي او چاچې دګمراهئ او بدعت ایجاد وکړو په کوم چې الله او رسول نه خوشحالیږي نو په دي به دعمل کونکو دګناه برابر ایجاد کونکي هم ګنهګاریږي په داسي حال کي چې دهیڅ یو په ګناه کي به څه کمي نه راځي.

امام ترمذي وایي: داحدیث حسن دي محمد بن عیینه مصیصي دشام اوسیدونکي دي او کثیر بن عبدالله نه مراد کثیر بن عبدالله بن عوف مزني دی.

****

٢٦٧٨ـ حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ حَاتِمٍ الْأَنْصَارِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْأَنْصَارِيُّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، قَالَ: قَالَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ، قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا بُنَيَّ "إِنْ قَدَرْتَ أَنْ تُصْبِحَ وَتُمْسِيَ لَيْسَ فِي قَلْبِكَ غِشٌّ لِأَحَدٍ فَافْعَلْ، ثُمَّ قَالَ لِي: يَا بُنَيَّ وَذَلِكَ مِنْ سُنَّتِي، وَمَنْ أَحْيَا سُنَّتِي فَقَدْ أَحَبَّنِي، وَمَنْ أَحَبَّنِي كَانَ مَعِي فِي الْجَنَّةِ". وَفِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ طَوِيلَةٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْأَنْصَارِيُّ ثِقَةٌ، وَأَبُوهُ ثِقَةٌ، وَعَلِيُّ بْنُ زَيْدٍ صَدُوقٌ، إِلَّا أَنَّهُ رُبَّمَا يَرْفَعُ الشَّيْءَ الَّذِي يُوقِفُهُ غَيْرُهُ، قَالَ: وَسَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ بَشَّارٍ يَقُولُ: قَالَ أَبُو الْوَلِيدِ، قَالَ شُعْبَةُ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ زَيْدٍ وَكَانَ رَفَّاعًا، وَلَا نَعْرِفُ لِسَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَنَسٍ رِوَايَةً إِلَّا هَذَا الْحَدِيثَ بِطُولِهِ، وَقَدْ رَوَى عَبَّادُ بْنُ مَيْسَرَةَ الْمِنْقَرِيُّ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَذَاكَرْتُ بِهِ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ فَلَمْ يَعْرِفْهُ وَلَمْ يُعْرَفْ لِسَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَنَسٍ هَذَا الْحَدِيثُ وَلَا غَيْرُهُ، وَمَاتَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ سَنَةَ ثَلَاثٍ وَتِسْعِينَ، وَمَاتَ سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ بَعْدَهُ بِسَنَتَيْنِ، مَاتَ سَنَةَ خَمْسٍ وَتِسْعِينَ. ([1])

ترجمه: دانس بن مالك رضي الله عنه بیان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٦٥)

راته اوفرمائيل اي بچيه كه ستا نه كيدي شي چې سحر او مابنام په داسي حالت كي تير كړي چې ستا په زړه كي دي دهيچا دپاره كينه او بغض او حسد وغيره نه وي نو داسي ضرور كوه، او بيا يي اوفرمائيل اي زما بچيه داسي عمل كول زما سنت او طريقه ده چاچې زما سنت ژوندي كړو نو هغه ماسره محبت اوكړو او چاچې زما سره محبت اوكړو هغه به زما سره جنت كي يوځاي وي.

امام ترمذي وأيي: په دي حديث كي يوه اوږده قصه هم ده، ددي سند په بنياد داحديث حسن غريب دي، محمد بن عبدالله انصاري ثقه دي او دده پلار هم ثقه دي، علي بن زيد صدوق دي، پس په ده كي صرف دومره كمي او نقصان دي چې هغه به اكثر هغه روايت مرفوع بيانول كوم چې نورو محدثينو موقوف بيان كړي دي، ما دمحمد بن بشار نه اوريدلي دي دابو الوليد قول دي چې شعبه وئيل ماته علي بن زيد حديث بيان كړو او علي بن زيد رقاع دي، او مونږ ته دسعيد بن مسيب په سند دانس نه ددي اوږد حديث نه علاوه كوم بل روايت معلوم نه دي، عباد بن ميسره منقري داحديث دعلي بن زيد په واسطه دانس رضي الله عنه نه نقل كړي دي ليكن هغوئ په دي حديث كي دسعيد بن مسيب واسطه نه ده ذكر كړي او ما ددي حديث ذكر امام بخاري ته اوكړو نو هغه اونه پيژندم او هغه ته دسعيد بن مسيب دا حديث چې دانس نه يي نقل كوي معلوم نه وو او نه دا دهغه نه علاوه بل چاته معلوم دي انس بن مالك ۹۳هجري كي وفات شوي دي او سعيد بن مسيب دده نه دوه كاله پس په ۹۵هجري كي وفات شوي دي.

****

۱۷_بَابٌ فِي الِانْتِهَاءِ عَمَّا نَهَى عَنْهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

پريخودل دهغه څيز دكوم نه چې رسول الله صلي الله عليه وسلم مما نعت بيان كړي وي

۲۶۷۹_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اتْرُكُونِي مَا تَرَكْتُكُمْ فَإِذَا حَدَّثْتُكُمْ فَخُذُوا عَنِّي فَإِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِكَثْرَةِ سُؤَالِهِمْ وَاخْتِلَافِهِمْ عَلَى أَنْبِيَائِهِمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: كومه خبره چې درته زه بيانول پريدم هغه پردئ (تپوسونه يى رانه مه كوئ) مخكني

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع /الاعتصام ۲ (۷۲۸۸) . مسلم/الحج ۷۳ (۱۳۳۷) . والفضائل ۳۷ (۱۳۳۷) . سنن ابن ماجه/المقدمة۱(۱، ۲) (تحفة الأشراف : ۱۲۵۱۸) . و مسند احمد (۲/۲۴۷، ۲۵۸، ۳۱۳، ۴۲۸، ۴۴۸، ۴۵۷، ۴۶۷، ۴۸۲، ۴۹۵، ۵۰۲)

قومونو ډيرو تپوسونو او خپلو نبيانو سره اختلاف کولو تباه کړي دي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

تشريح: اتركوني ماتركتكم" يعني ما پريږدئ ترڅو چې ما تاسو پريخودي يئ، په يو بل روايت کې د دعوني په ځاي زروني لفظ راغلی دی ليکن دواړه الفاظ هم معني دي، رسول الله دفرمان مطلب دادی زه ستاسو په وړاندي وضاحت کوم تاسو ته دسوال کولو ضرورت نه پيښيږي او بني اسرائيلو هم دغوا په باره کې سوال کړی وو او خپل ځان يي په مشقت کې اچولی وو په ابتداء کې چې هغوئ هره يوه غوا ذبح کړي وه صحيح به وه، ارشاد الهي دی "ياايها الذين امنو لاتسئلوا عن اشياء تبدلكم تسؤكم.

****

١٨_بَاب مَا جَاءَ فِي عَالِمِ الْمَدِينَةِ

دمديني دعالم دفضيلت بيان

٢٦٨٠_حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّارُ، وَإِسْحَاق بْنُ مُوسَى الْأَنْصَارِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ مرفوعا: "يُوشِكُ أَنْ يَضْرِبَ النَّاسُ أَكْبَادَ الْإِبِلِ يَطْلُبُونَ الْعِلْمَ فَلَا يَجِدُونَ أَحَدًا أَعْلَمَ مِنْ عَالِمِ الْمَدِينَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَهُوَ حَدِيثُ ابْنِ عُيَيْنَةَ، وَقَدْ رُوِيَ عَنِ ابْنِ عُيَيْنَةَ أَنَّهُ قَالَ فِي هَذَا سُئِلَ: مَنْ عَالِمُ الْمَدِينَةِ؟ فَقَالَ: إِنَّهُ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، وَقَالَ إِسْحَاق بْنُ مُوسَى، سَمِعْتُ ابْنَ عُيَيْنَةَ يَقُولُ: هُوَ الْعُمَرِيُّ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ الزَّاهِدُ وَاسْمُهُ: عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللهِ، وَسَمِعْتُ يَحْيَى بْنَ مُوسَى يَقُولُ، قَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ، هُوَ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، وَالْعُمَرِيُّ هُوَ عَبْدِ اللهِ بْنُ عَبْدُ الْعَزِيزِ مِنْ وَلَدِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ.(١)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه مرفوعا مروي دي فرمائي چې ډيره نزدي ده داسي وخت به راشي چې خلق به دعلم په تلاش کي لري لري سفرونه کوي ليکن هيچرته به دوئ ته دمديني دعالم نه لوي عالم نه ملاويږي.
امام ترمذي وايي: دابن عيينه حديث حسن دي دسفيان بن عيينه نه چې کله دي باره کي تپوس اوکړي شو چې دمديني عالم څوك دي، هغه اووئيل مالك بن انس دي، اسحاق بن موسي وائي ما دابن عيينه نه اوريدلي دي وئيل يي عالم دمديني عمري عبدالعزيز بن عبدالله

---

1 ـ (النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ١٢٨٤٤)، ومسند احمد (٢/٢٩٩)

زاهد دي، ما ديحي بن موسي نه اوريدلي دي عبدالرازق به وئيل چې عالم دمديني مالك بن انس دي،اود عمري نوم عبد الله بن عبد العزيز دي او دي دعمر بن الخطاب رضي الله عنه په اولاد کې دي.

****

١٩_بَاب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْفِقْهِ عَلَى الْعِبَادَةِ

په عابد دفقيه دفضيلت بيان

٢٦٨١_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ جَنَاحٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " فَقِيهٌ أَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ مِنْ أَلْفِ عَابِدٍ "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَلَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ الْوَلِيدِ بْنِ مُسْلِمٍ. [1]

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي يو فقيه عالم د زرو عابدانو په مقابله کې په شيطان باندي زيات زورور وي.
امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي او دا مونږ ته دوليد بن مسلم په روايت صرف په همدي سند معلوم دي.

****

٢٦٨٢_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خِدَاشٍ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَزِيدَ الْوَاسِطِيُّ، حَدَّثَنَا عَاصِمُ بْنُ رَجَاءِ بْنِ حَيْوَةَ، عَنْ قَيْسِ بْنِ كَثِيرٍ، قَالَ: قَدِمَ رَجُلٌ مِنَ الْمَدِينَةِ عَلَى أَبِي الدَّرْدَاءِ وَهُوَ بِدِمَشْقَ، فَقَالَ: مَا أَقْدَمَكَ يَا أَخِي؟ فَقَالَ: حَدِيثٌ بَلَغَنِي أَنَّكَ تُحَدِّثُهُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: أَمَا جِئْتَ لِحَاجَةٍ؟، قَالَ: لَا، قَالَ: أَمَا قَدِمْتَ لِتِجَارَةٍ؟ قَالَ: لَا، قَالَ: مَا جِئْتُ إِلَّا فِي طَلَبِ هَذَا الْحَدِيثِ؟ قَالَ: فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " مَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَبْتَغِي فِيهِ عِلْمًا سَلَكَ اللَّهُ بِهِ طَرِيقًا إِلَى الْجَنَّةِ، وَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ لَتَضَعُ أَجْنِحَتَهَا رِضَاءً لِطَالِبِ الْعِلْمِ، وَإِنَّ الْعَالِمَ لَيَسْتَغْفِرُ لَهُ مَنْ فِي السَّمَوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ حَتَّى الْحِيتَانُ فِي الْمَاءِ، وَفَضْلُ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ كَفَضْلِ الْقَمَرِ عَلَى سَائِرِ الْكَوَاكِبِ، إِنَّ الْعُلَمَاءَ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ، إِنَّ الْأَنْبِيَاءَ لَمْ يُوَرِّثُوا دِينَارًا وَلَا

[1] _ سنن ابن ماجه/المقدمة ١٧ (٢٢٢) (تحفة الأشراف: ٦٣٩٥)

دِرْهَمًا إِنَّمَا وَرَّثُوا الْعِلْمَ فَمَنْ أَخَذَ بِهِ أَخَذَ بِحَظٍّ وَافِرٍ " قَالَ أَبُو عِيسَى: وَلَا نَعْرِفُ هَذَا الْحَدِيثَ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَاصِمِ بْنِ رَجَاءِ بْنِ حَيْوَةَ، وَلَيْسَ هُوَ عِنْدِي بِمُتَّصِلٍ هَكَذَا، حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خِدَاشٍ هَذَا الْحَدِيثَ، وَإِنَّمَا يُرْوَى هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ عَاصِمِ بْنِ رَجَاءِ بْنِ حَيْوَةَ، عَنِ الْوَلِيدِ بْنِ جَمِيلٍ، عَنْ كَثِيرِ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ مَحْمُودِ بْنِ خِدَاشٍ، وَرَأْيُ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْمَاعِيلَ هَذَا أَصَحُّ. (1)

ترجمه : قيس بن كثير وايي چي ابو الدرداء رضي الله عنه سره د ملاويدو دپاره يو كس د مديني نه راغلو او ابو الدرداء په دمشق كي وو نو تپوس يي ورنه وكړو اي وروره څنګه راغلي يي؟ هغه ووئيل ما اوريدلي دي چي ته يو حديث بيانوي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دي اوريدلى دى ابو الدرداء ووئيل د بل كوم كار دپاره خو به نه يي راغلى ؟ هغه ووئيل نه ابو الدرداء ووئيل ايا دتجارت دپاره خو به نه يي راغلي: هغه ووئيل نه زه صرف ددغه حديث حاصلولو دپاره راغلى يم ابوالدرداء رضي الله عنه وويل چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي علم دين حاصلولو دپاره سفر اوكړو الله تعالي به ورته دجنت لار اسانه كړي او بيشكه دعلم دين طالب ته فرشتى خپلى وزرى غوړوي څكه الله تعالي دده په دى كار راضي دى ، اوبيشكه عالم دپاره دزمكى اواسمانونو ټول مخلوق دبخښنى دعا غواړي تردى چي مهيان ورته په اوبو كي دعا كوي اودعالم فضيلت په عابدباندى داسى دى لكه دسپوږمۍ په نورو ستورو اوبيشكه عالمان د پيغمبرانو وارثان دي، اودپيغمبرانو نه وارثت كي دينار اودرهم نه پاتى كيږي دهغوئ وراثت، علم دى اوچاچي علم حاصل كړو هغه غټه برخه واخسته.

امام ترمذي وايي: موږ دعاصم بن رجاء بن حيوه دروايت نه بغير په كوم بل سند دا حديث نه پيژنو او ددي حديث سند زما په نزد متصل نه دي دا رنګي په همدي سند دا حديث محمود بن خداش هم نقل كړي دي ، دا حديث عاصم بن رجاء بن حيوه په سند د داود بن جميل عن كثير بن قيس عن ابي الدرداء عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره نقل كړي دي او دا حديث دمحمود بن خداش دروايت نه زيات صحيح دي او دامام بخاري رائي دادي چي دا زيات صحيح دي.

تشريح: ان الملائكة لتضع اجنحتها : فرشتي خپلي وزري غوړوي ، محدثينو ددي څلور

---

1 ـ سنن ابي داود/ العلم ۱ (۳۶۴۱) . سنن ابن ماجه/ المقدمة ۱۷ (۲۲۳) (تحفة الأشراف : ۱۰۹۵۸) . وسنن الدارمي/ المقدمة ۳۲ (۳۵۴)

مطلبونه بيان کړي دي چې مندرجه ذيل دي.
اول: حقيقي معني مراد ده چې واقعي فرشتي دطالب علم داعزاز دپاره خپلي وزري غوړوي.
دويم: دا کنايه ده چې فرشتي د الوتلو نه منع کيږي او دعلم مجلس ته راځي او په دي کې شرکت کوي.
دريم: دا دتواضع نه کنايه ده لکه چې په قران کريم کې هم راځي واحفظ لهما جناح الذل.
څلورم: دغلامۍ نه کنايه ده لکه څرنګه چې شاهي ميلمنو ته سلامي کولی شي نو دارنګي فرشتي هم درسول الله ميلمنو ته خپلي وزري دسلامۍ دپاره غوړوي.
فضل العالم علي العابد: په دي حديث کې دعالم او عابد فرق په يو عجيب انداز سره بيان شوی دی او هغه دادی چې دعالم فضيلت په عابد داسي دی لکه دسپوږمۍ فضيلت چې په ستورو دی ځکه چې دعالم فائده متعدي وي نورو ته هم وررسيږي او دعابد فائده دهغه په ذات پوري محدود وي لکه سپوږمۍ چې ټولو خلقو ته فائده ورکوي.

****

٢٦٨٣_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ مَسْرُوقٍ، عَنِ ابْنِ أَشْوَعَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ سَلَمَةَ الْجُعْفِيِّ، قَالَ: قَالَ يَزِيدُ بْنُ سَلَمَةَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي قَدْ سَمِعْتُ مِنْكَ حَدِيثًا كَثِيرًا أَخَافُ أَنْ يُنْسِيَنِي أَوَّلَهُ آخِرُهُ فَحَدِّثْنِي بِكَلِمَةٍ تَكُونُ جِمَاعًا، قَالَ: "اتَّقِ اللَّهَ فِيمَا تَعْلَمُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِمُتَّصِلٍ، وَهُوَ عِنْدِي مُرْسَلٌ، وَلَمْ يُدْرِكْ عِنْدِي ابْنُ أَشْوَعَ يَزِيدَ بْنَ سَلَمَةَ، وَابْنُ أَشْوَعَ اسْمُهُ: سَعِيدُ بْنُ أَشْوَعَ. ([1])

ترجمه: يزيد بن سلمه جعفي وائي ما عرض اوکړو اي دالله رسوله ما ستاسو نه ډير زيات احاديث اوريدلي دي، چرته داسي اونه شي چې وروستني رانه اولني هير کړي تاسو راته يوه داسي کلمه اوښايئ کوم چې داولنو او اخرنو دواړو دپاره دباقي پاتي کيدو ذريعه وي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل څومره چې درته معلوم دي دهغي باره کي دالله تعالي نه ويره کوه.
امام ترمذي وايي: ددي حديث سند متصل نه دي او دا زما په نزد مرسل دي، زما په نزد ابن اشوع ديزيد بن سلمي سره ملاقات نه دي کړي، او دابن اشوع نوم سعيد بن اشوع دي.

****

٢٦٨٤_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا خَلَفُ بْنُ أَيُّوبَ الْعَامِرِيُّ، عَنْ عَوْفٍ، عَنِ ابْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١١٨٢٠)

هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " خَصْلَتَانِ لَا تَجْتَمِعَانِ فِي مُنَافِقٍ: حُسْنُ سَمْتٍ، وَلَا فِقْهٌ فِي الدِّينِ "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَلَا نَعْرِفُ هَذَا الْحَدِيثَ مِنْ حَدِيثِ عَوْفٍ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ هَذَا الشَّيْخِ خَلَفِ بْنِ أَيُّوبَ الْعَامِرِيِّ، وَلَمْ أَرَ أَحَدًا يَرْوِي عَنْهُ غَيْرَ أَبِي كُرَيْبٍ مُحَمَّدِ بْنِ الْعَلَاءِ، وَلَا أَدْرِي كَيْفَ هُوَ. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دوه خصلتونه داسي دي چې په منافق کې جمع کيدي نشي يو ښائسته اخلاق دي او بل ددين پوهه ده.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي او مونږ دعوف دا حديث صرف دشيخ خلف بن ايوب عامري په سند پيژنو، او ابوکريب محمد بن علاء نه علاوه مونږ ته بل څوک نه دي معلوم چې دخلف بن ايوب عامري نه يي روايت نقل کړي وي او مونږ ته دا نه ده معلومه چې هغه دعدالت په لحاظ څه حيثيت لري.

****

٢٦٨٥ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى الصَّنْعَانِيُّ، حَدَّثَنَا سَلَمَةُ بْنُ رَجَاءٍ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ جَمِيلٍ، حَدَّثَنَا الْقَاسِمُ أَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ، قَالَ: ذُكِرَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلَانِ أَحَدُهُمَا: عَابِدٌ وَالْآخَرُ عَالِمٌ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " فَضْلُ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ كَفَضْلِي عَلَى أَدْنَاكُمْ "، ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ وَأَهْلَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ حَتَّى النَّمْلَةَ فِي جُحْرِهَا، وَحَتَّى الْحُوتَ لَيُصَلُّونَ عَلَى مُعَلِّمِ النَّاسِ الْخَيْرَ "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ، قَالَ: سَمِعْت أَبَا عَمَّارٍ الْحُسَيْنَ بْنَ حُرَيْثٍ الْخُزَاعِيَّ، يَقُولُ: سَمِعْتُ الْفُضَيْلَ بْنَ عِيَاضٍ، يَقُولُ: عَالِمٌ عَامِلٌ مُعَلِّمٌ يُدْعَى كَبِيرًا فِي مَلَكُوتِ السَّمَوَاتِ. (2)

ترجمه : دابوامامه رضي الله عنه نه روايت دی چې د رسول الله صلي الله عليه وسلم په وړاندي ددوه کسانو ذکر وکړي شو چي يو عالم وو او بل عابد وو رسول الله صلي الله عليه وسلم او فرمائيل: دعالم فضيلت په عابد باندي داسي دی لکه څما فضيلت په يوادني مسلمان بيايي اوفرمائيل بيشکه الله تعالي اوفرښتي اودزمکی او اسمانونو اوسيدونکي تردی چې ميږي په خپلو سوړو کې اومهيان په دريابونو کې علم دين ښوونکي ته دعا کوي.

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٤٣٨٤)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٤٩٠٧)

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب صحيح دي فضيل بن عياضؒ وائي دابو عماره حصين بن حريث خزاعيؒ نه مي اوريدلي دي وئيل يي په ملكوت السموات عمل كونكي عالم او معلم ته ډير زيات اهميت حاصل وي او ډير لوي شخصيت مالك ګڼرلي كيږي.

لغات : فضل: صاحب فضيلت كيدل فضل يفضل فضلا دنصر او سمع نه فضلا په معني دزياتي اود كرم نه صاحب فضيلت كيدل.

تشريح : دلته دعالم نه هغه كس مراد دى څوك چې دفرائضو او واجباتو ادا كولو نه پس باقي وختونه خلقو ته ددين په خودلو كې خرچ كوي دعالم فضيلت په عابد څكه زيات دى چې عابد صرف خپل ځان دپاره ګټه كوي مګر عالم نورو ته فائده رسوي.

ان الله وملائكته واهل السموات والارض: يعني داسمان او زمكي تمام مخلوق دعالم دين دپاره دمغفرت دعا غواړي.

سوال: دزمكي او اسمان په مخلوق كې خو مهيان او ميګيان هم داخل دي نو دوئ يي جدا ولي ذكر كړل.

جواب: په دي كې دعالم دين انتهائي فضيلت بيانول مقصود دي چې دباران وريدل كوم چې عموما درحمت الهي علامه ده او ددنيا دډيرو نعمتونو تعلق ورسره دى دا دعالم دين دبركت په وجه دي تردي پوري چې په اوبو كې دمهيانو ژوندي پاتي كيدل او په سوړو كې دميګانو ژوندي پاتي كيدل پخپله دقدرت الهيه يوه نمونه ده او دا دعلماؤ په بركت سره دي ديته عموما دخلقو نظر رسائي نه كوي څكه يي دلته په خصوصيت سره مستقل بيان كړل.

****

٣٦٨٦ـ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ الشَّيْبَانِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ دَرَّاجٍ، عَنْ أَبِي الْهَيْثَمِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَنْ يَشْبَعَ الْمُؤْمِنُ مِنْ خَيْرٍ يَسْمَعُهُ حَتَّى يَكُونَ مُنْتَهَاهُ الْجَنَّةُ". هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.[1]

ترجمه : ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي مسلمان په نيكئ نه مړيږي تردى چې منتها يى جنت شي.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن غريب دى.

لغات : يشبع : مړيږي شبع يشبع شبعا معني مړيدل دسمع نه ، اوشبع يشبع شباعة ډير عقل مند كيدل، ، منتهاه معني اخري حد.

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٠٥٦)

تشريح: ددين علم دالله دنور دويم نوم دی په انسان کې چې څومره نور وي نو دومره يې زړه روښانه وي او دومره يې خواهش او تمنا زياته وي، علماء وائي چې ددينې علم ميدان دومره وسيع دی که دچا عمر سل زره کلونه هم شي او هيڅ يوه لمحه ضايع نکړي نو بيا به هم دعلم انتهاء ته ونه رسيږي او نه به دی په علم باندي موړ شي علم چې هر څومره حاصلوي خو دده تنده به نوره هم زياتيږي او په همدي کې به ده لره مرګ راځي دی به وائي چې ما خو هيڅ هم نه دي حاصل کړي.

په يو روايت کې دي کله چې موسی عليه السلام لره الله تعالی دعلم حاصلولو دپاره خضر عليه السلام ته اوليږلو نو هغه ورته اووئيل ای موسی زما او ستا ددواړو علم دالله تعالی دعلم په مقابله کې دومره هم نه دی لکه څومره اوبه چې ددي مرغۍ په مخوکه کې دسمندر نه اوچتيږي.

****

۲۶۸۷ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُمَرَ بْنِ الْوَلِيدِ الْكِنْدِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ الْفَضْلِ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَلِمَةُ الْحِكْمَةِ ضَالَّةُ الْمُؤْمِنِ فَحَيْثُ وَجَدَهَا فَهُوَ أَحَقُّ بِهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَإِبْرَاهِيمُ بْنُ الْفَضْلِ الْمَدَنِيُّ الْمَخْزُومِيُّ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ.[1]

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دحکمت خبري دمومن دپاره دده نه ورك شوي څيز دي هر چرته چې دي لره بيامومي نو دي ددي دحاصلولو زيات حقدار دي.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي مونږ ته صرف په همدي سند معلوم دي، ابراهيم بن فضل مدني مخزومي په حديث بيانولو کي دحفظ په اعتبار کمزوري ګڼرلي شوي دي.

****

كتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم

دسلام او مصافحي او کورته دداخليدو اداب او احکام

١ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي إِفْشَاءِ السَّلَامِ

1 ـ سنن ابن ماجه/الزهد ١٥ (٤١٦٩) (تحفة الأشراف: ١٢٩٤٠)

دسلام خورولو بیان

۲۶۸۸_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لاَ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوا، وَلاَ تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا، أَلاَ أَدُلُّكُمْ عَلَى أَمْرٍ إِذَا أَنْتُمْ فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ؟ أَفْشُوا السَّلاَمَ بَيْنَكُمْ". وفي الباب عن عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلاَمٍ، وَشُرَيْحِ بْنِ هَانِئٍ، عَنْ أَبِيهِ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَالْبَرَاءِ، وَأَنَسٍ، وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه: د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما دي په هغه ذات قسم وي د چا په اختيار کې چي زما روح دی تاسو جنت ته نه شئ تلی ترڅو چې مو ايمان نه وي راوړی او ايما ن مو تر هغه نه پوره کيږي تر څو چې يو بل سره محبت اونه ساتي ايا تاسو ته داسي کار اوښايم که يی اوکړئ نو يو بل سره به مو مينه پيدا شي . خپلو کې سلام عام کړئ، (يعني هر اشنا نااشنا مسلمان باندي سلام کې مخکي کيږی)

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي ، په دي باب کي دعبدالله بن سلام، شريح بن هاني عن ابيه، عبدالله بن عمرو براء ، انس، او ابن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

لغات : افشوا: افشي افشاء معني خورول او شهرت ورکول لکه افشو سر فلان يعني دفلاني راز ښکاره کړی.

تشريح ، لاتدخلوا الجنة حتي تؤموا ، يعني دهغه وخته پوري جنت ته داخليدی نشئ ترڅوچې مو ايمان نه وي راوړی علماء وائي چې جنت ته کافر نشي داخليدی صرف مومنان به داخليږي دا فيصله دالله تعالي ده او که کافران جنت ته تلل غواړي نو ايمان دي قبول کړي "افشوا السلام بينکم" يعني پخپل مينځ کې سلام خور کړئ دسلام دخورولو مطلب دادی لکه چې په يو بل حديث کې هم راغلي دي چې هر يو کس ته دي سلام اوکړی شي برابره خبره ده چې پيژندګلو والا وي او که نه وي دسلام کولو په وجه خلق دا محسوسوي چې دي کس اسلام قبول کړی دی په اسلام باندي دراضي کيدو په وجه الله تعالي په بندګانو رحم هم کوي.

****

[1] ـ مسلم/الإيمان ٢٢ (٥٤) . ابي داود/ الأدب ١٤٢ (٥١٩٣) . ابن ماجه/المقدمة ٩ (٦٨) . والأدب ١١ (٣٦٩٢) (تحفة الأشراف : ١٢٥١٣) . و مسند احمد (٢/٣٩١ . ٤٤٢ . ٤٧٧ . ٤٩٥ . ٥١٢)

٢_ باب مَا ذُكِرَ فِي فَضْلِ السَّلاَمِ

دسلام دفضائلو بيان

٢٦٨٩_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، وَالْحُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْحَرِيرِيُّ البلخي، قَالَا: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ سُلَيْمَانَ الضُّبَعِيِّ، عَنْ عَوْفٍ، عَنْ أَبِي رَجَاءٍ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، أَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ. قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "عَشْرٌ". ثُمَّ جَاءَ آخَرُ فَقَالَ: "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "عِشْرُونَ". ثُمَّ جَاءَ آخَرُ فَقَالَ: "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ثَلَاثُونَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. وفي الباب عن عَلِيٍّ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَسَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ. [1]

ترجمه : دعمران بن حصين رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چې يو كس د نبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شو او عرض يي اوكړو السلام عليكم رسول الله اوفرمائيل دده دپاره لس نيكئ دي بيا يو بل كس راغلو او هغه اووئيل السلام عليكم ورحمة الله رسول الله اوفرمائيل دده دپاره شل نيكئ دي، بيا يو بل كس راغلو او هغه اووئيل السلام عليكم ورحمة الله وبركاته رسول الله اوفرمائيل دده دپاره ديرش نيكئ دي.

امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي، او په دي باب كي دعلي، ابوسعيد، او سهل بن حنيف رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

عمران بن حصين رضي الله عنه دزندګئ مختصر حالات:

نوم عمران كنيه او ابو نجيد او دپلار نوم يي حصين وو دهجرت په ابتداء كي مسلمان شوى وو (مستدرك حاكم).

په بعضي غزواتو كي يي درسول الله صلي الله عليه وسلم سره ملګرتيا كړي وه او درسول الله په تولـه زندګئ كي دى په مدينه كي پاتي شوى دى او د وفات نبوي نه پس يي مدينې تـه راتلل پريخودل او ګوشه نشيني يي اختيار كړه، عمرفاروق رضي الله عنه په زمانه كي چې كله بصره اباده شوه نو هلتـه منتقـل شـو او عمرفـاروق رضـي الله عنـه ورتـه دتعليم خدمت حوالـه كـړو (طبقات ابن سعد).

عمر رضي الله عنه ددور نه پس چې كله جنګونه شروع شول نو ده ورنه ځان اوساتلو (الاصابه).

---

[1] ـ سنن ابي داود/ الأدب ١٤٣ (٥١٩٥) (تحفة الأشراف: ٤٣٣٠)

علامه ابن عبدالبر ليكلي دي كان من فضلاء الصحابة وفقهائهم (الاستيعاب).

دحسن بصري قول دی چې دعمران پشان بل بهترين سړی بصري ته نه دی راغلی (استيعاب).

دده په زندګۍ کې يو څو خصوصيات وو مثلاً احترام رسول داسوه رسول پابندي په عبادت کې رياضت کول باوجود ددې چې دده ذات مرجع الخلائق وو څوک چې به په لاره تيريدل نو دده نه به يې مسائل معلومول

وفات: داستخساء په مرض مريض شو او هم دې مرض په نتيجه کې په ۵۲هجري کې په بصره کې وفات شو (مستدرک).

مرويات: دده دمروياتو شمير ۱۳۰دي په احاديثو کې به يې ډير زيات احتياط کولو نو ځکه يې دمروياتو شمير کم دی چې ۸ دهغې نه متفق عليه دي په بخاري کې څوارلس او نهه په مسلم کې دي.

****

٣_باب مَا جَاءَ فِي الِاسْتِئْذَانِ ثَلَاثَةً

دچا کور ته د داخليدو دپاره د درې ځله اجازت غوښتلو بيان

٢٦٩٠_حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى بْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ: قَالَ: اسْتَأْذَنَ أَبُو مُوسَى عَلَى عُمَرَ، فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ، أَأَدْخُلُ؟ قَالَ عُمَرُ: وَاحِدَةٌ ثُمَّ سَكَتَ سَاعَةً، ثُمَّ قَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ، أَأَدْخُلُ؟ قَالَ عُمَرُ: ثِنْتَانِ ثُمَّ سَكَتَ سَاعَةً، فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ، أَأَدْخُلُ؟ فَقَالَ عُمَرُ: ثَلَاثٌ، ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ عُمَرُ لِلْبَوَّابِ: مَا صَنَعَ؟ قَالَ: رَجَعَ، قَالَ عَلَيَّ بِهِ، فَلَمَّا جَاءَهُ قَالَ: مَا هَذَا الَّذِي صَنَعْتَ؟ قَالَ: السُّنَّةُ، قَالَ السُّنَّةُ؟، وَاللَّهِ لَتَأْتِيَنِّي عَلَى هَذَا بِبُرْهَانٍ أَوْ بِبَيِّنَةٍ أَوْ لَأَفْعَلَنَّ بِكَ، قَالَ: فَأَتَانَا وَنَحْنُ رُفْقَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ، فَقَالَ: يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ، أَلَسْتُمْ أَعْلَمَ النَّاسِ بِحَدِيثِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ أَلَمْ يَقُلْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الِاسْتِئْذَانُ ثَلَاثٌ فَإِنْ أُذِنَ لَكَ، وَإِلَّا فَارْجِعْ" فَجَعَلَ الْقَوْمُ يُمَازِحُونَهُ، قَالَ أَبُو سَعِيدٍ: ثُمَّ رَفَعْتُ رَأْسِي إِلَيْهِ فَقُلْتُ: فَمَا أَصَابَكَ فِي هَذَا مِنَ الْعُقُوبَةِ فَأَنَا شَرِيكُكَ، قَالَ: فَأَتَى عُمَرَ فَأَخْبَرَهُ بِذَلِكَ، فَقَالَ عُمَرُ: مَا كُنْتُ عَلِمْتُ بِهَذَا، وفي الباب عن عَلِيٍّ، وَأُمِّ طَارِقٍ مَوْلَاةِ سَعْدٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْجُرَيْرِيُّ اسْمُهُ: سَعِيدُ بْنُ إِيَاسٍ يُكْنَى: أَبَا مَسْعُودٍ، وَقَدْ رَوَى هَذَا غَيْرُهُ أَيْضًا عَنْ

أَبِي نَضْرَةَ، وَأَبُو نَضْرَةَ الْعَبْدِيُّ اسْمُهُ: الْمُنْذِرُ بْنُ مَالِكِ بْنِ قُطَعَةَ. (1)

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې ابوموسى اشعري رضي الله عنه دعمر رضي الله عنه نه د داخليدو دپاره اجازت اوغوښتلو او ويې وئيل السلام عليكم ايا زه دننه درتلي شم؟ عمر رضي الله عنه په زړه كي اووئيل يو ځل اجازت خو يې اوغوښتلو ابو موسي يوه شيبه خاموش اودريدو او دوباره يې اووئيل السلام عليكم ايا زه دننه درتلي شم؟ عمر رضي الله عنه په زړه كي اووئيل دوه ځل اجازت خو يي اوغوښتلو يوه شيبه نور خاموش اودريدو نو هغه بيا اووئيل السلام عليكم ايا زه دننه درتلي شم؟ عمر رضي الله عنه په زړه كي اووئيل دري پيري اجازت يي اوغوښتلو او بيا ابو موسي اشعري واپس روان شو عمر رضي الله عنه دربانچي ته اووئيل ابو موسي څه وكړل؟ دربانچي اووئيل هغه واپس روان شو عمر رضي الله عنه اوفرمائيل واپس يي ماته راوله ابو موسي چې كله عمر رضي الله عنه ته ورغلو نو ورته يي اووئيل دا دي څه اوكړل؟ ابو موسي اووئيل ما په سنت عمل اوكړو عمر رضي الله عنه اووئيل ايا په سنت؟ په الله قسم ته به ضرور په دي باندي دليل پيش كوي او كه دليل دي پيش نكړو نو ډير بد سلوك به درسره اوكړم، ابوسعيد خدري رضي الله عنه وائي چې ابو موسي مونږ ته راغلو او دغه وخت كي مونږ دانصارو يو جماعت سره موجود وو ابو موسي اووئيل اي دانصارو جماعته ستاسو نه زيات احاديث درسول الله بل چاته معلوم نه دي ايا رسول الله صلي الله عليه وسلم دا نه وو فرمائيلي "الاستئذان ثلاث" يعني اجازت طلب كول دري پيري سنت دي كه تاسو ته اجازت دركړي شي نو داخل شئ او كه په دري پيري كي هم اجازت درنكړي شي نو واپس شه. خلقو چي كله دده سره مكالمه شروع كړه نو ده پوري يي ټوقي شروع كړي. ابو سعيد خدري وايي ،ما ورته سر ور پورته كړو او ورته مي ووئيل كه ددي سنت باره كي تاته هرقسم سزا در كولى شي نو زه درسره شريك يم، ابو سعيد خدري وايي چي ابو موسي اشعر عمر فاروق ته ورغلو او خبر يي ورته وركړو نو عمر فاروق ووئيل ماته خو دي باره علم نه وو.

امام ترمذي وايي: په دي باب كي د علي اود ام طارق نه چي د سعد ازاده كړي وينځه ده هم احاديث وارد دي، دا حديث حسن صحيح دي اود جريري نوم سعيد بن اياس دى او ابو مسعود دده اسم كنيه ده او دا روايت دده نه علاوه راويانو د ابو نضره نه هم نقل كړى دى اود ابو نضره نوم منذر بن مالك بن قطعه دى.

****

٢٦٩١ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ بْنُ عَمَّارٍ، حَدَّثَنِي أَبُو

1 ـ صحيح مسلم/الآداب ٧ (٢١٥٣) (تحفة الأشراف : ٤٣٣٠)

زُمَيْلٍ، حَدَّثَنِي ابْنُ عَبَّاسٍ، حَدَّثَنِي عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ، قَالَ: "اسْتَأْذَنْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثًا فَأَذِنَ لِي". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَأَبُو زُمَيْلٍ اسْمُهُ: سِمَاكٌ الْحَنَفِيُّ، وَإِنَّمَا أَنْكَرَ عُمَرُ، عِنْدَنَا، عَلَى أَبِي مُوسَى حَيْثُ رَوَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: "الِاسْتِئْذَانُ ثَلَاثٌ، فَإِذَا أُذِنَ لَكَ وَإِلَّا فَارْجِعْ" وَقَدْ كَانَ عُمَرُ اسْتَأْذَنَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثًا فَأَذِنَ لَهُ، وَلَمْ يَكُنْ عَلِمَ هَذَا الَّذِي رَوَاهُ أَبُو مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: "فَإِنْ أُذِنَ لَكَ وَإِلَّا فَارْجِعْ".([1])

ترجمه : دعمر بن الخطاب نه روایت دي فرمائي چې ما دري پيري درسول الله صلي الله عليه وسلم نه د داخليدو دپاره اجازت اوغوښتلو نو اجازت يي راته اوكړو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي او دابو زميل نوم سماك الحنفي دي، زما په نزد په ابو موسي رضي الله عنه باندي دعمر فاروق د اعتراض او انكار دا وجه وه چې ابو موسي دا اووئيل رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي اجازت طلب كول دري پيري سنت دي كه تاسو ته اجازت دركړي شي نو داخل شئ او كه په دري پيري كي هم اجازت درنكړي شي نو واپس شه. ، پاتي شوه دعمر رضي الله عنه خپله معامله نو هغه خو درسول الله نه دري پيري اجازت غوښتلي وو او اجازت يي ورته وركړي وو او دهغه حديث باره كي ورته علم نه وو كوم چې ابو موسي رضي الله عنه بيان كړو كه تاسو ته اجازت دركړي شي نو داخل شئ او كه په دري پيري كي هم اجازت درنكړي شي نو واپس شه.

****

٤_ بَابُ مَا جَاءَ كَيْفَ رَدُّ السَّلَامِ

دسلام جواب وركول څنكه پكار دي

٢٦٩٢_ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: دَخَلَ رَجُلٌ الْمَسْجِدَ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ فِي نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ فَصَلَّى، ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وَعَلَيْكَ، ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ". فَذَكَرَ الْحَدِيثَ بِطُولِهِ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَرَوَى يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ هَذَا عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ فَقَالَ: عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ،

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٠٣٩٩)

وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ "فَسَلَّمَ عَلَيْهِ". وَقَالَ: "وَعَلَيْكَ". قَالَ: وَحَدِيثُ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ أَصَحُّ. (1)

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چې يو سړى مسجد ته راغلو او رسول الله د مسجد په يو ګوټ كي ناست وو ، نو دي كس مونځ يى اوكړو بيا د رسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كې حاضر شو سلام يى واچولو، رسول الله صلي الله عليه وسلم دسلام جواب وركړو بيايي اوفرمائيل لاړ شه بيا مونځ اوكړه تا مونځ اونه كړو هغه لاړو دوباره يى مونځ اوكړو بيا راغلو دوباره يى سلام واچولو دغه شان يى درى څله اوكړل. (يعني درى څله لاړو راغلو او هر څل به يى سلام اچولو).

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي يحي بن سعيد القطان دا حديث دعبدالله بن عمر نه او هغه دسعيد مقبري نه نقل كړي دي او په دي كي يي عن ابيه عن ابي هريرة واسطي نه دي ذكر كړي او په دي كي يي دا الفاظ نه دي ذكر كړي "فسلم عليه وقال وعليك" يعني هغه په رسول الله سلام واچولو او رسول الله اوفرمائيل په تا دي هم سلام وي ديحي بن سعيد حديث زيات صحيح دي.

تشريح : ثم جاء الي النبي صلي الله عليه وسلم فسلم ، يعني مونځ يي اوكړو او بيا درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كې حاضر شو او سلام يي اوكړو په بل روايت كې راځي (ثم جاء النبي صلي الله عليه وسلم فسلم عليه فقال رسول الله وعليك السلام.

فارجع فصل: واپس لاړ شه او مونځ اوكړه، ددينه نووي دا خبره ثابتوي چې لږې لږې وقفي سره بار بار سلام كول ضروري دي لكه چې ددي روايت نه معلوميږي "فانك لم تصل" يعني تا مونځ نه دى كړى علماء وائي ممكن ده چې دمونځ په واجباتو كي ورنه څه پاتي شوي وي.

****

٥_ باب مَا جَاءَ فِي تَبْلِيغِ السَّلَامِ

دسلام ليږلو او دسلام درسيدلو بيان

٢٦٩٣_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْمُنْذِرِ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ، عَنْ عَامِرٍ الشَّعْبِيِّ، حَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ، أَنَّ عَائِشَةَ حَدَّثَتْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهَا: "إِنَّ جِبْرِيلَ يُقْرِئُكِ السَّلَامَ". قَالَتْ: وَعَلَيْهِ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ. وَفِي الْبَابِ عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي نُمَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ رَوَاهُ الزُّهْرِيُّ أَيْضًا.

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٢٩٩)

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ. ([1])

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائيل يي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته اوفرمائيل جبرائيل عليه السلام په تا باندي سلام وئيلو نو هغي په جواب كي اووئيل وعليه السلام ورحمة الله وبركاته يعني په هغه دي هم سلام او دالله تعالي رحمتونه او بركتونه دي وي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دبني نمير قبيلي ديو كس نه هم روايت وارد دي چې هغه يي دخپل پلار په واسطه دخپل نيكه نه نقل كړي دي، او زهري هم دا حديث دابو سلمه په واسطه دعائشه رضي الله عنها نه نقل كړي دي.

لغات : جبريل او جبرائيل : ديوي مشهوري فرشتي نوم دي كومي ته چې په پيغمبرانو وحي راوړل سپارلي شوي دي.

تشريح : جبريل ديو مشهوري فرشتي نوم دي چې پيغمبرانو ته به يي وحي راوړله

يقرء عليك السلام: يعني جبريل په تا باندي سلام وايي.

ددي نه دعائشه رضي الله عنها فضيلت معلوميږي ، په امهات المومنين كي صرف ددوو په باره كي دجبريل سلام ثابت دي چې عائشه او خديجه رضي الله عنهما دي.

"وعليه السلام " په دي جمله كي دغائبانه سلام جواب وركولو طريقه بيانولى شي چې په جواب كي به د وعليكم په ځاي باندي دغائب ضميرذكر كوي دا هم معلومه شوه چې په جواب كي زائد دعائيه كلمه ذكر كول افضل دي.

****

٦_ باب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الَّذِي يَبْدَأُ بِالسَّلاَمِ

په سلام اچولو كي دي دمخكي كيدو نكي دفضيلت بيان

٢٦٩٤_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا قُرَّانُ بْنُ تَمَّامٍ الأَسَدِيُّ، عَنْ أَبِي فَرْوَةَ الرَّهَاوِيِّ يَزِيدَ بْنِ سِنَانٍ، عَنْ سُلَيْمِ بْنِ عَامِرٍ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، قَالَ: قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ الرَّجُلاَنِ يَلْتَقِيَانِ أَيُّهُمَا يَبْدَأُ بِالسَّلاَمِ ؟ فَقَالَ: " أَوْلاَهُمَا بِاللَّهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. قَالَ مُحَمَّدٌ أَبُو فَرْوَةَ الرَّهَاوِيُّ

---

[1] _ اورده البخاري في الصحيح /بدء الخلق ٦ (٣٢١٧) . وفضائل الصحابة ٣٠ (٣٧٦٨) . والأدب ١١١ (٦٢٠١) . والاستئذان ١٦ (٦٢٤٩) . و١٩ (٦٢٥٣) . مسلم /فضائل الصحابة ١٣ (٢٤٤٧) . ابي داود/ الأدب ١٦٦ (٥٢٣٢) . النسائي/عشرة النساء ٣ (٣٩٦٣)٠ ابن ماجه/الأدب ١٢ (٣٦٩٥) (تحفة الأشراف : ١٧٧٢٧) . و احمد (٦/١٣٦ ، ١٥٠، ٢٠٨، ٢٢٣) . و الدارمي/الاستئذان ١٠ (٢٦٩٠)

مُقَارِبُ الْحَدِيثِ، إِلَّا أَنَّ ابْنَهُ مُحَمَّدَ بْنَ يَزِيدَ يَرْوِي عَنْهُ مَنَاكِيرَ. (1)

ترجمه : دابو امامه باهلي رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلي الله عليه وسلم نه تپوس اوشو چې دوه كسه مخامخ شي نو څوك به په سلام كې وړومبى كيږي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دى دواړو كې چې څوك الله ته ډير نزدى وي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي امام بخاري وائي ابو فروه رهاوي راوي مقارب الحديث دي مگر دهغه ځوي محمد بن يزيد به دهغه نه منكر روايتونه نقل كول.

لغات : بدء دفتح نه بدءاً معني شروع كول ، او پيدا كول او صفت يي بادي او مبدي راځي.

تشريح : په سلام كې دمخكې كيدو فضيلت مخاطبين هغه كسان دي څوك چې په لارو كې ديوبل سره مخامخ كيږي په دې صورت كې دسلام كولو دحق په سلسله كې دوئ ديو بل سره برابر حيثيت لري لهذا په دوئ كې چې څوك مخكې والى اوكړي نو دى به دپورتني حديث دفضيلت مستحق اوګرځي.

دعمر رضي الله عنه په باره كې مروي دي چې فرمائيل به يي دري څيزونه داسي دي دكومو په اختيارولو چې دمسلمانانو تعلقات پخپل مينځ كې قوي كيږي او دهغي په سبب په محبت كې اضافه راځي، اول دملاقات په وخت كې په سلام كې مخكې كيدل، دويم چاته په داسي نوم اواز كول په كوم چې هغه خوشحاليږي، دريم كله چې مجلس ته راشي نو دعزت په طريقي سره ځاي پريخودل.

****

٧_باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ إِشَارَةِ الْيَدِ بِالسَّلَامِ

دلاس په اشاري سره سلام كول مكروه دي

٢٦٩٥_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَشَبَّهَ بِغَيْرِنَا، لَا تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ، وَلَا بِالنَّصَارَى، فَإِنَّ تَسْلِيمَ الْيَهُودِ الْإِشَارَةُ بِالْأَصَابِعِ، وَتَسْلِيمَ النَّصَارَى الْإِشَارَةُ بِالْأَكُفِّ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ إِسْنَادُهُ ضَعِيفٌ، وَرَوَى ابْنُ الْمُبَارَكِ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنِ ابْنِ لَهِيعَةَ فَلَمْ يَرْفَعْهُ. (2)

ترجمه : دعبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٨٦٩)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٤٣٣)

وسلم فرمائيلي دي هغه كس زمونږ نه نه دي څوك چې زمونږ دغيرو سره مشابهت اختيار كړي، نه به ديهودو سره مشابهت اختياروئ او نه دنصاري سره ديهوديانو سلام كول دګوتو په اشاري سره وي او دنصاري سلام دورغوي په اشاري سره وي.
امام ترمذي وايي: ددي حديث سند ضعيف دي، ابن مبارك دا حديث دابن لهيعه نه نقل كړي دي او مرفوع يي نه دي بيان كړي

****

٨ـ بَاب مَا جَاءَ فِي التَّسْلِيمِ عَلَى الصِّبْيَانِ

په ماشومانو دسلام اچولو بيان

٢٦٩٦ـ حَدَّثَنَا أَبُو الْخَطَّابِ زِيَادُ بْنُ يَحْيَى الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَتَّابٍ سَهْلُ بْنُ حَمَّادٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سَيَّارٍ، قَالَ: كُنْتُ أَمْشِي مَعَ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ فَمَرَّ عَلَى صِبْيَانٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ . فَقَالَ ثَابِتٌ: كُنْتُ مَعَ أَنَسٍ فَمَرَّ عَلَى صِبْيَانٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ ، وَقَالَ أَنَسٌ: "كُنْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَرَّ عَلَى صِبْيَانٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ، رَوَاهُ غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ ثَابِتٍ، وَرُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنْ أَنَسٍ. [1]

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ.

ترجمه : دسيار بيان دي فرمائي چې زه دثابت بناني سره روان وم چې دماشومانو په خوا تير شو او په هغوئ يي سلام واچولو (ثابت خپله واقعه بيانوي فرمائي چې زه دانس رضي الله عنه سره چرته روان وم او هغه دماشومانو په خوا تيريدو وخت كي په هغوئ سلام واچولو او بيا هغه خپله واقعه بيان كړه چې زه رسول الله صلي الله عليه وسلم سره چرته روان وم كله چې رسول الله دماشومانو په خوا تيريدو نو سلام يي وربانډي واچولو .
امام ترمذي وايي: داحديث صحيح دي داروايت متعددو راويانو دثابت نه نقل كړي دي، دا رنګي دا حديث په ډيرو سندونو دانس رضي الله عنه نه هم مروي دي.

****

٩ـ بَاب مَا جَاءَ فِي التَّسْلِيمِ عَلَى النِّسَاءِ

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٨٤٣٢)

په ښځو دسلام اچولو بيان

٢٦٩٧_حَدَّثَنَا سُوَيْدٌ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الْحَمِيدِ بْنُ بَهْرَامَ، أَنَّهُ سَمِعَ شَهْرَ بْنَ حَوْشَبٍ، يَقُولُ: سَمِعْتُ أَسْمَاءَ بِنْتَ يَزِيدَ تُحَدِّثُ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "مَرَّ فِي الْمَسْجِدِ يَوْمًا وَعُصْبَةٌ مِنَ النِّسَاءِ قُعُودٌ فَأَلْوَى بِيَدِهِ بِالتَّسْلِيمِ، وَأَشَارَ عَبْدُ الْحَمِيدِ بِيَدِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. قَالَ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ لَا بَأْسَ بِحَدِيثِ عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنِ بَهْرَامَ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، وَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ: شَهْرٌ حَسَنُ الْحَدِيثِ، وَقَوَّى أَمْرَهُ، وَقَالَ: إِنَّمَا تَكَلَّمَ فِيهِ ابْنُ عَوْنٍ ثُمَّ رَوَى عَنْ هِلَالِ بْنِ أَبِي زَيْنَبَ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، أَنْبَأَنَا أَبُو دَاوُدَ الْمَصَاحِفِيُّ بَلْخِيٌّ، أَخْبَرَنَا النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ، عَنِ ابْنِ عَوْنٍ، قَالَ: إِنَّ شَهْرًا نَزَكُوهُ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: قَالَ النَّضْرُ: نَزَكُوهُ أَيْ طَعَنُوا فِيهِ، وَإِنَّمَا طَعَنُوا فِيهِ لِأَنَّهُ وَلِيَ أَمْرَ السُّلْطَانِ.[1]

ترجمه : داسماء بنت يزيد رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم په مسجد کې تير شو او هلته دښځو يوه ډله ناسته وه چنانچې رسول الله په هغوئ باندي دلاس په اشاري سلام واچولو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي، او عبدالحميد راوي هم پخپل لاس اشاره اوکړه (چې داسي)، امام احمد بن حنبل وائي دشهر بن حوشب په واسطه د عبدالحميد بن بهرام په روايت کې هيڅ حرج نشته، امام بخاري وائي شهر حسن الحديث دي، او په روايت دحديث قوي دي ليکن په ده باندي ابن عون کلام کړي دي، دابن عون قول دي "ان شهرا نزکوه" يعني په شهر باندي محدثينو تنقيد کړي دي، ابو داود وائي دنضر قول دي دنزکوه مطلب طعنوا فيه دي يعني اعتراضونه يي ورباندي کړي دي او جرحه يي ورباندي کړي ده چې هغه دسلطان (دحکومت ملازمت کولو).

اسماء بنت يزيد رضي الله عنها حالات:

نوم اسماء کنيه ام سلمه، اسماء بنت يزيد بن السکن بن رافع دهجرت نه پس ديو څو ښځو سره درسول الله په خدمت کې حاضره شوه او اسلام يي قبول کړو دهجرت په اول کال چې دعائشه رضي الله عنها رخصتي کيدله نو کومو ښځو چې دا سنګار کړي وه په هغې کې يوه اسماء رضي الله عنها هم وه، دهجرت په پنځلسم کال په يرموك جنګ کې هغې دخپل خيمې په موګې نهه روميان وژلي وو (اصابه).

---

[1] ـ سنن ابي داود/ الأدب ١٤٨ (٥٢٠٤) (تحفة الأشراف: ١٥٧٦٦)

علامه ابن حجر وائي كانت ذات العقل والدين يعني هغه په عقل او دين دواړو متصف وه او درسول الله صلي الله عليه وسلم خدمت يي كولو (مسند احمد).

اسماء رضي الله عنها ډيره مهمان نوازه وه يو خل ورته شهر بن حوشب راغى او خوراك يي ورته پيش كړو شهر دخوړلو نه انكار اوكړو نو اسماء ورته دنبي كريم صلي الله عليه وسلم واقعه بيان كړه په هغي كي ديته اشاره وه چې دخوراك نه انكار كول مناسب نه دي نو په دي وخت كي شهر اووئيل بيابه هيڅ كله زه دا غلطي اونكړم (مسند احمد).

ددي دوفات دتاريخ باره كي اسماء الرجال والاخاموش دي او ٨١ روايات ورنه منقول دي.

****

١٠ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي التَّسْلِيمِ إِذَا دَخَلَ بَيْتَهُ

خپل كورته د داخليدو وخت كي دسلام اچولو بيان

٢٦٩٨ـ حَدَّثَنَا أَبُو حَاتِمٍ الْبَصْرِيُّ الأَنْصَارِيُّ مُسْلِمُ بْنُ حَاتِمٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الأَنْصَارِيُّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا بُنَيَّ "إِذَا دَخَلْتَ عَلَى أَهْلِكَ فَسَلِّمْ يَكُونُ بَرَكَةً عَلَيْكَ وَعَلَى أَهْلِ بَيْتِكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.[1]

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته اوفرمائيل اي بچيه كله چې دخپل كور خلقو ته ورځي نو سلام كوه دا سلام ستا دپاره او ستا دكور والاخلقو دپاره دخير او بركت باعث دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي.

****

١١ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي السَّلاَمِ قَبْلَ الْكَلاَمِ

سلام اچول دخبرو شروع كولو نه مخكي پكار دي

٢٦٩٩ـ حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ الصَّبَّاحِ بَغْدَادِيٌّ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ زَكَرِيَّا، عَنْ عَنْبَسَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ زَاذَانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٦٥)

رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "السَّلَامُ قَبْلَ الْكَلَامِ".[1]

ترجمه : دجابر بن عبدالله رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي سلام اچول دخبرو شروع كولو نه مخكي پكار دي.

****

وَبِهَذَا الإِسْنَادِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا تَدْعُوا أَحَدًا إِلَى الطَّعَامِ حَتَّى يُسَلِّمَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ مُنْكَرٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. وَسَمِعْت مُحَمَّدًا يَقُولُ: عَنْبَسَةُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ ضَعِيفٌ فِي الْحَدِيثِ ذَاهِبٌ، وَمُحَمَّدُ بْنُ زَاذَانَ مُنْكَرُ الْحَدِيثِ.[2]

ترجمه : په مذكوره سند دا سند هم دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي دطعام دپاره يو كس هغه وخته پوري مه رابلئ چې څو پوري يې سلام اچولي نه وي.

امام ترمذي وايي: داحديث منكر دي او ددي سند نه علاوه په بل سند مونږ ته معلوم نه دي دامام بخاري نه مي اوريدلي دي وئيل يې چې عنبسه بن عبدالرحمن په باب دحديث كې ضعيف دي او محمد بن زاذان منكر الحديث دي.

****

١٢_ بَاب مَا جَاءَ فِي التَّسْلِيمِ عَلَى أَهْلِ الذِّمَّةِ

په ذميا نو دسلام اچولو بيان

٢٧٠٠_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا تَبْدَءُوا الْيَهُودَ، وَالنَّصَارَى بِالسَّلَامِ، وَإِذَا لَقِيتُمْ أَحَدَهُمْ فِي الطَّرِيقِ فَاضْطَرُّوهُمْ إِلَى أَضْيَقِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[3]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ، په نصرانيانو او يهوديانو سلام اچولو كې وړومبى كيږئ مه او چې لار

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٣٠٤٢)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٣٠٤٢)

3 _ انظر حديث رقم ١٦٠٢

کې درسره مخامخ شي (نو لار ورته مه پريدئ) په تنګ ځايي کې تيريدو باندې يې مجبور کړئ.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

لغات: فاضطرهم: معني مجبوره يي کړئ ، ضرّضراً فلان معني نقصان ورکول.

تشريح: غير مسلم ته په سلام کې ابتداء کول ولي منع دي؟

لاتبدؤوا اليهود والنصاري بالسلام ، "په يهودو او نصاري باندي په سلام کولو کې مه مخکې کيږئ" ددي وجه داده چې سلام کول په حقيقت کې يو اسلامي اعزاز دی او غيرمسلم ددي مستحق نه دي ددي مستحق صرف مسلمانان دي ياداچې سلام کول داکرام او احترام علامه ده اوغير مسلم ددي مستحق نه دی بعضي وائي چې په سلام اچولو سره الفت پيدا کيږي او دغير مسلمو سره الفت پيدا کول الله تعالي منع کړي دي.

"فاضطروه الي اضيقه" يعني په تنګه لاره يي تلو ته مجبور کړئ يعني يهود او نصاري کوم چې داسلام دشمنان دي او دين لره بدناموول غواړي که دوئ درسره په لاره کې مخامخ شي نو دومره دباؤ ورباندي ، اچوئ چې مخامخ لار درته پريږدي ددي وجه داده چې داسلام عظمت اوشوکت او دمسلمانانو دبدبه ظاهره شي.

****

٢٧٠١_حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمَخْزُومِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: إِنَّ رَهْطًا مِنَ الْيَهُودِ دَخَلُوا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا: السَّامُ عَلَيْكَ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " عَلَيْكُمْ ". فَقَالَتْ عَائِشَةُ: بَلْ عَلَيْكُمُ السَّامُ وَاللَّعْنَةُ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا عَائِشَةُ " إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الرِّفْقَ فِي الْأَمْرِ كُلِّهِ ". قَالَتْ عَائِشَةُ: أَلَمْ تَسْمَعْ مَا قَالُوا ؟ قَالَ: " قَدْ قُلْتُ: عَلَيْكُمْ ". وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي بَصْرَةَ الْغِفَارِيِّ، وَابْنِ عُمَرَ، وَأَنَسٍ، وَأَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْجُهَنِيِّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها نه روايت دی چې ديهوديانو يوي ډلي دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه دراتلو دپاره اجازت اوغوښتلو کله چې راغلل نو ويي وئي السام عليك (يعني

---

[1] ــ اورده البخاري في الجامع /الستتابة المرتدين ٣ (٦٩٢٧) . صحيح مسلم/السلام ٣ (٢١٦٥) (تحفة الأشراف : ١٦٤٣٤) . و مسند احمد (٦/١٩٩)

ستا دپاره دي مرګ وي، ما اووئيل بلکه ستاسو دپاره دي مرګ او په تاسو دي لعنت وي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي عائشي الله تعالي محبت او نرمي کونکی خوښوي ، په ټولو کارونو کې نرمي کول خوښوي ما اووئيل ايا تا وانوريدل چی هغوئ څه اووئيل رسول الله اوفرمائيل ما هم په جواب کې وعليکم وئيلي دي.

امام ترمذي وايي: دعائشه حديث حسن صحيح دي او په دي باب کې دابوبصره غفاري، ابن عمر، انس، او ابو عبدالرحمن جهني رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

١٣_بَاب مَا جَاءَ فِي السَّلاَمِ عَلَى مَجْلِسٍ فِيهِ الْمُسْلِمُونَ وَغَيْرُهُمْ

دمسلمانانو او غير مسلمو په مختلط مجلس دسلام اچولو بيان

٢٧٠٢_حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، أَنَّ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ أَخْبَرَهُ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "مَرَّ بِمَجْلِسٍ وَفِيهِ أَخْلاَطٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَالْيَهُودِ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : داسامه بن زيد رضي الله عنه نه روايت دی چی رسول الله صلي الله عليه وسلم ديو مجلس په خوا کې تير شو په کوم کې چی مسلمانانو او مشرکانو خبري اتري کولي او هلته ناست وو او بت پرست او يهوديان هم وو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم دوئ ته سلام اوکړو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

١٤_بَاب مَا جَاءَ فِي تَسْلِيمِ الرَّاكِبِ عَلَى الْمَاشِي

په پياده تلونکي دسور دسلام اچولو بيان

٢٧٠٣_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، وَإِبْرَاهِيمُ بْنُ يَعْقُوبَ، قَالاَ: حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ الشَّهِيدِ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "يُسَلِّمُ الرَّاكِبُ عَلَى الْمَاشِي، وَالْمَاشِي عَلَى الْقَاعِدِ، وَالْقَلِيلُ عَلَى الْكَثِيرِ وَزَادَ ابْنُ الْمُثَنَّى فِي حَدِيثِهِ وَيُسَلِّمُ الصَّغِيرُ عَلَى الْكَبِيرِ". وفي الباب عن عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ شِبْلٍ، وَفَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ، وَجَابِرٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا

---

[1] - اورده البخاري في الصحيح /تفسير آل عمران ١٥ (٣٥٦٦)، والمرضى ١٥ (٥٦٦٣)، والأدب ١١٥ (٦٢٠٧)، والاستئذان ٢٠ (٦٢٥٤)، صحيح مسلم /الجهاد ٤٠ (١٧٩٨) (تحفة الأشراف: ١٠٩)، و مسند احمد (٥/٢٠٣)

حَدِيثٌ قَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وقَالَ أَيُّوبُ السَّخْتِيَانِيُّ، وَيُونُسُ بْنُ عُبَيْدٍ، وَعَلِيُّ بْنُ زَيْدٍ: إِنَّ الْحَسَنَ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. (1)

ترجمه : دابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي سور به په پياده سلام اچوي او پيدا روان به په ناست سلام اچوي او لږ به په ډيرو سلام اچوي.اود ابن المثني په روايت کې ورسره دا جمله هم ده کشر به په مشر سلام اچوي.

امام ترمذي وايي: داحديث دابوهريره رضي الله عنه نه په متعددو سندونو مروي دي، ايوب سختياني، يونس بن عبيد او علي بن يزيد وائي چې حسن بصري دابوهريره رضي الله عنه نه اوريدل نه دي کړي، او په دي باب کې دعبدالرحمن بن شبل ، فزاله بن عبيد ، او جابر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

لغات : الراكب: سور، رکب دسمع نه رکوبا ومرکبا معني ختل او سوريدل، الماشي: پيدل تلونکي ، مشي يمشي مشيا دضرب نه په معني دتلو دي ، القاعد : ناست قعد قعودا ومقعدا دولاړي نه کيناستل، اقعاد معني کينول باب افعال دي په مزيدو کې دنورو بابونو نه هم راځي.

تشريح : **يسلم الراكب علي الماشي**، يعني سورلئ والا به په پيدل باندي سلام اچوي علماء وائي چې شريعت دا حکم انسان ته دتواضع او انکسارئ دتعليم دپاره کړی دی چې سورلئ والا به په پيدل باندي فخر نه کوي ځکه شريعت هغه ته حکم کړی دی چې په سلام کې به مخکې کيږي چې عاجزي او انکساري پکې راشي همدارنګې روان سړی په ناست سړي فوقيت لري نو په دي مناسبت کې هغه هم دناست نه په سلام کې مخکې کيږي.

القليل علي الكثير ، يعني څوک چې په تعداد کې کم وي هغوئ به په زياتو باندي سلام اچوي دوئ لره پکار دي چې دزياتو احترام اوکړي دغيردينو پشان طريقه پکار نه ده چې ادني به اعلي ته سلام کوي.

****

۲۷۰۴_ حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَنْبَأَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَنْبَأَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " يُسَلِّمُ الصَّغِيرُ عَلَى الْكَبِيرِ، وَالْمَارُّ عَلَى الْقَاعِدِ، وَالْقَلِيلُ عَلَى الْكَثِيرِ "، قَالَ: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

---

1 _ اورده البخاري في/الاستئذان ۴ (۶۲۳۱) ، و۵ (۶۲۳۲) ، و۶ (۶۲۳۳) ، و۷ (۶۲۳۴) . صحيح مسلم/السلام ۱ (۲۱۶۰). سنن ابي داود/الأدب ۱۳۵ (۵۱۹۸) ، ۵۱۹۹) (تحفة الأشراف : ۱۲۲۵۱) ، و مسند احمد (۲/۳۲۵، ۵۱۰)

2 _ انظر ماقبله (تحفة الأشراف : ۱۳۶۷۹)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كشر به په مشر سلام اچوي روان به په ناست سلام اچوي او لږ به په ډيرو سلام اچوي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٧٠٥_حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَنْبَأَنَا عَبْدُ اللهِ، أَنْبَأَنَا حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ، أَخْبَرَنِي أَبُو هَانِئٍ اسْمُهُ: حُمَيْدُ بْنُ هَانِئٍ الْخَوْلَانِيُّ، عَنْ أَبِي عَلِيٍّ الْجَنْبِيِّ، عَنْ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "يُسَلِّمُ الْفَارِسُ عَلَى الْمَاشِي، وَالْمَاشِي عَلَى الْقَائِمِ، وَالْقَلِيلُ عَلَى الْكَثِيرِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو عَلِيٍّ الْجَنْبِيُّ اسْمُهُ: عَمْرُو بْنُ مَالِكٍ. ([1])

ترجمه : دفضاله بن عبيد رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي سور به په پياده تلونكي سلام اچوي او روان به په ولاړ سلام اچوي او لږ به په ډيرو سلام اچوي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

١٥_بَاب مَا جَاءَ فِي التَّسْلِيمِ عِنْدَ الْقِيَامِ وَعِنْدَ الْقُعُودِ

دمجلس نه دروانيدو او مجلس ته د داخليدو وخت كي دسلام كولو بيان

٢٧٠٦_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِذَا انْتَهَى أَحَدُكُمْ إِلَى مَجْلِسٍ فَلْيُسَلِّمْ، فَإِنْ بَدَا لَهُ أَنْ يَجْلِسَ فَلْيَجْلِسْ، ثُمَّ إِذَا قَامَ فَلْيُسَلِّمْ فَلَيْسَتِ الْأُولَى بِأَحَقَّ مِنَ الْآخِرَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ أَيْضًا عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. ([2])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي په تاسو كي څوك يو مجلس ته راورسيږي نو سلام دي اوكړي بيا كه دده زړه كيناستل

---

[1] _ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ١٢٧ (٣٣٨) (تحفة الأشراف : ١١٠٣٢) . وسنن الدارمي/الاستئذان ٦ (٢٦٤٦)

[2] _ ابي داود/ الأدب ١٥٠ (٥٢٠٨) . سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ١٣١ (٣٦٩) (تحفة الأشراف : ١٣٠٣٨) . و مسند احمد (٢/٢٣٠، ٢٨٧، ٢٣٩)

غواړي نو كيناستي شي او كله چې دي دروانيدو دپاره اودريږي نو سلام دي اوكړي او اولني سلام د دويم سلام نه زيات ضروري نه دي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي دا حديث دابن عجلان په روايت هم مروي دي او ابن عجلان په سند د سعيد المقبري عن ابيه عن ابي هريرة عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي.

****

١٦ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الاِسْتِئْذَانِ قُبَالَةَ الْبَيْتِ

دكور د دروازي سره مخامخ اودريدو حالت كي داجازت غوښتلو بيان

٢٧٠٧ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ أَبِي جَعْفَرٍ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحُبُلِيِّ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ كَشَفَ سِتْرًا فَأَدْخَلَ بَصَرَهُ فِي الْبَيْتِ قَبْلَ أَنْ يُؤْذَنَ لَهُ فَرَأَى عَوْرَةَ أَهْلِهِ فَقَدْ أَتَى حَدًّا لَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَأْتِيَهُ، لَوْ أَنَّهُ حِينَ أَدْخَلَ بَصَرَهُ اسْتَقْبَلَهُ رَجُلٌ فَفَقَأَ عَيْنَيْهِ مَا غَيَّرْتُ عَلَيْهِ، وَإِنْ مَرَّ الرَّجُلُ عَلَى بَابٍ لَا سِتْرَ لَهُ غَيْرِ مُغْلَقٍ فَنَظَرَ، فَلَا خَطِيئَةَ عَلَيْهِ، إِنَّمَا الْخَطِيئَةُ عَلَى أَهْلِ الْبَيْتِ". وفي الباب عن أَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي أُمَامَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مِثْلَ هَذَا إِلَّا مِنْ حَدِيثِ ابْنِ لَهِيعَةَ، وَأَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحُبُلِيُّ اسْمُهُ: عَبْدُ اللهِ بْنُ يَزِيدَ. (١)

ترجمه : دابوذر رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په كور كي د داخليدو دپاره داجازت غوښتلو نه مخكي چې څوك ديو كور د دروازي په پرده كي داخل شي او دكور والادزنانه پرده يي ختمه كړه نو ده داسي كار اوكړو د كوم كول چې دده دپاره حلال نه وو او كوم وخت كي چې ده خپل نظر دننه داخل كړي وو كاش چې دغه وخت كي دده مخامخ كيدل دداسي كس سره شوي وي چې دده دواړه ستركي يي ويستلي وي نو ما به دهغه په حق كي دخون بها فيصله نه وه كړي او كه يو كس دداسي دروازي په مخه تيريږي كومي ته چې پرده لګيدلي نه وي او دروازه بنده هم نه وي او بيا هم دتيريدونكي نظر اولګي نو په دي كي دتيريدونكي څه ګناه نشته په دي كي ګناه او غلطي دكور والاده.
امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي دا حديث صرف دابن لهيعه په واسطه مروي دي، او په دي باب كي دابوهريره او ابو امامه رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

---

١ ـ (تحفة الأشراف: ١١٩٦٠) . و مسند احمد (٥/١٨١)

****

١٧_باب مَن اطَّلَعَ فِي دَارِ قَوْمٍ بِغَيْرِ إِذْنِهِمْ
څوک چې دچا کورته بغیر اجازت غوښتلو داخل شي

٢٧٠٨_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ فِي بَيْتِهِ فَاطَّلَعَ عَلَيْهِ رَجُلٌ فَأَهْوَى إِلَيْهِ بِمِشْقَصٍ فَتَأَخَّرَ الرَّجُلُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه مروي دي چې يو ځل نبي كريم صلي الله عليه وسلم پخپل كور كي موجود وو او دي دوران كي يو كس ددوئ كور ته راودانګل نو رسول الله په يو غشي پسي ورمنډه كړل (چې دده ستركي ورباندي اوباسي) ليكن هغه فورا شاته وروسته شو.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٧٠٩_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ، أَنَّ رَجُلًا اطَّلَعَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ جُحْرٍ فِي حُجْرَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَمَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِدْرَاةٌ يَحُكُّ بِهَا رَأْسَهُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْ عَلِمْتُ أَنَّكَ تَنْظُرُ لَطَعَنْتُ بِهَا فِي عَيْنِكَ إِنَّمَا جُعِلَ الاِسْتِئْذَانُ مِنْ أَجْلِ الْبَصَرِ". وفي الباب عن أَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه : دسهل بن سعد رضي الله عنه نه مروي دي چې د رسول الله صلي الله عليه وسلم دكور په يو سوري كي يو كس ورودانګل او دغه وخت كي درسول الله صلي الله عليه وسلم په لاس كي يو لرګي وو چې سر يې ورباندي ګرولو رسول الله اوفرمائيل كه چري ماته مخكي معلومه وي چې ته دلته رادانګي نو دا لرګي به ما ستا په ستركو كي درمنډلي وو رايا تاته پته نشته،

---

[1] ــ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الاستئذان ١١ (٦٢٤٢) . والديات ١٥ (٦٨٨٠) . و ٢٣ (٦٩٠٠) . صحيح مسلم /الآداب ٩ (٢١٥٧) . سنن ابي داود/ الأدب ١٣٦ (٥١٧١) . سنن النسائي/القسامة ٣٦ (٤٨٦٢) (تحفة الأشراف : ٤٢١) . و مسند احمد (١٠٨/٣. ١٤٠. ٢٣٩. ٢٤٢)

[2] ــ اورده البخاري في الجامع الصحيح /اللباس ٧٥ (٥٩٢٤) . والاستئذان ١١ (٦٢٤١) . والديات ٢٣ (٦٩٠١) . صحيح مسلم/الآداب ٩ (٢١٥٦) . سنن النسائي/القسامة ٣٦ (٤٨٦٣) (تحفة الأشراف : ٤٨٠٦) . و مسند احمد (٣٣٠/٥. ٣٣٥)

داجازت غوښتلو حکم د سترګو د ضرر نه د بچ کیدو دپاره دی.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دابوهريره رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

****

١٨_باب مَا جَاءَ فِي التَّسْلِيمِ قَبْلَ الِاسْتِئْذَانِ

يوكورته د داخليدو دپاره داجازت غوښتلو نه مخکي سلام کولو بيان

٢٧١٠_حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرُو بْنُ أَبِي سُفْيَانَ، أَنَّ عَمْرَو بْنَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ صَفْوَانَ أَخْبَرَهُ، أَنَّ كَلَدَةَ بْنَ حَنْبَلٍ أَخْبَرَهُ، أَنَّ صَفْوَانَ بْنَ أُمَيَّةَ بَعَثَهُ بِلَبَنٍ وَلِبَإٍ وَضَغَابِيسَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَعْلَى الْوَادِي، قَالَ: فَدَخَلْتُ عَلَيْهِ وَلَمْ أُسَلِّمْ وَلَمْ أَسْتَأْذِنْ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ارْجِعْ فَقُلِ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ أَأَدْخُلُ؟" وَذَلِكَ بَعْدَ مَا أَسْلَمَ صَفْوَانُ، قَالَ عَمْرٌو: وَأَخْبَرَنِي بِهَذَا الْحَدِيثِ أُمَيَّةُ بْنُ صَفْوَانَ وَلَمْ يَقُلْ سَمِعْتُهُ مِنْ كَلَدَةَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ ابْنِ جُرَيْجٍ، وَرَوَاهُ أَبُو عَاصِمٍ أَيْضًا، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ مِثْلَ هَذَا، وَضَغَابِيسُ هُوَ: حَشِيشٌ يُؤْكَلُ.[1]

ترجمه: كلده بن حنبل رضي الله عنه وائي چې صفوان بن اميه شوده او دځه خوراك څيزونه راكړل او نبي كريم صلیالله علیه وسلم ته يي اوليږل او رسول الله په دغه وخت کي دمکي په اوچته حصه کي وو ما ورنه اجازت اوغوښتلو اوسلام کولو نه بغير ورداخل شوم نورسول الله اوفرمائيل واپس بهر لاړ شه او بيا داسي اووايه السلام عليكم ايا زه داخليدي شم؟ دا دغه وخت خبره ده کله چې صفوان اسلام قبول کړي وو، عمرو بن عبدالله وائي دا حديث ماته اميه بن صفوان بيان کړي دي ليکن هغه دا ونه وئيلي چې ما دا حديث دکلده نه اوريدلي دي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي دا مونږ صرف دابن جريج په روايت پيژنو. ابو عاصم هم دابن جريرج نه ددي هم معني روايت نقل کړي دي.

دكلده بن حنبل رضي الله عنه حالات:

نوم كلده دپلار نوم حنبل دبني اسلم سره تعلق لري دمشهورصحابي صفوان بن اميه مور شريكي ورور دی دا دمعمر بن حبيب غلام وو چې په يمن کي په عكاز ښار کي يي اخستلی وو

---

[1] ـ سنن ابي داود/الأدب ١٣٧ (٥١٧٦) (تحفة الأشراف: ١١١٦٤)، ومسند احمد (٣/٤١٣)

اوبيايي حليف اوګرځولو هميشه په مکه کي اوسيدلى دى محدثين وائي چې وفات شوى هم په مکه کي دى

****

٢٧١١_حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: " اسْتَأْذَنْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي دَيْنٍ كَانَ عَلَى أَبِي، فَقَالَ: مَنْ هَذَا؟ فَقُلْتُ: أَنَا. فَقَالَ: أَنَا أَنَا كَأَنَّهُ كَرِهَ ذَلِكَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه : دجابر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې ما دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه ديو قرض باره كي كوم چې زما په پلار وو دخبرو كولو دپاره تپوس كولو متعلق دداخليدو اجازت اوغوښتلو نورسول الله اووئيل څوك يي؟ ما اووئيل زه يم رسول الله اوفرمائيل زه هم زه يم (ددي مطلب دادي زه يم وئيل نه دي پكار خپل نوم اخستل ضروري دي)

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

١٩_بَاب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ طُرُوقِ الرَّجُلِ أَهْلَهُ لَيْلاً

دشپي وخت كي دسفر نه كورته دراتلو دكراهت بيان

٢٧١٢_أَخْبَرَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ نُبَيْحٍ الْعَنَزِيِّ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " نَهَاهُمْ أَنْ يَطْرُقُوا النِّسَاءَ لَيْلًا ". وَفِي الْبَابِ عَنْ أَنَسٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَقَدْ رُوِيَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " نَهَاهُمْ أَنْ يَطْرُقُوا النِّسَاءَ لَيْلًا "، قَالَ: فَطَرَقَ رَجُلَانِ بَعْدَ نَهْيِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَوَجَدَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مَعَ امْرَأَتِهِ رَجُلًا. ([2])

ترجمه : دجابر رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم خلق

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الاستئذان ١٤ (٦٢٥٠) . صحيح مسلم /الآداب ٨ (٢١٥٥) . سنن ابي داود/ الأدب ١٣٩ (٥١٨٤) . سنن ابن ماجه/الأدب ١٤ (٣٧٠٩) (تحفة الأشراف : ٣٠٤٢) . و مسند احمد (٣/٢٩٨) . وسنن الدارمي/الاستئذان ٢ (٢٦٧٣)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /العمرة ١٦ (١٨٠١) . والنكاح ١٢٠ (٤٢٤٣) . صحيح مسلم /الإمارة ٥٦ (١٨٣/١٩٢٨)

دشپې په وخت کې کورونو ته دراتلو نه منع کړې دي.
امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دي، دا حديث په يو څو سندونو دجابر په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي، او په دې باب کې دانس، ابن عمر، او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي دابن عباس نه دا هم مروي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم خلق دشپې په وخت کې خپلو ښځو ته دراتلو نه منع کړې دي دابن عباس قول دي درسول الله ددې ممانعت باوجود يو ځل دوه کسان دشپې کورونو ته واپس راغلل نو ددې نافرمانۍ دا نتيجه راوختله چې په دې دواړو کې هر يو دخپلې خپلې ښځې سره پردې سړي اوموندلو.

****

٢٠_بَاب مَا جَاءَ فِي تَتْرِيبِ الْكِتَابِ

دخط دليکلو نه پس په خط باندې دخاورې اچولو بيان

٢٧١٣_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا شَبَابَةُ، عَنْ حَمْزَةَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِذَا كَتَبَ أَحَدُكُمْ كِتَابًا فَلْيُتَرِّبْهُ، فَإِنَّهُ أَنْجَحُ لِلْحَاجَةِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ مُنْكَرٌ لَا نَعْرِفُهُ عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، قَالَ: وَحَمْزَةُ هُوَ عِنْدِي ابْنُ عَمْرٍو النَّصِيبِيُّ، هُوَ ضَعِيفٌ فِي الْحَدِيثِ. (1)

ترجمه : دجابر رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي کله چې په تاسو کې څوک يو تحرير اوليکي نو د ليکلو نه پس په دې باندې خاوره اچول پکار دي ځکه چې په دې طريقه په دې باندې دحاجت پوره کيدو زياته توقع ده.
امام ترمذي وايي: داحديث منکر دي دا مونږ صرف په همدې سند دابو زبير په واسطه پيژنو، او حمزه زمونږ په نزد دعمرو نصيبي ځوي دي او هغه دحديث بيانولو په باب کې ضعيف ګڼړلې شوې دي.

****

٢١_بَاب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٢٧١٤_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْحَارِثِ، عَنْ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ زَاذَانَ، عَنْ أُمِّ سَعْدٍ،

---

1 _ سنن ابن ماجه/الأدب ٤٩ (٣٧٧٤) (تحفة الأشراف : ٢٦٩٩)

عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَيْنَ يَدَيْهِ كَاتِبٌ فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: "ضَعِ الْقَلَمَ عَلَى أُذُنِكَ فَإِنَّهُ أَذْكَرُ لِلْمُمْلِي". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَهُوَ إِسْنَادٌ ضَعِيفٌ، وَعَنْبَسَةُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، وَمُحَمَّدُ بْنُ زَاذَانَ يُضَعَّفَانِ فِي الْحَدِيثِ. ([1])

ترجمه : دزيد بن ثابت رضي الله عنه بيان دي فرماني چې زه نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته وروسيدم نو دهغه په وړاندي يو كاتب ناست وو ما واوريدل چې رسول الله ورته فرمائيل ته خپل قلم په غوږ كي ايخودلي ساته ځكه چې په دي طريقه ليكونكو ته يادهاني كيږي.
امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي دا مونږ صرف په همدي سند پيژنو او دا سند ضعيف دي، عنبسه بن عبدالرحمن او محمد بن زاذان دواړه دحديث په باب كي ضعيف دي.

****

٢٢ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي تَعْلِيمِ السُّرْيَانِيَّةِ

دسريانی ژبي زده كولو بيان

٢٧١٥ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ خَارِجَةَ بْنِ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ أَبِيهِ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، قَالَ: "أَمَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَتَعَلَّمَ لَهُ كَلِمَاتٍ مِنْ كِتَابِ يَهُودَ، قَالَ: إِنِّي وَاللَّهِ مَا آمَنُ يَهُودَ عَلَى كِتَابٍ، قَالَ: فَمَا مَرَّ بِي نِصْفُ شَهْرٍ، حَتَّى تَعَلَّمْتُهُ لَهُ، قَالَ: فَلَمَّا تَعَلَّمْتُهُ كَانَ إِذَا كَتَبَ إِلَى يَهُودَ كَتَبْتُ إِلَيْهِمْ، وَإِذَا كَتَبُوا إِلَيْهِ قَرَأْتُ لَهُ كِتَابَهُمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، رَوَاهُ الْأَعْمَشُ، عَنْ ثَابِتِ بْنِ عُبَيْدٍ الْأَنْصَارِيِّ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، قَالَ: أَمَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَنْ أَتَعَلَّمَ السُّرْيَانِيَّةَ". ([2])

ترجمه : دزيد بن ثابت رضي الله عنه بيان دي فرماني چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته حكم اوكړو چې زه دهغوئ دپاره ديهوديانو تحريري طريقه زده كړه، رسول الله اوفرمائيل په الله قسم زه ديهوديانو په تحرير اعتماد نه كوم چنانچې نيمه مياشت لاته وه تيره شوي چې

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (التحفه: ٣٤٢٣)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الأحكام ٤٠ (٧١٩٥) (تعليقاً). سنن ابي داود/ العلم ٢ (٣٦٤٥) (تحفة الأشراف: ٣٤٠٢). و مسند احمد (٥/١٨٦)

رسول الله صلي الله عليه وسلم ددوئ ژبه زده کړه راوي وائي کله چې مارسول الله ته ددوئ دژبي تعليم ورکړو نو چې کله به يي يهودياتو ته خط ليکلو نو ما به ورله خط اوليکلو او چې کله به ورته دهغوئ خط راغي نو دهغوئ خط به مي ورته اولوستلو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي دا حديث ددي سند نه علاوه هم په نورو سندونو دزيد بن ثابت رضي الله عنه نه مروي دي دارروايت اعمش دثابت بن عبيد انصاري په واسطه دزيد بن ثابت رضي الله عنه نه نقل کړي دي زيد بن ثابت وائي رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته حکم اوکړو چې زه سرياني ژبه زده کړم.

****

٢٣_بَاب فِي مُكَاتَبَةِ الْمُشْرِكِينَ

مشرکانو ته دخطونو ليږلو بيان

٢٧١٦_حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ حَمَّادٍ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَتَبَ قَبْلَ مَوْتِهِ إِلَى كِسْرَى، وَإِلَى قَيْصَرَ، وَإِلَى النَّجَاشِيِّ، وَإِلَى كُلِّ جَبَّارٍ، يَدْعُوهُمْ إِلَى اللَّهِ، وَلَيْسَ بِالنَّجَاشِيِّ الَّذِي صَلَّى عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. [1]

ترجمه: دانس بن مالك رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دخپل وفات کيدو نه مخکي کسري او قيصر او نجاشي او هر سرکش او متکبر بادشاه ته دعوتي خطونه اوليږل، خو ددي نجاشي نه (هغه نجاشي مراد نه دي چې نوم يي اصحمه دي) په چا باندي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم غائبانه جنازه کړي وه.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي.

****

٢٤_بَاب مَا جَاءَ كَيْفَ يُكْتَبُ إِلَى أَهْلِ الشِّرْكِ

مشرکانو ته به خطونه په کوم انداز ليکلي کيږي

٢٧١٧_حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَنْبَأَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَنْبَأَنَا يُونُسُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّهُ أَخْبَرَهُ، أَنَّ أَبَا سُفْيَانَ بْنَ حَرْبٍ أَخْبَرَهُ، أَنَّ

---

[1] _ صحيح مسلم /الجهاد ٢٧ (١٧٧٤) (تحفة الأشراف: ١١٧٩) ، و مسند احمد (٣/٢٣٦)

هِرَقْلَ أَرْسَلَ إِلَيْهِ فِي نَفَرٍ مِنْ قُرَيْشٍ وَكَانُوا تُجَّارًا بِالشَّامِ، فَأَتَوْهُ فَذَكَرَ الحَدِيثَ، قَالَ: ثُمَّ دَعَا بِكِتَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُرِئَ فَإِذَا فِيهِ "بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ، مِنْ مُحَمَّدٍ عَبْدِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى هِرَقْلَ عَظِيمِ الرُّومِ، السَّلَامُ عَلَى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَى أَمَّا بَعْدُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو سُفْيَانَ اسْمُهُ: صَخْرُ بْنُ حَرْبٍ.[1]

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائي چې ابوسفيان بن حرب رضي الله عنه راته اووئيل چې زه دقريشو دځه تاجرانو سره شام ته تلي وم چې هرقل (دشام) بادشاه اوغوښتلو نو مونږ ټول ورته ورغلو او بيا ابو سفيان پوره حديث بيان کړو وئيل يې چې بيا هرقل درسول الله صلي الله عليه وسلم خط راوغوښتلو او ولوستلي شو پس په دي کې دا مضمون وو "بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ، مِنْ مُحَمَّدٍ عَبْدِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى هِرَقْلَ عَظِيمِ الرُّومِ، السَّلَامُ عَلَى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَى أَمَّا بَعْدُ" يعني زه شروع کوم دالله په نوم چې انتهائي عام مهربان او خاص رحم کونکي دي داخط دمحمد (صلي الله عليه وسلم) دطرفه ليږلي کيږي چې دالله تعالي بنده او دهغه رسول دي او دهرقل په نوم چې دروم بادشاه دي ليږلي کيږي سلامتي دي وي په هغه چا باندي چې پيروي دهدايت اوکړي امابعد دحمد او نعت نه پس .....الخ.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او دابوسفيان نوم صخر بن حرب دي.

****

٢٥_بَابُ مَا جَاءَ فِي خَتْمِ الْكِتَابِ

په خط باندي دمهر لګولو بيان

٢٧١٨_حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، أَخْبَرَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: لَمَّا أَرَادَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَكْتُبَ إِلَى الْعَجَمِ قِيلَ لَهُ: "إِنَّ الْعَجَمَ لَا يَقْبَلُونَ إِلَّا كِتَابًا عَلَيْهِ خَاتَمٌ فَاصْطَنَعَ خَاتَمًا، قَالَ: فَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى بَيَاضِهِ فِي كَفِّهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى:

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /بدء الوحي ١ (٧) . والجهاد ١٠٢ (٢٩٤١) . وتفسير آل عمران ٤ (٣٥٥٣) . صحيح مسلم/الجهاد ٢٧ (١٧٧٣) . سنن ابي داود/ الأدب ١٢٨ (٥١٣٦) (تحفة الأشراف : ٤٨٥٠)

هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې كله به رسول الله صلي الله عليه وسلم عجمي بادشاهانو ته خط ليږلو نو ورته به اووئيلي شول چې عجميان دمهر شوي خط نه علاوه بل خط نه قبلوي چنانچې رسول الله صلي الله عليه وسلم دمهر دپاره يوه ګوته په چا باندي جوړه كړه راوي وائي لكه چې ماته داسي ښكاري لكه چې نن زه دهغه ګوتي سپين والي ته ګورم

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٦_باب كَيْفَ السَّلَامُ

سلام په كوم اندازاچول پكار دي

٢٧١٩_حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنِ نَصْرٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ الْمُغِيرَةِ، حَدَّثَنَا ثَابِتُ الْبُنَانِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي لَيْلَى، عَنِ الْمِقْدَادِ بْنِ الْأَسْوَدِ، قَالَ: أَقْبَلْتُ أَنَا وَصَاحِبَانِ لِي قَدْ ذَهَبَتْ أَسْمَاعُنَا وَأَبْصَارُنَا مِنَ الْجَهْدِ، فَجَعَلْنَا نَعْرِضُ أَنْفُسَنَا عَلَى أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَيْسَ أَحَدٌ يَقْبَلُنَا، فَأَتَيْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَى بِنَا أَهْلَهُ فَإِذَا ثَلَاثَةُ أَعْنُزٍ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " احْتَلِبُوا هَذَا اللَّبَنَ بَيْنَنَا "، فَكُنَّا نَحْتَلِبُهُ فَيَشْرَبُ كُلُّ إِنْسَانٍ نَصِيبَهُ، وَنَرْفَعُ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَصِيبَهُ، فَيَجِيءُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ اللَّيْلِ " فَيُسَلِّمُ تَسْلِيمًا لَا يُوقِظُ النَّائِمَ، وَيُسْمِعُ الْيَقْظَانَ، ثُمَّ يَأْتِي الْمَسْجِدَ فَيُصَلِّي ثُمَّ يَأْتِي شَرَابَهُ فَيَشْرَبُهُ "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه : دمقداد بن اسود رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې زه او زما دوست مديني ته راغلو او دفقر او فاقي او مشقت په وجه زمونږ سماعت متاثر شوي وو او نظر مو خراب شوي

---

[1] _ اورده البخاري في الصحيح /العلم ٧ (٦٥) ، والجهاد ١٠١ (٢٩٣٨) ، واللباس ٥٠ (٥٨٧٢) ، ٥٢ (٥٨٧٥) ، والأحكام ١٥ (٧١٦٢) ، صحيح مسلم /اللباس ١٣ (٥٦/٢٠٩٢) ، سنن ابي داود/ الخاتم ١ (٤٢١٤) ، سنن النسائي/الزينة ٤٧ (٥٢٠٣) (تحفة الأشراف: ١٣٦٨) ، و مسند احمد (١٦٨/١٦٩، ٣، ١٧٠، ١٨١، ٢٢٣، ٢٧٥)

[2] _ مسلم/الأشربة والأطعمة ٣٢ (٢٠٥٥) ، سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ١٢٢ (٣٢٣) (تحفة الأشراف : ١١٥٤٦) ، و مسند احمد (٦/٣٦٢)

وو مونږ اوغوښتل چې خپل ځانونه د نبي كريم صلي الله عليه وسلم صحابه كرامو ته پيش كړو نو هيڅا قبول نكړو بيا مونږ رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ورغلو نو هغوئ خپل كور ته بوتلو او دغه وخت كي رسول الله سره دري چيلئ وي او ويې فرمانيل ددي شوده زمونږ ټولو دپاره اولوشئ نو دا زمونږ دپاره اولوشلي شول او په مونږ كي هر كس خپله حصه اوڅكله او درسول الله حصه اوساتلي شوه بيا رسول الله دشپې كور ته راغلو او سلام يې په داسي انداز اوكړو چې اوده كس ورباندي نه رابيداريږي او ويخو كسانو اوريدلي شو بيا مسجد ته لاړو او دتهجد مونځ يې اوكړو او بيا راغلو او دخپلي حصي شوده يې اوڅكل.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٧_باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ التَّسْلِيمِ عَلَى مَنْ يَبُولُ

په متيازو ناست كس باندي دسلام اچولو دكراهت بيان

٢٧٢٠_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، وَنَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنِ الضَّحَّاكِ بْنِ عُثْمَانَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ "أَنَّ رَجُلًا سَلَّمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَبُولُ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ، يَعْنِي: السَّلَامَ ".[1]

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چې يو كس رسول الله باندي هغه وخت سلام واچولو كله چې هغه اودس ماتولو دپاره ناست وو نو ده ته يې دسلام جواب ورنكړو.

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى النَّيْسَابُورِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنِ الضَّحَّاكِ بْنِ عُثْمَانَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ، وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ الْفَغْوَاءِ، وَجَابِرٍ، وَالْبَرَاءِ، وَالْمُهَاجِرِ بْنِ قُنْفُذٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[2]

ترجمه : سفيان هم دضحاك بن عثمان په سند ددي هم معني روايت نقل كړي دي.
امام ترمذي وايي: او په دي باب كي دعلقمه بن الفغواء، جابر، براء، او مهاجر بن قنفذ رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او دا حديث حسن صحيح دي.

---

[1] ـ انظر حديث رقم ٩٠

[2] ـ انظر حديث رقم ٩٠

****

۲۸_باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ أَنْ يَقُولَ عَلَيْكَ السَّلَامُ مُبْتَدِئًا

دخبروشروع کولووخت کي عليک السلام وئيل مکروه دي

۲۷۲۱_حَدَّثَنَا سُوَيْدٌ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ، أَخْبَرَنَا خَالِدٌ الْحَذَّاءُ، عَنْ أَبِي تَمِيمَةَ الْهُجَيْمِيِّ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ قَوْمِهِ، قَالَ: طَلَبْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ أَقْدِرْ عَلَيْهِ، فَجَلَسْتُ فَإِذَا نَفَرٌ هُوَ فِيهِمْ وَلَا أَعْرِفُهُ وَهُوَ يُصْلِحُ بَيْنَهُمْ، فَلَمَّا فَرَغَ قَامَ مَعَهُ بَعْضُهُمْ فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، فَلَمَّا رَأَيْتُ ذَلِكَ، قُلْتُ: عَلَيْكَ السَّلَامُ يَا رَسُولَ اللهِ، عَلَيْكَ السَّلَامُ يَا رَسُولَ اللهِ، عَلَيْكَ السَّلَامُ يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: "إِنَّ عَلَيْكَ السَّلَامُ تَحِيَّةُ الْمَيِّتِ، إِنَّ عَلَيْكَ السَّلَامُ تَحِيَّةُ الْمَيِّتِ، ثَلَاثًا" ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَيَّ، فَقَالَ: "إِذَا لَقِيَ الرَّجُلُ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ فَلْيَقُلِ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ"، ثُمَّ رَدَّ عَلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: وَعَلَيْكَ وَرَحْمَةُ اللهِ وَعَلَيْكَ وَرَحْمَةُ اللهِ وَعَلَيْكَ وَرَحْمَةُ اللهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ أَبُو غِفَارٍ، عَنْ أَبِي تَمِيمَةَ الْهُجَيْمِيِّ، عَنْ أَبِي جُرَيٍّ جَابِرِ بْنِ سُلَيْمٍ الْهُجَيْمِيِّ، قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ الْحَدِيثَ، وَأَبُو تَمِيمَةَ اسْمُهُ: طَرِيفُ بْنُ مُجَالِدٍ. [1]

ترجمه: دجابر بن سليم رضي الله عليه وبيان دي فرمائي چې ما درسول الله صلي الله عليه وسلم سره ملاویدل غوښتل مګر رسیدلي ورته نشو زه یوه شیبه کیناستم نو څه کسان راغلل په هغوئ کي رسول الله صلي الله عليه وسلم هم موجود وو او ما نه پيژندلو او رسول الله ددوئ مينځ کي صلح کوله هر کله چې فارغ شو نو په دوئ کي ورسره بعضي کسان پاڅیدل او وئیل یې یارسول الله هر کله چې ما دا حالت اولیدو نو ما اوونیل: عليك السلام يارسول الله، عليك السلام يارسول الله، عليك السلام يارسول الله، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل عليك السلام مه وایه ځکه چې پداسي الفاظوسره خو مړوته سلام کیږي، پداسي الفاظوسره خو مړوته سلام کیږي، دري ځلي يي اوفرمائيل :بیا ماته متوجه شو او ویې فرمائیل: کله چې څوک د خپل يو مسلمان ورور سره مخامخ شي نو دا الفاظ دي اووايي: السلام عليكم ورحمة الله. او بیا رسول الله په دي الفاظو ماته د سلام جواب راکړو : و عليك ورحمة الله ، و عليك ورحمة الله ، و عليك ورحمة الله.

امام ترمذي وايي: ابوغفار دا حديث په سند د ابو تميمه الهجيمي عن ابي جري جابر بن سليم الهجيمي سره نقل کړي دي هجيمي وائي زه نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته ورغلم او بيا يي دماقبل پشان پوره حديث بيان کړو دابوتميمه نوم طريف بن مجالد دي.

---

[1] _ سنن ابي داود/ الأدب ۱۵۱ (۵۲۰۹). سنن النسائي/ عمل اليوم والليلة ۱۳۲ (۲۱۴۲۰) (تحفة الأشراف: ۲۱۲۳ و۱۵۵۹۸)

****

٢٧٢٢_حَدَّثَنَا بِذَلِكَ الحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الخَلَّالُ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ أَبِي غِفَارٍ المُثَنَّى بْنِ سَعِيدٍ الطَّائِيِّ، عَنْ أَبِي تَمِيمَةَ الهُجَيْمِيِّ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سُلَيْمٍ، قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ: عَلَيْكَ السَّلَامُ، فَقَالَ: "لَا تَقُلْ عَلَيْكَ السَّلَامُ، وَلَكِنْ قُلِ السَّلَامُ عَلَيْكَ". وَذَكَرَ قِصَّةً طَوِيلَةً. وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.(1)

ترجمه : د ابو تميه هجيمي رضي الله عنه نه روايت دی چې جابر بن سليم اوفرمائيل زه د رسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شوم نو داسې مې سلام واچولو چې عليك السلام يا رسول الله رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمائيل عليك السلام مه وايه بلکه داسې وايه: السلام عليك. او بيا يې يوه اوږده واقعه ذکر کړه.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح غريب دی.

****

٢٧٢٣_حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ عَبْدِ الوَارِثِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ المُثَنَّى، حَدَّثَنَا ثُمَامَةُ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ إِذَا سَلَّمَ سَلَّمَ ثَلَاثًا وَإِذَا تَكَلَّمَ بِكَلِمَةٍ أَعَادَهَا ثَلَاثًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.(2)

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه روايت دی چې درسول الله صلي الله عليه وسلم دا عادت وو چې کله به يې څه خبره کوله نو درې ځله به يې بيا بيا اوفرمائيله، چې خلق ورباندې ښه پوهه شي او چې کله به يې سلام اچولو نو درې ځله به يې سلام اچولو.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح غريب دی.

لغات : اعاد: اعاد يعيد باب افعال په معنې دواپس کولو او په مجردو کې دنصر نه عود ګرځيدل ددې نه علاوه دنورو معانيو دپاره هم راځي.

تشريح : د درې ځله سلام اچولو مطلب دا بيان شوی دی چې وړومبې سلام به مجلس ته راننوتو داجازت دپاره وو، دويم دملاقات په وخت او دريم دواپس کيدو رخصتئ سلام، اوچا

1 ـ سنن ابي داود/الأدب ١٥١ (٥٢٠٩) . سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ١٢٣ (٣١٤٣٢٠) (تحفة الأشراف : ٢١٢٣ و١٥٥٩٨)

2 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح/العلم ٣٠ (٩٣، ٩٥) . والاستئذان ١٣ (٦٢٤٤)

ويلي دي ډيرى ګڼرى ته درانئوتو په وخت يي ورومبني سلام دمجلس په سر کې ورمبنو کسانو باندي واچولو، دويم په مينځ کې او دريم په اخري سر کې چې ورومبنی سلام به په ګڼړه کې تيولو کسانو نه شو اوريدی.

علماء وائي يوه خبره دري ځله تکرارول مستحسن دي اوبالخصوص کله چې ددي خبري ضرورت زيات وي. علماء وائي داسي به عموما په هغه وخت کې کيدل کله چې به مجمع زياته وه يو ځل به يي ښئ طرف ته اووئيل او دويم ځل چپ طرف ته او په دريم ځل مخامخ طرف ته.

په دي باندي قياس کول پکار دي چې سلام به رسول الله ذري پيري کولو ددي دپاره چې تول يي واوري.

****

٢٩_بَاب اجْلِسْ حَيْثُ انْتَهَى بِكَ الْمَجْلِسُ

مجلس کي چې درته چرته ځاي ملاوشي هلته کيناستل پکار دي

٢٧٢٤_حَدَّثَنَا الْأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، عَنْ أَبِي مُرَّةَ مَوْلَى عَقِيلِ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، عَنْ أَبِي وَاقِدٍ اللَّيْثِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَمَا هُوَ جَالِسٌ فِي الْمَسْجِدِ وَالنَّاسُ مَعَهُ، إِذْ أَقْبَلَ ثَلَاثَةُ نَفَرٍ فَأَقْبَلَ اثْنَانِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَذَهَبَ وَاحِدٌ، فَلَمَّا وَقَفَا عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَلَّمَا، فَأَمَّا أَحَدُهُمَا فَرَأَى فُرْجَةً فِي الْحَلْقَةِ فَجَلَسَ فِيهَا، وَأَمَّا الْآخَرُ فَجَلَسَ خَلْفَهُمْ، وَأَمَّا الْآخَرُ فَأَدْبَرَ ذَاهِبًا، فَلَمَّا فَرَغَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "أَلَا أُخْبِرُكُمْ عَنِ النَّفَرِ الثَّلَاثَةِ؟ أَمَّا أَحَدُهُمْ فَأَوَى إِلَى اللهِ فَآوَاهُ اللهُ، وَأَمَّا الْآخَرُ فَاسْتَحْيَا فَاسْتَحْيَا اللهُ مِنْهُ، وَأَمَّا الْآخَرُ فَأَعْرَضَ فَأَعرض الله عنه". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو وَاقِدٍ اللَّيْثِيُّ اسْمُهُ: الْحَارِثُ بْنُ عَوْفٍ، وَأَبُو مُرَّةَ مَوْلَى أُمِّ هَانِئٍ بِنْتِ أَبِي طَالِبٍ وَاسْمُهُ: يَزِيدُ وَيُقَالُ: مَوْلَى عَقِيلِ بْنِ أَبِي طَالِبٍ.[1]

ترجمه : د ابو واقد حارث ابن عوف رضي الله عنه نه روايت دى چې يو ورځ رسول الله صلي الله عليه وسلم په جمات کي ناست وو او اصحاب تري چاپيره ناست وو په دى وخت کې درى کسان رانبکاره شو دوه د رسول الله صلي الله عليه وسلم مجلس ته راغلل او يو واپس لاړو (دا دوه کسه چې مجلس ته رانژدى شو) نو اوډريدو يو کس دمجلس په مينځ کي خالي ځايي

---

[1] ــ اورده البخاري في الجامع الصحيح /العلم ٨ (٦٦)، والصلاة ٨٤ (٤٧٤). صحيح مسلم/السلام ١٠ (٢١٧٦) (تحفة الأشراف: ١٥٥١٤). والمؤطاء: السلام ٣ (٤). و مسند احمد (٥/٢١٩)

اوموندلو ورکې کیناستو، او دویم کس د ناستو کسانو شاته کیناستو دریم واپس لاړو رسول الله صلي الله علیه وسلم چې فارغ شو نو اصحابو ته یې اوفرمائیل ایا تاسو ته ددې دریو واړه کسانو حالووایم په دوئ کې یو خو الله تعالي ته ځان اوسپارلو نو الله تعالي ورباندې رحم اوکړو او دویم حیا اوکړه (دمجلس مینځ کې ورننوتو نه دحیا په وجه منع شو ورستو کیناستو) نو الله تعالي ورباندې ددې حیا په وجه رحم اوکړو او دریم کوم چې واپس شو دالله جل جلاله درحمت نه مخ واړولو نو الله تعالي هم ترې مخ واړولو دالله تعالي درحمت نه محروم شو.

امام ترمذي وايي: داحدیث حسن صحیح دي او ابو مره دام هاني بنت ابي طالب رضي الله عنها ازاد کړي غلام دي او دده نوم یزید دي، دا هم وئیلي کیږي چې ابو مره دعقیل بن ابي طالب ازاد کړي غلام وو.

لغات: فرجة معني سوري ، فاستحیي: معني شرم او حیاء کول ، فاعرض ، معني اعراض کول.

تشریح: "دري کسان راغلل" دنفر نه مراد کسان دي جماعت نه دی ورنه کم از کم نهه کسان به مراد وی لیکن دا خبره غلطه ده لکه چې جمله وئیلی شي او دري سړي ورنه مراد دي دا مطلب نه دی چې دسړو دري جماعتونه دي مراد وي حاصل دادی چې حیاء في العلم مذموم عمل دی کوم چې دعلم پریخودو ته خلق اماده کوي.

فاقبل اثنان الي رسول الله صلي الله علیه وسلم: یعني دوه کسان راغلل چرته چې د رسول الله مجلس قائم وو هلته کیناستل یا دا چې درسول الله په وړاندې کیناستل.

فلما فرغ رسول الله صلي الله علیه وسلم کله چې رسول الله فارغ شو دخطبې نه یاددین دتعلیم یاذکر وغیره نه.

واما الاخر فاستحي فاستحي الله منهم : یعني دویم شرم اوکړو نو الله تعالي ورنه هم حیاء اوکړه شارحینو ددې دوه مطلبونه لیکلي دي اول دا چې دمجلس والانه یې حیاء اوکړه مذاهمت یې اونکړو دویم مطلب دادی چې ددوئ په مجلس کې یې دناستې اراده نه وه لیکن دحیاء په وجه کیناستو چې درسول الله مجلس ځنګه پریږدم او ورنه لاړشم.

فاعرض الله عنه: یعني الله تعالي هم ورنه اعراض اوکړو لکه چې هغه ددې مبارك مجلس دخیر او برکت نه محروم شو، دا دري کسان څوك وو او ددوئ څه نومونه وو ددوئ په باره کې علامه ابن حجر وائي.

لم اقف في شيء من طرق هذا الحدیث علي تسمیة واحد من الثلاثة: یعني ما ددې حدیث تمام طرق تلاش کړل لیکن په دوئ کې مې دهیچا نوم معلوم نکړوددې حدیث نه معلومه شوه چې

حيا في العلم مذموم ده او تعليم پريخودو ته انسان اماده كوي.

د ابوواقد حارث ابن عوف رضي الله عنه حالات

دده نوم حارث دی ليكن په ابو واقد مشهور وو او دپلار نوم يي عوف بن الحارث دی او دبعضو په نزد حارث بن مالك دی بعضي علماء وائي چې په بدر كې شريك شوی وو ليكن بعضي اسماء الرجال والا ددينه انكار كوي او بعضي اسماء الرجال والا وائي چې دفتح په ورځ دده په لاس كې دبني ضمراء قبيلي او ليث قبيلي او بني سعد قبيلي جهنډه وه دبعضي علماؤ خيال دادی چې دی دفتح په ورځ مسلمان شوی دی ليكن صحيح قول دادی چې په فتح مكه كې شريك وو او ددينه مخكې مسلمان شوی وو په مكه كې اوسيدو او په مكه كې په ٨٦ هجري كې وفات شو او دمهاجرينو په قبرستان كې دفن كړی شو او په دغه وخت كې دده عمر ٧٥ يا ٨٥ كلونه وو دده دمروياتو شمير ٢۴ دی چې يولس په دي كې متفق عليه دي.

****

٢٧٢٥ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا شَرِيكٌ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: "كُنَّا إِذَا أَتَيْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَلَسَ أَحَدُنَا حَيْثُ يَنْتَهِي". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رَوَاهُ زُهَيْرُ بْنُ مُعَاوِيَةَ، عَنْ سِمَاكٍ أَيْضًا. ([1])

ترجمه : دجابر بن سمره رضي الله عنه نه روايت دی چې مونږ به د رسول الله صلي الله عليه وسلم په مجلس كې حاضر شو نو دمجلس په اخر كې (دټولو نه روستو) به كيناستو (دناستو خلقو دپاسه به مخكې صف ته نه اوړيدو) ابو داود او ترمذي روايت كړی دی او حديث حسن يې ورته وئيلی دی.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي او دا حديث زهير بن معاويه هم دسماك نه نقل كړي دي.

لغات : حيث ظرف مكان مبني علي الضمه دي په معني داعتبار سره او كله كله دظرف زمان دپاره هم استعماليږي.

****

٣٠ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الْجَالِسِ عَلَى الطَّرِيقِ

په لاركي دكيناستونكو خلقو بيان

---

[1] ـ سنن ابي داود/ الأدب ١٦ (٣٨٢٥) (تحفة الأشراف : ٢١٤٣) . و مسند احمد (٥/٩٨)

٢٧٢٦_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْبَرَاءِ، وَلَمْ يَسْمَعْهُ مِنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِنَاسٍ مِنَ الْأَنْصَارِ وَهُمْ جُلُوسٌ فِي الطَّرِيقِ، فَقَالَ: "إِنْ كُنْتُمْ لَا بُدَّ فَاعِلِينَ فَرُدُّوا السَّلَامَ، وَأَعِينُوا الْمَظْلُومَ، وَاهْدُوا السَّبِيلَ". وفي الباب عن أَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي شُرَيْحٍ الْخُزَاعِيِّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه : دبراء بن عازب رضي الله عنه نه مروي دي (په سند كي ددي خبري تصريح ده چې ابواسحاق دبراء نه اوزيدل نه دي كړي نو په دي وجه په سند كي انقطاع ده، ليكن دشواهدو په بنا صحيح دي ليكن خاصكر دشعبه دموجود كيدو په وجه قوي دي) چې دانصارو څه كسان په لاره كي ناست وو او رسول الله صلي الله عليه وسلم ددوئ په خوا كي تير شو او ورته يي اوفرمائيل (په لاره كي خو كيناستل څه ښه كار نه وي) ليكن كه تاسو كيناستل ضروري ګڼړئ نو دسلام جواب به وركوئ، او دمظلوم مدد به كوئ او چې دچا نه لار وركه وي هغه ته به دلاري رهنمائي كوئ.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي، او په دي باب كي دابوهريره، او ابو شريح خزاعي رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

****

٣١_بَاب مَا جَاءَ فِي الْمُصَافَحَةِ

دمصافحي بيان

٢٧٢٧_حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، وَإِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ، عَنِ الْأَجْلَحِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا مِنْ مُسْلِمَيْنِ يَلْتَقِيَانِ فَيَتَصَافَحَانِ إِلَّا غُفِرَ لَهُمَا قَبْلَ أَنْ يَفْتَرِقَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْبَرَاءِ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنِ الْبَرَاءِ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، وَالْأَجْلَحُ هُوَ ابْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حُجَيَّةَ بْنِ عَدِيٍّ الْكِنْدِيُّ. (2)

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٨٨٤) . وانظر مسند احمد (٢٨١/٤، ٢٨٣، ٢٩١، ٢٩٣، ٣٠١) . وسنن الدارمي/الاستئذان ٢٦ (٢٦٩٧)

2 _ سنن ابي داود/ الأدب ١٥٣ (٥٢١٢) . سنن ابن ماجه/الأدب ١٢ (٣٧٠٣) (تحفة الأشراف : ١٧٩٩) . و مسند احمد (٢٨٩/٤، ٣٠٣)

ترجمه : دبراء رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي کله چې دوه مسلمانان ملاقات اوکړي او يو بل سره مصافحه اوکړي ددوئ دجدا کيدو نه مخکې ورته ګناهونه معاف شي.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن غريب دي او دبراء نه په يو څو سندونو مروي دي.

لغات : يفترقا: تفرّق تفرّقا وافترق او تفارق د اجتمع ضد دي.

تشريح : دحذيفه بن يمان په يو بل روايت کې دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل کله چې يو مومن دبل مومن سره سلام کوي او بيا مصافحه اوکړي نو دده ګناهونه داسي ختميږي لکه څرنګه چې په خزان کې د ونو نه پاڼړي رجيږي همدارنګي دبراء په روايت کې هم راغلي دي عطاء خراساني دا ارشاد نبوي نقل کړی دی چې مصافحي کوئ ددي په وجه دزړه خيری ختميږي اوپخپل مينځ کې يوبل ته تحفي ورکوئ ددي په وجه عداوت ختميږي علماء وائي په مصافحي کولو سره چې دګناهونو دمعافئ کوم اعلان دی دهغي نه مراد صغائر دي او دکبائرو دمعافئ دپاره توبه ويستل لازمي دي.

****

٢٧٢٨ـحَدَّثَنَا سُوَيْدٌ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ، أَخْبَرَنَا حَنْظَلَةُ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَجُلٌ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ الرَّجُلُ مِنَّا يَلْقَى أَخَاهُ أَوْ صَدِيقَهُ أَيَنْحَنِي لَهُ ؟ قَالَ: لَا، قَالَ: أَفَيَلْتَزِمُهُ وَيُقَبِّلُهُ ؟ قَالَ: لَا، قَالَ: أَفَيَأْخُذُ بِيَدِهِ وَيُصَافِحُهُ ؟ قَالَ: نَعَمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. ([1])

ترجمه : انس رضي الله عنه نه روايت دی چې يو سړي رسول الله صلي الله عليه وسلم نه تپوس اوکړو يا رسول الله! زمونږ چې خپل يو مسلمان ورور يا دوست سره ملاقات اوشي نو هغه سره (مصافحی په وخت) لږ ټيټيږو ، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل نه، هغه عرض اوکړو ايا غاړه يې باسو او ښکل يې کړو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل نه نو هغه اووئيل بيا دهغه لاس په خپل لاس کې ونيسو؟ او مصافحه ورسره اوکړو؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

لغات : ينحني: انحنا کريدل ، التزمه يعني په خان يې لازم کړو.

تشريح : دلته دا هم معلومه شوه چې دبعضو خلقو عادت دی چې دسلام کولو په وخت کې سر

[1] ــ سنن ابن ماجه/الأدب ١٥(٣٧٠٢) (تحفة الأشراف : ٨٢٢)

ټیټوي دا کار دسنت خلاف دی اوهمداخبره شیخ یحي د محي السنه نه نقل کړي ده چې دسلام کولو په وخت کې ملاټیټول مکروه دي ځکه چې ممانعت یې ددې حدیث نه معلوم شو.
دعقائدو امام شیخ ابو منصور ماتریدي وائي که څوك دچا په وړاندي زمکه ښکل کړي یاچاته ملاراټیټه کړیې نوددي په وجه دی نه کافر کیږي مګر سخت ګنهګار به وي او که دعبادت په نیت یې داسې اوکړل نوبیا په یقیني طور سره کافر کیږي.
معانقه او بوسه اخستل (ښکلول) جائز دي البته داامام ابوحنیفه او محمد رحمهما الله نه نقل دي چې هغوئ به مکروه ګنړل.
اودبعضو په نزد جائزدي هغوئ دهغه احادیثو نه استدلال کوي په کوم کې چې پخپله رسول الله معانقه کړي ده لیکن ددي اختلاف ختمولو دپاره دا وئیل کافي دي که چري معانقه او بوسه دجنسي جذباتو په خیال وي نوناجائز ده او که داکرام په وجه وي نو بیاجائز ده.

****

٢٧٢٩_حَدَّثَنَا سُوَيْدٌ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ، أَخْبَرَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، قَالَ: قُلْتُ لِأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ: هَلْ كَانَتِ الْمُصَافَحَةُ فِي أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟ قَالَ: نَعَمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه : قتاده وائي دانس بن مالك رضي الله عنه نه مي تپوس اوکړو ایا درسول الله صلي الله علیه وسلم په صحابه کرامو کې دمصافحي رواج وو؟ انس اووئیل هو.
امام ترمذي وایي: داحدیث حسن صحیح دي.

****

٢٧٣٠_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمٍ الطَّائِفِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ خَيْثَمَةَ، عَنْ رَجُلٍ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مِنْ تَمَامِ التَّحِيَّةِ الْأَخْذُ بِالْيَدِ ". وفي الباب عن الْبَرَاءِ، وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وَلَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ يَحْيَى بْنِ سُلَيْمٍ، عَنْ سُفْيَانَ، قَالَ: سَأَلْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيل، عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ فَلَمْ يَعُدَّهُ مَحْفُوظًا، وَقَالَ: إِنَّمَا أَرَادَ عِنْدِي حَدِيثَ سُفْيَانَ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ خَيْثَمَةَ، عَمَّنْ، سَمِعَ ابْنَ مَسْعُودٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَا سَمَرَ إِلَّا لِمُصَلٍّ أَوْ مُسَافِرٍ ". قَالَ مُحَمَّدٌ: وَإِنَّمَا يُرْوَى عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ، أَوْ غَيْرِهِ، قَالَ: " مِنْ تَمَامِ التَّحِيَّةِ

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الاستئذان ٢٧ (٦٢٦٣) (تحفة الأشراف : ١٢٠٥)

الْأَخْذُ بِالْيَدِ".(1)

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي مكمل سلام السلام عليكم ورحمة الله وبركاته وئيل دي او ددي سره لاس په لاس كي نيول (مصافحه كول) دي

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي دا مونږ صرف ديحي بن سليم په روايت پيژنو چي دسفيان نه يي نقل كوي، ما دامام بخاري نه دي حديث باره كي تپوس اوكړو نو هغه محفوظ او نه شميرلو او وئيل يي زما په نزد ديحي بن سليم دسفيان هغه روايت مراد كړي دي كوم چي هغه دمنصور نه نقل كړي دي او منصور دقيسمه نه او قيسمه دابن مسعود نه اوريدلي دي او ابن مسعود دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي چې فرمائيل يي (دماخوستن دمونځ نه پس) خبري اتري اوقصي كول پكار نه دي مگر علاوه دهغه چا نه څوك چې يوه شيبه پس تهجد دپاره راپاځي او يا سفر كول غواړي، محمد وائي چې دمنصور نه مروي دي او هغه دابواسحاق نه روايت كوي او ابواسحاق دعبدالرحمن بن يزيد نه او يا دهغه نه علاوه دبل چا نه چې فرمائيل يي دسلام دتكميل نه مراد لاس نيول (مصافحه كول دي)، او په دي باب كي دبراء او ابن عمررضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

****

٢٧٣١_حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ، أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ زَحْرٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ الْقَاسِمِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " تَمَامُ عِيَادَةِ الْمَرِيضِ أَنْ يَضَعَ أَحَدُكُمْ يَدَهُ عَلَى جَبْهَتِهِ أَوْ قَالَ: عَلَى يَدِهِ، فَيَسْأَلُهُ كَيْفَ هُوَ، وَتَمَامُ تَحِيَّاتِكُمْ بَيْنَكُمُ الْمُصَافَحَةُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا إِسْنَادٌ لَيْسَ بِالْقَوِيِّ. قَالَ مُحَمَّدٌ: عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ زَحْرٍ ثِقَةٌ، وَعَلِيُّ بْنُ يَزِيدَ ضَعِيفٌ، وَالْقَاسِمُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ يُكْنَى: أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ وَهُوَ مَوْلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ خَالِدِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ مُعَاوِيَةَ وَهُوَ ثِقَةٌ، وَالْقَاسِمُ شَامِيٌّ.(2)

ترجمه : دابوامامه رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ديو مريض مكمل عيادت دادي چې په تاسو كي عيادت كونكي خپل لاس دده په تندي باندي كيږدي، او كه داسي يي اوفرمائيل (دراوي شك دي) چې خپل لاس دي دده په لاس باندي كيږدي او بيا دي ورنه تپوس اوكړي چې څنګه يي؟ او ستاسو دسلامونو تكميل دادي چې

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٩٦٤١)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٤٩١٠)

خپل مينځ کي دي يوبل سره مصافحه اوکړي.

امام ترمذي وايي: ددي حديث سند قوي نه دي، امام بخاري وائي عبيدالله بن زحر ثقه دي او علي بن يزيد ضعيف دي او دقاسم بن عبدالرحمن اسم کنيه ابو عبدالرحمن ده اودي د عبدالرحمن بن خالد بن يزيد بن معاويه ازاد کړي غلام دي او ثقه دي او قاسم دشام اوسيدونکي دي.

****

٣٢ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الْمُعَانَقَةِ وَالْقُبْلَةِ

دغاړي ورکولو او ښکلولو بيان

٢٧٣٢ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ يَحْيَى بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَبَّادٍ الْمَدَنِيُّ، حَدَّثَنِي أَبِي يَحْيَى بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاق، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ مُسْلِمٍ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "قَدِمَ زَيْدُ بْنُ حَارِثَةَ الْمَدِينَةَ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَيْتِي، فَأَتَاهُ فَقَرَعَ الْبَابَ، فَقَامَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُرْيَانًا يَجُرُّ ثَوْبَهُ، وَاللَّهِ مَا رَأَيْتُهُ عُرْيَانًا قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ فَاعْتَنَقَهُ وَقَبَّلَهُ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ.[1]

ترجمه : دعائشي رضي الله عنها نه روايت دی کله چې زيد بن حارثه چې دمکی معظمی نه مديني منوری ته راغلو تنبه يی اووهله رسول الله صلي الله عليه وسلم سره په تلوار ورپاڅيدو څادر مبارك يی څان پسی راښکلو هغه ته يی غاړه ورکړه او ښکل يی کړو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي او مونږ يي صرف دزهري په روايت په همدي سند پيژنو.

لغات : فاعتنقه: اعتناق معني په غيږ کي نيول، ورغاړه وتل.

تشريح : خلاصه داده چې زيد بن حارثه رضي الله عنه کله درسول الله کورته راغی نورسول الله صلي الله عليه وسلم په جلتی؛ سره پاڅيدو تردي چې څادر يي په زمکه راښکلی شو او په جلتی؛ يي ورسره معانقه هم وکړله ددي حديث مضمون دجعفر بن ابي طالب نه هم منقول دی کله چې دحبشي نه راغی نو رسول الله ورسره معانقه اوکړله.

په اصل کي معانقه يو بل لره غاړه ورکول دي لکه څرنګه چې دعربو عادت دی او که څوك

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٦٦١١)

سینه لګوي نو داهم په بعضو روایاتو کې وارد دي خو په اکثرو احادیثو کې معانقه لفظ راغلی دی علماء وائي چې کله څوك دسفر نه راشي نو په دي صورت کې معانقه جائز ده او که چري په کومه شبهه یا بدئ کې دمبتلا کیدو خطره وي نو بیا معانقه جائز نه ده یعني دجنسي جذباتو په وجه یا دبربنډوالي په وجه بالکل جائز نه دي.

وقبله یعني رسول الله صلي الله علیه وسلم ښکل کړو علامه نووي چې په شرح دمسلم کې په دي سلسله کې کومه خبره کړي ده دهغي خلاصه داده که دچا لاس ښکلول دزهد او تقوي او دعلم په وجه وي نو دا جائز نه بلکه مستحب دي او که ددنیوي غرض دپاره وي نو مکروه دي.

****

٣٣_باب مَا جَاءَ فِي قُبْلَةِ الْيَدِ وَالرِّجْلِ

دلاس یا دخپي ښکلولو بیان

٢٧٣٣_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ إِدْرِيسَ، وَأَبُو أُسَامَةَ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ عَسَّالٍ، قَالَ: قَالَ يَهُودِيٌّ لِصَاحِبِهِ اذْهَبْ بِنَا إِلَى هَذَا النَّبِيِّ، فَقَالَ صَاحِبُهُ: لَا تَقُلْ نَبِيٌّ إِنَّهُ لَوْ سَمِعَكَ كَانَ لَهُ أَرْبَعَةُ أَعْيُنٍ، فَأَتَيَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَاهُ عَنْ تِسْعِ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ، فَقَالَ لَهُمْ: "لَا تُشْرِكُوا بِاللهِ شَيْئًا، وَلَا تَسْرِقُوا، وَلَا تَزْنُوا، وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللهُ إِلَّا بِالْحَقِّ، وَلَا تَمْشُوا بِبَرِيءٍ إِلَى ذِي سُلْطَانٍ لِيَقْتُلَهُ، وَلَا تَسْحَرُوا، وَلَا تَأْكُلُوا الرِّبَا، وَلَا تَقْذِفُوا مُحْصَنَةً، وَلَا تُوَلُّوا الْفِرَارَ يَوْمَ الزَّحْفِ، وَعَلَيْكُمْ خَاصَّةً الْيَهُودَ أَنْ لَا تَعْتَدُوا فِي السَّبْتِ"، قَالَ: فَقَبَّلُوا يَدَهُ وَرِجْلَهُ، فَقَالَا: نَشْهَدُ أَنَّكَ نَبِيٌّ، قَالَ: "فَمَا يَمْنَعُكُمْ أَنْ تَتَّبِعُونِي". قَالُوا: إِنَّ دَاوُدَ دَعَا رَبَّهُ أَنْ لَا يَزَالَ فِي ذُرِّيَّتِهِ نَبِيٌّ وَإِنَّا نَخَافُ إِنْ تَبِعْنَاكَ أَنْ تَقْتُلَنَا الْيَهُودُ. وفي الباب عن يَزِيدَ بْنِ الْأَسْوَدِ، وَابْنِ عُمَرَ، وَكَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دصفوان بن غسال رضي الله عنه نه منقول دي :یوه ورځ یو یهودي خپل یو ملګري ته اووئیل چې راشه چې دي نبي ته ورشو ملګري یي ورته اووئیل نبي ورته مه وایه که چري وایې اوریدل چې یهودیان خو هم مانبي ګڼري نو سترګي به یي څلور شي یعني دخوشحالئ نه به په جامو کې نه ځایږي، بهر حال دوئ دواړه دنبي کریم صلي الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شول او دنهه واضحو احکامو په باره کې یي ورنه سوال اوکړو رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل هیڅوك به دالله تعالي سره نه شریکوئ، غلابه نه کوئ، زنا به نه کوئ او دکوم نفس

---

[1] (رواه الترمذي: ٣١٤٣، و النسائي في السنن الكبرى: ٨٦٥٦ـ وابن ماجة: ٣٧٠٥ـ

وژل چې الله حرام کړي دي هغه به په ناحقه نه قتل کوئ او دکوم بې ګناه دقتل کولو دپاره به په هغه باندې ددي دپاره الزام نه لګوئ چې حاکم ته يې ورولئ (او سزا ورته ورکړي) جادو به نه کوئ، سود به نه خورئ، او په پاکدامنو ښځو به دزنا تهمت نه لګوئ، او دجنګ په ميدان کې به دشمن ته شا نه ورګرځوئ او اې يهوديانو په تاسو باندې په خصوصيت سره واجب دي چې دخالي دورځې په معامله کې دالله دحکم نه تجاوز اونکړئ . راوي وائي چې ددي په اوريدو سره دواړو يهوديانو دنبي کريم صلي الله عليه وسلم لاس او ښپې ښکل کړل او ويې وئيل مونږ ګواهي ورکوو چې ته واقعي دالله نبي او رسول يې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هر کله چې تاسو زما په رسالت يقين اوکړو نو زما داتباع نه ستاسو دپاره کوم څيز مانع دی ؟ هغوئ اووئيل حقيقت دادی چې داود عليه السلام دخپل رب نه دعا غوښتلي وه چې نبوت دې هميشه زما په اولاد کې وي لهذا مونږ ويريږو چې که ستا پيروي اوکړو نو يهوديان به مو قتل کړي.

تشريح : ددي حديث نه معلومه شوه چې په رسول الله ايمان لرل جدا څيز دی او اتباع رسول جدا څيز دی ، خلاصه داده چې دالله تعالي داطاعت سره ځاي په ځاي داطاعت رسول حکم بار بار شوی دی او په مختلفو عنواناتو سره درسول دبيان کړو احکامو دمنلو هدايت شوی دی دا هر څه ددي خطري پيش نظر دي چې څوك احاديث رسول لره دقران نه جدا اونه ګڼړي او داطاعت الهيه نه يې جدا اونه ګڼړي او انکار ورنه اونکړي داتباع رسول متعلق احاديث او دعلماؤ اقوال نور هم ډير زيات دي ليکن مونږ په مذکوره بحث اکتفاء کوو

دصفوان ابن عسال رضي الله عنه حالات

نوم صفوان دپلار نوم عسال دکوفي اوسيدونکي دي او اکثر يې نقل دروايت داهل کوفه نه کړي دي چې يوڅو روايات ورنه منقول دي.

****

٣٤_بَابُ مَا جَاءَ فِي مَرْحَبًا

دملاقات وخت کې دمرحبا وئيلو بيان

٢٧٣٤_حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الْأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ أَبِي النَّضْرِ، أَنَّ أَبَا مُرَّةَ مَوْلَى أُمِّ هَانِئٍ بِنْتِ أَبِي طَالِبٍ أَخْبَرَهُ، أَنَّهُ سَمِعَ أُمَّ هَانِئٍ، تَقُولُ: ذَهَبْتُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْفَتْحِ، فَوَجَدْتُهُ يَغْتَسِلُ وَفَاطِمَةُ تَسْتُرُهُ بِثَوْبٍ، قَالَتْ: فَسَلَّمْتُ، فَقَالَ: "مَنْ هَذِهِ ؟" قُلْتُ: أَنَا أُمُّ هَانِئٍ، فَقَالَ: "مَرْحَبًا بِأُمِّ هَانِئٍ". قَالَ: فَذَكَرَ فِي الْحَدِيثِ قِصَّةً طَوِيلَةً. هَذَا حَدِيثٌ

حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : ام هاني وائي دفتح مكه په كال زه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ورغلم او هغه دي وخت كي غسل كولو او فاطمه رضي الله عنها ديو څادر نه رسول الله ته پرده جوړه كړي وه ما دورتلو سره سلام اوكړو نو رسول الله تپوس اوكړو ته څوك يي ؟ ما اوونيل ام هاني يم رسول الله اوفرمائيل دام هاني راتلل دي مبارك وي (يعني پخير راغلي) بيا راوي په دي حديث كي يوه اوږده قصه ذكر كړه.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٧٣٥ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ قَالُوا: حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ مَسْعُودٍ أَبُو حُذَيْفَةَ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ أَبِي جَهْلٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ جِئْتُهُ: " مَرْحَبًا بِالرَّاكِبِ الْمُهَاجِرِ "، وَفِي الْبَابِ، عَنْ بُرَيْدَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي جُحَيْفَةَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِصَحِيحٍ، لَا نَعْرِفُهُ مِثْلَ هَذَا إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ مُوسَى بْنِ مَسْعُودٍ، عَنْ سُفْيَانَ، وَمُوسَى بْنُ مَسْعُودٍ ضَعِيفٌ فِي الْحَدِيثِ، وَرَوَى هَذَا الْحَدِيثَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ مُرْسَلًا، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ، وَهَذَا أَصَحُّ، قَالَ: سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ بَشَّارٍ يَقُولُ، مُوسَى بْنُ مَسْعُودٍ ضَعِيفٌ فِي الْحَدِيثِ، قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ: وَكَتَبْتُ كَثِيرًا عَنْ مُوسَى بْنِ مَسْعُودٍ ثُمَّ تَرَكْتُهُ.[2]

ترجمه : دعكرمه بن ابي جهل بيان دي فرمائي چې كله ما د مكي نه مديني ته هجرت اوكړو او راغلم نو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل په سورلۍ سور مهاجر راتلل دي مبارك وي.

امام ترمذي وايي ددي حديث سند صحيح نه دي مونږ يي صرف دموسي بن مسعود په روايت پيژنو چې دسفيان نه يي نقل كوي او موسي بن مسعود په باب دحديث كي ضعيف دي، عبدالرحمن بن مهدي هم دا حديث دسفيان نه او سفيان دابو اسحاق نه مرسل نقل كړي دي او

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الغسل ٢١ (٢٨٠)، والصلاة ٤ (٣٥٧)، والجزية ٩ (٣١٧١)، والأدب ٩٣ (٦١٥٨)، صحيح مسلم /الحيض ١٦ (٣٣٦)، والمسافرين ١٣ (٨٢/٣٣٦). سنن ابن ماجه/الطهارة ٥٩ (٣٦٥) (ببعضة) (تحفة الأشراف : ١٨٠٨)، والمؤطاء: قصر الصلاة ٨ (٢٨)، و مسند احمد (٦/٣٤٣، ٤٢٣)، وسنن الدارمي/الصلاة ١٥١ (١٤٩٣)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٠٠١٧)

په دي سند كي دمصعب بن سعد ذكر نشته او دا دنورو نه زيات صحيح روايت دي ما دمحمد بن بشار نه اوريدلي دي وئيل يي موسي بن مسعود په حديث بيانولو كي ضعيف دي محمد بن بشار وئيل ما دموسي بن مسعود نه ډير احاديث اوريدلي دي او بيا مي دهغه نه احاديث اوريدل پريخودل، په دي باب كي دبريده ، ابن عباس، او ابو جحيفه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

كتاب الأدب عن رسولِ الله صلى الله عليه وسلم

داسلامي ادابو او اخلاقو بيان

١ـ بابُ مَا جَاءَ فِي تَشْمِيتِ الْعَاطِسِ

پرنجي كونكي ته جواب وركول

٢٧٣٦ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لِلْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ سِتٌّ بِالْمَعْرُوفِ: يُسَلِّمُ عَلَيْهِ إِذَا لَقِيَهُ، وَيُجِيبُهُ إِذَا دَعَاهُ، وَيُشَمِّتُهُ إِذَا عَطَسَ، وَيَعُودُهُ إِذَا مَرِضَ، وَيَتْبَعُ جَنَازَتَهُ إِذَا مَاتَ، وَيُحِبُّ لَهُ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ". وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي أَيُّوبَ، وَالْبَرَاءِ، وَأَبِي مَسْعُودٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَدْ تَكَلَّمَ بَعْضُهُمْ فِي الْحَارِثِ الأَعْوَرِ.[1]

ترجمه : د علي رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دمسلمان په مسلمان شپږ حقونه دي، اول كله چې ورسره مخامخ شی سلام پري اچوه، دويم كله چې دعوت دركړي قبول يی كړه، دريم كله چې څوك پرنجي اوكړي الحمدلله اووائي په جواب كې ورته يرحمك الله اووايه ، څلورم، كله چې ناجوړه شي تپوس يی اوكړه،، پنځم او چې مړ شي جنازې سره يی لاړ شه ، شپږم چي كوم شي ځان دپاره خوښوي هغه دده دپاره هم خوښ كړه.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي او دا حديث په متعددو سندونو درسول الله صلي الله عليه وسلم نه منقول دي بعضي محدثينو په حارث اعور كلام كړي دي، او په دي باب كې

---

[1] ـ ابن ماجه/الجنائز ا (١٤٣٣) (تحفة الأشراف : ١٠٠٤٣) . و مسند احمد (١/٨٩) . و الدارمی/الاستئذان ٥ (٢٦٧٥)

دابوهريره، ابو ايوب، براء، او ابن مسعود رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

تشريح: حق مسلم علي المسلم ، يعني ديومسلمان په بل مسلمان حقونه دي ابن حجر په نزد په حق لفظ کې واجب کيدوته اشاره ده .

(۱): دسلام جواب ورکول واجب دي په قران کريم کې راغلي دي واذا حييتم بتحية فحيوا باحسن منها او ردوها ، دلته دتحيه نه مراد په اتفاق سره سلام دی دسلام دفضيلت دپاره دومره کافي ده چې په دي باندي تمامو انبياؤ اوفرښتو تعامل کړی دی او دا به په جنت کې هم وي .

(۲) دعوت قبلول دامام نووي قول دی چې دامام شافعي په نزد دعوت قبلول فرض عين دي خو په دي شرط چې څه عذر نه وي ليکن داهل ظواهر په نزد واجب دي او دجمهورو فقهاؤ په نزد واجب نه دي په دعوت قبلولو سره اسلامي اخوت مستحکم کيږي اود زړونو کدورت ورسره ختميږي.

(۳) : پرنجي کونکي ته جواب ورکول څوك چې پرنجی اوکړي نوالحمدلله دي اووائي او اوريدونکی دي يرحمك الله اووائي پرنجيدونکی دي بيا اووائي يهديکم الله ويصلح بالکم جواب ورکونکی به وائي يغفرالله لنا ولکم ، څوك چې په پرنجيدو الحمد لله نه وايي نو يرحمك الله ورته مه وايئ ځکه چې داد مسلمان حق دي اوپدي محبت پيدا کيږي.

(۴) : عيادة المريض، يعني بيمارپرسي کول دفقهاؤ په نزد بيمارپرسي کول سنت مؤکده دي دامام بخاري په نزد واجب دي او ابن حمدان فرض کفايه ګڼړلي دي پخپله نبي کريم صلي الله عليه وسلم به دصحابه کرامو دعيادت دپاره ورتلو .داد صحابه کرامو هم مستقل عادت وو.

(۵) : اتباع الجنائز ، يعني دجنازو سره تلل اوپه دفن کې شريکيدل فقهاؤ فرض کفايه ګڼړلي دي. په ډيرو روايتونو کې ددي تاکيد راغلی دی دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دمريض عيادت به کوئ او دجنازوسره به ځئ يقينا چې دا کارونه تاسوته اخرت رايادونکي دي .

****

٢٧٣٧ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُوسَى الْمَخْزُومِيُّ الْمَدَنِيُّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لِلْمُؤْمِنِ عَلَى الْمُؤْمِنِ سِتُّ خِصَالٍ: يَعُودُهُ إِذَا مَرِضَ، وَيَشْهَدُهُ إِذَا مَاتَ، وَيُجِيبُهُ إِذَا دَعَاهُ، وَيُسَلِّمُ عَلَيْهِ إِذَا لَقِيَهُ، وَيُشَمِّتُهُ إِذَا عَطَسَ، وَيَنْصَحُ لَهُ إِذَا غَابَ أَوْ شَهِدَ "، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَمُحَمَّدُ بْنُ مُوسَى الْمَخْزُومِيُّ

الْمَدَنِيُّ ثِقَةٌ، رَوَى عَنْهُ عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، وَابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ. (1)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ديو مومن په بل مومن شپږ حقوق دي، اول چې بيمار شي نو بيمار پرسي به يي كولي، دويم چې كله وفات شي نو په جنازه كي به يي شركت كوي، دريم، چې كله دعوت وركړي نو دعوت به يي قبولي، څلورم چې كله مخامخ شي نو سلام به ورته كوي، پنځم چې كله پرنجي اوكړي نو دپرنجي جواب به وركوي، شپږم كه دده په وړاندي موجود وي او كنه وي مګر دده خيرخواهي به هر وخت كي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي، محمد بن موسي مخزومي ثقه دي دده نه عبدالعزيز بن محمد او ابن ابي فديك نقل دروايت كړي دي.

تشريح: يعني كه كوم مسلمان درنه خيرخواهي اوغاړي او مشوره درنه طلب كړي نو ته ورسره نيكه معامله اوكړي مطلب دادی چې مسلمانانو ته دداسي خبرو نصيحت كوئ په كومو كې چې هغوئ ددنيا او اخرت فائده وي ليكن كه دبشري تقاضو مطابق په چا كې كومه كمزوري وي نو په هغي دي پرده واچولی شي او په محضر عام كې دي رسوا نكړی شي.

****

٢_ باب مَا يَقُولُ الْعَاطِسُ إِذَا عَطَسَ

پرنجي كونكي دپاره څه وئيل پكار دي

٢٧٣٨_ حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ، حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ الرَّبِيعِ، حَدَّثَنَا حَضْرَمِيٌّ مَوْلَى آلِ الْجَارُودِ، عَنْ نَافِعٍ، أَنَّ رَجُلاً عَطَسَ إِلَى جَنْبِ ابْنِ عُمَرَ، فَقَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ وَالسَّلاَمُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ، قَالَ ابْنُ عُمَرَ: وَأَنَا أَقُولُ الْحَمْدُ لِلَّهِ وَالسَّلاَمُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ، وَلَيْسَ هَكَذَا عَلَّمَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَّمَنَا، أَنْ نَقُولَ: "الْحَمْدُ لِلَّهِ عَلَى كُلِّ حَالٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لاَ نَعْرِفُهُ إِلاَّ مِنْ حَدِيثِ زِيَادِ بْنِ الرَّبِيعِ. (2)

ترجمه: نافع وائي دابن عمر رضي الله عنهما په څنګ كي ناست يو سړي پرنجي اوكړو نو هغه اووئيل الحمد لله والسلام علي رسول الله يعني تمام تعريفونه دالله پاك دپاره دي او سلام

1_ صحيح مسلم/السلام ٣ (٢١٦٢) (تحفة الأشراف: ١٣٠٦٦)، و مسند احمد (٢/٣٢١، ٣٧٢، ٤١٢، ٥٤٠) (و ورد عند صحيح البخاري/(الجنائز ٢/ح ١٢٤٠)، وم (السلام ٣/ح ٢١٦٢)

2_ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٦٣٨)

دي وي دهغه په رسول باندي، ابن عمر اووئيل زه خو هم داسي وايم الحمدلله والسلام علي رسول الله ليکن داسي وئيل مونږ ته رسول الله صلي الله عليه وسلم خودلي نه دي رسول الله مونږ ته الحمدلله علي کل حال خودلي دي يعني په هر حال کي ټول تعريفونه دالله تعالي دپاره دي.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي دا مونږ صرف دزياد بن ربيع په روايت پيژنو

د نافع رضي الله عنه مختصر حالات:

نوم نافع دپلار نوم کاوس يا هرمز وو دده په عجمي کيدو دعلماؤ اتفاق دی چې خراسان، ديلم، طالقان، يا کابل اوسيدونکی وو په کوم جنګ کي يا چرته همداسي ابن عمر رضي الله عنهما اخستلی وو او دابن عمر رضي الله عنهما تربيت الله تعالي دده نصيب کړو چې تقريبا ديرشت کاله مسلسل يي دابن عمر په خدمت کي تير کړل (تذکرة الحفاظ).

امام نووي ليکلي دي چې نافع جليل القدر تابعي دی دده په توثيق او جلالت دعلماؤ اتفاق دی (تهذيب الاسماء).

پخپله ابن عمر رضي الله عنهما به په نافع فخر کولو اوفرمائيل به يي چې الله تعالي دنافع په ذريعه په مونږ احسان کړی دی (تهذيب التهذيب).

لکه څرنګه چې نافع دابن عمر رضي الله عنهما په خدمت کي ژوند تير کړی دی دا رنګي امام مالك به هم ترڅو پوري چې نافع ژوندی وو دده نه استفاده کوله (تذکرة الحفاظ).

دهجرت په ۱۱۷ کال وفات شو (تهذيب الحفاظ).

دمزيد حالاتو دپاره تهذيب الاسماء دنووي اوګورئ، طبقات ابن سعد او تاريخ ابن خلکان او شزراتو الذهب وغيره.

****

٣_بَاب مَا جَاءَ كَيْفَ تَشْمِيتُ الْعَاطِسِ

پرنجي کونکي ته جواب څنګه ورکول پکار دي

٢٧٣٩_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ دَيْلَمَ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِي مُوسَى، قَالَ: "كَانَ الْيَهُودُ يَتَعَاطَسُونَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَرْجُونَ أَنْ يَقُولَ لَهُمْ: "يَرْحَمُكُمُ اللَّهُ، فَيَقُولُ: يَهْدِيكُمُ اللَّهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ". وَفِي الْبَاب عَنْ عَلِيٍّ، وَأَبِي أَيُّوبَ، وَسَالِمِ بْنِ عُبَيْدٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَعْفَرٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا

حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دابوموسي اشعري رضي الله عنه بيان دي كله چې به يهوديان رسول الله صلي الله عليه وسلم په خوا كي موجود وو نو په دي اميد به يي پرنجي كول چې رسول الله مونږ ته يرحمك الله اووائي مګر رسول الله ته صرف په دي موقعه يهديكم الله ويصلح بالكم وئيل يعني الله تعالي دي تاسو ته هدايت اوكړي اوستاسوحال دي درست كړي

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دعلي، ابوايوب، سالم بن عبيد، عبدالله بن جعفر، او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٢٧٤٠ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ هِلَالِ بْنِ يَسَافٍ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عُبَيْدٍ، أَنَّهُ كَانَ مَعَ الْقَوْمِ فِي سَفَرٍ فَعَطَسَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ، فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ، فَقَالَ: عَلَيْكَ وَعَلَى أُمِّكَ، فَكَأَنَّ الرَّجُلَ وَجَدَ فِي نَفْسِهِ، فَقَالَ: أَمَا إِنِّي لَمْ أَقُلْ إِلَّا مَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَطَسَ رَجُلٌ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "عَلَيْكَ وَعَلَى أُمِّكَ، إِذَا عَطَسَ أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، وَلْيَقُلْ لَهُ مَنْ يَرُدُّ عَلَيْهِ يَرْحَمُكَ اللَّهُ، وَلْيَقُلْ يَغْفِرُ اللَّهُ لَنَا وَلَكُمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ اخْتَلَفُوا فِي رِوَايَتِهِ، عَنْ مَنْصُورٍ، وَقَدْ أَدْخَلُوا بَيْنَ هِلَالِ بْنِ يَسَافٍ وَسَالِمٍ رَجُلًا. (1)

ترجمه : دسالم بن عبيد بيان دي فرمائي چې زه دخلقو سره په يو سفر كي موجود وم چې په دوئ كي يو كس پرنجي اوكړو نو هغه اووئيل السلام عليكم سالم ددي په جواب كي اووئيل "عليك وعلي امك" يعني په تا او ستا په مور دي سلام وي نو دا خبره ددغه كس خوښه نه شوه سالم اووئيل وروره ما خو هغه څه وئيلي دي كوم چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي درسول الله په وړاندي يو كس پرنجي اوكړو نو هغه اووئيل السلام عليك نو رسول الله ورته اوفرمائيل عليك وعلي امك، او بيا يي وړاندي اوفرمائيل كله چه په تاسو كي چاته پرنجي راشي هغه دپاره الحمدلله رب العالمين وئيل پكار دي او جواب وركونكي به يرحمك الله وائي او پرنجي كونكي به په اخره كي يغفرالله لي ولكم اووائي (او السلام عليك) به نه وائي

امام ترمذي وايي: دا يو داسي حديث دي دكوم په نقل كولو كي چې منصور دنورو راويانو

---

1 ـ سنن ابي داود/ الأدب ١٠١ (٥٠٢٨). سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ٨٤ (٢٣٢/م) (تحفة الأشراف : ٩٠٨٢). و مسند احمد (٤٠٠/٣)

مخالفت کړي دي او علماؤ دهلال بن يساف او سالم په مينځ کي يو بل راوي داخل کړي دي

****

۲۷٤۱_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، أَخْبَرَنِي ابْنُ أَبِي لَيْلَى، عَنْ أَخِيهِ عِيسَى بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا عَطَسَ أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ عَلَى كُلِّ حَالٍ، وَلْيَقُلِ الَّذِي يَرُدُّ عَلَيْهِ يَرْحَمُكَ اللَّهُ، وَلْيَقُلْ هُوَ يَهْدِيكُمُ اللَّهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ ".([2])

ترجمه : دابي ايوب رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: څوك چې پرنجی اوکړي نو الحمدلله دي اووائي او دهغه مسلمان ورور يادمجلس ملګری دي ورته يرحمك الله اووائي او ددی په جواب کي دی پرنجی کوونکی يهديکم الله ويصلح بالکم اووائي.

لغات : بالکم: بال معني زړه ، ماخطر الامر ببالي يعني په زړه کې مې ندي تير شوي . او فلان کاسف البال يعني بدوخيالاتو والادي، او وما بالك يعني ستا څه حال دي.

تشريح : وليقل له اخوه او صاحبه: يرحمك الله، دحديث مطلب دادي چې کله پرنجي والا الحمد لله اووايي نو اوريدونکي به يرحمك الله وايي.

دهر اوريدونکي په يرحمك الله ويلو کې دفقهاؤ مذاهب

داحنافو په نزد يرحمك الله ويل واجب علي الکفايه دي مطلب دادی که چرې دپرنجي اوريدونکي ډير کسان وي نو که په دوئ کې يو کس يرحمك الله اووائي کافي به وي او وجوب به دنورو دذمي نه ساقط شي داکابرو علماؤ يوجماعت او صاحب دسفر السعادت وائي چې دپرنجي جواب ورکول په اوريدونکي باندي فرض دي او که څوك جواب نه ورکوي ګنهګار به وي ليکن دشوافعو علماؤ په نزد سنت علي الکفايه دي دامام مالك په مذهب کې يو څو اقوال دي ديو قول په اعتبار واجب دي او دبل قول په اعتبارسنت دي.

فليقل يهديکم الله ويصلح بالکم. کله چې پرنجي کونکي ته په يرحمك الله سره جواب ورکړی شي نو پرنجي والا به يهديکم الله ويصلح بالکم وائي علماء وائي که چرې ددي سره يغفرالله لي ولکم يوځاي کړی شي نو ډير به بهتر وي.

---

[1] ـ ابي داود/الأدب ۹۹ (۵۰۳۱) . النسائي/عمل اليوم والليلة ۸٦ (۲۲۵) (تحفة الأشراف : ۲٤۸٦) . واحمد (۸۰٦/٤)

[2] ـ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ۸۲ (۲۱۳) (تحفة الأشراف : ۳٤٤۲)

* * * * * * * * * * * * * * * *

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ، قَالَ: هَكَذَا رَوَى شُعْبَةُ هَذَا الحَدِيثَ، عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَكَانَ ابْنُ أَبِي لَيْلَى يَضْطَرِبُ فِي هَذَا الحَدِيثِ يَقُولُ: أَحْيَانًا: عَنْ أَبِي أَيُّوبَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَيَقُولُ أَحْيَانًا: عَنْ عَلِيٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.[1]

ترجمه : ابن ابي ليلي په دي سند هم دماقبل هم معني روايت نقل کړي دي، امام ترمذي وائي شعبه هم دا حديث دابن ابي ليلي نه دابو ايوب په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه نقل کړي دي او ابن ابي ليلي به په دي حديث کي مضطرب کيدو کله کله به يي ابوايوب عن النبي صلي الله عليه وسلم وئيل او کله کله به يي عن علي عن النبي صلي الله عليه وسلم وئيل.

* * * * * * * * * * * * * * * *

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ وَمُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى الثَّقَفِيُّ المروزي، قَالَا: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ القَطَّانُ، عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ أَخِيهِ عِيسَى، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ عَلِيٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ.[2]

ترجمه : عبدالرحمن بن ابي ليلي هم په مذکوره سند کي دعلي رضي الله عنه په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت نقل کړي دي.

* * * * * * * * * * * * * * * *

٤_باب مَا جَاءَ فِي إِيجَابِ التَّشْمِيتِ بِحَمْدِ العَاطِسِ

دپرنجي کونکي دالحمدلله وئيلو نه پس په يرحمک الله سره دجواب ورکولو دوجوب بيان

٢٧٤٢_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ سُلَيْمَانَ التَّيْمِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَجُلَيْنِ عَطَسَا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "فَشَمَّتَ أَحَدَهُمَا، وَلَمْ يُشَمِّتِ الآخَرَ". فَقَالَ الَّذِي لَمْ يُشَمِّتْهُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، شَمَّتَّ هَذَا وَلَمْ تُشَمِّتْنِي، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّهُ حَمِدَ اللَّهَ

---

[1] _ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ٨٢ (٢١٣) (تحفة الأشراف : ٣٤٧٢)

[2] _ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ٨٢ (٢١٣) (تحفة الأشراف : ٣٤٧٢)

وَإِنَّكَ لَمْ تَحْمَدِ اللَّهَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (1)

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم په وړاندي دوه كسانو پرنجي اوكړو رسول الله يو ته يرحمك الله وئيلو سره دعا اوكړه او دويم ته يي جواب ورنكړو نو چاته چې يي جواب ورنكړو هغه اووئيل اي دالله رسوله هغه ته خو دي په يرحمك الله وئيلو سره دعا اوكړه او زما دپرنجيدو په وجه دي دعا اونكړه رسول الله اوفرمائيل دپرنجي وخت كي هغه دالله حمد بيان كړو او تا دالله حمد بيان نكړو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي داحديث دابوهريره په واسطه هم دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي.

دانس بن مالك رضي الله عنه حالات

نوم انس او كنيه يي ابو حمزه او لقب يي خادم رسول الله قبيله يي بنو نجار وه او دپلار نوم يي مالك او دمور نوم يي ام سليم سهله بنت ملحان انصاريه وه درشتي په لحاظ سره ام سليم درسول الله صلي الله عليه وسلم ترور كيدله .

انس رضي الله عنه داته يا نهه كالو په عمر كي دخپلي مور سره يو ځاي مسلمان شوى وو كله چې لسو كالو ته ورسيدو نو مور يي اووئيل اى دالله رسوله انس پخپله غلامئ كي قبول كړه نو رسول الله قبول كړو تقريبا لس كاله درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كي پاتي شو په سفر او حضر كي به ورسره يو ځاي وو او په صلح حديبيه، بيعت رضوان، خيبر طائف. او حجة الوداع كي يي درسول الله سره ملګرتيا كړي ده .

صديق اكبر رضي الله عنه دبحرين عامل مقرر كړو او عمر فاروق رضي الله عنه دتعليم او تربيت دپاره بصري ته وليږلو دفتني په زمانه كي ګوشانشين شو، دده په زندګئ په خصوصي عاداتو كي حق ګويي، تواضع، اشاعت اسلام حب رسول او اتباع رسول شامل وو.

مرويات: انس رضي الله عنه دمكثرينو صحابه كرامو دجملي نه وو دده دمروياتو تعداد ۱۲۸۶ دى چې ۱۳۸ يكي متفق عليه دي او ۸۲ صرف په بخاري كي دي او ۷۱ صرف په مسلم كي دي (تهذيب الكمال).

وفات: د هجرت په ۹۳ كال كي دسلو كالو نه په زيات عمر كي وفات شو دوفات كيدو نه مخكي يي خپل شاګرد ثابت بناني ته اووئيل چې زما دژبي نه لاندي درسول الله

---

1 ــ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الأدب ۱۲۳ (۶۲۲۱) . صحيح مسلم/الزهد ۹ (۲۹۹۱) . سنن ابي داود/ الأدب ۱۰۲ (۵۰۳۹) . سنن ابن ماجه/الأدب ۲۰ (۳۷۱۳) (تحفة الأشراف : ۸۷۲) . وسنن الدارمى/الاستئذان ۳۱ (۲۷۰۲)

صلي الله عليه وسلم ويخته مبارك كيږده نو هغه دحکم تعميل اوکړو او په همدي حال کي ورنه روح پرواز اوکړو غرض دا چې فسطن بن کلاب ورباندي جنازه اوکړه او خپل کور ته نژدي په لف مقام کي دفن کړی شو.

****

٥_باب مَا جَاءَ كَمْ يُشَمَّتُ الْعَاطِسُ

پرنجي کونکي ته څو ځلي جواب ورکول پکار دي

٢٧٤٣_حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ، أَخْبَرَنَا عِكْرِمَةُ بْنُ عَمَّارٍ، عَنْ إِيَاسِ بْنِ سَلَمَةَ بْنِ الأَكْوَعِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: عَطَسَ رَجُلٌ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَنَا شَاهِدٌ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَرْحَمُكَ اللهُ" ثُمَّ عَطَسَ الثَّانِيَةَ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَذَا رَجُلٌ مَزْكُومٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: سلمه بن اکوع دخپل پلار نه روايت کوي چې فرمائيل يې زما په موجود ګۍ کي رسول الله صلي الله عليه وسلم يو کس پرنجي اوکړو نو رسول الله اوفرمائيل يرحمك الله (الله دي په تا رحم اوکړي) بيا هغه دوباره پرنجي اوکړو نو رسول الله اوفرمائيل په ده باندي زکام لګيدلي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ بْنُ عَمَّارٍ، عَنْ إِيَاسِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ لَهُ فِي الثَّالِثَةِ: "أَنْتَ مَزْكُومٌ". قَالَ: هَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ الْمُبَارَكِ. [2]

ترجمه: اياس بن سلمه هم دخپل پلار په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت نقل کوي مګر په دي کي ددي الفاظو اضافه ده چې په دويم او دريم ځل يې ورته

---

[1] ـ صحيح مسلم/الزهد ٩ (٢٩٩٣) . سنن ابي داود/الأدب ١٠٠ (٥٠٣٧) . سنن ابن ماجه/الأدب ٢٠ (٣٧١٤) (تحفة الأشراف: ٤٥١٣) . وسنن الدارمي/الاستئذان ٣٢ (٢٧٠٣)

[2] ـ صحيح مسلم/الزهد ٩ (٢٩٩٣) . سنن ابي داود/الأدب ١٠٠ (٥٠٣٧) . سنن ابن ماجه/الأدب ٢٠ (٣٧١٤) (تحفة الأشراف: ٤٥١٣) . وسنن الدارمي/الاستئذان ٣٢ (٢٧٠٣)

اووئيل په تا باندي زکام دي.
امام ترمذي وايي: دا حديث دابن مبارك دحديث نه زيات صحيح دي
****

وَقَدْ رَوَى شُعْبَةُ، عَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ عَمَّارٍ هَذَا الحَدِيثَ نَحْوَ رِوَايَةِ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا بِذَلِكَ أَحْمَدُ بْنُ الحَكَمِ البَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ عَمَّارٍ بِهَذَا وَرَوَى عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ عَمَّارٍ، نَحْوَ رِوَايَةِ ابْنِ المُبَارَكِ، وَقَالَ لَهُ فِي الثَّالِثَةِ: "أَنْتَ مَزْكُومٌ"، حَدَّثَنَا بِذَلِكَ إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ. ([1])

ترجمه: شعبه دعکرمه بن دينار نه هم په دي سند دا روايت نقل کړي دي، او عبدالرحمن بن مهدي هم دعکرمه بن عمار نه دابن مبارك هم معني روايت نقل کړي دي او بيا په دويم او دريم ځل اوفرمائيل په تاباندي زکام دي، اسحاق بن منصور هم دعبدالرحمن بن مهدي نه ددي هم معني روايت نقل کړي دي.

****

٢٧٤٤ـ حَدَّثَنَا القَاسِمُ بْنُ دِينَارٍ الكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ السَّلُولِيُّ الكُوفِيُّ، عَنْ عَبْدِ السَّلَامِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَبِي خَالِدٍ الدَّالَانِيِّ، عَنْ عُمَرَ بْنِ إِسْحَاقَ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، عَنْ أُمِّهِ، عَنْ أَبِيهَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يُشَمَّتُ العَاطِسُ ثَلَاثًا، فَإِنْ زَادَ فَإِنْ شِئْتَ فَشَمِّتْهُ وَإِنْ شِئْتَ فَلَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وَإِسْنَادُهُ مَجْهُولٌ. ([2])

ترجمه: عبيد بن رفاعه وائي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي پرنجي کونکي ته به دري پيرو پوري جواب ورکولي شي او که د دري پيرو نه زيات پرنجي اوکړي نو تاسو ته اختيار دي چې جواب ورکوئ او کنه ورکوئ.
امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي او ددي سند مجهول دي.

****

٦ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي خَفْضِ الصَّوْتِ وَتَخْمِيرِ الوَجْهِ عِنْدَ العُطَاسِ

---

[1] ــ صحيح مسلم/الزهد ٩ (٢٩٩٣)، سنن ابي داود/الأدب ١٠٠ (٥٠٣٧)، سنن ابن ماجه/الأدب ٢٠ (٣٧١٤) (تحفة الأشراف: ٤٥١٣)، وسنن الدارمي/الاستئذان ٣٢ (٢٧٠٣)

[2] ــ سنن ابي داود/الأدب ١٠٠ (٥٠٣٦) (تحفة الأشراف: ٩٤٣٦)

دپر نجيدووخت كي داواز ټيټولو او خولي پټولو بيان

٢٧٤٥_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ وَزِيرٍ الْوَاسِطِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَجْلَانَ، عَنْ سُمَيٍّ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ إِذَا عَطَسَ غَطَّى وَجْهَهُ بِيَدِهِ أَوْ بِثَوْبِهِ وَغَضَّ بِهَا صَوْتَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ته به کله پرنجي راغي نو پخپل لاس يا به يي پخپله جامه خوله پټوله او خپل اواز به يي ټيټولو امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٧_بَابُ مَا جَاءَ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْعُطَاسَ وَيَكْرَهُ التَّثَاؤُبَ

الله تعالي پر نجي كول خوښوي او اسويلي كول نه خوښوي

٢٧٤٦_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنِ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " الْعُطَاسُ مِنَ اللَّهِ، وَالتَّثَاؤُبُ مِنَ الشَّيْطَانِ، فَإِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَضَعْ يَدَهُ عَلَى فِيهِ، وَإِذَا قَالَ: آهْ آهْ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَضْحَكُ مِنْ جَوْفِهِ، وَإِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْعُطَاسَ وَيَكْرَهُ التَّثَاؤُبَ فَإِذَا قَالَ الرَّجُلُ: آهْ آهْ إِذَا تَثَاءَبَ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَضْحَكُ فِي جَوْفِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي پرنجی دالله تعالي د طرفه وي او اسويلي ويستل د شيطان دطرفه دي ، تاسو کې چې څوك پرنجی اوکړي او الحمدلله اووائي نو په هر هغه مسلمان چې دا واوري لاَزم دي چې يرحمك الله ورته اووائي څوك چې اروړمی ويستل غواړي پخپله وسه دي يی واپس کوي کنه نو په خوله دي لاس کيږدي، ځکه چې شيطان تاسو په اسويلي ويستو اووينې نو ستاسو په خيټو پورې خندا کوي

---

[1] ـ سنن ابي داود/ الأدب ٩٨ (٥٠٢٩) (تحفة الأشراف : ١٢٥٨١)

[2] ـ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ٨٢ (٢١٤) ، سنن ابن ماجه/الإقامة ٤٢ (٩٦٩) . وانظر مايأتي بعده (تحفة الأشراف : ١٣٠١٩)

امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دی.

لغات العطاس عطس عطسا وعطاسا معني پرنجيدل ،بيماري، التثاؤب معني اسويلي كول ، تثائب الاخبار جستجو كول.

تشريح : ملا علي قاري په دي باره کې ليکلي دي الله تعالي پرنجي لره خوښوي ځکه چې ددي په سبب دماغ سپکيږي او جسم ته راحت رسيږي اوپه دي باندي دالله تعالي حمد ادا کول پکار دي ددي برعکس په اسويلي او ستوماني ويستلو سره په حواسو کدورت راځي همدا وجه ده چې شيطان ورباندي خوشحاليږي.

او په همدي وجه به رسول الله ته ارګمني نه راتلل.

دپرنجي وخت کې به الحمدلله وائي په بعضو روايتونو کې راځي چې دالحمدلله سره که رب العالمين علي كل حال يوځاي كړی شي نو هيڅ کله به ددي کس په غاښونو او غوږونو درد رانشي همدارنګي حافظ ابن حجر دطبراني نه دا هم نقل کړي دي چې په الحمدلله وئيلو سره به دده په ملا اوغاښ درد رانشي.

****

٢٧٤٧ـ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْعُطَاسَ وَيَكْرَهُ التَّثَاؤُبَ، فَإِذَا عَطَسَ أَحَدُكُمْ، فَقَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ، فَحَقٌّ عَلَى كُلِّ مَنْ سَمِعَهُ أَنْ يَقُولَ: يَرْحَمُكَ اللَّهُ، وَأَمَّا التَّثَاؤُبُ فَإِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَرُدَّهُ مَا اسْتَطَاعَ وَلَا يَقُولَنَّ: هَاهْ هَاهْ فَإِنَّمَا ذَلِكَ مِنَ الشَّيْطَانِ يَضْحَكُ مِنْهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ، وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ عَجْلَانَ، وَابْنُ أَبِي ذِئْبٍ أَحْفَظُ لِحَدِيثِ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، وَأَثْبَتُ مِنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَجْلَانَ. قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا بَكْرٍ الْعَطَّارَ الْبَصْرِيَّ يَذْكُرُ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْمَدِينِيِّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ عَجْلَانَ: أَحَادِيثُ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ رَوَى بَعْضَهَا سَعِيدٌ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَرَوَى بَعْضَهَا عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ رَجُلٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، فَاخْتَلَطَتْ عَلَيَّ، فَجَعَلْتُهَا عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي

---

1 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /بدء الخلق ١١ (٣٢٨٩) . والأدب ١٢٥ (٦٢٢٣) . و ١٢٦ (٦٢٢٦) . صحيح مسلم /الزهد ٩ (٢٩٩٥) . سنن ابي داود/ الأدب ٩٧ (٥٠٢٨) (تحفة الأشراف : ١٣٠٢٢) . و مسند احمد (٢/٢٦٥، ٤٢٨، ٥١٧) وانظر ما تقدم برقم ٣٧٠

دي پرنجې دالله تعالي خوښ دی او اسویلي ویستل یې نه دي خوښ نو تاسو کې چې څوك پرنجی اوکړي او الحمدلله اووائي نو په هر هغه مسلمان چې دا واوري لازم دي چې يرحمك الله ورته اووائي او ارږمی دشيطان دطرفه دی نو څوك چې ارږمی ویستل غواړي نو خپله وسه دي یې واپس کوي ځکه چې شيطان تاسو په اسویلي ویستو اووینې نوخوشحاله شي.

امام ترمذي وایي: داحدیث صحیح دي او دا دابن عجلان دپورتني مذکوره روایت نه زیات صحیح دي، ابن ابي ذئب سعید مقبري لره دحدیث زیات یاد ساتونکي او قوي حافظي والا ګڼړلي دي او محمد بن عجلان دده نه کمي درجي والادي، ما دابوبکرعطاء بصري نه اوریدلي دي چې دعلي بن مدیني په واسطه یې دیحي بن سعید نه روایت کولو چې یحي بن سعید وئیل دمحمد بن عجلان قول دي دسعید مقبري داحادیثو معامله داده چې سعید بعضي احادیث بغیر دواسطي نه دابوهریره نه نقل کړي دي او بعضي یې دواسطي سره دابوهریره نه نقل کړي دي او داټول زما په ذهن کې ګډ وډ شوي دي ماته دا یاد نه دي چې واسطي والاکم دي او بغیر واسطي والاکم دي نو ما ټول روایتونه دسعید په واسطه دابوهریره نه نقل کړل.

****

٨_بَاب مَا جَاءَ إِنَّ الْعُطَاسَ فِي الصَّلَاةِ مِنَ الشَّيْطَانِ

په مونځ کې پرنجي کول دشیطان دطرفه وي

٢٧٤٨_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا شَرِيكٌ، عَنْ أَبِي الْيَقْظَانِ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، رَفَعَهُ قَالَ: " الْعُطَاسُ وَالنُّعَاسُ وَالتَّثَاؤُبُ فِي الصَّلَاةِ، وَالْحَيْضُ وَالْقَيْءُ وَالرُّعَافُ مِنَ الشَّيْطَانِ "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ شَرِيكٍ، عَنْ أَبِي الْيَقْظَانِ، قَالَ: وَسَأَلْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيل، عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قُلْتُ لَهُ: مَا اسْمُ جَدِّ عَدِيٍّ؟ قَالَ: لَا أَدْرِي، وَذُكِرَ عَنْ يَحْيَى بْنِ مَعِينٍ قَالَ: اسْمُهُ دِينَارٌ. (١)

ترجمه: ثابت دخپل پلار نه روایت کوي نبي کریم صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي په مونځ کې پرنجي او اوده کیدل او اسویلي کول او حائضه کیدل او قي کول او ذپوزي ماتیدل دشیطان دطرفه دي.

امام ترمذي وایي: داحدیث غریب دي او داموږ صرف دشریك په سند پیژنو چې دابوالیقضان نه یې نقل کوي مادامام بخاري نه ددي روایت باره کې تپوس اوکړو چې دعدي دپلار څه نوم دي هغه اووئیل ماته پته نشته لیکن دیحي بن معین نه تپوس شوي وو نو هغه اووئیل دده

---

١ ـ سنن ابن ماجه/الإقامة ٤٢ (٩٦٩) (تحفة الأشراف: ٣٥٤٣)

دنيكه نوم دينار دي.

****

٩_باب كَرَاهِيَةِ أَنْ يُقَامَ الرَّجُلُ مِنْ مَجْلِسِهِ ثُمَّ يُجْلَسُ فِيهِ

دمجلس نه دچا پاڅول او پخپله دهغه په ځاي كيناستل مكروه دي

٢٧٤٩_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: "لَا يُقِمْ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ مِنْ مَجْلِسِهِ ثُمَّ يَجْلِسُ فِيهِ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دهيچا دپاره خپل ورور لره دخپل ځاي نه پاڅول او بيا دهغه په ځاي كيناستل پكار نه دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٧٥٠_حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلالُ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يُقِمْ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ مِنْ مَجْلِسِهِ ثُمَّ يَجْلِسُ فِيهِ"، قَالَ: وَكَانَ الرَّجُلُ يَقُومُ لِابْنِ عُمَرَ فَلَا يَجْلِسُ فِيهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په تاسو كي چي څوك خپل ورور دخپل ځاي نه پاڅوي چي پخپله دهغه په ځاي كيني نو داسي دي نه كوي سالم راوي وائي دابن عمر رضي الله عنهما په احترام كي به بعضي كسان دهغه دراتلو وخت كي دخپل ځاي نه پاڅيدل ليكن هغه ددي دممانعت په وجه دهغوئ په ځاي نه كيناستل.

امام ترمذي وايي: داحديث صحيح دي، او بيا به هغه كس واپس راغلو او پخپل ځاي به كيناستو نو اودريدلي كس پخپل ځاي دكيناستلو زيات حقدار دي.

---

1 _ صحيح مسلم/السلام ١١(٢١٧٧) (تحفة الأشراف: ٧٥٣١)

2 _ انظر ماقبله (تحفة الأشراف: ٦٩٤٤)

****

١٠_باب مَا جَاءَ إِذَا قَامَ الرَّجُلُ مِنْ مَجْلِسِهِ ثُمَّ رَجَعَ إِلَيْهِ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ

چې دضرورت په وجه دمجلس نه يو كس دخپل ځاي نه پاڅي او دوباره واپس راشي نو دي دخپل ځاي زيات مستحق دي

٢٧٥١_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْوَاسِطِيُّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ، عَنْ عَمِّهِ وَاسِعِ بْنِ حَبَّانَ، عَنْ وَهْبِ بْنِ حُذَيْفَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الرَّجُلُ أَحَقُّ بِمَجْلِسِهِ، وَإِنْ خَرَجَ لِحَاجَتِهِ ثُمَّ عَادَ فَهُوَ أَحَقُّ بِمَجْلِسِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي بَكْرَةَ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. (١)

ترجمه : دوهب بن حذيفه رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هريو كس دخپل دناستي دځاي زيات مستحق دي كه چري دي دكوم ضرورت دپاره لاړ شي او واپس راشي نو هم دي پخپل ځاي دكيناستلو زيات حق لري.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي او په دي باب كي دابوبكره، ابوسعيد خدري، او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

١١_باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الْجُلُوسِ بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ بِغَيْرِ إِذْنِهِمَا

د دوه كسا نو مينځ كي بغير دهغوئ داجازت نه دكيناستلو دمما نعت بيان

٢٧٥٢_حَدَّثَنَا سُوَيْدٌ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ، أَخْبَرَنَا أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ، حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا يَحِلُّ لِلرَّجُلِ أَنْ يُفَرِّقَ بَيْنَ اثْنَيْنِ إِلَّا بِإِذْنِهِمَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ عَامِرٌ الْأَحْوَلُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ أَيْضًا. (٢)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دهيچادپاره جائز نه دي چې هغه د دوه كسانو په مينځ كي جدائي راولي (اودي

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١١٤٩٦)

2 ـ سنن ابي داود/ الأدب ٢٤ (٤٨٤٤، ٤٨٤٥) (تحفة الأشراف : ٨٦٥٦)، و مسند احمد (٢/٢١٣)

دهغوی په مینځ کي کیني، مګر که هغوی اجازت اوکړي (نو څه حرج نشته).
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او دا حديث عامر احول هم دعمرو بن شعيب نه نقل کړي دي.

****

١٢_باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الْقُعُودِ وَسْطَ الْحَلْقَةِ

دمجلس په مینځ کي د ناستي دکراهت بيان

٢٧٥٣_حَدَّثَنَا سُوَيْدٌ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي مِجْلَزٍ، أَنَّ رَجُلًا قَعَدَ وَسْطَ حَلْقَةٍ، فَقَالَ حُذَيْفَةُ: "مَلْعُونٌ عَلَى لِسَانِ مُحَمَّدٍ، أَوْ لَعَنَ اللَّهُ عَلَى لِسَانِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَعَدَ وَسْطَ الْحَلْقَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو مِجْلَزٍ اسْمُهُ لَاحِقُ بْنُ حُمَيْدٍ. [1]

ترجمه: د ابو مجلز نه روايت دی چې حذيفه ابن اليمان رضي الله عنه ووئيل چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرئيلي دي ملعون دي هغه کس، او که لعنت يي وئيلی دی په هغه کس څوک چې دمجلس دحلقی په مينځ کې کيني.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او دابومجلز نوم لاحق بن حميد دي.
لغات: وسط: وسط يسط وسطا وسطة معني په مينځ کې کيناستل او صفت يي واسط راځي
تشريح: لعن من جلس وسط الحلقة، يعني په هغه کس لعنت دی څوک چې دحلقي په مينځ کې کيني ددي حديث باره کې دعلماؤ يو څو اقوال دي، اول لکه چې په يو ځاي کې خلق ناست وي دحلقي په شکل کې اويوکس راشي ددوئ په مينځ کې کيني، دويم دمسخري کولودپاره په مينځ کې کيني تردي پوري چې خلق اوخاندي، دريم ددي دپاره کيني چې په حلقه کې ديوکس نه دخلقو مخونه پناه کړي تردي چې په حلقه کې ناستوخلقو ته تکليف ورسيږي چونکه درسول الله ارشادات جامع دي نو په دي بنا دلته داټول مراد کيدی شي.

****

١٣_باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ قِيَامِ الرَّجُلِ لِلرَّجُلِ

ديو کس دپاره دبل کس اعزازي او تعظيمي قيام کول مکروه دي

---

[1] _ سنن ابي داود/الأدب ١٤(٤٨٢٦) (تحفة الأشراف: ٣٣٨٩)

٢٧٥٤ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا عَفَّانُ، أَخْبَرَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: "لَمْ يَكُنْ شَخْصٌ أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: وَكَانُوا إِذَا رَأَوْهُ لَمْ يَقُومُوا لِمَا يَعْلَمُونَ مِنْ كَرَاهِيَتِهِ لِذَلِكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [1]

ترجمه : انس رضي الله عنه راوي دي فرمائي چې هيڅ يو کس صحابه کرامو ته د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه زيات محبوب نه وو راوي واني چې هغوئ به رسول الله اوليدلو نو دادب په وجه به ورته نه پاڅيدو ځکه چې هغوئ ته دا معلومه وه چې رسول الله صلي الله عليه وسلم داسي کار نه خوښوي.

امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي

****

٢٧٥٥ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ الشَّهِيدِ، عَنْ أَبِي مِجْلَزٍ، قَالَ: خَرَجَ مُعَاوِيَةُ، فَقَامَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الزُّبَيْرِ، وَابْنُ صَفْوَانَ حِينَ رَأَوْهُ، فَقَالَ: اجْلِسَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَتَمَثَّلَ لَهُ الرِّجَالُ قِيَامًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ" وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ الشَّهِيدِ، عَنْ أَبِي مِجْلَزٍ، عَنْ مُعَاوِيَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مِثْلَهُ. [2]

ترجمه : دابومجلز بيان دي معاويه رضي الله عنه بهر اووتلو نوعبدالله بن زبير او صفوان اوليدلو نو هغوئ داحترام په وجه اودريدو معاويه رضي الله عنه اوونيل تاسو دواړه کينئ مادرسول الله صلي الله عليه وسلم دا فرمان اوريدلي دي څوک چې دا خوښوي چې خلق دده ته دادب دپاره اودريږي نو دي دي په جهنم کي دخان دپاره داوسيدو خاي برابر کړي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي او په دي باب کي دابو امامه رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي مونږ ته حناد حديث بيان کړي دي او هناد ته ابواسامه حديث بيان کړي دي او هغه ته حبيب شهيد او حبيب شهيد ته ابو مجلز بيان کړي دي او ابو مجلز دمعاويه په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه ددي هم معني روايت نقل کړي دي.

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٢٥)

2 ـ سنن ابي داود/ الأدب ١٦٥ (٥٢٢٩) (تحفة الأشراف: ١١٤٢٨)، و مسند احمد (٤/١٠٠)

****

١٤_بَاب مَا جَاءَ فِي تَقْلِيمِ الأَظْفَارِ

د نوكا نودكټ كولو بيان

٢٧٥٦_حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْحَلْوَانِيُّ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "خَمْسٌ مِنَ الْفِطْرَةِ: الِاسْتِحْدَادُ، وَالْخِتَانُ، وَقَصُّ الشَّارِبِ، وَنَتْفُ الْإِبْطِ، وَتَقْلِيمُ الْأَظْفَارِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه راوي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي پنځه څيزونه دفطرت نه دي ، اول شرمګاه صفاکول، دويم سنت كول. دريم بريت كټ كول، څلورم دترخونو ويخته ختمول، پنځم نوكان كټ كول.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٧٥٧_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، وَهَنَّادٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ، عَنْ مُصْعَبِ بْنِ شَيْبَةَ، عَنْ طَلْقِ بْنِ حَبِيبٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "عَشْرٌ مِنَ الْفِطْرَةِ: قَصُّ الشَّارِبِ، وَإِعْفَاءُ اللِّحْيَةِ، وَالسِّوَاكُ، وَالِاسْتِنْشَاقُ، وَقَصُّ الْأَظْفَارِ، وَغَسْلُ الْبَرَاجِمِ، وَنَتْفُ الْإِبْطِ، وَحَلْقُ الْعَانَةِ، وَانْتِقَاصُ الْمَاءِ. قَالَ زَكَرِيَّا، قَالَ مُصْعَبٌ: وَنَسِيتُ الْعَاشِرَةَ إِلَّا أَنْ تَكُونَ الْمَضْمَضَةَ". قَالَ أَبُو عُبَيْدٍ: انْتِقَاصُ الْمَاءِ: الِاسْتِنْجَاءُ بِالْمَاءِ، وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ.[2]

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي لس كارونه دفطرت نهدي (١) بريت كټ كول (٢) ګيره غټول (٣) مسواك وهل

---

[1] _ اورده البخاري في الصحيح/اللباس ٦٣ (٥٨٨٩)، و ٦٣ (٥٨٩١)، والاستئذان ٥١ (٦٢٩٧). ومسلم/الطهارة ١٦ (٢٥٧)، ابى داود/ الترجل ١٦ (٤١٩٨). سنن النسائي/الطهارة ٩ (٩)، و ١٠ (١٠)، والزينة ٥٣ (٥٠٣٦). سنن ابن ماجه/الطهارة ٨ (٢٩٢) (تحفة الأشراف: ١٣٢٨٦)، والمؤطاء: صفة النبي ﷺ ٣ (٣) ومسند احمد (٢/٢٢٩، ٢٤٠، ٢٨٤، ٤١١، ٤٨٩)

[2] _ صحيح مسلم/الطهارة ١٦ (٢٦١). سنن ابى داود/ الطهارة ٢٩ (٥٣). سنن النسائي/الزينة ١ (٥٠٤٣). سنن ابن ماجه/الطهارة ٨ (٢٩٣) (تحفة الأشراف: ١٦١٨٨)، ومسند احمد (٦/١٣٧)

(۴) پوزه کي اوبه اچول (۵) نوکان کټ کول (۶) دګوتو دبندونو شاکاني وينځل (۷) دترخونو ويخته ويستل (۸) دنوم نه لاندي صفائي کول (۹) په اوبو استنجاء کول ، زکريا راوي وائي چې مصعب اووئيل لسم څيز زما نه هير شوي دي کيدي شي چې هغه غرغره کول وي او د انتقاص الماء نه مراد په اوبو استنجاء کول دي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي، او په دي باب کي دعمار بن ياسر، ابن عمر، او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

١٥_بَاب فِي التَّوْقِيتِ فِي تَقْلِيمِ الأَظْفَارِ وَأَخْذِ الشَّارِبِ
دنوکانو دکټ کولو او بريت کټ کولو دمودي بيان

٢٧٥٨_حَدَّثَنَا إِسْحَاق بْنُ مَنْصُورٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ عَبْدِ الْوَارِثِ، حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ مُوسَى أَبُو مُحَمَّدٍ صَاحِبُ الدَّقِيقِ، حَدَّثَنَا أَبُو عِمْرَانَ الْجَوْنِيُّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَنَّهُ وَقَّتَ لَهُمْ فِي كُلِّ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً تَقْلِيمَ الأَظْفَارِ وَأَخْذَ الشَّارِبِ وَحَلْقَ الْعَانَةِ".[1]
ترجمه : دانس رضي الله عنه نه مروي دي نبي کريم صلي الله عليه وسلم دخلقو دپاره دمودي تعين کړي دي چې څلويښت ورځو کي دننه نوکان کټ کول ضروري دي او بريت کټ کول ضروري دي او دنوم نه لاندي صفائي کول ضروري دي.

****

٢٧٥٩_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ أَبِي عِمْرَانَ الْجَوْنِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: " وُقِّتَ لَنَا فِي قَصِّ الشَّارِبِ، وَتَقْلِيمِ الأَظْفَارِ، وَحَلْقِ الْعَانَةِ، وَنَتْفِ الإِبْطِ، أَنْ نَتْرُكَ أَكْثَرَ مِنْ أَرْبَعِينَ يَوْمًا "، قَالَ: هَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ الأَوَّلِ، وَصَدَقَةُ بْنُ مُوسَى لَيْسَ عِنْدَهُمْ بِالْحَافِظِ.[2]
ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې زمونږ دپاره دنوکانو کټ کولو او شرمګاه پاکولو او ترخونو پاکولو متعلق څلويښت ورځو پوري وخت مقرر کړي شوي دي او

---

[1] ـ صحيح مسلم/الطهارة ١٦ (٢٥٨)، سنن ابي داود/ الترجل ١٦ (٤٢٠٠)، سنن النسائي/ الطهارة ١٤ (١٤)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٨ (٢٩٢) (تحفة الأشراف: ١٠٧٠)، و مسند احمد (١٢٢/٣، ٢٠٣)

[2] ـ صحيح مسلم/الطهارة ١٦ (٢٥٨)، سنن ابي داود/ الترجل ١٦ (٤٢٠٠)، سنن النسائي/ الطهارة ١٤ (١٤)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٨ (٢٩٢) (تحفة الأشراف: ١٠٧٠)، و مسند احمد (١٢٢/٣، ٢٠٣)

هغه دادي چې مونږ به دا دخلويښتو ورځو نه زيات نه پريږدو
امام ترمذي وايي: داحديث د مخکني حديث نه زيات صحيح دي او صدقه بن موسي (څوک چې دسابقه حديث راوي دي دمحدثينو په نزد قوي حافظي والانه دي).

****

١٦_ بَاب مَا جَاءَ فِي قَصِّ الشَّارِبِ

دبريتو کټ کولو بيان

٢٧٦٠_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُمَرَ بْنِ الْوَلِيدِ الْكِنْدِيُّ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُصُّ أَوْ يَأْخُذُ مِنْ شَارِبِهِ، وَكَانَ إِبْرَاهِيمُ خَلِيلُ الرَّحْمَنِ يَفْعَلُهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائي چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم به خپل بريت کټ کول او فرمائيل به يي چې خليل الله ابراهيم عليه السلام به هم داسي کول.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي.

****

٢٧٦١_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا عَبِيدَةُ بْنُ حُمَيْدٍ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ صُهَيْبٍ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " مَنْ لَمْ يَأْخُذْ مِنْ شَارِبِهِ فَلَيْسَ مِنَّا ". وَفِي الْبَابِ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ صُهَيْبٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ، نَحْوَهُ. (2)

ترجمه : دزيد بن ارقم رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوک چې خپل بريت نه کموي هغه زمونږ نه نه دي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دی، محمد بن بشار هم پخپل سند د يحي بن سعيد نه د ماقبل هم معني روايت نقل کړی دی.

****

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦١١٤)

2 _ النسائي/الطهارة ١٣ (١٣) ، والزينة ٢ (٥٠٥٠) ، و مسند احمد (٣٦٦/٤، ٣٦٨)

۱۷_ باب مَا جَاءَ فِي الأَخْذِ مِنَ اللِّحْيَةِ

دګيرې کمولو بيان

۲۷٦۲_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ هَارُونَ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْخُذُ مِنْ لِحْيَتِهِ مِنْ عَرْضِهَا وَطُولِهَا". هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَسَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيل، يَقُولُ عُمَرُ بْنُ هَارُونَ: مُقَارِبُ الْحَدِيثِ، لَا أَعْرِفُ لَهُ حَدِيثًا لَيْسَ لَهُ أَصْلٌ، أَوْ قَالَ: يَنْفَرِدُ بِهِ إِلَّا هَذَا الْحَدِيثَ، كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَأْخُذُ مِنْ لِحْيَتِهِ مِنْ عَرْضِهَا وَطُولِهَا" لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عُمَرَ بْنِ هَارُونَ، وَرَأَيْتُهُ حَسَنَ الرَّأْيِ فِي عُمَرَ بْنِ هَارُونَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَسَمِعْتُ قُتَيْبَةَ، يَقُولُ: عُمَرُ بْنُ هَارُونَ كَانَ صَاحِبَ حَدِيثٍ، وَكَانَ يَقُولُ: الْإِيمَانُ قَوْلٌ وَعَمَلٌ، قَالَ: سَمِعْتُ قُتَيْبَةَ حَدَّثَنَا، وَكِيعُ بْنُ الْجَرَّاحِ، عَنْ رَجُلٍ، عَنْ ثَوْرِ بْنِ يَزِيدَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَصَبَ الْمَنْجَنِيقَ عَلَى أَهْلِ الطَّائِفِ، قَالَ قُتَيْبَةُ: قُلْتُ لِوَكِيعٍ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: صَاحِبُكُمْ عُمَرُ بْنُ هَارُونَ. (۱)

ترجمه : دعبدالله بن عمر بن العاص رضي الله عنهما نه مروي دي چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم به خپله ګيره طولاً او عرضا يعني په اوږدو او په پلنو اخستله.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي، ما دامام بخاري نه اوريدلي دي عمر بن هارون مقارب الحديث دي اوماته دهغه کوم داسي حديث نه دي معلوم دکوم چې اصل نه وي او يا داچې ماته کوم داسي حديث معلوم نه دي په کوم کي چې هغه منفرد وي علاوه ددي حديث نه چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به خپله ګيره طولاً او عرضا کموله داحديث ماته صرف دعمر بن هارون په سند معلوم دي ما دامام بخاري نه دعمر بن هارون باره کي تپوس اوکړو او دده باره کي يي ښه رائي قائمه کړه، ما دقتيبه نه دعمربن هارون باره کي اوريدلي دي چې عمر بن هارون صاحب حديث دي هغه به وئيل چې ايمان دقول او عمل نوم دي، قتيبه وائي وکيع بن جراح ماته ديو داسي کس په واسطه دثور بن يزيد نه حديث بيان کړو او ثور درسول الله صلي الله عليه وسلم نه چې رسول الله په اهل طائف منجنيق نصب کړو قتيبه وائي ما دخپل استاذ وکيع نه تپوس اوکړو چې داکس څوک دي (کوم چې تا اوس په عن رجل وئيلو سره ذکر کړو) هغه اووئيل دا عمر بن هارون دي.

****

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ۸٦٦۲)

١٨_باب مَا جَاءَ فِي إِعْفَاءِ اللِّحْيَةِ

دګيري د غټي ساتلو بيان

٢٧٦٣_حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَحْفُوا الشَّوَارِبَ وَأَعْفُوا اللِّحَى". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي بريتونه کټ کړئ او ګيري لوي کړئ.

امام ترمذي وايي: داحديث صحيح دي.

****

٢٧٦٤_حَدَّثَنَا الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ نَافِعٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَمَرَنَا بِإِحْفَاءِ الشَّوَارِبِ، وَإِعْفَاءِ اللِّحَى". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو بَكْرِ بْنُ نَافِعٍ هُوَ مَوْلَى ابْنِ عُمَرَ ثِقَةٌ، وَعُمَرُ بْنُ نَافِعٍ ثِقَةٌ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ نَافِعٍ مَوْلَى ابْنِ عُمَرَ يُضَعَّفُ. (٢)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته دبريتو کټ کولو او ګيري غټولو حکم کړي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي، او دابن عمر ازاد کړي غلام ابوبکر بن نافع ثقه دي او عمر بن نافع هم ثقه دي، عبدالله بن نافع دابن عمر رضي الله عنهما ازاد کړي غلام دي او په حديث بيانولو کي ضعيف دي.

****

١٩_باب مَا جَاءَ فِي وَضْعِ إِحْدَى الرِّجْلَيْنِ عَلَى الأُخْرَى مُسْتَلْقِيًا

يوه پښه په بله پښه اچول او ستوني ستغ څملاستلو بيان

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /اللباس ٦٣ (٥٨٩٢) ، و ٦٥ (٥٨٩٣) . صحيح مسلم/ الطهارة ١٦ (٢٥٩) . سنن النسائي/الطهارة ١٥ (١٥) . والزينة ٢ (٥٠٢٨) . و ٥٦ (٥٢٢٨) و مسند احمد (٢/٥٢)

[2] _ ابي داود/ الخاتم ١٦ (٤١٩٩)

٢٧٦٥_حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمَخْزُومِيُّ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ، عَنْ عَمِّهِ، أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " مُسْتَلْقِيًا فِي الْمَسْجِدِ وَاضِعًا إِحْدَى رِجْلَيْهِ عَلَى الْأُخْرَى ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَعَمُّ عَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ هُوَ عَبْدُ اللهِ بْنُ زَيْدِ بْنِ عَاصِمٍ الْمَازِنِيُّ. (1)

ترجمه : دعباد بن تميم تره عبدالله بن زيد بن عاصم مازني راوي دي فرمائي چې ما رسول الله صلي الله عليه وسلم په مسجد کي په داسي حال کي اوليدلو چې يوه پنډئ يي په بله اچولي وه او ستوني ستق پروت وو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٠_بَابُ مَا جَاءَ فِي الْكَرَاهِيَةِ فِي ذَلِكَ

ديوي پنډئ په بلي اچولو او ستوني ستق څملاستلو د کراهت بيان

٢٧٦٦_حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ أَسْبَاطِ بْنِ مُحَمَّدٍ الْقُرَشِيُّ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ التَّيْمِيُّ، عَنْ خِدَاشٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا اسْتَلْقَى أَحَدُكُمْ عَلَى ظَهْرِهِ فَلَا يَضَعْ إِحْدَى رِجْلَيْهِ عَلَى الْأُخْرَى " هَذَا حَدِيثٌ، رَوَاهُ غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ التَّيْمِيِّ، وَلَا يُعْرَفُ خِدَاشٌ هَذَا مَنْ هُوَ، وَقَدْ رَوَى لَهُ سُلَيْمَانُ التَّيْمِيُّ غَيْرَ حَدِيثٍ. (2)

ترجمه : دجابر رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي کله چې په تاسو کي يو کس ستوني ستق څملي نو يوه پنډئ دي په بلي نه اچوي

امام ترمذي وايي: داحديث يو څو راويانو دسليمان تيمي نه نقل کړي دي او دخداش پته نه لګي چې څوک دي او سليمان تيمي ورنه ددينه علاوه نور احاديث هم نقل کړي دي.

****

---

1 _ اورده البخاري في الصحيح /الصلاة ٨٥ (٤٧٥) ، واللباس ١٠٣ (٥٩٦٩) ، والاستئذان ٤٣ (٦٢٨٧) . صحيح مسلم /اللباس ٢٢ (٢١٠٠) . سنن ابي داود/ الادب ٣٦ (٤٨٦٦) . سنن النسائي/المساجد ٢٨ (٧٢٢) (تحفة الأشراف : ٥٢٩٨) . والمؤطاء :السفر ٢٤ (٨٧) . واحمد (٣٩/٤، ٤٠)

2 _ صحيح مسلم /اللباس ٢٠ (٢٠٨٩) . سنن ابي داود/ الأدب ٣٦ (٤٨٦٥) (تحفة الأشراف : ٢٧٠٢) . و مسند احمد (٢٩٧/٣، ٣٢٢، ٣٤٩) وانظر مابعده

٢٧٦٧_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنِ اشْتِمَالِ الصَّمَّاءِ، وَالِاحْتِبَاءِ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ، وَأَنْ يَرْفَعَ الرَّجُلُ إِحْدَى رِجْلَيْهِ عَلَى الْأُخْرَى وَهُوَ مُسْتَلْقٍ عَلَى ظَهْرِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دجابر رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ديوي پنډئ په بلي داچولو نه او دصماء او احتباء كولو نه او د ستوني ستق څملاستلو نه منع فرمائيلي ده.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

تشريح: دا ممانعت په ابتداء داسلام كي وو مگر علامه خطابي وائي چې بيا منسوخ شو، بعضي علماؤ دواړه قسمه احاديثو كي داسي تطبيق كړي دي چې يوه پنډئ په بلي اچول په دوه قسمه دي يو قسم دادي چې دواړه پنډئ جدا جدا دي چې فاصله پكي وي او دويم قسم دادي چې بغير فاصلي وي نو دي كي څه حرج نشته ځكه چې په دي صورت كي دستر ماتيدو خطره نشته.

****

٢١_بَاب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الِاضْطِجَاعِ عَلَى الْبَطْنِ

دنسكور څملاستو دكراهت بيان

٢٧٦٨_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ، وَعَبْدُ الرَّحِيمِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: رَأَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا مُضْطَجِعًا عَلَى بَطْنِهِ، فَقَالَ: "إِنَّ هَذِهِ ضَجْعَةٌ لَا يُحِبُّهَا اللهُ". وَفِي الْبَابِ عَنْ طِهْفَةَ، وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَرَوَى يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ يَعِيشَ بْنِ طِهْفَةَ، عَنْ أَبِيهِ، وَيُقَالُ طِخْفَةُ وَالصَّحِيحُ طِهْفَةُ، وَقَالَ بَعْضُ الْحُفَّاظِ، الصَّحِيحُ طِخْفَةُ، وَيُقَالُ طِغْفَةُ. يَعِيشُ هُوَ مِنَ الصَّحَابَةِ. (2)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم يو كس لره نسكور پروت اوليدو نو ويي فرمائيل دي داسي پروت دي كوم چې الله تعالي نه خوښوي.

---

1 _ سنن النسائي/الزينة ١٠٧ (٥٣٤٣) (تحفة الأشراف : ٢٩٠٥) . و مسند احمد (٣/٢٩٣، ٣٢٢، ٣٣١، ٣٣٢، ٣٤٩) وانظر ماقبله

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٥٠٢١ و ١٥٠٥٤) وانظر مسند احمد (٢/٣٠٤)

امام ترمذي وايي: داحديث يحي بن ابي كثير دابوسلمه نه نقل كړي دي او ابو سلمه ديعيش بن طهفه په واسطه دهغه دپلار نه نقل كړي دي او هغه ته تخفه هم وئيلي شي او هغه تهفه هم وئيلي شي او بعضي حافظان وائي طهفه صحيح دي او طعفه ورته هم وئيلي شي او يعيش ورته هم وئيلي شي او دا دصحابه كرامو دجملي نه دي، او په دي باب كي دطهفه او ابن عمر رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

****

٢٢_بَاب مَا جَاءَ فِي حِفْظِ الْعَوْرَةِ

دشرم گاه دستر او حفاظت بيان

٢٧٦٩_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا بَهْزُ بْنُ حَكِيمٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ جَدِّي، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، عَوْرَاتُنَا مَا نَأْتِي مِنْهَا وَمَا نَذَرُ؟ قَالَ: "احْفَظْ عَوْرَتَكَ إِلَّا مِنْ زَوْجَتِكَ أَوْ مَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ. فَقَالَ الرَّجُلُ: يَكُونُ مَعَ الرَّجُلِ. قَالَ: إِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ لَا يَرَاهَا أَحَدٌ فَافْعَلْ. قُلْتُ: وَالرَّجُلُ يَكُونُ خَالِيًا؟ قَالَ: فَاللَّهُ أَحَقُّ أَنْ يُسْتَحْيَا مِنْهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَجَدُّ بَهْزٍ اسْمُهُ مُعَاوِيَةُ بْنُ حَيْدَةَ الْقُشَيْرِيُّ، وَقَدْ رَوَى الْجُرَيْرِيُّ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ مُعَاوِيَةَ وَهُوَ وَالِدُ بَهْزٍ. (١)

ترجمه: دمعاويه بن حيده رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې ما عرض اوكړو اي دالله رسوله مونږ خپل شرمگاهونه څومره حده پوري ښكاره كولي شو او څومره حده پوري ددي پټول ضروري دي؟ رسول الله اوفرمائيل دخپلو ښځو دخپلو وينځو نه علاوه دهر چانه خپل شرمگاهونه پټ ساتئ هغه اووئيل يو سړي كله كله ديو كس سره يوځاي پاتي كيږي رسول الله اوفرمائيل بيا هم تاسو لره ممكن كوشش كول پكار دي چې ستاسو شرمگاه اونه ويني مااووئيل كه څوك يواځي وي نو څه حكم دي رسول الله اوفرمائيل الله تعالي ددي زيات مستحق دي چې حياء او شرم ورنه اوكړي شي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي او دبهز دنيكه نوم معاويه بن حيده القشيري دي، او جريري دحكيم بن معاويه نه روايت كړي دي او هغه دخپل پلار بهز نه نقل كړي دي.

دمعاويه بن حيده رضي الله عنه حالات:

نوم معاويه دبصري اوسيدونكى وو بيا خراسان ته منتقل شو دده نه عموما دده څوي حكم بن

معاويه نقل دروايت كوي دده دوفات تاريخ او دمروياتو دشمير باره كي څه معلومات نشته.

****

٢٣_باب مَا جَاءَ فِي الاِتِّكَاءِ

دډډي وهلو بيان

٢٠٧٠_حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ مُحَمَّدٍ الدُّورِيُّ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ الْكُوفِيُّ، أَخْبَرَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " مُتَّكِئًا عَلَى وِسَادَةٍ عَلَى يَسَارِهِ "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَرَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: " رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَّكِئًا عَلَى وِسَادَةٍ "، وَلَمْ يَذْكُرْ عَلَى يَسَارِهِ.[1]

ترجمه : دجابر رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې مارسول الله صلي الله عليه وسلم په ګس طرف يو بالخت ته د ډډي وهلو او تكيه كولو په حال كي ليدي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي داحديث يو څو راويانو په سند د اسرائيل عن سماك عن جابر بن سمره سره نقل كړي دي فرمائي چې مانبي كريم صلي الله عليه وسلم د ډډي وهلو په حال كي ليدلي وولیكن هغه پخپل حديث كي علي يساره الفاظ نه دي ذكر كړي.

تخريج: سنن ابي داود/ اللباس ٤٥ (٤١٤٣) (تحفة الأشراف : ٢١٣٨)

****

٢٧٧١ حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " مُتَّكِئًا عَلَى وِسَادَةٍ ". هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ.[2]

ترجمه : دجابر بن سمره رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي مارسول الله صلي الله عليه وسلم د ډډي وهلو په حالت كي ليدلي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث صحيح دي.

****

[1] _ اورده البخاري في الجامع /الطهارة ٩٩ . سنن ابي داود/ الحمام ٣ (٤٠١٧) . سنن ابن ماجه/النكاح ٢٨ (١٩٢٠) . ويأتي برقم ٢٧٩٤) (تحفة الأشراف : ١١٣٨٠)

[2] _ سنن ابي داود/ اللباس ٤٥ (٤١٤٣) (تحفة الأشراف : ٢١٣٨)

٢٤_باب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق يو بل باب

٢٧٧٢_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ إِسْمَاعِيل بْنِ رَجَاءٍ، عَنْ أَوْسِ بْنِ ضَمْعَجٍ، عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا يُؤَمُّ الرَّجُلُ فِي سُلْطَانِهِ وَلَا يُجْلَسُ عَلَى تَكْرِمَتِهِ فِي بَيْتِهِ إِلَّا بِإِذْنِهِ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : د ابو مسعود عقبه بن عمرو بدري انصاري رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: هيڅوك دی دبل په حلقه کې بی اجازته امامتئ ته نه مخکې کيږي او نه دی بی اجازي دبل دناستی په خاص ځايی (که ګدئ يا قالين وغيره) کيني.
امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دی.

لغات: يؤم امّ دنصر نه امّا ، وامّم او تامّم وائتمّ قصد کول، وامّاه يعني دماغي صدمه يي ورکړه امامتا وامام القوم ، دقوم امام جوړيدل

تشريح: دسلطان نه مراد ديوځايی حاکم دی يا چې يی په يو ځايی کې خاص اثر وي.
او تکرمه د "ت" په زور او د"ر" په زير ده يعني دناستی خاص ځايی لکه تخت يا قالين يا ګدئ يا بل داسی شی.

ولا يوم الرجل الرجل في سلطانه . يعني څوك به دبل چا په حکومت کې امامت نه ورکوي فقهاء وائي که معين امام موجود وي نو هم هغه به امامت ورکوي اګر که راتلونکی کس دده نه ښه وي او که دده نه بد وي بيا خو به دخلقو په زړه کې دهغه نه نفرت پيدا شي او خراب لره امام ګرځول مناسب نه دي.

امام نووي وائي مخکني لره اختيار دی چې پخپله امامت ورکوي او که بل څوك مخکې کوي که راتلونکی کس زيات علم لري نو بيا خو مستحب داده چې هغه مخکې کړی شي.

ولا يقعد في بيته علي تکرمته الا باذنه. يعني څوك به دچا په کور کې دچا په مخصوص ځاي داجازت طلب کولو نه بغير نه کيني مطلب دادی که څوك چاته ورشي برابره خبره وي چې کور وي او که دفتر وي نو هلته دچا په مخصوص ځاي کيناستل پکارنه دي مګر چې اجازت اوغواړي.

---

[1] ـ انظر حديث رقم ٢٢٥

****

۲۵_باب مَا جَاءَ أَنَّ الرَّجُلَ أَحَقُّ بِصَدْرِ دَابَّتِهِ

هر كس پخپله سورلۍ دمخكې كيناستو زيات حقدار دي

۲۷۷۳_حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ بُرَيْدَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبِي بُرَيْدَةَ، يَقُولُ: "بَيْنَمَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْشِي إِذْ جَاءَهُ رَجُلٌ وَمَعَهُ حِمَارٌ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ ارْكَبْ، وَتَأَخَّرَ الرَّجُلُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَأَنْتَ أَحَقُّ بِصَدْرِ دَابَّتِكَ إِلَّا أَنْ تَجْعَلَهُ لِي، قَالَ: قَدْ جَعَلْتُهُ لَكَ قَالَ: فَرَكِبَ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَفِي الْبَابِ، عَنْ قَيْسِ بْنِ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ.[1]

ترجمه : بريده رضي الله عنه راوي دي فرمائي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم چرته روان وو او يو كس ورته په داسې حال راغلو چې خر ورسره وو او رسول الله ته يې عرض اوكړو اې دالله رسوله سور شه او پخپله شاته راوړاندې شه رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل ته دخپلې سورلۍ په سينه يعني دمخكې كيناستو زيات حقدار يې مګر هله كه ته اجازت اوكړې ددې خبرې په اوريدو هغه فورا اووئيل ما ددې حق تاته دركړې دي او بياورباندې رسول الله صلي الله عليه وسلم سور شو.

امام ترمذي وايي: په دې سند دا حديث حسن غريب دي او په دې باب كې دقيس بن عباده نه هم روايت ولرد دي.

****

۲۶_باب مَا جَاءَ فِي الرُّخْصَةِ فِي اتِّخَاذِ الأَنْمَاطِ

په پالنكونو دابرې اچولو دجواز بيان

۲۷۷٤_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَلْ لَكُمْ أَنْمَاطٌ؟ قُلْتُ: وَأَنَّى تَكُونُ لَنَا أَنْمَاطٌ؟ قَالَ: أَمَا إِنَّهَا سَتَكُونُ لَكُمْ أَنْمَاطٌ"، قَالَ: فَأَنَا أَقُولُ لِامْرَأَتِي أَخِّرِي عَنِّي أَنْمَاطَكِ، فَتَقُولُ: أَلَمْ يَقُلِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّهَا سَتَكُونُ لَكُمْ أَنْمَاطٌ، قَالَ: فَأَدَعُهَا، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا

---

[1] ـ سنن ابي داود/ الجهاد ٦٥ (٢٥٧٢) (تحفة الأشراف: ١٩٦١)

حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: دجابر رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ايا تاسو سره انماط شته ما اووئيل داخيزونه موږ سره چرته دي رسول الله اوفرمائيل ډيره نزدي ده چې انماط (دپالنګونو ابري) به تاسو سره پيدا شي (او اوس هغه زمانه راغلي ده زه خپلي ښځي ته وايم چې ته خپل انماط (پالنګونو ابري) زما نه لري ساته نو هغه راته وايي ايا رسول الله صلي الله عليه وسلم دا نه دي وئيلي چې تاسو سره به انماط وي نو بيا زه هغي ته ددينه تير شم.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٧_بَاب مَا جَاءَ فِي رُكُوبِ ثَلَاثَةٍ عَلَى دَابَّةٍ

په يوه سورلۍ په يو وخت کي د دري کسانو دسوريدو بيان

٢٧٥_حَدَّثَنَا عَبَّاسٌ الْعَنْبَرِيُّ بْنُ عَبْدِ الْعَظِيمِ، حَدَّثَنَا النَّضْرُ بْنُ مُحَمَّدٍ هُوَ الْجُرَشِيُّ الْيَمَامِيُّ، حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ بْنُ عَمَّارٍ، عَنْ إِيَاسِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: لَقَدْ قُدْتُ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْحَسَنَ، وَالْحُسَيْنَ عَلَى بَغْلَتِهِ الشَّهْبَاءِ، حَتَّى أَدْخَلْتُهُ حُجْرَةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا قُدَّامُهُ وَهَذَا خَلْفَهُ". وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَعْفَرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [2]

ترجمه: سلمه رضي الله عنه وائي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم شهباء نوم قچره راښکله او رسول الله صلي الله عليه وسلم او حسن او حسين په دي باندي سواره وو تردي پوري چې درسول الله صلي الله عليه وسلم کور ته مي داخل کړه چې حسن مخکي ناست وو او حسين وروستي شاته ناست وو.

امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي، دابن عباس او عبدالله بن جعفر رضي الله عنهم نه هم په دي باب کي احاديث وارد دي.

****

---

[1] _ اورده البخاري في الصحيح /المناقب ٢٥ (٣٦٣١) . واللباس ٦٢ (٥١٦١) . مسلم /اللباس ٧ (٢٠٨٣) . ابي داود/ اللباس ٣٥ (٤١٤٥) . النسائي/النكاح ٨٣ (٣٣٨٨) (تحفة الأشراف : ٣٠٢٢)

[2] _ صحيح مسلم /فضائل الصحابة ٨ (٢٤٢٣) (تحفة الأشراف : ٥١٨)

٢٨_ باب مَا جَاءَ فِي نَظْرَةِ الْمُفَاجَأَةِ

په غير محرم د ناڅاپي نظر پريوتو بيان

٢٧٧٦_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا يُونُسُ بْنُ عُبَيْدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي زُرْعَةَ بْنِ عَمْرِو بْنِ جَرِيرٍ، عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نَظْرَةِ الْفُجَاءَةِ " فَأَمَرَنِي أَنْ أَصْرِفَ بَصَرِي "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو زُرْعَةَ بْنُ عَمْرٍو اسْمُهُ هَرِمٌ. (1)

ترجمه : جرير بن عبدالله رضي الله عنه وائي چې ما د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه په پردئ ښځه د ناڅاپي نظر لګيدو متعلق تپوس اوکړو نو ويي فرمائيل ته به خپل نظر راګرځوې

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دي.

* * * * * * * * * * * * * * * *

٢٧٧٧_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا شَرِيكٌ، عَنْ أَبِي رَبِيعَةَ، عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، رَفَعَهُ قَالَ: " يَا عَلِيُّ، لَا تُتْبِعِ النَّظْرَةَ النَّظْرَةَ فَإِنَّ لَكَ الْأُولَى وَلَيْسَتْ لَكَ الْآخِرَةُ "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ شَرِيكٍ. (2)

ترجمه :د ابو موسي اشعري رضي الله عنه نه مروي دي چې رسول الله علي رضي الله عنه ته اوفرمائيل چې اې علي په يو ځل ليدو پسې بل ځل کتل مه ورپسې کوه ځکه چې په اولني ځل نظر لګيدل ستا د پاره معاف دي ليکن په دويم ځل کتل معاف نه دي.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن غريب دي او مونږ يې صرف د شريك په روايت پيژنو.

* * * * * * * * * * * * * * * *

٢٩_ باب مَا جَاءَ فِي احْتِجَابِ النِّسَاءِ مِنَ الرِّجَالِ

د سړو نه د ښځو پردي کولو بيان

٢٧٧٨_ حَدَّثَنَا سُوَيْدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ، أَخْبَرَنَا يُونُسُ بْنُ يَزِيدَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ نَبْهَانَ مَوْلَى

---

1 _ مسلم/الأدب ١٠ (٢١٥٩) . سنن ابي داود/ النكاح ٤٤ (٢١٤٨) (تحفة الأشراف : ٣٢٣٧) . و مسند احمد (٤/٣٥٨، ٣٦١) . و الدارمي/الاستئذان ١٥ (٢٦٨٥)

2 _ سنن ابي داود/ النكاح ٤٤ (٢١٤٩) (تحفة الأشراف : ٢٠٠٤)

أُمِّ سَلَمَةَ، أَنَّهُ حَدَّثَهُ، أَنَّ أُمَّ سَلَمَةَ حَدَّثَتْهُ، أَنَّهَا كَانَتْ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَمَيْمُونَةَ، قَالَتْ: فَبَيْنَا نَحْنُ عِنْدَهُ أَقْبَلَ ابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ فَدَخَلَ عَلَيْهِ، وَذَلِكَ بَعْدَ مَا أُمِرْنَا بِالْحِجَابِ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "احْتَجِبَا مِنْهُ". فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَلَيْسَ هُوَ أَعْمَى لَا يُبْصِرُنَا وَلَا يَعْرِفُنَا؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَفَعَمْيَاوَانِ أَنْتُمَا أَلَسْتُمَا تُبْصِرَانِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : ام سلمه رضي الله عنها نه روايت دی چې زه او ميمونه رضي الله عنها رسول الله صلي الله عليه وسلم سره ناستی وو چې عبدالله بن ام مکتوم رضي الله عنه نابينا صحابي راغلو دا واقعه دپردی دحکم راتلو نه پس ده نو رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته اوفرمائيل تاسو دواړه په ډډه شئ مونږ عرض اوکړو يا رسول الله صلي الله عليه وسلم ايا دی نابينا نه دی چې نه مونږ ويني او نه مو پيژني (نو ده نه دپردی څه ضرورت دی) رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ايا تاسو دواړه هم ړندی يئ نه يی وينئ.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

لغات : الحجاب مصدر دي جمع يي حجب راځي هرهغه شي ته ويلي شي چې ددوه شيانو په مينځ کې حائل شي لکه پرده .

تشريح: دپورتني حديث نه معلوميږي لکه څرنګه چې دسړو دپاره ښځو ته کتل حرام دي همدارنګې ښځو لره هم سړو ته کتل حرام دي ليکن علماء وائي چې يوه ښځه بغير دجنسي خواهش نه نارينه ته کتلی شي لکه چې دعائشه رضي الله عنها په واقعه کې راځي کله چې حبشيانو نيزه بازي کوله نو عائشه رضي الله عنها درسول الله شاته پټه اودريده او کتل يي او دا واقعه دهجرت دنهم کال ده ليکن علماء دپورتني حديث نه دا جواب کوي چې دا په تقوي او پرهيزګارئ محفوظ ده چې دا کتل اګر چې جائز دي ليکن نه کتل تقوي ده البته که څوك په جنسي خواهش سره اوګوري نو په داسي صورت کې ښځو لره هم سړو ته کتل حرام دي او نن سبا خو صرف دخواهش زمانه ده نو په دي وجه په دي مسئله کې دښځو دپاره هم سړو ته کتل جائز نه دي.

(دی حديث شريف نه معلومه شوه چې څرنګه دسړو دپاره پردو ښځو ته کتل ناروا دي دغه شان دښځو دپاره هم پردو سړوته کتل ناروا دي).

****

[1] - سنن ابي داود/ اللباس ٣٧ (٤١١٢) (تحفة الأشراف: ١٨٢٢٢) ، و مسند احمد (٦/٢٩٦)

٣٠ـ باب مَا جَاءَ فِي النَّهْيِ عَنِ الدُّخُولِ، عَلَى النِّسَاءِ إِلاَّ بِإِذْنِ الأَزْوَاجِ

دخاوند داجازت نه بغیر دهغوئ ښځو ته دورتلو دمما نعت بیان

٢٧٧٩ـ حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنِ نَصْرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ ذَكْوَانَ، عَنْ مَوْلَى عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، أَنَّ عَمْرَو بْنَ الْعَاصِ أَرْسَلَهُ إِلَى عَلِيٍّ يَسْتَأْذِنُهُ عَلَى أَسْمَاءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ، فَأَذِنَ لَهُ حَتَّى إِذَا فَرَغَ مِنْ حَاجَتِهِ، سَأَلَ الْمَوْلَى عَمْرَو بْنَ الْعَاصِ عَنْ ذَلِكَ، فَقَالَ: " إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَانَا أَوْ نَهَى أَنْ نَدْخُلَ عَلَى النِّسَاءِ بِغَيْرِ إِذْنِ أَزْوَاجِهِنَّ " وَفِي الْبَابِ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، وَجَابِرٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: عمرو بن العاص رضي الله عنه دازاد کړي غلام نه روایت دي فرمائي چې عمرو بن عاص زه علي رضي الله عنه ته (دهغه دښځې) اسماء بنت عمیس سره دملاقات کولو داجازت غوښتلو دپاره اولیږلم نوهغوئ داجازت اوکړو بیا چې کله هغه دکوم ضرورت دپاره تلي وو دهغې وینا یې اوکړه او فارغ شو نو ددوئ ازاد کړي غلام ددوئ نه دي باره کې تپوس اوکړو نو هغه اووئیل رسول الله صلي الله علیه وسلم مونږ دښځو سره دمخامخ کیدو نه دهغوئ دخاوندانو داجازت نه بغیر منع کړي یو.

امام ترمذي وایي: داحدیث حسن صحیح دي او په دي باب کې دعقبه بن عامر عبدالله بن عمرو، او جابر رضي الله عنهم نه هم احادیث وارد دي.

****

٣١ـ باب فِي تَحْذِيرِ فِتْنَةِ النِّسَاءِ

دښځو دفتني نه دبچ کیدو بیان

٢٧٨٠ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الأَعْلَى الصَّنْعَانِيُّ، حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، وَسَعِيدِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ نُفَيْلٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " مَا تَرَكْتُ بَعْدِي فِي النَّاسِ فِتْنَةً أَضَرَّ عَلَى الرِّجَالِ مِنَ النِّسَاءِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الثِّقَاتِ، عَنْ سُلَيْمَانَ التَّيْمِيِّ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٧٥٢)

بْنِ عَمْرِو بْنِ نُفَيْلٍ، وَلَا نَعْلَمُ أَحَدًا قَالَ: عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، وَسَعِيدُ بْنُ زَيْدٍ غَيْرُ الْمُعْتَمِرِ. وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ.[1]

ترجمه : داسامه بن زيد رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: ما دخپل ځان نه پس سړو دپاره دښځو دفتني نه زيات نقصان رسوونكى شى بل نه دى پريښى.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او داحديث ديو څو ثقه راويانو نه په سند د سليمان التيمي عن ابي عثمان عن اسامه بن زيد عن النبي صلي الله عليه وسلم سره مروي دي او هغوئ په دي سند كي دسعيد بن زيد عمرو بن نفيل ذكر نه دي كړي او مونږ ته دمعتمر نه علاوه بل څوك نه دي معلوم چې هغه عن اسامه بن زيد وسعيد بن زيد دواړه په يوځاي وئيلي دي، او په دي باب كي دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي.

لغات : اضرّ : اسم تفضيل دي دباب نصر نه، زيات تكليف وركونكي ته وئيلي شي.

تشريح : دښځو فتنه دتمامو فتنو نه لويه او زياته خطرناكه ګڼړلى شوي ده ځكه چې په يو بل روايت كې هم راځي ارشاد نبوي دى چې دښځو مكر او فتنه دشيطان دفتني نه هم زياته ده ځكه چې الله تعالي دشيطان دمكر په باره كې فرمائيلي دي چې دا ضعيف او كمزوري دى "ان كيدالشيطان كان ضعيفا" ليكن دښځو دمكر او فتني په باره كې يې فرمائيلي دي "ان كيدكن عظيم" يعني ستاسو مكر او فتنه ډيره لويه ده.

همدارنګي علماء فرمائي چې په ښځو كې خواهشات او ددنيا حرص دسړو په نسبت زيات وي او بل طرف ته دنارينوو طبائع ښځو طرف ته مائل كيږي او ددي ښځو دمحبت په وجه سړي ددنيا په حصول كې دحرامو ارتكاب هم كوي دبعضي هوښيارانو په قول كه چري په دنيا كې ښځي نه وى نو سړي به ټول جنت ته تلي وو.

دلته دا خبره ياد ساتئ چې ټولي ښځي داسي نه وي ډيري ښځي داسي هم شته چې دسړو په نسبت اخرت طرف ته زياتي متوجه وي او خلقو لره هم اخرت طرف ته متوجه كونكي وي.

****

حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ سُلَيْمَانَ التَّيْمِيِّ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ

---

[1] - اورده البخاري في الصحيح /النكاح ۱۸ (۵۰۹۶)، صحيح مسلم /الذكر والدعاء ۲۶ (۲۷۴۰)، ابن ماجه/الفتن ۱۹ (۳۹۹۸) (تحفة الأشراف: ۹۹، و۴۴۶۲)، واحمد (۵/۲۰۰)

النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ. [1]

ترجمه : په دي سند هم داسامه بن زيد په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت مروي دي.

****

٣٢_بَاب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ اتِّخَاذِ الْقُصَّةِ

پخپلو ويختو پوري دفالتو ويختوا نخلولو دمما نعت بيان

٢٧٨١_حَدَّثَنَا سُوَيْدٌ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ، أَخْبَرَنَا يُونُسُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، أَخْبَرَنَا حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَنَّهُ سَمِعَ مُعَاوِيَةَ بِالْمَدِينَةِ يَخْطُبُ يَقُولُ: أَيْنَ عُلَمَاؤُكُمْ يَا أَهْلَ الْمَدِينَةِ، إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَى عَنْ هَذِهِ الْقُصَّةِ وَيَقُولُ: "إِنَّمَا هَلَكَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ حِينَ اتَّخَذَهَا نِسَاؤُهُمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ مُعَاوِيَةَ. [2]

ترجمه : حميد بن عبدالرحمن نه روايت دی چې ما دمعاويه نه اوريدلي دي چې په مدينه کي يي خطبه وركوله او ويی وئيل دمدينی خلقو ستاسو عالمان څه شو (چې مسئله درته نه ښائي) ما د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چې دداسی كار نه يی خلق منع كول يعنی مصنوعي ويښتو نه يی خلق منع كول اوفرمائيل يی دبني اسرائيلو ښځو چې داسی كارونه شروع كړل نو بني اسرائيل تباه شو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او داحديث په يو څو سندونو دمعاويه رضي الله عنه نه مروي دي.

لغات : هلكت: هلك يهلك هلكا دضرب سمع او فتح نه هلاكا وهُلكا وهلوكا وتهلوكا ومهلكا تهلكة معني فنا كيدل او مره كيدل او نيست او نابود كيدل، عموما ددي استعمال دبد مرګ دپاره وي ، اليه وعليه لالچي كيدل خواهش مند كيدل، هلكه واهلكه فنا كول او نيست او نابود كول كه څوك كوم لوي كار وكړي نو هغي ته هلكت واهلكت ويلي شي.

---

[1] _ اورده البخاري في الصحيح/النكاح ١٨ (٥٠٩٦). صحيح مسلم/الذكر والدعاء ٢٦ (٢٧٤٠). ابن ماجه/الفتن ١٩ (٣٩٩٨) (تحفة الأشراف: ٩٩، و٤٢٦٢). واحمد (٥/٢٠٠)

[2] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح/أحاديث الأنبياء ٥٤ (٣٤٦٨). واللباس ٨٣ (٥٩٣٢). صحيح مسلم/اللباس ٣٣ (٢١٢٧). سنن ابي داود/ الترجل ٥ (٤١٦٧). سنن النسائي/الزينة ٢١ (٥٠٩٥). و٦٨ (٥٢٤٩٥٢٥٠) (تحفة الأشراف: ١١٤٠٧). والمؤطأء: الشعر ١ (٢). ومسند احمد (٩٥/٤، ٩٨)

تشريح : ددي حديث نه يو څو خبري معلومي شوي:
۱ - که حاکمان کومه ګناه د خوريدو په حالت کې اوويني نو هغه دي منع کړي.
۲ - دګناه نه منع کول پخپل ځان هلاکت ته دعوت ورکول دي.
۳ - او همدا رنګي پردي ويخته لګول دبني اسرائيلو عادت وو.

****

۳۳_ باب مَا جَاءَ فِي الْوَاصِلَةِ وَالْمُسْتَوْصِلَةِ وَالْوَاشِمَةِ وَالْمُسْتَوْشِمَةِ

دخپلو ويختو سره د نورو ويختو لګونکو ښځو او ددې په خواهش کونکو ښځو او په خال لګونکو ښځو او دخال په خواهش کونکو ښځو دلعنت بيان

۲۷۸۲_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا عَبِيدَةُ بْنُ حُمَيْدٍ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَعَنَ الْوَاشِمَاتِ وَالْمُسْتَوْشِمَاتِ، وَالْمُتَنَمِّصَاتِ، مُبْتَغِيَاتٍ لِلْحُسْنِ مُغَيِّرَاتٍ خَلْقَ اللَّهِ ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ شُعْبَةُ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الأَئِمَّةِ، عَنْ مَنْصُورٍ.[1]

ترجمه : ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چې هغه اووئيل په واشمه اومستوشمه او متنمصه، او متفلجه چي د حسن خواهش مندي وي، په دوئ تولو باندي رسول الله صلي الله عليه وسلم لعنت وئيلي دي چې دالله تعالي پيدائشت کې تغير راولي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي داحديث شعبه او بعضي نورو راويانو هم دمنصور نه نقل کړي دي.

لغات : المغيرات جمع دمغيرة ده معني دالله خلقت لره تبديل کونکي ښځي المتفلجة: هغه ښځي چې دغاښونو مينځ کې خالي ګاه جوړونکي وي.

تشريح : واشمه معني خال لګونکي ، او مستوشمه دخال لګولو خواهش کونکي، المتفلجات غاښونه سوهان کونکي، دی دپاره چې ترمينځه يې فاصله پيداشي او ښايسته شي دی ته وشرهم وائي هغه زمانه کې په عربو کي دمخامخ دوو غاښونو ترمينځه لږ فاصله دحسن او دنيك بختئ علامه ګڼلی شوه، نو که قدرتي فاصله به دچا غاښونو کی نه وه هغوئ به لږ لږ

[1] _ اورده البخاري في الصحيح /تفسير الحشر ۴ (۴۸۸۶) . واللباس ۸۲ (۵۹۳۱) . ۸۳ (۵۹۳۹) . و ۸۵ (۵۹۴۳) . و ۸۶ (۵۹۴۳) . و ۸۷ (۵۹۴۸) . مسلم/اللباس ۳۳ (۲۱۲۵) . ابی داود/ الترجل ۵ (۴۱۶۹) . النسائي/الزينة ۲۴ (۵۱۰۲) . و ۲۶ (۵۱۱۰) . ۷۲ (۵۲۵۴) . ابن ماجه/النكاح ۵۲ (۱۹۸۹)

سوهان کړل او مصنوعي حسن به یی پیدا کولو، دغه څیز نه رسول الله صلي الله علیه وسلم منع کړی ده نامصه هغه ښځه ده چې دوروڅو نه ویښته اوباسي دښایست دپاره یی نرئ کوي او ترمینځه یی فاصله پیدا کوي متنمصه هغه ښځه ده چې دا کار په چا کوي یعنی په بله باندی دخپلو روڅو نه ویښته اوباسي.

په پورتني حدیث کې په یو څو قسمه ښځو لعنت شوي دي. لعن الواشمات والمستوشمات. خالونه لګونکي او دخالونو لګولو طلب کونکي دا دواړه قسمه کسان حرام کوي ددي وضاحت په سابقه حدیث کې تیر شوی دی المتنمصات دمخ نه ویخته ویستونکي ښځي علماء وائي چې ددي یو صورت خو دادی دبعضو ښځو په مخونو دسرو پشان ویخته راوخیژي نو دهغي صفاکول جائز دي ددینه علاوه جائز نه دي.

والمتفلجات للحسن: او د غاښونو په مینځ کې فراخي پیدا کول عموما دوړو جینکو غاښونه داسي وي په عربو کې چې کله ښځي ډیر عمر ته ورسیږي نو غاښونه به یي په ستن یاشګو مږل چې درست شي مقصد به یي دا وو چې ډیر عمر ښکاره نه شي نو دا کار شریعت ناجائز اوګرځولو.

المغیرات خلق الله: دا تمامي ښځي دکومو چې ذکر اوشو دا داسي دي چې الله تعالي دوئ څرنګه پیدا کړي دي دوئ په دي کې دخپل خواهش مطابق ترمیم او تغیر کول غواړي.

ما اٰتاکم الرسول فخذوه ومانهاکم عنه فانتهوا: یعني دالله رسول چې تاسو ته کوم حکم کوئ هغه قبول کړئ او چې دڅه نه مو منع کوي دهغي نه منع شئ مطلب دادی چې دالله رسول دکومي خبري چې حکم کړی دی یایي منع فرمائیلي ده دا په اصل کې دالله حکم دی صرف دنبي حکم نه دی.

علامه طیبي وائي چې په مذکوره ښځورسول الله لعنت فرمائیلی دی نو دا داسي ده لکه چې الله ورباندي لعنت فرمائیلی دی نو په دي وجه ددي کارونو نه ځان ساتل پکار دي.

بخاري دابن مسعود رضي الله عنه نه روایت نقل کړي دي چې فرمائیلي یي وو: لعن ال

الواشمات والمستوشمات والمتنمصات والمتفلجات للحسن المغیرات خلق الله . نوچې دب

اسد قبیلي یوي ښځي ته ددي واقعي خبر ورسیدو نو وئي وئیل ماته خبر رارسیدلي دي چې په داسي ښځو لعنت وئیلي دي ابن مسعود رضي الله عنه ووئیل څکه چې دالله رس

ورباندي لعنت وئیلي دي ، ښځي ووئیل چې ددواړو لوحو په مینځ کتاب ما تمام لوستلي د

او ماخوپکې دا ندي لوستلي ابن مسعود رضي الله عنه ووئیل که تاد الله کتاب لوستلي وي دا به دي پکې ضرور لوستلي وو ایا تا ندي اوریدلي چې الله تعالي فرمائیلي دي: "ما آتا

الرسول فخذوه وما نهاكم عنه فانتهوا" رواه البخاري۔

****

٢٧٨٣_حَدَّثَنَا سُوَيْدٌ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " لَعَنَ اللهُ الْوَاصِلَةَ وَالْمُسْتَوْصِلَةَ، وَالْوَاشِمَةَ وَالْمُسْتَوْشِمَةَ "، قَالَ نَافِعٌ: الْوَشْمُ فِي اللِّثَةِ، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَائِشَةَ، وَمَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ، وَأَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ يَحْيَى قَوْلَ نَافِعٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دالله تعالي لعنت دي وي په هغه ښځو چې په ويختو پورې نور ويخته انخلوي او په هغه ښځو څوك چې ددې خواهش كوي اوپه هغه ښځو چې خالونه لګوي او په هغه ښځو څوك چې خالونه لګول خوښوي نافع وائي لثه په اورو كې وي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دې باب كې دعائشه، معقل بن يسار، اسماء بنت ابي بكر او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي محمد بن بشار به وئيل چې مونږ ته يحي بن سعيد روايت بيان كړې دي او يحي ته عبيدالله بن عمر دنافع نه روايت بيان كړې دي او نافع دابن عمر په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه ددې هم معني روايت نقل كړې دي مګر يحي په دې روايت كې دنافع قول نه دې ذكر كړې.

****

٣٤_باب مَا جَاءَ فِي الْمُتَشَبِّهَاتِ بِالرِّجَالِ مِنَ النِّسَاءِ

دسړو سره دمشابهت اختيارو نكو ښځو بيان

٢٧٨٤_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، وَهَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُتَشَبِّهَاتِ بِالرِّجَالِ مِنَ النِّسَاءِ، وَالْمُتَشَبِّهِينَ بِالنِّسَاءِ مِنَ الرِّجَالِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

---

1 ـ انظر حديث رقم ١٧٥٩

2 ـ انظر حديث رقم ١٧٥٩

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما نه مه وي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم په داسي ښځو لعنت وئيلي دي څوك چې دسړو سره مشابهت اختياروي او په هغه سړو يې لعنت وئيلي دي څوك چې دښځو سره مشابهت اختياروي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٧٨٥ـ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، وَأَيُّوبَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُخَنَّثِينَ مِنَ الرِّجَالِ، وَالْمُتَرَجِّلَاتِ مِنَ النِّسَاءِ"، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَائِشَةَ. ([1])

ترجمه : ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم په هغه سړو لعنت وئيلی دی په هجړاتوب كونكو سړو باندي، او په هغه ښځو چې د سړو سره مشابهت اختياروي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دعائشه رضي الله عنها نه هم روايت وارد دي.

لغات : لعن: لعن لعنا معني لعنت كول ، رسوا كول، كنځل كول ، دخير نه لري كول، رټل، تلعين معني عذاب وركول.

تشريح: مخنث داسي سړي ته وئيلی شي څوك چې دښځو پشان لباس اغوندي او دښځو پشان لب او لهجه اختياروي او همدا رنګي په ټولو حركاتو او سكناتو كي دښځو انداز خپل كړي داسي سړي ته زمونږ په عرف كي هجړا وئيلی شي، مخنث په دوه قسمه دی يو خو هغه وي په كوم كي چې پيدائشي طور دښځو پشان نرمي او لكچ وي دويم هغه دی په چا كي چې دا خيزونه په پيدائشي طور نه وي مګر قصدا ځان داسي جوړ كړي نو په دي دويم قسم مخنث باندي لعنت شوی دی په خلاف داولني قسم ځكه چې هغه معذور دی.

همدا رنګي هغه زنانه څوك چې مردانه لباس او مردانه وضع قطع اختيار كړي او په نورو عاداتو كي دسړو سره مشابهت كوي په دوی باندي هم لعنت شوی دی.

****

---

[1] ــ اورده البخاري في الجامع الصحيح/اللباس ٥١ (٥٨٨٥). سنن ابی داود/ اللباس ٣١ (٤٠٩٧). سنن ابن ماجه/النكاح ٢٢ (١٩٠٣) (تحفة الأشراف: ٦١٨٨). ومسند احمد (١/٢٥١، ٣٣٠). وسنن الدارمی/الاستئذان ٢١ (٢٦٩١)

٣٥_باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ خُرُوجِ الْمَرْأَةِ مُتَعَطِّرَةً

دعطر لګولو په حال کي دښځي دکور نه بهر وتلو دحرمت بيان

٢٧٨٦_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ، عَنْ ثَابِتِ بْنِ عُمَارَةَ الْحَنَفِيِّ، عَنْ غُنَيْمِ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ أَبِي مُوسَى، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "كُلُّ عَيْنٍ زَانِيَةٌ، وَالْمَرْأَةُ إِذَا اسْتَعْطَرَتْ فَمَرَّتْ بِالْمَجْلِسِ فَهِيَ كَذَا وَكَذَا يَعْنِي زَانِيَةً". وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دابوموسي اشعري رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هره يوه سترګه زناكاره ده او يوه ښځه چي كله خوشبو اولګوي او ديو مجلس په خوا كي تيريږي نو دا هم داسي ده، يعني دا هم زناكاره ده.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دابوهريره رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

****

٣٦_باب مَا جَاءَ فِي طِيبِ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ

دسړو او ښځو دپاره دخوشبو لګولو حکم

٢٧٨٧_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الْحَفَرِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ رَجُلٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "طِيبُ الرِّجَالِ مَا ظَهَرَ رِيحُهُ وَخَفِيَ لَوْنُهُ، وَطِيبُ النِّسَاءِ مَا ظَهَرَ لَوْنُهُ وَخَفِيَ رِيحُهُ". [2]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دسړو خوشبو هغه ده دكومي نه چي خوشبويي خوريږي او رنګ يي نه خوريږي او دښځو خوشبو هغه دي چي رنګ يي ظاهر وي ليكن خوشبو يي پټه وي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي

****

---

[1] - أبي داود/الترجل ٧ (٤١٧٣)، سنن النسائي/الزينة ٣٥ (٥١٢٩) (تحفة الأشراف: ٩٠٢٣)

[2] - سنن ابي داود/النكاح ٥٠ (٢١٧٤)، و النسائي/الزينة ٣٢ (٥١٢٠، ٥١٢١) (تحفة الأشراف: ١٥٤٨٦)، و مسند احمد (٢/٥٤١)

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنِ الطُّفَاوِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، إِلَّا أَنَّ الطُّفَاوِيَّ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا فِي هَذَا الْحَدِيثِ، وَلَا نَعْرِفُ اسْمَهُ. وَحَدِيثُ إِسْمَاعِيل بْنِ إِبْرَاهِيمَ أَتَمُّ وَأَطْوَلُ. وفي الباب عن عمران بن حصين. (1)

ترجمه : طفاوي دابوهريره په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه ددي هم معني روايت نقل كړي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي او دطفاوي په روايت ددي حديث نه علاوه بل حديث مونږ ته معلوم نه دي او نه مونږ ته دده نوم معلوم دي او داسماعيل بن ابراهيم حديث كامل او اوږد دي، او په دي باب كي دعمران بن حصين رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي.

****

۲۷۸۸_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ الْحَنَفِيُّ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ: قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ خَيْرَ طِيبِ الرَّجُلِ مَا ظَهَرَ رِيحُهُ وَخَفِيَ لَوْنُهُ، وَخَيْرَ طِيبِ النِّسَاءِ مَا ظَهَرَ لَوْنُهُ وَخَفِيَ رِيحُهُ، وَنَهَى عَنْ مِيثَرَةِ الْأُرْجُوَانِ ". هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (2)

ترجمه : دعمران بن حصين رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته اوفرمائيل دسړو بهترينه خوشبو هغه ده چې خوشبو يي يي خوريږي او رنګ يي نه خوريږي او د ښځو بهترينه خوشبو هغه ده چې رنګ يي ظاهر وي او خوشبو يي پټه پاتي شي او رسول الله صلي الله عليه وسلم دزني دپاسه دتكي سري ريشمي كپړي اچولو نه منع فرمائيلي ده.

امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند حسن غريب دي.

تشريح "مسيرة الارجوان" سور رنګ والا وري ګدئ ته وئيلي شي چې په اسونو يي خلق دزن دپاسه ايږدي.

****

1 _ سنن ابي داود/ النكاح ٥٠ (٢١٧٤) . سنن النسائي/الزينة ٣٢ (٥١٢٠، ٥١٢١، ٥١٢٢) (تحفة الأشراف : ١٥٨٦) . و مسند احمد (٢/٥٤١)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٠٨٠٥) . و مسند احمد (٣/٤٣٢)

۳۷_باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ رَدِّ الطِّيبِ

چاته خوشبو واپس کول ناخوښه او مکروه کار دي

۲۷۸۹_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا عَزْرَةُ بْنُ ثَابِتٍ، عَنْ ثُمَامَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: كَانَ أَنَسٌ لَا يَرُدُّ الطِّيبَ، وَقَالَ أَنَسٌ: إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ لَا يَرُدُّ الطِّيبَ" وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: دثمامه بن عبد الله بیان دي چې د انس بن مالك رضي الله عنه ته چې به چا خوشبوئي پیش کړه نو هغوئ به نه واپس کوله. او وئیل به یي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم ته چې به چا خوشبوئي پیش کړه نو هغوئ به نه واپس کوله.

امام ترمذي وایي: داحدیث حسن صحیح دي او په دي باب کي دابوهریره رضي الله عنه نه هم حدیث وارد دي.

لغات: طیب، پاکیزه، حلال، عمده جمع یي طیبات او طوبي ده.

تشریح: دعلامه عیني قول دی چې چونکه رسول الله صلي الله علیه وسلم به دفرشتو سره خبري اتري او مکالمي کولي او هغوئ دبدبویي نه نفرت کوي او دخوشبو سره محبت لري نو په دي وجه درسول الله صلي الله علیه وسلم به هم خوشبو خوښه وه علماء وائي چې دا حکم دهر هغه هدیي هم دی کومه چې په قیمت کې کمه وي مګر دفائدي په اعتبار زیاته وي دکومي په ورکولو اخستو چې په چا باندي څه بوج نه راځي.

****

۲۷۹۰_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ثَلَاثٌ لَا تُرَدُّ: الْوَسَائِدُ، وَالدُّهْنُ، وَاللَّبَنُ الدُّهْنُ، يَعْنِي بِهِ الطِّيبَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَعَبْدُ اللَّهِ هُوَ ابْنُ مُسْلِمِ بْنِ جُنْدَبٍ وَهُوَ مَدَنِيٌّ. [2]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بیان دي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي دري څیزونه داسي دي (چې څوك یي په تحفه کي درکړي) نو واپس کول یي پکار نه دي یو

---

[1] – اورده البخاري في الجامع الصحيح /الهبة ۹ (۲۵۸۳)، واللباس ۸۰ (۵۹۲۹)، سنن النسائي/الزينة ۲۳ (۵۲۶۰) (تحفة الأشراف: ۴۵۳)

[2] – تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۴۳۵۲)

تکيه ده بل تيل دي او بل شوده دي (او دتيلو نه مراد خوشبو ده).
امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي، عبدالله دمسلم بن جندب ځوي دي او دمديني اوسيدونکي دي.

****

٢٧٩١ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ خَلِيفَةَ أَبُو عَبْدِ اللهِ بَصْرِيٌّ، وَعَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ، قَالَا: حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، عَنْ حَجَّاجٍ الصَّوَّافِ، عَنْ حَنَانٍ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا أُعْطِيَ أَحَدُكُمُ الرَّيْحَانَ فَلَا يَرُدَّهُ فَإِنَّهُ خَرَجَ مِنَ الْجَنَّةِ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَلَا نَعْرِفُ حَنَانًا إِلَّا فِي هَذَا الْحَدِيثِ، وَأَبُو عُثْمَانَ النَّهْدِيُّ اسْمُهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مُلٍّ، وَقَدْ أَدْرَكَ زَمَنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَرَهُ وَلَمْ يَسْمَعْ مِنْهُ. [1]

ترجمه: د ابو عثمان نهدي رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاته چې کشمالي يعني خوشبوئي پيش کړی شوه نو واپس کوی دی نه ځکه چې داد جنت نه راغلي دي.
امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو او دحنان په نوم راوي مونږ صرف په همدي حديث پيژنو او دابو عثمان نهدي نوم عبدالرحمن بن مل دي او هغه درسول الله صلي الله عليه وسلم زمانه نه ده موندلي او نه يي درسول الله صلي الله عليه وسلم سره ملاقات نصيب شوي دي او نه يي ورنه کوم حديث اوريدلي دي.
تشريح: په دي حديث کې دا مسئله بيان شوي ده چې دخوشبودار څيز هديه به قبلوئ ددي وجه داده چې دخوشبو هديه ورکونکو باندي هم بوج نه وي او بله داده چې خوشبو يو ښه څيز دی دا هم معلومه شوه چې دخوشبو هديه قبلول مستحب دي خوچې څه بوج پکې نه وي علماء وائي چې دخوشبو استعمال هم مستحب دی او بل چاته يي په هديه کې ورکول هم مستحب دي او ګنړي ته دورتلو نه مخکې ددي استعمال هم مستحب دی.

****

٣٨ـ بَابٌ فِي كَرَاهِيَةِ مُبَاشَرَةِ الرَّجُلِ الرَّجُلَ وَالْمَرْأَةِ الْمَرْأَةَ

ديو سړي دبل سړي سره او ديوي ښځي دبلي ښځي سره دجسم پيوست کولو دحرمت بيان

٢٧٩٢ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ شَقِيقِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ، قَالَ:

[1] ـ سنن ابي داود/ المراسيل ٩٧ (تحفة الأشراف: ١٨٩٧٥)

قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تُبَاشِرُ الْمَرْأَةُ الْمَرْأَةَ حَتَّى تَصِفَهَا لِزَوْجِهَا كَأَنَّمَا يَنْظُرُ إِلَيْهَا".
قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي يوه ښځه دى هم بلى ښځى ته بربنډ حالت کې نه ګوري چې بيا دهغى دبدن پټ حسن خپل خاوند ته داسى بيانوي لکه چې هغه يى په خپلو سترګو ويني.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

لغات: زوج په معني دښځي ، خاوند ، ملګري، جوړي، لکه چې ويلي شي عندي زوجا حمام ، زما سره يوه جوړه ده جمع يي ازواج ده او جمع الجمع يي ازاويج ده ، الزوجة معني ښځه جمع يي زوجات ، الزواج واده کول.

تشريح : لاتباشر: مباشرت دي نه کوي يوه ښځه دبلي ښځي سره مباشرت وئيلى شي د دوه جسمونو يوځاي کولو ته علماء وائي په پورتني حديث کې دمباشرت لفظ اصلي او مجازي دواړه معني مراد کيدى شي اصلي معني يي جسم دجسم سره يوځاي کول دي او مجازي معني يي صرف کتل دي ددي مباشرت مقصد داوي چې دجسم خصوصيات يعني خوب صورتي وغيره اوګوري او بيايي دکوم نارينه په وړاندي بيان کړي په پورتني حديث کې ددي مذمت راغلى دى او انتهائي بدترين کار ګنړلى شوى دى ددي په سبب بي شرمي او بداخلاقي پيدا کيږي او ددي په وجه زنا طرف ته لار هواريږي او که داسي نه وي نو کم از کم ددي په وجه په ګنده خيالاتو کې دمبتلا کيدو خطره ضرور ده.

****

٢٧٩٣ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ، أَخْبَرَنِي الضَّحَّاكُ بْنُ عُثْمَانَ، أَخْبَرَنِي زَيْدُ بْنُ أَسْلَمَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَنْظُرُ الرَّجُلُ إِلَى عَوْرَةِ الرَّجُلِ، وَلَا تَنْظُرُ الْمَرْأَةُ إِلَى عَوْرَةِ الْمَرْأَةِ، وَلَا يُفْضِي الرَّجُلُ إِلَى الرَّجُلِ فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ، وَلَا تُفْضِي الْمَرْأَةُ إِلَى الْمَرْأَةِ فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ. (2)

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح/النكاح ١١٨ (٥٢٤٠) . سنن ابي داود/ النكاح ٤٤ (٢١٥٠) (تحفة الأشراف : ٩٢٥٢) . و مسند احمد (٣٨٧/١، ٤٦٠)

[2] ـ مسلم/النكاح ٢١ (١٤٣٧) . سنن ابي داود/ الحمام ٣ (٤٠١٨) (تحفة الأشراف : ٤١١٥)

ترجمه : ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی چه سړي دی دسړو عورت ته ‹دپردی خايونوته› نه ګوري او ښځه دی دښځو عورت ته نه ګوري اونه دی نارينه دنارينه سره په يو کپړه کې څملي ‹يعنی چې نوری جامې يی نه وي بربنډوي صرف يوه کپړه کې پټ وي› او نه دی ښځه دښځی سره صرف يوه کپړه کې څملي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب صحيح دي.

لغات : نظر : نظر ينظر نظرا و منظرا و منظرة وتنظارا ونظرانا معني کتل ، په غور سره کتل.

تشريح : لا ينظر الرجل الي عورة الرجل: يو نارينه به دبل نارينه عورت ته نه ګوري: دسړي دنوم نه لاندي دزنګنونو پوري عورت دي ددي حصي بغير دضرورت نه ليدل دبل چا دپاره حرام دي نه دسړي دپاره دکومي محرمي ښځي دپاره مګرکه خپله ښځه يا وينځه وي نو خير دي ، دښځي عورت دبلي ښځي په حق کې هم دنوم نه لاندي دزنګنونو پوري دي ، اود سړو په حق کې د اجنبي ښځي تمام جسم عورت دي.

ديوي ښځي عورت دخپلو محرمانو په حق کې خيټه او دزنګنانو نه د نوم پوري حصه ده خو محرم سړي سر مخ ، متي ليدلي شي خو پدي شرط چې جنسي خيال ونه لري ، په دي کې بي ريري هلك هم داخل کړي دي.

دوه هم په يوه بستره کې نشي څملاستي خو چې بربنډ وي اوکه جامي اولباس يي اغوستلي وي نو بيا خير دي باك نشته.

****

٣٩_بَاب مَا جَاءَ فِي حِفْظِ الْعَوْرَةِ

شرمګاه دبې پردي کيدو نه دساتلوبيان

٢٧٩٤_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ مُعَاذٍ، وَيَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، قَالَا: حَدَّثَنَا بَهْزُ بْنُ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قُلْتُ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ، عَوْرَاتُنَا مَا نَأْتِي مِنْهَا وَمَا نَذَرُ؟ قَالَ: "احْفَظْ عَوْرَتَكَ إِلَّا مِنْ زَوْجَتِكَ أَوْ مَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ". قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِذَا كَانَ الْقَوْمُ بَعْضُهُمْ فِي بَعْضٍ؟ قَالَ: "إِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ لَا يَرَاهَا أَحَدٌ فَلَا يَرَاهَا". قَالَ: قُلْتُ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ، إِذَا كَانَ أَحَدُنَا خَالِيًا؟ قَالَ: "فَاللَّهُ أَحَقُّ أَنْ يُسْتَحْيَا مِنْهُ مِنَ النَّاسِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (1)

ترجمه : معاويه بن هيده رضي الله عنه وائي ما عرض اوکړو اي دالله رسوله مونږ خپله

1_ انظر حديث رقم ٢٧٦٩

شرمگاه څومره حده پوري ښکاره کولي شو او کوم حده پوري ددي پټول ضروري دي؟رسول الله اوفرمائيل تاسو خپل شرمگاهونه خپلو ښځو او خپلو وينځو نه علاوه دهر چانه پټ ساتئ ما اووئيل کله چې خلق په يو ځاي شريك اوسيږي نو موږ څه اوکړو او څنګه اوکړو رسول الله اوفرمائيل بيا هم ستاسو دپاره هر ممکن کوشش کول پکار دي چې ستاسو شرمگاه څوك اونه کوري ما بيا اووئيل اي دالله رسوله کله چې يو کس يواځې وي نو وېي فرمائيل دخلقو په مقابل کې الله تعالي زيات حقدار دي چې حياء اوشرم ورنه اوکړې شي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي.

****

٤٠_بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ الْفَخِذَ عَوْرَةٌ

دورون په ستر (شرمگاه) کې د داخليدو بيان

٢٧٩٥_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي النَّضْرِ مَوْلَى عُمَرَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ زُرْعَةَ بْنِ مُسْلِمِ بْنِ جَرْهَدٍ الْأَسْلَمِيِّ، عَنْ جَدِّهِ جَرْهَدٍ، قَالَ: مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِجَرْهَدٍ فِي الْمَسْجِدِ وَقَدِ انْكَشَفَ فَخِذُهُ، فَقَالَ: "إِنَّ الْفَخِذَ عَوْرَةٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ مَا أَرَى إِسْنَادَهُ بِمُتَّصِلٍ.[1]

ترجمه: جرهد وائي نبي کريم صلي الله عليه وسلم په مسجد کې دجرهد (يعني زما په خوا کې) تير شو نو دي وخت کې زما ورون ښکاريدو نو وېي فرمائيل ورون عورت دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي او ماته ددي سند متصل نه ښکاري.

****

٢٧٩٦_حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، قَالَ: أَخْبَرَنِي ابْنُ جَرْهَدٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِهِ وَهُوَ كَاشِفٌ عَنْ فَخِذِهِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "غَطِّ فَخِذَكَ فَإِنَّهَا مِنَ الْعَوْرَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ.[2]

ترجمه: دجرهد رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم زما په خوا کې تير شو او زما ورون ښکاريدو او راته يې اوفرمائيل ورون پټ کړه ځکه چې دا دپټولو

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع/الصلاة ١٢ (تعليقاً في الترجمة). سنن ابي داود/الحمام ٢(٤٠١٤) (و مسند احمد (٣/٤٧٨)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٢٢٢)

ځيز دي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي.

****

۲۷۹۷_حَدَّثَنَا وَاصِلُ بْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ أَبِي يَحْيَى، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْفَخِذُ عَوْرَةٌ".[1]

ترجمه: د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ورون دپټ ساتلو ځيز دي.
امام ترمذي وايي: دا حديث په دي سند حسن غريب دي

****

۲۷۹۸_حَدَّثَنَا وَاصِلُ بْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَرْهَدٍ الْأَسْلَمِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْفَخِذُ عَوْرَةٌ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَلِيٍّ وَمُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَحْشٍ، وَلِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَحْشٍ صُحْبَةٌ، وَلِابْنِهِ مُحَمَّدٍ صُحْبَةٌ.[2]

ترجمه: د جرهد اسلمي رضي الله عنهما نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ورون دپټيولو ځيز دي.
امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند حسن غريب دي، او په دي باب کي دعلي او محمد بن عبدالله بن جحش رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي او عبدالله بن جحش او دده ځوي محمد دواړه صحابيان دي.

****

۴۱_بَاب مَا جَاءَ فِي النَّظَافَةِ
دپاکوالي بيان

۲۷۹۹_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ الْعَقَدِيُّ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ إِلْيَاسَ، وَيُقَالُ ابْنُ إِيَاسٍ، عَنْ صَالِحِ بْنِ أَبِي حَسَّانَ، قَالَ: سَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ، يَقُولُ: "إِنَّ اللَّهَ طَيِّبٌ يُحِبُّ

[1] _ انظر حديث رقم ۲۷۹۵

[2] _ انظر حديث رقم ۲۷۹۵

الطَّيِّبَ، نَظِيفٌ يُحِبُّ النَّظَافَةَ، كَرِيمٌ يُحِبُّ الْكَرَمَ، جَوَادٌ يُحِبُّ الْجُودَ، فَنَظِّفُوا، أُرَاهُ قَالَ: أَفْنِيَتَكُمْ وَلَا تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ". قَالَ: فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِمُهَاجِرِ بْنِ مِسْمَارٍ فَقَالَ: حَدَّثَنِيهِ عَامِرُ بْنُ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: "نَظِّفُوا أَفْنِيَتَكُمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَخَالِدُ بْنُ إِلْيَاسَ يُضَعَّفُ، وَيُقَالُ ابْنُ إِيَاسٍ. (1)

ترجمه : دصالح بن ابي حسان قول دي فرمائي چې ما دسعيد بن مسيب نه اوريدلي دي وئيل يي چې الله تعالي پاك دي او پاكي كول خوښوي الله تعالي مهربان دي او مهرباني كول خوښوي او الله تعالي سخي دي اوسخاوت كول خوښوي پس تاسو دصفائي زيات خيال ساتئ (زما خيال دي چې هغه اووئيل دخپلو كورونو صحنونه او دكورونو مخوته ځايونه پاك ساتئ او ديهودوسره مشابهت مه اختياروئ (صالح وائي) ما مهاجر بن مسمار ته ددي روايت ذكر اوكړو نو هغه اووئيل ماته دا روايت عامر بن سعد دخپل پلار سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي مگر د مهاجر په روايت كي "نظفوا افنيتكم" الفاظ راغلي دي.

****

٤٢_بَابُ مَا جَاءَ فِي الِاسْتِتَارِ عِنْدَ الْجِمَاعِ

د جماع وخت كي د پردي كولو بيان

٢٨٠٠_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ نَيْزَكَ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا الْأَسْوَدُ بْنُ عَامِرٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُحَيَّاةَ، عَنْ لَيْثٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِيَّاكُمْ وَالتَّعَرِّيَ، فَإِنَّ مَعَكُمْ مَنْ لَا يُفَارِقُكُمْ إِلَّا عِنْدَ الْغَائِطِ، وَحِينَ يُفْضِي الرَّجُلُ إِلَى أَهْلِهِ فَاسْتَحْيُوهُمْ وَأَكْرِمُوهُمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَأَبُو مُحَيَّاةَ اسْمُهُ يَحْيَى بْنُ يَعْلَى. (2)

ترجمه :ابن عمر رضي الله عنهما راوي دى رسول الله صلىٰ الله عليه وسلم فرمائيلي دي:خبردار د ځان بربنډولو نه ځانونه وساتئ، يقينا ستاسو سره هغه څوك هر وخت موجود وي څوك چې ستاسو نه نه جدا كيږي، مگر د اودس ماتولو په وخت كي، اوپه هغه وخت كي كله

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٨٩٣)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٣١٨)

چې يو كس خپلې ښځې ته نژدې كيږي، پس ددوئ(يعني فرشتو) نه شرم وكړئ او ددوئ عزت وكړئ.

امام ترمذي وايي: دا حديث غريب دي، او مونږ يې صرف په همدې سند پيژنو

****

٤٣_باب مَا جَاءَ فِي دُخُولِ الْحَمَّامِ

غسل خانې ته د داخليدو بيان

٢٨٠١_حَدَّثَنَا الْقَاسِمُ بْنُ دِينَارٍ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا مُصْعَبُ بْنُ الْمِقْدَامِ، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ لَيْثِ بْنِ أَبِي سُلَيْمٍ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يَدْخُلِ الْحَمَّامَ بِغَيْرِ إِزَارٍ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يُدْخِلْ حَلِيلَتَهُ الْحَمَّامَ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يَجْلِسْ عَلَى مَائِدَةٍ يُدَارُ عَلَيْهَا بِالْخَمْرِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ طَاوُسٍ، عَنْ جَابِرٍ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، لَيْثُ بْنُ أَبِي سُلَيْمٍ صَدُوقٌ، وَرُبَّمَا يَهِمُ فِي الشَّيْءِ، قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، وَقَالَ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، لَيْثٌ لَا يُفْرَحُ بِحَدِيثِهِ، كَانَ لَيْثٌ يَرْفَعُ أَشْيَاءَ لَا يَرْفَعُهَا غَيْرُهُ فَلِذَلِكَ ضَعَّفُوهُ.[1]

ترجمه : دجابر رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چې په الله تعالي او په ورځ دقيامت ايمان لري نو هغه دي دلنګ اچولو نه بغير غسل خانې ته نه داخليږي، او څوك چې په الله او په ورځ داخرت ايمان لري هغه دي خپله ښځه حمامونو ته نه ليږي (بعضي ښارونو كې نارينه او زنانه حمامونو كې غسل كوي) هغه ورته مراد دي) او څوك چې په الله او په ورځ داخرت ايمان لري هغه دي په داسې دسترخوان شركت نه كوي په كوم چې شراب ګرځولې شي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي او مونږ يې صرف په همدې سند پيژنو، د امام بخاري قول دي ليث بن ابي سليم صدوق دي مګر اكثرو وختونو كې په وهم كې مبتلا كيږي امام بخاري داحمد بن حنبل قول نقل كړي دي چې دليث په حديث زړه مه خوشالوې ليث به بعضې داسې حديثونه مرفوع كول كوم چې به نورو خلقو مرفوع نه بيانول او په همدې وجوهاتو اهل علمو دده تضعيف كړي دي.

---

[1] ـ سنن النسائي/الغسل ٢ (٤٠١) (بعضه) (تحفة الأشراف : ٢٢٨٣) ، و مسند احمد (٣/٣٣٩)

****

٢٨٠٢_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَدَّادٍ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي عُذْرَةَ، وَكَانَ قَدْ أَدْرَكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " نَهَى الرِّجَالَ وَالنِّسَاءَ عَنِ الْحَمَّامَاتِ ثُمَّ رَخَّصَ لِلرِّجَالِ فِي الْمَيَازِرِ ".
قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لاَ نَعْرِفُهُ، إِلاَّ مِنْ حَدِيثِ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ وَإِسْنَادُهُ لَيْسَ بِذَاكَ الْقَائِمِ. ([1])

تخريج : سنن ابي داود/ الحمام ١ (٤٠٠٩) ، سنن ابن ماجه/الأدب ٣٨ (٣٧٤٩) (تحفة الأشراف : ١٧٧٩٨) ، و مسند احمد (٦/١٣٩)

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم سړو او ښځو لره په حمامونو(عمومي غسل خانو) کي دغسل کولو نه منع کړي دي مګر بيا يي سړو ته دجانګي اغوستلو نه پس اجازت ورکړي دي.
امام ترمذي وايي: داحديث مونږ صرف دحماد بن سلمه په روايت پيژنو او سند يي څه خاص مضبوط نه دي.

****

٢٨٠٣_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلاَنَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ، عَنْ مَنْصُورٍ، قَالَ: سَمِعْتُ سَالِمَ بْنَ أَبِي الْجَعْدِ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِي الْمَلِيحِ الْهُذَلِيِّ، أَنَّ نِسَاءً مِنْ أَهْلِ حِمْصَ، أَوْ مِنْ أَهْلِ الشَّامِ دَخَلْنَ عَلَى عَائِشَةَ، فَقَالَتْ: أَنْتُنَّ اللاَّتِي يَدْخُلْنَ نِسَاؤُكُنَّ الْحَمَّامَاتِ، سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: " مَا مِنَ امْرَأَةٍ تَضَعُ ثِيَابَهَا فِي غَيْرِ بَيْتِ زَوْجِهَا إِلاَّ هَتَكَتِ السِّتْرَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ رَبِّهَا ".
قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. ([2])

ترجمه : ابو مليح هذلي نه مروي دي چې داهل حمص يا اهل شام بعضي ښځي دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها په خوا کي تيري شوي نو هغوئ ته يي اوونيل تاسو خو هم هغه ښځي يئ کومي چې په حمامونو کي غسل کوي؟ ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي کومه ښځه چې دخپل خاوند دکور نه علاوه خپلي جامي په کوم بل ځاي کي اوباسي نو دا ښځه

---

1 ـ تفرد به المؤلف رحمه الله تعالي.

2 ـ سنن ابي داود/ الحمام ١ (٤٠١٠) ، سنن ابن ماجه/الأدب ٣٨ (٣٧٥٠) (تحفة الأشراف : ١٧٨٠٤) ، و مسند احمد (٦/١٩٩) . وسنن الدارمي/الاستئذان ٢٣ (٢٦٩٣)

دخپل خان اودخپل رب په مينځ کي حجاب او پرده پورته کوي يعني ختموي يي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي.

****

٤٤_بَاب مَا جَاءَ أَنَّ الْمَلَائِكَةَ لَا تَدْخُلُ بَيْتًا فِيهِ صُورَةٌ وَلَا كَلْبٌ

فرشتي داسي كورته نه داخليږي په كوم كي چې تصوير ياسپي موجود وي

٢٨٠٤_حَدَّثَنَا سَلَمَةُ بْنُ شَبِيبٍ، وَالْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، وعبد بن حميد، وغير واحد، واللفظ للحسن بن علي، قَالُوا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ، أَنَّهُ سَمِعَ ابْنَ عَبَّاسٍ، يَقُولُ: سَمِعْتُ أَبَا طَلْحَةَ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلَا صُورَةُ تَمَاثِيلَ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دابوطلحه رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كوم كور كي چې سپي يا تصوير يابتان وي درحمت فرشتي ورته نه ورننوزي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

لغات : كلب: الكلب هر ماتونكي ځناور ته ويلي شي لكه سپي ، جمع يي كلاب راځي او جمع الجمع يي اكالب او كلابات، ده .

تشريح: داسي كورونو ته فرشتي نه ورځي په كومو كې چې سپى يا تصوير موجود وي، دا حكم د هغه سپي دى دكوم چې ساتل حرام دي او دكومو سپو دساتلو چې اجازت شته هغه په دي كې داخل نه دي، مثلا ښكاري سپى يا دځاروو دحفاظت دپاره دداسي سپو ساتل دفرشتو دپاره ركاوټ نه جوړيږي.

او دتصوير نه مراد هغه تصوير دى دكوم ساتل او استعمالول چې حرام دي او كه داسي تصوير وي چې بالكل وړوكى وي يا دغير ذي روح څيز تصوير وي نو دداسي تصوير موجودګي هم دفرشتو دپاره ركاوټ نه دى، ليكن بعضي علماء وائي چې دا حكم عام دى هر قسم سپي او

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /بدء الخلق ٧ (٣٢٢٥، ٣٢٢٦)، و١٧ (٣٣٢٢). سنن ابى داود/ المغازي ١٢ (٤٠٠٢)، واللباس ٨٨ (٥٩٤٩)، و ٥٢ (٥٩٥٨). صحيح مسلم/اللباس ٢٦ (٢١٠٦). سنن ابى داود/ اللباس ٣٨ (٤١٥٣). سنن النسائى/الصيد والذبائح ١١ (٤٢٨٧)، والزينة ١١١ (٥٣٤٩). سنن ابن ماجه/اللباس ٤٤ (٣٦٤٩) (تحفة الأشراف: ٣٧٧٩)، و مسند احمد (٢٨/٤)

تصویر ته شامل دی برابره خبره ده چې په کورکې يې دساتلو اجازت وي او که نه
دفرشتونه هغه فرشتې مراد دي کومې چې دانسانانو داعمالو ليکونکې او حفاظت کونکې نه
وي ځکه چې عمل ليکونکې فرشتې خو په هر حال کې دانسان سره موجودې دي.

****

٢٨٠٥_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، أَنَّ رَافِعَ بْنَ إِسْحَاقَ أَخْبَرَهُ، قَالَ: دَخَلْتُ أَنَا وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي طَلْحَةَ عَلَى أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ نَعُودُهُ، فَقَالَ أَبُو سَعِيدٍ أَخْبَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ: "الْمَلَائِكَةَ لَا تَدْخُلُ بَيْتًا فِيهِ تَمَاثِيلُ أَوْ صُورَةٌ"، شَكَّ إِسْحَاقُ لَا يَدْرِي أَيُّهُمَا قَالَ: قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي فرمائيل يې چې رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته خبر راکړي دي چې فرشتې داسې کورونو ته نه داخليږي په کوم کې چې مجسمې يا تصويرونه موجود وي (په دې حديث کې داسحاق راوي شك دې چې دده استاذ تماثيل لفظ وئيلي دي او که صورة لفظ يې وئيلي دي).
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٨٠٦_حَدَّثَنَا سُوَيْدٌ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا يُونُسُ بْنُ أَبِي إِسْحَاقَ، حَدَّثَنَا مُجَاهِدٌ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَتَانِي جِبْرِيلُ فَقَالَ: إِنِّي كُنْتُ أَتَيْتُكَ الْبَارِحَةَ، فَلَمْ يَمْنَعْنِي أَنْ أَكُونَ دَخَلْتُ عَلَيْكَ الْبَيْتَ الَّذِي كُنْتَ فِيهِ إِلَّا أَنَّهُ كَانَ فِي بَابِ الْبَيْتِ تِمْثَالُ الرِّجَالِ، وَكَانَ فِي الْبَيْتِ قِرَامُ سِتْرٍ فِيهِ تَمَاثِيلُ، وَكَانَ فِي الْبَيْتِ كَلْبٌ، فَمُرْ بِرَأْسِ التِّمْثَالِ الَّذِي بِالْبَابِ فَلْيُقْطَعْ، فَلْيُصَيَّرْ كَهَيْئَةِ الشَّجَرَةِ، وَمُرْ بِالسِّتْرِ فَلْيُقْطَعْ، وَيُجْعَلْ مِنْهُ وِسَادَتَيْنِ مُنْتَبَذَتَيْنِ يُوطَآنِ، وَمُرْ بِالْكَلْبِ فَيُخْرَجْ، فَفَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَكَانَ ذَلِكَ الْكَلْبُ جَرْوًا لِلْحَسَنِ أَوِ الْحُسَيْنِ تَحْتَ نَضَدٍ لَهُ فَأَمَرَ بِهِ فَأُخْرِجَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ

---

1 ـ تفرد به المؤلف رحمه الله تعالى

حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَائِشَةَ، وَأَبِي طَلْحَةَ. (١)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي جبرائيل عليه السلام ماته راغلو او ويي وئيل زه بيګا شپه تاته راغلي وم ليکن زه ستا کور ته دراتلو نه دي خبري منع کړم چې ته په کوم کور کي موجود يي دهغه کور په دروازه دسړو تصويرونه وو او دکور په پردو باندي هم تصويرونه نقش شوي وو او په دغه کور کي سپي هم وو، نو ته داسي اوکړه چې د دروازي سره دتصويرونو نه سرونه لري کړه چې دوني پشان پاتي شي او پردي اوشلوه او دوه تکيه ګاني ورنه جوړي کړه ددي دپاره چې استعمال شي او سپي دکور نه اوزغلوه چې لاړ شي، نورسول الله صلي الله عليه وسلم همداسي اوکړل او دغه سپي يو کوتري وو چې حسن يا حسين ساتلي وو کوم چې به درسول الله صلي الله عليه وسلم دکټ لاندي يا دسامانونو لاندي پروت وو چنانچې رسول الله دده دشړلو حکم اوکړو او دا اوشړلي شو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دعائشه او ابوطلحه رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

****

٤٥ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ لُبْسِ الْمُعَصْفَرِ لِلرَّجُلِ وَالْقَسِّيِّ

دسړو دپاره دزيړو جامو او دريشمي جامو داستعمال دمما نعت بيان

٢٨٠٧ـ حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، أَخْبَرَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ أَبِي يَحْيَى، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: "مَرَّ رَجُلٌ وَعَلَيْهِ ثَوْبَانِ أَحْمَرَانِ فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمْ يَرُدَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهِ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَمَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ، أَنَّهُمْ كَرِهُوا لُبْسَ الْمُعَصْفَرِ، وَرَأَوْا أَنَّ مَا صُبِغَ بِالْحُمْرَةِ بِالْمَدَرِ، أَوْ غَيْرِ ذَلِكَ فَلَا بَأْسَ بِهِ إِذَا لَمْ يَكُنْ مُعَصْفَرًا. (٢)

ترجمه : دعبدالله بن عمررضي الله عنهما بيان دي چې يو کس دسور رنګ دوه جامي اغوستلي وي او تير شو او رسول الله صلي الله عليه وسلم ته يي سلام اوکړو نو رسول الله ورته

---

1 ـ سنن ابي داود/ اللباس ٤٨ (٤١٥٨) . سنن النسائي/الزينة ١١٥ (٥٣٨٠) (تحفة الأشراف : ١٢٣٤٥) . و مسند احمد (٢/٣٠٥، ٣٠٨، ٣٤٨)

2 ـ سنن ابي داود/ اللباس ٢٠ (٤٠٦٩) (تحفة الأشراف : ٨٩١٨)

دسلام جواب ورنکړو.

امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند حسن غريب دي او ددينه مراد داهل علمو په نزد په زيړ رنګ کي رنګ کړي شوي جامي دي چې هغوئ ددي اغوستل مکروه ګڼړي او کومه جامه چې په سور رنګ رنګ کړي شي دهغي په اغوستلو کي څه حرج نشته

****

٢٨٠٨ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ هُبَيْرَةَ بْنِ يَرِيمَ، قَالَ: قَالَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ خَاتَمِ الذَّهَبِ، وَعَنِ القَسِّيِّ، وَعَنِ المِيثَرَةِ، وَعَنِ الجِعَةِ"، قَالَ أَبُو الأَحْوَصِ: وَهُوَ شَرَابٌ يُتَّخَذُ بِمِصْرَ مِنَ الشَّعِيرِ، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دعلي بن ابي طالب رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دسرو زرو دګوتمي اغوستلو نه او دريشمي جامي اغوستلو نه او دريشمي زين استعمالولو نه او دمصري شرابو داستعمال نه ممانعت فرمائيلي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

لغات: مياثر، دالف نه مخکي "ي" ده او دوريسي "ث" ده د ميثره جمع ده او دا يو څيز دی چې دوريښمو دټوکي نه جوړولی شي او پکي مالوچ يابل پوست شي اچولی شي او داس يا اوښ په زين کيښوی شي چې سور ورباندي کيني.

اوقسي يوټوکی دی چې دوريښمو او تار دواړو نه جوړيږي ,يعني تنسته يابوده يو تاريی ريښتم وي او يو مالوچ.

****

٢٨٠٨ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، قَالاَ: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الأَشْعَثِ بْنِ سُلَيْمٍ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ سُوَيْدِ بْنِ مُقَرِّنٍ، عَنِ البَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: " أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَبْعٍ، وَنَهَانَا عَنْ سَبْعٍ. أَمَرَنَا: بِاتِّبَاعِ الجَنَازَةِ، وَعِيَادَةِ المَرِيضِ، وَتَشْمِيتِ العَاطِسِ، وَإِجَابَةِ الدَّاعِي، وَنَصْرِ المَظْلُومِ، وَإِبْرَارِ القَسَمِ، وَرَدِّ السَّلاَمِ، وَنَهَانَا عَنْ سَبْعٍ: عَنْ خَاتَمِ الذَّهَبِ، أَوْ حَلْقَةِ الذَّهَبِ، وَآنِيَةِ الفِضَّةِ، وَلُبْسِ الحَرِيرِ، وَالدِّيبَاجِ،

---

[1] ـ انظر حديث رقم ٢٦٣ (تحفة الأشراف : ١٠٣٠٢)

وَالْإِسْتَبْرَقِ، وَالْقَسِّيِّ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَشْعَثُ بْنُ سُلَيْمٍ هُوَ أَشْعَثُ بْنُ أَبِي الشَّعْثَاءِ، وَأَبُو الشَّعْثَاءِ اسْمُهُ سُلَيْمُ بْنُ الْأَسْوَدِ. ([1])

ترجمه: دابو عماره البراء بن عازب رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته داوو کارونو دکولو حکم کړی دی او دا اوو کارونو نه يې منع کړي يو مونږ ته يې حکم کړی دی: ١جنازي سره تلل. ٢ د مريض تپوس کول٣.پرنجي کونکي ته يرحمك الله وئيل (که هغه الحمد لله اووائي). ۴. دعوت قبلول ۵ دمظلوم امداد کول ٦. قسم پوره کول ٧ او په هر مسلمان سلام اچول

او ددي کارونو نه يې منع کړي يو:

١، دسرو زرو ګوتي اچول. ٢، دچاندئ په لوښي کې اوبه څکل.٣او په زين سرى ريشمى ګدى اچول.۴، اودقسي نومي ټوکي اغوستل (چې ريښمو اوتارمکس په جوړيدو).

۵، او دوريښمو استعمال. ٦، او دا طلس.٧، او بياټوکي اغوستل (کوم چې به دسوچې ريښمو نه جوړيدو) او په يو روايت کې ړومبو اووکې دي او دورك څيز اعلان کول (يعني داعلان حکم يې راته کړی وو).

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دی، اود اشعث بن سليم پوره نوم داسي دی: اشعث بن ابي الشعثاء، اود ابو الشعثاء نوم سليم بن اسود دی.

لغات: مياثر، دالف نه مخکي "ي" ده او دوړيسي "ث" ده د ميثره جمع ده او دا يو څيز دی چې دوريښمو دټوکي نه جوړولی شي او پکې مالوچ يابل پوست شی اچولی شي او داس يا اوښ په زين کيښوی شي چې سور ورباندي کيني.

اوقسي يوټوکی دی چې دوريښمو او تار دواړو نه جوړيږي (يعني تنسته يابوده يو تاري ريښتم وي او يو مالوچ.

انشاد الضاله، يعني دورك څيزاعلان کول.

تشريح: "ابرار المقسم" دقسم کونکي قسم پوره کول ددي مطلب دادی که چري چا په چا باندي اعتماد اوکړو او په الله يي ورته قسم ورکړو چې دا کار به نه کوي نو ته به دهغه اعتماد نه مجروح کوي ددغه کار دکولو يانه کولو په باره کې به دهغه قسم پوره کوی خو په دي شرط چې حرام نه وي او ددي کار تعلق دمباحاتو يا مکارم اخلاق سروي.

"نصر المظلوم" يعني دمظلوم مدد کول مطلب دادی چرته چې په چا باندي ظلم کيږي يادچا

---

[1] _ انظر حديث رقم ١٨٦٠

بې عزتي كيږي نو پدغه وخت كې دهغه مدد كول ضروري دي دمعاذ بن انس الجهني رضي الله عنه بيان دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچې كوم مومن لره دمنافق دظلم نه بچ كړو نو الله تعالي به يوه فرشته مقرر كړي چې دقيامت په ورځ به ده لره دجهنم نه بچ كوي.

"نهانا عن خواتيم" يعني رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ دسرو زرو دګوتي استعمالولو نه منع كړي يو مطلب دادی چې سره زر او ريښم استعمالول په سړو باندي حرام دي او دښځو دپاره حلال دي لكه چې يو ځل رسول الله صلي الله عليه وسلم پخپل يو لاس كې دريښم يوه ټكره او په بل لاس كې دسرو زرو يو څيز نيولی وو او ويې فرمائيل خبردار دا دواړه څيزونه زما دامت په نارينوو باندي حرام دي او دښځو دپاره حلال دي ځكه چې اسلام دسړو دپاره دنسوانيت او سينګار څيزونه استعمالول حرام كړي دي.

****

٤٦_بَاب مَا جَاءَ فِي لُبْسِ الْبَيَاضِ

دسپينو جاموا غوستلو فضيلت

٢٨١٠_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ مَيْمُونِ بْنِ أَبِي شَبِيبٍ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْبَسُوا الْبَيَاضَ فَإِنَّهَا أَطْهَرُ، وَأَطْيَبُ، وَكَفِّنُوا فِيهَا مَوْتَاكُمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَابْنِ عُمَرَ. [1]

ترجمه: دسمره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي سپيني جامې اغوندئ ځكه چې دا پاكې او ښكلي دي او مړي ته كفن سپين وركوئ.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دابن عباس او ابن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

لغات: البياض: سپينوالي، ياسپين رنګ، تبييض سپينول، بيضا هګۍ ته وئيلي شي صفت مذكر يي بائض راځي او صفت مونث يي بائضة او جمع يي بوائض راځي.

تشريح: علامه قطب الدين دمشكوة شارح ليكلي دي چې سليم الطبع خلق دسپينو جامو اغوستلو ته زيات رغبت كوي.

---

[1] ـ سنن ابن ماجه/اللباس ٥ (٣٥٦٧) (تحفة الأشراف: ٣٦٣٥)

كفنوا فيها موتاكم، يعني خپلو مړو ته هم سپين كفنونه وركوئ ځكه چې مړي په دغه وخت كې دفرشتو په مجلس كې حاضري ځوي اومجلسونو اومحفلونو ته په سپينو جاموكې تلل مستحب اوافضل دي

****

٤٧_بَابُ مَا جَاءَ فِي الرُّخْصَةِ فِي لُبْسِ الْحُمْرَةِ لِلرِّجَالِ

دسړو دپاره دسور لباس اغوستلو داجازت بيان

٢٨١١_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا عَبْثَرُ بْنُ الْقَاسِمِ، عَنِ الأَشْعَثِ وَهُوَ ابْنُ سَوَّارٍ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: "رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي لَيْلَةٍ إِضْحِيَانٍ، فَجَعَلْتُ أَنْظُرُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِلَى الْقَمَرِ وَعَلَيْهِ حُلَّةٌ حَمْرَاءُ فَإِذَا هُوَ عِنْدِي أَحْسَنُ مِنَ الْقَمَرِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ الأَشْعَثِ.[1]

ترجمه : جابر بن سمره رضي الله عنه راوي دي فرمائي چې ما په يو انتهائي روښانه شپه كې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوليدو او بيا مي ورته مسلسل كتل او سپوږمۍ ته به مي هم كتل (مادا معلوموله چې په دوئ دواړو كي كوم يو زيات ښائسته دي) اورسول الله په دي وخت كي سور لباس اغوستلي وو او هغه ماته دسپوږمۍ نه زيات ښائسته ښكاريدو

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي او مونږ يي صرف داشعث په روايت پيژنو

تشريح: حلة حمراء ، يعني سره جوړه دلته دا سوال واردېږي چې شريعت خو دسړو دپاره سور رنګ استعمالول منع كړي دى لكه دعمران بن حصين رضي الله عنه په حديث كې چې دا ارشاد نبوي دى چې يو ځل يو كس سري جامي اغوستلي وي اورسول الله صلي الله عليه وسلم ته يي سلام اوكړو نورسول الله ورته دسلام جواب ورنكړو ، يوځل رسول الله دصحابي په جسم سري جامي اوليدي اوويې فرمائيل داد كفارو لباس دى دا به نه اغوندئ

علامه ابن قيم ددي په جواب كې ليكلي دي په كومو روايتونو كې چې درسول الله په باره كې دسرو ياشنو جامو ذكر راغلى دى هلته مراد پوره سري اوشني جامي نه دي بلكه كرخو والا جامي مراد دي، همدا رنګي ابن حجر ليكلي دي يمني څادرونه به مكمل رنګين نه وو بلكه رنګيني كرخي به پكې وي

****

---

[1] _ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف : ٢٢٠٨)

وَرَوَى شُعْبَةُ، وَالثَّوْرِيُّ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: "رَأَيْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُلَّةً حَمْرَاءَ"، حَدَّثَنَا بِذَلِكَ مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ. [1]

ترجمه : دبراء بن عازب رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې ما رسول الله صلي الله عليه وسلم په داسي حال کي اوليدو چې سره جوړه يي اغوستلي وه ، محمود بن غيلان هم دوکيع نه او هغه دسفيان نه او هغه دابي اسحاق نه ددي په مثل روايت نقل کړي دي.

****

وَحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ بِهَذَا، وَفِي الْحَدِيثِ كَلَامٌ أَكْثَرُ مِنْ هَذَا، قَالَ: سَأَلْتُ مُحَمَّدًا، قُلْتُ لَهُ: حَدِيثُ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْبَرَاءِ أَصَحُّ، أَوْ حَدِيثُ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ؟ فَرَأَى كِلَا الْحَدِيثَيْنِ صَحِيحًا، وَفِي الْبَابِ، عَنِ الْبَرَاءِ، وَأَبِي جُحَيْفَةَ. [2]

ترجمه : شعبه هم دابو اسحاق نه دا روايت نقل کړي دي او په دي حديث محدثينو کلام کړي دي، امام ترمذي وائي ما دامام بخاري نه دي حديث باره کي تپوس اوکړو چې حديث دابو اسحاق دبراء نه اصح دي او که حديث دجابر بن سمره؟ نو هغه اووئيل دواړه صحيح دي. او په دي باب کي دبراء بن عازب او ابو جحيفه رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

****

٤٨_بَاب مَا جَاءَ فِي الثَّوْبِ الأَخْضَرِ

دشنو جامو اغوستلو بيان

٢٨١٢_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ إِيَادِ بْنِ لَقِيطٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي رِمْثَةَ، قَالَ: "رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ بُرْدَانِ أَخْضَرَانِ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ إِيَادٍ، وَأَبُو رِمْثَةَ

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ٢٢٠٨)

[2] ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ٢٢٠٨)

التَّيْمِيُّ يُقَالُ اسْمُهُ حَبِيبُ بْنُ حَيَّانَ، وَيُقَالُ اسْمُهُ رِفَاعَةُ بْنُ يَثْرِبِيٍّ. ([1])

ترجمه : ابو رمثه راوي دي فرمائي چې مارسول الله صلي الله عليه وسلم په داسي حال کي اوليدو چې په دوه شنو څادرونو کي ملبوس وو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي او مونږ دا نه پيژنو مګر صرف دعبيدالله بن ياد په روايت او دابورمثه نوم حبيب بن حيام دي او وئيلي شوي دي چې دده نوم رفاعه يثربي دي.

دابو رمثه رفاعه تيمي رضي الله عنه حالات:

نوم رفاعه کنيه ابو رمثه قبيله بني تميم غالبا چې فتح مکي نه پس مسلمان شوى دى ددين باره کي دده دسوال په وجه رسول الله ده لره په کرسۍ کينولو او ددين ضروري تعليم يې ورکړو (مسلم).

په ابو رفاعه کي د جهاد جذبه وه نو دا دعا به يي ډيره کوله چې اى الله ماته داسي مرګ راکړې کوم چې به دنورو خلقو دپاره قابل درشك وي (طبقات ابن سعد).

او بيا اوشول همداسي کله چې په ۴۴هجري کي په کابل حمله کيدله نو په سجستان کي يې توله شپه عبادت اوکړو په سحر کي ورباندي لږ شان پرکالي راغله فوج ورنه مخکي تير شو او دى اوده پاتي شو نو په همدي حالت کي دشمن ده لره يواخي اوموندو او ذبح يي کړو (طبقات ابن سعد).

يو څه روايات ورنه منقول دي چې په تعداد کي يي دعلماؤ اختلاف دى.

****

٤٩_ بَاب مَا جَاءَ فِي الثَّوْبِ الأَسْوَدِ

دتورو جامو اغوستلو بيان

٢٨١٣_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ، أَخْبَرَنِي أَبِي، عَنْ مُصْعَبِ بْنِ شَيْبَةَ، عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: " خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ غَدَاةٍ وَعَلَيْهِ مِرْطٌ مِنْ شَعَرٍ أَسْوَدَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه : عائشى رضي الله عنها نه روايت دى چې يو سحر رسول الله صلي الله عليه وسلم

---

[1] _ سنن ابي داود/ اللباس ١٩ (٤٠٦٥). والترجل ١٨ (٤٢٠٦). سنن النسائي/العيدين ٢٦ (١٥٧١). والزينة ٩٦ (٥٣٢٣) (تحفة الأشراف: ١٢٠٣٦). ومسند احمد (٢/٢٢٦، ٢٢٧، ٢٢٨). و (٤/١٦٣)

[2] _ صحيح مسلم/اللباس ٦ (٢٠٨١). وفضائل الصحابة ٩ "٢٤٢٤" (تحفة الأشراف: ١٧٨٥٤). ومسند احمد (٦/١٦٢)

دکوره اووتو او هغوئ دتوری ورئ څادر پسر کړی وو.

لغات: "المرط" دمیم په زیرڅادر "المرحل" هغه شی چې وربانډی دکجاوی تصویر وي

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دي.

****

٥٠_باب مَا جَاءَ فِي الثَّوْبِ الأَصْفَرِ

دزیړو جامواغوستلوبیان.

٢٨١٤_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عَفَّانُ بْنُ مُسْلِمٍ الصَّفَّارُ أَبُو عُثْمَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ حَسَّانَ، أَنَّهُ حَدَّثَتْهُ جَدَّتَاهُ صَفِيَّةُ بِنْتُ عُلَيْبَةَ، وَدُحَيْبَةُ بِنْتُ عُلَيْبَةَ حَدَّثَتَاهُ، عَنْ قَيْلَةَ بِنْتِ مَخْرَمَةَ، وَكَانَتَا رَبِيبَتَيْهَا، وَقَيْلَةُ جَدَّةُ أَبِيهِمَا أُمُّ أُمِّهِ، أَنَّهَا قَالَتْ: " قَدِمْنَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَتِ الْحَدِيثَ بِطُولِهِ حَتَّى جَاءَ رَجُلٌ وَقَدِ ارْتَفَعَتِ الشَّمْسُ. فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " وَعَلَيْكَ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللَّهِ، وَعَلَيْهِ تَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْمَالُ مُلَيَّتَيْنِ كَانَتَا بِزَعْفَرَانٍ وَقَدْ نَفَضَتَا، وَمَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَسِيبُ نَخْلَةٍ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ قَيْلَةَ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حَسَّانَ.[1]

ترجمه: قيله بنت مخرمه رضي الله عنها وائي مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شو او بيا يي يو اوږد حديث بيان كړو (په دي كي داسي دي) دغه وخت كي يو كس راغلو چي نمر راختلو او وئيل يي السلا عليك يارسول الله نو رسول الله اوفرمائيل وعليك السلام ورحمة الله او دغه وخت درسول الله جسم په دوه زړو جامو پټ وو او په زعفران رنګ شوي وي او دډير استعمال په وجه يي رنګ پيكه شوي وو او درسول الله صلي الله عليه وسلم سره دكجوري يو خاښ وو.

امام ترمذي وايي: د قيله حديث مونږ صرف دعبدالله بن حسان په سند پيژنو.

****

٥١_باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ التَّزَعْفُرِ وَالْخَلُوقِ لِلرِّجَالِ

دزعفران او خلوق استعمال دسړو دپاره مکروه دي

٢٨١٥_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، قَالَ: . ح وَحَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ

---

[1] ـ سنن ابي داود/ الخراج والإمارة ٣٦ (٣٠٧٠) (تحفة الأشراف : ١٨٠٤٧)

الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ التَّزَعْفُرِ لِلرِّجَالِ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دسړو دپاره په زعفران د ملبوساتو رنګ كولو نه ممانعت فرمائيلي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

وَرَوَى شُعْبَةُ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ إِسْمَاعِيلَ ابْنِ عُلَيَّةَ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ التَّزَعْفُرِ، حَدَّثَنَا بِذَلِكَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، حَدَّثَنَا آدَمُ، عَنْ شُعْبَةَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَمَعْنَى كَرَاهِيَةِ التَّزَعْفُرِ لِلرِّجَالِ أَنْ يَتَزَعْفَرَ الرَّجُلُ يَعْنِي أَنْ يَتَطَيَّبَ بِهِ.[2]

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دسړو دپاره په زعفران د ملبوساتو رنګ كولو نه ممانعت فرمائيلي دي.

امام ترمذي وايي: عبدالله بن عبدالرحمن هم د ادم نه او هغه دشعبه نه داروايت مونږ ته بيان كړي دي، امام ترمذي وائي دسړو دپاره دزعفران دكراهت معني داده چې څوك په زعفران باندې جامه خوشبوئه كړي.

****

٢٨١٦ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا حَفْصِ بْنَ عُمَرَ يُحَدِّثُ، عَنْ يَعْلَى بْنِ مُرَّةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبْصَرَ رَجُلًا مُتَخَلِّقًا، قَالَ: "اذْهَبْ فَاغْسِلْهُ ثُمَّ اغْسِلْهُ ثُمَّ لَا تَعُدْ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدِ اخْتَلَفَ بَعْضُهُمْ فِي هَذَا الْإِسْنَادِ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، قَالَ عَلِيٌّ، قَالَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ: مَنْ سَمِعَ

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /اللباس ٣٢ (٥٨٤٦) . صحيح مسلم/اللباس ٢٣ (٢١٠١) . سنن ابی داود/ الترجل٨ (٤١٧٩) . سنن النسائي/الحج ٤٣ (٢٧٠٧) . وا الزينة ٧٣ (٥٢٥٨) (تحفة الأشراف : ١٠١١)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /اللباس ٣٢ (٥٨٤٦) . صحيح مسلم/اللباس ٢٣ (٢١٠١) . سنن ابی داود/ الترجل٨ (٤١٧٩) . سنن النسائي/الحج ٤٣ (٢٧٠٧) . وا الزينة ٧٣ (٥٢٥٨) (تحفة الأشراف : ١٠١١)

مِنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ قَدِيمًا فَسَمَاعُهُ صَحِيحٌ، وَسَمَاعُ شُعْبَةَ، وَسُفْيَانَ مِنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ صَحِيحٌ، إِلَّا حَدِيثَيْنِ عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ زَاذَانَ. قَالَ شُعْبَةُ: سَمِعْتُهُمَا مِنْهُ بِآخِرَةٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: يُقَالُ إِنَّ عَطَاءَ بْنَ السَّائِبِ كَانَ فِي آخِرِ أَمْرِهِ قَدْ سَاءَ حِفْظُهُ. وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَمَّارٍ، وَأَبِي مُوسَى، وَأَنَسٍ، وَأَبُو حَفْصٍ هُوَ أَبُو حَفْصِ بْنُ عُمَرَ. (١)

ترجمه : ديعلي بن مره رضي الله عنه نه مروي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم يو كس اوليدو چې خلوق يي استعمال كړي وو او ورته يي اوفرمائيل لاړ شه او دا اووينځه، او بيا يي اووينځه، او بيا يي هيڅ كله مه لګوه.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي، بعضي راويانو داحديث دعطاء بن سائب نه نقل كړي دي او راويانو ددي حديث په اسناد كي اختلاف كړي دي، علي بن مديني وائي ديحي بن سعيد قول دي چاچې دعطاء بن سائب نه دهغه په زندګئ كي په سابقه زمانه كي اوريدل كړي دي نو ددوئ سماع به صحيح وي نو دشعبه او سفيان ثوري سماع دعطاء بن سائب نه صحيح ده مګر هغه احاديث كوم چې دعطاء نه د زاذان په واسطه مروي دي دا صحيح نه دي . شعبه وائي ما دا دواړه احاديث دعطاء نه دهغه په اخري عمر كي اوريدلي دي او دا حديث دهغوئ دجملي نه نه دي، وئيلي شوي دي چې دعطاء بن سائب حافظه اخري عمر كي خرابه شوي ده، په دي باب كي دعمار، ابو موسي، او انس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

تخريج: سنن النسائي/الزينة ٣٤ (٥١٢٤) (تحفة الأشراف : ١١٨٤٩)، و مسند احمد (١٧١/٤، ١٧٣)

****

٥٢_باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الْحَرِيرِ وَالدِّيبَاجِ

دسرو دپاره دريښمو او ريښمو نه جوړ شوو جامو داستعمال دحرمت بيان

٢٨١٧_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا إِسْحَاق بْنُ يُوسُفَ الْأَزْرَقُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ أَبِي سُلَيْمَانَ، حَدَّثَنِي مَوْلَى أَسْمَاءَ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: سَمِعْتُ عُمَرَ يَذْكُرُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ لَبِسَ الْحَرِيرَ فِي الدُّنْيَا لَمْ يَلْبَسْهُ فِي الْآخِرَةِ". وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَلِيٍّ، وَحُذَيْفَةَ، وَأَنَسٍ، وَغَيْرِ وَاحِدٍ، وَقَدْ ذَكَرْنَاهُ فِي كِتَابِ اللِّبَاسِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، قَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنْ أَبِي عُمَرَ، وَمَوْلَى أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ اسْمُهُ عَبْدُ اللَّهِ وَيُكْنَى أَبَا عَمْرٍو،

وَقَدْ رَوَى عَنْهُ عَطَاءُ بْنُ أَبِي رَبَاحٍ، وَعَمْرُو بْنُ دِينَارٍ. ([1])

ترجمه: دانس رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچې دنيا کې ريښم اغوستل اخرت کې به يې نه اغوندي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دی او دا حديث په يو څو سندونو داسماء بنت ابي بکر دازاد کړي غلام ابوعمرو نه هم مروي دي دده نوم عبدالله او کنيه ابي عمرو ده دده نه عطاء بن ابي رباح او عمرو بن دينار نقل دروايت کړي دي، او په دې باب کې دعلي، حذيفه. او انس رضي الله عنهم او بعضي نورو راويانو نه هم احاديث وارد دي چې ذکر يې مونږ په کتاب اللباس کې کړي دي.

لغات: الخلاق: دخير يوه لويه حصه، لا خلاق له اي لا نصيب له. خلق دنصر او ضرب او کرم نه خلوقة اوخلقا الثوب معني دجامې زړيدل او نرم کيدل دي، خلق الغلام، ديو غلام نيک اخلاقو والا کيدل دي الخلق مصدر په معني دفطرت.

تشريح: په دې حديث کې هم سړو ته خطاب دی چې ددوئ دپاره دريښمو استعمال حرام دی په دې وجه پکار دي چې داغوستلو نه يې اجتناب اوکړي علماؤ ددې دپاره متعدد وجوهات فرمائيلي دي مثلا په ريښمو کې دزينت وصف دی او دا دښځو سره پکار وو دسړو وصف شجاعت اوبهادري ده، دويم بعضي علماء وائي دريشمي لباس دحراموالي وجه غرور اوتکبر دی اوبعضو په نزد دمشرکينو سره مشابهت دی وغيره.

****

٥٣_ بَابٌ مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٢٨١٨_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "قَسَمَ أَقْبِيَةً، وَلَمْ يُعْطِ مَخْرَمَةَ شَيْئًا". فَقَالَ مَخْرَمَةُ: يَا بُنَيَّ، انْطَلِقْ بِنَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَانْطَلَقْتُ مَعَهُ، قَالَ: ادْخُلْ فَادْعُهُ لِي، فَدَعَوْتُهُ لَهُ. فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ قِبَاءٌ مِنْهَا. فَقَالَ: "خَبَأْتُ لَكَ هَذَا". قَالَ: فَنَظَرَ إِلَيْهِ، فَقَالَ: "رَضِيَ مَخْرَمَةُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ اسْمُهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ

---

[1] _ مسلم/اللباس١(٢٠٦٩)، واحمد(٣٠/١، ٢٦، ٣٦، ٣٩)، وابي داود/ الصلاة٢١٩(١٠٧٦)، واللباس١٠(٤٠٣٠)، النسائي/الجمعة ١١(١٣٨٣)، والزينة ٨٣(٥١٦١)، ابن ماجه/اللباس١٦(٣٥٩١)، والموطاء: اللباس٨(١٨)، ومسند احمد(٢/٣٠، ٣٩، ٣٩)

بْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ. (1)

ترجمه : دمسور بن مخرمه بيان دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم يو ځل يو څو چغي تقسيم كړي او مخرمه ته يي په دي كي هيڅ ورنكړل مخرمه اووئيل اي ځويه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته مي بوځه ابن ابي مليكه وائي چې زه دده سره ورغلم پلار راته اووئيل چې دته ورشه او رسول الله زما دپاره راوغواړه چنانچې درسول الله دبهر راويستلو دپاره زه دته ورغلم رسول الله صلي الله عليه وسلم په داسي حال كي راووتلو چې دتقسيم شوو قباګانو دجملي نه يي يوه قبه په لاس كي وه او بيا يي اوفرمائيل دا ما ستا دپاره ساتلي ده مسور وائي چې مخرمه رسول الله ته اوكتل او وئيل يي مخرمه په دي باندي راضي او خوشحاله دي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او دابن ابي مليكه نوم عبدالله بن عبيدالله بن ابي مليكه دي.

****

٥٤_بَاب مَا جَاءَ إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى يُحِبُّ أَنْ يُرَى أَثَرُ نِعْمَتِهِ عَلَى عَبْدِهِ

الله تعالي يخپل بنده باندي دخپل نعمت ليدل او ښكاره كيدل خوښوي

٢٨١٩_حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ الزَّعْفَرَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَفَّانُ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ أَنْ يَرَى أَثَرَ نِعْمَتِهِ عَلَى عَبْدِهِ ". وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ، عَنْ أَبِيهِ، وَعِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (2)

ترجمه : عمرو بن شعيب دخپل پلار نه او هغه يي دنيكه نه روايت كوي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي بيشكه الله تعالي دا خبره خوښوي چې يواثر يانښه اوعلامه دنعمت خپل په بنده خپل باندي اويني ، (ددينه د اهم معلومه شوه چې مالدار به بخل او كنجوسي هم نه كوي بلكه ښكاره كوي به).

امام ترمذي وايي: دعبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله

---

1 ـ اورده البخاري في الصحيح /الهبة ١٩ (٢٥٩٩) . والشهادات ١١ (٢٦٥٧) . والخمس ١١ (٣١٢٧) . واللباس ١٢ (٥٨٠٠) . و ٤٢ (٥٨٦٢) . والأدب ٨٢ (٦١٣٢) . صحيح مسلم /الزكاة ٤٤ (١٠٥٨) . سنن ابي داود/ اللباس ٤ (٤٠٢٨) . سنن النسائي/الزينة ٩٩ (٥٣٢٦) (تحفة الأشراف : ١١٢٦٨)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٨٦٦٣)

عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي پخپل بنده باندي دخپل نعمت اثر ښکاريدل خوښوي
امام ترمذي وائي داحديث حسن دي په دي باب كي دابو الاحوص دپلار، عمران بن حصين او
ابن مسعود رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

لغات: الاثر: نشان، حديث، سنت، موده، جمع يي اثار او اثور راځي، تاثروا منه يعني اثر يي ورنه قبول كړو.

تشريح: كله چې الله تعالي انسان ته دنياوي نعمتونه وركړي دي نو هغه لره يي استعمالول هم پكار دي مگر ددي په استعمال كې دي مبالغه نه كوي ترڅو چې دنعمت دكفران موجب اونه گرځي اوچاته چې الله تعالي څه نعمتونه وركړي وي هغه دي دخلقو په وړاندي ددي اظهار كوي ددي دپاره چې خلق ورنه فائده واخلي.

****

٥٥_ باب مَا جَاءَ فِي الْخُفِّ الأَسْوَدِ

دتورو موزو اغوستلو بيان

٢٨٢٠_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ دَلْهَمِ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ حُجَيْرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، "أَنَّ النَّجَاشِيَّ أَهْدَى إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُفَّيْنِ أَسْوَدَيْنِ سَاذَجَيْنِ، فَلَبِسَهُمَا ثُمَّ تَوَضَّأَ وَمَسَحَ عَلَيْهِمَا". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ دَلْهَمٍ، وَقَدْ رَوَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ رَبِيعَةَ، عَنْ دَلْهَمٍ. [1]

ترجمه: دبريده رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې نجاشي (دحبشي بادشاه) رسول الله صلي الله عليه وسلم ته دوه توري موزي راليږلي وي رسول الله صلي الله عليه وسلم واغوستلي او اودس يي اوكړو او په دي دواړو موزو يي مسح اوكړه.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي او مونږ يي صرف د دلهم په روايت پيژنو چې محمد بن ربيعه د دلهم نه نقل كړي دي.

****

٥٦_ باب مَا جَاءَ فِي النَّهْيِ عَنْ نَتْفِ الشَّيْبِ

---

[1] _ سنن ابي داود/ الطهارة ٥٩ (١٥٥). سنن ابن ماجه/ الطهارة ٨٣ (٥٤٩)، واللباس ٣١ (٣٦٢٠) (تحفة الأشراف: ١٩٥٦). و مسند احمد (٥/٣٥٢)

دبوډاوالي دسپینو ویختو دویستلو دمما نعت بیان

۲۸۲۱_حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نَهَى عَنْ نَتْفِ الشَّيْبِ، وَقَالَ: إِنَّهُ نُورُ الْمُسْلِمِ"، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ قَدْ رُوِيَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَارِثِ، وَغَيْرِ وَاحِدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ. (1)

ترجمه : عمرو بن شعیب رضي الله عنه دخپل پلار نه او هغه یی دنیکه نه روایت کوي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي ، سپین ویښته مه اوباسئ دا دقیامت په ورځ دمسلمانانو نور دی.

امام ترمذي وايي: داحدیث حسن دي عبدالرحمن بن حارث دبعضي نورو راویانو داحدیث دعمرو بن شعیب په واسطه نقل کړي دي.

لغات : سلم سلامة وسلاما دسمع نه نجات موندل او بري کیدل، سلمه وسلم علیه السلام علیکم ویل، سلم بالامر راضي کیدل، الیه فرمانبردار کیدل، اسلم اسلام اختیارول، بیع سلم کول، العدو دشمن پریخودل، امره الي الله ته خپله معامله سپارل، اسلمتُ وسلمت کله چې تاسو څوک پریږدئ، کله چې درته ضرر رسوي، تسلم مسلمانیدل، الشيء قبضه کول، منه بیزاره کیدل.

تشریح : فانه نور المسلم: سپین ویخته مه اوباسئ دابه دقیامت په ورځ دمسلمان نور وي په حدیث کې راځي چې دټولو نه مخکې دابراهیم علیه السلام ویخته سپین شوي وو کله چې هغه خپل ویخته سپین اولیدل نو په تعجب سره یي تپوس اوکړو چې ای پروردګاره دا څه دي الله تعالي اوفرمائیل دا ستا وقار دی ابراهیم علیه السلام عرض اوکړو ای الله که دا زما دپاره وقار وي نو نور یي هم زیات کړي علماء وائي چې دقیامت په ورځ به دحشر په میدان کې سخته تیاره وي او هلته به دیو څو څیزونو نه رڼا حاصلیږي چې په هغې به انسان جنت ته تلی شي. دپورتني حدیث نه معلومه شوه چې سپین ویخته ویستل مکروه دي

****

۵۷_بَاب إِنَّ الْمُسْتَشَارَ مُؤْتَمَنٌ

1 _ سنن ابی داود/ الطهارة ۵۹ (۱۵۵) . سنن ابن ماجه/الطهارة ۸۴ (۵۴۹) . واللباس ۳۱ (۳۶۲۰) (تحفة الأشراف : ۱۹۵۶) . و مسند احمد (۵/۲۵۲)

دچا نه چې مشوره غوښتلې شي هغه اما نتدار کيدل پکار دي

۲۸۲۲_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا شَيْبَانُ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الْمُسْتَشَارُ مُؤْتَمَنٌ "، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ شَيْبَانَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ النَّحْوِيِّ، وَشَيْبَانُ هُوَ صَاحِبُ كِتَابٍ وَهُوَ صَحِيحُ الْحَدِيثِ وَيُكْنَى أَبَا مُعَاوِيَةَ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الْجَبَّارِ بْنُ الْعَلَاءِ الْعَطَّارُ، عَنْ سُفْيَانَ بْنِ عُيَيْنَةَ، قَالَ: قَالَ عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عُمَيْرٍ: إِنِّي لَأُحَدِّثُ الْحَدِيثَ فَمَا أَدَعُ مِنْهُ حَرْفًا. [1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دمستشار (چانه چې مشوره غوښتلې شي) دپاره امين کيدل پکار دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي ، متعددو راويانو دشيبان بن عبدالرحمن نحوي نه نقل کړي دي او شيبان صاحب کتاب او صحيح الحديث دي دده کنيه ابومعاويه ده مونږ ته عبدالجبار بن يعلي دعطاء نه بيان کړي دي او هغه دسفيان بن عيينه نه چې وئيل يې عبدالملک بن عمير قول دي کله چې زه حديث بيانوم نو ددې حديث يو يو لفظ (يعني پوره حديث بيانوم).

****

۲۸۲۳_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ أَبِي عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ ابْنِ جُدْعَانَ، عَنْ جَدَّتِهِ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الْمُسْتَشَارُ مُؤْتَمَنٌ ". وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ أُمِّ سَلَمَةَ. [2]

ترجمه : دابن جدعان نيا ام سلمه رضي الله عنها په واسطه دا فرمان نبوي نقل کوي چې دچانه مشوره غوښتلې کيږي هغه امين کيدل پکار دي.

امام ترمذي وايي: او په دې باب کې دابن مسعود او ابوهريره او ابن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او دا حديث دابو سلمه په سند غريب دي.

****

---

1 _ انظر حديث رقم ۲۳۶۰

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۱۸۲۹۹)

٥٨_باب مَا جَاءَ فِي الشُّؤْمِ

د نحوست او سپیره والي بیان

٢٨٢٤_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، وَحَمْزَةَ، ابني عبد الله بن عمر، عَنْ أَبِيهِمَا، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الشُّؤْمُ فِي ثَلَاثَةٍ: فِي الْمَرْأَةِ، وَالْمَسْكَنِ، وَالدَّابَّةِ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَبَعْضُ أَصْحَابِ الزُّهْرِيِّ لَا يَذْكُرُونَ فِيهِ عَنْ حَمْزَةَ، إِنَّمَا يَقُولُونَ عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

وَهَكَذَا رَوَى لَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ سُفْيَانَ بْنِ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، وَحَمْزَةَ، ابْنَيْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ أَبِيهِمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [1]

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي نحوست او سپيره والي په دري څيزونو كي وي (١) په ښځه كي (٢) په كور كي (٣) په څاروي (آس) كي.

امام ترمذي وايي: داحديث صحيح دي دزهري بعضي شاګردانو ددي حديث په سند كي حمزه راوي نه دي ذكر كړي بلكه عن سالم عن ابيه عن النبي صلي الله عليه وسلم سند يي ذكر كړي دي.

تشريح: بعضي علماء وائي چې په دي دري څيزونو كې نحوست ظاهرا ښكاري ليكن حقيقتا پكي نه وي.

دكور نحوست دا وي چې تنګ وي يايي ګاونډ صحيح نه وي يا دا چې اب و هوا يي موافق نه وي.

داس نحوست دادی چې سركشه او شرير وي خوراك ډير كوي او مزل كم كوي په قيمت كې زيات وي او په كار كې سست وي او دمالك دضرورتونو پوره كونكى نه وي.

دښځي نحوست دادی چې ژبه وره وي يا بي حيا او بدكاره وي يا دخاوند نافرماني كونكي وي په شكل هم بدرنګه وي نو ددي ټولو خرابيانو په وجه منحوسه ګڼړلی شوي ده او مطلقا ددي منحوس ګڼړل په شريعت كې جائز نه دي.

---

[1] ـ اورده البخاري في الصحيح /الجهاد ٤٧ (٢٨٥٨)، والنكاح ١٧ (٥٠٩٣، ٥٠٩٤)، والطب ٤٣ (٥٧٥٣)، مسلم/السلام ٣٤ (٢٢٥٥)، النسائي/الخيل ٥ (٣٥٧١)، (تحفة الأشراف: ٦٦٩٩، ٦٨٢٦)، موطا امام مالک/الاستئذان ٨ (٢٢)، و مسند احمد (١٢٦،١١٥،٣٦،٢/٨)

****

حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمَخْزُومِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِهِ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ حَمْزَةَ، وَرِوَايَةُ سَعِيدٍ أَصَحُّ. لِأَنَّ عَلِيَّ بْنَ الْمَدِينِيِّ، وَالْحُمَيْدِيَّ رَوَيَا عَنْ سُفْيَانَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، وَذَكَرَا عَنْ سُفْيَانَ، قَالَ: لَمْ يَرْوِ لَنَا الزُّهْرِيُّ هَذَا الْحَدِيثَ إِلَّا عَنْ سَالِمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ. وَرَوَى مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، وَقَالَ: عَنْ سَالِمٍ، وَحَمْزَةَ ابْنَيْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ أَبِيهِمَا. وَفِي الْبَابِ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، وَعَائِشَةَ، وَأَنَسٍ، وَقَدْ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "إِنْ كَانَ الشُّؤْمُ فِي شَيْءٍ فَفِي الْمَرْأَةِ وَالدَّابَّةِ وَالْمَسْكَنِ".(١)

ترجمه : سالم دخپل پلار په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي او په سند كي يي سعيد بن عبدالرحمن نه دي ذكر كړي چې دحمزه نه يي نقل كوي، مگر دسعيد روايت زيات صحيح دي ځكه چې علي بن مديني او حميدي دسفيان نه روايت نقل كوي او سفيان دزهري نه او زهري دسالم نه او سالم دخپل پلار نه دواړو پخپل سند كي عن سفيان ذكر كړي دي راوي وائي چې مونږ ته زهري دا حديث دسالم نه علاوه په بل سند نه دي ذكر كړي چې دابن عمر نه يي نقل كولو مالك بن انس دا حديث دزهري نه نقل كړي دي او هغه دسالم او حمزه چې دابن عمر ځامن دي نه نقل كړي دي او هغوئ دخپل پلار نه نقل كړي دي .

امام ترمذي وايي: او په دي باب كي دسهل بن سعد ، عائشه، انس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، او درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مروي دي چې فرمائيل يي يو بل ته مرض لگيدل او بدفالي (دڅه شي سپيره گنړل) نشته او كه سپيره كيدل دڅه شي وي نو په كور كي ښځه او په اس كې به وو.

****

وَقَدْ رُوِيَ عَنْ حَكِيمِ بْنِ مُعَاوِيَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لَا شُؤْمَ، وَقَدْ يَكُونُ الْيُمْنُ فِي الدَّارِ، وَالْمَرْأَةِ، وَالْفَرَسِ". حَدَّثَنَا بِذَلِكَ عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ سُلَيْمٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ جَابِرٍ الطَّائِيِّ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ

عَنْهِ حَكِيمِ بْنِ مُعَاوِيَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا. ([1])

ترجمه : دحکیم بن معاویه رضي الله عنه بیان دي فرمائي چې مادرسول الله صلي الله علیه وسلم نه اوریدلي دي په اسلام کي دنحوست او سپیره والي هیڅ حقیقت نشته البته کله کله په کور کي او په ښځه کي او په اس کي برکت وي

* * * * * * * * * * * * * * * * *

٥٩_ باب مَا جَاءَ لَا يَتَنَاجَى اثْنَانِ دُونَ ثَالِثٍ

کله چې دري کسان یو ځاي کي موجود وي نو په دوئ کي دي دوه کسان د دریم داجازت نه بغیر خپل مینځ کي پوس پوسي نه کوي

٢٨٢٥_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ. ح قَالَ: وَحَدَّثَنِي ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ شَقِيقٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا كُنْتُمْ ثَلَاثَةً، فَلَا يَتَنَاجَى اثْنَانِ دُونَ صَاحِبِهِمَا، وَقَالَ سُفْيَانُ فِي حَدِيثِهِ: لَا يَتَنَاجَى اثْنَانِ دُونَ الثَّالِثِ فَإِنَّ ذَلِكَ يُحْزِنُهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "لَا يَتَنَاجَى اثْنَانِ دُونَ وَاحِدٍ، فَإِنَّ ذَلِكَ يُؤْذِي الْمُؤْمِنَ، وَاللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ يَكْرَهُ أَذَى الْمُؤْمِنِ". وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. ([2])

ترجمه : ابن مسعود رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي څوك چې درى كسان وي نو دوه كسان دي د دریم داجازت نه بغير خاتته پټې خبرى نه کوي سفيان پخپل حديث كي وائي دوه كسان دي ددريم داجازت نه بغیر پخپل مینځ کي ګنګوسي نه کوي ځکه چې دا دي دریم کس لره خفه کوي.

امام ترمذي وايي: داحدیث حسن صحیح دي دارنګي دا مضمون هم درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مروي دي چې فرمائيل يي چې دوه کسان دي د دریم داجازت نه بغیر پټي خبري نه کوي ځکه چې دا مومن ته تکلیف رسوي او الله تعالي يو مومن ته تکلیف رسیدل بد ګنړي او په دي

[1] ـ سنن ابن ماجه/النكاح ٥٥ (١٩٩٣) (تحفة الأشراف: ٣٢٣٩)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الاستئذان ٤٥ (٦٢٨٨)، و ٤٧ (٦٢٩٠). صحيح مسلم/السلام ١٥ (٢١٨٣). سنن ابي داود/الأدب ٢٩ (٤٨٥١). سنن ابن ماجه/الأدب ٥٠ (٣٧٧٥) (تحفة الأشراف: ٩٢٥٣). والموطاء: السلام ٦ (١٣). و مسند احمد (١/٤٢٥)

باب کي دابن عمر او ابوهريره او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم روايتونه وارد دي.

لغات: دون: معني کم لکه هو دونه يعني هغه دده نه په مرتبه کې کم دي او مشي دونه يعني هغه دده نه سست رفتار وکړو. من دون ان يفعل. بغير دکولو نه. دون معني کم او حقير لکه شيء دون، او کله کله دشريف په معني راځي لکه حال القوم دون فلان. يعني قوم دفلاني اودهغه دمطلوب په مينځ کې حائل شو.

تشريح: په پورتني حديث کې د مجلس د ادابو بيان دی. ددينه معلومه شوه چې ديو نه دزياتو کسانو په موجودګئ کې دوه دوه کسان پخپل مينځ کې پټې پټې خبري کولی شي البته که ځلور کسان وي او دري کسان وي او دوه کسان پخپل مينځ کې پټې پټې خبري شروع کړي او يو لره همداسي پريږدي نو جائز نه دي ددي دناجائز کيدو وجه داده چې کوم کس يې پريخی وي نو هغه به په غم او شك کې مبتلا وي او دا ګمان به کوي کيدی شي چې دوئ زما خلاف منسوبه جوړوي.

دابحث خود جائز جرګي په باره کي وو او که جرګه دشر دپاره وي نو بلکل ناجائز ده اګرکه هر څومره کسان وي لکه چې ارشاد الهي دي:

يا ايها الذين امنوا اذا تناجيتم فلا تناجوا بالاثم والعدوان ومعصية الرسول.

يعني اي مومنانو کله چې جرګي کوئ نودرسول په خلاف جرګي مه کوئ.

****

٦٠_بَابُ مَا جَاءَ فِي الْعِدَةِ

دوعدي او معاهدي بيان

٢٨٢٦_حَدَّثَنَا وَاصِلُ بْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ، عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ، قَالَ: "رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبْيَضَ قَدْ شَابَ، وَكَانَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ يُشْبِهُهُ، وَأَمَرَ لَنَا بِثَلَاثَةَ عَشَرَ قَلُوصًا، فَذَهَبْنَا نَقْبِضُهَا فَأَتَانَا مَوْتُهُ فَلَمْ يُعْطُونَا شَيْئًا، فَلَمَّا قَامَ أَبُو بَكْرٍ قَالَ: مَنْ كَانَتْ لَهُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِدَةٌ فَلْيَجِئْ، فَقُمْتُ إِلَيْهِ فَأَخْبَرْتُهُ فَأَمَرَ لَنَا بِهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رَوَى مَرْوَانُ بْنُ مُعَاوِيَةَ هَذَا الْحَدِيثَ بِإِسْنَادٍ لَهُ، عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ، نَحْوَ هَذَا وَقَدْ رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ: عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ، قَالَ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ يُشْبِهُهُ، وَلَمْ يَزِيدُوا عَلَى هَذَا. (١)

[1] اورده البخاري في الصحيح/المناقب ٢٣ (٣٥٤٤). مسلم/الفضائل ٢٩ (٢٣٤٣)

ترجمه : دابو جحيفه رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم مي سپين او ځوان ليدلي وو چې بيا ورباندي بوډاوالي راغي، حسن بن علي رضي الله عنه په شکل او صورت کي د هغه سره مشابه وو، او رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته د ديارلسو اوښانو اداء کولو حکم صادرکړي وو. او مونږ دهغوئ دراوستلو دپاره تلي وو چې يو دم درسول الله صلي الله عليه وسلم دوفات کيدو خبر راغلو چنانچې هغوئ بيا مونږ ته هيڅ رانکړل، بيا چې کله ابوبکر رضي الله عنه دخلافت ذمه واري په لاس کي اونيوله نوهغه اعلان اوکړو که درسول الله صلي الله عليه وسلم سره دچا کومه وعده يا معاهده وي نو هغوئ دي مونږ ته راشي، چنانچې زه اودريدم او دابوبکر خواته ورغلم او درسول الله صلي الله عليه وسلم دحکم نه مي خبر کړو، نوابوبکر زمونږ باره خپلو عاملينو ته داوښانو اداء کولو حکم اوکړو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي، مروان بن معاويه داحديث پخپل سند دابوجحيفه په واسطه ددي هم معني نقل کړي دي، اوبعضي نورو راويانو هم داسماعيل بن ابوخالد په واسطه دابوجحيفه نه نقل کړي دي دوئ پخپل روايت کي وائي مانبي کريم صلي الله عليه وسلم ليدلي وو چې دحسن بن علي رضي الله عنه سره مشابه وو او هغه ددينه نور زيات څه بيان نکړل.

****

٢٨٢٧_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو جُحَيْفَةَ، قَالَ: "رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ يُشْبِهُهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَكَذَا رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ، نَحْوَ هَذَا. وَفِي الْبَابِ، عَنْ جَابِرٍ. وَأَبُو جُحَيْفَةَ اسْمُهُ وَهْبٌ السُّوَائِيُّ. (1)

ترجمه : د ابو جحيفه بيان دي مارسول الله صلي الله عليه وسلم ليدلي دي چې دحسن بن علي رضي الله عنه سره مشابه دي

امام ترمذي وايي: دارنګي يو بل راوي هم داسماعيل بن ابو خالد نه ددي هم معني روايت نقل کړي دي ، او په دي باب کي دجابر رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي او دابو جحيفه نوم وهب سوائي دي.

****

٦١_باب مَا جَاءَ فِي فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي

1_ اورده البخاري في الصحيح/المناقب ٢٣ (٣٥٤٣). مسلم/الفضائل ٢٩ (٢٣٤٣)

د"فداك ابي وامي" وئيلو بيان

۲۸۲۸_حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعِيدٍ الْجَوْهَرِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: "مَا سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَمَعَ أَبَوَيْهِ لِأَحَدٍ غَيْرَ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ".[1]

ترجمه : دعلي رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې مانبي كريم صلي الله عليه وسلم دسعد بن ابي وقاص رضي الله عنه نه علاوه دبل چا دپاره نه دي ليدلي چې خپل مور او پلار يي دهغه دپاره جمع كړي وي.

****

۲۸۲۹_حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّارُ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ ابْنِ جُدْعَانَ، وَيَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، سَمِعَا سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ، يَقُولُ: قَالَ عَلِيٌّ: "مَا جَمَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَاهُ وَأُمَّهُ لِأَحَدٍ إِلَّا لِسَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، قَالَ لَهُ يَوْمَ أُحُدٍ: ارْمِ فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي، وَقَالَ لَهُ: ارْمِ أَيُّهَا الْغُلَامُ الْحَزَوَّرُ" وَفِي الْبَابِ، عَنِ الزُّبَيْرِ، وَجَابِرٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ عَلِيٍّ.[2]

ترجمه : دسعيد بن مسيب بيان دي چې علي رضي الله عنه اوفرمائيل رسول الله صلي الله عليه وسلم خپل مور پلار دسعد بن ابي وقاص رضي الله عنه نه علاوه د بل چا دپاره جمع كړي نه دي دجنګ احد په ورځ يي ورته اووئيل غشيْ اوله زما مور او پلار دي دربانډي قربان شي او دا يي ورته هم اووئيل اي بهادر او قوي ځوانه غشي ويشتل جاري اوساته.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي، داحديث دعلي رضي الله عنه نه په ډيرو سندونو مروي دي او دا حديث متعددو راويانو ديحي بن سعيد نه او هغه دسعيد بن مسيب نه او هغه دسعد بن وقاص رضي الله عنه نه نقل كړي دي وئيل يي چې دجنګ احد په ورځ رسول الله صلي الله عليه وسلم خپل مور او پلار دواړه زما دپاره جمع كړل او ويي فرمائيل غشي اوله زما مور او پلار دي په تاقربان شي، په دي باب كي دزبير او جابر رضي الله عنهما

---

[1] _ اورده البخاري في الصحيح /الجهاد ۸۰ (۲۹۰۵) . والمغازي ۱۸ (۴۰۵۸، ۴۰۵۹) . مسلم/ فضائل الصحابة ۵۱ (۲۴۱۱) . سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ۷۷ (۱۹۰-۱۹۳) . سنن ابن ماجه/المقدمة ۱۱ (۱۲۹) . وانظر رقم ۲۸۳۰ (تحفة الأشراف : ۱۰۱۱۶)

[2] _ اورده البخاري في الصحيح /الجهاد ۸۰ (۲۹۰۵) . والمغازي ۱۸ (۴۰۵۸، ۴۰۵۹) . مسلم/ فضائل الصحابة ۵۱ (۲۴۱۱) . سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ۷۷ (۱۹۰-۱۹۳) . سنن ابن ماجه/المقدمة ۱۱ (۱۲۹) . وانظر رقم ۲۸۳۰ (تحفة الأشراف : ۱۰۱۱۶)

نه هم احاديث وارد دي.

****

٢٨٣٠_وَقَدْ رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، قَالَ: " جَمَعَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَوَيْهِ يَوْمَ أُحُدٍ، قَالَ: ارْمِ فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي "، حَدَّثَنَا بِذَلِكَ قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، وَعَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، قَالَ: " جَمَعَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَوَيْهِ يَوْمَ أُحُدٍ "، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَكِلَا الْحَدِيثَيْنِ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه : دَسعد بن ابي وقاص رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دجنګ احد په ورځ زما دپاره په "فداك ابي وامي" وئيلو سره خپل مور او پلار دواړه جمع کړل.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٦٢_بَاب مَا جَاءَ فِي يَا بُنَيَّ

چاته دشفقت په وجه ''يابني'' (اي بچيه) وئيلو بيان

٢٨٣١_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي الشَّوَارِبِ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو عُثْمَانَ شَيْخٌ لَهُ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ: "يَا بُنَيَّ"، وَفِي الْبَابِ، عَنِ الْمُغِيرَةِ، وَعُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ عَنْ أَنَسٍ، وَأَبُو عُثْمَانَ هَذَا شَيْخٌ ثِقَةٌ، وَهُوَ الْجَعْدُ بْنُ عُثْمَانَ وَيُقَالُ ابْنُ دِينَارٍ وَهُوَ بَصْرِيٌّ، وَقَدْ رَوَى عَنْهُ يُونُسُ بْنُ عُبَيْدٍ، وَشُعْبَةُ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الْأَئِمَّةِ. ([2])

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم ماته يابني اووئيل يعني اي بچيه.

امام ترمذي وايي: دا حديث په دي سند حسن صحيح غريب دي، او ددي حديث نه علاوه په

---

[1] _ اورده البخاري في الصحيح /فضائل الصحابة ١٥ (٣٧٢٥) . والمغازي ١٨ (٤٠٥٧) . مسلم /فضائل الصحابة ٥١ (٢٤١٢) . سنن ابن ماجه /المقدمة ١١ (١٣٠) (تحفة الأشراف : ٣٨٥٤)

[2] _ مسلم /الآداب ٦ (٢١٥١) . ابي داود/ الأدب ٧٣ (٤٩٦٤) . واحمد (٣/٢٨٥)

نورو سندونو هم دا حديث دانس رضي الله عنه نه مروي دي او ابو عثمان يو ثقه شيخ دي دده نوم جعد بن عثمان دي او ابن دينار ورته هم وئيلي شي اودبصري اوسيدونكي دي چې يونس بن عبيد او نورو راويانو ورنه نقل دروايت كړي دي، او په دي باب كي دمغيره او عمر بن ابي سلمه نه هم احاديث وارد دي.

****

٦٣_بَابُ مَا جَاءَ فِي تَعْجِيلِ اسْمِ الْمَوْلُودِ

په نوي پيداشوي ماشوم دزر نوم ايخودلو بيان

٢٨٣٢_حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، حَدَّثَنِي عَمِّي يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَمَرَ بِتَسْمِيَةِ الْمَوْلُودِ يَوْمَ سَابِعِهِ وَوَضْعِ الْأَذَى عَنْهُ وَالْعَقِّ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. ([1])

ترجمه: دعبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه نه روايت ذي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم په اومه ورځ په نوي ماشوم دنوم ايخودلو او دده په عقيقي كولو حكم كړي دي امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

تخريج: تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٤٩٠)

****

٦٤_بَابُ مَا جَاءَ مَا يُسْتَحَبُّ مِنَ الْأَسْمَاءِ

دبهترين نومونو بيان

٢٨٣٣_حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْأَسْوَدِ أَبُو عَمْرٍو الْوَرَّاقُ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا مُعَمَّرُ بْنُ سُلَيْمَانَ الرَّقِّيُّ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ صَالِحٍ الْمَكِّيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُثْمَانَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَحَبُّ الْأَسْمَاءِ إِلَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ عَبْدُ اللَّهِ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ". قَالَ أَبُو عِيسَى:

---

[1] _ صحيح مسلم/الآداب١ (٢١٣٢)، سنن ابن ماجه/الأدب٣٠ (٣٧٢٨) (تحفة الأشراف: ٧٧٢٠)، وحا (٢/٢٤، ٢٨، ١٢٨)، وسنن الدارمي/الاستئذان٦٠ (٢٧٣٧)

هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. ([1])

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دالله تعالي په نزد په ټولو نومونو كي غوره نومونه عبدالله او عبدالرحمن دي.
امام ترمذي وايي: په دي سند دا حديث غريب دي.

****

٢٨٣٤_حَدَّثَنَا عُقْبَةُ بْنُ مُكْرَمٍ الْعَمِّيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ الْعُمَرِيِّ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ أَحَبَّ الْأَسْمَاءِ إِلَى اللَّهِ عَبْدُ اللَّهِ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ" هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ. ([2])

ترجمه : نافع دابن عمر رضي الله عنهما په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دا فرمان نقل كوي چي يقينا بهتر په نومونو كي الله تعالي ته عبدالله او عبدالرحمن دي.
امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند حسن غريب دي.

****

٦٥_بَاب مَا يُكْرَهُ مِنَ الْأَسْمَاءِ

دناكاره او ناخوښه نومونو بيان

٢٨٣٥_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَأَنْهَيَنَّ أَنْ يُسَمَّى رَافِعٌ، وَبَرَكَةُ، وَيَسَارٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، هَكَذَا رَوَاهُ أَبُو أَحْمَدَ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، عَنْ عُمَرَ، وَرَوَاهُ غَيْرُهُ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو أَحْمَدَ ثِقَةٌ حَافِظٌ، وَالْمَشْهُورُ عِنْدَ النَّاسِ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَيْسَ فِيهِ عَنْ عُمَرَ. ([3])

---

[1] _ انظر ماقبله (تحفة الأشراف: ٧٧٢١)

[2] _ سنن ابن ماجه/الأدب ٣١ (مسلم/الآدب ٢ (٢١٣٨) (تحفة الأشراف: ١٠٢٢٣)

[3] _ صحيح مسلم/الآداب ٢ (٢١٣٧). سنن ابي داود/ الأدب ٧٠ (٤٩٥٨، ٤٩٥٩). سنن ابن ماجه/الأدب ٣١ (٣٧٣٠) (تحفة الأشراف: ٤٦١٢). وسنن الدارمي/الاستئذان ٦١ (٢٧٣٨)

ترجمه : دعمر بن الخطاب رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كه الله تعالي زه ژوندي پريخودم نو د رافع او بركت او يسار نومونو ايخودلو نه به خلق منع كوم

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي، دا رنګي دا روايت ابو احمد دسفيان نه او هغه دابو زبير نه او هغه دجابر نه او هغه دعمر رضي الله عنه نه هم نقل كړي دي، او دابو احمد نه علاوه سفيان دابو زبير نه او هغه دجابر نه او جابر درسول الله صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي، او ابو احمد ثقه او حافظ دي په خلقو كي دا حديث عن جابر عن النبي صلي الله عليه وسلم مشهور دي او په دي حديث كي عن عمر واسطي ذكر نشته.

****

٢٨٣٦ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ هِلَالِ بْنِ يَسَافٍ، عَنِ الرَّبِيعِ بْنِ عُمَيْلَةَ الْفَزَارِيِّ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " لَا تُسَمِّ غُلَامَكَ رَبَاحٌ وَلَا أَفْلَحُ وَلَا يَسَارٌ وَلَا نَجِيحٌ "، يُقَالُ: أَثَمَّ هُوَ ؟ فَيُقَالُ: " لَا "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دسمره بن جندب رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي تاسو پخپلو هلكانو باندي رباح، افلح، يسار، او نجيح نومونه مه ايږدئ او دا ځكه كه تپوس اوكړي شي چې ايا هغه دلته دي نو اوبه وئيلي شي چې نشته.

****

٢٨٣٧ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَيْمُونٍ الْمَكِّيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " أَخْنَعُ اسْمٍ عِنْدَ اللَّهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ رَجُلٌ تَسَمَّى بِمَلِكِ الْأَمْلَاكِ "، قَالَ سُفْيَانُ: شَاهَانْ شَاهْ، وَأَخْنَعُ يَعْنِي أَقْبَحُ. هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دالله تعالي په نزد ډير دشرم قابل دى هغه سړى چې نوم يې ملك الملوك وي.

---

[1] ـ تفرد به المؤلف رحمه الله في السنن الجامع.

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الأدب ١١٤ (٦٢٠٥) . صحيح مسلم /الآداب ٤ (٢١٤٣) . سنن ابي داود/ الأدب ٧٠ (٤٩٦١) (تحفة الأشراف : ١٣٦٧٢) . و مسند احمد (٢/٢٤٤)

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

لغات: ملك: الملك مصدر دي بادشاه ته ويلي شي جمع يي ملوك او املاك او ملك الاملاك دي.

تشريح: راوي سفيان بن عيينه رضي الله عنه فرمائي ملك الملوك دشهنشاه په معنى دى يعني دبادشاهانو بادشاه.

علماء وائي ددي حديث مطلب دادى چې الله تعالي عاجزي او تواضع ډيره خوښوي او دفخر او غرور نه بي انتهاء نفرت كوي او دشاهنشاه وئيلو په وجه دعاجزي په ځاي دانسان نه دتكبر اظهار كيږي او همدا رنګې شاهنشاه لفظ دالله تعالي وصف دى كوم چې په هغه پوري مخصوص دى نو په دي وجه په دي وصف كې دالله تعالي سره په مخلوق كې هيڅوك شريكيدى نشي.

****

٦٦_بَاب مَا جَاءَ فِي تَغْيِيرِ الأَسْمَاءِ

دناكاره نومونو دبدلولو بيان

٢٨٣٨_حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الدَّوْرَقِيُّ، وَأَبُو بَكْرٍ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ، عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " غَيَّرَ اسْمَ عَاصِيَةَ، وَقَالَ: أَنْتِ جَمِيلَةُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَإِنَّمَا أَسْنَدَهُ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ، عَنْ عُبَيْدِ اللهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا عَنْ عُبَيْدِ اللهِ، عَنْ نَافِعٍ، أَنَّ عُمَرَ مُرْسَلًا، وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ سَلَامٍ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ مُطِيعٍ، وَعَائِشَةَ، وَالْحَكَمِ بْنِ سَعِيدٍ، وَمُسْلِمٍ، وَأُسَامَةَ بْنِ أَخْدَرِيٍّ، وَشُرَيْحِ بْنِ هَانِئٍ، عَنْ أَبِيهِ، وَخَيْثَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ. [1]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم عاصيه نوم بدل كړو او ويي فرمائيل ستا نوم د نن نه پس جميله دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي ،داحديث يحي بن سعيد القطان مرفوع بيان كړى دي، يحي دعبيدالله نه او عبيدالله دنافع نه او نافع دابن عمر رضي الله عنهما نه نقل كړي

---

[1] ــ مسلم/الآداب ٣ (٢١٣٩)، سنن ابي داود/الأدب ٧٠ (٤٩٥٢)، ابن ماجه/الأدب ٣٢ (٣٧٣٣) (تحفة الأشراف: ٨١٥٥)، و احمد (٢/١٨)، وسنن الدارمي/الاستئذان ٦٢ (٢٧٣٩)

دي، او بعضي راويانو دا حديث دعبيدالله نه او هغه دنافع نه او نافع مرسل بیان کړي دي. او په دي باب کي عبدالرحمن بن عوف، عبدالله بن سلام، عبدالله بن مطيع، عائشه، حکم بن سعيد، مسلم، اسامه بن اخدري، شريح بن هاني، او حيثمه بن عبدالرحمن بن ابي سبره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٢٨٣٩_حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ نَافِعٍ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ عَلِيٍّ الْمُقَدَّمِيُّ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ يُغَيِّرُ الِاسْمَ الْقَبِيحَ". قَالَ أَبُو بَكْرِ بْنُ رَافِعٍ، وَرُبَّمَا قَالَ عُمَرُ بْنُ عَلِيٍّ، فِي هَذَا الْحَدِيثِ هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا. وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ عَائِشَةَ. (١)

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرمائي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم به هر بد نوم بدلولو.

امام ترمذي وايي: ددي حديث يو راوي ابوبكر بن نافع وائي چې كله كله به عمر بن علي الفلاس دا حديث په سند د هشام بن عروه عن ابيه عن النبي صلي الله عليه وسلم مرسل بيانولو او په دي كي يي دعائشي دواسطي ذكر نه دي كړي.

****

٦٧_باب مَا جَاءَ فِي أَسْمَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

درسول الله صلي الله عليه وسلم د نومونو بيان

٢٨٤٠_حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمَخْزُومِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ لِي أَسْمَاءً أَنَا مُحَمَّدٌ، وَأَنَا أَحْمَدُ، وَأَنَا الْمَاحِي الَّذِي يَمْحُو اللَّهُ بِيَ الْكُفْرَ، وَأَنَا الْحَاشِرُ الَّذِي يُحْشَرُ النَّاسُ عَلَى قَدَمِي، وَأَنَا الْعَاقِبُ الَّذِي لَيْسَ بَعْدِي نَبِيٌّ"، وَفِي الْبَابِ، عَنْ حُذَيْفَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (٢)

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٧١٢٧)

[2] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /المناقب ١٧ (٣٥٣٢)، وتفسير (الصف ١ (٤٨٩٦)، صحيح مسلم /الفضائل ٣٤ (٢٣٥٤) (تحفة الأشراف: ٣١٩١)، و مسند احمد (٤/٨٠، ٨١، ٨٤)، وسنن الدارمي /الرقاق ٥٩ (٢٨١٧)

ترجمه : دجبير بن مطعم رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيل زما يو څو نومونه دي زه محمديم، زه احمد، او زه هغه ماحي يم دکوم په ذريعه چې به الله تعالي کفر ختموي او زه هغه حاشر يم دکوم په قدمونو چې به خلق راجمع کيږي او زه هغه عاقب يم دچا نه پس چې به بل نبي نه راځي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دحذيفه رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي.

****

٦٨ـ بَابِ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الْجَمْعِ بَيْنَ اسْمِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكُنْيَتِهِ

درسول الله صلي الله عليه وسلم د نوم او اسم كنيه دواړو ايخودلو دكراهت بيان

٢٨٤١ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " نَهَى أَنْ يَجْمَعَ أَحَدٌ بَيْنَ اسْمِهِ وَكُنْيَتِهِ وَيُسَمِّيَ مُحَمَّدًا أَبَا الْقَاسِمِ ". وَفِي الْبَابِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ كَرِهَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنْ يَجْمَعَ الرَّجُلُ بَيْنَ اسْمِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكُنْيَتِهِ، وَقَدْ فَعَلَ ذَلِكَ بَعْضُهُمْ. (١)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم منع فرمائيلي ده چې څوك دهغه نوم او اسم كنيه دواړه په يو ځاي باندي د خان دپاره كيږدي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي كه په دي باب كي دجابر رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي بعضي اهل علم دا مكروه گڼړي چې څوك په خان باندي درسول الله نوم او اسم كنيه دواړه كيږدي ليكن بعضي خلقو بيا هم داسي كړي دي.

****

رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ: سَمِعَ رَجُلًا فِي السُّوقِ يُنَادِي: يَا أَبَا الْقَاسِمِ، فَالْتَفَتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: لَمْ أَعْنِكَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا تَكْتَنُوا بِكُنْيَتِي "، حَدَّثَنَا بِذَلِكَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا، وَفِي هَذَا الْحَدِيثِ مَا يَدُلُّ عَلَى كَرَاهِيَةِ أَنْ يُكَنَّى أَبَا الْقَاسِمِ. (٢)

---

[1] ـ (تحفة الأشراف: ١٣١٤٣)، و مسند احمد (٢/٤٣٣) (صحيح البخاري/ في الأدب (٦١٨٨)

[2] ـ تفرد به المؤلف

ترجمه : مروي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ديو كس نه په بازار كي واوريدل چې چاته يي چغه وهله يا اباالقاسم نو رسول الله صلي الله عليه وسلم ذهغه طرف ته اوكتل نو هغه اووئيل تاته مي اواز نه دي كړي رسول الله دي وخت كي اوفرمائيل زما اسم كنيه دي څوك دځان دپاره نه ايږدي.

****

٢٨٤٢ـ حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنِ الْحُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا سَمَّيْتُمْ بِاسْمِي فَلَا تَكْتَنُوا بِي". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

ترجمه : دجابر رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چې تاسو زما نوم په ځان كيخودو نو بيا به زما اسم كنيه په ځان نه ايږدئ.
امام ترمذي وايي: دا حديث په دي سند حسن غريب دي.

****

٢٨٤٣ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ، حَدَّثَنَا فِطْرُ بْنُ خَلِيفَةَ، حَدَّثَنِي مُنْذِرٌ وَهُوَ الثَّوْرِيُّ، عَنْ مُحَمَّدٍ ابْنِ الْحَنَفِيَّةِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، أَنَّهُ قَالَ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَرَأَيْتَ إِنْ وُلِدَ لِي بَعْدَكَ أُسَمِّيهِ مُحَمَّدًا وَأُكَنِّيهِ بِكُنْيَتِكَ؟ قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: فَكَانَتْ رُخْصَةً لِي". هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : دعلي بن ابي طالب رضي الله عنه نه مروي دي فرمائيل يي چې اي دالله رسوله ستاسو څه خيال دي كه ماله الله تعالي ستاسو نه پس بچي راكړي او زه ورباندي محمد نوم كيږدم او ستا اسم كنيه ورباندي كيږدم، رسول الله اوفرمائيل هيڅ حرج نشته علي رضي الله عنه وائي چې ماته ددي اجازت راكړي شو.
امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دي.

****

٦٩ـ بَاب مَا جَاءَ إِنَّ مِنَ الشِّعْرِ حِكْمَةً

---

1 ـ (تحفة الأشراف: ٢٦٨٦) (وأخرج أبوداود (برقم: ٤٩٦٦)

2 ـ سنن ابي داود/ الأدب ٤٦ (٤٩٦٧) (تحفة الأشراف: ١٠٢٦٨)

بعضي شعرونو کي دحکمت خبري وي

۲۸٤٤_حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ الأَشَجُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي غَنِيَّةَ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ زِرٍّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ مِنَ الشِّعْرِ حِكْمَةً". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ إِنَّمَا رَفَعَهُ أَبُو سَعِيدٍ الأَشَجُّ، عَنِ ابْنِ أَبِي غَنِيَّةَ، وَرَوَى غَيْرُهُ عَنِ ابْنِ أَبِي غَنِيَّةَ هَذَا الْحَدِيثَ مَوْقُوفًا. وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَفِي الْبَابِ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَعَائِشَةَ، وَبُرَيْدَةَ، وَكَثِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ. (1)

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي بعضي شعرونو کي دحکمت خبري وي.

امام ترمذي وايي: دا حديث په دي سند غريب دي او ابو سعيد الاشج مرفوع بيان کړي دي چې دابن ابي غنية نه يي نقل کوي او دده نه علاوه نورو راويانو دابن ابي غنية نه دا حديث موقوف نقل کړي دي او دا حديث ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم په واسطه دعبدالله بن مسعود دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دی، په دي باب کي دابيّ بن کعب، ابن عباس، عائشه، بريده، او کثير بن عبدالله نه چې دخپل پلار نه يي نقل کوي هم احاديث وارد دي.

****

۲۸٤٥_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ مِنَ الشِّعْرِ حُكْمًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي يقينا بعضي شعرونه دحکمت نه ډک وي.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دي.

****

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٩٢١٣)

2 ـ سنن ابي داود/ الأدب ٩٥ (٥٠١١) . سنن ابن ماجه/الأدب ٤١ (٣٧٥٦) . (تحفة الأشراف : ٦١٠٦) . و مسند احمد (٢٦٩/١، ٣٠٩، ٣١٣)

٧٠_بَاب مَا جَاءَ فِي إِنْشَادِ الشِّعْرِ

دشعرو نو وئيلو بيان

٢٨٤٦_حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ مُوسَى الْفَزَارِيُّ، وَعَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، الْمَعْنَى وَاحِدٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضَعُ لِحَسَّانَ مِنْبَرًا فِي الْمَسْجِدِ يَقُومُ عَلَيْهِ قَائِمًا، يُفَاخِرُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَوْ قَالَ: يُنَافِحُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَيَقُولُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللَّهَ يُؤَيِّدُ حَسَّانَ بِرُوحِ الْقُدُسِ مَا يُفَاخِرُ أَوْ يُنَافِحُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ". [1]

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به دحسان رضي الله عنه دپاره په مسجد کي منبر ايخودلو چې په دي باندي به اودريدو او درسول الله صلي الله عليه وسلم متعلق به يي فخريه اشعار وئيل، يا هغه به دخپلو شعرونو په ذريعه درسول الله صلي الله عليه وسلم دفاع کوله او رسول الله به فرمائيل الله تعالي دجبرائيل په ذريعه دحسان مدد کوي چې څو پورې دي دخپلو اشعارو په ذريعه درسول الله دطرفه فخر کوي او يا دده دفاع کوي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي او دا حديث دابن ابي الزناد په سند هم مروي دي.

****

حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ مُوسَى، وَعَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ، وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَالْبَرَاءِ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَهُوَ حَدِيثُ ابْنِ أَبِي الزِّنَادِ. [2]

ترجمه : عروه هم دعائشه رضي الله عنها په واسطه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه ددي پشان روايت نقل کړي دي.

امام ترمذي وايي: او په دي باب کي دابوهريره او براء رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي او دا حديث حسن صحيح غريب دي او دا د ابن ابي الزناد حديث دي.

---

[1] _ سنن ابي داود/ الأدب ٩٥ (٥٠١٥) (تحفة الأشراف: ١٦٣٥١، و١٧٠٢٠)

[2] _ سنن ابي داود/ الأدب ٩٥ (٥٠١٥) (تحفة الأشراف: ١٦٣٥١، و١٧٠٢٠)

****

٢٨٤٧ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، حَدَّثَنَا ثَابِتٌ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ مَكَّةَ فِي عُمْرَةِ الْقَضَاءِ وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَوَاحَةَ بَيْنَ يَدَيْهِ يَمْشِي وَهُوَ يَقُولُ:

خَلُّوا بَنِي الْكُفَّارِ عَنْ سَبِيلِهِ ... الْيَوْمَ نَضْرِبْكُمْ عَلَى تَنْزِيلِهِ
ضَرْبًا يُزِيلُ الْهَامَ عَنْ مَقِيلِهِ ... وَيُذْهِلُ الْخَلِيلَ عَنْ خَلِيلِهِ

فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: يَا ابْنَ رَوَاحَةَ بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي حَرَمِ اللَّهِ تَقُولُ الشِّعْرَ، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "خَلِّ عَنْهُ يَا عُمَرُ، فَلَهِيَ أَسْرَعُ فِيهِمْ مِنْ نَضْحِ النَّبْلِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ رَوَى عَبْدُ الرَّزَّاقِ هَذَا الْحَدِيثَ أَيْضًا عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسٍ، نَحْوَ هَذَا، وَرُوِيَ فِي غَيْرِ هَذَا الْحَدِيثِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ مَكَّةَ فِي عُمْرَةِ الْقَضَاءِ، وَكَعْبُ بْنُ مَالِكٍ بَيْنَ يَدَيْهِ، وَهَذَا أَصَحُّ عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْحَدِيثِ، لِأَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ رَوَاحَةَ قُتِلَ يَوْمَ مُؤْتَةَ، وَإِنَّمَا كَانَتْ عُمْرَةُ الْقَضَاءِ بَعْدَ ذَلِكَ. (١)

ترجمه: دانس رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم دعمرة القضاء په كال مكې ته داخل شو او عبدالله بن رواحه ته دهغه په وړاندي دا اشعار وئيل اوروان به وو:

خَلُّوا بَنِي الْكُفَّارِ عَنْ سَبِيلِهِ ... الْيَوْمَ نَضْرِبْكُمْ عَلَى تَنْزِيلِهِ
ضَرْبًا يُزِيلُ الْهَامَ عَنْ مَقِيلِهِ ... وَيُذْهِلُ الْخَلِيلَ عَنْ خَلِيلِهِ

يعني اي دكافرانو اولاده دده (محمد صلي الله عليه وسلم) دلاري نه لري شئ نن به مو داسي قتل كړو چې سرونه به مو دځمونو نه جدا شي او داسي به مو قتل كړو چې يو دوست به دبل دوست نه غافل شي عمر رضي الله عنه ورته اووئيل اي ابن رواحه ته درسول الله صلي الله عليه وسلم په وړاندي او دالله په حرم كي شعرونه وائي؟ رسول الله ورته اوفرمائيل دي پريږده چې شعرونه وائي او ويي فرمائيل اي عمر دا شعرونه په كافرانو دغشو ورولو نه هم زيات بد اثركوي.

امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي، عبدالرزاق دا حديث دمعمرو

---

1 ـ صحيح مسلم/الحج ١٠٩(٢٨٤٦)، و ١٣١(٢٨٩٦) (تحفة الأشراف: ٢٦٦)

نه او معمرو دزهري په واسطه دانس رضي الله عنه نه په همدي مضمون نقل كړي دي، ددي حديث نه علاوه په يو بل حديث كي مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دعمرة القضاء په موقعه مكي ته داخل شو او دغه وخت كعب بن مالك ورسره وو.
امام ترمذي وائي دبعضي محدثينو په نزد دا حديث زيات صحيح دي ځكه چي عبدالله بن رواحه په غزوه موته كي شهيد كړي شوي دي او عمرة القضاء ددينه پس شوي ده.

****

٢٨٤٨ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا شَرِيكٌ، عَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ شُرَيْحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَ: قِيلَ لَهَا: هَلْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَمَثَّلُ بِشَيْءٍ مِنَ الشِّعْرِ ؟ قَالَتْ: "كَانَ يَتَمَثَّلُ بِشِعْرِ ابْنِ رَوَاحَةَ وَيَتَمَثَّلُ وَيَقُولُ: وَيَأْتِيكَ بِالأَخْبَارِ مَنْ لَمْ تُزَوِّدِ وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : مروي دي چي دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه تپوس اوكړي شو ايا رسول الله صلي الله عليه وسلم كله كوم شعر په طور دمثال اونموني پيش كړي دي؟ نو ويي وئيل هو رسول الله به دابن رواحه اشعار په طور دمثال پيش كول "وياتيك بالاخبار من لم تزود".
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دابن عباس رضي الله عنهما نه هم حديث وارد دي.

****

٢٨٤٩ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا شَرِيكٌ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: أَشْعَرُ كَلِمَةٍ تَكَلَّمَتْ بِهَا الْعَرَبُ كَلِمَةُ لَبِيدٍ:
أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللَّهَ بَاطِلُ" [2]

قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ الثَّوْرِيُّ، وَغَيْرُهُ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ.
ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دعربو په شاعرانه كلامونو كي بهترين كلام دلبيد دا شعر دي " أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللَّهَ بَاطِلُ"

---

[1] ـ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ٢٨٤ (٩٩٤) (تحفة الأشراف: ١٦١٣٨)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /مناقب الأنصار ٢٦ (٣٨٤١)، والأدب ٩٠ (٦١٤٧)، والرقاق ٢٩ (٦٤٨٩)، صحيح مسلم/الشعر ح ٢ (٢٢٥٦)، سنن ابن ماجه/الأدب ٤١ (٣٧٥٧) (تحفة الأشراف: ١٤٩٧٦)، و مسند احمد (٢/٢٢٨، ٣٩١، ٣٩٣، ٤٤٤، ٤٥٨، ٤٧٠، ٤٨١)

يعني واوريځ دالله تعالى نه علاوه هر يو څيز ختميدونكي دي.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دي او دا حديث سفيان ثوري او دده نه علاوه نورو راويانو هم دعبدالملك بن عمير نه نقل كړي دي.

****

٢٨٥٠ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا شَرِيكٌ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: " جَالَسْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكْثَرَ مِنْ مِائَةِ مَرَّةٍ، فَكَانَ أَصْحَابُهُ يَتَنَاشَدُونَ الشِّعْرَ وَيَتَذَاكَرُونَ أَشْيَاءَ مِنْ أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ، وَهُوَ سَاكِتٌ فَرُبَّمَا تَبَسَّمَ مَعَهُمْ "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ زُهَيْرٌ، عَنْ سِمَاكٍ أَيْضًا. ([1])

ترجمه : دجابر بن سمره رضي الله عنه بيان دي چې ماته درسول الله صلي الله عليه وسلم په مجالسو كي دسلو پيرو نه زيات دكيناستو شرف حاصل دي درسول الله صحابه كرامو به اشعار وئيل هم او اوريدل به يي هم او دجاهليت ډيري خبري به يي پخپل مينځ كي ذكر كولي او رسول الله به خاموش ناست وو او كله كله به ددوئ سره مسكي شو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او دا حديث زهير هم دسماك نه نقل كړي دي.

****

٧١ـ بَاب مَا جَاءَ لأَنْ يَمْتَلِئَ جَوْفُ أَحَدِكُمْ قَيْحًا خَيْرٌ مِنْ أَنْ يَمْتَلِئَ شِعْرًا

دګنده موادو نه دخيټې ډكيدل ددينه بهتر دي چې دچا خيټه دشعرونو نه ډكه شي

٢٨٥١ـ حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ عُثْمَانَ بْنِ عِيسَى الرَّمْلِيُّ، حَدَّثَنَا عَمِّي يَحْيَى بْنُ عِيسَى الرَّمْلِيُّ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لأَنْ يَمْتَلِئَ جَوْفُ أَحَدِكُمْ قَيْحًا يَرِيهُ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَمْتَلِئَ شِعْرًا "، وَفِي الْبَابِ، عَنْ سَعْدٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَأَبِي الدَّرْدَاءِ، وَأَبِي سَعِيدٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دچا خيټه په وينو دګنده شوو موادو نه ډكيدل ددينه بهتر دي چې خيټه يي دګنده اشعارو نه

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢١٤٦)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الأدب ٩٢ (٦١٥٥) . صحيح مسلم/الشعر ٧ (٢٢٥٧) . سنن ابن ماجه/الأدب ٤٢ (٣٧٥٩) (تحفة الأشراف: ١٢٣٤٨) . و مسند احمد (٢/٢٨٨، ٣٢١، ٣٩١)

ډکه وي.
امام ترمذي وايي: په دې باب کې دسعد او ابن عمر او ابو الدرداء او ابوسعيد خدري رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او دا حديث حسن صحيح دي.

****

٢٨٥٢_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ يُونُسَ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَأَنْ يَمْتَلِئَ جَوْفُ أَحَدِكُمْ قَيْحًا خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَمْتَلِئَ شِعْرًا"، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دسعد بن ابي وقاص رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دچا خيټه دبيمارۍ په سبب دقي نه ډکيدل ددينه بهتر دي چې دا دشعرونو نه ډکه شي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٧٢_بَاب مَا جَاءَ فِي الْفَصَاحَةِ وَالْبَيَانِ

دفصاحت اوبلاغت بيان

٢٨٥٣_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى الصَّنْعَانِيُّ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ عَلِيٍّ الْمُقَدَّمِيُّ، حَدَّثَنَا نَافِعُ بْنُ عُمَرَ الْجُمَحِيُّ، عَنْ بِشْرِ بْنِ عَاصِمٍ سَمِعَهُ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّ اللَّهَ يَبْغَضُ الْبَلِيغَ مِنَ الرِّجَالِ الَّذِي يَتَخَلَّلُ بِلِسَانِهِ كَمَا تَتَخَلَّلُ الْبَقَرَةُ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَفِي الْبَابِ عَنْ سَعْدٍ.[2]

ترجمه : عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي اوږدژبي خلق دالله تعالي نه دي خوښ هغه کسان چې خپله ژبه داسې اړوي راړوي لکه غواچې وابښه په ژبه تاو راتاوکړي (ژولی خبری کوي).
امام ترمذي وايي: داحديث په دې سند حسن غريب دي او په دې باب کې د سعد رضي الله عنه

---

[1] _ صحيح مسلم/الشعر ٨ (٢٢٥٨). سنن ابن ماجه/الأدب ٣٢ (٣٧٦٠) (تحفة الأشراف : ٣٩١٩). و مسند احمد (١/١٧٥، ١٧٧، ١٨١)

[2] _ سنن ابي داود/الأدب ٩٣ (٥٠٠٥) (تحفة الأشراف : ٨٨٣٣). وابن حبان (٢/١٦٥، ١٨٧)

نه هم حديث وارد دى.

لغات: بليغ جمع يي بلغاء ده ، پيغام رسانئ كولو او مبالغي كولو ته ويلي شي.

تشريح: ددي حديث مطلب دادى چې الله تعالي دداسي كسانو نه دنفرت اظهار كوي څوك چې خپل بلاغت ښكاره كوي مطلب دادى چې دزيات فصاحت اوبلاغت مظاهره كول او په مبالغي سره خبري كول په شريعت كې محمود نه دي او دداسي كسانو سره الله تعالي محبت نه كوي، علماء وائي بهترين كلام هغه دى كوم چې په قدر دضرورت وي او بالكل ساده وي او دخبري كونكي دباطني كيفيت عكاسي كونكى وي داسي كلام ډير اثر لري او خلق يي خوښوي.

****

٢٨٥٤ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الْأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، عَنْ عَبْدِ الْجَبَّارِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَنَامَ الرَّجُلُ عَلَى سَطْحٍ لَيْسَ بِمَحْجُورٍ عَلَيْهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرٍ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَعَبْدُ الْجَبَّارِ بْنُ عُمَرَ الْأَيْلِيُّ يُضَعَّفُ. ([1])

ترجمه : دجابر رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم په داسي چت دپريوتو نه منع فرمائيلي ده په كوم چې څه پرده وغيره نه وي.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي او مونږ يي صرف دمحمد بن منكدر په روايت پيژنو چې دجابر نه يي نقل كوي او عبدالجبار بن عمر په باب دحديث كي ضعيف ګڼرلي شوي دي.

****

٢٨٥٥ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَخَوَّلُنَا بِالْمَوْعِظَةِ فِي الْأَيَّامِ مَخَافَةَ السَّآمَةِ عَلَيْنَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الْأَعْمَشِ، حَدَّثَنِي شَقِيقُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، نَحْوَهُ. ([2])

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٠٥٣)

[2] ـ اورده البخاري في الصحيح/العلم ١١ (٦٨)، و ١٢ (٧٠)، والدعوات ٦٩ (٦٤١١)، مسلم/المنافقين ١٩

ترجمه : دعبدالله بن مسعود بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به مونږ ته دوعظ او نصيحت په سلسله کي دوختونو خيال ساتلو او دا ددي ويري په وجه چې چرته په مونږ باندي ستړيا راخوره نشي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٧٣_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٨٥٦_حَدَّثَنَا أَبُو هِشَامٍ الرِّفَاعِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ فُضَيْلٍ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، قَالَ: سُئِلَتْ عَائِشَةُ، وَأُمُّ سَلَمَةَ أَيُّ العملِ كان أحب إلى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟ قَالَتَا: "مَا دِيمَ عَلَيْهِ وَإِنْ قَلَّ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

ترجمه : دابوصالح بيان دي چې د ام المؤمنين عائشه او ام سلمه رضي الله عنهما نه تپوس اوکړي شو چې کوم يو عمل به رسول الله صلي الله عليه وسلم ډير خوښولو؟ هغوئ دواړو په جواب کي اووئيل چې کوم عمل به چا په دائمي طور کولو اګر که ډير به لږ هم وو.
امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند حسن غريب دي.

****

وَقَدْ رُوِيَ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ أَحَبُّ الْعَمَلِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا دِيمَ عَلَيْهِ". حَدَّثَنَا بِذَلِكَ هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ. هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرمائيل به يي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ته په اعمالو کي ډير محبوب عمل هغه وو کوم چې به په دائمي طور اداء کولي شو، دعبده په سند هم دعائشه رضي الله عنها نه دماقبل هم معني روايت مروي دي.

(٢٨٢١) (تحفة الأشراف : ٩٢٥٣) . و مسند احمد (١/٣٧٧، ٤٢٥، ٤٤٠، ٤٤٣، ٤٦٢)

1_ (التحفة: ١٦٠٤٢) . صحيح البخاري/التهجد ٧ (١١٣٢) . مسلم/المسافرين ١٧ (٧٤١)

2_ انظر ماقبله (تحفة الأشراف : ١٧٠٨٩)

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٧٤_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٢٨٥٧_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ كَثِيرِ بْنِ شِنْظِيرٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "خَمِّرُوا الآنِيَةَ، وَأَوْكِئُوا الأَسْقِيَةَ، وَأَجِيفُوا الأَبْوَابَ، وَأَطْفِئُوا الْمَصَابِيحَ، فَإِنَّ الْفُوَيْسِقَةَ رُبَّمَا جَرَّتِ الْفَتِيلَةَ فَأَحْرَقَتْ أَهْلَ الْبَيْتِ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (1)

ترجمه : دجابر رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دشپي وخت کي دلوښو سرونه بندول او پټول ضروري دي او دمشکونو خولي بندول پکار دي او دکورونو دروازي بندي ساتئ او چراغونه وژنئ ځکه چي کله کله داسي کيږي چي منګك دچراغ باتئ راکاږي او دکور ټول خلق اوسوزوي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي، داحديث په ډيرو سندونو دجابر رضي الله عنه په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي.

****

٧٥_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٢٨٥٨_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا سَافَرْتُمْ فِي الْخِصْبِ فَأَعْطُوا الإِبِلَ حَظَّهَا مِنَ الأَرْضِ، وَإِذَا سَافَرْتُمْ فِي السَّنَةِ، فَبَادِرُوا بِنِقْيِهَا، وَإِذَا عَرَّسْتُمْ فَاجْتَنِبُوا الطَّرِيقَ، فَإِنَّهَا طُرُقُ الدَّوَابِّ وَمَأْوَى الْهَوَامِّ بِاللَّيْلِ"، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَفِي الْبَابِ، عَنْ جَابِرٍ، وَأَنَسٍ. (2)

---

1 ـ انظر حديث رقم ١٨١٢ (تحفة الأشراف: ٢٤٤٦)

2 ـ مسلم/الإمارة ٥٣ (١٩٢٦)، ابي داود/الجهاد ٦٣ (٢٥٦٩) (تحفة الأشراف: ١٢٧٠٦)، و مسند احمد (٢/٣٣٧)

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه راوي دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چې کله تاسو په شنه او تروتازه زمکه کې سفر کوئ نو اوښ ته دهغه هغه حصه کومه چې دی زمکه کې ده پوره کړئ (يعني هغه په ښې طريقې سره اوڅروئ او ماړه يې کړئ) او که چرې زمکه بنجر اوشاړه وي نو په هغه علاقه په تيزئ سره دتيريدلو کوشش کوئ (چې ددې علاقې نه زر اوځئ او دګيا والا ځاي ته زر اورسئ) چې طاقت يې برقرار وي، او که چرې دقيام اوشپې تيرولو وخت راشي نو دلارې نه يو طرف ته کوز شئ ځکه چې هغه دڅاروو او حشرات الارض دتيريدلو ځايونه هم دي (چې دشپې عموما په لارو تيريږي يا په لارو کې کيني)

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کې دجابر او انس رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

لغات: الخصب : دشني ګياه کثرت ، فراخه زندګي جمع يي اخصاب راځي. الجدب: خشك سالي ، عيب، جدبا دنصر او ضرب نه ، جدب: دکرم نه جدوبة وتجدب المكان دباران نه کيدو په وجه خشك سالي راتلل ، جدب فلانا يعني عيب يي ولګولو، نقيها: نقي دهډوکي مغز ته وئيلي شي نقي ينقي نقيا ، العظم: هډوکي ، عرستم: عرس واعرس په سفر کې دمه کول، الهوام: شير هوام جمع دهامة ده دزمکې حشراتو ته وئيلي شي.

تشريح: اعطوا الابل حظها من الارض، يعني اوښ داسې اندازه سره بوځئ چې هغه په تلو تلو کې يوخوا بل خوا خوله اووهي او څرن هم کوي او دهغه زمکې نه وښونه خپله حصه اومومي ، نقيها دنون زير دق جزم سره نلی او مغز مطلب داچې دهغه دهډوکونلي او مغزضائع کيدو نه مخکې منزل مقصود ته اورسي اودسفر دسختئ نه هغه بچ کړئ "تعريس" دشپې پړاؤ ته وائي په سابقه زمانه کې چې کله اوښان او اسونه اوخره دسفر دپاره استعماليدل دهغوئ دپاره په پورتني حديث کې هدايات ورکړی شوي دي چې يو طرف ته خو په لاره کې ددوئ دخوراك پوره خيال ساتل پکار دي که چرې په لاره کې دګيا ملاويدو امکان نه وي نو بيا سورلئ تيزه چلول پکار دي چې سفر زر ختم شي دويم هدايت دا ورکړی شوی دی که چرې دسفر په دوران کې شپه راشي او دشپې پاتي کيدو ته ضرورت پيښ شي نو دعامو لارو نه لرې کيدل پکار دي ددې دپاره چې راتلونکو ته تکليف نه وي ځکه چې دشپې ځناور او چينجي او حشرات دخپلو سوړو نه راوځي تردې چې تاسو ددې دنقصان نه بچ شئ.

****

كتاب الأمثال عن رسول الله صلى الله عليه وسلم

دمثالونو او متلونو بيان

١ـ باب مَا جَاءَ فِي مَثَلِ اللَّهِ لِعِبَادِهِ

دبندګانو متعلق دالله تعالى دورکړي مثال بيان

٢٨٥٩ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ السَّعْدِيُّ، حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ بْنُ الْوَلِيدِ، عَنْ بَحِيرِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ، عَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، عَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ الْكِلَابِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللَّهَ ضَرَبَ مَثَلًا صِرَاطًا مُسْتَقِيمًا عَلَى كَنَفَيِ الصِّرَاطِ دَارَانِ لَهُمَا أَبْوَابٌ مُفَتَّحَةٌ، عَلَى الْأَبْوَابِ سُتُورٌ، وَدَاعٍ يَدْعُو عَلَى رَأْسِ الصِّرَاطِ، وَدَاعٍ يَدْعُو فَوْقَهُ وَاللَّهُ يَدْعُو إِلَى دَارِ السَّلَامِ وَيَهْدِي مَنْ يَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ (يونس :٢٥، وَالْأَبْوَابُ الَّتِي عَلَى كَنَفَيِ الصِّرَاطِ حُدُودُ اللَّهِ، فَلَا يَقَعُ أَحَدٌ فِي حُدُودِ اللَّهِ حَتَّى يُكْشَفَ السِّتْرُ، وَالَّذِي يَدْعُو مِنْ فَوْقِهِ وَاعِظُ رَبِّهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ يَقُولُ، سَمِعْتُ زَكَرِيَّا بْنَ عَدِيٍّ، يَقُولُ، قَالَ أَبُو إِسْحَاقَ الْفَزَارِيُّ: خُذُوا عَنْ بَقِيَّةَ مَا حَدَّثَكُمْ عَنِ الثِّقَاتِ، وَلَا تَأْخُذُوا عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ عَيَّاشٍ مَا حَدَّثَكُمْ عَنِ الثِّقَاتِ وَلَا غَيْرِ الثِّقَاتِ. (١)

ترجمه : دنواس بن سمعان کلابي بيان دي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالى دصراط مستقيم مثال ورکړي دي چې دصراط مستقيم دواړو طرفونو ته دوه کورونه دي او دروازي پرانيستلي دي او پردي ورته پرتي دي يو اواز کونکي دلاري په سر ولاړ وي او چغه وهي او دويم اواز کونکي دبري نه اواز کوي (او بيا يي دا ايت کريمه اولوستلو) الله تعالى بلنه کوي دخلقو کوردسلامتياته چې جنت دي اولاره ښئي هغه چاته چې اراده وشي دده هغي لاري سمي ته چې اسلام دي نو هغه دروازي کومي چې دصراط مستقيم دواړو طرفونو ته واقع دي هغه حدود الله دي پس کوم کس ته چې پرده کولاؤ نکړي شي هغه په حدود الله کي واقع کيدي نشي او دبري نه اواز کونکي دالله تعالى دطرفه واعظ دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي، ماد عبدالله بن عبدالرحمن نه اوريدلي دي وئيل يي چې ما دزکريا بن عدي نه اوريدلي دي چې ابو اسحاق فضاري وئيل بقيه راوي کوم چې ستاسونه دزيات ثقه راويانو په ذريعه روايت کوي دا قبول کړه او داسماعيل بن عياش روايت

---

١ ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ١١٧١٣)

مه قبلوه برابره خبره ده چې دثقه نه روایت کوي او که دغیر ثقه نه.

تشریح:...دار السلام یعني جنت ، دقتاده قول دي جنت دالله کور دي اوسلام دالله نوم دي یعني په ایت کې د السلام نه مراد سلامتي نه ده بلکه دالله تعالي خاص نوم مراد دي اودا صیغه دصفت نه ده که ده او مصدر مراد نه دي) دسلام لفظ په ذکر کولو سره په دي مفهوم باندي تنبیه ورکړي شوه ده

دجابر رضي الله عنه نه روایت دي رسول الله صلي الله علیه وسلم ته پداسي حالت کې فرشتي راغلي چې اوده وو نوهغوئ پخپل مینځ کې اووئیل ستاسو ددي ملګري یوخاص حالت دي اوده، حالت په مثال سره بیان کړئ بعضي فرشتي اووئیل دي اوده دي، بلي اووئیل سترګي یې اودي دي زړه یې بیدار دي، بیا فرشتو اووئیل دده حالت داسي دي لکه چاچې کوم کور جوړ کړي وي اودمیلمنو دخوراك دپاره یې دسترخوان غوړولي وي او دخلقو درابللو دپاره یې څوك کس لیږلي وي چاچې دعوت قبول کړو نوهغوئ دي کور ته راغلل اوپه دسترخوان چې څه وو هغه یې اوخوړل اوچاچې دعوت قبول نکړو هغوئ دي کور ته رانغلل اونه یې د دسترخوان نه څه اوخوړل نورو فرشتو اووئیل ددي مثال تشریح اوکړئ تردي چې دا کس پوهه شي نوبعضي فرشتي اووئیل دي اوده دي بلي اووئیل سترګي یې اودي دي زړه یې بیدار دي، فرشتو اووئیل ددي وضاحت دادي چې کور جنت دي اودخلقو رابلونکي محمد (صلي الله علیه وسلم) دي چاچې دده وینا اومنله هغه دالله اطاعت اوکړو اوچاچې اونه منله هغه دالله نافرماني اوکړه اوپه خلقو کې مختلفي فرقي دي (رواه البخاري).

دبعضي علماؤ په نزد په ایت کې د سلام نه مراد همدا عرفي سلام دي جنتیان به په جنت کې پخپل مینځ کې سلام علیك وائي اوپه همدي وجه جنت ته دارالسلام وئیلي شوي دي اوفرشتي به هم په جنت کې سلام کوي: "وَالْمَلَائِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِمْ مِنْ كُلِّ بَابٍ . سَلَامٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ".

د صراط مستقیم نه مراد دین داسلام اوسنت طریقه اوالله تعالي ته رسیدونکي عمومي دعوت او هدایت موندل دي اودا په مشیت الهي باندي موقوف دي ، ددینه معلومیږي چې په امر او اراده کې فرق دي (دامر تعلق دتمامو خلقو سره وي اودهدایت موندلو دارادي تعلق صرف دمومن سره وي) اوالله تعالي ازلي کافر ته هدایت کول نه غواړي ، (اګرچې دهدایت قبلولو حکم یې کافرته هم کړي دي) دامر الهي نه تخلف خو ممکن بلکه واقع دي ، اکثر انسانان دالله دحکم نه خلاف روان دي مګر دالله تعالي د ارادي خلاف ورزي څوك نشي کولي کفر هم دایمان پشان دالله تعالي په ارادي سره وي مګر دامر خلاف وي اوداشاعره هم دا قول دي ، معتزلیان په امر او اراده کې فرق نه کوي اودهغوئ په نزد کفر اوهر قسم ګناه دالله تعالي

په ارادي سره نه وي. (مظهري)

د نواس بن سمعان رضي الله عنه حالات

نوم نواس دپلار نوم سمعان بن خالد بن عمرو بن قرط دبنو کلاب سره دده تعلق وو او دشام اوسيدونکی وو په شاميانو کې شميرلی شي دده پلار دوفد په شکل کې دنبي کريم صلي الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شو او رسول الله ته يي يو جوړه پيزار هم په تحفه کې ورکړل او رسول الله ورنه قبول هم کړل او دعا يي ورته هم اوکړه.

دده دمروياتو شمير ١٧ دی چې دري په مسلم کې دي او باقي اصحاب سنن نقل کړي دي.

****

٢٨٦٠ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ خَالِدِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِلَالٍ، أَنَّ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ الْأَنْصَارِيَّ، قَالَ: خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فَقَالَ: "إِنِّي رَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ كَأَنَّ جِبْرِيلَ عِنْدَ رَأْسِي وَمِيكَائِيلَ عِنْدَ رِجْلَيَّ، يَقُولُ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ: اضْرِبْ لَهُ مَثَلًا، فَقَالَ: اسْمَعْ سَمِعَتْ أُذُنُكَ، وَاعْقِلْ عَقَلَ قَلْبُكَ، إِنَّمَا مَثَلُكَ وَمَثَلُ أُمَّتِكَ كَمَثَلِ مَلِكٍ اتَّخَذَ دَارًا، ثُمَّ بَنَى فِيهَا بَيْتًا، ثُمَّ جَعَلَ فِيهَا مَائِدَةً، ثُمَّ بَعَثَ رَسُولًا يَدْعُو النَّاسَ إِلَى طَعَامِهِ، فَمِنْهُمْ مَنْ أَجَابَ الرَّسُولَ، وَمِنْهُمْ مَنْ تَرَكَهُ، فَاللَّهُ هُوَ الْمَلِكُ، وَالدَّارُ الْإِسْلَامُ، وَالْبَيْتُ الْجَنَّةُ، وَأَنْتَ يَا مُحَمَّدُ رَسُولٌ، فَمَنْ أَجَابَكَ دَخَلَ الْإِسْلَامَ، وَمَنْ دَخَلَ الْإِسْلَامَ دَخَلَ الْجَنَّةَ، وَمَنْ دَخَلَ الْجَنَّةَ أَكَلَ مَا فِيهَا". وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِإِسْنَادٍ أَصَحَّ مِنْ هَذَا، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ مُرْسَلٌ سَعِيدُ بْنُ أَبِي هِلَالٍ لَمْ يُدْرِكْ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ.[1]

ترجمه: دجابر بن عبدالله انصاري بيان دي يوه ورځ رسول الله سلي الله عليه وسلم مونږ ته تشريف راوړو او ويي فرمائيل ما په خوب کې اوکتل چې جبرائيل عليه السلام ماسره دي او ميکائيل زما دخپو سره دي په دوئ دواړو کې يو بل ته وئيل دده کوم مثال پيش کړه نو هغه رسول الله مخاطب کړو او ويي وئيل تاسو واورئ ستاسو غوږونه هميشه اوريدل کوي او تاسو پوهه شئ ستاسو زړه دحکمت نه ډکيږي ستاسو او ستاسو دامت مثال ديو داسي بادشاه پشان دي چاچې يو ښار اباد کړي وي او بيا يي په دي کې يو کور جوړ کړي وي او بيا يي دسترخوان غوړولي وي او بيا قاصد اوليږي او خلق دخوراك دپاره راوبلي او بيا څه کسان راشي او هغوئ

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الاعتصام ٢ رقم ٧٢٨١) (تحفة الأشراف: ٢٢٦٤)

دعوت قبول كړي او بعضي كسان دبلونكي دعوت مسترد كړي ددي مثال وضاحت دادي چې الله تعالي بادشاه دي او د دار نه مراد اسلام دي او دبيت نه مراد جنت دي او ته اي محمد رسول او قاصد يي چاچې ستا دعوت قبول كړو هغه په اسلام كي داخل شو او څوك چې په اسلام كي داخل شو هغه جنت ته داخل شو او څوك چې جنت ته داخل شو نو هغه دا هر څه اوخوړل كوم چې په جنت كي دي.

امام ترمذي وايي: دا حديث ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي او هغه سندونه ددي سند نه زيات صحيح دي دا مرسل دي، سعيد بن ابي هلال دجابر بن عبدالله زمانه نه ده موندلي او ملاقات يي ورسره ثابت نه دي په دي باب كي دابن عمر رضي الله عنهما نه هم روايت وارد دي.

****

٢٨٦١_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مَيْمُونٍ، عَنْ أَبِي تَمِيمَةَ الْهُجَيْمِيِّ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: "صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِشَاءَ ثُمَّ انْصَرَفَ فَأَخَذَ بِيَدِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ حَتَّى خَرَجَ بِهِ إِلَى بَطْحَاءِ مَكَّةَ، فَأَجْلَسَهُ ثُمَّ خَطَّ عَلَيْهِ خَطًّا، ثُمَّ قَالَ: لَا تَبْرَحَنَّ خَطَّكَ فَإِنَّهُ سَيَنْتَهِي إِلَيْكَ رِجَالٌ فَلَا تُكَلِّمْهُمْ فَإِنَّهُمْ لَا يُكَلِّمُونَكَ، قَالَ: ثُمَّ مَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَيْثُ أَرَادَ فَبَيْنَا أَنَا جَالِسٌ فِي خَطِّي إِذْ أَتَانِي رِجَالٌ كَأَنَّهُمُ الزُّطُّ أَشْعَارُهُمْ وَأَجْسَامُهُمْ، لَا أَرَى عَوْرَةً، وَلَا أَرَى قِشْرًا، وَيَنْتَهُونَ إِلَيَّ وَلَا يُجَاوِزُونَ الْخَطَّ، ثُمَّ يَصْدُرُونَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، حَتَّى إِذَا كَانَ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ لَكِنْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ جَاءَنِي وَأَنَا جَالِسٌ، فَقَالَ: لَقَدْ أَرَانِي مُنْذُ اللَّيْلَةَ، ثُمَّ دَخَلَ عَلَيَّ فِي خَطِّي، فَتَوَسَّدَ فَخِذِي، فَرَقَدَ، وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَقَدَ نَفَخَ، فَبَيْنَا أَنَا قَاعِدٌ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَوَسِّدٌ فَخِذِي، إِذَا أَنَا بِرِجَالٍ عَلَيْهِمْ ثِيَابٌ بِيضٌ اللَّهُ أَعْلَمُ مَا بِهِمْ مِنَ الْجَمَالِ، فَانْتَهَوْا إِلَيَّ، فَجَلَسَ طَائِفَةٌ مِنْهُمْ عِنْدَ رَأْسِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَطَائِفَةٌ مِنْهُمْ عِنْدَ رِجْلَيْهِ، ثُمَّ قَالُوا بَيْنَهُمْ: مَا رَأَيْنَا عَبْدًا قَطُّ أُوتِيَ مِثْلَ مَا أُوتِيَ هَذَا النَّبِيُّ، إِنَّ عَيْنَيْهِ تَنَامَانِ وَقَلْبُهُ يَقْظَانُ اضْرِبُوا لَهُ مَثَلًا، مَثَلُ سَيِّدٍ بَنَى قَصْرًا، ثُمَّ جَعَلَ مَأْدُبَةً، فَدَعَا النَّاسَ إِلَى طَعَامِهِ وَشَرَابِهِ، فَمَنْ أَجَابَهُ أَكَلَ مِنْ طَعَامِهِ وَشَرِبَ مِنْ شَرَابِهِ، وَمَنْ لَمْ يُجِبْهُ عَاقَبَهُ، أَوْ قَالَ عَذَّبَهُ، ثُمَّ ارْتَفَعُوا، وَاسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ ذَلِكَ فَقَالَ: سَمِعْتَ مَا قَالَ هَؤُلَاءِ؟ وَهَلْ تَدْرِي مَنْ هَؤُلَاءِ؟ قُلْتُ: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: هُمُ الْمَلَائِكَةُ، أَفَتَدْرِي مَا الْمَثَلُ الَّذِي ضَرَبُوا؟ قُلْتُ: اللَّهُ

وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: الْمَثَلُ الَّذِي ضَرَبُوا الرَّحْمَنُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى بَنَى الْجَنَّةَ وَدَعَا إِلَيْهَا عِبَادَهُ، فَمَنْ أَجَابَهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ، وَمَنْ لَمْ يُجِبْهُ عَاقَبَهُ أَوْ عَذَّبَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَأَبُو تَمِيمَةَ هُوَ الْهُجَيْمِيُّ، وَاسْمُهُ طَرِيفُ بْنُ مُجَالِدٍ، وَأَبُو عُثْمَانَ النَّهْدِيُّ اسْمُهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مُلٍّ، وَسُلَيْمَانُ التَّيْمِيُّ قَدْ رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ عَنْهُ مُعْتَمِرٌ وَهُوَ سُلَيْمَانُ بْنُ طَرْخَانَ وَلَمْ يَكُنْ تَيْمِيًّا وَإِنَّمَا كَانَ يَنْزِلُ بَنِي تَيْمٍ فَنُسِبَ إِلَيْهِمْ. قَالَ عَلِيٌّ: قَالَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ: مَا رَأَيْتُ أَخْوَفَ لِلَّهِ تَعَالَى مِنْ سُلَيْمَانَ التَّيْمِيِّ. ([1])

ترجمه : عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وائي رسول الله صلي الله عليه وسلم دماخوستن مونځ اوکړو او بیا واپس شو او دابن مسعود لاس یي پخپل لاس کي اونیولو او دخان سره یي روان کړو او دمکي کاړجني زمکي طرف ته لاړو هلته یي په یو ځاي کي ابن مسعود کینولو او بیا یي دهغه نه ځلور واړو طرفونو ته کرخي راښکلي او هغه ته یي اووئیل ددي کرخو نه هرګز بهر مه اوځه، ستا خواته به ډير مخلوق راځي لیکن ته به ورسره خبري نه کوي او هغوئ پخپله هم تاسره خبري نه کوي، دابن مسعود بیان دي بیاچې رسول الله چرته تلل غوښتل هلته لاړو په داسي حال کي چې زه پخپله دائره کي دننه ناست وم څه کسان ماته راغلل چې هغوئ درنو جسمونو والاوو ددوئ ویخته او جسمونه نه ماته بربنډ ښکاریدل او نه مي ددوئ په جسمونو لباس لیدلو هغوئ چې به ماته رانزدي کیدل نواودریدل او دکرخي نه به نه راتیریدل بیا هغوئ دنبي کریم صلي الله علیه وسلم طرف ته ورغلل تردي پوري چې کله دشپي اخري حصه تیره شوه نورسول الله صلي الله علیه وسلم واپس راغلو چرته چې زه ناست وم او ویې فرمائیل زه توله شپه ویخ وم او بیا دي کرخي ته زما خواته رانزدي شو چې زما زنګون ته یي ډډه اووهله او اوده شو رسول الله صلي الله علیه وسلم چې به اوده وو نو په خوب کي به یي دسیني نه دخراري اواز راوتلو او همدغه دوران کي چې زه ناست وم او رسول الله صلي الله علیه وسلم زما په زنګون سر ایخودلي وو او اوده وو دي دوران کي څه کسان راغلل چې سپیني جامي یي اغوستلي وي ددوئ دحسن او جمال باره کي الله تعالي ښه خبردار دي چې دوئ ماته راغلل او بیا یوه ډله درسول الله صلي الله علیه وسلم سر طرف ته کیناستله او بله ډله یي خپو طرف ته کیناستله او بیا یي داسي اووئیل مونږ داسي کوم بنده نه دي لیدلي چې څه ورته ورکړي شوي وي کوم چې دي نبي ته ورکړي شوي دي دده دواړه سترګي اودي وي لیکن زړه یي بیدار وي تاسو دده باره کي مثال بیان کړئ دده مثال دیو داسي سردار پشان دي ځوك چې یو محل

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩٣٨١) . وانظر: سنن الدارمي/المقدمة ٢ (١٣)

جوړوي او بيا په دې کې دسترخوان خوروي او خلق دخوراك څښاك دپاره راغواړي پس څوك چې دده دعوت قبلوي هغه به خوراك کوي او مشروبات به څکي او څوك چې دده دعوت نه قبلوي نو سردار په هغې باندې خفه کيږي (دراوي شك دی) چې شايد داسې الفاظ يې اوفرمائيل) بيا هغه ته سزا ورکوي بيا دوئ پاڅيدل او رسول الله صلى الله عليه وسلم بيدار شو او ويې فرمائيل تا څه واوريدل؟ کوم چې دې خلقو وئيل ايا تاته معلومه ده دا څوك وو؟ ما عرض اوکړو الله او دهغه رسول بهتر پوهيږي رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل دا فرشتې وې او ايا تاته معلومه ده چې هغوئ کوم مثال ورکړې دې دهغې نه څه مراد دې ما عرض اوکړو الله او دهغه رسول بهتر پوهيږي رسول الله اوفرمائيل ددوئ دمثال مفهوم دادې رحمان ذات جنت جوړ کړې دې او خپل بندګانو ته د داخليدو دعوت ورکوي نو څوك چې دعوت قبلوي هغه به جنت ته داخليږي او څوك چې دعوت نه قبلوي رحمان ذات به هغه ته سزا ورکوي.

امام ترمذي وايي: داحديث په دې سند حسن صحيح غريب دې ابو تميمه هجيمي دې او دده نوم طريف بن مجالد دې او دابوعثمان مهدي نوم عبدالرحمن بن مل دې او دسليمان تيمي دچانه چې معتمر داحديث نقل کړې دې سليمان بن طرخان دې او دا اصلا تيمي نه وو ليکن بني تيم ته به يې تګ راتګ کولو چې په تيمي مشهور شو علي بن مديني وائي ديحي بن سعيد قول دې مادسليمان تيمي نه بل څوك زيات دالله نه ويريدونکې نه دې ليدلې.

تشريح: علي بن محمد داسماعيل بن ابراهيم په سند د داود عامر قول نقل کړې دې چې دعلقمه نه مې تپوس اوکړو چې ايا په ليلة الجن کې ابن مسعود رضي الله عنه درسول الله صلى الله عليه وسلم سره موجود وو علقمه راته اووئيل ما هم دابن مسعود نه پدې باره کې تپوس کړې وو چې ايا په تاسو کې څوك دليلة الجن په شپه درسول الله سره موجود وو؟ ابن مسعود اوفرمائيل مونږ بالکل درسول الله سره ملګرې وو يوه شپه رسول الله صلى الله عليه وسلم غائب شو او مونږ په خوړونو او غونډو کې دهغه تلاش اوکړو ليکن پيدا مو نکړو مونږ اووئيل ايا څوك رالوتلې دې او دې يې وړې دې او که ناڅاپه شهيد شوې دې غرض دا چې دغه شپه زمونږ دټولو دپاره بدترينه شپه وه اخر دا چې کله رسول الله راغې نو ويې فرمائيل دجناتو دطرفه ماته يو بلونکې راغلې وو او زه دهغه سره تلې وم او دتلو نه پس مې ورته قران بيان کړو بيا رسول الله مونږ دځان سره بوتلو او دجناتو علامات او دهغوئ داور نشانې يې راته اوخودلې.

دشعبي قول دې چې دغه جنات دجزيرې والا وو او هغوئ دخوراکې څيزونو متعلق درسول الله نه سوال کړې وو رسول الله ورته فرمائيلې وو په کوم هډوکې چې بسم الله وئيلې شوې وي او ستاسو لاس ته درشي او يا ورپورې غوښه وي يا دڅاروو دګيا خوړلو نه پس چې هغوئ پچې

كړي وي ليکن لمدي نه وي دا به ستاسو خوراك وي، په همدي وجه رسول الله فرمائيلي وو چې پدي دوه څيزونو به تاسو استنجاء نه کوئ ځکه چې دا ستاسو درونړو دجناتو خوراك دي.
په يو روايت کي راغلي دي چې ابن مسعود رضي الله عنه دجنتې قوم څه کسان اوليدل و ويې فرمائيل دا کسان دليلة الجن والاجناتو سره زيات مشابه دي زه وايم کله چې رسول الله دعکاظ بازار په اراده روان وو او دطائف نه واپس شوي وو نو پدغه خل په اوله پيره جناتو قران اوريدلي وو او په ايت کريمه ''قل اوحي اليه انه استمع نفر '' کې الله تعالي همدا واقعه بيان کړي ده پاتي شوه دليلة الجن واقعه کومه چې ابن مسعود رضي الله عنه بيان کړي ده هغه ددينه پس پيښه شوي وه .
بغوي د سورة احقاف په تفسير کې ددي قول نسبت ابن عباس رضي الله عنهما ته کړي دي چې د ''فاستجاب لهم '' نه مراد دادي کله چې په نخله مقام کې جناتو قران واوريدو او خپل قوم ته واپس شو او هغوئ ته يي تبليغ اوکړو نو داويا کسانو ديوي ډلي دجناتو تبليغي دعوت ته لبيك اووئيل او درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شول او په بطحاء مقام کي درسول الله سره ملاؤ شول او رسول الله ورته بيا قران بيان کړو او امر او نهي يي اوفرمائيله .

خفاجي ذکر کړي دي چې دجناتو راتلل شپږ پيري شوي وو ، ددينه معلوميږي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم بعثت دجن او انس ټولو دپاره وو ، دمقاتل قول دي چې درسول الله نه مخکي دهيڅ يو نبي بعثت دجن او انس دواړو دپاره ندي شوي. (مظهري)

****

٢ــ بَاب مَا جَاءَ فِي مَثَلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالأَنْبِيَاءِ قَبْلَهُ

درسول الله صلي الله عليه وسلم او دسابقه انبياؤ مثال

٢٨٦٢ــ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنِ سِنَانٍ، حَدَّثَنَا سَلِيمُ بْنُ حَيَّانَ بَصْرِيٌّ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مِينَاءَ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّمَا مَثَلِي وَمَثَلُ الأَنْبِيَاءِ قَبْلِي، كَرَجُلٍ بَنَى دَارًا فَأَكْمَلَهَا وَأَحْسَنَهَا إِلَّا مَوْضِعَ لَبِنَةٍ، فَجَعَلَ النَّاسُ يَدْخُلُونَهَا وَيَتَعَجَّبُونَ مِنْهَا وَيَقُولُونَ: لَوْلَا مَوْضِعُ اللَّبِنَةِ "، وَفِي الْبَابِ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

---

1 ــ اورده البخاري في الجامع الصحيح /المناقب ١٨ (٣٥٣٤) . صحيح مسلم /الفضائل ٧ (٢٢٨٧) (تحفة الأشراف : ٢٢٦٠) .
وحم(٢٥٦/٣، ٢٩٨، ٣١٢)

ترجمه : دجابر بن عبدالله رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما مثال او زما نه دمخكنو انبياؤ مثال دهغه چا پشان دي چاچې كور جوړ كړو او مكمل يي كړو او ښائسته يي كړو مگر علاوه ديوي خښتي دځاي نه خلقو دي كور ته راتلل شروع كړل او ددي په ليدو يي تعجب شروع كړو او وئيل يي چې كاش ددي يوې خښتي ځاي خالي پاتي شوي نه وي.

امام ترمذي وايي داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي او په دي باب كي دابيّ بن كعب او ابوهريره رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

****

٣_باب مَا جَاءَ فِي مَثَلِ الصَّلَاةِ وَالصِّيَامِ وَالصَّدَقَةِ

د مونځ كذار او روژه نيونكي او صدقه وركونكي مومن مثال

٢٨٦٣_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ بْنُ يَزِيدَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ سَلَّامٍ، أَنَّ أَبَا سَلَّامٍ حَدَّثَهُ، أَنَّ الحَارِثَ الأَشْعَرِيَّ حَدَّثَهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّ اللَّهَ أَمَرَ يَحْيَى بْنَ زَكَرِيَّا بِخَمْسِ كَلِمَاتٍ أَنْ يَعْمَلَ بِهَا، وَيَأْمُرَ بَنِي إِسْرَائِيلَ، أَنْ يَعْمَلُوا بِهَا، وَإِنَّهُ كَادَ أَنْ يُبْطِئَ بِهَا، فَقَالَ عِيسَى: إِنَّ اللَّهَ أَمَرَكَ بِخَمْسِ كَلِمَاتٍ لِتَعْمَلَ بِهَا وَتَأْمُرَ بَنِي إِسْرَائِيلَ، أَنْ يَعْمَلُوا بِهَا، فَإِمَّا أَنْ تَأْمُرَهُمْ وَإِمَّا أَنْ آمُرَهُمْ، فَقَالَ يَحْيَى: أَخْشَى إِنْ سَبَقْتَنِي بِهَا أَنْ يُخْسَفَ بِي أَوْ أُعَذَّبَ، فَجَمَعَ النَّاسَ فِي بَيْتِ المَقْدِسِ فَامْتَلَأَ المَسْجِدُ وَقَعَدُوا عَلَى الشُّرَفِ، فَقَالَ: إِنَّ اللَّهَ أَمَرَنِي بِخَمْسِ كَلِمَاتٍ أَنْ أَعْمَلَ بِهِنَّ وَآمُرَكُمْ أَنْ تَعْمَلُوا بِهِنَّ، أَوَّلُهُنَّ: أَنْ تَعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا، وَإِنَّ مَثَلَ مَنْ أَشْرَكَ بِاللَّهِ كَمَثَلِ رَجُلٍ اشْتَرَى عَبْدًا مِنْ خَالِصِ مَالِهِ بِذَهَبٍ أَوْ وَرِقٍ، فَقَالَ: هَذِهِ دَارِي، وَهَذَا عَمَلِي فَاعْمَلْ وَأَدِّ إِلَيَّ، فَكَانَ يَعْمَلُ وَيُؤَدِّي إِلَى غَيْرِ سَيِّدِهِ، فَأَيُّكُمْ يَرْضَى أَنْ يَكُونَ عَبْدُهُ كَذَلِكَ، وَإِنَّ اللَّهَ أَمَرَكُمْ بِالصَّلَاةِ فَإِذَا صَلَّيْتُمْ فَلَا تَلْتَفِتُوا، فَإِنَّ اللَّهَ يَنْصِبُ وَجْهَهُ لِوَجْهِ عَبْدِهِ فِي صَلَاتِهِ مَا لَمْ يَلْتَفِتْ، وَآمُرُكُمْ بِالصِّيَامِ، فَإِنَّ مَثَلَ ذَلِكَ كَمَثَلِ رَجُلٍ فِي عِصَابَةٍ، مَعَهُ صُرَّةٌ فِيهَا مِسْكٌ، فَكُلُّهُمْ يَعْجَبُ، أَوْ يُعْجِبُهُ رِيحُهَا، وَإِنَّ رِيحَ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللَّهِ مِنْ رِيحِ المِسْكِ، وَآمُرُكُمْ بِالصَّدَقَةِ فَإِنَّ مَثَلَ ذَلِكَ كَمَثَلِ رَجُلٍ أَسَرَهُ العَدُوُّ، فَأَوْثَقُوا يَدَهُ إِلَى عُنُقِهِ وَقَدَّمُوهُ لِيَضْرِبُوا عُنُقَهُ، فَقَالَ: أَنَا أَفْدِيهِ مِنْكُمْ بِالقَلِيلِ وَالكَثِيرِ فَفَدَى نَفْسَهُ مِنْهُمْ، وَآمُرُكُمْ أَنْ تَذْكُرُوا اللَّهَ، فَإِنَّ مَثَلَ ذَلِكَ كَمَثَلِ رَجُلٍ خَرَجَ العَدُوُّ فِي أَثَرِهِ سِرَاعًا حَتَّى إِذَا أَتَى عَلَى

حِصْنٍ حَصِينٍ فَأَحْرَزَ نَفْسَهُ مِنْهُمْ، كَذَلِكَ الْعَبْدُ لَا يُحْرِزُ نَفْسَهُ مِنَ الشَّيْطَانِ إِلَّا بِذِكْرِ اللَّهِ. قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَأَنَا آمُرُكُمْ بِخَمْسٍ اللَّهُ أَمَرَنِي بِهِنَّ: السَّمْعُ، وَالطَّاعَةُ، وَالْجِهَادُ، وَالْهِجْرَةُ، وَالْجَمَاعَةُ، فَإِنَّهُ مَنْ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ قِيدَ شِبْرٍ فَقَدْ خَلَعَ رِبْقَةَ الْإِسْلَامِ مِنْ عُنُقِهِ إِلَّا أَنْ يَرْجِعَ، وَمَنِ ادَّعَى دَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ فَإِنَّهُ مِنْ جُثَا جَهَنَّمَ. فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَإِنْ صَلَّى وَصَامَ؟ قَالَ: وَإِنْ صَلَّى وَصَامَ، فَادْعُوا بِدَعْوَى اللَّهِ الَّذِي سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ الْمُؤْمِنِينَ عِبَادَ اللَّهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، قَالَ: مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ الْحَارِثُ الْأَشْعَرِيُّ لَهُ صُحْبَةٌ وَلَهُ غَيْرُ هَذَا الْحَدِيثِ. (1)

ترجمه : دحارث اشعري رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي يحي بن زكريا عليه السلام ته دپنځو خبرو حكم اوكړو چې دي به پخپله په دي باندي عمل كوي او بني اسرائيلو ته به هم په دي باندي دعمل كولو حكم كوي ډيره نزدي وه چې هغه ددي حكم په تعميل كي سستي او تاخير كړي وي عيسي عليه السلام اووئيل الله تعالي تاته دپنځو خبرو حكم كړي دي چې ته به ورباندي پخپله هم عمل كوي او بني اسرائيلو ته به هم په دي حكم كوي چې عمل به ورباندي كوي نو ياخو به ته دوئ ته حكم كوي او يا به يي ورته زه كوم، يحي عليه السلام اووئيل زه ويريږم كه چري تا په دي امورو زما نه مخكي والي اوكړو نو زه په زمكه كي چرته خښ نشم او يا په عذاب كي مبتلا نشم او بيا هغوئ خلق په بيت المقدس كي راجمع كړل مسجد دخلقو نه ډك شو خلق په كانړو هم كيناستل او بيا يي قوم ته اووئيل الله تعالي مونږ ته دپنځو خبرو حكم كړي دي چې زه به ورباندي پخپله هم عمل كوم او تاسو ته به هم په دي باندي دعمل كولو حكم كوم، اولني څيز دا دي تاسو به دالله تعالي عبادت كوئ او بل هيڅ څيز به ورسره نه شريكوئ او دهغه چا مثال چاچې دالله تعالي سره شرك اوكړو دهغه چا پشان دي چاچې دخان دپاره يو غلام په خالص سرو او سپينو زرو اخستلي وي او ورته اووائي دا زما كور دي او دا زما روزګار دي ته به كار كوي او منافع به ماته راكوي نو هغه كار كوي او نفع دمالك نه علاوه بل چاته وركوي نو څوك به داسي غلام خوښ كړي، دويم الله تعالي تاسو ته دمونځ كولو حكم كړي دي كله چې تاسو مونځ كوئ نو په مونځ كي اخواديخوا مه ګورئ خكه چې الله تعالي دمونځ كولو په وخت كي خپل مخ بنده ته مخامخ كړي وي ترڅو چې هغه اخوا ديخوا كتلي نه وي، دريم او تاسو ته يي دروژي نيولو حكم كړي دي ددي مثال دهغه انسان پشان دي څوك چې ديو جماعت سره وي او دده سره يوه

---

(1) ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (التحفة: ٣٢٤٣)، و مسند احمد (٤/٢٠٢)

بوجۍ وي په کومه کي چې مشك وي او هر يو ددينه خوشبو حاصلوي او دروژه دار دخولي بوي دمشکو دخوشبو نه زيات دي څلورم او تاسو ته يي دصدقي او زکوٰة ورکولو حکم کړي دي ددي مثال دهغه چا پشان دي څوك چې دشمن قيد کړي وي او دده لاسونه يي دده په څټ پوري تړلي وي او دي دځان سره روان کړي تردي چې دده څټ اووهي او دا قيدي ورته اووائي ماسره چې څومره مال دي زه يي په فديه کي درکوم او دهغي په بدل کي ما پريږده نو دي هغه مال په فديه کي ورکړي او ځان ازاد کړي، پنځم او الله تعالي تاسو ته دذکر کولو حکم کړي دي ددي مثال دهغه چا پشان دي په چا پسي چې دشمن په تيزۍ ورپسي وي او يوي مضبوطي قلعه ته ورسيږي او خپل ځان د دشمنانو نه بچ کړي دارنګي انسان هم خپل ځان دشيطان دشر نه دالله تعالي دذکر نه بغير بچ کولي نشي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زه هم تاسو ته دپنځه څيزونو حکم کوم دکومو چې ماته الله تعالي حکم کړي دي اولني کار خبره اوريدل دي، دويم داوريدو نه پس منل دي، دريم جهاد کول دي، څلورم هجرت کول دي، پنځم دجماعت سره اوسيدل دي او داځکه څوك چې دجماعت نه يو لويشت هم جدا شو نو هغه داسلام حلقه دخپلي غړۍ نه اوويستله مګر دا چې اسلام ته واپس راداخل شي او چاچې دجاهليت اواز پورته کړو نو دي به دجهنم په خشاکو کي يو خشاك اوګرځي ددي خبري اوريدو وخت کي يو کس تپوس اوکړو اي دالله رسوله اګر که هغه مونځ کوي او روژه هم نيسي رسول الله اوفرمائيل هو اګر که مونځ کوي او اګر که روژي نيسي تاسو خو دالله بندګان يۍ دهغه الله رابللو ته دعوت ورکړۍ چاچې په تاسو باندي مسلمان او مومن نوم ايخودلي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي، امام بخاري وائي حارث اشعر صحابي دي او ددي حديث نه علاوه نور احاديث ورنه هم مروي دي. په مذکوره سند هم دحارث اشعري په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه ددي هم معني روايت مروي دي

****

٢٨٦٤_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا أَبَانُ بْنُ يَزِيدَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ سَلَّامٍ، عَنْ أَبِي سَلَّامٍ، عَنِ الحَارِثِ الأَشْعَرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَأَبُو سَلَّامٍ الحَبَشِيُّ اسْمُهُ مَمْطُورٌ، وَقَدْ رَوَاهُ عَلِيُّ بْنُ المُبَارَكِ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ. ([1])

ترجمه: په مذکوره سند هم دحارث اشعري په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه ددي

[1] _ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (التحفة: ٣٢٧٣)، و مسند احمد (٣/٢٠٢)

هم معني روايت مروي دي.

6/20 امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح غريب دي او دابوسلام حبشي نوم ممطور دي او دا حديث علي بن مبارك هم ديحي بن ابي كثير نه نقل كړي دي.

****

٤ـ باب مَا جَاءَ فِي مَثَلِ الْمُؤْمِنِ الْقَارِئِ لِلْقُرْآنِ وَغَيْرِ الْقَارِئِ

دقران لوستونكي او نه لوستونكي مومن مثال

٢٨٦٥ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، عَنْ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَثَلُ الْمُؤْمِنِ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ الأُتْرُجَّةِ رِيحُهَا طَيِّبٌ وَطَعْمُهَا طَيِّبٌ، وَمَثَلُ الْمُؤْمِنِ الَّذِي لَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ التَّمْرَةِ لَا رِيحَ لَهَا وَطَعْمُهَا حُلْوٌ، وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ الرَّيْحَانَةِ رِيحُهَا طَيِّبٌ وَطَعْمُهَا مُرٌّ، وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِي لَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ الْحَنْظَلَةِ رِيحُهَا مُرٌّ وَطَعْمُهَا مُرٌّ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ أَيْضًا. [1]

ترجمه : ابوموسي اشعري رضي الله عنه بيان كوي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چې دهغه مسلمان مثال چې قران لولي ترنج پشان دى چې بوئي يى هم ښائسته دى اوخونديى هم خوږ دى اودقران مجيد نه لوستونكي مسلمان مثال د كهجورى پشان دى چې خوشبوئي خو پكې نشته ليكن خونديى خوږ وي اود منافق قران مجيد لوستونكي مثال دكشمالي پشان دى چې په هغى كې خوشبوئي خو وي ليكن خوند يى تريخ وي اود قران مجيد نه لوستونكي منافق مثال دمرغوني پشان دى چې په دى كې خوشبوئي هم نه وي او خونديى ډير تريخ وي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او دا حديث شعبه هم دقتاده نه نقل كړي دي.

لغات: الاترجة: الاترج و الاترنج دليمو ونه : الحنظلة د مرغوني ونه دا په تريخ والي كې ضرب المثل دي.

تشريح : دپورتني حديث باره كې شيخ الحديث مولانا زكريا ليكلي دي چې دحديث مقصد

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل القرآن ١٧ (٥٠٢٠) . و ٣٦ (٥٠٥٩) . والأطعمة ٣٠ (٥٤٢٧) . التوحيد ٥٧ (٧٥٦٠) . صحيح مسلم /المسافرين (٣٧ (٧٩٧) . سنن ابي داود/ الأدب ١٩ (٤٨٣٠) . سنن النسائي/الإيمان ٣٢ (٥٠٤١) . سنن ابن ماجه/المقدمة ١٦ (٢١٤) (تحفة الأشراف : ٨٩٨١) . و مسند احمد (٣٩٧، ٤٠٨)

دمخصوص ځيز مشابهت دی دغير محصوص سره تردي چي دقران مجيد لوستلو والا او نه لوستلو والا فرق واضح شي او که داسي نه وي نو ظاهره ده چې دکلام پاك دحلاوت څه نسبت دی قران کريم حافظ او په دي عمل کونکی مسلمان خو ښائسته رنګ او ښائسته زائقي ميوي پشان دی دالله په نزد او دخلقو په نزد هم عزتمند دی او کوم مومن چې حافظ نه وي ليکن په قران عمل کونکی وي نو داسي کس هم دالله په نظر کې او دخلقو په نظر کې بهتر وي او هغه منافق څوك چې قران لولي او دهغه ظاهر دقران په لوستلو په وجه ښه وي ليکن باطن يې ګنده او تياره وي او کوم منافق چې بالکل لولي نه وي دهغه باطن او ظاهر دواړه ناپاك وي

****

٢٨٦٦_حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَثَلُ الْمُؤْمِنِ كَمَثَلِ الزَّرْعِ لَا تَزَالُ الرِّيَاحُ تُفَيِّئُهُ وَلَا يَزَالُ الْمُؤْمِنُ يُصِيبُهُ بَلَاءٌ، وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ مَثَلُ شَجَرَةِ الْأَرْزِ لَا تَهْتَزُّ حَتَّى تُسْتَحْصَدَ "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.(1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دمومن مثال دهغه فصل پشان دي کوم لره چې هواګاني اخوا ديخوا خوزوي (داسي مومن هم دي) په مومن باندي مصيبتونه لګاتار راځي ، او دمنافق مثال خو دصنوبر دوني پشان وي چې دځپل ځاي نه نه خوزيږي مګر چې کله پري کړي شي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٨٦٧_حَدَّثَنَا إِسْحَاق بْنُ مُوسَى الْأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " إِنَّ مِنَ الشَّجَرِ شَجَرَةً لَا يَسْقُطُ وَرَقُهَا، وَهِيَ مَثَلُ الْمُؤْمِنِ، حَدِّثُونِي مَا هِيَ؟ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: فَوَقَعَ النَّاسُ فِي شَجَرِ الْبَوَادِي، وَوَقَعَ فِي نَفْسِي أَنَّهَا النَّخْلَةُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: هِيَ النَّخْلَةُ، فَاسْتَحْيَيْتُ أَنْ أَقُولَ، قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: فَحَدَّثْتُ عُمَرَ بِالَّذِي وَقَعَ فِي نَفْسِي، فَقَالَ: لَأَنْ تَكُونَ قُلْتَهَا أَحَبَّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ يَكُونَ لِي كَذَا وَكَذَا ".

1_ صحيح مسلم/المنافقين ١٤ (٢٨٠٩) (تحفة الأشراف : ١٣٢٧٩) (وراجع ماعند صحيح البخاری/ في المرضى ١ (٥٦٤٣) والتوحيد ٣١ (٧٤٦٦) . و مسند احمد (٢/٢٣٤، ٢٨٣، ٥٢٣)

قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ.[1]

ترجمه دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په اونو كي يوه ونه داسي ده چې پاڼې يې نه رژيږي دا دمومن مثال دي پس ماته اووائي چې دا كومه ونه ده عبدالله وائي چې خلقو په ځنګلونو كي ددي ونې لټول شروع كړل مګر زما په زړه كي دا راغلل چې دا دكجورې ونه ده بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دا كجوره ده، زه شرميدم (چې زه يو ماشوم دمشرانو مخكي خبرې اوكړم او نور خلق خاموش وي مګر بيا ما خپل پلار عمر رضي الله عنه ته هغه خبره اوكړه كومه چې زما زړه كي تيره شوې وه هغه راته اووئيل بچيه كه دا خبره دې كړې وې نو په دې به زه دومره خوشحاله شوې وم لكه چې زما سره دومره او دومره مال وي دا حديث حسن صحيح دي او په دې باب كي دابوهريره رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

****

٥_باب مَثَلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ

دپنځه مونځونو مثال

٢٨٦٨_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ الْهَادِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَنَّ نَهَرًا بِبَابِ أَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ مِنْهُ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسَ مَرَّاتٍ، هَلْ يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ؟" قَالُوا: لَا يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ، قَالَ: "فَذَلِكَ مَثَلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ، يَمْحُو اللَّهُ بِهِنَّ الْخَطَايَا" وَفِي الْبَابِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا بَكْرُ بْنُ مُضَرَ الْقُرَشِيُّ، عَنِ ابْنِ الْهَادِ نَحْوَهُ.[2]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ستاسو څه خيال دي كه ديو كس دكور مخې ته يو نهر روان وي او هره ورځ په هغې كي پنځه

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /العلم ٤ (٦١) ، و٥ (٦٢) ، و ٥٠ (١٣١) ، وتفسير (ابراهيم ١ (٤٦٩٨) ، والأدب ٧٩ (٦١٢٢) ، و ٨٩ (٦١٤٤) ، مسلم /المنافقين ١٥ (٢٨١١) (تحفة الأشراف : ٧٢٣٤) ، و مسند احمد (٢/٣١، ٦١)

[2] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /المواقيت ٦ (٥٢٨) ، صحيح مسلم /المساجد ٥١ (٦٦٧) ، سنن النسائي/الصلاة ٧ (٤٦٣) (تحفة الأشراف : ٤٩٩٨) ، و مسند احمد (٢/٣٧٩، ٤٢٦ ، ٣٢٧) ، وسنن الدارمي/الصلاة ١ (١٢٢١)

پيري غسل کوي ايا دده په بدن به خيري پاتي شي؟ صحابه کرامو اووئيل هيڅ خيري به پاتي نشي رسول الله اوفرمائيل همدا مثال دپنځه مونځونو دي چې محوه کوي الله تعالي په دي باندي ګناهونه.

امام ترمذي وايي: او په دي باب کي دجابر رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي او دا حديث حسن صحيح دي، دا رنګي قتيبه هم دبکر بن مضر قرشي په واسطه دابن الهاد نه ددي هم معني روايت نقل کړي دي.

****

٦_بَاب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٨٦٩_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ يَحْيَى الأَبَحُّ، عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَثَلُ أُمَّتِي مَثَلُ الْمَطَرِ لَا يُدْرَى أَوَّلُهُ خَيْرٌ أَمْ آخِرُهُ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَمَّارٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، قَالَ: وَرُوِي عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مَهْدِيٍّ، أَنَّهُ كَانَ يُثَبِّتُ حَمَّادَ بْنَ يَحْيَى الأَبَحَّ، وَكَانَ يَقُولُ هُوَ مِنْ شُيُوخِنَا.[1]

ترجمه: دانس رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما د امت مثال د باران پشان دي څوك دا نشي وئيلي چې ددي اول بهتر دي او که ددي اخر.

امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند حسن غريب دي او په دي باب کي دعمار، عبدالله بن عمرو، او ابن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، عبدالرحمن بن مهدي په دي باره کي دحماد بن يحي تائيد او تصديق کولو او وئيل يي چې هغه زمونږه داستاذانو نه دي.

****

٧_بَاب مَا جَاءَ فِي مَثَلِ ابْنِ آدَمَ وَأَجَلِهِ وَأَمَلِهِ

دبني ادم دمرګ او ارمانونو او ارزوګانو مثال

٢٨٧٠_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا خَلَّادُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا بَشِيرُ بْنُ الْمُهَاجِرِ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَلْ تَدْرُونَ مَا هَذِهِ وَمَا هَذِهِ؟ وَرَمَى

---

[1] _ اورده البخاري في الصحيح/ (تحفة الأشراف: ٣٩١). و مسند احمد (٣/١٣٠، ١٣٢، ٣١٩)

بِخَصَاتَيْنِ ". قَالُوا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: " هَذَاكَ الْأَمَلُ وَهَذَاكَ الْأَجَلُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

ترجمه : بريده رضي الله عنه راوي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دوه ګيټۍ اوويشتلي او ويې فرمائيل ايا تاسو ته معلومه ده چې دا څه دي او دا څه دي؟ خلقو اووئيل الله او دهغه رسول بهتر پوهيږي رسول الله اوفرمائيل دا دبني ادم ارزوګاني دي او دا دبني ادم مرګ دي.

امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند حسن غريب دي.

****

٢٨٧١_حَدَّثَنَا إِسْحَاق بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " إِنَّمَا أَجَلُكُمْ فِيمَا خَلَا مِنَ الْأُمَمِ، كَمَا بَيْنَ صَلَاةِ الْعَصْرِ إِلَى مَغَارِبِ الشَّمْسِ، وَإِنَّمَا مَثَلُكُمْ وَمَثَلُ الْيَهُودِ، وَالنَّصَارَى كَرَجُلٍ اسْتَعْمَلَ عُمَّالًا، فَقَالَ: مَنْ يَعْمَلُ لِي إِلَى نِصْفِ النَّهَارِ عَلَى قِيرَاطٍ قِيرَاطٍ؟ فَعَمِلَتِ الْيَهُودُ عَلَى قِيرَاطٍ قِيرَاطٍ، فَقَالَ: مَنْ يَعْمَلُ لِي مِنْ نِصْفِ النَّهَارِ إِلَى صَلَاةِ الْعَصْرِ عَلَى قِيرَاطٍ قِيرَاطٍ، فَعَمِلَتِ النَّصَارَى عَلَى قِيرَاطٍ قِيرَاطٍ، ثُمَّ أَنْتُمْ تَعْمَلُونَ مِنْ صَلَاةِ الْعَصْرِ إِلَى مَغَارِبِ الشَّمْسِ عَلَى قِيرَاطَيْنِ قِيرَاطَيْنِ، فَغَضِبَتِ الْيَهُودُ، وَالنَّصَارَى، وَقَالُوا: نَحْنُ أَكْثَرُ عَمَلًا وَأَقَلُّ عَطَاءً، قَالَ: هَلْ ظَلَمْتُكُمْ مِنْ حَقِّكُمْ شَيْئًا؟ قَالُوا: لَا، قَالَ: فَإِنَّهُ فَضْلِي أُوتِيهِ مَنْ أَشَاءُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي تاسو دتيرو شوو امتونو په مقابل کي داسي يئ لکه دمازيګر نه دماښام پوري چې وخت دي (يعني ډير لږ) ستاسو مثال او ديهودو او نصاري مثال دهغه چا پشان دي چاچې يو څو مزدوران ساتلي وي او ورته اووائي زما سره په يو قيراط دماسپخينه پوري څوک کار کول غواړي؟ نو يهوديانو په يو يو قيراط کار اوکړو بيا هغه اووئيل ما سره څوک مزدوري کول غواړي دماسپخين نه تر مازيګر پوري په يو يو قيراط باندي؟ نو نصاري په يو يو قيراط کار اوکړو بيا تاسو دمازيګر نه ترنمر پريوتو پوري په دوه دوه قيراطه کار اوکړو ددي په ليدو يهود

1_ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٩٥٠)

2_ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الإجارة ٩ (٢٢٦٩) . وأحاديث الأنبياء ٥٠ (٣٤٥٩) . وفضائل القرآن ١٧ (٥٠٢١) (تحفة الأشراف: ٧٢٣٥) . ومسند احمد (٢/٦، ١١١)

او نصاري غصه شول او وئيل يي زمونږ كار زيات دي او مزدوري مو كمه ده الله تعالى اوفرمائيل ايا ما ستاسو دحق په كمولو په تاسو ظلم كړي دي؟ هغوئ اووئيل نه نو الله تعالى اوفرمائيل دا زما فضل او انعام دي چې چاته يي وركوم.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٨٧٢_حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّمَا النَّاسُ كَإِبِلٍ مِائَةٍ لَا يَجِدُ الرَّجُلُ فِيهَا رَاحِلَةً". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي خلق د هغه سلو اوښانو پشان دي چې يو سري په دي كي لټول اوكړي او دسورلئ قابل پكي يو هم بيانه مومي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٨٧٣_حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمَخْزُومِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ، وَقَالَ: "لَا تَجِدُ فِيهَا رَاحِلَةً". أَوْ قَالَ: "لَا تَجِدُ فِيهَا إِلَّا رَاحِلَةً". ([2])

ترجمه: سفيان بن عيينه دزهري نه په همدي سند ددي هم معني روايت نقل كوي او وائي چې تاسو په هغوئ كي يو هم دسورلئ قابل بيانه مومئ او كه داسي يي اووئيل چې تاسو په دوئ كي صرف يو دسورلئ قابل بيا مومئ.

****

٢٨٧٤_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا الْمُغِيرَةُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّمَا مَثَلِي وَمَثَلُ أُمَّتِي كَمَثَلِ رَجُلٍ اسْتَوْقَدَ نَارًا فَجَعَلَتِ الذُّبَابُ وَالْفَرَاشُ يَقَعْنَ فِيهَا، وَأَنَا آخُذُ بِحُجَزِكُمْ وَأَنْتُمْ تَقَحَّمُونَ فِيهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى:

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الرقاق ٣٥ (٦٤٩٨)، صحيح مسلم/فضائل الصحابة ٦٠ (٢٥٤٧)، سنن ابن ماجه/الفتن ١٦ (٣٩٩٠) (تحفة الأشراف: ٦٩٣٥)، و مسند احمد (٢/٧، ٤٤، ٧٠، ١٠٩، ١٢١، ١٢٢، ١٢٣، ١٣٠)

[2] _ انظر ماقبله (تحفة الأشراف ٦٨٣٠)

هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ. (1)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما او زما دامت مثال دهغه چا پشان دي چاچې اور بل كړي وي او ماشي او پتنګان ورباندي راغورځيږي (همداحال زمونږ او ستاسو دي) چې ما ستاسو ملانيولي وي او بچ كول مو غواړم او تاسو په دي باندي ځانونه ورغورځوئ او بغير سوچې ورپريوځئ

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او دا حديث په يو بل سند هم مروي دي.

****

ابواب فضائل القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم

دقران دفضائلو تفصيل

دعثمان رضي الله عنه روايت دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي غوره پتاسو كي هغه كس دي څوك چې قران زده كړي او نوروته يي تعليم وركړي (رواه البخاري ومسلم) ليكن دبيهقي په روايت كي دومره اضافه ده چې د الله دكلام فضيلت په نورو كلامونو داسي دي لكه دالله فضيلت چې په مخلوق دي.

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي حسد صرف ددوه كسانو سره جائز دي يوهغه كس دي چې الله ورته دقران علم وركړي وي اوهروخت يي لولي ، دويم هغه كس دي چې الله ورتـه مـال وركړي وي اوهغـه يـي شـپه او ورځ دالله په لار كي خرچ كوي (بخاري ومسلم).

بغوي او حكيم او محمد بن نضر دعبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه نه روايت بيان كړي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دقيامت په ورځ به دري څيزونه دعرش دلاندي وي قران مجيد ، امانت، رحم، قران مجيد به (دبندګانو دپاره يادبندګانو دطرف نه) حجت وي اوددي يوظاهر دي اويو باطن اورحم به اواز اوكړي په غور سره واورئ چاچې زه پيوست كړم الله تعالي به دهغه سره خپل تعلق مضبوط كړي اوچاچې زه مات كړم الله تعالي به ورسره تعلق پريږدي.

---

1 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /أحاديث الأنبياء ٤٠ (٣٤٢٦) . صحيح مسلم/ الفضائل ٦ (٢٢٨٤) (تحفة الأشراف: ١٣٨٤٩) . و مسند احمد (٢/٣٦١، ٣٩٢)

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي قران لوستونكي ته به اوونيلي شي چې لوله او ختل كوه او لوستل په ترتيل سره كوه ستا منزل دهغه اخري ايت سره دي كوم چې ته لولي (رواه احمد ، ترمذي ، ابو داود ، نسائي).

په حديث قدسي كي وارد دي چې الله تعالي فرمايلي دي: څوك چې په قران مجيد كي مشغول وي او ددي مشغوليت په وجه باندي ده ته زما ذكر اوزمانه دحاجت غوښتلو فرصت نه وي نوزه ده ته دسائلينونه زيات وركوم او وئي فرمائيل چې دكلام الله فضيلت په نورو كلامونو داسي دي لكه دالله تعالي فضيلت په نور مخلوق باندي (ترمذي ، دارمي عن ابي سعيد الخدري رضي الله عنه).

دابن مسعود رضي الله عنه بيان دي څوك چې د كتاب الله يو حرف ولولي دده دپاره يوه نيكي ده اوديوي نيكۍ ثواب لس چنده زيات وركولي شي ، زه دا نه وايم چې "الم" يو حرف دي بلكه الف يوحرف او لام بل حرف دي او ميم بل حرف دي (رواه الترمذي في سننه والدارمي) ترمذي دا حديث دحسن غريب درجي ګڼلي دي.

دحارث اعور بيان دي چې د مسجد په خوا كي تيريدم چې وامي اوريدل چې خلقو داحاديثو مفهوم دخپل خيال مطابق بيانولو نو زه دعلي رضي الله عنه په خدمت كي حاضر شوم او واقعه مي ورته بيان كړه نو راته يي ووئيل چې په غور سره واوره درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي دي چې فرمائيل يي هوښيار اوسه عنقريب فتنه راتلونكي ده ما عرض وكړو چې اي دالله رسوله ددينه به دخلاصون لاره څه وي؟ نو وئي فرمائيل چې دالله كتاب كي ستاسو نه دمخكنو قومونو واقعات هم دي او وروستنو خلقو حالات هم دي اوستاسو باهمي فيصلي پكي هم دي.

قران قطعي فيصله ده، ټوقي نه دي، كه څوك دي لره دكوم ظالم په وجه پريږدي نو الله به ده لره پريږدي (يعني تباه به يي كړي) اوكه څوك دي لره پريږدي اودكوم بل چانه دهدايت طلب كوي نو الله به هغه لره ګمراه كړي ، داد الله مضبوطه رسۍ ده او همدا دنصيحت نه ډك حكمت دي او همدا صراط مستقيم دي او دا هغه كتاب دي دكوم په وجه چې په ميلانانو كي كوږوالي نه راځي، اوپه ژبو كي به اشتباه نه وي، اونه عالمان ددي په بيانولو مړيږي اونه بار بار لوستل دي لره زړولي شي، اونه ددي عجائبات په بيانولو ختميږي اوهمدا هغه كتاب دي چې په جناتو كي دغفلت نه بيداري دهغه وخته پوري نه وه تر څو چې هغوۍ دا كلمات نه وو وئيلي چې مونږ يو ناشنا قران واوريدو چې نيغه لار خلقو ته ښايي او مونږ وربانديي ايمان راوړو ، پس څوك چې ددي سره موافقي خبري كوي هغه به رښتوني وي او كه څوك وربانديي عمل كوي اجربه ورته ملاو شي اوكه څوك ددي مطابق فيصله كوي نو فيصلي به يي انصافي وي اوكه څوك ديته رابلل وكړي نو صراط مستقيم ته به رابلل وكړي (رواه الترمذي والدارمي).

دمعاذ جهني رضي الله عنه نه روايت دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچې قران ولوستو او عمل يي ورباندي وکړو نو دقيامت په ورځ به دده مور اوپلار ته داسي يوتاج ور په سر کړي شي چې رنړا به يي دنمر درنړا نه بهتره وي (هرکله چې دده دمور پلار دا حالت وي) نو ستا څه خيال دي چې دهغه کس به څه حال وي چاچې پخپله قران لوستلي وي (رواه احمد وابوداود).

دعقبه بن عامر فرمائي چې په خپله مي اوريدلي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيل که چري قران په کومه څرمن کي کيخودلي شي اوبيا اور ته ور وغورځولي شي نو قران به ونه سوزي يابه هغه څرمن ونه سوزي (يعني په کومه سينه کي چې قران وي او دي دوزخ ته وغورځولي شي نو دي به ونه سوزي) والله اعلم(رواه الدارمي).

دعلي رضي الله عنه نه روايت دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوک چې قران ولولي اوياد يي کړي اوددي بيان کړو حلالو لره حلال اوحرامو لره يي حرام وګنړي نو الله تعالي به دي جنت ته داخل کړي اودده په کورنۍ کي به دده پشان دده شفاعت دهغه لسو کسانو په حق کي قبول کړي دچا دپاره چې جهنم واجب شوي وي، (رواه الترمذي واحمد وابن ماجه والدارمي).

دعائشه رضي الله عنها نه روايت دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په مونځ کي قران لوستل دهغه قران لوستلو نه افضل دي کوم چې بغير دمونځ ولوستلي شي اودمونځ نه بهر قران لوستل دتسبيح او تکبير(سبحان الله ،او، الله اکبر) ويلو نه افضل دي اوروژه نيول ددوزخ نه دبچ کيدو دپاره ډال دي.

داوس ثقفي بيان دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي:بغير دکتلو نه مصحف ته دقران لوستونکي دپاره زر مرتبي دي اوپه مصحف کي دکتو په حال کي دتلاوت کونکي دپاره دوچنده مراتب دي ، يعني دوه زره،

دابن عمر رضي الله عنهما نه منقول دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي:زړونه هم داسي زنګ نيسي لکه چې لمده وسپنه زنګ کيږي ، عرض وکړي شو چې ددي دصفا کولو به څه طريقه وي؟ نو وئي فرمائيل چې مرګ ډير يادول اوقران لوستل، پورتني دري واړه احاديث بيهقي په شعب الايمان کي کي نقل کړي دي.

دابو هريره رضي الله عنه نه روايت دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله هيڅ يو کلام په دومره توجه سره نه اوري په څومره توجه سره چې په خوش اوازۍ سره دنبي تلاوت اوري(متفق عليه من حديث ابي هريرة رضي الله عنه).

دابو هريره رضي الله عنه نه روايت دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هغه کس زمونږ نه نه دي څوک چې قران په ښکلي لهجي سره نه لولي(بخاري).

دجابر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې مونږ قران لوستلو او يو بانډ چې عجمي هم په مونږ کي موجود وو چې ناڅاپه رسول الله تشريف راوړو او وئي فرمائيل چې خپل لوستل جاري وساتئ په تاسو کي ده ريو لوستل ښه دي او ډيره نږدي ده چې داسي خلق به راپيدا شي قران لره به داسي درست اونيغ لولي لکه څنګه چې غشي نيغ وي مګر په لوستو کي به يي جلتي کوي يعني دتلاوت عوض به په دنيا کي غواړي اود اخرت دثواب دپاره به يي نه لولي (رواه ابوداود والبيهقي).

دحذيفه رضي الله عنه نه روايت دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي قران لره دعربو په لهجو او اوازونو کي لولئ او داهل عشق او يهود او نصاري دلهجي نه پرهيز اوکړئ زما نه پس به بعضي خلق داسي راشي چې قران به دګانو او دوير په لهجه کي لولي قران به ددوئ دحلقونو نه نه تيريږي د دوئ زړونه او ددوئ کيفيت لره دخوښونکو زړونه به فتني وهلي وي (رواه البيـهقي في شعب الايمان).

دعبيد ملکي صحابي نه روايت دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي اي اهل قران قران لره به بالخ نه ګرځوئ او دشپي او دورځي يي تلاوت کوئ داسي تلاوت به کوئ څنګه چې دتلاوت کولو حق وي، قران لره په خلقو کي خور کړئ او په خوش اوازئ سره يي وايئ او په مضامينو يي غور وکړئ تردي چې کامياب شئ او په جلتئ جلتئ سره يي مه لولئ ددي په تلاوت کي ثواب دي (بيهقي شعب الايمان).

دعلي رضي الله عنه نه روايت دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي بهترين علاج قرآن دي (رواه ابن ماجه) اوپه روايت کي راغلي دي قران اهم ترين علاج دي (کنز العمال).

د ابن مسعود رضي الله عنه بيان دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دوه شفاګانو لره اختيار کړئ چې شهد او قران کريم دي (په اول کي جسماني شفاء ده اوپه دويم کي روحاني او اخلاقي شفاء ده) (رواه ابن ماجه والحاکم بسند صحيح) ددي حديث نه معلوميږي چې په شهدو کي شفاء غالبه ده .

د واثله بن اسقع رضي الله عنه نه روايت دي چې يو کس درسول الله په خدمت کي حاضر شو اود مرئ ددرد شکايت يي وکړو ورته يي اوفرمائيل چې لازم دي په تابانديي دقران لوستل ، دا حديث هم بيهقي په شعب الايمان کي نقل کړي دي.

ابن مردويه دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت بيان کړي چې يو کس درسول الله په خدمت کي حاضر شو اوعرض يي وکړو چې اي دالله رسوله زما سينه درد کوي نو وئي فرمائيل چې قران لوله الله تعالي فرمائيلي دي: "وَشِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُوْرِ"

دطلحه بن مطرف رضي الله عنه روايت دي چې كله چې دمريض په وړاندې قران ولوستلي شي نو ضرور وربانديې په مرض كي اساني راځي(رواه ابوعبيده). والله اعلم

١ـ بَاب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ فَاتِحَةِ الْكِتَابِ منه

دسورة فاتحې دفضيلت بيان

٢٨٧٥ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ عَلَى أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا أُبَيُّ وَهُوَ يُصَلِّي فَالْتَفَتَ أُبَيٌّ وَلَمْ يُجِبْهُ وَصَلَّى أُبَيٌّ فَخَفَّفَ ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَعَلَيْكَ السَّلَامُ مَا مَنَعَكَ يَا أُبَيُّ أَنْ تُجِيبَنِي إِذْ دَعَوْتُكَ. فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي كُنْتُ فِي الصَّلَاةِ، قَالَ: أَفَلَمْ تَجِدْ فِيمَا أَوْحَى اللَّهُ إِلَيَّ أَنِ اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ (الأنفال: ٢٤، قَالَ: بَلَى، وَلَا أَعُودُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ، قَالَ: أَتُحِبُّ أَنْ أُعَلِّمَكَ (لَمْ يَنْزِلْ فِي التَّوْرَاةِ وَلَا فِي الْإِنْجِيلِ وَلَا فِي الزَّبُورِ وَلَا فِي الْفُرْقَانِ مِثْلُهَا، قَالَ: نَعَمْ، يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَيْفَ تَقْرَأُ فِي الصَّلَاةِ، قَالَ: فَقَرَأَ أُمَّ الْقُرْآنِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا أُنْزِلَتْ فِي التَّوْرَاةِ وَلَا فِي الْإِنْجِيلِ وَلَا فِي الزَّبُورِ وَلَا فِي الْفُرْقَانِ مِثْلُهَا، وَإِنَّهَا سَبْعٌ مِنَ الْمَثَانِي، وَالْقُرْآنُ الْعَظِيمُ الَّذِي أُعْطِيتُهُ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، وَفِيهِ عَنْ أَبِي سَعِيدِ بْنِ الْمُعَلَّى. (١)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دابئ بن كعب رضي الله عنه په خوا كي تير شو او هغه په مونځ كي مشغول وو رسول الله اووئيل اي ابئ (واوره)، اواز اوريدو سره ابئ متوجه شو ليكن جواب يي ورنكړو او مونځ يي زر زر پوره كړو بيا درسول الله په خدمت كي حاضر شو او وئيل يي السلام عليك يا رسول الله رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل وعليك السلام ، رسول الله اوفرمائيل اي ابئ كله چې ما راوغوښتلي نو ته ماته ولي حاضر نشوي ؟ هغه اووئيل دالله رسوله په مونځ كي مشغول وم، رسول الله اوفرمائيل اوسه پوري چې كومه وحي په ماباندي نازل شوي ده ايا په هغي كي تا دا ايت نه دي اوريدلي "استجيبوا لله وللرسول اذادعاكم لما يحييكم" يعني اي مومنانو

١ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٤٠٧٠)

دالله او درسول دحكم تعميل اوكړو او خاصكر چې كله رسول تاسو دكوم ځيز دپاره راغواړي (الانفال) هغه اوونيل هو اوريدلي مي دي ائينده كي به انشاء الله داسي نه كوم رسول الله اوفرمائيل ايا خوښه دي نه ده چې يو داسي سورت درته بيان كړم دكوم پشان چې نه په تورات كي نازل شوي وي او نه په انجيل كي او نه په زبور كي او نه په قران كي تردي چې په قران كي هم ددي پشان سورت نه دي نازل شوي او دا سبع المثاني (اوه ايتونه) دي او همدا هغه قران عظيم دي كوم چې ماته راكړي شوي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دانس بن مالك او ابوسعيد بن معلي رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٢ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ سورة الْبَقَرَةِ وَ:الْكُرْسِيِّ

دسورة بقره اواية الكرسي دفضيلت بيان

٢٨٧٦ـ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْحُلْوَانِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْحَمِيدِ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ عَطَاءٍ مَوْلَى أَبِي أَحْمَدَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: " بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْثًا وَهُمْ ذُو عَدَدٍ فَاسْتَقْرَأَهُمْ، فَاسْتَقْرَأَ كُلَّ رَجُلٍ مِنْهُمْ مَا مَعَهُ مِنَ الْقُرْآنِ، فَأَتَى عَلَى رَجُلٍ مِنْهُمْ مِنْ أَحْدَثِهِمْ سِنًّا، فَقَالَ: مَا مَعَكَ يَا فُلَانُ ؟ قَالَ: مَعِي كَذَا وَكَذَا وَ سورة الْبَقَرَةِ، قَالَ: أَمَعَكَ سورة البقرة ؟ فَقَالَ: نَعَمْ، قَالَ: فَاذْهَبْ فَأَنْتَ أَمِيرُهُمْ، فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ أَشْرَافِهِمْ: وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا مَنَعَنِي أَنْ أَتَعَلَّمَ سورة البقرة إِلَّا خَشْيَةَ أَلَّا أَقُومَ بِهَا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تَعَلَّمُوا الْقُرْآنَ وَاقْرَءُوهُ، فَإِنَّ مَثَلَ الْقُرْآنِ لِمَنْ تَعَلَّمَهُ فَقَرَأَهُ وَقَامَ بِهِ، كَمَثَلِ جِرَابٍ مَحْشُوٍّ مِسْكًا يَفُوحُ رِيحُهُ فِي كُلِّ مَكَانٍ، وَمَثَلُ مَنْ تَعَلَّمَهُ فَيَرْقُدُ وَهُوَ فِي جَوْفِهِ، كَمَثَلِ جِرَابٍ وُكِئَ عَلَى مِسْكٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رَوَاهُ اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ عَطَاءٍ مَوْلَى أَبِي أَحْمَدَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا نَحْوَهُ، حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، عَنِ اللَّيْثِ بنِ سَعْدٍ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ عَطَاءٍ مَوْلَى أَبِي أَحْمَدَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى الله عليه وسَلم مرسَلا نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وفي الباب عن أبي ابن كَعْبٍ. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم په شمير

1 ـ سنن ابن ماجه/المقدمة ١٦ (٢١٧) (تحفة الأشراف : ١٤٢٤٢)

شمیرلي لښکر اولیږلو او دلیږلو وخت کي یي دهغوئ نه قران واوریدلو په دوئ کي چي هر یو ته څومره قران یاد وو هغه یي واورولو، کله چي دیو نوجوان نمبر راغي نو هغه اوونیل اي فلانیه تاته کوم کوم سورتونه یاد دي؟ هغه اووئیل ماته فلاني فلاني سورة او سورة بقره یاد دي ورته یي اوفرمائیل ایا سورة بقره درته یاد ده؟ هغه اووئیل هو ورته یي اوفرمائیل ورځه ته دټولو امیر مقرر شوئ دلښکر په مشرانو کي یو کس اووئیل اي دالله رسوله په الله مي دي قسم وي ماسورة بقره صرف ددي ویري په وجه نه ده یاده کړي چي زه دا مسلسل دتهجد په مونځ کي نشم لوستلي رسول الله اوفرمائیل قران یاد کړه او لوله یي او خلقو ته یي بیانوه ځکه چي دقران دلوستونکي مثال دهغه چا پشان دي چاچي دا یاد کړي وي او لوستلي یي وي او په دي یي عمل کړي وي او موتي یي دمشکو نه ډك وي او څلور واړو طرفونو ته یي خوشبو خوریږي او دهغه چا مثال چاچي دا یاد کړو او اوده شو او دقران علم یي په سینه کي بند پاتي شو دهغه موتي پشان دي کوم چي دمشکو نه ډك وي او بند پروت وي.

امام ترمذي وايي: داحدیث حسن دي داحدیث لیث بن سعد دسعید مقبري نه او هغه د ابوسعید خدري ازاد کړي غلام عطاء نه او هغه درسول الله صلي الله علیه وسلم نه مرسل نقل کړي دي او هغوئ په دي کي دابوهریره واسطه نه ده ذکر کړي.

****

٢٨٧٧ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تَجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ مَقَابِرَ، وَإِنَّ الْبَيْتَ الَّذِي تُقْرَأُ فِيهِ الْبَقَرَةُ لَا يَدْخُلُهُ الشَّيْطَانُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه: دابوهریره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي خپلو کورونو نه قبرستان مه جوړوئ په کوم کور کي چي سورة بقره لوستلي کیږي هغي ته شیطان نه داخلیږي.

امام ترمذي وايي: داحدیث حسن صحیح دي.

****

٢٨٧٨ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا حُسَيْنٌ الْجُعْفِيُّ، عَنْ زَائِدَةَ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لِكُلِّ شَيْءٍ سَنَامٌ، وَإِنَّ سَنَامَ الْقُرْآنِ سورة الْبَقَرَةِ، وَفِيهَا: هِيَ سَيِّدَةُ آيِ الْقُرْآنِ هِيَ: الْكُرْسِيِّ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا

[1] ـ صحیح مسلم/المسافرین ٢٩ (٢٨٠)، سنن ابي داود/المناسک ١٠٠

حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ حَكِيمِ بْنِ جُبَيْرٍ، وَقَدْ تَكَلَّمَ شُعْبَةُ فِي حَكِيمِ بْنِ جُبَيْرٍ وَضَعَّفَهُ. ([1])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دهر يو څيز دپاره يوه غونډۍ وي او دقران غونډۍ سورة البقره ده په دي سورة كي يو ايت دي چې دقران دټولو ايتونو سردار دي او هغه ايت اية الكرسي ده.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف دحكيم بن جبير په روايت پيژنو او په حكيم بن جبير شعبه كلام كړي دي او په باب دحديث كي يي ضعيف ګڼرلي دي.

****

٢٨٧٩ـحَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ الْمُغِيرَةِ أَبُو سَلَمَةَ الْمَخْزُومِيُّ الْمَدَنِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ الْمُلَيْكِيِّ، عَنْ زُرَارَةَ بْنِ مُصْعَبٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ قَرَأَ" حم الْمُؤْمِنَ إِلَى إِلَيْهِ الْمَصِيرُ "، وَ:الْكُرْسِيِّ حِينَ يُصْبِحُ، حُفِظَ بِهِمَا حَتَّى يُمْسِيَ، وَمَنْ قَرَأَهُمَا حِينَ يُمْسِي حُفِظَ بِهِمَا حَتَّى يُصْبِحَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ تَكَلَّمَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ الْمُلَيْكِيِّ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ، وَزُرَارَةُ بْنُ مُصْعَبٍ هُوَ ابْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، وَهُوَ جَدُّ أَبِي مُصْعَبٍ الْمَدَنِيِّ. ([2])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچې دسورة مومن (ابتدائي دري ايتونه) په حم نه تر اليه المصير پوري او اية الكرسي سحر وخت كي دبيداريدو نه پس اولوستله نو ددي دواړو په ذريعه به دماښام پوري ددي لوستونكي محفوظ وي او چاچې دا دواړه ماښام وخت كي اولوستل نو ددي په ذريعه به ددي لوستونكي دسحر كيدو پوري محفوظ ي.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي، بعضي اهل علمو په عبدالرحمن بن ابي بكر بن ابي مليكه دحافظي په اعتبار كلام كړي دي، دزراره بن مصعب پوره نوم زراره بن مصعب بن عبدالرحمن بن عوف دي او دي د ابومصعب مدني نيكه دي.

****

٣ـباب مِنْهُ

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٣٢١٣)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٤٩٥)

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٢٨٨٠ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ أَخِيهِ عِيسَى، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الأَنْصَارِيِّ، "أَنَّهُ كَانَتْ لَهُ سَهْوَةٌ فِيهَا تَمْرٌ فَكَانَتْ تَجِيءُ الغُولُ فَتَأْخُذُ مِنْهُ، قَالَ: فَشَكَا ذَلِكَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَاذْهَبْ فَإِذَا رَأَيْتَهَا، فَقُلْ: بِسْمِ اللَّهِ أَجِيبِي رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَأَخَذَهَا، فَحَلَفَتْ أَنْ لَا تَعُودَ فَأَرْسَلَهَا، فَجَاءَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ، قَالَ: حَلَفَتْ أَنْ لَا تَعُودَ. فَقَالَ: كَذَبَتْ وَهِيَ مُعَاوِدَةٌ لِلْكَذِبِ، قَالَ: فَأَخَذَهَا مَرَّةً أُخْرَى فَحَلَفَتْ أَنْ لَا تَعُودَ فَأَرْسَلَهَا، فَجَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ؟ قَالَ: حَلَفَتْ أَنْ لَا تَعُودَ. فَقَالَ: كَذَبَتْ وَهِيَ مُعَاوِدَةٌ لِلْكَذِبِ، فَأَخَذَهَا فَقَالَ: مَا أَنَا بِتَارِكِكِ حَتَّى أَذْهَبَ بِكِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَتْ: إِنِّي ذَاكِرَةٌ لَكَ شَيْئًا. :الكُرْسِيِّ اقْرَأْهَا فِي بَيْتِكَ فَلَا يَقْرَبُكَ شَيْطَانٌ وَلَا غَيْرُهُ، قَالَ: فَجَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ: مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ؟ قَالَ: فَأَخْبَرَهُ بِمَا قَالَتْ: قَالَ: صَدَقَتْ، وَهِيَ كَذُوبٌ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَفِي البَابِ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ. [1]

ترجمه : دابوايوب انصاري رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې دده يو باغ وو دكجورو چې پيريان به ورته راتلل او ددينه به يي ورته ميوه اوړله رسول الله صلي الله عليه وسلم ته يي ددي شكايت اوكړو ورته يي اوفرمائيل ورشه او اوګوره چې اوس راغلي دي او كنه او بيا اووايه بسم الله (دالله په نوم) درسول الله خبره اومنه ابوذر رضي الله عنه ده لره اونيولو او قسمونه يي خوړل او وئيل يي چې ماپريږده ذوباره به داسي نه كوم چنانچې هغه پريخودو او بيا درسول الله په خدمت كي حاضر شو رسول الله ورنه تپوس اوكړو چې ستا قيدي څه اوكړل ابوذر اووئيل هغه قسمونه خوړل چې بيا به داسي كار نه كوم رسول الله اوفرمائيل دروغژن دي دروغ يي وئيلي دي او دروغ وئيل يي عادت دي راوي وائي چې هغه بيا دوباره اونيولو او بيا يي قسمونه خوړل چې ما پريږده زه به دلته دوباره نه راځم نو ابوذر هغه پريخودو او بيا درسول الله په خدمت كي حاضر شو او تپوس يي ورنه اوكړو ستا قيدي څه اوكړل هغه اووئيل په الله يي قسم اوخوړلو چې بيا به واپس نه راځم رسول الله اوفرمائيل دروغ يي وئيلي دي او دروغ وئيل يي عادت دي بيا چې كله دوباره راغلو نو هغه اونيولو او ورته يي اووئيل رسول الله صلي الله عليه وسلم ته دبوتلو نه بغير دي نه پريږدم هغه اووئيل ماپريږده زه به درته يو څيز

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٤٨٣)، وانظر مسند احمد (٥/٤٢٣)

اوښايم يعني اية الكرسي ته يي پخپل كور كي لوله شيطان به تاته نزدي نه راځي او نه به بل كوم مضر څيز تاته راځي ابوزر رضي الله عنه درسول الله په خدمت كي حاضر شو او تپوس يي ورنه اوكړو ښتا قيدي څه اوكړل نوابوذر ورته داهر څه بيان كړل كوم چې جن وئيلي وو رسول الله اوفرمائيل خبره خو يي درسته كړي ده ليكن پوخ دوغژن دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي او په دي باب كي دابيّ بن كعب رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي.

****

٤_باب مَا جَاءَ فِي آخِرِ سورة الْبَقَرَةِ

دسورة بقري داخري ايت فضيلت

٢٨٨١_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ عَبْدِ الْحَمِيدِ، عَنْ مَنْصُورِ بْنِ الْمُعْتَمِرِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ قَرَأَ الْآيَتَيْنِ مِنْ آخِرِ سورة الْبَقَرَةِ فِي لَيْلَةٍ كَفَتَاهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : ابومسعود بدري رضي الله عنه روايت كړی دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چې څوك دشپې (په څه وخت كي) دسورة بقره اخري دوه ايتونه (دامن الرسول نه تر سورة ختيميدو پورې) اولولي هغه به دده دپاره كافي شي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

لغات : كفتاه: كفي يكفي كفاية، معني كافي كيدل

تشريح : كفتاه: څوك چې دشپې دپريوتو نه مخكې دسورة بقري اخري دوه ايتونه لولي نو دا دده دپاره كافي دي اخري دوه ايتونه دادي د امن الرسول بما انزل اليه نه دسورة تراخره پورې، دكافي كيدلو په توضيح كې ځنی حضراتو وئيلي دي چې ددی شپې دټولو ناخوښه خبرونه به لوستونكی محفوظ وي او بعضو دا مطلب بيان كړی دی چې داايتونه به دشپې دعبادت بدل اوګرځي كه چرې دشپې عبادت يی اونكړی شو نو ددی ايتونو دتلاوت اجر به ورته دومره ملاؤ

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل القرآن ١٠(٥٠٠٩). صحيح مسلم/ المسافرين ٤٣ (٨٠٧). سنن ابي داود/ الصلاة ٣٢٦ (١٣٩٧). سنن ابن ماجه/الإقامة ١٨٣ (١٣٦٩) (تحفة الأشراف : ٩٩٩٩)، و مسند احمد (٤/١١٨). سنن الدارمي/الصلاة ١٧٠(١٥٢٨).

شي خومره چې دشپې په عبادت کې ملاويدو.

امام نووي دکافي کيدو دوه مطلبونه بيان کړي دي يو خو دادی چې دشيطانانو دشرارتونو نه انسان ددي په وجه بچ کيږي دشپې عبادت خاصکر دتهجدو مونځ ددي قائم مقام کرځي ليکن بعضي علماؤ ددي دوو اضافه هم کړي ده چې دا ايتونه دايمان دتجديد دپاره کافي دي (علامه محمد حسين صديقي استاذ الحديث جامعه بنوريه)

دسورة بقري اخري دوه ايتونه دادي آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ (۲۸۵) لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا أَنْتَ مَوْلَانَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ.

****

۲۸۸۲_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ أَشْعَثَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْجَرْمِيِّ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي الْأَشْعَثِ الْجَرْمِيِّ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّ اللَّهَ كَتَبَ كِتَابًا قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضَ بِأَلْفَيْ عَامٍ أَنْزَلَ مِنْهُ آيَتَيْنِ خَتَمَ بِهِمَا سورة الْبَقَرَةِ، وَلَا يَقُولُ فِي دَارٍ ثَلَاثَ لَيَالٍ فَيَقْرَبُهَا شَيْطَانٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. ([1])

ترجمه : دنعمان بن بشير رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي دزمکي او اسمان پيداکولو نه دوه زره کاله مخکي يو کتاب ليکلي دي او په دي کتاب کي يي دوه ايتونه نازل کړي دي او په هم هغه دوه ايتونو سورة البقره ختمه شوي ده په کوم کور کي چې دا دوه ايتونه مسلسل دري شپې اولوستلي شي ممکن نه ده چې شيطان دغه کور ته داخل شي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي.

****

[1] ـ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ۲۴۹ (۹۶۷) (تحفة الأشراف: ۱۱۶۳۴)

6/21

٥_ باب مَا جَاءَ فِي سورة آلِ عِمْرَانَ

دسورة ال عمران فضيلت

٢٨٨٣_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل، أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ إِسْمَاعِيل أَبُو عَبْدِ الْمَلِكِ الْعَطَّارِ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ شُعَيْبِ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنِ الْوَلِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّهُ حَدَّثَهُمْ، عَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، عَنْ نَوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " يَأْتِي الْقُرْآنُ وَأَهْلُهُ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ بِهِ فِي الدُّنْيَا تَقْدُمُهُ سورة الْبَقَرَةِ، وَآلُ عِمْرَانَ، قَالَ نَوَّاسٌ: وَضَرَبَ لَهُمَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةَ أَمْثَالٍ، مَا نَسِيتُهُنَّ بَعْدُ، قَالَ: تَأْتِيَانِ كَأَنَّهُمَا غَيَابَتَانِ وَبَيْنَهُمَا شَرْقٌ، أَوْ كَأَنَّهُمَا غَمَامَتَانِ سَوْدَاوَانِ، أَوْ كَأَنَّهُمَا ظُلَّةٌ مِنْ طَيْرٍ صَوَافَّ تُجَادِلَانِ عَنْ صَاحِبِهِمَا " وَفِي الْبَابِ: عَنْ بُرَيْدَةَ، وَأَبِي أُمَامَةَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَمَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ: أَنَّهُ يَجِيءُ ثَوَابُ قِرَاءَتِهِ كَذَا، فَسَّرَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ هَذَا الْحَدِيثَ وَمَا يُشْبِهُ هَذَا مِنَ الْأَحَادِيثِ أَنَّهُ يَجِيءُ ثَوَابُ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ، وَفِي حَدِيثِ النَّوَّاسِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يَدُلُّ عَلَى مَا فَسَّرُوا، إِذْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " وَأَهْلُهُ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ بِهِ فِي الدُّنْيَا "، فَفِي هَذَا دَلَالَةٌ أَنَّهُ يَجِيءُ ثَوَابُ الْعَمَلِ. (١)

ترجمه : دنواس بن سمعان رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په قيامت کي به قران او قران والا چاچي په دنيا کي په دي باندي عمل کري وي دواړه راشي او مشري به يي سورة البقره او سورة ال عمران کوي رسول الله صلي الله عليه وسلم ددي دواړو سورتونو دري مثالونه ورکړي دي راوي وائي بيا ددينه پس ما دا دواړه سورتونه هير نکړل رسول الله اوفرمائيل ګويا کي دا دواړه سورتونه چترئ دي چي په مينځ کي يي سوري او درز دي او که داسي يي اوفرمائيل دا دواړه سورتونه توري وريځي دي او که داسي يي اوفرمائيل دا دمرغو لښکر دي دا دواړه سورتونه به دخپلو لوستونکو دپاره جنګيږي او دده دفاع او حفاظت به کوي.

امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند غريب دي ، او محدثينو ددي حديث دا معني کړي ده چي ددي د لوستلو ثواب به راشي، دنواس بن سمعان رضي الله عنه په حديث کي د رسول الله نه داسي مروي څه شته چي د مذکورينو په تفسير دلالت وکړي، ځکه چي ارشاد نبوي دي اهل

---

[1] _ صحيح مسلم/المسافرين ٣٢ (٨٠٥) (تحفة الأشراف : ١١٧١٣) ، و مسند احمد (٤/١٨٣)

قران هغه څوك دي چاچي ورباندي په دنيا كي عمل كولو، پس په دي حديث د دعمل د ثواب په مراد كيدو دلالت موجود دى.

تشريح: دبعضي اهل علمو په نزد ددي حديث مطلب دادي چې دقران لوستلو ثواب به په قيامت كي راشي، په دي حديث كي او ددي پشان نورو احاديثو كي بعضي اهل علمو همدا تفسير كړي دي چې دقران لوستلو ثواب به راشي، دنواس بن سمعان په حديث كي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مروي دي او په دي كي دمفسرينو ددي تفسير او تاويل ثبوت دي او په "واهله الذين يعملون به في الدنيا" كي ديته اشاره ده چې دقران دراتلو نه مراد دقران دلوستلو دثواب راتلل دي.

****

٢٨٨٤ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل، قَالَ: حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ فِي تَفْسِيرِ حَدِيثِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: "مَا خَلَقَ اللَّهُ مِنْ سَمَاءٍ، وَلَا أَرْضٍ أَعْظَمَ مِنَ الْكُرْسِيِّ"، قَالَ سُفْيَانُ: لِأَنَّ الْكُرْسِيَّ هُوَ كَلَامُ اللَّهِ، وَكَلَامُ اللَّهِ أَعْظَمُ مِنْ خَلْقِ اللَّهِ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ.[1]

ترجمه: سفيان بن عيينه به دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه دمذكوره حديث په تفسير كي فرمائيل داية الكرسي فضيلت په دي وجه دي چې دا دالله تعالي كلام دي او دالله كلام دالله په مخلوق كي يعني دزمكي او اسمان ټولو نه لوي دي.

****

٦ـ بَاب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ سورة الْكَهْفِ

دسورة كهف فضيلت

٢٨٨٥ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق، قَال: سَمِعْتُ الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ، يَقُولُ: بَيْنَمَا رَجُلٌ يَقْرَأُ سورة الْكَهْفِ إِذْ رَأَى دَابَّتَهُ تَرْكُضُ، فَنَظَرَ فَإِذَا مِثْلُ الْغَمَامَةِ أَوِ السَّحَابَةِ، فَأَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "تِلْكَ السَّكِينَةُ نَزَلَتْ مَعَ الْقُرْآنِ أَوْ نَزَلَتْ عَلَى الْقُرْآنِ"، وَفِي الْبَابِ، عَنْ أُسَيْدِ بْنِ

[1] ـ صحيح مسلم/المسافرين ٣٢ (٨٠٥) (تحفة الأشراف: ١١٤١٣) . و مسند احمد (٣/١٨٣)

حُضَيْرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه: براء بن عازب رضي الله عنه فرمائي چې يو كس سورة كهف لوستلو چې دي دوران كي خپل څاروي اوليدو چې ټوپونه يي وهل نو ده ديخوا او اخوا نظر اوزغلولو نو يوه وريځ يي اوليده او بيا درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شو او واقعه يي ورته بيان كړه ورته يي اوفرمائيل دا هغه سكينت دي كوم چې دقران په وجه يا دقران دلوستلو په وجه نازل شوي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي، په دي باب كي داسيد بن حضير رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي.

****

٢٨٨٦ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ، عَنْ مَعْدَانَ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ قَرَأَ ثَلَاثَ آيَاتٍ مِنْ أَوَّلِ الْكَهْفِ عُصِمَ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ".

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه: دابوالدرداء رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چې چا دسورت كهف ړومبي دري ايتونه حفظ تلاوت كړل هغه به د دجال دفتنى نه محفوظ وي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

لغات: عصم يعصم عصما دسمع يسمع باب نه په معني دبچ كيدو دي.

تشريح: ددجال ظهور به قيامت ته نژدي كيږي الله تعالي به هغه ته داسي خارق عادتونه وركړي چې كمزوري ايمان والا به ددي په ليدو سره مرتد شي، او ددجال فتنه به په ټولو فتنو كې ډيره سخته وي همدا وجه ده چې هر يو نبي ددجال دفتني نه خپل امت ويرولى دى اوزمونږ نبي هم ددجال په باره كې تفصيلي وضاحت كړى دى چې څوك دسورة كهف لس ايتونه په

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /المناقب ٢٥ (٣٦١٤) . وتفسير سورة الفتح ٣ (٤٨٣٩) . وفضائل القرآن ١١ (٥٠١١) ، صحيح مسلم /المسافرين ٣٦ (٧٩٥) (تحفة الأشراف : ١٨٤٢)

[2] ـ صحيح مسلم /المسافرين ٤٤ (٨٠٩) . سنن ابي داود/ الملاحم ١٤ (٤٣٢٣) (تحفة الأشراف : ١٠٩٦٣)

اهتمام سره لولي نو الله تعالى به يي د دجال د شر نه محفوظ كړي

* * * * * * * * * * * * * * * * *

٧_ باب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ يس

دسورة يس فضيلت

٢٨٨٧_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، وَسُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الرُّؤَاسِيُّ، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ هَارُونَ أَبِي مُحَمَّدٍ، عَنْ مُقَاتِلِ بْنِ حَيَّانَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ""إِنَّ لِكُلِّ شَيْءٍ قَلْبًا وَقَلْبُ الْقُرْآنِ يس، وَمَنْ قَرَأَ يس كَتَبَ اللَّهُ لَهُ بِقِرَاءَتِهَا قِرَاءَةَ الْقُرْآنِ عَشْرَ مَرَّاتٍ""، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، وَبِالْبَصْرَةِ لَا يَعْرِفُونَ مِنْ حَدِيثِ قَتَادَةَ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَهَارُونُ أَبُو مُحَمَّدٍ شَيْخٌ مَجْهُولٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ الدَّارِمِيُّ، حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بِهَذَا، وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ، وَلَا يَصِحُّ حَدِيثُ أَبِي بَكْرٍ مِنْ قِبَلِ إِسْنَادِهِ، وَإِسْنَادُهُ ضَعِيفٌ، وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. [1]

ترجمه: دانس رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دهر يو ځيز دپاره زړه وي او دقران زړه سورة يس دي، چاچې سورة يس اولوستلو الله تعالي دده دپاره ددي لوستلو په بدل كي دلس پيري قران لوستلو ثواب وركوي په پورتني سند هم دسابقه حديث هم معني مروي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف دحميد بن عبدالرحمن په روايت پيژنو او اهل بصره دقتاده روايت صرف په همدي سند پيژني او هارون ابومحمد يو مجهول شيخ دي، او په دي باب كي دابوبكر صديق رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي، او دا روايت دسند په اعتبار درست نه دي، او سند يي ضعيف دي او په دي باب كي دابوهريره نه هم روايت وارد دي

* * * * * * * * * * * * * * * * *

٨_ باب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ حم الدُّخَانِ

دسورة الدخان فضيلت

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٥٠)

٢٨٨٨_حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي خَثْعَمٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ قَرَأَ حم الدُّخَانَ فِي لَيْلَةٍ أَصْبَحَ يَسْتَغْفِرُ لَهُ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَعُمَرُ بْنُ أَبِي خَثْعَمٍ يُضَعَّفُ، قَالَ مُحَمَّدٌ: وَهُوَ مُنْكَرُ الْحَدِيثِ. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چې سورة حم الدخان دشپې وخت کې اولولي دي به په داسي حالت کې صبا کوي چې اويا زره فرشتې به دده دپاره دمغفرت دعا غواړي.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي مونږ يې صرف په همدي سند پيژنو او محدثينو دعمر بن ابي خثعم تضعيف کړي دي، امام بخاري وائي چې عمر بن ابي خثعم منکر الحديث دي.

****

٢٨٨٩_حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ، عَنْ هِشَامٍ أَبِي الْمِقْدَامِ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ قَرَأَ حم الدُّخَانَ فِي لَيْلَةِ الْجُمُعَةِ غُفِرَ لَهُ "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَهِشَامٌ أَبُو الْمِقْدَامِ يُضَعَّفُ، وَلَمْ يَسْمَعِ الْحَسَنُ مِنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، هَكَذَا قَالَ أَيُّوبُ، وَيُونُسُ بْنُ عُبَيْدٍ، وَعَلِيُّ بْنُ زَيْدٍ. (2)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چې سورة حم الدخان دجمعې په شپه اولولي دي به په داسي حالت کې صبا کوي چې اويا زره فرشتې به دده دپاره دمغفرت دعا غواړي.

امام ترمذي وايي: داحديث مونږ صرف په همدي سند پيژنو او هشام ابو المقدام دمحدثينو په نزد ضعيف دي او همدا رنګې دابوهريره رضي الله عنه نه دحسن بصري سماع هم ثابت نه ده يونس بن عبيد او علي بن زيد هم په دې باندې قول کړي دي.

****

٩_بَاب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ سُورَةِ الْمُلْكِ

1 _ تفرد به المؤلف

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٢٢٥٢)

دسورة الملك فضيلت

۲۸۹۰_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي الشَّوَارِبِ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ عَمْرِو بْنِ مَالِكٍ النُّكْرِيُّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي الْجَوْزَاءِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: ضَرَبَ بَعْضُ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خِبَاءَهُ عَلَى قَبْرٍ، وَهُوَ لَا يَحْسِبُ أَنَّهُ قَبْرٌ، فَإِذَا فِيهِ إِنْسَانٌ يَقْرَأُ سُورَةَ تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ حَتَّى خَتَمَهَا، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي ضَرَبْتُ خِبَائِي عَلَى قَبْرٍ، وَأَنَا لَا أَحْسِبُ أَنَّهُ قَبْرٌ فَإِذَا فِيهِ إِنْسَانٌ يَقْرَأُ سُورَةَ تَبَارَكَ الْمُلْكُ حَتَّى خَتَمَهَا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " هِيَ الْمَانِعَةُ هِيَ الْمُنْجِيَةُ تُنْجِيهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. [1]

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائي چې په صحابه کرامو کې يو کس ديو قبر دپاسه خيمه اووهله او هغه ته دا معلومه نه وه چې دلته قبر دي نويو اواز يې واووريدو چې په قبر کې يو انسان سورة الملك لوستلو تردي پورې چې پوره سورة يې ختم کړونو دغه صحابي دنبي کريم صلي الله عليه وسلم خدمت کې حاضر شو اوعرض يې اوکړو اې دالله رسوله ما په يو قبردپاسه خيمه وهلې وه او زما دا خيال نه وو چې دلته به قبر وي مګر ناڅاپه ما هلته ديو انسان اواز واوريدو چې سورة الملك يې لوستلو تردي چې ختم يې کړو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل "هي المانعة" يعني دا سورة مانعه دي او دا سورة نجات ورکونکې دي خپل لوستونکي لره دقبر دعذاب نه.

امام ترمذي وايي: دا حديث په دي سند حسن غريب دي او په دي باب کې دابوهريره رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي.

****

۲۸۹۱_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ عَبَّاسٍ الْجُشَمِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " إِنَّ سُورَةً مِنَ الْقُرْآنِ ثَلَاثُونَ آيَةً: شَفَعَتْ لِرَجُلٍ حَتَّى غُفِرَ لَهُ، وَهِيَ سُورَةُ تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٣٦٤)

حَسَنٌ. [1]

ترجمه: ابوهریره رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل چې په قران کې ددیرشو ایتونو یو سورت دی چې هغه به دومره زیات سفارش دخپل ویونکي دپاره کوي چې هغه به اوبخښلی شي او هغه سورة ملك دی.

امام ترمذي وایي: دا حدیث حسن صحیح دی.

لغات: شفعت لرجل: شفع شفاعة: معني سفارش کول.

تشریح: ثلاثون اية شفعت لرجل. دیریشت ایتونو والا سورة دی چې سفارش یي کړی دی سورة ملك ډیرو فضائلو والا سورة دی په یو روایت کې دا ارشاد نبوي وارد دی زما زړه غواړي چې دا سورة دي دهر مومن په زړه کې وي په یو بل روایت کې راځي چې دا سورة دالله تعالي عذاب منع کوي او نجات ورکونکی دی دپورتني حدیث مطلب دادی چې دا سورة به دقیامت په ورځ دخپل لوستونکي دالله تعالي په دربار کې دمغفرت سفارش کوي.

شفعت: سفارش یي اوکړو دماضي صیغه ده لیکن ترجمه یي دمضارع ده دماضي وقوع یقیني او محقق وي نو دا رنګې سفارش هم یقیني دی او په بعضې روایتونو کې دمضارع صیغه راغلي ده.

****

٢٨٩٢_حَدَّثَنَا هُرَيْمُ بْنُ مِسْعَرٍ تِرْمِذِيٌّ، حَدَّثَنَا الْفُضَيْلُ بْنُ عِيَاضٍ، عَنْ لَيْثٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ لَا يَنَامُ حَتَّى يَقْرَأَ" الم تَنْزِيلُ "وَ" تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ رَوَاهُ غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ لَيْثِ بْنِ أَبِي سُلَيْمٍ، مِثْلَ هَذَا، وَرَوَاهُ مُغِيرَةُ بْنُ مُسْلِمٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ هَذَا، وَرَوَى زُهَيْرٌ، قَالَ: قُلْتُ لِأَبِي الزُّبَيْرِ سَمِعْتَ مِنْ جَابِرٍ، فَذَكَرَ هَذَا الْحَدِيثَ، فَقَالَ أَبُو الزُّبَيْرِ: إِنَّمَا أَخْبَرَنِيهِ صَفْوَانُ، أَوِ ابْنُ صَفْوَانَ، وَكَأَنَّ زُهَيْرًا أَنْكَرَ أَنْ يَكُونَ هَذَا الْحَدِيثُ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ.

حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، عَنْ لَيْثٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ.

---

[1] _ سنن ابي داود/ الصلاة ٣٢٧ (١٤٠٠) . النسائي/عمل اليوم والليلة ٢٠٧ (٧١٠) . ابن ماجه/ الأدب ٥٢ (٣٧٨٦) (تحفة الأشراف: ١٣٥٥٠) . و الدارمي/فضائل القرآن ٢٣ (٣٤٥٢)

قَالَ: حَدَّثَنَا هُرَيْمٌ بْنُ مِسْعَرٍ، حَدَّثَنَا فُضَيْلٌ، عَنْ لَيْثٍ، عَنْ طَاوُسٍ، قَالَ: تَفْضُلَانِ عَلَى كُلِّ سُورَةٍ فِي الْقُرْآنِ بِسَبْعِينَ حَسَنَةً. (1)

ترجمه : دجابر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به سورة الف لام ميم السجده او سورة الملك څو پوري لوستلي نه وو تر هغي پوري به نه اوده كيدو.

امام ترمذي وايي: دا حديث يو څو راويانو دليث بن سليم نه په همدي مضمون نقل كړي دي. مغيره بن مسلم دابوزبير نه او هغه دجابر رضي الله عنه په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني نقل كړي دي زهير دروايت كولو په حال كي وائي ما ابو زبيرته اووئيل ايا تا كوم حديث درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي؟ نو همدا حديث يې راته بيان كړو ابو زبير اووئيل ماته صفوان يا ابن صفوان خبر راكړي دي نو زهير دابو زبير نه دجابر په واسطه ددي حديث دنقل كولو نه انكار اوكړو.

****

١٠_ بَاب مَا جَاءَ فِي إِذَا زُلْزِلَتْ

دسورة الزلزال فضيلت

٢٨٩٣_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُوسَى الْحَرَشِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ سَلْمِ بْنِ صَالِحٍ الْعِجْلِيُّ، حَدَّثَنَا ثَابِتٌ الْبُنَانِيُّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ قَرَأَ" إِذَا زُلْزِلَتْ " عُدِلَتْ لَهُ بِنِصْفِ الْقُرْآنِ، وَمَنْ قَرَأَ " قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ " عُدِلَتْ لَهُ بِرُبُعِ الْقُرْآنِ، وَمَنْ قَرَأَ " قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ " عُدِلَتْ لَهُ بِثُلُثِ الْقُرْآنِ "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ هَذَا الشَّيْخِ الْحَسَنِ بْنِ سَلْمٍ، وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. (2)

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چې سورة زلزال اولولي هغه ته به دنيم قران لوستلو برابر ثواب ملاويږي، او څوك چې سورة الكافرون اولولي نو هغه ته به دقران دڅلورمي حصي برابر ثواب ملاويږي او څوك چې سورة اخلاص اولولي هغه ته به دقران د دريمي حصي دتلاوت كولو برابر ثواب وركولي شي.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي او دا حديث مونږ صرف دحسن بن سلم په سند پيژنو، او په دي باب كي دابن عباس نه هم حديث وارد دي.

---

[1] _ النسائي/عمل اليوم والليلة ٣٠٦ (٧٠٨) (تحفة الأشراف: ٢٩٢١). واحمد (٣/٣٤٠)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢٨٣)

****

٢٨٩٤_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا يَمَانُ بْنُ الْمُغِيرَةِ الْعَنَزِيُّ، حَدَّثَنَا عَطَاءٌ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا زُلْزِلَتْ" تَعْدِلُ نِصْفَ الْقُرْآنِ، "وَقُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ" تَعْدِلُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ، "وَقُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ" تَعْدِلُ رُبُعَ الْقُرْآنِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ يَمَانِ بْنِ الْمُغِيرَةِ.(١)

ترجمه: دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي سورة زلزال په ثواب كي دنيم قران لوستلو سره برابر دي او سورة اخلاص دقران د دريمي حصي دلوستلو سره په ثواب كي برابر دي او سورة كافرون دقران دڅلورمي حصي دلوستلو سره په ثواب كي برابر دي.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي او مونږ يي صرف ديمان بن مغيره په سند پيژنو.

****

٢٨٩٥_حَدَّثَنَا عُقْبَةُ بْنُ مُكْرَمٍ الْعَمِّيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنِي ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، أَخْبَرَنَا سَلَمَةُ بْنُ وَرْدَانَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ لِرَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِهِ: "هَلْ تَزَوَّجْتَ يَا فُلَانُ؟ قَالَ: لَا وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَلَا عِنْدِي مَا أَتَزَوَّجُ بِهِ، قَالَ: أَلَيْسَ مَعَكَ "قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ"؟ قَالَ: بَلَى، قَالَ: ثُلُثُ الْقُرْآنِ، قَالَ: أَلَيْسَ مَعَكَ "إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ"؟ قَالَ: بَلَى، قَالَ: رُبُعُ الْقُرْآنِ، قَالَ: أَلَيْسَ مَعَكَ "قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ"؟ قَالَ: بَلَى، قَالَ: رُبُعُ الْقُرْآنِ، قَالَ: أَلَيْسَ مَعَكَ "إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ"؟ قَالَ: بَلَى، قَالَ: رُبُعُ الْقُرْآنِ، قَالَ: تَزَوَّجْ تَزَوَّجْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ.(٢)

ترجمه: دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم خپل يو صحابي ته اوفرمائيل اي فلان ايا واده دي كړي دي؟ هغه اووئيل په الله قسم اي دالله رسوله نه مي دي كړي او نه زما سره داسي څه شته چي واده ورباندي اوكړي شم رسول الله اوفرمائيل ايا تاسره قل هو الله احد نشته؟ هغه اووئيل ولي نه ما سره شته رسول الله اوفرمائيل قل هوالله احد په ثواب كي دقران د دريمي حصي دلوستلو سره برابر دي او بيا يي اوفرمائيل ايا تاسره

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٩٤٠)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٤٠)

سورة نصر نشته؟ هغه اووئيل ولي نه رسول الله اوفرمائيل دا سورة په ثواب كي دقران دڅلورمي حصي سره برابر دي او بيا يي اوفرمائيل ايا تاسره سورة الكافرون نشته هغه اووئيل ولي نه رسول الله اوفرمائيل دا سورة په ثواب كي دقران دڅلورمي حصي سره برابر دي بيا يي اوفرمائيل ايا تاسره سورة الزلزال نشته هغه اووئيل ولي نه رسول الله اوفرمائيل دا سورة په ثواب كي دقران دڅلورمي حصي سره برابر دي او واده اوكړه او واده اوكړه.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي.

****

١١_ بَابُ مَا جَاءَ فِي سُورَةِ الإِخْلاَصِ

دسورة اخلاص فضيلت

د ابو الدرداء رضي الله عنه نه روايت دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: ايا تاسو هره شپه ديوثلث قران لوستلو نه عاجز يئ؟ صحابه كرامو عرض وكړو چې هره شپه يوثلث قران لوستلو څوك طاقت لري؟ نو وئي فرمائيل چې قل هو الله احد لوستل په (ثواب كي) دقران ديوثلث لوستلو سره برابر دي(رواه مسلم).

دعائشه رضي الله عنها نه روايت دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم يوكس ديوي فوجي دستي سره وليږلو او دي كس به هميشه خپلو ملګرو ته په قل هوالله احد باندي مونځ وركولو ، پس كله چې دوئ واپس راغلل نو رسول الله صلي الله عليه وسلم ته يي ددي ذكر وكړو ، رسول الله او فرمائيل دهغه نه تپوس وكړئ چې داسي يي ولي كول؟ هغه په جواب كي ووئيل چې په دي سورت كي سراسر درحمٰن صفات دي ځكه يي زه بار بار لوستل خوښوم ، رسول الله اوفرمائيل هغه ته اووايئ چې الله تعالي هم دده سره محبت لري(متفق عليه).

د انس رضي الله عنه نه روايت دي چې يوكس عرض وكړو اي دالله رسوله زما دذي سورت يعني قل هو الله احد سره ډير زيات محبت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل همدي عمل ته جنت ته رسولي يي (رواه الترمذي) بخاري هم ددي يو هم معني روايت نقل كړي دي.

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ديوكس نه قل هوالله احد لوستل واوريدل نو ويي فرمائيل چې واجب شو ، عرض وكړي شو څه واجب شول؟ ورته يي اوفرمائيل جنت (رواه مالك والترمذي والنسايي).

د انس رضي الله عنه نه روايت دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: څوك چې دېريوتلو په وخت په ښي اړخ څملي او سل پيري قل هو الله احد ولولي كله چې دقيامت ورځ

راشي نوپروردګار عالم به ده ته اوفرمائي اي زما بنده په خپل ښي اړخ جنت ته داخل شه (رواه الترمذي في سننه وقال حديث حسن غريب).

په يو روايت کي راغلي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: څوک چې سل پيري قل هو الله احد ولولي نو ده دپنځوسو کلونو ګناه معاف کړي شي مګر که په ده باندي دچا قرض وي نو هغه نه معاف کيږي) رواه الترمذي والدارمي.

په يو روايت کي دپنځوسو پيرو ذکر راغلي دي او د قرض استثناء پکي نه ده ذکر شوي، دسعيد بن المسيب رحمة الله عليه نه يو مرسل روايت مروي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: څوک چې يولس پيري قل هو الله احد ولولي نو ده دپاره په جنت کي يو محل جوړ کړي شي او څوک چې يي شل پيري ولولي دده دپاره په جنت کي دوه کورونه جوړولي شي اوڅوک چې يي ديرش پيري ولولي دهغه دپاره به په جنت کي دري کورونه جوړيږي، ددي په اوريدو سره عمر رضي الله عرض وکړو اي دالله رسوله بيا خو به زمونږ کورونه ډير زيات وي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دالله عطيات ددينه هم زيات وسيع دي، والله اعلم

٢٨٩٦ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، وَمُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا زَائِدَةُ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ هِلَالِ بْنِ يَسَافٍ، عَنْ رَبِيعِ بْنِ خُثَيْمٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنِ امْرَأَةِ أَبِي أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَيَعْجِزُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَقْرَأَ فِي لَيْلَةٍ ثُلُثَ القُرْآنِ؟ مَنْ قَرَأَ اللَّهُ الوَاحِدُ الصَّمَدُ فَقَدْ قَرَأَ ثُلُثَ القُرْآنِ". وَفِي البَابِ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَقَتَادَةَ بْنِ النُّعْمَانِ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَنَسٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَأَبِي مَسْعُودٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَلَا نَعْرِفُ أَحَدًا رَوَى هَذَا الحَدِيثَ أَحْسَنَ مِنْ رِوَايَةِ زَائِدَةَ، وَتَابَعَهُ عَلَى رِوَايَتِهِ إِسْرَائِيلُ، وَالفُضَيْلُ بْنُ عِيَاضٍ، وَقَدْ رَوَى شُعْبَةُ وَغَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الثِّقَاتِ هَذَا الحَدِيثَ، عَنْ مَنْصُورٍ، وَاضْطَرَبُوا فِيهِ. (1)

ترجمه: دابو ايوب انصاري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ايا په تاسو کي څوک ددي خبري نه هم عاجز شته چې په شپه کي دقران دريمه حصه اولولي او چاچې الله الواحد الصمد اولوستلو (يعني سورة اخلاص يي اولوستلو نو يقينا هغه دقران دريمه حصه اولوستله.

---

1 ـ سنن النسائي/الافتتاح ٦٩ (تحفة الأشراف: ٣٥٠٢). و مسند احمد (٥/٤١٩). وسنن الدارمي/فضائل القرآن ٢٣ (٣٣٨٠)

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي او مونږ ته هيڅوك نه دي معلوم چاچې دزائده دسند نه دا روايت په بهتر سند بيان کړي وي او دده په دي روايت کې دده متابعت اسرائيل، فضيل بن عياض کړي دي، شعبه او دده نه علاوه بعضي نورو راويانو داحديث دمنشور نه نقل کړي دي او دوئ ټول په دوئ کې په اضطراب کې مبتلا شوي دي، او په دې باب کې دابو الدرداء او ابوسعيد خدري قتاده بن نعمان ، ابوهريره، انس، ابن عمر، او ابو مسعود رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٢٨٩٧ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنِ ابْنِ حُنَيْنٍ مَوْلًى لِآلِ زَيْدِ بْنِ الْخَطَّابِ أَوْ مَوْلَى زَيْدِ بْنِ الْخَطَّابِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: أَقْبَلْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَسَمِعَ رَجُلًا يَقْرَأُ قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ اللهُ الصَّمَدُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وَجَبَتْ، قُلْتُ: وَمَا وَجَبَتْ؟ قَالَ: الْجَنَّةُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، وَابْنُ حُنَيْنٍ هُوَ عُبَيْدُ بْنُ حُنَيْنٍ. ([1])

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې زه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم سره راغلم او هلته يې ديو کس نه قل هوالله احد الله الصمد واوريدل رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل واجب شو ما اووئيل څه واجب شو؟ ويې فرمائيل جنت واجب شو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي او مونږ دا حديث صرف دمالك بن انس په سند پيژنو.

****

٢٨٩٨ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَرْزُوقٍ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ مَيْمُونٍ أَبُو سَهْلٍ، عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ قَرَأَ كُلَّ يَوْمٍ مِائَتَيْ مَرَّةٍ "قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ" مُحِيَ عَنْهُ ذُنُوبُ خَمْسِينَ سَنَةً إِلَّا أَنْ يَكُونَ عَلَيْهِ دَيْنٌ". ([2])

ترجمه: دانس بن مالك رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چې هره ورځ دوه سوه پيري قل هوالله احد لولي نو دقرض نه علاوه دپنځوسو کالو پوري ګناهونه به يې محوه شي.

---

[1] ـ سنن النسائي/الافتتاح ٦٩ (٩٩٥) (تحفة الأشراف: ١٤١٢٤) . والموطأ: القرآن ٦ (١٨) . ومسند احمد (٢/٥٣٦)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢٨١)

****

وَبِهَذَا الإِسْنَادِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ أَرَادَ أَنْ يَنَامَ عَلَى فِرَاشِهِ فَنَامَ عَلَى يَمِينِهِ، ثُمَّ قَرَأَ" قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ " مِائَةَ مَرَّةٍ فَإِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ يَقُولُ لَهُ الرَّبُّ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَا عَبْدِيَ ادْخُلْ عَلَى يَمِينِكَ الْجَنَّةَ "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ أَيْضًا عَنْ ثَابِتٍ. (1)

ترجمه : په مذكوره سند دا روايت هم دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي چې فرمائيل يي څوك چې پخپله بستره پريوتل غواړي نو په ښي اړخ دي څملي او بيا دي قل هوالله احد سل پيري اولولي (ددي فائده به دا وي) كله چې دقيامت ورځ راشي الله تعالي به اوفرمائي اي زما بنده په ښي طرف باندي جنت ته داخل شه.

امام ترمذي وايي: داحديث دثابت په سند دانس رضي الله عنه نه غريب دي او دا رنګي دا حديث ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم دثابت نه مروي دي.

****

٢٨٩٩_حَدَّثَنَا الْعَبَّاسُ بْنُ مُحَمَّدٍ الدُّورِيُّ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ مَخْلَدٍ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ، حَدَّثَنَا سُهَيْلُ بْنُ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ " تَعْدِلُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ "، هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه وائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دسورة قل هو الله احد په باره كې اوفرمائيل چې دا دقران ددريمى حصى برابر دى.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دى.

لغات : ثلث: معني دريمه حصه.

تشريح : په دي روايت كې هم ددي خبري وضاحت دى چې سورة اخلاص داسرار او بلاغت او كمالاتو اواجر او ثواب په اعتبار سره دقران كريم د دريمي حصي سره برابر دى.

پدي يو سوال وارديږي كله چې سورت اخلاص ثواب دقران د دريمي حصي سره برابر دى نو بيا كه دري خله سورة اخلاص اولوستلى شي نو پوره قران لوستلو ته څه ضرورت دى؟ بس همدا كافي دى كنه؟

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢٨١)

2 _ سنن ابن ماجه/الأدب ٥٢ (٣٧٨٣) (تحفة الأشراف: ١٢٦٧١)

جواب: سورة اخلاص ته ثلث دقران ونيلى شوي وي دا دمضامينو په اعتبار سره او په همدي وجه چې څوك دا يوځل اولولي نو دقران د دريمي حصي ثواب ورته ملاويږي او چې په دريم ځل يي اولولي نو بيا هم ورته د دريمي حصني ثواب ملاويږي، هرڅومره پيري چې يي لولي په هره پيره به ورته دقران د دريمي حصي ثواب ملاويږي ځکه چې په قران شريف کې دري مضامين بيان شوي دي، اول قصص، دويم احکام، دريم دالله تعالي اوصاف او په سورة اخلاص کې صرف ديو مضمون بيان دی يعني دالله تعالي دصفاتو بيان.

****

۲۹۰۰ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ كَيْسَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو حَازِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " احْشُدُوا فَإِنِّي سَأَقْرَأُ عَلَيْكُمْ ثُلُثَ الْقُرْآنِ، قَالَ: فَحَشَدَ مَنْ حَشَدَ، ثُمَّ خَرَجَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَرَأَ " قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ " ثُمَّ دَخَلَ، فَقَالَ بَعْضُنَا لِبَعْضٍ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَإِنِّي سَأَقْرَأُ عَلَيْكُمْ ثُلُثَ الْقُرْآنِ إِنِّي لَأَرَى هَذَا خَبَرًا جَاءَ مِنَ السَّمَاءِ، ثُمَّ خَرَجَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: إِنِّي قُلْتُ: سَأَقْرَأُ عَلَيْكُمْ ثُلُثَ الْقُرْآنِ، أَلَا وَإِنَّهَا تَعْدِلُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَأَبُو حَازِمٍ الْأَشْجَعِيُّ اسْمُهُ سَلْمَانُ.[1]

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل تاسو ټول راټول شئ ځکه چې زه تاسوته دقران دريمه حصه لوستل غوارم چنانچې درسول الله صلي الله عليه وسلم په بلنه چې څوك هم خبر شول هغوئ راجمع شول او بيا رسول الله بهر تشريف راوړو او قل هوالله احد يي اولوستلو او بيا ځيلي هجري ته واپس داخل شو بعضي صحابه کرامو ګنګوسي شروع کړل رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ډيره نزدي ده چې زه تاسو ته دقران دريمه حصه واوروم، زما خيال دي دا کار په دي وجه اوشو چې داسمان نه ورته کوم خبر راغي او بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم دځپلي کمري نه خارج شو او ويي فرمائيل ما تاسو ته وئيلي وو چې تاسوته به دقران دريمه حصه اوروم نو واورئ هغه دا سورة دي قل هوالله احد دا سورة د قران د دريمي حصي سره برابر دي

امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي.

****

[1] ـ صحيح مسلم/المسافرين ۴۵ (۸۱۲) (تحفة الأشراف: ۱۳۴۴۱)، ومسند احمد (۲/۴۲۹)

٢٩٠١_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ أَبِي أُوَيْسٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: كَانَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ يَؤُمُّهُمْ فِي مَسْجِدِ قُبَاءَ. فَكَانَ كُلَّمَا افْتَتَحَ سُورَةً يَقْرَأُ لَهُمْ فِي الصَّلَاةِ فَقَرَأَ بِهَا افْتَتَحَ بِ قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْهَا، ثُمَّ يَقْرَأُ بِسُورَةٍ أُخْرَى مَعَهَا، وَكَانَ يَصْنَعُ ذَلِكَ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ، فَكَلَّمَهُ أَصْحَابُهُ فَقَالُوا: إِنَّكَ تَقْرَأُ بِهَذِهِ السُّورَةِ ثُمَّ لَا تَرَى أَنَّهَا تُجْزِيكَ حَتَّى تَقْرَأَ بِسُورَةٍ أُخْرَى، فَإِمَّا أَنْ تَقْرَأَ بِهَا وَإِمَّا أَنْ تَدَعَهَا وَتَقْرَأَ بِسُورَةٍ أُخْرَى، قَالَ: مَا أَنَا بِتَارِكِهَا، إِنْ أَحْبَبْتُمْ أَنْ أَؤُمَّكُمْ بِهَا فَعَلْتُ، وَإِنْ كَرِهْتُمْ تَرَكْتُكُمْ، وَكَانُوا يَرَوْنَهُ أَفْضَلَهُمْ وَكَرِهُوا أَنْ يَؤُمَّهُمْ غَيْرُهُ، فَلَمَّا أَتَاهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرُوهُ الْخَبَرَ فَقَالَ: "يَا فُلَانُ، مَا يَمْنَعُكَ مِمَّا يَأْمُرُ بِهِ أَصْحَابُكَ وَمَا يَحْمِلُكَ أَنْ تَقْرَأَ هَذِهِ السُّورَةَ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ". فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنِّي أُحِبُّهَا، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ حُبَّهَا أَدْخَلَكَ الْجَنَّةَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ ثَابِتٍ. ([1])

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې مابه مسجد قبا کي يو انصاري ته امامت ورکولو او دهغه عادت دا وو چې کله به يي هم اراده کوله چې کوم سورة په مونځ کي اولولي نو همدا سورة به يي اولوستلو ليکن ددغه سورة نه به يي مخکي قل هوالله احد پوره لوستلو او بيا به يي ورسره يو بل سورة اولوستلو او هغه به دا عمل په هر رکعات کي کولو دمونځ ملګرو ورسره په دي باره کي خبري اوکړي نو هغه اووئيل ته دا سورة لولي نو ګني ستا دا خيال وي چې دا سورة کافي نه دي تردي پوري چې بيا ورسره يو بل سورة هم اولولي ستا دپاره پکار دي چې يا خو صرف همدا سورة اولولي او يا دا سورة پريږدي او کوم بل سورة اولولي «دواړو ته څه ضرورت دي» نو هغه اووئيل زه خو هرګز ددي پريخودونکي نه يم که ستاسو خوښه وي چې زه درته مونځ درکړم نو په همدي به درته امامت درکوم او که تاسو يي نه خوښوئ نو زه به ستاسو امامت پريږدم، او دخلقو حال دا وو چې انس هغوئ دځان نه بهتر ګڼړلو او دا يي بده ګڼړله چې دهغه نه علاوه بل څوك امامت ورکړي چنانچې کله رسول الله صلي الله عليه وسلم دوئ ته تشريف راوړو نو دوئ ورته ټوله واقعه بيان کړه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي فلانيه ستاسو دا ملګري چې څه وائي په دي باندي دعمل کولو نه څه څيز تاسو لره منع کوي او ستاسو څه مجبوري ده چې په دي عمل نشئ کولي هغوئ

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الأذان ١٠٦ (٧٧٤/مسلم)

اوونیل اي دالله رسوله مونږ ده لره خوښوو رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل دده محبت به تاسو جنت ته داخل کړي.
امام ترمذي وایي: داحدیث په دي سند حسن غریب صحیح دي او دا حدیث دعبیدالله بن عمر په روایت چې دثابت نه یي نقل کوي مروي دي.

****

وَرَوَى مُبَارَكُ بْنُ فَضَالَةَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ رَجُلًا، قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي أُحِبُّ هَذِهِ السُّورَةَ " قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ " فَقَالَ: " إِنَّ حُبَّكَ إِيَّاهَا يُدْخِلُكَ الْجَنَّةَ ". حَدَّثَنَا بِذَلِكَ أَبُو دَاوُدَ سُلَيْمَانُ بْنُ الْأَشْعَثِ، حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ، حَدَّثَنَا مُبَارَكُ بْنُ فَضَالَةَ، بِهَذَا. (۱)

ترجمه : مبارك بن فضاله دثابت په واسطه دانس رضي الله عنه نه روایت نقل کوي چې یو کس اوونیل اي دالله رسوله زما ددي سورۃ سره ډیر محبت دي یعني قل هوالله احد سره رسول الله اوفرمائیل دي سورة سره ستا محبت به تالره جنت ته داخل کړي، ابو داود سلیمان بن اشعث دابو الولید په واسطه هم دمبارك بن فضاله نه دا روایت نقل کړي دي.

****

۱۲_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْمُعَوِّذَتَيْنِ

دمعوذتینو دفضیلت بیان

کلبي دابوصالح په روایت دابن عباس رضي الله عنهما قول بیان کړي دي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم سخت بیمار شو او په خوب کي ورته دوه فرشتي راغلي چې یوه یي سر ته اودریده او دویمه یي خپو ته دخپو والا سر والا ته اوونیل په ده باندي څه شوي دي؟ سر والا اوونیل بیمار دي خپو والا اوونیل څه بیماري یي ده، سر والا اوونیل جادو ورباندي شوي دي، خپو والا اوونیل چا ورباندي کړي دي، سر والا اوونیل لبید بن اعصم یهودي ، خپو والا وونیل چرته یي کړي دي، او چې کوم جادو یي کړي دي هغه چرته دي، سر والا فرشتي اوونیل په یوه تسمه کي شوي دي کوم چې په کوهي کي یي د کاڼړي لاندي ایخودلي شوي دي کوهي ته ورشه او تیولي اوبه راوباسه او کاڼړي به راپورته کړي او دکجوري پڼ ورنه لري کړي او اوبه یي سوزوي کله چې سحر شو نو رسول الله صلي الله علیه وسلم عمار بن یاسر دیوڅو کسانو سره اولیږل دوئ چې کوهي ته ورغلل نو ویي لیدل چې دکوهي اوبه دنکریزو درنګ پشان سري شوي دي نو دوئ کاڼړي اوچت کړو او دکجورو پڼ یي راوویستلو او ویي سوزولو پدي

---

۱ ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۳۶۳/)

کي يو تار اومونډلي شو چې يولس غوټې ورکړي شوي وي نو پدې باره کې دا دواړه سورتونه قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس نازل شو رسول الله صلي الله عليه وسلم چې به هر يو ايت لوستلو نو يوه غوټه به پرانيستلې کيدله (رواه البيهقي في دلائل النبوة).

ابو نعيم په دلائل کې دابو جعفر رازي په واسطه دانس رضي الله عنه قول بيان کړي دي چې يهوديانو په رسول الله صلي الله عليه وسلم څه کړي وو دکوم په وجه چې ورته سخت تکليف رسيدلي وو صحابه کرام چې يې عيادت ته ورغلل نو دا ګمان يې اوکړو چې رسول الله صلي الله عليه وسلم بيمارشوي دي ليکن جبرائيل پدغه وخت کې مغوذتين نازل کړل او ځان يې ورباندې دم کړو او تندرست شو او بيا صحابه کرامو ته تشريف فرما شو په صحيحينو کې ددې تائيدي شاهد د سورة دنزول نه علاوه هم موجود دي (يعني په دعا سره تعوذ جائز دي).

بغوي دعائشه او ابن عباس رضي الله عنهما قول نقل کړي دي چې يو يهودي هلك به درسول الله صلي الله عليه وسلم خدمت کولو يهوديانو ورته خفيه سفارش اوکړو او د ځان سره يې په خبره کې شامل کړو او دده په ذريعه يې د رسول الله صلي الله عليه وسلم ويخته او دګمنز يو څو غاښونه حاصل کړل او بيايې ورباندې جادو اوکړو ، ددې کار ذمه وار لبيد بن اعصم يهودي وو نو پدې باره کې دا دواړه سورتونه نازل شوي دي.

بغوي پخپل سند سره دعائشه رضي الله عنها قول نقل کړي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم بيمار شو او مخالفينو يې دا ګمان اوکړو چې پس مونږ دده کار تمام کړو ليکن رسول الله صلي الله عليه وسلم دالله تعالي نه دعا غوښتل شروع کړل او بيايې اوفرمائيل ما چې دالله تعالي نه څه غوښتلي وو هغه يې راته اوخودل ما عرض اوکړو اي دالله رسوله هغه څه خبره ده؟ وې فرمائيل په خوب کې راته دوه کسان راغلي وو چې يو مې سر ته ولاړ وو او بل خپو ته يو بل ته اوونيل ده ته څه تکليف دي دويم اوونيل سحر ورباندې شوي دي اول تپوس اوکړو چا ورباندې کړي دي دويم اوونيل لبيد بن اعصم اولني اوونيل په څه شي يې کړي دي دويم اوونيل په ګمنز او په ويختو او دکجورو په پټ اول اوونيل دا څيزونه چرته دي دويم ورته اوونيل دبني زريق په زروان کوهي کې.

دعائشه رضي الله عنها بيان دي چې ددې خوب بيانولو نه پس رسول الله صلي الله عليه وسلم مذکوره کوهي ته لاړو او واپس چې راغي نو وې فرمائيل په الله تعالي قسم ددې کوهي اوبه خو د نکريزو پشان وې او ددغه ځاې دکجورو ونې داسې وې لکه دشيطانانو دسرونو پشان ما عرض اوکړو اي دالله رسوله بيا دې ولې راونه ويستل وې فرمائيل ماته خو الله تعالي شفا راکړې ده او مانه غوښتل چې په خلقو کې فتنه راپيدا کړم.

دبغوي بيان دي په يو روايت کي راغلي دي چې دا ځيزونه په کوهي کي ديو کاڼړي لاندي وو خلقو چې کاڼړي پورته کړو نو دلاندي ورنه دکجوري پټ اوموندلي شو چې په هغي کي د رسول الله صلي الله عليه وسلم ويخته او دګمنز يو څو غاښونه موجود وو.

بغوي پخپل سند سره ديزيد بن ارقم نه روايت نقل کړي دي چې په رسول الله صلي الله عليه وسلم يو يهودي جادو کړي وو دکوم په وجه چې رسول الله صلي الله عليه وسلم بيمار شوي وو جبرائيل راغي او ورته يي اوونيل چې يو يهودي درباندي جادو کړي دي او په يو تار کي يي يو څو غوټې اچولي دي، نو رسول الله صلي الله عليه وسلم علي رضي الله عنه لره اوليږلو اوهغه يي راوويستل ځنګه چې به يي يوه يوه غوټه پرانيستله نو مرض به سپکيدو اخر دا چې رسول الله صلي الله عليه وسلم بالکل تندرست شو او پاځيدو ګويا کي داسي ښکاريده لکه چې تړلي شوي زنګون يي پرانيستلي شئ ليکن ددي ذکر يي دغه يهودي ته اونکړو او نه يي دهغه په مخامخ څه اوونيل.

بيهقي په دلائل کي او ابن مردويه ددي روايت نسبت عائشه رضي الله عنها ته کړي دي چې يو يهودي په رسول الله صلي الله عليه وسلم جادو کړي وو چې په يو تار کي يي غوټې اچولي وي او تار يي په کوهي کي دکاڼړي لاندي پټ ايخودلي وو رسول الله صلي الله عليه وسلم چې بيمار شو نو معوذتين نازل شو او جبرائيل ورته دسحر ځاي اوخودو رسول الله صلي الله عليه وسلم علي رضي الله عنه اوليږلو نو هغه دا تار راوړو رسول الله صلي الله عليه وسلم ورباندي دا دواړه سورتونه اولوستل ځنګه چې به يي يو ايت لوستلو نو يوه يوه غوټه به پرانيستلي کيدله او مرض به يي رفته رفته سپکيدو.

په يو روايت کي راغلي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم پدي مرض کي دشپږو مياشتو پوري کي مبتلا وو او دري شپي خو ورته ډير سخت تکليف وو تردي چې معوذتين نازل شو.

مسلم دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت بيان کړي دي چې جبرائيل عليه السلام راغي او وبي وئيل اي محمد (صلي الله عليه وسلم) ايا بيمار يي؟ وبي فرمائيل هو، نو جبرائيل عليه السلام اووئيل دا کلمات وايه ": «بِاسْمِ اللهِ أَرْقِيكَ، مِنْ كُلِّ شَيْءٍ يُؤْذِيكَ، مِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ أَوْ عَيْنٍ حَاسِدٍ، اللهُ يَشْفِيكَ بِاسْمِ اللهِ أَرْقِيكَ»".

****

٢٩٠٢ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبِي خَالِدٍ، أَخْبَرَنِي قَيْسُ بْنُ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ الْجُهَنِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " قَدْ أَنْزَلَ اللَّهُ عَلَيَّ آيَاتٍ لَمْ يُرَ مِثْلُهُنَّ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ إِلَى آخِرِ السُّورَةِ وَقُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ

إِلَى آخِرِ السُّورَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَأَبُو حَازِمٍ أَبُو قَيْسِ بْنِ حَازِمٍ يُسَمَّى عَبْدُ عَوْفٍ. وَقَدْ رَأَى النَّبِيَّ وَرَوَى عَنْهُ. (1)

ترجمه عقبه بن عامر رضي الله عنه راوي دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چې تاسو ته څه پته شته چې نن شپه کوم ايتونه نازل شوي دي دهغې پشان به تاسو بالکل نه وي ليدلي يعني معوذتين ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ﴾ او ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ﴾).

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او ابوحازم ابوقيس بن حازم دي چې نوم يې عبد عوف دي چې دنبي کريم صلي الله عليه وسلم سره يې ملاقات شوي دي او نقل دروايت يې ورنه کړي دي

لغات : لم ير: يري په اصل يرأي وو او ددي استعمال نادر کيږي اودمضارع صيغه دګمان په معنی مجهوله اوريدلي شوي ده.

تشريح : مثلهن قط : ددي پشان مطلب دادی چې ددي دوه سورتونو پشان بل سورة نشته چې په تمام سورت کې صرف دپناه طلب کولو ذکر وي او په همدي وجه دي سورتونو ته معوذتين ونيلی شي يعني پناه ورکونکي يعني ددي په ذريعه پناه طلب کولی شي.

دعقبه بن عامر رضي الله عنه حالات

نوم عقبه کنيه ابوعمرو دپلار نوم عامر رسول الله صلي الله عليه وسلم چې کله مديني ته راغی نو عقبه په اسلام مشرف شو علامه ذهبي ليکلي دي چې عقبه فقيه او دکتاب الله قاري وو او دفرائضو ماهر او فصيح اللسان شاعر وو (تذکرة الحفاظ).

دقران کريم سره يي خصوصي مينه وه يوه نسخته دقران کريم يي پخپل لاس هم ليکلي وه (تهذيب التهذيب).

دنبي کريم صلي الله عليه وسلم ښه خدمت يي کړی دی په سفر کې به درسول الله سورلئ راښکل دده متعلق وو لکه چې په روايتونو کې راځي کان صاحب بغلة رسول الله صلي الله عليه وسلم الشهباء.

دده دوفات دتاريخ باره کې مختلف اقوال مروي دي صحيح قول دادی چې په ۵۸هجري کې وفات شوی دی، او دده دمروياتو شمير ۵۵ دی چې يو په دي کې متفق عليه دی او يو په بخاري کې دی او اوه په مسلم کې دي (تهذيب الکمال).

---

1 ـ صحيح مسلم/المسافرين ۴۶ (۸۱۴). سنن النسائی/الافتتاح ۳۶ (۹۵۵) (تحفة الأشراف: ۹۹۴۸). و مسند احمد (۱۴۴/۴، ۱۵۰، ۱۵۱، ۱۵۳)

داکابرو صحابه کرامو نه نقل دروایت کوي تردي چې صرف دیو حدیث اوریدو دپاره مصر ته دابوایوب انصاري سره دملاویدو دپاره تلی وو خو چې هغه یي واوریدو نو فورا واپس لاړو.

****

۲۹۰۳_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ رَبَاحٍ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ: "أَمَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَقْرَأَ بِالْمُعَوِّذَتَيْنِ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه: دعقبه بن عامر رضي الله عنه بیان دي رسول الله صلي الله علیه وسلم ماته حکم اوکړو چې زه به په هر مونځ پسې معوذتین لولم.

امام ترمذي وایي: او دا حدیث حسن غریب دي.

****

۱۳_بَاب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ قَارِئِ الْقُرْآنِ

دقران دلوستونکي دفضیلت بیان

۲۹۰٤_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، وَهِشَامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ زُرَارَةَ بْنِ أَوْفَى، عَنْ سَعْدِ بْنِ هِشَامٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَهُوَ مَاهِرٌ بِهِ مَعَ السَّفَرَةِ الْكِرَامِ الْبَرَرَةِ، وَالَّذِي يَقْرَؤُهُ" قَالَ هِشَامٌ: "وَهُوَ شَدِيدٌ عَلَيْهِ". قَالَ شُعْبَةُ: "وَهُوَ عَلَيْهِ شَاقٌّ، فَلَهُ أَجْرَانِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه: عائشه صدیقه رضي الله عنها فرمائي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل چې مهارت سره دبندیدلو نه صفا قران لوستونکی به دمعززو اوفرمانبردارو فرشتو سره یوځای وي او څوك چې په لوستلو کې انخلي او صفا لوستلو دپاره هغه ته مشقت

---

1 _ سنن ابي داود/ الصلاة ٣٦١ (١٥٢٣) . سنن النسائي/السهو ٨٠ (١٣٣٧) . سنن ابي داود/ الاستعاذة ١ (٥٤٢١) (تحفة الأشراف : ٩٩٤٠) . و مسند احمد (٤/٢٠١)

2 _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /تفسير ٧٩ (٤٩٣٧) . صحيح مسلم /المسافرين ٣٨ (٧٩٨) . سنن ابي داود/ الصلاة ٣٤٩ (١٤٥٤) . سنن ابن ماجه/الأدب ٥٢ (٣٧٧٩) (تحفة الأشراف : ١٦١٠٢) . و مسند احمد (٦/٤٨، ٩٤، ١١٠، ١٩٢) . وسنن الدارمي/فضائل القرآن ١١ (٣٤١١)

اوسختي مخی ته راځي هغه ته دوه چنده اجر ملاويږي.
امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دي.

تشريح: وماهر به: يعني چې دقران ماهر وي مطلب دادی چې چاته قران ښه ياد وي اوتلاوت هم کوي.

مع السفرة الکرام البررة، يعني دهغه فرشتو سره به وي کومي چې نيکي کونکي دي دفرشتو نه مراد هغه فرشتي دي کومي چې دلوح محفوظ نه قران لره نقل کونکي دي يا هغه فرشتي مراد دي کومي چې دانسانانو عمل نامي ليکي مطلب دادی چې دقران ماهر دعظيمو فرشتو سره مشابهت لري کومي چې قران لره دلوح محفوظ نه نقل کوي نو دقيامت په ورځ به هم الله تعالي ماهر دقران لره دفرشتو ملګری اوګرځوي.

څوک چې په قران لوستلو کې انخلي يعني په مشقت سره يي لولي دده فضيلت دادی چې دده دپاره دوچنده ثواب دی يو ثواب دتلاوت کولو دی او دويم ثواب دمشقت برداشت کولو دی علماء وائي چې په انختلو سره دقران لوستونکی به دقران دماهر نه مخکې شي ماهر دقران ته د مخصوصو فرشتو سره دملګرتيا بشارت ورکړی شوی دی خواصل مقصود دادی چې دانختو په وجه قران لوستل پري نږدي نو په دي وجه ده ته هم فضيلت اورولی شي.

****

۲۹۰۵_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا حَفْصُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ كَثِيرِ بْنِ زَاذَانَ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ ضَمْرَةَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ وَاسْتَظْهَرَهُ فَأَحَلَّ حَلَالَهُ وَحَرَّمَ حَرَامَهُ أَدْخَلَهُ اللَّهُ بِهِ الْجَنَّةَ، وَشَفَّعَهُ فِي عَشَرَةٍ مِنْ أَهْلِ بَيْتِهِ كُلُّهُمْ قَدْ وَجَبَتْ لَهُ النَّارُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِصَحِيحٍ وَحَفْصُ بْنُ سُلَيْمَانَ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ.[1]

ترجمه: علي بن ابي طالب رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچې قران اولوستلو او پوره يي حفظ کړو او کوم څيز چې قران حلال کړي دي هغه يي حلال اوګنړلو او کوم يي حرام کړي دي هغه يي حرام اوګنړلو نو الله تعالي به ددي قران په ذريعه ده لره جنت ته داخل کړي او دده د خاندان دداسي لسو کسانو په باره کې به دده سفارش قبلوي په چاچې به جهنم واجب شوي وي

1 سنن ابن ماجه/المقدمة ١٦ (٢١٦) (تحفة الأشراف: ١٠١٣٦)

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي مونږ دا صرف په همدي سند پيژنو او ددي سند صحيح نه دي، حفص بن سليمان په باب دحديث كي ضعيف ګڼرلي شوي دي.

****

١٤_بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْقُرْآنِ

د قران د فضيلت بيان

٢٩٠٦_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ عَلِيٍّ الْجُعْفِيُّ، قَالَ: سَمِعْتُ حَمْزَةَ الزَّيَّاتَ، عَنْ أَبِي الْمُخْتَارِ الطَّائِيِّ، عَنِ ابْنِ أَخِي الْحَارِثِ الْأَعْوَرِ، عَنِ الْحَارِثِ، قَالَ: مَرَرْتُ فِي الْمَسْجِدِ فَإِذَا النَّاسُ يَخُوضُونَ فِي الْأَحَادِيثِ، فَدَخَلْتُ عَلَى عَلِيٍّ، فَقُلْتُ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، أَلَا تَرَى أَنَّ النَّاسَ قَدْ خَاضُوا فِي الْأَحَادِيثِ، قَالَ: وَقَدْ فَعَلُوهَا؟، قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: أَمَا إِنِّي قَدْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "أَلَا إِنَّهَا سَتَكُونُ فِتْنَةٌ، فَقُلْتُ: مَا الْمَخْرَجُ مِنْهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: كِتَابُ اللَّهِ فِيهِ نَبَأُ مَا كَانَ قَبْلَكُمْ، وَخَبَرُ مَا بَعْدَكُمْ، وَحُكْمُ مَا بَيْنَكُمْ، وَهُوَ الْفَصْلُ لَيْسَ بِالْهَزْلِ، مَنْ تَرَكَهُ مِنْ جَبَّارٍ قَصَمَهُ اللَّهُ، وَمَنِ ابْتَغَى الْهُدَى فِي غَيْرِهِ أَضَلَّهُ اللَّهُ، وَهُوَ حَبْلُ اللَّهِ الْمَتِينُ، وَهُوَ الذِّكْرُ الْحَكِيمُ، وَهُوَ الصِّرَاطُ الْمُسْتَقِيمُ، هُوَ الَّذِي لَا تَزِيغُ بِهِ الْأَهْوَاءُ وَلَا تَلْتَبِسُ بِهِ الْأَلْسِنَةُ، وَلَا يَشْبَعُ مِنْهُ الْعُلَمَاءُ وَلَا يَخْلَقُ عَلَى كَثْرَةِ الرَّدِّ، وَلَا تَنْقَضِي عَجَائِبُهُ، هُوَ الَّذِي لَمْ تَنْتَهِ الْجِنُّ إِذْ سَمِعَتْهُ حَتَّى قَالُوا: إِنَّا سَمِعْنَا قُرْءَانًا عَجَبًا يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ، مَنْ قَالَ بِهِ صَدَقَ، وَمَنْ عَمِلَ بِهِ أُجِرَ، وَمَنْ حَكَمَ بِهِ عَدَلَ، وَمَنْ دَعَا إِلَيْهِ هَدَى إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ" خُذْهَا إِلَيْكَ يَا أَعْوَرُ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَإِسْنَادُهُ مَجْهُولٌ وَفِي الْحَارِثِ مَقَالٌ.[1]

ترجمه : دحارث بيان دي فرمائي چې مسجد ته ورغلم اومي كتل چې خلق په ګف شف او قصو كي مشغول دي نو زه علي رضي الله عنه ته ورغلم او ورته مي اوونيل اي اميرالمؤمنين ايا ته نه ويني چې خلق په بي فائدي خبرو كي مشغول دي؟ هغه اوونيل ايا واقعي هغوئ داسي كوي؟ ما اوونيل هو هغه اوفرمائيل مګر ما خو درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي ډيره نزدي ده چې يوه فتنه پيدا شي ما عرض اوكړو ددينه به دبچ كيدو څه صورت وي اي دالله رسوله رسول الله اوفرمائيل دالله كتاب، په دي كي ستاسو نه دمخكنو خلقو او قومونو خبرونه دي او دراتلونكو خلقو خبرونه هم دي او ستاسو په مينځ كي دمعاملاتو فيصلي هم په

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٠٥٤)

دي کي موجود دي او هغه قطعي فيصله کونکي دي توقي او مذاق پکي نشته چاچې دسرکشۍ په وجه پريخودو الله تعالى به هغه لره مات کړي او څوک چې دي لره پريږدي او بل چرته هدايت لټوي الله تعالى به هغه لره ګمراه کړي او دا قران دالله تعالى مضبوطه رسۍ ده او دا دحکمت نه ډک ذکر دي او دا هغه نيغه لاره ده دکومي په وجه چې خواهشونه اخوا ديخوا نه بې لاري کيږي او دکومي په وجه چې ژبې نه مضطرب کيږي ددي په وئيلو څوک نه مړيږي او ددي په بار بار وئيلو څوک نه ستړي کيږي او ددي عجائبات نه ختميږي او دا هغه کتاب دي چې څوک يې واوري نو خاموش پاتې کيدي نشي بلکه اواز به پورته کوي ،لکه چې جناتو وئيل يقينا مونږ يو نا اشنا قران اوريدلي دي چې دنيکۍ طرف ته رهنمائي کوي مونږ وربانديي ايمان راوړي دي څوک چې ددي مطابق وينا کوي هغه به دهغې مطابق اجراو ثواب حاصلوي او چاچې ددي مطابق فيصله اوکړه هغه انصاف اوکړو او چاچې دي طرف ته دعوت ورکړو هغه دنيغې لارې رهنمائي اوکړه، اي اعور دنيکو خبرو خيال ساته.

امام ترمذي وايي: دا حديث غريب دي دا مونږ ته صرف په همدي سند رارسيدلي دي، او ددي سند مجهول دي حارث يو متکلم فيه راوي دي.

****

١٥_بَاب مَا جَاءَ فِي تَعْلِيمِ الْقُرْآنِ

دقران دعلم حاصلولو دفضيلت بيان

٢٩٠٧_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ، أَخْبَرَنِي عَلْقَمَةُ بْنُ مَرْثَدٍ، قَالَ: سَمِعْتُ سَعْدَ بْنَ عُبَيْدَةَ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ ". قَالَ أَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ: فَذَاكَ الَّذِي أَقْعَدَنِي مَقْعَدِي هَذَا، وَعَلَّمَ الْقُرْآنَ فِي زَمَنِ عُثْمَانَ حَتَّى بَلَغَ الْحَجَّاجَ بْنَ يُوسُفَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : اميرالمؤمنين عثمان غني رضي الله عنه فرمائي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چې په تاسو کې بهترين سړی هغه دی چې په خپله هم دقران تعليم حاصل کړي او نورو ته هم ددی تعليم ورکړي ابو عبد الرحمن وايي داد هغه کوشش نتيجه ده چې زه يي نن ورځ دلته کينولی يم، راوي وايي چې ابو عبد الرحمن د عثمان رضي الله عنه په زمانه کې د

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل القرآن ٢١ (٥٠٢٧) ، سنن ابي داود/ الصلاة ٣٤٩ (١٤٥٢) ، سنن ابن ماجه/المقدمة ١٦ (٢١١) (تحفة الأشراف : ٩٨١٣)

قران علم حاصل کړي وو تردي چې حجاج بن يوسف ته يې ورسولو.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

لغات : خيركم خار يخير خيرا صاحب خير كيدل. جمع يې خيور راځي خير داسم تفضيل صيغه ده د اخير نه مخفف دي.

تشريح : دلته مراد قرآني علوم زده كول دي علماء وائي دقيامت په ورځ به دعرش دسوري لاندې هغه كسان وي څوک چې خلقو ته دقران تعليم وركوي يعني څوک چې په دې غور او فكر كوي اوددې معاني او حقائق زده كوي او نورو ته يې بيانوي دا هر څه په دې وجه بهتر دي چې قران مجيد په ټولو كتابونو فوقيت لري نو ددې زده كونكي او خودونكي به هم په نور مخلوق فوقيت لري علماء وائي په پورتني حديث كې وعلمه دواو سره هم راځي مطلب دادی چې قران زده كړي او بيايې نورو ته اوښايي دده عمل به دنورو ټولو عملونو نه اعلي او افضل وي ليكن په بعضو روايتونو كې او لفظ هم راغلی دی مطلب به دا وي چې بهتري او فضيلت به عام وي زده كونكي دپاره به وي او دخودونكو دپاره به هم وي دټولو دپاره به دمستقل خير او بهترئ په شكل كې وي دقيامت په ورځ به دعرش دسوري دلاندې وي څوک چې خلقو ته دقران كريم تعليم وركوي.

****

٢٩٠٨ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ السَّرِيِّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ مَرْثَدٍ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ السُّلَمِيِّ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " خَيْرُكُمْ أَوْ أَفْضَلُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. هَكَذَا رَوَى عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ مَرْثَدٍ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عُثْمَانَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَسُفْيَانُ لَا يَذْكُرُ فِيهِ عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ، وَقَدْ رَوَى يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ سُفْيَانَ، وَشُعْبَةَ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ مَرْثَدٍ، عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عُثْمَانَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (1)

ترجمه : امير المؤمنين عثمان غني رضي الله عنه فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چې په تاسو كې بهترين يا افضل سړی هغه دی چې په خپله هم دقران تعليم حاصل

---

1 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل القرآن ٢١ (٥٠٢٧) . سنن ابي داود/ الصلاة ٣٤٩ (١٤٥٢) . سنن ابن ماجه/المقدمة ١٦ (٢١١) (تحفة الأشراف : ٩٨١٣)

کړي او نورو ته هم ددی تعلیم ورکړي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي، عبدالرحمن بن مهدي او بعضي نورو دماقبل پشان په سند دسفيان ثوري عن علقمه بن مرثد عن ابي عبدالرحمن عن عثمان عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل کړي دي، سفيان ددي په سند کي سعد بن عبيده نه ذکرکوي، او يحي بن سعيد القطان دا حديث په سند دسفيان او شعبه عن علقمه بن مرثد عن سعد بن عبيدة عن ابي عبدالرحمن عن عثمان عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل کړي دي.

****

حَدَّثَنَا بِذَلِكَ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ سُفْيَانَ، وَشُعْبَةَ، قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ: وَهَكَذَا ذَكَرَهُ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ سُفْيَانَ، وَشُعْبَةَ غير مرة، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ مَرْثَدٍ، عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عُثْمَانَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، وَأَصْحَابُ سُفْيَانَ لَا يَذْكُرُونَ فِيهِ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ، قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، وَهُوَ أَصَحُّ، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ زَادَ شُعْبَةُ فِي إِسْنَادِ هَذَا الْحَدِيثِ سَعْدَ بْنَ عُبَيْدَةَ، وَكَأَنَّ حَدِيثَ سُفْيَانَ أَصَحُّ، قَالَ عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ: مَا أَحَدٌ يَعْدِلُ عِنْدِي شُعْبَةَ، وَإِذَا خَالَفَهُ سُفْيَانُ أَخَذْتُ بِقَوْلِ سُفْيَانَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: سَمِعْتُ أَبَا عَمَّارٍ يَذْكُرُ، عَنْ وَكِيعٍ، قَالَ: قَالَ شُعْبَةُ: سُفْيَانُ أَحْفَظُ مِنِّي، وَمَا حَدَّثَنِي سُفْيَانُ عَنْ أَحَدٍ بِشَيْءٍ فَسَأَلْتُهُ إِلَّا وَجَدْتُهُ كَمَا حَدَّثَنِي، وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَلِيٍّ وَسَعْدٍ. (1)

ترجمه : دا روايت مونږ ته محمد بن بشار هم ديحي نه نقل کړي دي او يحي دسفيان او شعبه په واسطه دماقبل مطابق.د ابو عبدالرحمن دعثمان رضي الله عنه په واسطه هم دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت نقل کړي دي، محمد بن بشار او دسفيان نور شاګردان په دي کي دسفيان واسطه نه ذکر کوي دارنګي دا روايت سفيان دسعد بن عبيده په واسطه هم ذکر کړي دي محمد بن بشار وائي داصحيح ترين سند دي.

امام ترمذي وايي: او شعبه ددي حديث په سند کي دسعد بن عبيده اضافه کړي ده مګر دسفيان سند زيات صحيح دي، علي بن عبدالله ديحي بن سعيد قول نقل کوي چي فرمائيل

---

1 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل القرآن ٢١ (٥٠٢٤) . سنن ابي داود/ الصلاة ٣٤٩ (١٤٥٢) . سنن ابن ماجه/المقدمة ١٦ (٢١١) (تحفة الأشراف : ٩٨١٣)

بي زما په نزد د شعبه سره هيڅوك برابر نه دي مگر كله چې شعبه دسفيان خلاف اوكړي نو زه به دسفيان قول اخلم. امام ترمذي وائي دابو عماره نه مي اوريدلي دي چې دوكيع نه يي ذكر كولو چې دشعبه قول دي سفيان زما نه زيات حافظ دي او سفيان چرته ماته دچانه حديث نه دي بيان كړي مگرواقعي يي صحيح صحيح بيان كړي وي څنگه چې وي، او په دي باب كې دعلي او سعد رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

****

٢٩٠٩_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ عَلِيٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ إِسْحَاقَ. ([1])

ترجمه : اميرالمؤمنين علي بن ابي طالب رضي الله عنه فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چې په تاسو كې بهترين سړى هغه دى چې په خپله هم دقران تعليم حاصل كړي او نورو ته هم ددى تعليم وركړي.

امام ترمذي وايي: دا حديث مونږ ته صرف په همدي سند دعلي رضي الله عنه په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه راراسيدلي دي په واسطه دعبدالرحمن بن اسحاق.

****

١٦_بَابُ مَا جَاءَ فِيمَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنَ الْقُرْآنِ مَا لَهُ مِنَ الأَجْرِ

دقران ديو حرف دلوستلو داجر بيان

٢٩١٠_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ الْحَنَفِيُّ، حَدَّثَنَا الضَّحَّاكُ بْنُ عُثْمَانَ، عَنْ أَيُّوبَ بْنِ مُوسَى، قَالَ: سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ كَعْبٍ الْقُرَظِيَّ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مَسْعُودٍ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللَّهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ، وَالْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا، لَا أَقُولُ الم حَرْفٌ، وَلَكِنْ أَلِفٌ حَرْفٌ وَلَامٌ حَرْفٌ وَمِيمٌ حَرْفٌ" وَيُرْوَى هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَرَوَاهُ أَبُو الأَحْوَصِ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، رَفَعَهُ بَعْضُهُمْ وَوَقَفَهُ بَعْضُهُمْ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، سَمِعْتُ قُتَيْبَةَ بْنَ

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٢٩٩)

سَعِيدٍ، يَقُولُ: بَلَغَنِي أَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ كَعْبٍ الْقُرَظِيَّ وُلِدَ فِي حَيَاةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَمُحَمَّدُ بْنُ كَعْبٍ يُكْنَى أَبَا حَمْزَةَ. (1)

ترجمه : عبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان كوي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چې څوك دقران يو حرف لولي نو هغه ته يوه نيكي ملاويږي چې دلسو نيكو برابر به وي زه دا نه وايم چې الم يو حرف دی بلكه الف يو حرف دی لام يو حرف دی او ميم يو حرف دی (گويا الم د درې حرفونو مجموعه ده چې دی باندې ديرش نيكۍ ملاويږي).

امام ترمذي وايي: داحديث دابن مسعود نه ددې سند نه علاوه په نورو سندونو هم مروي دي او دا حديث ابوالاحوث هم د ابن مسعود رضي الله عنه نه نقل كړي دي بعضي راويانو مرفوع بيان كړي دي او بعضو دابن مسعود موقوف كړي دي او دا حديث په دې سند حسن صحيح غريب دي دقتيبه بن سعد نه مې اوريدلي دي وئيل يې چې ماته دا خبر رارسيدلي دي چې محمد بن كعب قرظي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په ژندګۍ كې پيداشوي دي او دده اسم كنيه ابوحمزه وه.

لغات : حسنة : نيكي جمع حسنات راځي ، احسن او حسَن او حسُن خائسته كيدل، صفت يې حسن راځي جمع يې حِسان او حُسان ده مونث يې حسنة او حسناء اوحسنات راځي.

تشريح : فله حسنة والحسنة بعشر امثالها: دقران كريم ديو حرف په عوض كې يوه نيكي ده او ديوې نيكۍ بدله دلسو نيكو سره برابر ده همدا مضمون په قران كريم كې هم راغلی دی من جاء بالحسنة فله عشر امثالها، څوك چې يوه نيكي راوړي هغه ته به دلسو نيكو په مقدار ثواب وركړی شي او دا دټولو نه كمه درجه ده يو بل قراني ارشاد دی والله يضاعف لمن يشاء يعني الله تعالي ډبل كوي دچا دپاره چې اوغواړي ثواب لره په پورتني حديث كې الف لام ميم باره كې وئيلی شوي دي چې دايوحرف نه دی بلكه الف ، لام، ميم، جدا جدا شميرلی شوي وي او په دې باندې ديرشت نيكۍ ملاويږي همدا رنګې په يو روايت كې راځي چې بسم الله هم يو حرف نه دی بلكه ب سين ميم جدا جدا حروف دي.

****

١٧_بَاب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٢٩١١_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبُو النَّضْرِ، حَدَّثَنَا بَكْرُ بْنُ خُنَيْسٍ، عَنْ لَيْثِ بْنِ أَبِي سُلَيْمٍ،

1_ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩٥٤٧)

عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْطَاةَ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا أَذِنَ اللَّهُ لِعَبْدٍ فِي شَيْءٍ أَفْضَلَ مِنْ رَكْعَتَيْنِ يُصَلِّيهِمَا، وَإِنَّ الْبِرَّ لَيُذَرُّ عَلَى رَأْسِ الْعَبْدِ مَا دَامَ فِي صَلَاتِهِ، وَمَا تَقَرَّبَ الْعِبَادُ إِلَى اللَّهِ بِمِثْلِ مَا خَرَجَ مِنْهُ". قَالَ أَبُو النَّضْرِ: يَعْنِي الْقُرْآنَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَبَكْرُ بْنُ خُنَيْسٍ قَدْ تَكَلَّمَ فِيهِ ابْنُ الْمُبَارَكِ وَتَرَكَهُ فِي آخِرِ أَمْرِهِ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْطَاةَ، عَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلٌ. ([1])

ترجمه : دابو امامه رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي دكوم بنده خبره په دومره كامله توجه نه اوري څومره چې د دوه ركعاتونو اداء كونكي بنده خبره اوري او بنده چې څو پوري په مونځ كي مشغول وي دهغه په سر دنيكو باران كيږي او بنده الله تعالي ته په بل څيز دومره نه نزدي كيږي څومره چې په هغه څيز نزدي كيږي كوم چې دهغه دذات نه وتلي وي، ابو نضر وائي رسول الله به ددي قول نه قران مراد كولو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي او دا مونږ ته صرف په همدي سند رارسيدلي دي دبكر بن خنيس باره كي ابن مبارك وائي چې دا متكلم فيه راوي دي او دهغه په اخر عمر كي دهغه دضعيف كيدو په وجه دهغه نه روايت كول پريخودلي شوي دي دا حديث دزيد بن ارطات په واسطه دجبير بن نفير نه مروي دي او هغه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه په مرسل سند نقل كړي دي.

****

٢٩١٢ـ حَدَّثَنَا بِذَلِكَ إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْطَاةَ، عَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّكُمْ لَنْ تَرْجِعُوا إِلَى اللَّهِ بِأَفْضَلَ مِمَّا خَرَجَ مِنْهُ". يَعْنِي الْقُرْآنَ. ([2])

ترجمه : دجبير بن نفير بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي تاسو الله تعالي ته درجوع كولو دپاره دقران نه زياته بله كومه ذريعه نشئ موندلي.

****

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٨٦٣)، وانظر مسند احمد (٥/٢٦٨)

[2] ـ سنن ابي داود/ المراسيل (١٠٣) (تحفة الأشراف: ١٨٤٢١)

١٨_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٩١٣_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ قَابُوسَ بْنِ أَبِي ظَبْيَانَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ الَّذِي لَيْسَ فِي جَوْفِهِ شَيْءٌ مِنَ الْقُرْآنِ كَالْبَيْتِ الْخَرِبِ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه عبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان كوي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چې دچا په سينه کې دقران کريم نه څه حصه هم نه وي هغه داسې دی لکه وران کنډر

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

لغات : الجوف: خيټه جمع يي اجواف راځي ، من البيت: اندروني حصه، الخرب: دسمع نه خربا وخرابا ورانيدل صفت خرب راځي اومونث يي خربة راځي.

تشريح يعني دچا زړه چې دقران نه خالي وي نو دا زړه دوران کور پشان دی دکور رونق په اوسيدونکو سره کيږي کور که هر څومره ښکلی او لوي وي ليکن چې اوسيدونکي پکې نه وي نو ددي هيڅ حيثيت نه وي نو همدا رنګي معامله دانسان هم ده چې که زړه يي د ايمان او قران دنور نه خالي وي نو بيا هيڅ اهميت نه لري.

****

٢٩١٤_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الْحَفَرِيُّ، وَأَبُو نُعَيْمٍ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ أَبِي النَّجُودِ، عَنْ زِرٍّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "يُقَالُ لِصَاحِبِ الْقُرْآنِ: اقْرَأْ وَارْتَقِ وَرَتِّلْ كَمَا كُنْتَ تُرَتِّلُ فِي الدُّنْيَا، فَإِنَّ مَنْزِلَتَكَ عِنْدَ آخِرِ آيَةٍ تَقْرَأُ بِهَا"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

حَدَّثَنَا بُنْدَارٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ عَاصِمٍ، بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ. ([2])

ترجمه : عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما راوي دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چې قران لوستونکي مسلمان ته به دقيامت په ورځ اووئيلی شي چې لوله

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٥٤٠٢)

[2] _ سنن ابي داود/ الصلاة ٣٥٥ (١٤٦٤) (تحفة الأشراف : ٨٦٢٧) ، و مسند احمد (٢/١٩٢)

(اودجنت په درجوباندي) خيژه او په دنيا کې دي چې څنګه په ترتيل سره (په قلاره قلاره) لوستلو اوس يې هم هغسې لوله (چې ډيرې درجې طې کړې شي) ځکه چې په جنت کې ستا اخري کور هغه دی چرته چې ته اخري ايت ختم کړې ، ابو داود او ترمذي دا روايت کړی دی او وئيلي يې دي چې دا حديث حسن صحيح دی .
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.
لغات : ارتق: ارتقا يرتقي ارتقاء وترقي وترقيا معني ختل ، رتل: خبروته ښه ترتيب ورکول، يا قران خائسته لوستل صفت يې رتّل راځي .
تشريح : په دي روايت کې دصاحب القران نه مراد حافظ القران دی يادډي مطلب دادی چې څوك هميشه قران لره په اهتمام سره لولي.
ملا علي قاري وايي چې ددينه هغه لوستونکي مراد ندي په چاچې قران لعنت وائي مثلا الالعنة الله علي الظالمين: او پخپل دظالم کيدو په وجه په دي وعيد کې داخل دی او همدا رنګي لعنة الله علي الكاذبين او پخپله د دروغژن کيدو په وجه ددي مستحق وي.
اقراء وارتق: لوله او خيژه، يعني څومره ايتونه چې دی اولولي نو دومره درجي به يي په جنت کې لوړي شي دبعضو روايتونو نه معلوميږي چې دجنت درجي دقران دايتونو برابر دي څوك چې څومره لوستلی شي دومره به اوچتيږي مولا علي قاري وائي چې دقران دلوستونکي د درجو نه نوري پورته درجي نشته.
ورتل : په وقفي وقفي سره لوله مطلب دادی چې دقران په لوستو کې دلهجي او سکون او وقار خيال ساته ددي تائيد دام سلمه رضي الله عنها دروايت نه کيږي فرمائي چې دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه چا تپوس اوکړو چې تاسو قران څرنګه لوستلو ورته يي اوفرمائيل چې ټول حرکتونه به مي ادا کول يعني زير اوزور وغيره او هر يو حرف به جدا جدا وو.

****

٢٩١٥ـ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ عَبْدِ الْوَارِثِ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "يَجِيءُ الْقُرْآنُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَقُولُ: يَا رَبِّ حَلِّهِ، فَيُلْبَسُ تَاجَ الْكَرَامَةِ، ثُمَّ يَقُولُ: يَا رَبِّ زِدْهُ، فَيُلْبَسُ حُلَّةَ الْكَرَامَةِ، ثُمَّ يَقُولُ: يَا رَبِّ ارْضَ عَنْهُ، فَيَرْضَى عَنْهُ، فَيُقَالُ لَهُ: اقْرَأْ وَارْقَ، وَتُزَادُ بِكُلِّ آيَةٍ حَسَنَةً". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

---

1 ـ مسند احمد (٢/٤٧١) . وسنن الدارمي/فضائل القرآن (٣٣٤٩)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دقيامت په ورځ به قران الله تعالي ته پيش کړي شي او عرض به اوکړي اي زما ربه صاحب قران ته جوړه واغوندوه نو ده ته به دعزت او شرافت تاج واغوستولي شي بيا به عرض اوکړي اي زما ربه نوري ورته ورکړه نو ده ته به دعزت جوړه واغوستلي شي بيا به اوفرمائي اي زما ربه دده نه راضي شه نو الله تعالي به دهغه نه راضي شي او صاحب قران ته به اووئيلي شي قران لوله او پورته خيژه ستا دپاره به دهر ايت سره يوه نيکي زياتولي شي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ بَهْدَلَةَ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ نَحْوَهُ وَلَمْ يَرْفَعْهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الصَّمَدِ عَنْ شُعْبَةَ.[1]

ترجمه : عاصم بن بهدله هم دابوصالح په واسطه دابوهريره رضي الله عنه نه دماقبل هم معني روايت نقل کړي دي او مرفوع يې نه دي بيان کړي.

امام ترمذي وايي: داحديث دعبدالصمد عن شعبه دحديث نه زيات صحيح دي.

****

۱۹_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

۲۹۱۶_حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ الْحَكَمِ الْوَرَّاقُ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَجِيدِ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنِ الْمُطَّلِبِ بْنِ حَنْطَبٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "عُرِضَتْ عَلَيَّ أُجُورُ أُمَّتِي حَتَّى الْقَذَاةُ يُخْرِجُهَا الرَّجُلُ مِنَ الْمَسْجِدِ، وَعُرِضَتْ عَلَيَّ ذُنُوبُ أُمَّتِي فَلَمْ أَرَ ذَنْبًا أَعْظَمَ مِنْ سُورَةٍ مِنَ الْقُرْآنِ أَوْ آيَةٍ أُوتِيَهَا رَجُلٌ ثُمَّ نَسِيَهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. قَالَ: وَذَاكَرْتُ بِهِ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيل، فَلَمْ يَعْرِفْهُ وَاسْتَغْرَبَهُ. قَالَ مُحَمَّدٌ: وَلَا أَعْرِفُ لِلْمُطَّلِبِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حَنْطَبٍ سَمَاعًا مِنْ أَحَدٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا قَوْلَهُ: حَدَّثَنِي مَنْ شَهِدَ خُطْبَةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ:

---

[1] _ مسند احمد (۲/۴۷۱) . وسنن الدارمي/فضائل القرآن (۳۳۲۹)

وَسَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، يَقُولُ: لَا نَعْرِفُ لِلْمُطَّلِبِ سَمَاعًا مِنْ أَحَدٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ عَبْدُ اللهِ: وَأَنْكَرَ عَلِيُّ بْنُ الْمَدِينِيِّ أَنْ يَكُونَ الْمُطَّلِبُ سَمِعَ مِنْ أَنَسٍ. (1)

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما دامت دنيكو عملونو ثوابونه ماته پيش كړي شول تردي پوري چې دهغه بوس ددكي ثواب هم ماته پيش كړي شو چې يو بنده يي دمسجد نه بهر اوغورځوي ، او ماته زما دامت گناهونه هم پيش كړي شول نو ما هيڅ يوه گناه ددينه زياته لويه اونه ليدله چې چاته دقران كوم سورت يا كوم ايت ياد وي او دا هغه هير كړي وي.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي داحديث مونږ ته صرف په همدي سند معلوم دي ما امام بخاري ته ددي حديث ذكر اوكړو نو هغه ته ددي باره كي علم نه وو او غريب يي اوگنړلو امام بخاري دا هم اووئيل ماته نه ده معلومه چې مطلب بن عبدالله دكوم صحابي نه اوريدل كړي وي مگر علاوه دمطلب دهغه قول نه كوم چې ماتة دهغه كس نه رارسيدلي دي څوك چې درسول الله په حاضرينو كي موجود وو ، ما د عبدالله بن عبدالرحمن دارمي نه اوريدلي دي چې دكوم صحابي نه دمطلب سماع باره كي مونږ ته علم نشته عبدالله بن عبدالرحمن دارمي وائي علي بن مديني ددي خبري نه انكار كولو چې مطلب دانس نه سماع كړي ده.

****

٢٠_ بَاب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٢٩١٧_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ خَيْثَمَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، أَنَّهُ مَرَّ عَلَى قَاصٍّ يَقْرَأُ، ثُمَّ سَأَلَ فَاسْتَرْجَعَ، ثُمَّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ فَلْيَسْأَلِ اللهَ بِهِ فَإِنَّهُ سَيَجِيءُ أَقْوَامٌ يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ يَسْأَلُونَ بِهِ النَّاسَ"، وَقَالَ مَحْمُودٌ: وَهَذَا خَيْثَمَةُ الْبَصْرِيُّ الَّذِي رَوَى عَنْهُ جَابِرٌ الْجُعْفِيُّ، وَلَيْسَ هُوَ خَيْثَمَةَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، وَخَيْثَمَةُ هَذَا شَيْخٌ بَصْرِيٌّ يُكْنَى أَبَا نَصْرٍ قَدْ رَوَى عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَحَادِيثَ، وَقَدْ رَوَى جَابِرٌ الْجُعْفِيُّ عَنْ خَيْثَمَةَ هَذَا أَيْضًا أَحَادِيثَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِذَاكَ. (2)

---

1 ـ سنن ابي داود/ الصلاة ١٦ (٤٦١) (تحفة الأشراف : ١٥٩٢)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٠٤٩٥) . وانظر مسند احمد (٤/٤٣٢، ٤٣٦، ٤٣٩)

ترجمه : دعمران بن حصين رضي الله عنه نه مروي دي چې هغه ديو قصه گو په خوا کي تير شو چې قران يي لوستلو او بيا يي سوال اوکړو نو عمران انا لله وانا اليه راجعون اووئيل او بيايي اوفرمائيل مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي ځوك چې قران اولولي نو ده لره صرف دالله تعالي نه غوښتل پکار دي او دا ځکه ډيره نزدي ده چې داسي خلق به پيدا شي چې قران به ددي دپاره لولي چې خلقو نه په دي باندي سوال اوکړي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي او ددي سند څه خاص دقوت حامل نه دي، محمود بن غيلان وائي دا خيثمه دبصري اوسيدونكي دي چې جابر جعفي ورنه نقل دروايت كوي او دا خيثمه بن عبدالرحمن نه دي او خيثمه يو بصري شيخ دي چې كنيه يي ابونصر ده او هغه دانس بن مالك رضي الله عنه نه يو څو احاديث نقل کړي دي او جابر جعفي هم دخيثمه نه يو څو احاديث اوريدلي دي.

****

٢١_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٢٩١٨_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل الْوَاسِطِيُّ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا أَبُو فَرْوَةَ يَزِيدُ بْنُ سِنَانٍ، عَنْ أَبِي الْمُبَارَكِ، عَنْ صُهَيْبٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا آمَنَ بِالْقُرْآنِ مَنِ اسْتَحَلَّ مَحَارِمَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ، وَقَدْ خُولِفَ وَكِيعٌ فِي رِوَايَتِهِ، وَقَالَ مُحَمَّدٌ أَبُو فَرْوَةَ: يَزِيدُ بْنُ سِنَانٍ الرُّهَاوِيُّ لَيْسَ بِحَدِيثِهِ بَأْسٌ إِلَّا رِوَايَةَ ابْنِهِ مُحَمَّدٍ عَنْهُ فَإِنَّهُ يَرْوِي عَنْهُ مَنَاكِيرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رَوَى مُحَمَّدُ بْنُ يَزِيدَ بْنِ سِنَانٍ، عَنْ أَبِيهِ هَذَا الْحَدِيثَ فَزَادَ فِي هَذَا الْإِسْنَادِ عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ صُهَيْبٍ، وَلَا يُتَابَعُ مُحَمَّدُ بْنُ يَزِيدَ عَلَى رِوَايَتِهِ وَهُوَ ضَعِيفٌ، وَأَبُو الْمُبَارَكِ رَجُلٌ مَجْهُولٌ.[1]

ترجمه : دصهيب رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچې دقران كريم حرام کړي څيزونه حلال اوګڼړل نو دهغه په قران ايمان نشته.

امام ترمذي وايي: ددي حديث سند قوي نه دي، دوكيع په روايت كي دوكيع سره اختلاف شوي دي، امام بخاري وائي دابو فروه قول دي چې ديزيد بن سنان رهاوي نه په روايت نقل كولو كي هيڅ حرج نشته، علاوه دهغه روايتونو نه كوم چې دده ځوي محمد دده نه نقل كوي

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٤٩٤٢)

خکه چې هغه دده نه مناکير نقل کوي، محمد بن يزيد بن ثنان هم دخپل پلار نه دا حديث نقل کړي دي مګر په سند کې يې دومره اضافه ده عن مجاهد عن سعيد بن المسيب عن صهيب محمد بن يزيد په روايت کې دده سره هيڅوک متابع نشته او هغه ضعيف دي او ابو المبارك يو مجهول راوي دي.

****

٢٩١٩ـ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَرَفَةَ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ بَحِيرِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ، عَنْ كَثِيرِ بْنِ مُرَّةَ الْحَضْرَمِيِّ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "الْجَاهِرُ بِالْقُرْآنِ كَالْجَاهِرِ بِالصَّدَقَةِ، وَالْمُسِرُّ بِالْقُرْآنِ كَالْمُسِرِّ بِالصَّدَقَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَمَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ: أَنَّ الَّذِي يُسِرُّ بِقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ أَفْضَلُ مِنَ الَّذِي يَجْهَرُ بِقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ، لِأَنَّ صَدَقَةَ السِّرِّ أَفْضَلُ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ صَدَقَةِ الْعَلَانِيَةِ، وَإِنَّمَا مَعْنَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ لِكَيْ يَأْمَنَ الرَّجُلُ مِنَ الْعُجْبِ لِأَنَّ الَّذِي يُسِرُّ الْعَمَلَ، لَا يُخَافُ عَلَيْهِ الْعُجْبُ مَا يُخَافُ عَلَيْهِ مِنْ عَلَانِيَتِهِ. (1)

ترجمه : دعقبه بن عامر الجهنيﷺنه روايت دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په تيزه قران لوستل پشان دښکاره صدقي دي اوخفيه تلاوت کول پشان دپټي صدقي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي ددي معني او مطلب دادي چې څوك په پټه قران لولي دا دهغه چانه افضل دي چې څوك يې په تيز اواز لولي ځکه چې داهل علمو په نزد پټه صدقه ورکول دښکاره صدقي ورکولو نه افضل دي ددي مفهوم دادي چې داهل علمو په نزد داسي کس دنمود او نمانش نه محفوظ وي ځکه چې څوك په پټه عمل کوي هغه ته درياکارئ دومره خطره نه وي څومره چې په ښکاره عمل کولو کې وي.

دعقبه بن عامر رضي الله عنه حالات

نوم عقبه کنيه ابوعمرو دپلار نوم عامر رسول الله صلي الله عليه وسلم چې کله مديني ته راغئ نو عقبه په اسلام مشرف شو علامه ذهبي ليکلي دي چې عقبه فقيه او دکتاب الله قاري وو او دفرائضو ماهر او فصيح اللسان شاعر وو (تذکرة الحفاظ).

دقران کريم سره يې خصوصي مينه وه يوه نسخته دقران کريم يې پخپل لاس هم ليکلي وه

---

1 ـ سنن ابي داود/ الصلاة ٣١٥ (١٣٣٣)، سنن النسائي/قيام الليل ٢٢ (١٦٦٤)، والزكاة ٦٨ (٢٥٦١) (تحفة الأشراف: ٩٩٤٩)، ومسند احمد (١٥١/٤، ١٥٨)

(تهذيب التهذيب).

دنبي كريم صلي الله عليه وسلم ښه خدمت يي كړى دى په سفر كي به درسول الله سورلۍ راښكل دده متعلق وو لكه چې په روايتونو كي راځي كان صاحب بغلة رسول الله صلي الله عليه وسلم الشهباء.

دده دوفات دتاريخ باره كي مختلف اقوال مروي دي صحيح قول دادى چې په ۵۸هجري كي وفات شوى دى، او دده دمروياتو شمير ۵۵ دى چې يو په دي كي متفق عليه دى او يو په بخاري كي دى او اوه په مسلم كي دي (تهذيب الكمال).

داكابرو صحابه كرامو نه نقل درروايت كوي ترديي چې صرف ديو حديث اوريدو دپاره مصر ته دابوايوب انصاري سره دملاويدو دپاره تلى وو خو چې هغه يي واوريدو نو فورا واپس لاړو.

****

۲۲_بَاب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

۲۹۲۰_حَدَّثَنَا صَالِحُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَبِي لُبَابَةَ، قَالَ: قَالَتْ عَائِشَةُ " كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَنَامُ عَلَى فِرَاشِهِ حَتَّى يَقْرَأَ بَنِي إِسْرَائِيلَ، وَالزُّمَرَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَأَبُو لُبَابَةَ شَيْخٌ بَصْرِيٌّ، قَدْ رَوَى عَنْهُ حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ غَيْرَ حَدِيثٍ وَيُقَالُ اسْمُهُ مَرْوَانُ، أَخْبَرَنِي بِذَلِكَ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ فِي كِتَابِ التَّارِيخِ. [1]

ترجمه دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم به څو پوري سورة بني اسرائيل او سورة الزمر لوستلي نه وو تر هغي پوري به په بستره نه پريوتلو

امام ترمذي وائي داحديث حسن غريب دي، ابو لبابه يو بصري شيخ دي، حماد بن زيد دده نه يوڅو احاديث نقل كړي دي، او وئيلي شوي دي چې دده نوم مروان دي، دا خبره امام بخاري په كتاب التاريخ كي ذكر كړي ده.

****

۲۹۲۱_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا بَقِيَّةُ بْنُ الْوَلِيدِ، عَنْ بَحِيرِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بِلَالٍ، عَنْ عِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ، أَنَّهُ حَدَّثَهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "

---

[1] _ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ۲۰۵ (۷۱۲). ويأتي عند المؤلف في الدعوات (برقم ۳۴۰۵) (تحفة الأشراف: ۱۷۶۰۱)

كَانَ يَقْرَأُ الْمُسَبِّحَاتِ قَبْلَ أَنْ يَرْقُدَ، وَيَقُولُ: إِنَّ فِيهِنَّ آيَةً خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ آيَةٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه : دعرباض بن ساريه رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به اوده كيدونه مخكې مسبحات وئيل اوفرمائيل به ئي چې پدي كې يو ايت دي كوم چې دزرو اياتونونه بهتردي (مسبحات هغه سورتونه دي كوم چې په سبح يسبح سره شروع شوي دي).
امام ترمذي وايي: دا حديث حسن غريب دي.

****

٢٣_باب

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٩٢٢_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ طَهْمَانَ أَبُو الْعَلَاءِ الْخَفَّافُ، حَدَّثَنِي نَافِعُ بْنُ أَبِي نَافِعٍ، عَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " مَنْ قَالَ حِينَ يُصْبِحُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ أَعُوذُ بِاللَّهِ السَّمِيعِ الْعَلِيمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ، وَقَرَأَ ثَلَاثَ آيَاتٍ مِنْ آخِرِ سُورَةِ الْحَشْرِ، وَكَّلَ اللَّهُ بِهِ سَبْعِينَ أَلْفَ مَلَكٍ يُصَلُّونَ عَلَيْهِ حَتَّى يُمْسِيَ، وَإِنْ مَاتَ فِي ذَلِكَ الْيَوْمِ مَاتَ شَهِيدًا، وَمَنْ قَالَهَا حِينَ يُمْسِي، كَانَ بِتِلْكَ الْمَنْزِلَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (2)

ترجمه : دمعقل بن يسار رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چې دسحر وخت كې "اعوذبالله السميع العليم من الشيطان الرجيم" دري پيري اووائي او دري پيري دسورة الحشر اخري ايتونه اولولي نو الله تعالي دده دمغفرت غوښتلو دپاره اويا زره فرشتې مقرروي چې دماښام پورې به همدا كار كوي او كه چرې دي په همدي ورځ مړ شي نو شهيد به مړ شي او څوك چې دماښام وخت كې دا كلام وائي دهغه هم دا درجه ده.
امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي او دا موږ ته صرف په همدي سند معلوم دي.

****

1 _ سنن ابي داود/ الأدب ١٠٧ (٥٠٥٤) (تحفة الأشراف : ٩٨٨٨)

2 _ سنن ابي داود/ الأدب ١٠٧ (٥٠٥٤) (تحفة الأشراف : ٩٨٨٨)

٢٤_ باب مَا جَاءَ كَيْفَ كَانَ قِرَاءَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د نبي كريم صلي الله عليه وسلم قراءت به څنګه وو

٢٩٢٣_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ يَعْلَى بْنِ مَمْلَكٍ، أَنَّهُ سَأَلَ أُمَّ سَلَمَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قِرَاءَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَلَاتِهِ، فَقَالَتْ: مَا لَكُمْ وَصَلَاتَهُ، "كَانَ يُصَلِّي ثُمَّ يَنَامُ قَدْرَ مَا صَلَّى، ثُمَّ يُصَلِّي قَدْرَ مَا نَامَ، ثُمَّ يَنَامُ قَدْرَ مَا صَلَّى حَتَّى يُصْبِحَ، ثُمَّ نَعَتَتْ قِرَاءَتَهُ فَإِذَا هِيَ تَنْعَتُ قِرَاءَةً مُفَسَّرَةً حَرْفًا حَرْفًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ لَيْثِ بْنِ سَعْدٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ يَعْلَى بْنِ مَمْلَكٍ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، وَقَدْ رَوَى ابْنُ جُرَيْجٍ هَذَا الْحَدِيثَ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يُقَطِّعُ قِرَاءَتَهُ"، وَحَدِيثُ لَيْثٍ أَصَحُّ.[1]

ترجمه : ديعلي بن مملك نه روايت دى فرمائي چې دام سلمه نه مي درسول الله صلي الله عليه وسلم دقراءت اودمونځ په باره کې تپوس اوکړوچې څنګه تلاوت به يې کولو اوڅنګه مونځ به يې کولو؟ نوهغې اووئيل چرته ستاسو مونځونه اوچرته دهغه مونځ، هغه به مونځ اوکړو اوڅومره مونځ چې به يې کړي وو هغه هومره به اوده شو اوڅومره چې به اوده شوی وو هغه هومره به يې بيا مونځ اوکړو اودمونځ هومره به بياڅملاستو تردي چې سحربه شو بيايې دقراءت اوصاف بيان کړل چې يو يو حرف به يې لوستلو.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن غريب دي مونږ يي صرف دليث په سعد په روايت پيژنو کوم چې هغه دابن ابي مليکه نه او هغه ديعلي بن مملك په واسطه دام سلمه رضي الله عنها نه نقل کړي دي، ابن جريج دا حديث دابن ابي مليکه نه او هغه دام سلمه په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه نقل کړي دي چې دهغه دقراءت هر حرف به جدا جدا وو، مګر دليث حديث زيات حديث دي.

****

٢٩٢٤_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي قَيْسٍ هُوَ رَجُلٌ بَصْرِيٌّ، قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنْ وِتْرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ كَانَ يُوتِرُ مِنْ أَوَّلِ اللَّيْلِ أَوْ مِنْ آخِرِهِ؟ فَقَالَتْ: "كُلُّ ذَلِكَ قَدْ كَانَ يَصْنَعُ، رُبَّمَا أَوْتَرَ مِنْ أَوَّلِ اللَّيْلِ وَرُبَّمَا أَوْتَرَ مِنْ آخِرِهِ، فَقُلْتُ:

---

[1] _ سنن ابی داود/ الصلاة ٣٥٥ (١٤٦٦) (تحفة الأشراف : ١٨٢٢٦)

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي جَعَلَ فِي الْأَمْرِ سَعَةً، فَقُلْتُ: كَيْفَ كَانَتْ قِرَاءَتُهُ ؟ أَكَانَ يُسِرُّ بِالْقِرَاءَةِ أَمْ يَجْهَرُ ؟ قَالَتْ: كُلُّ ذَلِكَ قَدْ كَانَ يَفْعَلُ، قَدْ كَانَ رُبَّمَا أَسَرَّ وَرُبَّمَا جَهَرَ، قَالَ: فَقُلْتُ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي جَعَلَ فِي الْأَمْرِ سَعَةً، قُلْتُ: فَكَيْفَ كَانَ يَصْنَعُ فِي الْجَنَابَةِ ؟ أَكَانَ يَغْتَسِلُ قَبْلَ أَنْ يَنَامَ أَوْ يَنَامُ قَبْلَ أَنْ يَغْتَسِلَ ؟ قَالَتْ: كُلُّ ذَلِكَ قَدْ كَانَ يَفْعَلُ، فَرُبَّمَا اغْتَسَلَ فَنَامَ وَرُبَّمَا تَوَضَّأَ فَنَامَ، قُلْتُ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي جَعَلَ فِي الْأَمْرِ سَعَةً"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. ([1])

ترجمه : دعبدالله بن ابي قيس ﷺ چي دبصري اوسيدونكي دي نه روايت دی فرمائي چې دام المؤمنين عائشه رضي الله عنهانه مي درسول الله صلي الله عليه وسلم دوتروباره کې تپوس اوکړو هغي اووئيل ډيرکرته يی وتر دشپې په اوله حصه کې کړي دي، او ډيرکرته يی وتر دشپې په درميانه حصه کې کړي دي، او ډيرکرته يی وتر دشپې په اخري حصه کې کړي دي مابياتپوس اوکړو چې قراءت يی څنګه وو ايا پټ به وو اوکه په تيزه هغي اووئيل هررنګه يی کړی دی ډيرکرته يی رو رو وئيلی دی اوډيرکرته په جهرسره اوډيرکرته دغسل کولونه پس اوده شوی دی اوډيرکرته داودس کولونه پس اوده شوی دی.ما ووئيل ثنا ده هغه ذات لره چا چې په دي معامله کي وسعت پيدا کړی دی.

امام ترمذي وايي: دا حديث په دي سند حسن غريب دي.

****

٢٥_باب

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٩٢٥_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، قَالَ: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا إِسْرَائِيلُ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ الْمُغِيرَةِ، عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: " كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْرِضُ نَفْسَهُ بِالْمَوْقِفِ، فَقَالَ: أَلَا رَجُلٌ يَحْمِلُنِي إِلَى قَوْمِهِ فَإِنَّ قُرَيْشًا قَدْ مَنَعُونِي أَنْ أُبَلِّغَ كَلَامَ رَبِّي ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه : دجابر رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم به په موقف (عرفات) کي دخلقو په وړاندي دخپل ځان دپيش کولو په حال کي فرمائيل داسي څوک

[1] ـ سنن ابي داود/ الصلاة ٣٥٥ (١٤٣٦) (تحفة الأشراف : ١٨٢٢٦)

[2] ـ ابي داود/ السنة ٢٢ (٤٧٣٤)، ابن ماجه/ المقدمة ١٣ (٢٠١) (تحفة الأشراف : ٢٢٤١)

شته چې ما خپل قوم ته بوځي ځکه چې قریشو زه د خپل رب د کلام د تبلیغ نه منع کړي يم
امام ترمذي وايي: دا حديث غريب صحيح دي.

****

٢٦_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٢٩٢٦_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل، حَدَّثَنَا شِهَابُ بْنُ عَبَّادٍ الْعَبْدِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْحَسَنِ بْنِ أَبِي يَزِيدَ الْهَمْدَانِيُّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ قَيْسٍ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يَقُولُ الرَّبُّ عَزَّ وَجَلَّ: مَنْ شَغَلَهُ الْقُرْآنُ وَذِكْرِي عَنْ مَسْأَلَتِي أَعْطَيْتُهُ أَفْضَلَ مَا أُعْطِي السَّائِلِينَ، وَفَضْلُ كَلَامِ اللَّهِ عَلَى سَائِرِ الْكَلَامِ كَفَضْلِ اللَّهِ عَلَى خَلْقِهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه : د ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيي الله تعالي فرمائيلي دي: چالره چې قران کريم او زما ذکر زما نه دسوال کولو نه منع کړي نو زه به ورته هغه څيز ورکړم کوم چې غوښتونکو ته ورکوم بلکه دهغي نه به ورته بهتر ورکړم او د الله د کلام فضيلت په نورو کلامونو داسي دي لکه څنګه چې د الله تعالي فضيلت دی په نورو مخلوقاتو باندي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي.

****

كتاب القراءات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم

دقران کريم قراءة او تلاوت

١_باب فِي فَاتِحَةِ الْكِتَابِ

دسورة فاتحي دقراءة بيان

٢٩٢٧_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْأُمَوِيُّ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: " كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَطِّعُ قِرَاءَتَهُ، يَقُولُ: الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٢١٦)

الْعَالَمِينَ ثُمَّ يَقِفُ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ثُمَّ يَقِفُ، وَكَانَ يَقْرَؤُهَا مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَبِهِ يَقْرَأُ أَبُو عُبَيْدٍ وَيَخْتَارُهُ، وَهَكَذَا رَوَى يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْأُمَوِيُّ، وَغَيْرُهُ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِمُتَّصِلٍ، لِأَنَّ اللَّيْثَ بْنَ سَعْدٍ رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ يَعْلَى بْنِ مَمْلَكٍ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، أَنَّهَا وَصَفَتْ قِرَاءَةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَرْفًا حَرْفًا، وَحَدِيثُ اللَّيْثِ أَصَحُّ، وَلَيْسَ فِي حَدِيثِ اللَّيْثِ وَكَانَ يَقْرَأُ مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ. (1)

ترجمه : دام المؤمنين ام سلمه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به وقفه وقفه قراءت كولو، چې الحمدلله رب العالمين به يي اولوستلو نو بيا به اودريدو، بيا به يي الرحمن الرحيم اولوستلو نو اودريدلو به او چې مالك يوم الدين يي لوستلو نو هم اودريدو.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي ابو عبيده به هم داسي لوستل او همدا طريقه به يي خوښوله، يحي بن سعيد اموي او دده نه علاوه نورو راويانو دابن جريج نه او هغه دابن ابي مليكه په واسطه دام سلمه رضي الله عنها نه ددي هم معني روايت نقل كړي دي مگر سند يي متصل نه دي ، ځكه چې ليث بن سعد دا حديث دابن ابي مليكه نه او هغه ديعلي بن مملك نه او هغه دام سلمه په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دقراءة كيفيت يو يو حرف جدا جدا وئيلو سره بيان كړي دي، مگر دليث حديث زيات صحيح دي او دليث په حديث كي دا نه دي ذكر شوي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به مالك يوم الدين لوستلو.

****

٢٩٢٨_حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ مُحَمَّدُ بْنُ أَبَانَ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ بْنُ سُوَيْدٍ الرَّمْلِيُّ، عَنْ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَبَا بَكْرٍ، وَعُمَرَ، وَأُرَاهُ قَالَ: وَعُثْمَانَ: "كَانُوا يَقْرَءُونَ مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ هَذَا الشَّيْخِ أَيُّوبَ بْنِ سُوَيْدٍ الرَّمْلِيِّ، وَقَدْ رَوَى بَعْضُ أَصْحَابِ الزُّهْرِيِّ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَا بَكْرٍ، وَعُمَرَ: " كَانُوا يَقْرَءُونَ مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ وَرَوَى عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ،

---

1 ـ سنن أبي داود/ الحروف والقراءات (٤٠٠١) (تحفة الأشراف : ١٨١٨٢)

أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَبَا بَكْرٍ، وَعُمَرَ "كَانُوا يَقْرَءُونَ مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ (الفاتحة: ٤". (1)

ترجمه: دانس رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم او ابو بكر اوعمر رضي الله عنهما (زهري راوي وائي) زما خيال دي چې انس رضي الله عنه دعثمان نوم هم واخستلو چې دوئ ټولو به مالك يوم الدين لوستلو.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي دا مونږ ته صرف دزهري په روايت رارسيدلي دي چې دانس بن مالك نه يي نقل كوي دا روايت مونږ صرف ددي شيخ يعني ايوب بن سويد رملي په سند پيژنو، دزهري بعضي شاګردانو داحديث دزهري نه مرسل نقل كړي دي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم او ابوبكر او عمر مالك يوم الدين لوستل، او عبدالرزاق دمعمرو نه او هغه دزهري نه او هغه دسعيد بن مسيب نه مرسل روايت نقل كړي دي چې رسول الله او ابوبكر او عمر رضي الله عنهما مالك يوم الدين لوستلو (يعني دا روايت صرف ايوب بن سعيد مرفوع ذكر كړي دي او ايوب په باب دحديث كي ضعيف دي.

****

٢٩٢٩ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ أَبِي عَلِيِّ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "قَرَأَ أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ (المائدة:٤٥)". (2)

ترجمه: دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې مونږ رسول الله صلي الله عليه وسلم دا ايت داسي اولوستلو "ان النفس بالنفس والعين بالعين".

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي، ابو علي بن يزيد ديونس بن يزيد ورور دي، امام بخاري وائي ددي حديث په نقل كولو كي دابن مبارك نه يونس بن يزيد منفرد دي، او ابو عبيده (قاسم بن سلام) ددي حديث په اتباع كي دارنګي العين بالعين لوستلي دي.

****

حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى بن يزيد: وهذا حديث حسن غريب. قَالَ مُحَمَّدٌ: تَفَرَّدَ ابْنُ الْمُبَارَكِ بِهَذَا الْحَدِيثِ عَنْ

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٥٤٠)

2 ـ سنن ابي داود/ الحروف (٣٩٧٦) (تحفة الأشراف: ١٥٤٢)

يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ، وَهَكَذَا قَرَأَ أَبُو عُبَيْدٍ، وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ، اتِّبَاعًا لِهَذَا الْحَدِيثِ. (1)

ترجمه : عبدالله بن مبارك هم ديونس بن زيد نه په مذكوره اسناد دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي امام بخاري وائي ددي حديث په بيانولو كي ابن مبارك چې ديونس بن يزيد نه يي نقل كوي منفرددي او همدارنګي ابو عبيده والعين بالعين ددي حديث داتباع په وجه لوستل.

****

۲۹۳۰ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا رِشْدِينُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ زِيَادِ بْنِ أَنْعُمَ، عَنْ عُتْبَةَ بْنِ حُمَيْدٍ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ نُسَيٍّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ غَنْمٍ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "قَرَأَ" هَلْ تَسْتَطِيعُ رَبَّكَ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ رِشْدِينَ، وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ، وَرِشْدِينُ بْنُ سَعْدٍ، وَالْأَفْرِيقِيُّ يُضَعَّفَانِ فِي الْحَدِيثِ. (2)

ترجمه : دمعاذ بن جبل رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دا ايت داسي لوستلو "هل تستطيع ربك".

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف درشدين په سند پيژنو او ددي سند دقوت حامل نه دي رشدين بن سعد او عبدالرحمن بن زياد بن انعم افريقي دواړه په باب دحديث كي ضعيف دي.

****

۲ـ بَاب وَمِنْ سُورَةِ هُودٍ

دسورة هود دقراءت بيان

۲۹۳۱ـ حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ حَفْصٍ، حَدَّثَنَا ثَابِتٌ الْبُنَانِيُّ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ يَقْرَؤُهَا إِنَّهُ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ (هود: ٤٦)"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ قَدْ رَوَاهُ غَيْرُ وَاحِدٍ عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ نَحْوَ هَذَا، وَهُوَ حَدِيثُ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ أَيْضًا عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ قَالَ:

---

1 ـ سنن ابي داود/ الحروف (٣٩٨٦) (تحفة الأشراف: ١٥٨٢)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١١٣٢٨)

وَسَمِعْتُ عَبْدَ بْنَ حُمَيْدٍ، يَقُولُ: أَسْمَاءُ بِنْتُ يَزِيدَ هِيَ أُمُّ سَلَمَةَ الْأَنْصَارِيَّةُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: كِلَا الْحَدِيثَيْنِ عِنْدِي وَاحِدٌ، وَقَدْ رَوَى شَهْرُ بْنُ حَوْشَبٍ غَيْرَ حَدِيثٍ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ الْأَنْصَارِيَّةِ وَهِيَ أَسْمَاءُ بِنْتُ يَزِيدَ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوُ هَذَا. (1)

ترجمه : دام سلمه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به دا ايت داسي لوستلو "انه عمل غيرصالح".

امام ترمذي وايي: دا رنګي يو څو نورو راويانو هم دثابت بناني نه دا حديث نقل کړي دي حديث شهر بن حوشب داسماء بنت يزيد په واسطه هم نقل کړي دي، ما دعبد بن حميد نه اوريدلي دي چې اسماء بنت يزيد ام سلمه انصاريه ده او دا دواړه احاديث زما په نزد يو دي شهر بن حوشب ډير احاديث دام سلمه نه نقل کړي دي او دام سلمه انصاريه نه همدا اسماء بنت يزيد مراد ده، عائشه رضي الله عنها هم دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه ددي هم معني روايت بيان کړي دي.

****

٢٩٣٢ـ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، وَحَبَّانُ بْنُ هِلَالٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا هَارُونُ النَّحْوِيُّ، عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "قَرَأَ هَٰذِهِ الْآيَةَ إِنَّهُ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ (هود: ٤٦)". (2)

ترجمه : شهر بن حوشب دام سلمه رضي الله عنها په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم دا ارشاد نقل کوي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دا ايت اولوستلو "انه عمل غير صالح".

****

٣ـ باب وَمِنْ سُورَةِ الْكَهْفِ

دسورة کهف دقراءت بيان

٢٩٣٣ـ حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ نَافِعٍ بَصْرِيٌّ، حَدَّثَنَا أُمَيَّةُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو الْجَارِيَةِ الْعَبْدِيُّ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ: "قَرَأَ قَدْ بَلَغْتَ مِن لَّدُنِّي عُذْرًا (الكهف: ٧٦) مُثَقَّلَةً". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ

---

1 ـ ابي داود/الحروف (٣٩٨٢، و ٣٩٨٣)، و مسند احمد (٦/٤٥٩)

2 ـ ابي داود/الحروف (٣٩٨٢، و ٣٩٨٣)، و مسند احمد (٦/٤٥٩)

غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَأُمَيَّةُ بْنُ خَالِدٍ ثِقَةٌ، وَأَبُو الْجَارِيَةِ الْعَبْدِيُّ شَيْخٌ مَجْهُولٌ وَلَا نَعْرِفُ اسْمَهُ. (1)

ترجمه : دابیِ بن كعب رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اولوستل "قد بلغت من لدني عذرا" يعني لدني يي دنون ثقيله سره اولوستلو

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي دا مونږ ته صرف په همدي سند معلوم دي. اميه بن خالد ثقه دي، ابو الجاريه عبدي يو مجهول شيخ دي چې مونږ ته يي نوم نه دي معلوم

****

۲۹۳٤_حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا مُعَلَّى بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ دِينَارٍ، عَنْ سَعْدِ بْنِ أَوْسٍ، عَنْ مِصْدَعٍ أَبِي يَحْيَى، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "قَرَأَ فِي عَيْنٍ حَمِئَةٍ (الكهف :٨٦) ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَالصَّحِيحُ مَا رُوِيَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قِرَاءَتُهُ وَيُرْوَى أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ، وَعَمْرَو بْنَ الْعَاصِ اخْتَلَفَا فِي قِرَاءَةِ هَذِهِ الْآيَةِ وَارْتَفَعَا إِلَى كَعْبِ الْأَحْبَارِ فِي ذَلِكَ، فَلَوْ كَانَتْ عِنْدَهُ رِوَايَةٌ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَاسْتَغْنَى بِرِوَايَتِهِ وَلَمْ يَحْتَجْ إِلَى كَعْبٍ وَمِنْ سُورَةِ الرُّومِ. (2)

ترجمه : دابیِ بن كعب رضي الله عنه نه مروي دي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم دا ايت داسي لوستلو "في عين حمئة " امام ترمذي وائي دا حديث غريب دي او مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو صحيح دابن عباس قراءت دي كوم چې دهغه نه مروي دي. مروي دي چې ابن عباس او عمرو بن العاص رضي الله عنهما دواړو ددي ايت په قرائت كي اختلاف كولو او خپله معامله يي كعب بن احبار ته پيش كړه كه چري ددوئ سره دنبي كريم صلي الله عليه وسلم كوم روايت موجود وي نو هغه به ددي دپاره كافي وو او كعب احبار ته درجوع كولو ضرورت به نه وو پاتي شوي.

****

٤_بَاب وَمِنْ سُورَةِ الرُّومِ

دسورة روم دشان نزول بيان

1 ـ سنن ابي داود/ الحروف (٣٩٨٥) (تحفة الأشراف : ٣٢)

2 ـ سنن ابي داود/ الحروف (٣٩٨٦) (تحفة الأشراف : ٣٢)

٢٩٣٥_حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ الْجَهْضَمِيُّ، حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ سُلَيْمَانَ الْأَعْمَشِ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: " لَمَّا كَانَ يَوْمُ بَدْرٍ ظَهَرَتِ الرُّومُ عَلَى فَارِسَ، فَأَعْجَبَ ذَلِكَ الْمُؤْمِنِينَ، فَنَزَلَتْ الم غُلِبَتِ الرُّومُ إِلَى قَوْلِهِ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ (الروم :١-٤)، قَالَ: يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ بِظُهُورِ الرُّومِ عَلَى فَارِسَ "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَيُقْرَأُ غَلَبَتْ وَغُلِبَتْ، يَقُولُ: كَانَتْ غُلِبَتْ ثُمَّ غَلَبَتْ، هَكَذَا قَرَأَ نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ غَلَبَتْ.(١)

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي چې دجنګ بدر په موقعه روميان (اهل كتاب نصاري) په اهل فارس (مجوسيانو) باندي غالب شول او په دي كار مسلمانان ډير زيات خوشحاله شول او په همدي موقعه الله تعالي "الم غلبت الروم" تر "يفرح المؤمنون" پوري نازل كړوچنانچې مسلمانان دروميانو په غلبي باندي خوشحاله شول چې په فارس والا غالب شوي وو.

امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند حسن غريب دي، غَلبت او غُلبت دواړه لوستل جائز دي وئيلي شوي دي روميان اول مغلوب شول بيا غالب شول او همدا لفظ نصر بن علي غلبت لوستلي شي.

****

٢٩٣٦_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حُمَيْدٍ الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا نُعَيْمُ بْنُ مَيْسَرَةَ النَّحْوِيُّ، عَنْ فُضَيْلِ بْنِ مَرْزُوقٍ، عَنْ عَطِيَّةَ الْعَوْفِيِّ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ: " قَرَأَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَلَقَكُمْ مِنْ ضَعْفٍ (الروم :٥٤) فَقَالَ: مِنْ ضُعْفٍ ".(٢)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهمابيان دي فرمائي چې مادنبي كريم صلي الله عليه وسلم په وړاندي خلقكم من ضعف (دضاد په فتح سره) اولوستلو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل من ضُعف نه دي من ضُعف دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي او مونږ يي صرف دفضيل بن مرزوق په سند پيژنو.

****

حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، عَنْ فُضَيْلِ بْنِ مَرْزُوقٍ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ،

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٤٢٠٨)

2 _ سنن ابي داود/الحروف (٣٩٧٨) (تحفة الأشراف : ٤٢٣٢)

عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ فُضَيْلِ بْنِ مَرْزُوقٍ. (1)

ترجمه عطيه دابن عمر رضي الله عنهما په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي .

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي او صرف دفضيل بن مرزوق په سند مونږ ته رارسيدلي دي او ددينه علاوه په بل سند مونږ ته معلوم نه دي.

****

٥_ باب وَمِنْ سُورَةِ الْقَمَرِ

دسورة قمر دقراءت بيان

٢٩٣٧_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ يَقْرَأُ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ (القمر :١٥) ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به داسې لوستل "فهل من مدكر".

امام ترمذي وايي: داحديث صحيح دي.

****

٦_ باب وَمِنْ سُورَةِ الْوَاقِعَةِ

دسورة واقعه دقراءت بيان

٢٩٣٨_ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ هِلَالٍ الصَّوَّافُ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ الضُّبَعِيُّ، عَنْ هَارُونَ الْأَعْوَرِ، عَنْ بُدَيْلِ بْنِ مَيْسَرَةَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيقٍ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ يَقْرَأُ فَرُوحٌ وَرَيْحَانٌ وَجَنَّةُ نَعِيمٍ (الواقعة :٨٩)". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا

---

1 _ سنن ابي داود/ الحروف (٣٩٨٨) (تحفة الأشراف : ٤٢٣٢)

2 _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /احاديث الأنبياء ٣ (٣٣٤١) . وتسير سورة القمر ٢ (٤٨٧١ _ ٤٨٧٤) ، صحيح مسلم/المسافرين ٥٠ (٨٢٣) ، سنن ابي داود/ الحروف (٣٩٩٣) (تحفة الأشراف : ٩١٧٩)

نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ هَارُونَ الْأَعْوَرِ. (1)

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرمائي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم به دا ايت داسي لوستلو "فروح وريحان وجنة نعيم".

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي او مونږ يي صرف دهارون اعور په سند پيژنو.

****

٧_ بَاب وَمِنْ سُورَةِ اللَّيْلِ

دسورة الليل دقراءت بيان

٢٩٣٩_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، قَالَ: قَدِمْنَا الشَّامَ فَأَتَانَا أَبُو الدَّرْدَاءِ، فَقَالَ: "أَفِيكُمْ أَحَدٌ يَقْرَأُ عَلَيَّ قِرَاءَةَ عَبْدِ اللهِ؟ قَالَ: فَأَشَارُوا إِلَيَّ، فَقُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: كَيْفَ سَمِعْتَ عَبْدَ اللهِ يَقْرَأُ هٰذِهِ الْآيَةَ وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى (الليل :١) ؟ قَالَ: قُلْتُ: سَمِعْتُهُ يَقْرَؤُهَا وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى وَالذَّكَرِ وَالْأُنْثَى، فَقَالَ أَبُو الدَّرْدَاءِ: وَأَنَا وَاللهِ هٰكَذَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَؤُهَا، وَهٰؤُلَاءِ يُرِيدُونَنِي أَنْ أَقْرَأَهَا وَمَا خَلَقَ (الليل :٣) فَلَا أُتَابِعُهُمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَهٰكَذَا قِرَاءَةُ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ. وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى وَالنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّى وَالذَّكَرِ وَالْأُنْثَى. (2)

ترجمه : دعلقمه نه مروي دي فرمائي چې كله مونږ شام ته ورسيدو نو ابو الدرداء رضي الله عنه مونږ ته راغي چې وئيل يي ايا په تاسو كي داسي څوك شته چې دعبدالله بن مسعود دقراءت پشان لوستل كوي نو خلقو دي وخت كي زما طرف ته اشاره اوكړه نو ما اووئيل هو، زه يي دهغه دقراءت مطابق لولم نو ابو الدرداء اووئيل تا دا ايت والليل اذا يغشي دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه څنګه اوريدلي دي ما اووئيل ما ورنه داسي اوريدلي دي "والليل اذا يغشي والذكر والانثي " ابو الدرداء رضي الله عنه اووئيل قسم په الله چې ماهم درسول الله صلي الله عليه وسلم نه داسي اوريدلي دي مګر دا خلق غواړي چې زه "وماخلق" اولولم خو زه ددوئ خبره نه منم.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او دعبدالله بن مسعود قراء ة هم داسي دي

---

[1] ـ سنن ابي داود/الحروف (٣٩٩١) (تحفة الأشراف : ١٦٢٠٣)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /تفسير سورة الليل ١ (٤٩٤٣) . صحيح مسلم /المسافرين ٥٠ (٨٢٤) (تحفة الأشراف : ١٠٩٥٥)

"والليل اذا يغشي والنهار اذا تجلي والذكر والانثي".

****

٨_باب وَمِنْ سُورَةِ الذَّارِيَاتِ

دسورة الذاريات دقراءت بيان

٢٩٤٠_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: " أَقْرَأَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "إِنِّي أَنَا الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله سلي الله عليه وسلم ماته دا ايت داسي اولوستلو "اني انا الرزاق ذوالقوة المتين".

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٩_باب وَمِنْ سُورَةِ الْحَجِّ

دسورة حج دقراءت بيان

٢٩٤١_حَدَّثَنَا أَبُو زُرْعَةَ، وَالْفَضْلُ بْنُ أَبِي طَالِبٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ بِشْرٍ، عَنِ الْحَكَمِ بْنِ عَبْدِ الْمَلِكِ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " قَرَأَ وَتَرَى النَّاسَ سُكَارَى وَمَا هُمْ بِسُكَارَى (الحج :٢)". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَلَا نَعْرِفُ لِقَتَادَةَ سَمَاعًا مِنْ أَحَدٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا مِنْ أَنَسٍ، وَأَبِي الطُّفَيْلِ، وَهَذَا عِنْدِي حَدِيثٌ مُخْتَصَرٌ، إِنَّمَا يُرْوَى عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ: " كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي السَّفَرِ فَقَرَأَ يَأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ (الحج :١) ". الْحَدِيثَ بِطُولِهِ، وَحَدِيثُ الْحَكَمِ بْنِ عَبْدِ الْمَلِكِ عِنْدِي مُخْتَصَرٌ مِنْ هَذَا الْحَدِيثِ. [2]

ترجمه : عمران بن حصين رضي الله عنه وائي دا ايت رسول الله صلي الله عليه وسلم داسي اولوستلو "وتري الناس سكاري وماهم بسكاري".

---

[1] ـ سنن ابي داود/ الحروف (٣٩٩٣) (تحفة الأشراف : ٩٣٨٩)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٠٨٣٤)

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي دانس او ابو طفيل نه علاوه په صحابه کرامو کي دبل چانه دقتاده سماع مونږ ته نه ده معلومه. دا روايت زما په نزد مختصر دي پوره روايت داسي دي قتاده دحسن بصري نه روايت نقل کړي دي او هغه دعمران بن حصين نه چې مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم سره په سفر کي موجود وو او هغوئ دا ايت "يا ايهالناس اتقوا ربكم" اولوستلو او بيا يي وړاندي پوره حديث بيان کړو، دحکم بن عبدالملک حديث زما په نزد ددي حديث نه مختصر دي.

****

١٠_بَاب مِنْهُ

دسابقه باب مطابق يو بل باب

٢٩٤٢_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، قَالَ: أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ، عَنْ مَنْصُورٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا وَائِلٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "بِئْسَمَا لِأَحَدِهِمْ أَوْ لِأَحَدِكُمْ أَنْ يَقُولَ: نَسِيتُ :كَيْتَ وَكَيْتَ بَلْ هُوَ نُسِّيَ، فَاسْتَذْكِرُوا الْقُرْآنَ، فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَهُوَ أَشَدُّ تَفَصِّيًا مِنْ صُدُورِ الرِّجَالِ مِنَ النَّعَمِ مِنْ عُقُلِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په دوئ کي ديو کس يا په تاسو کي ديو کس دا خبره ډيره بده ده چې اووائي دقران فلاني ايت مي هير کړو، بلکه داسي به وائي دقران فلاني ايت رانه هير شو پس تاسو قران ياد ساتئ او تکرار يي کوئ زما دي په هغه ذات قسم وي دچا په قبضه کي چې زما روح دي قران دخلقو دسينو نه په تختيدو کي دخاروو دتختيدو نه چې دخپلي رسئ نه خلاص شي زيات تيز دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

١١_بَاب مَا جَاءَ أُنْزِلَ الْقُرْآنُ عَلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ

قران په اوه حرفونو نازل کړي شوي دي

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع /فضائل القرآن ٢٢ (٥٠٣٢)، و ٢٦ (٥٠٣٩). صحيح مسلم/ المسافرين ٣٣ (٧٩٠). سنن النسائي/الافتتاح ٣٧ (٩٤٣) (تحفة الأشراف: ٩٢٩٥). و مسند احمد (١/٣٨٢، ٤١٧، ٤٢٣، ٤٢٩، ٤٦٣). وسنن الدارمي/فضائل القرآن ٤ (٣٣٩٠). والرقاق ٢٢ (٢٧٨٤)

٢٩٤٣_ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ، وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدٍ الْقَارِيِّ أَخْبَرَاهُ، أَنَّهُمَا سَمِعَا عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ، يَقُولُ: مَرَرْتُ بِهِشَامِ بْنِ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ وَهُوَ يَقْرَأُ سُورَةَ الْفُرْقَانِ فِي حَيَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَمَعْتُ قِرَاءَتَهُ، فَإِذَا هُوَ يَقْرَأُ عَلَى حُرُوفٍ كَثِيرَةٍ، لَمْ يُقْرِئْنِيهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكِدْتُ أُسَاوِرُهُ فِي الصَّلَاةِ، فَنَظَرْتُ حَتَّى سَلَّمَ فَلَمَّا سَلَّمَ لَبَّبْتُهُ بِرِدَائِهِ، فَقُلْتُ: مَنْ أَقْرَأَكَ هَذِهِ السُّورَةَ الَّتِي سَمِعْتُكَ تَقْرَؤُهَا ؟ فَقَالَ: أَقْرَأَنِيهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قُلْتُ لَهُ: كَذَبْتَ، وَاللَّهِ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَهُوَ أَقْرَأَنِي هَذِهِ السُّورَةَ الَّتِي تَقْرَؤُهَا. فَانْطَلَقْتُ أَقُودُهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي سَمِعْتُ هَذَا يَقْرَأُ سُورَةَ الْفُرْقَانِ عَلَى حُرُوفٍ لَمْ تُقْرِئْنِيهَا وَأَنْتَ أَقْرَأْتَنِي سُورَةَ الْفُرْقَانِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَرْسِلْهُ يَا عُمَرُ، اقْرَأْ يَا هِشَامُ". فَقَرَأَ عَلَيْهِ الْقِرَاءَةَ الَّتِي سَمِعْتُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَكَذَا أُنْزِلَتْ". ثُمَّ قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اقْرَأْ يَا عُمَرُ". فَقَرَأْتُ بِالْقِرَاءَةِ الَّتِي أَقْرَأَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَكَذَا أُنْزِلَتْ. ثُمَّ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ هَذَا الْقُرْآنَ أُنْزِلَ عَلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَى مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ، إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ فِيهِ الْمِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ. [1]

ترجمه: دمسور بن مخرمه او عبدالرحمن بن عبدالقاري رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چې مونږ دامیرالمؤمنين عمر رضي الله عنه نه اوريدلي دي چې زه په شام کې دحکيم بن حزام رضي الله عنه سره تير شوم او هغه سورة الفرقان لوستلو او په هغه وخت کې رسول الله صلي الله عليه وسلم ژوندي وو ما دده قراءة واوريدلو چې په داسې حرفونو يې لوستلو په کومو چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته نه وو لوستلي، ډيره نژدې ده چې ما ورباندې حمله کړې وې مګر ما ورته دمونځ ختميدو پورې مهلت ورکړو ځنګه چې هغه سلام اوګرځولو نو ما دهغه په مرئ کې څادر واچولو او ځان ته مې رابښکلو او تپوس مې ورنه اوکړو کوم سورة

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الخصومات ٤ (٢٤١٩)، وفضائل القرآن ٥ (٤٩٩٢)، و ٢٧ (٥٠٤١)، والمرتدين ٩ (٦٩٣٦)، والتوحيد ٥٣ (٧٥٥٠)، صحيح مسلم/المسافرين ٤٨ (٨١٨)، سنن ابي داود/ الصلاة ٣٥٧ (١٤٧٥)، سنن النسائي/الإفتتاح ٣٧ (٩٣٩و٩٣٧) (تحفة الأشراف: ١٠٥٩١و١٠٦٣٢)، والمؤطاء:القرآن ٤ (٥)

چې اوس ما ستا نه واوریدلو دا درته چا لوستلې دي؟ حزام اووئیل رسول الله صلي الله علیه وسلم راته لوستلې دي ما ورته اووئیل دروغ دي اووئیل زما دي په الله قسم رسول الله صلي الله علیه وسلم ماته هم دا سورة لوستلي دي کوم چې تا اولوستلو او بیا ما حزام په راښکلو راښکلو نبي کریم صلي الله علیه وسلم ته راوستلو ما عرض اوکړو اي دالله رسوله ما دده نه سورة الفرقان په داسي حرفونو دلوستلو په حال کي اوریدلي دي په کومو چې تا مونږ ته نه دي خودلي څه وخت چې تاسو ماته سورة الفرقان خودلو، بیا رسول الله اوفرمائیل اي عمر دي پریږده او ماته یي اووئیل اي هشام ته لوله حزام وائي هشام هغه قراءة اوکړو کوم چې ورنه ما اوریدلي وو رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل همداسي نازل شوي دي او بیا رسول الله ماته اوفرمائیل اي عمر ته اولوله نو ما هغه شان اولوستلو څنګه چې ماته رسول الله لوستلي وو نو ویې فرمائیل همداسي نازل شوي دي او بیا رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل دا قران په اوه حرفونو نازل شوي دي هر قراءة چې تاسو ته اسان ښکاري په هم هغه باندي قران لولئ.

امام ترمذي وایي: داحدیث حسن صحیح دي، مالك بن انس دزهري نه په همدي سند ددي هم معني روایت نقل کړي دي لیکن هغه خپل روایت کي دمخرمه واسطه نه ده ذکر کړي.

****

٢٩٤٤_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ. حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا شَيْبَانُ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، قَالَ: لَقِيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جِبْرِيلَ فَقَالَ: "يَا جِبْرِيلُ، إِنِّي بُعِثْتُ إِلَى أُمَّةٍ أُمِّيِّينَ، مِنْهُمُ الْعَجُوزُ وَالشَّيْخُ الْكَبِيرُ، وَالْغُلَامُ وَالْجَارِيَةُ وَالرَّجُلُ الَّذِي لَمْ يَقْرَأْ كِتَابًا قَطُّ. قَالَ: "يَا مُحَمَّدُ، إِنَّ الْقُرْآنَ أُنْزِلَ عَلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ" وَفِي الْبَابِ، عَنْ عُمَرَ، وَحُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأُمِّ أَيُّوبَ وَهِيَ امْرَأَةُ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ، وَسَمُرَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي جُهَيْمِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ الصِّمَّةِ، وَعَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، وَأَبِي بَكْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ. [1]

ترجمه : دابیّ بن کعب رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم دجبرائیل علیه السلام سره مخامخ شو رسول الله اوفرمائیل اي جبرائیل زه یو امي (کوم چې لوستل نشي کولي) قوم ته رالیږلي شوي یم چې په دي کي بوډاګان سړي او بوډۍ ګاني ښځي هلکان او جینکۍ هم دي او په دوئ کي داسي خلق هم دي چاچې هیڅ کله کوم کتاب نه دي

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢٠) . وانظر: مسند احمد (١١٣/٥، ١٢٢، ١٢٥)

لوستلي جبرائيل عليه السلام اوفرمائيل اي محمد (صلي الله عليه وسلم) قران په اوه حرفونو نازل كړي شوي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دعمر، حذيفه بن يمان، ابوهريره، او ام ايوب رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي (ام ايوب دابو ايوب انصاري رضي الله عنه ښځه ده) او دا رنګي دسمره، ابن عباس، ابوجهيم بن حارث بن صمه ، عمرو بن العاص، او ابوبكر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او دابيّ بن كعب نه دا حديث په متعددو سندونو مروي دي.

****

۱۲_بَاب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

۲۹۴۵_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ نَفَّسَ عَنْ أَخِيهِ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا نَفَّسَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، وَمَنْ يَسَّرَ عَلَى مُعْسِرٍ يَسَّرَ اللَّهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، وَاللَّهُ فِي عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِي عَوْنِ أَخِيهِ، وَمَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَلْتَمِسُ فِيهِ عِلْمًا سَهَّلَ اللَّهُ لَهُ طَرِيقًا إِلَى الْجَنَّةِ، وَمَا قَعَدَ قَوْمٌ فِي مَسْجِدٍ يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ إِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِينَةُ، وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ، وَحَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ، وَمَنْ أَبْطَأَ بِهِ عَمَلُهُ لَمْ يُسْرِعْ بِهِ نَسَبُهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَكَذَا رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ هَذَا الْحَدِيثِ، وَرَوَى أَسْبَاطُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنِ الْأَعْمَشِ، قَالَ: حُدِّثْتُ عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ بَعْضَ هَذَا الْحَدِيثِ. [1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچې ديو مسلمان نه ددنيا په سختيو كې يوه سختي لري كړه الله تعالي به ورنه دقيامت په سختيو كي يوه سختي لري كړي او چاچې يو تنګدست قرضدار سره نرمي اوكړه الله تعالي به يي ددنيا او اخرت مشكلات اسانه كړي او چاچې په مسلمان پرده واچوله الله تعالي به

---

[1] ـ انظر حديث رقم ۲۶۳۶

وربانديي په دنيا او اخرت کې پرده واچوي او الله تعالي دبنده امداد کوي تر څو چې هغه دبل مسلمان په امداد کې لګيا وي او چاچې دعلم دين په طلب کې سفر اوکړو الله تعالي به ورته دجنت لاره اسانه کړي او څوک چې دالله تعالي په کورونو کې په يو کور کې (جومات) کې راجمع شي دقران شريف تلاوت کوي او دقران شريف درس ورکوي (يوبل ته ښايي) الله تعالي وربانديي اطمينان نازل کړي او په خپل رحمت کې پټ کړي او فرشتې وربانديي دخپلو وزرو سورى اوکړي او څوک چې خپل عمل وروستو پاتې کړو نسب يې نه شي وړاندې کولی (مسلم شريف).

امام ترمذي وايي: همدارنګې يو څو راويانو ددې حديث پشان روايت داعمش نه او هغه دابو صالح نه او هغه دابو هريره په واسطه هم دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه نقل کړي دي.
اسباط بن محمد هم داعمش نه نقل کړي دي مګر داسباط په روايت کې داسې دي اعمش وائي ماته محمد روايت بيان کړي دي دابوصالح نه او ابو صالح دابوهريره په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه نقل کړي دي او بيا يې ددې حديث بعضې حصه ذکر کړه.

لغات: غشيتهم غشي غشيا دسمع نه په معنې دپټولو دي.
خفتهم: خفّ خفًا دنصر او ضرب نه په معنې داحاطې کولو دي.
بطا بطو بطاء دکرم نه په معنې دموخر کولو دي.

تشريح : "من نفس عن مومن کربة من کرب الدنيا" يعنې څوک چې ديومسلمان نه ددنيا په تکليفونو کې يو تکليف لرې کړي نو الله تعالي به په قيامت کې دده نه داخرت په تکليفونو کې يو لوي تکليف لرې کړي ، دمشکوة په يو روايت کې دا مضمون په زيات وضاحت سره راغلى دى چې څوک دمصيبت وهلو ښځو امداد کوي او يا دغريب امداد کوي نو دى داسې دى لکه څوک چې په جهاد کې کوشش کوي او که داسې يې اوفرمائيل چې تمامه شپه نفلونه کوي او يوه ذره سستې نه کوي او داسې دى لکه څوک چې هميشه روژې نيسي او افطار نه کوي.

"ومن يسر علي معسر يسره الله عليه في الدنيا والاخره" څوک چې ديو تنګدست سره اساني اوکړي نو الله تعالي به دهغه سره په اخرت کې اساني اوکړي
محدثين وايي چې دلته دعمل بدله دخپل جنس نه ده ، الله تعالي يې دور کولو وعده کړې ده ، په قران کريم کې هم داسې مضمون راغلى دى "فذلك يومئذ يوم عسير".

"وما اجتمع قوم في بيت من بيوت الله تعالي" يعنې څوک چې دالله دکورونو نه په يو کور کې راجمع کيږي په يو بل روايت کې راغلي دي په کومو کورونو کې چې تلاوت کيږي هغه کور اسمان والاته داسې پرقيږي لکه زمکې والاته چې داسمان ستورې پرقيږي.

"الانزلت عليهم السكينة"دسكينه نه مراد څه دي په دي کښ متعدد اقوال دي اول داچې سکينه دالله رحمت ته وئيلی شي، دويم سکون، دريم وقار، څلورم طمانيت، پنځم فرشتي داټول مراد کيدی شي او دا تمام انعامات به دقران لوستونکي ته ملاويږي

"وغيشتهم الرحمة" يعني رحمت به دوئ لره پټ کړي رحمت نه مراد دالله فضل او احسان دی.

وحفتهم الملائكة. يعني فرشتي به ورنه احاطه وکړي، يو مشهور او ږد روايت دي چې دتلاوت کونکو او ذکر کونکو نه فرشتي کيره اچوي تردي چې اسمان ته ورسيږي.

وذکرهم الله فيمن عنده. د عنده نه مراد فرشتي دي لکه چې په يو بل روايت کښ هم راغلي دي.
فان ذکرني في نفسه ذکرته في نفسه وان ذکرني في ملاء ذکرته في ملاء خير منهم.
پس که چرې ما په زړه کښ يادوي نو زه يي هم په زړه کښ يادوم اوکه په ډله کښ مي يادوي نو زه يي په داسي ډله کښ يادوم چې دده دډلي نه به بهتره وي.

ومن بطأ به عمله لم يسرع به نسبه. چالره چې خپل عمل شاته پريخودو نو ده لره دده نسب وړاندي نشي مخکښ کولي ، په دي کښ په دي خبره باندي تنبيه ده څوك چې صرف په خپل خاندان او شرافت اعتماد کوي نو دقيامت په ورځ به يي هيڅ پکار رانشي ، پکار راتلونکي څيزونه به په قيامت کښ اعمال صالحه وي ، ان اکرمکم عند الله اتقاکم.
لکه چې په يو بل روايت کښ راغلي دي: يا فاطمة بنت محمد سليني ماشئت لااغني من الله شيئا يعني اي فاطمي څه چې غواړي اوغواړه ځکه چې زه ستا نه دالله په عذاب کښ هيڅ شي نشم دفع کولي.(روضة)

****

١٣_ بَابٌ مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٢٨٤٦_ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ أَسْبَاطِ بْنِ مُحَمَّدٍ الْقُرَشِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ مُطَرِّفٍ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، فِي كَمْ أَقْرَأُ الْقُرْآنَ ؟ قَالَ: "اخْتِمْهُ فِي شَهْرٍ". قُلْتُ: إِنِّي أُطِيقُ أَفْضَلَ مِنْ ذَلِكَ، قَالَ: "اخْتِمْهُ فِي عِشْرِينَ". قُلْتُ: إِنِّي أُطِيقُ أَفْضَلَ مِنْ ذَلِكَ، قَالَ: "اخْتِمْهُ فِي خَمْسَةَ عَشَرَ". قُلْتُ: إِنِّي أُطِيقُ أَفْضَلَ مِنْ ذَلِكَ، قَالَ: "اخْتِمْهُ فِي عَشْرٍ". قُلْتُ: إِنِّي أُطِيقُ أَفْضَلَ مِنْ ذَلِكَ، قَالَ: اخْتِمْهُ فِي خَمْسٍ، قُلْتُ: إِنِّي أُطِيقُ أَفْضَلَ مِنْ ذَلِكَ، قَالَ: فَمَا رَخَّصَ لِي". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، يُسْتَغْرَبُ مِنْ حَدِيثِ

أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَرُوِي عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَمْ يَفْقَهْ مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ فِي أَقَلَّ مِنْ ثَلَاثٍ"، وَرُوِي عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ لَهُ: "اقْرَأِ الْقُرْآنَ فِي أَرْبَعِينَ"، وَقَالَ إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ: وَلَا نُحِبُّ لِلرَّجُلِ أَنْ يَأْتِيَ عَلَيْهِ أَكْثَرُ مِنْ أَرْبَعِينَ يَوْمًا، وَلَمْ يَقْرَأِ الْقُرْآنَ لِهَذَا الْحَدِيثِ، وَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ لَا يُقْرَأُ الْقُرْآنُ فِي أَقَلَّ مِنْ ثَلَاثٍ لِلْحَدِيثِ الَّذِي رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَرَخَّصَ فِيهِ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَرُوِي عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ أَنَّهُ كَانَ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ فِي رَكْعَةٍ يُوتِرُ بِهَا. وَرُوِي عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، أَنَّهُ قَرَأَ الْقُرْآنَ فِي رَكْعَةٍ فِي الْكَعْبَةِ، وَالتَّرْتِيلُ فِي الْقِرَاءَةِ أَحَبُّ إِلَى أَهْلِ الْعِلْمِ.[1]

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې ماعرض اوکړو اي دالله رسوله ما دپاره په څومره ورځو کي قران ختمول پکار دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل په مياشت کي يو ځل ختم کوه ما عرض اوکړو زه ددينه په کمه موده کي دختم کولو طاقت لرم رسول الله اوفرمائيل په شلو ورځو کي ختم کوه ما اووئيل ددينه هم په زياته کمه موده کي دختم کولو طاقت لرم نو ويي فرمائيل په پنځلس ورځو کي ختم کوه ما عرض اوکړو ددينه هم په کمه موده کي په ختم کولو قادر يم نو راته يي اوفرمائيل په لسو ورځو کي ختم کوه نو ما اووئيل ددينه هم په کمه موده کي په ختم کولو قدرت لرم نو ويي فررمائيل په پنځو ورځو کي ختم کوه نو اووئيل ددينه هم په کمه موده کي ختم کولي شم نو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دپنځو ورځو نه په کمه موده کي دقران ختمولو اجازت نشته.

امام ترمذي وايي. داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي، او داحديث په سند دابي برده عن عبدالله بن عمرو غريب ګڼرلي شوي دي داحديث په يو څو سندونو دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي، دعبدالله بن عمر نه مروي دي نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچې قران د دري ورځو نه په کمه موده کي اولوستلو دي دقران په مطلب پوهه نشو، دعبدالله بن عمرو نه دا هم مروي دي چې رسول الله ورته فرمائيلي دي قران په څلويښتو ورځو کي ختموه، اسحاق بن ابراهيم بن راهويه وائي مونږ ددي حديث په بنا هيچاته دا اجازت نه ورکوو چې په هغه باندي څلويښت ورځي تيري شي او هغه په څلويښتو ورځو کي دقران ختم نه وي کړي، ددي حديث په بنا کوم چې درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مروي دي بعضي اهل علم وائي چې د دري ورځو نه په کمه موده کي قران ختمول پکار نه دي او بعضي اهل

[1] ـ تفرد به المؤلف (وأخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ٨٩٥٦)

علمو اجازت ورکړي دي، او دعثمان بن عفان رضي الله عنه متعلق مروي دي چې هغه به دوترو په یو رکعات کي یو قران ختمولو، دسعید بن جبیر نه مروي دي چې هغه په کعبه کي په یو رکعات کي پوره قران اولوستلو ، په قراء ة کي ترتیل (په وقفه وقفه لوستل داهل علمو په نزد مستحب دي.

تشریح: په دي حدیث کي دصحابه کرامو ددین سره دشوق اندازه خودلي شوي ده او بل طرف ته ورنه دصحابه کرامو په عبادت کي اعتدال پسندي هم معلومیږي.

اعتدال دي داسي وکړي شي چې ده ددنیا او اخرت تقاضي پوره شي ، ددینه داهم معلومه شوه چې انسان دي دومره عبادت کوي چې په دي په دنیا کي دده جسماني طاقت بلکل مړ نشي ، دا هم معلومه شوه چې انسان دي داسي عبادت وکړي چې تر مرګه پوري یې په عبادت کي کمي رانشي دطاقت په زمانه کي دي داسي اعتدال اختیار کړي چې بیا یې په بوډاوالي کي هم کولي شي لکه چې په یو حدیث کي راغلي دي.

بله دا خبره هم معلومه شوه چې دښځو دپاره دسړو په نسبت دشرم اوحیاء خیال ساتل زیات پکار دي، اوکه څه خبره کوي نو په طور دکنایه دي کوي.

****

۲۹۴۷ـ حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي النَّضْرِ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحَسَنِ هُوَ ابْنُ شَقِيقٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْمُبَارَكِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ الْفَضْلِ، عَنْ وَهْبِ بْنِ مُنَبِّهٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ لَهُ: "اقْرَأِ الْقُرْآنَ فِي أَرْبَعِينَ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رَوَى بَعْضُهُمْ عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ الْفَضْلِ، عَنْ وَهْبِ بْنِ مُنَبِّهٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو أَنْ يَقْرَأَ الْقُرْآنَ فِي أَرْبَعِينَ. (1)

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائي چې یو کس عرض اوکړو اي دالله رسوله کوم یو عمل دالله تعالي په نزد زیات محبوب دي؟ رسول الله اوفرمائیل "الحال" او "المرتحل" (یعني تلونکي او راتلونکي) عمل ما اووئیل دحال او مرتحل نه څه مراد دي رسول الله اوفرمائیل څوك چې قران دشروع نه اخره پوري اولولي بیا چې هر کله کوزیږي نو روانیږي.

---

1 ـ سنن ابي داود/ الصلاة ۳۲٦ (۱۳۹۵) (تحفة الأشراف: ۸۹۳۲)

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف دابن عباس په روايت پيژنو چې په دي سند رارسيدلي دي او سند يي څه خاص قوي نه دي.

****

٢٩٤٨_حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ الْجَهْضَمِيُّ، حَدَّثَنَا الْهَيْثَمُ بْنُ الرَّبِيعِ، حَدَّثَنَا صَالِحٌ الْمُرِّيُّ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ زُرَارَةَ بْنِ أَوْفَى، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَيُّ الْعَمَلِ أَحَبُّ إِلَى اللهِ؟، قَالَ: "الْحَالُّ الْمُرْتَحِلُ"، قَالَ: وَمَا الْحَالُّ الْمُرْتَحِلُ؟، قَالَ: "الَّذِي يَضْرِبُ مِنْ أَوَّلِ الْقُرْآنِ إِلَى آخِرِهِ، كُلَّمَا حَلَّ ارْتَحَلَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ عَبَّاسٍ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَإِسْنَادُهُ لَيْسَ بِالْقَوِيِّ. ([1])

ترجمه : دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چې د دري ورځو نه په كمه موده كي قران ختم كړي هغه د قران په مطلب هډو پوهه شوي نه دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا صَالِحٌ الْمُرِّيُّ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ زُرَارَةَ بْنِ أَوْفَى، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا عِنْدِي أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ نَصْرِ بْنِ عَلِيٍّ، عَنِ الْهَيْثَمِ بْنِ الرَّبِيعِ. ([2])

ترجمه : قتاده دزراره بن اوفي رضي الله عنه په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي مگر قتاده پخپل روايت كي دابن عباس واسطه نه ده ذكر كړي

امام ترمذي وايي: داحديث زما په نزد دنضر بن علي دحديث نه چې دهيثم بن ربيع نه يي نقل كوي زيات صحيح دي.

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٥٤٣٩)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٨٦٥٣)

****

۲۹۴۹_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلانَ، حَدثَنَا النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ الشِّخِّيرِ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: "لَمْ يَفْقَهْ مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ فِي أَقَلَّ مِنْ ثَلاثٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه روايت دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچې د دريو ورځو نه په كمه موده كي قران ختم كړو نو هغه دقران په مفهوم پوهه نشو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدثَنَا شُعْبَةُ، بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ. [2]

ترجمه : محمد بن بشار دمحمد بن جعفر په واسطه دشعبه نه په مذكوره سند دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي.

****

---

[1] ـ سنن ابي داود/ الصلاة ٣٢٦ (١٣٩٤) . سنن ابن ماجه/الإقامة ١٧٨ (١٣٤٧) (تحفة الأشراف : ٨٩٥٠) . و مسند احمد (١٨٩،٢/١٣٦)

[2] ـ سنن ابي داود/ الصلاة ٣٢٦ (١٣٩٤) . سنن ابن ماجه/الإقامة ١٧٨ (١٣٤٧) (تحفة الأشراف : ٨٩٥٠) . و مسند احمد (١٨٩،٢/١٣٦)

كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم

د قران كريم د تفسيراحكام او مسائل د رسول الله (ص) نه

١ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الَّذِي يُفَسِّرُ الْقُرْآنَ بِرَأْيِهِ

پخپله رايي د قران دتفسير كولو د مما نعت بيان

دقران دتفسير ليكلو اداب

، شيخ الاسلام مولانا محمد يوسف لدهيانوي شهيد په "اپ كى مسائل" كي د قران دتفسير اداب ذكر كړي دي چي ستاسو د فائدي دپاره نقل كوو:

دتفسير معني دكوم څيز پرانستل، ظاهرول، بيانول، اود علماؤ په اصطلاح كي دتفسير معني دقران معاني بيانول اومراد الهيه لره معين كول دي، دتاويل معني داهل علمو په اصطلاح كي دقران كريم الفاظو جملو لره دهغوئ اصل مراد طرف ته ګرځول دي ، دتفسير او تاويل الفاظ عموما هم معني استعماليږي ليكن بعضي علماء ددوئ په مينځ كي دا فرق كوي چې تفسير لفظ اكثر دمفرد الفاظو دتشريح دپاره استعماليږي او تاويل لفظ دجملو دمفهوم دبيانولو دپاره استعماليږي ، دبعضي علماؤ قول دي دكومي جملي مفهوم چې په قطعي طور متعين وي او په دي كي دكوم بل مفهوم ګنجائش نه وي دداسي مفهوم بيانولوته تفسير وئيلي شي اوچرته چې دمتعددو معانيو احتمال وي او هلته غور او فكر كولو نه پس ديو طرف معين كولو ته ضرورت وي نو ديته تاويل وئيلي شي دبعضو قول دي چې كوم مفهوم منقول وي دهغي نوم تفسير دي او كوم مفهوم چې داجتهاد سره تعلق لري هغه ته تاويل وئيلي شي (ددي زيات تفصيل دسيوطي په الاتقان كي كتلي شئ).

خلاصه دكلام داده چې علم تفسير هغه علم ته وئيلي شي په كوم كي چې دقران كريم معاني بيانيږي او ددي داحكامو او حكمتونو وضاحت كوي.

يوه نازكترينه ذمه واري

دقران كريم تفسير او تشريح يو سخت او انتهائي نازك ترينه ذمه واري ده ځكه چې قران كريم دالله تعالي مقدس كلام دي او دقران كريم تفسير په حقيقت كي دالله تعالي ترجماني ده كله چې مونږ دقران كريم دكوم لفظ يا دكومي جملي او يادكوم ايت تفسير بيانوو نو ګويا كي مونږ دا دعوه كوو چې دالله تعالي مراد همدا دي او بيا په دي شان سره دخپل بيان كړي مفهوم نسبت الله تعالي ته كوو ، او ظاهره داده چې په دي سلسله كي لږ شان لغزش او تساهل هم دافتراء علي الله سبب جوړيدي شي لهذا افتراء علي الله انتهائي سنګين جرم دي الله تعالي

فرمائيلي دي: وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَى عَلَى اللهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِآيَاتِهِ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ (الانعام/٢١).

يعني دهغه چا نه به لوي ظالم څوك وي څوك چې په الله تعالي پوري بهتان تړي او يا دالله تعالي دايتونو تكذيب كوي يقينا چې داسي ظالمان به هيڅ كله كامياب نشي .

دمملكت سربراهان او شاهان دعالم دترجمانۍ دفرائضو په ادا كولو پوهيږي چې دا څومره نازكه ذمه واري ده او څوك چې په دي ذمه وارۍ فائز وي دهغه دپاره څومره لياقت او مهارت شرط دي؟ دده دپاره دشاهانه رسومو او ادابو او ژبي او محاوراتو نه باخبر كيدل ضروري دي ، او بيا دترجمانۍ دفرائضو د ادا كولو په حال كي دده دپاره دڅومره احتياط او بيدار مغزۍ نه كار اخستل پكار دي او بيا سره دپوهي يا په ناپوهۍ سره دغلطي ترجمانۍ په سبب دڅومره شاهي عتاب خطره ده؟ هر كله چې ددنيا دبادشاهانو ترجماني دومره نازكه ده نو ددينه اندازه لګيدلي شي چې دشهنشاه مطلق او احكم الحاكمين ترجماني به څومره مشكل تريه او څومره نازكه وي ؟ دقران كريم تفسير يو قسم نزاكت لره متضمن دي او هغه دادي چې خاص دقران كريم په سبب دانسانيت د سترو لارو نشان ديهي كيږي او هم ددي په ذريعه دعقائدو او عباداتو شكلونه متعين كيږي اوهم ددينه دمعاملاتو او معاشرت تشكيل كيږي او هم ددينه دالله تعالي دمحبوب او نامحبوبو جائزو او ناجائزو حلالو او حرامو حدبندي كيږي او هم ددينه اخلاقي اقدار په وجود كي راځي او هم ددينه دانسانيت او عبديت پيماني مرتب كيږي او هم ددينه داسلام عالم ګير قانون په وجود كي راغلي دي ، الغرض ددين او مذهب ، عقائدو او اعمالو، اخلاقو او معاشرت، سياسيت او تمدن او دعدل او انصاف قانون مدار په قران كريم دي او ظاهره ده چې دقران كريم په تفسير او تشريح كي لږه شان بي احتياطي هم دڅومره عظيم الشان مفاسدو سبب جوړيدي شي او دداسي بي احتياطه مفسر او پده باندي داعتماد كونكي دپاره شديده خطره ده چې دا كتاب چرته دهدايت په ځاي دګمراهۍ منظر پيش نكړي.

دقران په تفسير كي دسلف صالحينو احتياط

دقران كريم دعظمت او نزاكت پيش نظر ډيرو سلفو صالحينو صحابه كرامو او تابعينو دتفسير په باب كي دګفتګو كولو نه ډډه كړي ده چنانچې دانبياء عليهم السلام نه پس په تمام انسانيت كي دافضل ترين شخصيت ابوبكر صديق رضي الله عنه په باره كي منقول دي چې دده نه دقران كريم ديو لفظ دمعني په باره كي تپوس اوكړي شو نو ويي فرمائيل : "اي ارض تقلعني واي سماء تظلني اذا قلت في كتاب الله ما لا اعلم".

يعني كومه زمكه به مالره پورته كړي او كوم اسمان به په ماباندي سوري اوكړي كه چري زه دالله تعالي دكتاب په باره كي داسي څه اووايم دكوم چې ماته علم نه وي .

دتابعينو دسردار سعيد بن مسيب په باره کي منقول دي کله چې به دده نه دقران کريم دکوم ايت دتفسير په باره کي سوال اوکړي شو نو وئيل به يي " انا لا نقول في القران شيئا" يعني مونږ دقران کريم په تفسير کي دخپله طرفه هيڅ نه وايو.

ديحي بن سعيد قول دي چې سعيد بن مسيب به په قران کريم کي صرف دهغه ايتونو تشريح بيانوله دکومو مفهوم چې به ورته په قطعي طور معلوم وو ، ديزيد بن ابي يزيد قول دي چې کله به د سعيد بن مسيب نه دحلال او حرام جائز او ناجائز په باره کي تپوس اوکړي شو نو داسي به معلوميده چې دي په دنيا کي دټولو نه لوي عالم دي ليکن چې کله به ورنه مونږ دقران کريم دکوم ايت په باره کي سوال اوکړو نو دي به خاموش شو لکه چې هيڅ يي نه وي اوريدلي.

ابوبکر صديق رضي الله عنه اعلم الصحابه دي او سعيد بن مسيب اعلم التابعين دي ليکن علم او فضل دانش او بصيرت تقوي او طهارت کي په لوړه مرتبه دفائز کيدو باوجود يي دقران کريم دتشريح بيانولو نه ډډه کوله څکه چې هغه ددي کلام دنزاکت نه خبردار وو او دا ورته معلومه وه چې په قران کريم کي معمولي بي احتياطي څومره سنګين جرم دي.

دمفسر شرائط

دقران کريم دتفسير دپاره څومره لياقت ته ضرورت دي اودقران په مفسر کي دکومو اوصافو اوشرائطو موجوديدل ضروري دي؟ د امت علماؤ ورباندي تفصيلي ګفتګو کړي ده، حافظ جلال الدين سيوطي په الاتقان کي ددي مبحث خلاصه ذکر کړي ده ، امام سيوطي فرمائي بعضي اهل علم خو ددي قائل دي چې دچا دپاره اګرکه هغه هرڅنګه عالم او فاضل وي دقران کريم تفسير کول جائز نه دي بلکه څه چې درسول الله صلي الله عليه وسلم نه منقول دي په هغي اکتفاء کول ضروري دي (مګر دده داقول دعلماؤ په نزد صحيح نه دي)

ليکن دعلماؤ يوه ډله ددي قائل دي چې څوك په هغه علومو کي مهارت لري کوم چې دتفسير دپاره ضروري دي دهغه دپاره دقران تفسير کول جائز دي اوهغه علوم مندرجه ذيل دي

(۱) علم لغت (۲) علم صرف (۳) علم نحو (۴) علم اشتقاق (۵) علم معاني (۶) علم بيان (۷) علم بديع (۸) علم قراءت (۹) علم اصول الدين (۱۰) علم اصول فقه (۱۱) علم اسباب النزول (۱۲) علم ناسخ ومنسوخ (۱۳) علم فقه (۱۴) علم حديث (۱۵) وهبي علوم.

دتفسير اداب

دتفسير په ماخذ کي دټولو نه اولني ماخذ قران کريم دي ، پس په دي وجه دمفسر دپاره ضروري دي چې د قران دکوم ايت دتفسير کولو په حال کي د زير بحث ايت سياق او سباق اوددي مضمون مطابق نور ايتونه هم پيش نظر وساتي ، څکه چې په قران کريم کي يو مضمون

په مختلفو اندازرونو اوعنواناتو سره بيانولي شي ، يو مضمون چې په يومقام کي مجمل وي نو په بل مقام کي مفصل وي اوچې په يوځاي کي مختصر وي نوپه بل ځاي کي مطول وي. اوکه په يومقام کي مطلق وي نو په بل مقام کي مقيد وي ، پس دقران کريم دکوم ايت داسي مضمون بيانول چې بل ايت خلاف وي جائز نه دي.

دويم همدارنګي دمفسر قران په فرائضو کي داهم شامل دي چې دکوم ايت دتفسير کولو په حال کي درسول الله قول او عمل پيش نظر ولري اودقران دتفسير متعلق کومه داسي خبره ونکړي.کومه چې درسول الله دسنت خلاف وي، داځکه لکه څنګه چې الله تعالي دقران کريم الفاظ په خپل رسول نازل کړي دي نوهمدارنګي يې ددي تشريح هم په خپله ذمه اخستلي ده ، چنانچې الله تعالي فرمائيلي دي: "ثم انّ علينا بيانه " يعني بيا ددي بيانول هم زمونږ ذمه واري ده.

ددي ايت کريمه نه معلوميږي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ته به دقراني ايتونو مراد دالله تعالي دطرفه وئيلي کيدلو نوپه دي وجه دقران کريم مفسر او شارح په خپله الله تعالي دي، چونکه رسول الله دوحي جليّ اوخفي اود نبوت دنور په ذريعه په قراني مطالبو پوهيدو نو په دي وجه دقران کرينم په تفسير او تشريح کي تلميذ الرحمٰن هم وو اود امت دپاره دقراني مطالبو دبيانولو معلم هم وو چنانچې الله تعالي فرمائيلي دي: " وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ" (٤٤/النحل).

يعني نازل کړي دي مونږ تاته قران ددي دپاره چې بيان کړي خلقو ته هغه څه چې دوئ ته نازل شوي دي ددي دپاره چې دوئ فکر وکړي.

ارشاد الهي دي: "وَمَا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِي اخْتَلَفُوا فِيهِ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ" (٦٤/النحل). يعني مونږ په تاباندي داکتاب صرف ددي دپاره نازل کړي دي چې په کومو امورو کي دوئ اختلاف کوي چې ته ددوئ په مينځ کي ددي موافق فيصله وکړي ، يقينا په دي کي هدايت او رحمت دي دمومنانو دپاره.

ارشاد الهي دي: " إِنَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا أَرَاكَ اللَّهُ وَلَا تَكُنْ لِلْخَائِنِينَ خَصِيمًا"(النساء/١٠٥).

مونږ نازل کړي دي په تا باندي کتاب په رښتيا چې ته فيصلي وکړي په خلقو کي دهغه علم مطابق چې الله درته درکړي ، پس ته دخيانت ګرو دطرفه جګړه ماري ونکړي.

پس دامت دپاره دقران دټولو اولني شارح رسول الله صلي الله عليه وسلم وو، پس درسول الله تمام اقوال او افعال او احکام او سيرت اوسنت دقران کريم شرح اوتفصيل دي، او همدا

حقيقت ام المؤمنين عائشه صديقه رضي الله عنها په دي الفاظو بيان کړي دي چې "کان خلقه القران" يعني درسول الله صلي الله عليه وسلم اخلاق قران وو.
مطلب داچې د رسول الله صلي الله عليه وسلم اخلاق او عادات ، سيرت او کردار او اطوار، دقران کريم په سانچې کي اچولي شوي وو او رسول الله صلي الله عليه وسلم چې به هرڅه فرمائيل هغه به يي يادول هم اوهغه ټول دقران کريم تعليم وو ، پس په دي وجه د رسول الله صلي الله عليه وسلم هر حکم دقران کريم شرحه وه ، همدا مفهوم امام شافعي په وضاحت سره داسي بيان کړي دي: "کل ماحکم به رسول الله صلي الله عليه وسلم فهو مما فهمه من القران قال تعالي: " إِنَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا أَرَاكَ اللَّهُ وَلَا تَكُنْ لِلْخَائِنِينَ خَصِيمًا"(النساء/١٠٥)" يعني رسول الله صلي الله عليه وسلم هرڅومره فيصلي کړي وي هغه يي دقران کريم نه معلومي کړي وي ، چنانچې الله تعالي فرمائيلي دي : يقينا مونږ تاته کتاب درليګلي دي چې ته ددي مطابق په خلقو کي فيصلي وکړي ، زمونږ شيخ مولانا محمد يوسف بنوري به دخپل شيخ امام العصر مولانا محمد انور شاه کشميري قول نقل کولو
که چري دبصيرت په نور سره په احاديثو غور وکړي شي نو معلومه به شي چې زيات احاديث دقران کريم دصافي چيني نه راوتلي دي تردي پوري چې په ډيرو حاديثو کي دقران کريم لطيفو تعبيراتو اشارات هم موندلي کيږي.
دقران کريم دتشريح اوتفسير دپاره دقران کريم شارح اول محمد رسول الله صلي الله عليه وسلم وضاحت دڅومره اهميت حامل دي ددي اندازه دمندرجه ذيل مثالونو نه لګيدلي شي:
١- په قران کريم کي په باره داقامت صلاة حکم شوي دي ، دکوم وخت څومره رکعتونه دي، اود مونځ څه څه شرائط او ارکان دي؟ مونځ دکوم ځاي نه شروع کيږي اوپه کوم ځاي ختميږي؟ دا ټول شل سوالات دي چې جوابونه يي رسول الله صلي الله عليه وسلم په خپل قول عمل سره ورکړي دي او ددي تشريحات نبويه نه علاوه دهيڅا دپاره ممکن نه ده چې دقران کريم دحکم "اقامت صلاة کيفيت متعين کړي شي.
٢- په قران کريم کي په متعددو مقاماتو دزکوٰة دفرضيت حکم شوي دي ليکن په څومره مال اوپه کوم مال کي زکوٰة فرض دي؟ دزکوٰة نصاب څومره دي اوپه څومره مقدار کي زکوٰة ورکول فرض دي؟ دا او ددي پشان تمام امور دنبي کريم صلي الله عليه وسلم په تشريح سره امت ته معلوم شوي دي ورنه هيچا دالله تعالي مراد معلومولي نشو.
٣- په قران کريم کي دبيت الله دحج کولو حکم شوي دي ليکن دحج څه طريقه ده او ارکان اولوازم يي څه دي؟ ددي تمامو امورو تفصيل د رسول الله صلي الله عليه وسلم دعملي اوقولي تشريح نه معلوميږي اوددينه علاوه هيڅوک دقراني حج طريقه متعين کولي نشي، دا يوڅو

مثالونه داسلام اهم ترين اركان پيش کړي شوي دي ددينه اندازه لګيدلي شي چې دقران کريم مراد د رسول الله صلي الله عليه وسلم په قول اوعمل سره متشکل کيږي.

دريم......دا چې مفسر په تفسير کي د رسول الله صلي الله عليه وسلم دصحابه کرامو درنړا رهنماني حاصله کړي اود هيڅ يو ايت داسي تفسير ونکړي کوم چې دصحابه کرامو دتفسير خلاف وي ځکه چې صحابه کرام دنبوت دمدرسي بلاواسطه شاګردان دي او رسول الله صلي الله عليه وسلم دالله تعالي دطرفه معلم اورهنما دانسانيت راليږلي شوي دي چې مثال يي نشته لکه چې په يوځو مقاماتو کي يي فرمائيلي دي:

"وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ" (البقرة / ١٢٩).

ظاهره ده چې دکتاب اوحکمت دتعليم نه پس دقران کريم په تفسير کي څوك دصحابه کرامو سره برابريدي شي ، صحابه کرام خودوحي دنزول عيني شاهدان وو ، علامه سيوطي په الاتقان کي د امير المؤمنين علي رضي الله عنه قول نقل کړي دي چه:

" والله ما انزلت اية الا وقد علمت في ما انزلت واين انزلت ان ربي وهب لي قلباً عقولا ولسانا سؤلا" (الاتقان:٨٠/٢).يعني په الله قسم هريو ايت چې نازل شوي دي ماته دهغه په باره کي معلومه ده چې په څه باره کي نازل شوي دي اوچرته نازل شوي دي زما رب ماته پوهيدونکي زړه اوتپوس کونکي ژبه راکړي ده.

په يوبل روايت کي راغلي دي چې علي کرم الله وجهه فرمائيلي دي: " سلوني فوالله لاتسألوني عن شيء الا اخبرتکم. وسلوني عن کتاب الله. فوالله مامن اية الا وانا اعلم ابليل انزلت ام بنهار. ام في سهل ام في جبل(الاتقان:٨٠/٢).

زمانه سوال وکړئ په الله قسم زما نه چې دهري خبري متعلق تپوس کوئ زه به يي جواب درکوم اوکه دکتاب الله په باره کي رانه تپوس وکړئ نو په الله قسم په قران کريم کي هيڅ يو ايت داسي نشته دکوم په باره کي چې ماته دا علم نه وي چې داد ورځي نازل شوي دي اوکه دشپي په ميدان کي نازل شوي دي اوکه په غر کي.

همدارنګي دفقيه الامة عبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي فرمائي چه:

" والذي لا اله غيره مانزلت اية من کتاب الله الا وانا اعلم فيمن نزلت واين نزلت ولو اعلم مکان احد اعلم بکتاب الله مني تناله المطايا لاتيته (الاتقان:٨٠/٢)

يعني په هغه ذات مي دي قسم وي دچانه علاوه چې بل معبود نشته دقران هر يو ايت چې نازل شوي دي ددي په باره کي ماته معلومه ده چې دچا په حق کي نازل شوي دي او کله نازل شوي

دي او كه ماته معلومه شي چې فلاني ك.. زما نه دالله تعالي په كتاب زيات پوهيږي او دغه كس ته رسيدل ممكن وي نو زه به ضرور ددغه كس په خدمت كي حاضر شوي وي
او صحابه كرامو په دومره محنت او مشقت سره دقران په فهم كي مهارت حاصل كړي وو چې ددينه علاوه بل څوك ددي تصور هم نشي كولي په دي سلسله كي دصحابه كرامو نه ډيري عجيب او غريب واقعات نقل كړي شوي دي چې نقل كول يي موجب دطوالت گرځي . پس دلته به صرف دابو عبدالرحمن اسلمي رضي الله عنه يوه جمله نقل كول كافي وي فرمائيلي يي دي چې :" حَدَّثَنَا الذين كانوا يقرؤون الْقُرْآنَ كَعُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ وَعَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ وَغَيْرِهِمَا أَنَّهُمْ كَانُوا إِذَا تَعَلَّمُوا مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشْرَ آيَاتٍ لَمْ يَتَجَاوَزُوهَا حَتَّى يَعْلَمُوا مَا فِيهَا مِنَ الْعِلْمِ وَالْعَمَلِ قَالُوا: فَتَعَلَّمْنَا الْقُرْآنَ وَالْعِلْمَ وَالْعَمَلَ جَمِيعًا وَلِهَذَا كَانُوا يَبْقَوْنَ مُدَّةً فِي حِفْظِ السُّورَةِ" (الاتقان:٢ / ٧٨).
يعني كوم علماء چې دقران درس وركوي لكه عثمان بن عفان ، عبدالله بن مسعودرضي الله عنهما ، او بعضي نور هغوئ مونږ ته وئيلي دي چې دوئ به كله درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دقران كريم لس ايتونه ياد كړل نو ددينه به مخكي نور نه تلل تردي پوري چې ځرته په ايتونو كي دعلم او عمل څه خبره وي هغه حاصل كړي ، فرمائيل به يي چې مونږ قران كريم او دقران علم او عمل دري واړه يو ځاي زدكړي دي په همدي بنا هغوئ به داوږدي زماني پوري ديو سورة په زدكړه كي مشغول وو.
الغرض: دتفسير نبوي نه پس دصحابه كرامو تفسير دهرچانه مقدم دي او په حقيقت كي دا هم درسول الله صلي الله عليه وسلم دتعليم ثمره ده نو په دي وجه ديو مفسر دپاره ددي شاته غورځول په هيڅ شان سره ممكن نه دي او ددي په ضمن كي داكابرينو تابعينو تفسير هم راځي چاچې دصحابه كرامونه دقران كريم باقاعده تعليم حاصل كړي وو، پس په دي وجه په مفسر لازم دي چې دي به دصحابه كرامو او تابعينو دتفسير نه خلاف نه كوي.
څلورم دمفسر دپاره دا هم ضروري دي چې دي به داهل حق دعقائدو او اعمالو او اخلاقو پابند وي، په الاتقان كي امام سيوطي دابو طالب طبري قول نقل كړي دي چې :"أَنَّ مِنْ شَرْطِهِ صِحَّةَ الِاعْتِقَادِ أَوَّلًا وَلُزُومُ سُنَّةِ الدِّينِ فَإِنَّ مَنْ كَانَ مَغْمُوصًا عَلَيْهِ فِي دِينِهِ لَا يُؤْتَمَنُ عَلَى الدُّنْيَا فَكَيْفَ عَلَى الدِّينِ ثُمَّ لَا يُؤْتَمَنُ مِنَ الدِّينِ عَلَى الْإِخْبَارِ عَنْ عَالِمٍ فَكَيْفَ يُؤْتَمَنُ فِي الْإِخْبَارِ عَنْ أَسْرَارِ اللهِ تَعَالَى وَلِأَنَّهُ لَا يُؤْمَنُ إِنْ كَانَ مُتَّهَمًا بِالْإِلْحَادِ أَنْ يَبْغِيَ الْفِتْنَةَ وَيَغُرَّ النَّاسَ بِلَيِّهِ وَخِدَاعِهِ " (الاتقان:٣/١٧٦).

يعني دمفسر په شرائطو کي يو شرط داهم دي چې اول خو به دده عقيده صحيح وي دويم دا چې دي به په دين کي دسنتو تابع وي او پابند به وي ځکه چې ځوك په دين کي مخدوش وي نو په دنيوي معاملاتو کي وربانديې هم اعتماد نشي کيدي هر کله چې داسي ده نو ددين په معامله کي وربانديې څنګه اعتماد اوکړي ؟او بيا داسي کس که دکوم عالم دين په باره کي کومه خبره نقل کړي نو په دي کي هم دي داعتماد لايق نه وي ، داسرار الهيه په خبر ورکولو کي به هغه څنګه داعتماد لايق اوګرځي او په چا باندي چې دالحاد الزام وي نو دهغه په باره کي دا ويره ده هسي نه چې دي دتفسير په ليکلو سره په خلقو کي فتنه قائمه کړي او خلقو لره دخپلي ژبي په تيزئ او مکارئ سره ګمراه کړي.

پنځم: همدا رنګي دمفسر دپاره دهر قسم کجروئ او بدعاتو نه دذهن پاکول ضروري دي ورنه دده تفسير به داعتماد لايق پاتي نشي ځکه چې دي به قران کريم لره دخپلو بدعاتو په رنګ کي رنګ کول شروع کړي نوم خو به يي دتفسير وي ليکن څه چې ليکي هغه به دقران کريم تفسير نه وي بلکه دده دبدعتي ذهن پراس به وي الله تعالي په داسي خلقو دقران دپوهي حاصلول حرام کړي دي چاچې دبدعاتو او نفساني خواهشاتو ډيوه بله کړي وي او دقران کريم مطالعه کوي سيوطي په الاتقان کي دامام زرکشي د البرهان عبادت نقل کړي دي چه:

"اعْلَمْ أَنَّهُ لَا يَحْصُلُ لِلنَّاظِرِ فَهْمُ مَعَانِي الْوَحْيِ وَلَا يَظْهَرُ لَهُ أَسْرَارُهُ وَفِي قَلْبِهِ بِدْعَةٌ أَوْ كِبْرٌ أَوْ هَوًى أَوْ حُبُّ الدُّنْيَا أَوْ وَهُوَ مُصِرٌّ عَلَى ذَنْبٍ أَوْ غَيْرُ مُتَحَقِّقٍ بِالْإِيمَانِ أَوْ ضَعِيفُ التَّحْقِيقِ أَوْ يَعْتَمِدُ عَلَى قَوْلِ مُفَسِّرٍ لَيْسَ عِنْدَهُ عِلْمٌ أَوْ رَاجِعٌ إِلَى مَعْقُولِهِ وَهَذِهِ كُلُّهَا حُجُبٌ وَمَوَانِعُ بَعْضُهَا آكَدُ مِنْ بَعْضٍ" (الاتقان:۲/۱۸۱).

په دي پوهيدل پکار دي چې دقران کريم مطالعه کونکي ته دهغه وخته پوري دوحي معاني نه ظاهريږي ترڅو چې دده په زړه کي بدعت وي يا تکبر وي يا نفساني خواهش وي يا ددنيا محبت وي او يا دي په ګناه باندي اصرار کونکي وي او ياېي ايمان پوخ نه وي او يا په ده کي دتحقيق ماده کمزوري وي او يا دکوم داسي مفسر په قول اعتماد اوکړي کوم چې دعلم نه روند وي او يا دقران کريم په تفسير کي محض عقلي اسونه زغلوي. غرض داچې دا تمام څيزونه دقران دتعليم نه حجاب او موانع دي چې بعضي په دوئ کي دبعضو نورو نه زيات قوي دي.

شپږم تفسير بالراي: لکه څنګه چې په مفسر دا لازم وو چې هغه به دخيالاتو او افکارو نه ذهن پاکوي او په دي خبره دپوهيدو کوشش به کوي چې په دي ايت کي قران کريم دڅه خبري دعوت ورکوي او په دي کي په کومو کومو مسائلو رڼا اچولي شوي ده؟پخپله دي په قران کريم کي دخپلو خيالاتو او افکارو داخلولو کوشش نه کوي نو همدا رنګي پده باندي دا هم لازم دي چې

د تفسير بالرائي نه اجتناب اوکړي ځکه چې دا کار حرام دي او په دي سخت سخت وعيدونه راغلي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي:

"من قال في القران برأيه فليتبوأ مقعده من النار... وفي رواية: من قال في القران بغير علم فليتبوأ مقعده من النار" (رواه الترمذي ومشكواة ص/٣٥).

يعني چاچې پخپله مرضئ دقران متعلق څه خبره اوکړه نو ده دځان دپاره په دوزخ کي کور تيار کړو، او په يو روايت کي راغلي دي چې څوك دقران متعلق دخپله طرفه کومه خبره اوکړي نو دي دي په دوزخ کي دځان دپاره کور جوړ کړي.

په يو بل حديث کي راغلي دي: "من قال في القران برأيه فأصاب فقد اخطأ" (رواه ابوداود والترمذي). چاچې په قران کريم کي خپله نظريه استعمال کړه نو که ده درسته خبره يي هم کړي وي نو بيا يي هم غلطي اوکړه.

دتفسير بالراي نه څه مراد دي

امام سيوطي په الاتقان کي دابن النقيب په حواله ليکلي دي دتفسير بالرائي نه څه مراد دي په دي کي دعلماؤ پنځه اقوال دي:

اول: دا چې دقران دتفسير دپاره چې دکومو علومو ضرورت دي دهغه علومو دحاصلولو نه بغير څوك تفسير ليکل شروع کړي.

دويم: دا چې څوك دهغه متشابهاتو تفسير شروع کړي دکومو په مراد چې دالله تعالي نه علاوه بل څوك نه پوهيږي.

دريم: داچې دغلط مذهب حاصلولو دپاره څوك تفسير کوي يعني څوك چې خپل فاسد مذهب لره اصل اوګرځوي او تفسير لره دهغه تابع کړي او په هر شان سره چې ممکن وي قران لره په راښکلو سره پخپل مذهب باندي چسپان کړي.

څلورم: د دليل نه بغير دکوم ايت په باره کي دا دعوه کول چې ددي ايت نه واقعي دالله تعالي مراد دادي پنځم محض دخپل خواهش او خوښي مطابق تفسير کول.

تحريف معنوي

خلاصه داده چې مذکوره تمام صورتونه دتفسير بالرائي لاندي داخل دي زمونږ په زمانه کي قاديانيان او فرويزيان وغيره ګمراهانو فرقو دتفسيرونو همدا حال دي ، ددوئ تفسيرونه دتفسير بالرائي نه بالاتر بلکه په تحريف معنوي مشتمل دي ځکه چې دقران کريم په حائل کولو سره ددين دقطعياتو نه انکار کوي او درسول الله صلي الله عليه وسلم سنت متواتره لره شاته غورځوي او داسلام قطعي او اجتماعي عقائد دروغ ګڼړي او دعلماؤ دڅوارلس سوه کالو دمسلسل اجماع نه انحراف کوي او دلغت او دژبي دقواعدو نه بي خبره وي او جاهلانه

تحريفات كوي ضروري ده چې دداسي تحريفاتو يوڅو مثالونه پيش شوي وي ليکن افسوس چې په دي مختصر مضمون کي ددي ګنجائش نشته.

دقران کريم دترجمي اداب

دقران کريم ترجمه هم دتفسير او ترجمانئ يو صورت دي لهذا دقران کريم په ترجمه کي هم مذکوره اصول ملحوظ کول اشد ضروري دي بلکه واقعيت دا دي چې دقران کريم صحيح ترجمه کول ددي دتفسير نه هم مشکل او نازک کار دي پس په دي وجه په دي کي داحتياط کولو ضرورت نورهم زيات دي، دترجمي کولو په وخت کي دقران کريم دالفاظو او اسلوب رعايت کول پکار دي او دا يو داسي مشکل او ګران کنډو دي چې ښه ښه خلق ددينه رغښتلي دي دلته دمؤرخ اسلام علامه سيد سليمان ندوي رحمة الله عليه نه اقتباس کوم کوم چې مولانا قاضي محمد زاهد دمعارف القران په ماهناما العلم کي نقل کړي دي فرمائي چې زه په دي سلسله کي دوه خبري عرض کوم يوه خو داده چې دقران کريم په ترجمه کي دي دبي احتاطئ نه اجتناب اوکړي شي ځکه چې دا کار تحريف ته مفضي کول کوي، چې دسزا حال يي تاسو ته معلوم دي ترجمه بالکل لفظي کول پکار دي او بيايي تشريح دهغي دضروري مطلب په بنا کولي شئ او داسي په هيڅ شان سره درست نه دي چې په ترجمه کي دالفاظو درعايت نه بغير دمطلوب مطابق کوشش اوکړي شي ځکه چې دا شديد تحريف دي تاسو به کتلي وي چې بيا کچرته په بل وخت کي تاسو ددي ايت ترجمه کوئ نو بيابه يي بل شان کوئ نو په هغه وخت کي به دا ثابته شي چې دا دخواهش پرستئ اثر دي ، دويمه خبره داده جمهوري اسلام چې په کومه مسئله کي اعتقادا او عملا متفق وي هغي لره پريخودل او دتحقيق نوي لار اختيارول نه دي پکار ، دا طريقه دتواتر او دتوارث دبيخکنئ مترادفه ده، ددي ګناه مرتکب کله کله زه پخپله ګرځيدلي يم او ددي اعتقادي او عملي سزا مي ځکلي ده نو په دي وجه زما قلبي خواهش دي چې زما عزيزان او دوستان هيڅ کله دخپلي لاري نه کوز نشي ددي دپاره چې دوئ دهغي سزا نه محفوظ پاتي شي کومه چې ددوئ نه مخکنو ځکلي ده.

دقران دتفسير په اصولو کي بنيادي اصل دسلفو دمخالفت نه اجتناب کول

الله تعالي دي عمرفاروق رضي الله عنه ته اجر جزيل ورکړي چې د "کلاله" په تفسير کي يي يوه تفسيري قاعده بيان کړي ده ، يعني دقران په تفسير کي دداسي نظريه داختراع کولو نه دانسان دپاره حياء کول پکار دي کومه چې دسلفو د دنظرياتو سره مزاحمه وي ، پس په دي وجه به صرف هغه تفسير داعتماد لائق وي کوم چې دصحابه کرامو اوتابعينو نه منقول وي اود اهل علمو دذوق سره هم اهنګ وي ، خليفه راشد عمر بن عبد العزير رحمة الله عليه فرمائيلي دي:

"خذوا من الراي ما يصدق من كان قبلكم ولاتاخذوا ماهو خلاف لهم فانهم خير منكم واعلم. (ازالةالخفاء للسيوطي/١٦٦). يعني صرف هغه نظريه اختيار كړئ كومه چې ستاسو نه دمخكنو خلقو (يعني صحابه كرامو او تابعينو) وه، داسي نظريه مه اختياروئ كومه چې دهغوئ خلاف وي ځكه چې هغوئ ستاسو نه بهتر وو او زيات علم والا هم وو . يقينا دخان نه دمخكنو خلقو متعلق د "هم خيرواعلم" نظريه لرل دهغه وخته پوري ضروري ده تر څو چې جهان قائم وي تر هغي به په امت كي دهغي خير باقي وي او ولي به داسي نه وي ځكه چې دهغوئ په وړاندي وحي نازليدله او دوحي دنزول دكيفياتو او حالاتو دمشاهدي مواقع ورته نصيب شوي وو چې دقران كوم ايت او په كوم وخت كي او په كوم خاي كي نازل شوي دي او ولي نازل شوي دي او دچا په حق كي نازل شوي دي په سفر كي نازل شوي دي او كه په اقامت كي؟يا دعائشه رضي الله عنها په حجره كي نازل شوي دي او كه دتبوك نه په واپسئ كي عرض دا چې داسي اموز يو يو دهغوئ په ذهن كي منقوش وو دقران كريم په يو يو حرف دوئ ته د عملي مشق سعادت ميسر وو او بيا خو ددوئ دعلم او فضل او كمال او زهد او ورع او فهم او ذكا شهادت خو قران وركړي دي او ددوئ پشان دسربازئ او ايسار او قربانئ نه اولين او اخرين عاجز وو تردي چې ددوئ عفت او توكل او قناعت دجبرائيل او ميكائيل دپاره دغبطي سبب اوګرځيدو كه چري ددوئ او ددوئ دشاګردانو په تفسير اعتماد اونكړي شي نو ددينه پس به د الله په كتاب دپوهي سليقه چاته نصيب شي.فقيه الامة عبدالله بن مسعود رضي الله عنه به فرمائيل : " والذي لا اله غيره ما نزلت اية من كتاب الله الا وانا اعلم فيمن نزلت واين نزلت ولو اعلم احدا اعلم بكتاب الله مني وتناله المطايا لاتيته" (تاريخ الخلفاء للسيوطي ص/١٦٦).

په معبود حقيقي مي دي قسم وي دقران كريم هر يو ايت چې نازل شوي دي ماته دهغي په باره كي علم دي چې دچا په حق كي نازل شوي دي او چرته نازل شوي دي او كه چري زما په فكر كي دالله تعالي په كتاب زما نه زيات پوهيدونكي ماته معلوم شي او رسيدل ورته ممكن وي نو زه به يي ضرور په خدمت كي حاضر شم.

غرض دا چې دا قسم مضمون دعلي رضي الله عنه نه هم منقول دي چې زه يي دقران دتفسير په سلسله كي پيش كوم كوم چې دصديق اكبر رضي الله عنه دطرز عمل متعلق مروي دي كه چري دا دځان په وړاندي كيخودي شي نو د بي لاري كيدو نه د ډيره حده پوري حفاظت كيدي شي.

دتفسير اصل سرمايه دصحابه كرامو او تابعينو اثار دي

دلته په يوه بله نکته تنبيه ورکول ضروري دي او هغه داده هسې خو دکتاب الله داسرارو سلسله غير متناهي ده ديو عام سړي نه واخله ديو اعلي درجي مفکر ، فلسفي، اديب او عالم پوري تول په دي کي غور کوي او کوي به يي او په دوئ کي به هر يو دخپل استعداد په مقدار ددي خزاني نه استفاده کوي ليکن دکوم ځاي پوري چې ددي مفهوم تعلق دي او ددي وضاحت چې څومره پوري دانساني وسعت په دائره کي راتلي شي دهغې نه دصحابه کرامو او تابعينو علمونو دوروستنو تمامو راتلونکو انسانانو نه استغناء لازمه کړي ده په دي وجه دقران کريم په شرح او تفسير کي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه پس دصحابه کرامو او ددوئ دشاګردانو دهغه اثارو کوم چې په صحيح او مقبول اسناد سره مروي دي اصل سرمايه ده ، هيڅ يو داسي ايت نشته کوم چې دوئ درسول الله دمنشاء مطابق زدکړي نه وي او دقران دمطالعي په اشکالاتو کي هيڅ يو داسي مشکل نشته کوم چې دوئ په کلي يا جزي انداز کي حل کړي نه وي او دقران نه پيدا کيدونکو علومو ته يي اشاره کړي نه وي.

الغرض لکه څنګه چې دي اهل علمو امت ته دقران الفاظ بغير دکمي او زيات نه رارسولي دي چې نه يي پکي دبخل نه کار اخستلي دي او نه دخواهش پرستئ دګډون نه او نه يي داوهام اوظنون په تيارو کي کمي او زيادت کړي دي يقينا چې هغوئ ددي قران امانت په کامل طور سره محفوظ کړي دي بهرحال دصحابه کرامو او تابعينو نه چې کومه تفسيري سرمايه منقول ده هغه دقراني پوهي دپاره قطعا کافي ده دوروستنو خلقو کار ددي قيمتي سرمايي حفاظت او پرورش کول دي.

حکيم الامت مولانا اشرف علي تهانوي په ملفوظاتو کي مي کتلي دي چې ذهن ته کله کوم تازه مضمون راشي نو هغه اتفاقا چرته بيا وروسته ماته دکوم عالم په اقوالو کي ملاؤ شي نو په دي وخت کي مي په زړه کي يوه عجيب انشراح پيدا شي چې الحمدلله مافقير ته هم داکابرو دعلومو سره موافقت نصيب شو کوم چې دذهن دسلامتئ دليل دي ، که غور اوکړئ نو دوروسته راتلونکي اختلاف او احزابي جنګ بنيادي نقطه دسلفو نه انکار کول او دکتاب الله د مطالبو په بيانولو کي دخودفهمئ جزبه ده ددي تمامو ډلو مشترکه سرمايه داهل حق سره عناد کول او په صلحاء امت بي اعتمادي ده، دا ظلم دپاسه ظلم دادي چې دا طاغيان راپورته کيږي او دوئ دتولو نه مخکي دامت داختلاف ډول لره ټنګ ورکوي او دخپل الحادي ذهن نه يو نوي دين او نوي فکر او جديده فرقه پيدا کوي.

****

٢٩٥٠ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ السَّرِيِّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَبْدِ الْأَعْلَى، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "

مَنْ قَالَ فِي الْقُرْآنِ بِغَيْرِ عِلْمٍ فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچې بغير دپوهي نه دقران كريم تفسير اوكړو نو هغه دي دځان دپاره په جهنم كي ځاي تيار كړي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٩٥١ـ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ عَمْرٍو الْكَلْبِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ عَبْدِ الْأَعْلَى، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " اتَّقُوا الْحَدِيثَ عَنِّي إِلَّا مَا عَلِمْتُمْ، فَمَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ، وَمَنْ قَالَ فِي الْقُرْآنِ بِرَأْيِهِ فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (2)

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما دطرفه كومه خبره هغه وخته پوري مه بيانوئ تر څو پوري چې تاسو ته معلومه شوي نه وي (چې دا زما خبره ده) او دا خكه چاچې قصدا دروغ خبري ماته منصوب كړي هغه دي په جهنم كي دځان دپاره داوسيدو ځاي تيار كړي او چاچې دخپل عقل او خيال په بنياد دقران تفسير اوكړو هغه دي هم په جهنم كي دځان دپاره داوسيدو ځاي تيار كړي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي.

****

٢٩٥٢ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا حَبَّانُ بْنُ هِلَالٍ، حَدَّثَنَا سُهَيْلُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ وَهُوَ ابْنُ أَبِي حَزْمٍ أَخُو حَزْمٍ الْقُطَعِيِّ، حَدَّثَنَا أَبُو عِمْرَانَ الْجَوْنِيُّ، عَنْ جُنْدَبِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ قَالَ فِي الْقُرْآنِ بِرَأْيِهِ فَأَصَابَ فَقَدْ أَخْطَأَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ

---

1 ـ اخرجه احمد بن حنبل في مسنده برقم: ٢٠٦٩. والنسائي في الكبري برقم: ٨٠٣٠ والبيهقي في شعب الايمان برقم: ٢٠٧٩.

2 ـ اخرجه احمد بن حنبل في مسنده برقم: ٢٠٦٩. والنسائي في الكبري برقم: ٨٠٣٠ والبيهقي في شعب الايمان برقم: ٢٠٧٩.

غَرِيبٌ، وَقَدْ تَكَلَّمَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي سُهَيْلِ بْنِ أَبِي حَزْمٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَكَذَا رُوِيَ عَنْ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ أَنَّهُمْ شَدَّدُوا فِي هَذَا فِي أَنْ يُفَسَّرَ الْقُرْآنُ بِغَيْرِ عِلْمٍ، وَأَمَّا الَّذِي رُوِيَ عَنْ مُجَاهِدٍ، وَقَتَادَةَ، وَغَيْرِهِمَا مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنَّهُمْ فَسَّرُوا الْقُرْآنَ. فَلَيْسَ الظَّنُّ بِهِمْ أَنَّهُمْ قَالُوا فِي الْقُرْآنِ أَوْ فَسَّرُوهُ بِغَيْرِ عِلْمٍ أَوْ مِنْ قِبَلِ أَنْفُسِهِمْ. وَقَدْ رُوِيَ عَنْهُمْ مَا يَدُلُّ عَلَى مَا قُلْنَا أَنَّهُمْ لَمْ يَقُولُوا مِنْ قِبَلِ أَنْفُسِهِمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ. [1]

ترجمه : دجندب بن عبدالله رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچې پخپله رائي دقران تفسير اوکړو او خبره يي درسته هم ثابته شي نو هغه بيا هم غلطي کړي ده.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي بعضي محدثينو په سهيل بن ابي حزم راوي باندي کلام کړي دي، دا رنګي دبعضي اهل علم صحابه کرامو او نورو اهل علمو نه مروي دي چې هغوئ په سختئ سره ددي خبري نه منع فرمائيله چې بغير دعلم نه دقران تفسير اوکړي شي، ليکن مجاهد، قتاده، او ددوئ نه علاوه چې دبعضي علماؤ باره کي دا خبره کيږي چې هغوئ بغير دعلم نه دقران تفسير کړي دي دا قول درست نه دي دا دستائيلي شوو صفاتو والا خلقو باره کي بدګماني کول دي چې پکار نه ده چې هغوئ دقران په باره کي کوم تفسير کړي دي دا يي دعلم نه بغير کړي دي، داهل علمو نه داسي خبري مروي دي کومي چې زمونږ دي قول ته تقويت ورکوي چې هغوئ هيڅ يوه خبره بغير دعلم نه دخپل طرف نه نه ده کړي.

****

حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ مَهْدِيٍّ الْبَصْرِيُّ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ قَتَادَةَ، قَالَ: مَا فِي الْقُرْآنِ: إِلَّا وَقَدْ سَمِعْتُ فِيهَا شَيْئًا. [2]

ترجمه : دقتاده قول دي فرمائي چې په قران کي هيڅ داسي يو مقام نشته مګر دهغي دتفسير باره کي ما څه ناڅه ضرور اوريدلي دي.

****

حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، قَالَ: قَالَ مُجَاهِدٌ: لَوْ كُنْتُ قَرَأْتُ

---

[1] ـ سنن ابي داود/العلم ٥ (٣٦٥٢) (تحفة الأشراف : ٣٢٦٢)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٩٢٦٣)

قِرَاءَةَ ابْنِ مَسْعُودٍ لَمْ أَحْتَجْ إِلَى أَنْ أَسْأَلَ ابْنَ عَبَّاسٍ، عَنْ كَثِيرٍ مِنَ الْقُرْآنِ مِمَّا سَأَلْتُ.[1]

ترجمه: اعمش دمجاهد قول نقل کړي دي فرمائيلي يې دي كه ما دابن مسعود قراءة لوستلي وي نو زه به ديته نه وم محتاج شوي چې دابن عباس نه په ډيرو هغه امورو کې تپوس اوکړم چې په کومو کې مې ورنه تپوس کړي دي.

****

٢_باب وَمِنْ سُورَةِ فَاتِحَةِ الْكِتَابِ

دسورة فاتحي دبعضي ايتونو تفسير

٢٩٥٣_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: مَنْ صَلَّى صَلَاةً لَمْ يَقْرَأْ فِيهَا بِأُمِّ الْقُرْآنِ فَهِيَ خِدَاجٌ هِيَ خِدَاجٌ غَيْرُ تَمَامٍ، قَالَ: قُلْتُ: يَا أَبَا هُرَيْرَةَ، إِنِّي أَحْيَانًا أَكُونُ وَرَاءَ الْإِمَامِ، قَالَ: يَا ابْنَ الْفَارِسِيِّ فَاقْرَأْهَا فِي نَفْسِكَ، فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: " قَسَمْتُ الصَّلَاةَ بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي نِصْفَيْنِ فَنِصْفُهَا لِي وَنِصْفُهَا لِعَبْدِي وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ، يَقْرَأُ الْعَبْدُ فَيَقُولُ: الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، فَيَقُولُ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: حَمِدَنِي عَبْدِي، فَيَقُولُ: الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ، فَيَقُولُ اللَّهُ: أَثْنَى عَلَيَّ عَبْدِي، فَيَقُولُ: مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ، فَيَقُولُ: مَجَّدَنِي عَبْدِي وَهَذَا لِي وَبَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ (الفاتحة: ٥) وَآخِرُ السُّورَةِ لِعَبْدِي وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ، يَقُولُ: اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ، صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ يَقُولُ اللَّهُ فَهَؤُلَاءِ لِعَبْدِي وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ »، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رَوَى شُعْبَةُ، وَإِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ هَذَا الْحَدِيثِ.[2]

ترجمه: ابوهريره رضي الله عنه وائي چې رسول الله ﷺ فرمائيلي دي کوم يوسړی چې مونځ کوي اوپه هغي کې ام القران اونه وئيلی شي نوداسي مونځ ناقص دی، ناقص دی

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٩٢٦٣)

[2] _ صحيح مسلم/الصلاة ١ (٣٩٥) . سنن ابي داود/ الصلاة ١٣٦ (٨٢١) . سنن النسائي/الإفتتاح ٢٣ (٩١٠) . سنن ابن ماجه/الإقامة ١١ (٨٢٨) (تحفة الأشراف: ١٤٠٨٠) . والمؤطاء: الصلاة ٩ (٣٩) . ومسند احمد (٢/٢٤١، ٢٥٠، ٢٨٥، ٤٥٧)

كامل نه دى «ابوسائب وئيلي دي ، مااووئيل اى ابوهريرهﷺ زه كله په امام پسې يم نوهغه ووئيل اى فارسي دا پخپل زړه كي وايه بيشكه مادرسول الله ﷺ نه اوريدلي دي هغه به وئيل الله عز وجل فرمائي مامونځ دخپل خان اوبنده په مينځ كې نيم په نيمه تقسيم كړى دى نيم زما دپاره دى اونيم زمادبنده دپاره دى اوزمادبنددپاره هرهغه څه دي چې څه هغه غواړي رسول الله ﷺفرمائيلي دي كله چې بنده وائي (الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ) نوالله عز وجل فرمائي زمابنده زماتعريف اوكړو اوكله چې بنده وائي (الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ) الله عزوجل فرمائي زمابنده زماثناء بيان كړه اوكله چې بنده وائي (مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ) الله عز وجل فرمائي زمابنده زمابزركي بيان كړله اوكله چې بنده وائي (إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ) الله عز وجل فرمائي دازما اوزمادبنده په مينځ كې دي اوزمادبنده دپاره هغه څه دي كوم چې هغه غوښتلي دي اوبنده چې كله وائي (اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ) نوالله عزوجل فرمائي داټول زمادبنده دپاره دي اوزمادبنده دپاره هرهغه څه دي چې هغه غوښتلي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي، شعبه او اسماعيل بن جعفر او بعضي نورو راويانو ددي پشان حديث دعلاء بن عبدالرحمن نه او هغه دخپل پلار نه او هغه دابو هريره رضي الله عنه په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي.

تشريح : رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ دتمام جهان مالك دى ، رب په معني دمالك سره دى لكه رب الدار«دكور مالك» اولفظ رب دتربيت په معني باندي هم كيدى شي په مزه مزه درجي دكمال ته رسيدلوته تربيت وائي پدي وخت كي دمصدر اطلاق به مبالغتا وي لكه په" خالد صوم" او لكه "زيد عدل" كي ، درب اطلاق په غير دقيد اضافت په غير الله باندي نشي كيدى ، پدي كي ديته اشاره ده چې عالم دابتداء پشان په بقاء كي هم رب ته محتاج دى ، او عالمين جمع دعالم ده

الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝ ډيرمهربان اونهايت رحم كونكي، قاريان پدي كي دوقف په حالت كي بلكه په هرمكسور حرف كي روم «حركت خفيفه كوم چې اوريدى شي» جائز ګڼړي. دا ايت پدي دلالت كوي چې بسم الله الرحمن الرحيم دسورت فاتحه جزء ندى ، اونه پدى سره درحمن الرحيم تكرارلازميږي اودبعض اهل علمو قول دى چې دا الفاظ د رب العالمين دعلتيت دپاره مكرر شوي دي.

مَالِكِ «دانصاف دورخي مالك» دعاصم اوكسائي اوديعقوب په قرأت كي مالك راغلى دى ، اوددوي نه علاوه نورو قاريانوملك وئيلى دى ، ابوعمر الرحيم مٰلك يوم الدين وائي. يعني

ميم په ميم کي مدغم کوي، پدي شان سره پدي دواړو متحرکوحرفونوکي ادغام کيږي. کوم چې متحد الجنس ياقريب المخرج وي.

يَوْمِ الدِّيْنِ ۞ يوم الدّين دقيامت ورځ ده ، دين جزاء اوبدلي ته وئيلي شي اوكما تدين تدان ددين نه مشتق دي، دا مشهور مثل او مرفوع حديث دی ، دا روايت ابن عدي په الكامل كي په ضعيف سند سره نقل کړی دی اودبيهقي په نزد باندي يو مرسل روايت ددي شاهد دی امام احمد دمالك بن دينار نه نقل کړي دي چې په تورات کي وو، اوديلمي دفضاله بن عبيد نه مرفوع روايت بيان کړی دی چې داد انجيل مضمون دي، مجاهد وئيلي دي: يوم الدين په معني ديوم الحساب دی.

إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ۞ يعني اي الله تعالي مونږ صرف ستا عبادت کوو اوپه حوائجو کي صرف ستا نه مدد غواړو) قراء کرامو دنستعين نون بلكه هرمضموم حرف په حالت وقف کي دروم او اشمام پشان لوستلی دی.

دايت خلاصه معني داده: چې اي خدايه چې په مذکوره صفاتومتصف ئي نومونږ خاص ستا عبادت کوو اوخاص ستانه داطاعت دتوفيق غوښتونکي يو اونه داچې صرف په عبادت کي ستانه مدد غواړو بلکه پخپلو ټولو لويو وړو کارونوکي صرف ستانه مدت غواړوچونکه دکلام په سلسله کي ديوطرز نه بل طرزته انتقال کول دغيبت نه خطاب ته اودخطاب نه غيبت ته اودتکلم نه خطاب اوغيبت ته اودغيبت اوخطاب نه تکلم ته التفات کول دعربو عام عادت دی اوددينه ددوي غرض صرف داوريدونکو په زړونوکي رغبت او شوق پيداکول مقصود دي ، دلته هم ددي رعايت شوي دي اودغيبت نه خطاب ته انتقال شوی دی ، عبادت په اصل کي دانتهائي خضوع اظهارته وئيلي شي همداوجه ده چې اهل زبانوپخپلو محاوراتو کي وئيلي دي: طريق معبد أی مذلل ، اوپه نعبد اونستعين دواړو فعلونوکي ضميرجمع متکلم دی ددينه قاري اودهغه سره چې څوك وي مراد دي ، اوپدي کي دجماعت التزام ته اشاره ده ، اياك په لحاظ دترکيب نحوي سره مفعول واقع شو، اګرچې دده درجه دفعل اوفاعل نه وروسته ده مګردلته دتعظيم اوداظهار اهميت اوحصردفائدی په غرض باندی مقدم کړي شوي دي ، عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمائيلي دي چې د اياك نعبد معني داده چې نعبدك ولا نعبد غيرك ، (يعني اي پروردګاره مونږ صرف ستا عبادت کوو اوستاسره په عبادت کي هيڅوك نه شريکوو)دا اثر ابن جرير او ابن ابي حاتم په سند دضحاك سره دابن عباس نه نقل کړي دي ، بعضي مفسرينو وئيلي دي چې په واياك نستعين کي واو عاطفه ندی بلکه حاليه دی او معني ئي داده چې ای پروردګاره مونږ ستانه په طلب دامداد کولوسره ستا عبادت کوو.

اهْدِنَا ای أرشدنا يعني دادهغه اعانت او امداد بيان دی کوم چې په اياك نستعين کي طلب

کړي شوي وو مطلب دادی چې اې پروردګاره مونږ ته سمه لار اوښایه . یا چونکه مونږ دسیده لارې اهمیت دهرڅیزنه زیات وو نوځکه ئې جدا ذکرکړو دهدایت معني په لطف اومهربانۍ سره رهنمائي کولوته وائي ، همدا وجه ده چې ددی استعمال همیشه په خیر اونیکۍ کې کیږي دا لفظ اوددی مشتقات په اصل کې په لام او الی سره متعدي کیږي مګر کله کله بغیرد کومي واسطي نه پخپله هم متعدي کیږي ، خلاصه داده چې :

اهدنا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ دعاء ده د نبي کريم صلي الله عليه وسلم اودتمامو مسلمانانو . اګرچې هغه دمخکې نه په اسماني هدایت باندي اراسته وو لیکن بیا هم دالله تعالی نه داستقامت اوثابت قدمۍ اومزید هدایت طلب کولو دپاره دعا غوښتلي شوي ده ، ځکه چې داهل سنت والجماعت دمذهب مطابق دالله تعالي دلطافت او هدایاتو هیڅ حد اونتهاء نشته . ابن کثير دقنبل دروايت مطابق.

الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ۝ برابره خبره ده چې معرف باللام اومضاف وي یانکره وي، نه صرف په سورت فاتحه کې بلکه په تمام قران مجید کې چې چرته هم راغلي نو السراط په سین سره لوستلي شوي دي اوسراط په لغت کې تیرولو ته وئیلي شي اهل زبان وائي: سرط الطعام اي ابتلعه یعني کله چې څوك نوړۍ تیره کړي، نو سرط الطعام ووئیلي شي، همدارنګې په کومه لاره چې ډیر مسافران ځي دهغي متعلق وئیلي شي چه: الطريق يسرط السابلة ، اوباقي قراء کرامو صاد وئیلي دي اوداد قریشو لغت دی ، او خلف دصاد اود زاء په مینځ کې دا لفظ دقران په هرځاي کې لولي اوخلاد صرف دلته ، او المستقيم په معنی دمستوي اوسیده سره دی مګر مراد ورنه دلته دحق لاره ده ، اوبعضو وئیلي دي چې مراد ورنه ملت اسلام دی ، ددی دواړو قولینونسبت ابن جریر ابن عباس رضي الله عنهما ته کړی دی ، ابو العاليه او امام حسن داهدنا الصراط المستقيم په تفسیرکې وئیلي دي چې داد رسول الله صلي الله عليه وسلم اودهغه دوه صحابه کرام ابوبکر اوعمر رضي الله عنهما لاره ده . رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: زما نه پس زما سنت او زما د خلفاؤ سنت په مضبوطتیا سره ونیسۍ او وئي فرمائیل چې زما نه پس په دوه کسانو ابوبکر اوعمر رضي الله عنهما پسې اقتداء وکړۍ.

صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ داد الصراط المستقيم بدل دی ، اوبدل کل دی دکوم فائده چې تاکید دی او مراد ورنه پدي خبره باندي استدلال کول دي چې ددي خلقولاره هغه لاره ده دکومي دمستقيم کیدو شهادت چې ورکړی شوی دی مطلب دادی چې پروردګاره مونږ ته دهغه خلقو لاره اوښائي په چاچې تا احسان کړی دی اونیکان خلق ورنه مراد دي څوك چې الله تعالي په طاعت اوپه ایمان بالله باندي ثابت قدم دي چې هغه انبياء اوصديقين اوشهداء اوصالحين دي،

عليهم - إليهم لديهم چې چرته په قران كي راغلي دي حمزه دوصل اووقف په دواړو حالتونوكي هاء په ضمي سره وئيلي ده. ليكن دحمزه نه علاوه باقي قاريان ئي مكسور لولي، ابن كثير هر ميم دجمع په حالت دوصل كي په ضمي اواشباع لوستل وئيلي دي خوپه هغه وخت كي چې ددي مابعد ساكن نه وي . او قالون وائي چې په هرحالت كي برابره خبره ده چې ددي مابعد حرف ساكن وي اوكه نه وي په اشباع اوغير اشباع سره لوستلي شي، ليكن ورش صرف دالف قطع داتصال په وخت كي په اشباع سره وئيل جائز ګڼړي، اوكله چې دميم جمع نه پس الف وصل وي اود هاء ماقبل كسره يا ياء ساكنه وي لكه: بِهِمُ الْأَسْبَابُ وعَلَيْهِمُ الْقِتَالُ نوحمزه اوكسائي ها اوميم دواړه مضموم او ابوعمرو ئي مكسور لولي اوهمدارنګي يعقوب هم د ابوعمرو موافق الخيال دی . ليكن هركله چې ددي ماقبل حرف مكسور وي نوددی قاريانونه علاوه باقي خلق ئي مكسور لولي پدی وجه چې هغه اصل دی او هاء مكسور څكه لولي چې ددی ماقبل ساكن يامكسوردی ، ليكن دا اختلاف دوصل په حالت كي وو، پاتي شو دوقف حالت كي؟ نوپدي صورت كي تمام خلق دماقبل دمكسور كيدو په وجه باندی مكسور لولي، البته دحمزه اختلاف پدي صورت باقي دی.

غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ ۝ داد الَّذِيْنَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ نه بدل دی يعني په چاچې الله تعالي خپل فضل كړی دی ، ددی نه هغه كسان مراد دي څوك چې د غضب الهي اوګمراهئ نه محفوظ اومامون دي ، ياداچې صفت كاشفه اوصفت احترازيه دی خوپدي شرط چې موصول دنكري قائم مقام فرض كړی شي اوددی نه كوم معين جماعت مراد نكړی شي لكه چې پدي شعر كي راغلي دي: ولقد امرّ على اللّئيم يسبّنی — اويائي غير معرفه اوګرځوي دوجي داضافت ددي هغهٔ څيزته چې يوضد لري نو بيا متعين كيدی شي لكه چې وئيلي شوي دي.

****

وَرَوَى ابْنُ جُرَيْجٍ، وَمَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي السَّائِبِ، مَوْلَى هِشَامِ بْنِ زُهْرَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ هَذَا. [1]

---

[1] _ صحيح مسلم/الصلاة ١ (٣٩٥) . سنن ابي داود/ الصلاة ١٣٦ (٨٢١) . سنن النسائي/الإفتتاح ٢٣ (٩١٠) . سنن ابن ماجه/الإقامة ١١ (٨٣٨) (تحفة الأشراف: ١٤٠٨٠) . والمؤطا: الصلاة ٩ (٣٩) . و مسند احمد (٢/٢٤١، ٢٥٠، ٢٨٥، ٤٥٧)

ترجمه : دهشام بن زهره ازاد کړي غلام ابو السائب دابوهريره رضي الله عنه په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه ددي هم معني روايت نقل کړي دي

****

وَرَوَى ابْنُ أَبِي أُوَيْسٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، وَأَبُو السَّائِبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ هَذَا. أَخْبَرَنَا بِذَلِكَ مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى النَّيْسَابُورِيُّ، وَيَعْقُوبُ بْنُ سُفْيَانَ الْفَارِسِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ أَبِي أُوَيْسٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، حَدَّثَنِي أَبِي، وَأَبُو السَّائِبِ مَوْلَى هِشَامِ بْنِ زُهْرَةَ وَكَانَا جَلِيسَيْنِ لِأَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ صَلَّى صَلَاةً لَمْ يَقْرَأْ فِيهَا بِأُمِّ الْقُرْآنِ فَهِيَ خِدَاجٌ فَهِيَ خِدَاجٌ غَيْرُ تَمَامٍ". وَلَيْسَ فِي حَدِيثِ إِسْمَاعِيل بْنِ أَبِي أُوَيْسٍ أَكْثَرُ مِنْ هَذَا. وَسَأَلْتُ أَبَا زُرْعَةَ عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ، فَقَالَ: كِلَا الْحَدِيثَيْنِ صَحِيحٌ، وَاحْتَجَّ بِحَدِيثِ ابْنِ أَبِي أُوَيْسٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ الْعَلَاءِ.([1])

ترجمه : دهشام بن زهره ازاد کړي غلام ابو السائب دابوهريره رضي الله عنه په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه ددي هم معني روايت نقل کړي دي او همدا رنګې زما پلار او هشام بن زهره ازاد کړي غلام ابو السائب دابوهريره رضي الله عنه په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه روايت نقل کړي دي ابوهريره رضي الله عنه وائي چې رسول الله ﷺ فرمائيلي دي کوم يوسړی چې مونځ کوي اوپه هغي کې ام القران اونه وئيلی شي نوداسي مونځ ناقص دی، ناقص دی، ناقص دی کامل نه دی.

امام ترمذي وايي: داسماعيل بن ابي اويس په حديث کې ددينه زيات څه نشته. دابو زرعه نه مې دي حديث باره کې تپوس اوکړو نو راته يې اووئيل دا دواړه صحيح دي او دابن ابي اويس په حديث چې دخپل پلار په واسطه يې دعلاء نه نقل کوي استدلال اوکړو

****

٢٩٥٤ـ أَخْبَرَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ سَعْدٍ، أَنْبَأَنَا عَمْرُو بْنُ أَبِي قَيْسٍ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ عَبَّادِ بْنِ حُبَيْشٍ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ، قَالَ: "أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ جَالِسٌ فِي الْمَسْجِدِ، فَقَالَ الْقَوْمُ: هَذَا عَدِيُّ بْنُ حَاتِمٍ، وَجِئْتُ بِغَيْرِ أَمَانٍ وَلَا

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩٨٢٠)

كِتَابٍ. فَلَمَّا دُفِعْتُ إِلَيْهِ أَخَذَ بِيَدِي وَقَدْ كَانَ قَالَ قَبْلَ ذَلِكَ: إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ يَدَهُ فِي يَدِي، قَالَ: فَقَامَ بِي فَلَقِيَتْهُ امْرَأَةٌ وَصَبِيٌّ مَعَهَا، فَقَالَا: إِنَّ لَنَا إِلَيْكَ حَاجَةً. فَقَامَ مَعَهُمَا حَتَّى قَضَى حَاجَتَهُمَا، ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِي حَتَّى أَتَى بِي دَارَهُ، فَأَلْقَتْ لَهُ الْوَلِيدَةُ وِسَادَةً فَجَلَسَ عَلَيْهَا وَجَلَسْتُ بَيْنَ يَدَيْهِ، فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ، ثُمَّ قَالَ: "مَا يُفِرُّكَ أَنْ تَقُولَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، فَهَلْ تَعْلَمُ مِنْ إِلَهٍ سِوَى اللَّهِ؟ قَالَ: قُلْتُ: لَا. قَالَ: ثُمَّ تَكَلَّمَ سَاعَةً، ثُمَّ قَالَ: إِنَّمَا تَفِرُّ أَنْ تَقُولَ: اللَّهُ أَكْبَرُ وَتَعْلَمُ أَنَّ شَيْئًا أَكْبَرُ مِنَ اللَّهِ؟ قَالَ: قُلْتُ: لَا. قَالَ: فَإِنَّ الْيَهُودَ مَغْضُوبٌ عَلَيْهِمْ وَإِنَّ النَّصَارَى ضُلَّالٌ. قَالَ: قُلْتُ: فَإِنِّي جِئْتُ مُسْلِمًا، قَالَ: فَرَأَيْتُ وَجْهَهُ تَبَسَّطَ فَرَحًا، قَالَ: ثُمَّ أَمَرَ بِي فَأُنْزِلْتُ عِنْدَ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ جَعَلْتُ أَغْشَاهُ آتِيهِ طَرَفَيِ النَّهَارِ، قَالَ: فَبَيْنَمَا أَنَا عِنْدَهُ عَشِيَّةً إِذْ جَاءَهُ قَوْمٌ فِي ثِيَابٍ مِنَ الصُّوفِ مِنْ هَذِهِ النِّمَارِ، قَالَ: فَصَلَّى، وَقَامَ فَحَثَّ عَلَيْهِمْ، ثُمَّ قَالَ: وَلَوْ صَاعٌ، وَلَوْ بِنِصْفِ صَاعٍ، وَلَوْ بِقَبْضَةٍ، وَلَوْ بِبَعْضِ قَبْضَةٍ يَقِي أَحَدُكُمْ وَجْهَهُ حَرَّ جَهَنَّمَ أَوِ النَّارِ، وَلَوْ بِتَمْرَةٍ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ، فَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَاقِي اللَّهَ، وَقَائِلٌ لَهُ مَا أَقُولُ لَكُمْ: أَلَمْ أَجْعَلْ لَكَ سَمْعًا وَبَصَرًا؟ فَيَقُولُ: بَلَى. فَيَقُولُ: أَلَمْ أَجْعَلْ لَكَ مَالًا وَوَلَدًا؟ فَيَقُولُ: بَلَى. فَيَقُولُ: أَيْنَ مَا قَدَّمْتَ لِنَفْسِكَ؟ فَيَنْظُرُ قُدَّامَهُ وَبَعْدَهُ وَعَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ ثُمَّ لَا يَجِدُ شَيْئًا يَقِي بِهِ وَجْهَهُ حَرَّ جَهَنَّمَ. لِيَقِ أَحَدُكُمْ وَجْهَهُ النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ، فَإِنْ لَمْ يَجِدْ فَبِكَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ، فَإِنِّي لَا أَخَافُ عَلَيْكُمُ الْفَاقَةَ، فَإِنَّ اللَّهَ نَاصِرُكُمْ وَمُعْطِيكُمْ حَتَّى تَسِيرَ الظَّعِينَةُ فِيمَا بَيْنَ يَثْرِبَ وَالْحِيرَةِ أَوْ أَكْثَرَ مَا تَخَافُ عَلَى مَطِيَّتِهَا السَّرَقَ، قَالَ: فَجَعَلْتُ أَقُولُ فِي نَفْسِي فَأَيْنَ لُصُوصُ طَيِّئٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، وَرَوَى شُعْبَةُ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ عَبَّادِ بْنِ حُبَيْشٍ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحَدِيثَ بِطُولِهِ. (1)

ترجمه : دعدي بن حاتم رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې زه د رسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شوم او هغوئ دغه وخت کې په مسجد کې موجود وو خلقو اووئيل دا عدي بن حاتم دي او زه هغوئ ته بغير د امان غوښتلو او بغير د کوم تحرير نه ورغلي وم، کله چې ورته زه وروستلي شوم نو رسول الله زما لاس اونيولو او د دينه مخکې يې فرمائيلي وو چې زما اميد دي چې الله تعالي به زما په لاس کې د ده لاس راکوي ، دعدي بيان دي رسول الله پاڅيدو او زه يې د ځان سره روان کړم او په دې دوران کې يوه ښځه د خپل بچي په موجودګئ

1 ــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ۹۸۷۰)

کي ددوئ سره دملاويدو دپاره راغله دوئ دواړو عرض اوکړو زمونږ تاته يو ضرورت دي رسول الله ددواړو سره پاڅيدو او ددوئ ضرورت يي پوره کړو او بيا يي زما لاس اونيولو او زه يي خپل کورته بوتلم يوي ماشومي رسول الله ته بستره خوره کړه چې په هغي باندي کيناستو او زه دهغوئ مخامخ کيناستم رسول الله دالله تعالي حمد او ثناء بيان کړه او بيا يي اوفرمائيل دا راته اووايه تا دلا اله الا الله وئيلو نه څه څيز منع کوي؟ ايا دالله نه درته علاوه کوم بل معبود معلوم دي (يعني دالله نه علاوه په بل معبود عقيده لري) ما اووئيل نه بيا رسول الله يوه شيبه خبري اوکړي او بيا يي اوفرمائيل الله اکبر وئيلو سره تختي؟ ايا ستا دا خيال دي چې دالله تعالي نه هم کوم بل لوي څيز شته ما اووئيل نه رسول الله اوفرمائيل په يهود دي دالله غضب نازل شي او نصاري گمراهان دي هغوئ دا عقائد دي ما اووئيل زه خو داسلام قبلولو په اراده راغلي يم، عدي وائي ما اووئيل درسول الله مخ مبارك دخوشحالئ نه اوپړقيدو او بيا يي زماباره کي حکم اوکړو نو زه ديو انصاري صحابي په ميلمستيا بوتلم او زه ورته د ورځي په دواړو کنارو کي يعني په سحر او ماښام کي حاضر شوم يو ماښام ورسره زه ناست وم چې داسي قوم ورته راغلو چې دوړئ جامي يي اغوستلي وي راوي وائي چې رسول الله مونځ اوکړو او بيا اودريدو او تقرير يي شروع کړو او خلقو ته يي په دوئ باندي دخرچ کولو ترغيب ورکړو رسول الله اوفرمائيل صدقي ورکوئ اگر که يو صاع ولي نه وي او اگر چې نيم صاع ولي نه وي او اگر چې يوه لپه ولي نه وي او اگر چې دلپي نه کم ولي نه وي دکومي په ذريعه چې په تاسو کي هر يو خپل ځان دجهنم دگرمئ نه بچ کولي شي تاسو صدقي ضرور ورکوئ اگر که يوه کجوره ولي نه وي او اگر که نيمه کجوره ولي نه وي ځکه چې په تاسو کي هر يو الله تعالي ته ورتلونکي دي اوهغه ته به هغه خبره کوي کومه چې زه تاسو ته کوم الله تعالي به تپوس کوي ايا ما تاسو ته غوږونه او سترگي نه وي درکړي دوئ به اووائي هو ولي نه، الله تعالي به اوفرمائي ايا ما تاسو ته مال او اولاد نه وو درکړي دوئ به اووائي ولي نه تا مونږ ته مال او اولاد راکړي وو الله تعالي به اوفرمائي هغه څيزونه چرته دي کوم چې تاسو دخپل ځان دحفاظت دپاره مخکي ليږلي دي ددي خبري په اوريدو به خلق خپلي مخي او شاته او ښي طرف او چپ طرف ته به اوگوري ليکن هيڅ به اونه گوري چې ځان ورباندي دجهنم دگرمئ نه بچ کړي نو په دي وجه په تاسو کي دهر يو دپاره دجهنم دگرمئ نه دځان بچ کولو کوشش پکار دي اگر که ديوي کجوري په صدقه کولو ولي نه وي او که دا هم ممکن نه وي نو ديوي نيکي او ښکلي خبري په کولو باندي خپل ځان دجهنم دگرمئ نه بچ کړئ، زما سره دا ويره نشته چې تاسو به په فقر او فاقه او نيستئ باندي مبتلا شئ ځکه چې الله تعالي ستاسو مددگار دي او هغه تاسو ته درکونکي دي او تردي حده پوري تاسو ته درکونکي دي چې په کجاوه کي يوه ناسته ښځه به يواځي ديثرب (مدينه) نه حيره مقام پوري يا ددينه هم اوږد سفر کوي او دهغي سره به دخپلي

سورلئ دېتېدو ويره او خطره نه وي، عدي رضي الله عنه وائي دي وخت کي ما سوچ اوکړو چې دبني طئ قبيلي غله به چرته ځي؟

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي او مونږ يي صرف دسماك بن حرب په روايت پيژنو، شعبه دسماك بن حرب نه او سماك دعباد بن حبيش نه او عباد دعدي بن حاتم رضي الله عنه په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه هم دا پوره حديث نقل كړي دي.

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، وَمُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ عَبَّادِ بْنِ حُبَيْشٍ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْيَهُودُ مَغْضُوبٌ عَلَيْهِمْ، وَالنَّصَارَى ضُلَّالٌ". فَذَكَرَ الْحَدِيثَ بِطُولِهِ. [1]

ترجمه : دعدي بن حاتم رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي يهوديان مغضوب عليهم دي(يعني د الله غضب ورباندي شوي دي) او نصاري ضال (يعني گمراهان) دي. او بيا يي پوره حديث بيان كړو.

دعدي بن حاتم رضي الله عنه حالات

نوم عدي كنيه ابو طريق او دپلار نوم حاتم طايي وو چې دعدي په قبيله طئ يي حكم راني كوله داسلام دظهور په وخت كې عدي حكمران وو كله چې داسلام دائره وسيع كيدل شروع شول نو دى پريشان شو او داسلامي سيلاب دمخنيوي توان يي نه لرلو بل طرف ته دحكمرانئ په وجه داسلام په وړاندي يي سر ټيټول هم نه غوښتل خو بهر حال اسلامي فوجونه طئ قبيلي طرف ته روان شول نو عدي په دغه وخت كې خپل تمام خاندان شام ته بوتلو (سيرت ابن هشام). اتفاق دا وو چې صرف يوه رشته داره ورنه پاتي شوي وه او هغه گرفتاره شوي وه، دي زنانه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته عرض اوكړو چي زما دخاوند راخلاصونكى هيڅوك نشته په ماباندي احسان اوكړه او الله تعالي به په تا باندي احسان اوكړي رسول الله تپوس اوكړو خلاصونكى څوك دى هغي اووئيل عدي رسول الله اوفرمائيل ايا هغه څوك يادوي څوك چې دالله او درسول نه تختيدلى دى همدا مكالمه په دويمه ورځ بيا هم اوشوه او بيايي دعلي رضي الله عنه د درخواست په بنا ازاد كړو او دډير اعزاز سره يي رخصت كړو نو په دي وجه عدي متاثر شو او درسول الله په خدمت كې حاضر شو دراتلو نه پس رسول الله په يوه گدئ كينولو او پخپله په زمكه كيناستو او بيا ددينه پس عدي مسلمان شو او رسول الله صلي الله عليه وسلم

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۹۸۷۰)

دوباره دخپلي قبيلي بنو طئ امير مقرر كړو (سيرت ابن هشام).
درسول الله صلي الله عليه وسلم دوفات نه پس چې كله خلق مرتد شول او دزكوة وركولو نه يي انكار اوكړو نو دعدي قبيلي په كوشش سره زكوة ادا كولو (استيعاد).
عدي به هميشه په اودس كې اوسيدلو او هيڅ كله ورته داقامت په وخت كې اودس ته ضرورت نه دى پيښ شوى (الاصابه).
وفات، دوفات په وخت كې په كوفه كې موجود وو او هم دلته دهجرت په ٦٧ كال وفات شو دمروياتو شمير يي ٦٦ دى چې شپږ متفق عليه دي دري صرف په بخاري كې دي او دوه په مسلم كې دي (تهذيب الكمال).

د سورت فاتحه فضائل

دابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل: په هغه ذات مي دي قسم وي دچاپه قبضه او قدرت كي چې زما روح دى چې دسورت فاتحي پشان سورت نه په تورات كي اونه په انجيل كي اونه په زبور كي چري نازل شوي دي اونه په قران كريم كي، داهغه سبع المثاني دى كوم چې الله تعالي ماته راكړى دى ، داحديث ترمذي حسن صحيح ګڼړلى دى اوحاكم وئيلي دي چې صحيح دى دمسلم دشرط مطابق ،
دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چې مونږ د نبي كريم صلي الله عليه وسلم په مجلس كي موجود وواو جبريل هم درسول الله صلي الله عليه وسلم سره ناست وو ، يكدم دبره نه ددروازي دكولاويدو پشان اواز راغي نوجبريل اسمان ته وكتل او وئي فرمائيل: دا دروازه چې اوس بيرته شو ددينه مخكي چرته نده بيرته شوى ، دراوي بيان دى چې پدي وخت كي يوه فرشته داسمان نه راكوزه شوه اود نبي كريم صلي الله عليه وسلم پخدمت كي حاضره شوه اوعرض ئي وكړو چې داسي دوه انوار دى تاته مبارك وي كوم چې ستانه مخكي بل نبي ته ندي وركړى شوي، يو فاتحة الكتاب اوبل دسورت البقري اخري حصه ، كه چري ته پدي دواړو كي يوحرف هم ولولي نوهغه به تاته دركولى شي (مسلم).
دابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل: الله تعالي فرمائيلي دي چې ما دخپلو بندګانو سره مونځ نيم په نيمه تقسيم كړى دى ، ددى نيم زما دپاره دى اونيم زما دبنده دپاره دى اوزما بنده ته به هغه څيز ملاويږي كوم چې دى غواړي، اوكله چې دى الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ووائي نو الله تعالي ووائي حمدنى عبدى او كله چې دى الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ ووائي نو الله تعالي ووائي اثنى علىّ عبدى ، چې كله دى مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ ووائي نو الله پاك اوفرمائي مجدنى عبدى -او كله چې دى إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ووائي نو الله پاك اوفرمائي هذه الآية بينى وبين عبدى ولعبدى ما سال ، او كله چې دى اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ

صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ ووائي نو الله پاك اوفرمائي فهؤلاء لعبدي ولعبدي ما سال ، رواه مسلم ـــ د عبد الملك بن عمير رضي الله عنه نه يو مرسل روايت مروي ذي فرمائي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چې فاتحة الكتاب دهر مرض دپاره شفاء ده ، دارمي پخپل سنن كي اوبيهقي په شعب الايمان كي په صحيح سند سره دعبدالله بن جابر رضي الله عنه نه روايت نقل كړي دي فرمائي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ايا بهترين سورت درته وښايم چې په قران كي نازل شوى دى جابر وائي چې ما عرض وكړوچې اي دالله رسوله ضرور ئي راته وښايه نو وئي فرمائيل چې فاتحة الكتاب دى ، اوزما خيال دى چې وئي فرمائيل چې پدي كي دهرمرض دپاره شفا ده، او دا روايت خلعي پخپل فوائد كي نقل كړى دى ، دسعيد بن معلي نه روايت دى چې په قران كي دټولو نه لوي سورت (په اعتبار دثواب اومرتبي او رفعت سره) الحمد للـه رب العلمين دى - رواه البخاري والبيهقي والحاكم من حديث أنس - حاكم دابن عباس رضي الله عنه نه نقل كوي چې فاتحة الكتاب دقران دثلث برابردى ، ابوسليمان وائي چې يوځل يوځو صحابه كرام په كومه غزوه كي شريك وو اوپه يو ميرګو والاباندي ئي تيريدل وشول كوم چې بي هوشه پروت وو ، چافاتحه ولوستله اودده په غوږ كي ئي چپ كړه (نوهغه روغ شو) رسول الله صلي الله عليه وسلم ته چې خبر وركړى شو نوئي فرمائيل داخو ام القران ده او دهر مرض دپاره دوا ده ، دا حديث ثعلبي په روايت دمعاويه بن صالح په حواله دابوسليمان بيان كړى دى ، دابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دى فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل سورت فاتحه دزهرو علاج دى ، (سنن سعيد بن منصور، بيهقي شعب الايمان) ، دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي چې مونږ په سفرتلي وو اويوځاي ته چې ورغلو نويوه جينئ راروانه وه اوچغي ئي وهلي چې ددى قبيلي سردار مار چيچلى دى ايا پتاسوكي څوك دمګرى شته؟ نوپه مونږ كي يوكس ورپاځيدو او ورسره روان شو اوهلته ئي سورت فاتحه ولوستله او مار چيچلى ئي پري دم كړونو هغه فورا جوړشو، كله چې مونږ دسفر نه واپس راغلو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم ته مو ددى واقعي ذكر وكړو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم دده نه پوښتنه وكړه چې تاته څنګه معلومه شوه چې دا سورت دم دى ... رواه البخاري ورواه أبو الشيخ وابن حبان في الثواب. دابوسعيد خدري او ابوهريره رضي الله عنهما نه هم داروايت مروي دى ، دسائب بن يزيد رضي الله عنه نه روايت دى فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم زه په سورت فاتحه باندى دم كړم اود افتونو اودمصيبتونو نه دامان دپاره ئي خپلي توكانړي مباركي زما په خوله واچولي، رواه الطبراني في الأوسط , دانس رضي الله عنه نه روايت دى فرمائي كله چې ته په بستره باندى څملى او فاتحة الكتاب اوقُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ولولي نود مرګ نه علاوه به دهرڅيزنه محفوظ اوبي خوفه شي - رواه

البزار.

* *

٣ـ باب وَمِنْ سُورَةِ الْبَقَرَةِ

د سورت البقري دبعضي ايتونو تفسير

٢٩٥٥ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، وَابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، ومحمد بن جعفر، وعبد الوهاب، قَالُوا: حَدَّثَنَا عَوْفُ بْنُ أَبِي جَمِيلَةَ الأَعْرَابِيُّ، عَنْ قَسَامَةَ بْنِ زُهَيْرٍ، عَنْ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللهَ تَعَالَى خَلَقَ آدَمَ مِنْ قَبْضَةٍ قَبَضَهَا مِنْ جَمِيعِ الأَرْضِ، فَجَاءَ بَنُو آدَمَ عَلَى قَدْرِ الأَرْضِ، فَجَاءَ مِنْهُمُ الأَحْمَرُ وَالأَبْيَضُ وَالأَسْوَدُ، وَبَيْنَ ذَلِكَ، وَالسَّهْلُ وَالحَزْنُ وَالخَبِيثُ وَالطَّيِّبُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دابوموسي اشعري رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې رسول كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي:يقينا الله تعالي ادم عليه السلام لره ديوموټي خاورونه پيداكړوكومه چې ئي دټولي زمكي نه راټوله كړي وه اوبيائي دادم عليه السلام اولاد دخپلي خپلي خاوري نه پيداكړل څوك سپين څوك سورڅوك توراوپه دوئ كي ئي څوك نرم اوڅوك سخت اوڅوك بد اخلاقه اوڅوك نجس پيداكړل

امام ترمذي وايي:دا حديث حسن صحيح دى.

* *

٢٩٥٦ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْلِهِ: "ادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا (النساء :١٥٤)، قَالَ: دَخَلُوا مُتَزَحِّفِينَ عَلَى أَوْرَاكِهِمْ". أَيْ مُنْحَرِفِينَ. [2]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دايت كريمه "ادخلوا الباب سجدا" يعني په دروازه سجده كونكي داخل شئ، متعلق اوفرمائيل بني اسرائيل په دروازه په كناټو توليدونكي داخل شول

---

[1] ـ سنن ابي داود/السنة ١٧ (٤٦٩٣) (تحفة الأشراف : ٩٠٢٥)، ومسند احمد (٤٠٠/٤، ٤٠٦)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /أحاديث الأنبياء ٢٨ (٣٤٠٣)، وتفسير البقرة ٥ (٤٤٧٩)، وسورة الأعراف ٤ (٤٦٤١)، صحيح مسلم /التفسير ح١ (٣٠١٥) (تحفة الأشراف : ١٤٦٩٤)

****

وَبِهَذَا الإِسْنَادِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " فَبَدَّلَ الَّذِينَ ظَلَمُوا قَوْلا غَيْرَ الَّذِي قِيلَ لَهُمْ (البقرة:٥٩). قَالَ: قَالُوا: حَبَّةٌ فِي شَعْرَةٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه : او په همدي سند درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مروي دي چې دا ايت كريمه "فَبَدَّلَ الَّذِينَ ظَلَمُوا قَوْلا غَيْرَ الَّذِي قِيلَ لَهُمْ " متعلق اوفرمائيل چې بني اسرائيلو وئيل "حبة في شعرة".

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٩٥٧_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا أَشْعَثُ السَّمَّانُ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فِي لَيْلَةٍ مُظْلِمَةٍ، فَلَمْ نَدْرِ أَيْنَ الْقِبْلَةُ فَصَلَّى كُلُّ رَجُلٍ مِنَّا عَلَى حِيَالِهِ، فَلَمَّا أَصْبَحْنَا ذَكَرْنَا ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَنَزَلَتْ: فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللَّهِ (البقرة :١١٥)". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ أَشْعَثَ السَّمَّانِ أَبِي الرَّبِيعِ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، وَأَشْعَثُ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ. (٢)

ترجمه : دعامر بن ربيعه رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې مونږ په انتهائي تورتم شپه كي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم سره په سفر كي موجود وو چاته نه معلوميده چې كعبه كوم طرف ته ده چنانچې دچا كوم طرف ته مخ وو نو هم هغه طرف ته يي مونځ اوكړو كله چې سحر شو نو مونږ رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ددي خبري ذكر اوكړو نو دغه وخت كي دا ايت كريمه "فأينما تولوا فثم وجه الله" نازل شو يعني تاسو چې هر طرف ته مخ ستون كړئ او هغه طرف ته الله تعالي موجود دي.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي او دا مونږ ته صرف اشعث سمان ابو ربيع په سند معلوم دي چې دعاصم بن عبيدالله نه يي نقل كوي او اشعث په باب دحديث كي ضعيف دي

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /أحاديث الأنبياء ٢٨ (٣٤٠٣) ، وتفسير البقرة ٥ (٤٤٧٩) ، وسورة الأعراف ٤ (٤٦٤١) . صحيح مسلم /التفسير ح ١ (٣٠١٥) (تحفة الأشراف : ١٤٦٩٤)

[2] ـ سنن ابن ماجه/الإقامة ٦٠ (١٠٢٠) (تحفة الأشراف : ٥٠٣٥)

****

٢٩٥٨ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ أَبِي سُلَيْمَانَ، قَالَ: سَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ جُبَيْرٍ يُحَدِّثُ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يُصَلِّي عَلَى رَاحِلَتِهِ تَطَوُّعًا أَيْنَمَا تَوَجَّهَتْ بِهِ، وَهُوَ جَاءٍ مِنْ مَكَّةَ إِلَى الْمَدِينَةِ، ثُمَّ قَرَأَ ابْنُ عُمَرَ هٰذِهِ الْآيَةَ وَلِلَّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ (البقرة :١١٥). فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ: فَفِي هَذَا أُنْزِلَتْ هٰذِهِ الْآيَةَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائي چې کله نبي کريم صلي الله عليه وسلم مديني ته راغي نو نفلي مونځونه يي پخپله اوښه په ناسته اداء کول او چې اوښې به هر طرف ته مخ واړولو هم هغه طرف ته به يي کول او ابن عمر رضي الله عنه بيا دا ايت "ولله المشرق والمغرب" تلاوت کړو يعني خاص دالله تعالي دپاره دمشرق او مغرب طرفونه دي ابن عمر رضي الله عنه وائي دا ايت په همدي باره کي نازل شوي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي دقتاده نه مروي دي چې فرمائيل يي ايت کريمه "ولله المشرق والمغرب" منسوخ دي او ددي ناسخ "فول وجهك شطرا مسجدالحرام" دي يعني خپل مخ مسجدالحرام طرف ته ستون کړه.

****

وَيُرْوَى عَنْ قَتَادَةَ، أَنَّهُ قَالَ: فِي هٰذِهِ الْآيَةَ وَلِلَّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللَّهِ (البقرة :١١٥) قَالَ قَتَادَةُ: هِيَ مَنْسُوخَةٌ نَسَخَهَا قَوْلُهُ: فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ (البقرة :١٤٤)" أَيْ تِلْقَاءَهُ. حَدَّثَنَا بِذَلِكَ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي الشَّوَارِبِ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ. ([2])

ترجمه : دقتاده نه مروي دي چې دايت کريمه: ولله المشرق والمغرب فاينما تولوا فثم وجه الله" باره کي يي فرمائيل چې دا ايت منسوخ دي او دا ايت دالله تعالي دي قول "فول وجهك

---

[1] ـ صحيح مسلم/المسافرين ٤ (٧٠٠) . سنن النسائي/الصلاة ٢٣ (٤٩٢) . تحفة الأشراف : ٧٠٥٧) . و مسند احمد (٢/٢٠، ٤١) . وراجع أيضا: اورده البخاري في الجامع الصحيح /الوتر ٦ (١٠٠٠) وتقصير الصلاة ٩ (١٠٩٨) . ١٢ (١١٠٥) . و سنن ابي داود/ الصلاة ٢٧٧ (١٢٢٤) . وسنن النسائي/الصلاة ٢٣ (٤٩١) . والقبلة ١ (٧٤٥)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٩٢٧٦)

شطر المسجد الحرام" منسوخ کړي دي، او شطر په معني دطرف دي.

****

وَيُرْوَى عَنْ مُجَاهِدٍ فِي هَذِهِ الآيَةِ: فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللهِ (البقرة :۱۱۵، قَالَ: فَثَمَّ قِبْلَةُ اللهِ. حَدَّثَنَا بِذَلِكَ أَبُو كُرَيْبٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنِ النَّضْرِ بْنِ عَرَبِيٍّ، عَنْ مُجَاهِدٍ بِهَذَا. ([1])

ترجمه : دمجاهد نه مروي دي چې دايت كريمه "فاينما تولوا فثم وجه الله" باره کې يې فرمائيل مونږ ته حديث بيان کړي دي ابوكريب محمد بن علاء او هغه دنضر بن عربي نه او هغه دمجاهد نه مذكوره مضمون نقل کړي دي.

تشريح: فَثَمَّ وَجْهُ اللهِ... پس همدغه طرف ته دالله تعالي مخ دي، يعني همدغه طرف دقبلي دي حسن مجاهد اوقتاده ومقاتل رحمهم الله دوجه الله داسي تفسير کړي دي. اوبعضي مفسرينو ويلي دي چې دغه جهت دالله رضاده ، اوبعضي مفسرينو ويلي دي چې دا ايت دمتشابهاتونه دي، لكه كل شيء هالك الا وجهه او ايت يدالله فوق ايديهم چې دمتشابهاتونه دي مسلم ترمذي اونسائي دابن عمر رضي الله عنهما نه روايت نقل کړي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دمکي نه مديني ته دراتلو په وخت کې پخپله سورلۍ نوافل كول برابره خبره ده چې سورلۍ به هرطرف ته متوجه وه ددينه پس ابن عمر په طور داستدلال ايت ولله المشرق والمغرب ولوستو، حاكم روايت کړي دي چې مجاهد فرمائيلي دي چې دايت فاينما تولوا مطلب دادي چې هرطرف ته چې ستاسو دسورلۍ مخ وي هم هغه طرف ته نفل کوئ اوحاكم وائي چې دا حديث دمسلم دشرط موافق صحيح دي او ابن ابي حاتم او ابن جرير دابن عباس رضي الله عنهما نه په قوي سند سره نقل کوي چې کله قبله تبديل شوه او ايت ماولهم عن قبلتهم التي كانوا عليها نازل شو نوددي په جواب كې ولله المشرق والمغرب نازل شو ، زه وايم چې دشان نزول اولني روايت په اعتبارد سند اومعني دواړو سره زيات صحيح دي ځکه چې دماولهم جواب هم هغلته په . قُلْ لِلَّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ کې مذكور دي ، اودي ايت په شان نزول کې نور روايات هم شته ليكن هغه ضعيف دي ، منجمله دهغوي نه يوهغه روايت دي چې ترمذي ابن ماجه او دارقطني نقل کړي دي چې ربيعه رضي الله عنه فرمائي چې مونږ يوځل دشپي په تياره کې درسول الله صلي الله عليه وسلم سره دسفر ملګري وو دمونځ په وخت کې ورته معلومه نشوه چې قبله کوم طرف ته ده

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ۱۹۲۷٦)

نوهرچا دخپل خيال موافق مونځ وكړو، كله چې سحر مونږ رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ددې ذكر وكړونو دا ايت كريمه نازل شو، او بيهقي او دارقطني روايت كړي دي چې جابر رضي الله عنه فرمائيلي دي چې يوځل رسول الله صلي الله عليه وسلم يو مختصر لښكر كوم خاي ته وليږلو په هغوي كې يو زه هم وم په لاره كې مونږ تياري راګير كړو اوقبله مونشوه پيژندلي اوهرچادخپل خيال موافق مونځ وكړو او ورسره ئي هغه طرف ته كرښې هم راښكلې سحر چې مو ورته وكتل نوټولي كرښې دقبلې طرف ته وي، كله چې مونږ دسفرنه واپس راغلونو دا واقعه مو رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ذكر كړه اوهغه سكوت وكړونوپدي وخت كې حق تعالي ولله المشرق نازل كړو.

ابن مردويه هم دابن عباس نه داقصه داسې نقل كړي ده مګرپدې كې دومره اضافه ده چې دوريځې په وجه مونږ قبله ونه پيژندلي شوه، ابن جرير دمجاهد نه روايت نقل كړي دي چې كله ايت: ادعوني استجب لكم نازل شو عربو ووېل چې الله تعالي كوم طرف ته او چرته دي چې مونږ دعا وكړونوپه جواب كې دا ايت: ولله المشرق نازل شو.

****

٢٩٥٩ــ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا الْحَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ، قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، لَوْ صَلَّيْنَا خَلْفَ الْمَقَامِ، فَنَزَلَتْ "وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى (البقرة: ١٢٥". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه: دانس رضي الله عنه نه مروي دي عمر فاروق اوفرمائيل اي دالله رسوله كه مونږ دمقام ابراهيم نه شاته مونځ اوكړو نو څه حكم دي نو دي وخت كې ايت كريمه "واتخذوا من مقام ابراهيم مصلي" نازل شو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

تشريح: وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى (اومونږ حكم اوكړو چې جوړكړئ دابراهيم عليه السلام داودريدو دځاي نه دمونځ ځاي) يعني مقام ابراهيم، ددينه مراد دطواف دوه ركعتونه دي چنانچې مسلم په يو اوږد حديث كې دجابر بن عبدالله نه روايت كړي دي فرمائي چې مونږ درسول الله سره بيت الله ته راغلو نونبي عليه السلام ركن ښكل كړو اودري پيري يې رمل اوكړو اوڅلور پيري په متوسط رفتارسره لاړو او بيا مقام ابراهيم ته راغي اودا ايت يې تلاوت

---

1 ــ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الصلاة ٣٢ (٤٠٢)، وتفسير البقرة ٩ (٤٤٨٣)، سنن ابن ماجه/الإقامة ٥٦ (١٠٠٩) (تحفة الأشراف: ١٠٤٠٩)

کړو اومونځ يي اوکړو پداسي حال کي چې مقام ابراهيم يي دبيت الله اودخپل خان په مينځ کي کړي وو والله اعلم .

****

۲۹٦۰ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا حُمَيْدٌ الطَّوِيلُ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قُلْتُ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَوِ اتَّخَذْتَ مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى، فَنَزَلَتْ " وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى (البقرة :١٢٥)". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ. ([1])

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه مروي دي عمر رضي الله عنه اوفرمائيل ما رسول الله صلي الله عليه وسلم ته عرض اوکړو که چري تاسو دمقام ابراهيم نه دمونځ کولو ځاي جوړ کړئ نو ښنګه به وي نو دي وخت کي ايت کريمه "واتخذوا من مقام ابراهيم مصلي" نازل شو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دابن عمر رضي الله عنهما نه هم حديث وارد دي.

****

۲۹٦۱ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْلِهِ: " وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا (البقرة :)١٤٣، قَالَ: عَدْلًا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي نبي کريم صلي الله عليه وسلم دايت کريمه "كذلك جعنا كم امة وسطا" باره کي اوفرمائيل دوسط نه مراد عدل دي (يعني انصاف خوښول).

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

---

[1] ــ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الصلاة ٣٢ (٤٠٢) . وتفسير البقرة ٩ (٤٤٨٣) . سنن ابن ماجه/الإقامة ٥٦ (١٠٠٩) (تحفة الأشراف : ١٠٤٠٩)

[2] ــ اورده البخاري في الجامع الصحيح /أحاديث الأنبياء ٣ (٣٣٣٩) . وتفسير سورة البقرة ١٣ (٤٤٨٧) . والاعتصام ١٩ (٧٣٤٩) . سنن ابن ماجه/الزهد ٣٤ (٤٢٨٤) (تحفة الأشراف : ٤٠٠٣)

حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنَا جَعْفَرُ بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا الأَعْمَشُ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يُدْعَى نُوحٌ فَيُقَالُ: هَلْ بَلَّغْتَ؟ فَيَقُولُ: نَعَمْ. فَيُدْعَى قَوْمُهُ، فَيُقَالُ: هَلْ بَلَّغَكُمْ؟ فَيَقُولُونَ: مَا أَتَانَا مِنْ نَذِيرٍ، وَمَا أَتَانَا مِنْ أَحَدٍ. فَيُقَالُ: مَنْ شُهُودُكَ؟ فَيَقُولُ: مُحَمَّدٌ وَأُمَّتُهُ. قَالَ: فَيُؤْتَى بِكُمْ تَشْهَدُونَ أَنَّهُ قَدْ بَلَّغَ. فَذَلِكَ قَوْلُ اللَّهِ تَعَالَى: وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا (البقرة: ١٤٣) وَالْوَسَطُ الْعَدْلُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ عَوْنٍ، عَنِ الأَعْمَشِ، نَحْوَهُ.

ترجمه ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دقيامت په ورځ به نوح عليه السلام راوغوښتلي شي او سوال به ورنه اوکړي شي چې ايا تا دالله تعالي پيغام رسولي وو؟ نو اوبه وائي هو بيا به دده قوم راوغوښتلي شي دهغوئ نه به سوال اوکړي شي ايا نوح تاسو ته دالله تعالي پيغام رسولي وو نو قوم به يي اووائي نه دي راغلي مونږ ته هيڅ ويره وړکونکي او مونږ ته بالکل هيڅوك نه دي راغلي دنوح عليه السلام نه به سوال اوکړي ستا ګواهان څوك وو هغه به اووائي محمد صلي الله عليه وسلم او دهغه امت زما ګواه دي نو بيا به تاسو دګواهئ دپاره راوستلي شئ او هغوئ به اووائي چې نوح عليه السلام دحق دعوت رسولي دي او دا بعينه ددي ايت كريمه " وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا "مضمون دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

تشريح: لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ... (ددي دپاره چې تاسو ګواهان شئ په خلقو باندي) يعني دقيامت په ورځ به امت محمديه دالله تعالي په وړاندي ګواهي وركوي چې انبياؤ خپل احكام امتونوته رسولي دي ، دګواه كيدو همدا معني ده ، او لتكونو الايه ، دامت محمديه دعادل كيدو علت دي ددي آيت نه داهم معلوميږي چې دشهادت دپاره عدالت شرط دي.

وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا... (او شي به پيغمبر په تاسو باندي ګواه) درسول نه مراد محمد صلي الله عليه وسلم دي درسول الله دګواه كيدو دا معني ده چې په قيامت كي به نبي عليه السلام په خپل امت باندي ګواهي كوي اوګواه چونكه په شان درقيب يعني نګران وي

---

[1] ــ اورده البخاري في الجامع الصحيح /أحاديث الأنبياء ٣ (٣٣٣٩) . وتفسير سورة البقرة ١٣ (٤٤٨٧) . والاعتصام ١٩ (٧٣٤٩) . سنن ابن ماجه/الزهد ٣٤ (٤٢٨٤) (تحفة الأشراف : ٤٠٠٣)

اودرقيب په صله کي علي راځي نوځکه يي دشهيد په صله کي هم علي راوړي دي اګر چې ظاهرا په صله کي لام راوړل مناسب معلوميدل

علامه بغوي فرمائي چې دقيامت په ورځ به الله تعالي اولين او اخرين په يوځاي کي راجمع کړي ، اودتيرو شوو امتونو کافرانوته به خطاب اوکړي چې ايا تاسوته کوم ويرونکي نه وو درغلي ؟ هغوئ به صفا انکار اوکړي چې مونږ ته هيڅوك ندي راغلي نو بيا به الله تعالي دانبياؤ نه تپوس اوکړي انبياء به په اتفاق سره اووائي چې اي الله مونږه پيغام رسولي دي او دوئ صريح دروغ وائي ، الله تعالي باوجود ددي چې عالم الغيب دي مګر داتمام حجت دپاره دانبياؤ نه ګواهان طلب کړي نوپدي وقت کي به امت محمدي حاضر شي او ګواهي به ورکړي چې انبياؤ تمام احکام رسولي دي ، کفار به اووائي چې دوئ ته څنګه معلومه شوه چې انبياؤ احکام رسولي دي دوئ خو زمونږ نه په سوونو کلونو پس پيداشوي دي امت محمدي به جواب ورکړي چې الله تعالي مونږ ته رسول راليږلي وو اوکتاب يي ورباندي نازل کړي وو اوپه هغي کي يي مونږ ته خبر راکړي دي چې هر نبي خپل امت ته احکام رسولي دي او الله تعالي دټولو رښتونو نه زيات رښتوني دي ددينه پس به محمد صلي الله عليه وسلم راوغوښتلي شي او دامت دحالت په باره کي به ورنه تپوس اوکړي شي اونبي عليه السلام به ددوئ دصداقت او عدالت ګواهي ورکړي.

بخاري، ترمذي ، نسائي، دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت بيان کړي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چې دقيامت په ورځ به نوح عليه السلام راوغوښتلي شي او تپوس به ورنه اوشي چې ايا ددين تبليغ دي کړي وو؟ نو عرض به اوکړي چې اي پروردګاره يقينا ماستا پيغام رسولي وو ددينه پس به الله تعالي دده امت نه تپوس اوکړي چې ايا نوح تاسوته احکام رسولي وو هغوئ به اووائي مونږ ته خو هيڅوك نه وو راغلي بيابه دنوح نه تپوس اوشي چې ايا کوم ګواه درسره شته هغه به عرض اوکړي چې زما ګواه دمحمد صلي الله عليه وسلم امت دي ، نبي عليه السلام فرمائي بيا به تاسو هلته راشئ اوګواهي به ورکړي او بيايي دا آيت : وکذلك جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا . ولوستلو او وئي فرمائيل چې تاسو به دنوح عليه السلام دتبليغ ګواهي ورکړي او زه به په تاسو باندي ګواهي ورکړم.

امام احمد نسائي او بيهقي دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه داسي روايت بيان کړي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چې دقيامت په ورځ باندي به يو نبي راشي او دهغه سره به دهغه دامت نه صرف يو کس وي بيا به يو بل نبي راشي اودهغه سره به دوه کسان وي او همداسي به انبياء يو بل پسي راځي او الله تعالي به دټولو نه تپوس کوي چې ايا تبليغ موکړي وو ټول به عرض اوکړي چې پروردګاره کړي مو وو بيا به دهغوئ دامتونو نه تپوس اوکړي شي چې ايا دوئ احکام رسولي وو هغوئ ټول به انکار اوکړي بيابه دانبياؤ نه

گواهان طلب شي نوهغوئ به امت محمدي پيش كړي بيابه دامت محمدي نه تپوس اوشي چې تاسوته څنګه معلومه شوي ده ؟ هغوئ به عرض اوكړي چې مونږ ته نبي كتاب راوړي وو اوپه هغي كي داهم وو چې انبياؤ خپلو امتونوته احكام رسولي دي او مونږ دهغه تصديق كړي دي نو اوبه وئيلي شي يقينا تاسو رښتيا وائي.

****

٢٩٦٢ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: لَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ " صَلَّى نَحْوَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ سِتَّةَ أَوْ سَبْعَةَ عَشَرَ شَهْرًا، وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّ أَنْ يُوَجَّهَ إِلَى الْكَعْبَةِ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ: قَدْ نَرَى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ (البقرة: ١٤٤) فَوُجِّهَ نَحْوَ الْكَعْبَةِ، وَكَانَ يُحِبُّ ذَلِكَ، فَصَلَّى رَجُلٌ مَعَهُ الْعَصْرَ، قَالَ: ثُمَّ مَرَّ عَلَى قَوْمٍ مِنَ الْأَنْصَارِ، وَهُمْ رُكُوعٌ فِي صَلَاةِ الْعَصْرِ نَحْوَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ، فَقَالَ: هُوَ يَشْهَدُ أَنَّهُ صَلَّى مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَنَّهُ قَدْ وُجِّهَ إِلَى الْكَعْبَةِ، قَالَ: فَانْحَرَفُوا وَهُمْ رُكُوعٌ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ. (1)

ترجمه : دبراء بن عازب رضي الله عنه بيان دي فرمائي كله چې رسول الله صلي الله عليه وسلم مديني ته راغلو نو دشپاړسو نه تر اولس مياشتو پوري يي بيت المقدس ته دمتوجه كيدو په حالت كي مونځ كړي وو، مګر رسول الله صلي الله عليه وسلم كعبي طرف ته مونځ كول خوښول نو الله تعالي دا ايت كريمه :"قَدْ نَرَى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ (البقرة)" نازل كړو، يعني مونږ بار بار اسمان طرف ته ستا دمخ متوجه كيدل وينو نو اوس به مونږ تالره هغه قبلي ته متوجه كړو په كومه چې به ته خوشحاله شي پس راوګرخوه مخ خپل مسجد حرام طرف ته نو ددينه پس رسول الله صلي الله عليه وسلم كعبي طرف ته راستون كړو او دا به يي غوښتل هم يو كس درسول الله صلي الله عليه وسلم سره دمازيګر مونځ اوكړو او بيا په څه انصاري كسانو باندي تيريدلو او هغوئ بيت المقدس طرف ته دمازيګر مونځ كولو ده ورته اووئيل زه ګواهي وركوم چې ما درسول الله صلي الله عليه وسلم سره په داسي حال كي مونځ كړي دي چې كعبي طرف ته يي مخ ګرځولي وو نو هغوئ هم دركوع په حالت كي كعبي طرف ته راوګرځيدل

1 ـ انظر حديث رقم ٣٤٠

امام ترمذي وائي دبراء حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دابن عمر، ابن عباس. عماره بن اوس، عمروبن عوف مزني، او انس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

تشريح: قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَآءِ... (يقينا وينو مونږ مخ ګرځول ستا په طرف داسمان) دنبي كريم صلي الله عليه وسلم زړه داغوښتل چې دمونځ متعلق كعبي ته دمخ ګرځولو حكم اوشي ځكه چې هغه ابراهيمي قبله وه چې مومنانو لره دايمان او مشركانو لره دمخالفت طرف ته مائل كونكي وه ، دايت دتحويل قبله دقصي ابتدائي حصه ده، اوپه تلاوت كي وروسته كړي شوي ده ، دهجرت نه پس په منسوخ شوو احكاموكي اولني حكم همدا دي اوپدي كي اختلاف هم دي چې دهجرت نه مخكي قبله بيت الله وه اوكه بيت المقدس . بعضو ويلي دي چې په مكه كي نبي عليه السلام بيت المقدس طرف ته مونځ كولواو كعبه به ورته هم مخامخ وه ، داحديث امام احمد دابن عباس رضي الله عنهما نه په جيد سند سره نقل كړي دي اوبعضوويلي دي چې مطلقا به ئي بيت المقدس طرف ته مونځ كولواو ددي ذكر ئي ندي كړي چې قبله به ورنه كوم طرف ته وه.

علامه بغوي فرمائي چې په مكه كي نبي عليه السلام كعبي طرف ته مونځ كولواودهجرت كولونه پس چې مديني ته راغي نودبيت المقدس طرف ته متوجه شو، چنانچې ابن جرير دابن عباس رضي الله عنهما نه په جيد سند سره نقل كړي دي چې كله نبي عليه السلام مديني ته هجرت وكړو نو الله تعالي ورته حكم وكړو چې دبيت المقدس طرف مخ ستون كړه، ابن جرير وائي چې اول به نبي عليه السلام دكعبي طرف ته مونځ كولو او بيا په مكه كي داوسيدو په حالت كي ورته دبيت المقدس طرف ته دمونځ كولو حكم اوشو تردي چې دري كاله يي دبيت المقدس طرف ته مونځ اوكړو او بيايي مديني ته هجرت اوكړو ، اولني قول يعني دعلامه بغوي مسلك زيات صحيح او قوي دي اوډير احاديث ددي تائيد كوي پدي كي اختلاف هم دي چې دهجرت نه پس دبيت المقدس طرف ته نبي عليه السلام څومره زمانه مونځ كړي وو دابو داود په نزد باندي دابن عباس په روايت سره اولس مياشتي دي اودطبراني اوبزار په نزد باندي دعمرو بن عوف دروايت مطابق او دابن ابي شيبه او ابوداود وغيره په نزد دابن عباس دروايت مطابق اودامام مالك او سعيد بن مسيب دقول مطابق شپاړس مياشتي وي اودبخاري په نزد هم دبراء بن عازب دروايت مطابق شپاړس مياشتي وي ، حق دادي چې شپاړس مياشتي او يو څو ورځي نبي عليه السلام بيت المقدس طرف ته مونځ كړي دي ځكه چې نبي عليه السلام دمكي نه دربيع الاول په پنځم تاريخ د دوشنبي په ورځ هجرت كړي وو اومديني ته په دولسم ربيع الاول د دوشنبي په ورځ داخل شوي وو او دتحويل قبله حكم دصحيح قول مطابق پنځلسم رجب اوپه دويم هجري كال د بدر دواقعي نه دوه مياشتي

مخکي د زوال په وخت کي شوي وو جمهورو علماؤ دا قول راجح ګرځولي دي اوځوك چې داولس میاشتو قائل دي دهغي وجه داده چې هغوئ ټولي میاشتي ډکي حسابي کړي دي اوپه کومو روایتونوکي چې دیارلس یا نولس یا اتلس میاشتي ذکر شوي دي یا دوه میاشتي یا دوه کاله ذکر شوي دي دا ټول ضعیف اقوال دي په مدینه کي چې کله نبي علیه السلام تشریف فرما وو نو یهودیانو به وئیل چې محمد خوپه دین کي زموږ مخالفت کوي لیکن تابعداري زموږه دقبلي کوي پدي وجه باندي به نبي علیه السلام دا غوښتل چې قبله دي بیت الله شي ، چنانچې نبي کریم صلي الله علیه وسلم جبریل علیه السلام ته خپله دا تمنا ظاهره کړیوه چې بیت الله چونکه زما دپلار نیکه قبله ده نوپدي وجه باندي زما دا خواهش دي چې الله تعالي دا قبله جوړه کړي ،جبرائیل علیه السلام عرض اوکړو چې یقینا زه ستا پشان بنده یم او ته دالله تعالي په نزد باندي دمرتبي په لحاظ زمانه زیات یې پخپله دالله تعالي نه سوال اوکړه نو رسول الله صلي الله علیه وسلم دعا وغوښتله اودالله تعالي دحکم په انتظار کي ئي اسمان طرف ته کتل تر دي چې الله تعالي یې دعا قبوله کړه او مذکوره ایت نازل شو.

****

۲۹٦۳_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "كَانُوا رُكُوعًا فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ". وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ الْمُزَنِيِّ، وَابْنِ عُمَرَ، وَعُمَارَةَ بْنِ أَوْسٍ، وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بیان دي فرمائي چې خلق دسحر مونځ کي په رکوع کي وو.

امام ترمذي وايي: او په دي باب کي دعمرو بن عوف مزني، ابن عمر، عماره بن اوس او انس بن مالك رضي الله عنهم نه هم احادیث وارد دي او ابن عمر حدیث حسن صحیح دي.

****

۲۹٦٤_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، وَأَبُو عَمَّارٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "لَمَّا وُجِّهَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْكَعْبَةِ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، كَيْفَ

---

[1] ـ انظر حدیث رقم ۳۴۱

يَا إِخْوَانِنَا الَّذِينَ مَاتُوا وَهُمْ يُصَلُّونَ إِلَى بَيْتِ الْمَقْدِسِ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ (البقرة: ١٤٣)". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: دعبدالله ابن عباس رضي الله عنهمانه روايت دى فرمائي كله چې رسول الله صلي الله عليه وسلم كعبي ته مخ كول شروع كړل نوصحابه كرامو عرض اوكړو اي دالله رسوله دهغه خلقوبه څه حال وي چاچې دبيت المقدس طرف ته مونځونه كړي دي او وفات شوي دي؟ نوپه دي وخت كې الله تعالي دا ايت كريمه: (وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ) نازل كړو، يعني الله تعالي ستاسو ايمانونه نه بربادوي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

تشريح: وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ... (اوندي الله تعالي چې ضائع كړي ايمان ستاسو) په ليضيع ايمانكم كې دايمان نه مراد ياخوپه ايمان باندي كلكيدل دي اوياپه منسوخ شوي قبله باندي ايمان مراد دي ، اوبعضي مفسرينو وئيلي دي چې دايمان نه مراد مونځ دي ، چنانچې مروي دي چې حيي بن احطب يهودي اودده ملګرو مسلمانانو ته وئيلي ووتاسوچې څومره زمانه بيت المقدس ته مونځونه كړي دي دا هدايت وو اوكه ګمراهي وه كه هدايت وو نوتاسوخو بيا هدايت پريخودواوكه چري ګمراهي وه نوبياخو تاسوپه ګمراهۍ كي دالله تعالي عبادت كړي دي ددي په جواب كي مسلمانانو ووئيل چې هدايت هغه وي په كوم كار چې الله تعالي حكم كړي وي اوګمراهي دهغه دممنوع شده څيزونو ارتكاب دي ترڅوپوري چې بيت المقدس ته دمونځ كولو اجازت ووترهغه وخته پوري هدايت وو اوكله چې ورنه منع راغله نو ګمراهۍ شوه دتحويل قبلي نه مخكي دبنو النجار قبيلي نه اسعد بن زراره اودبني سلمه نه براء بن معرور وفات شوي وو اودوي دواړه دنقباؤ نه وو اوددينه مخكي ډير خلق مړه شوي وو دهغوي عزيزان او اقارب نبي عليه السلام ته راغلل اوعرض ئي وكړو چې اي دالله رسوله الله تعالي خوتاته ابراهيمي قبلي ته دمخ كولو حكم كړي دي اوزمونږ وفات شوو رونړو چې دوفات نه مخكي بيت المقدس ته مونځونه كړي دي دهغوي به څه حال وي؟نوپډي وخت كي الله تعالي دا آيت كريمه وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ نازل كړو ، په صحيحينو كي دبراء بن عازب رضي الله عنه نه مروي دي چې دتحويل قبله نه مخكي ډيرخلق مړه شوي اوشهيدان شوي دي مونږته داعلم نه وو چې دهغوي په باره څه ووايو (يعني مونځونه ئي قبول شوي دي اوكه نه) نو الله تعالي دا آيت كريمه نازل كړو.

---

[1] سنن ابي داود/ السنة ١٦(٤٦٨٠) (تحفة الأشراف: ٦١٠٨)

****

۲۹٦٥_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، قَالَ: سَمِعْتُ الزُّهْرِيَّ يُحَدِّثُ، عَنْ عُرْوَةَ، قَالَ: " قُلْتُ لِعَائِشَةَ: مَا أَرَى عَلَى أَحَدٍ لَمْ يَطُفْ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ شَيْئًا، وَمَا أُبَالِي أَنْ لَا أَطُوفَ بَيْنَهُمَا، فَقَالَتْ: بِئْسَمَا، قُلْتَ: يَا ابْنَ أُخْتِي، طَافَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَطَافَ الْمُسْلِمُونَ، وَإِنَّمَا كَانَ مَنْ أَهَلَّ لِمَنَاةَ الطَّاغِيَةِ الَّتِي بِالْمُشَلَّلِ لَا يَطُوفُونَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا (البقرة:١٥٨) وَلَوْ كَانَتْ كَمَا تَقُولُ لَكَانَتْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ لَا يَطَّوَّفَ بِهِمَا ". قَالَ الزُّهْرِيُّ: فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِأَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ، فَأَعْجَبَهُ ذَلِكَ، وَقَالَ إِنَّ هَذَا لَعِلْمٌ، وَلَقَدْ سَمِعْتُ رِجَالًا مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ، يَقُولُونَ: " إِنَّمَا كَانَ مَنْ لَا يَطُوفُ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ مِنَ الْعَرَبِ، يَقُولُونَ: إِنَّ طَوَافَنَا بَيْنَ هَذَيْنِ الْحَجَرَيْنِ مِنْ أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ، وَقَالَ آخَرُونَ: مِنَ الْأَنْصَارِ إِنَّمَا أُمِرْنَا بِالطَّوَافِ بِالْبَيْتِ وَلَمْ نُؤْمَرْ بِهِ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ (البقرة:١٥٨)، قَالَ أَبُو بَكْرِ بْنُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ فَأُرَاهَا قَدْ نَزَلَتْ فِي هَؤُلَاءِ وَهَؤُلَاءِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دعروه بن زبیر رضي الله عنه بیان دي فرمائي چې ما ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها ته اووئيل ماته په دي کي هيڅ حرج نه ښکاري چې يو بنده دصفا او مروه مينځ کي سعي اونکړي، او ماته دخپل ځان باره کي ددوئ په مينځ کي په طواف نه کولو کي څه حرج نه ښکاري عائشه رضي الله عنها اووئيل اي زما خوريه ډيره بده خبره دي اوکړه رسول الله صلي الله عليه وسلم طواف کړي دي او مسلمانانو هم کړي دي مګر په جاهليت کي داسي زمانه وه چې کوم کسان په مشلل کي وو او دمنات بوت په نوم يي احرام تړلو هغوئ به دصفا او مروه مينځ کي طواف نه کولو نو الله تعالي ايت کريمه "فمن حج البيت اوعتمر فلا جناح عليه ان يطوف بهما" نازل کړو که خبري چري داسي وي لکه چې ته يي وائي نو بيا به ايت داسي نازل شوي وو "فلا جناح عليه ان لا يطوف بهما" زهري وائي ما ددي خبري ذکر ابوبکر بن عبدالرحمن بن حارث بن هشام ته اوکړو نو دهغوئ دا خبره ډيره خوښه شوه او وئيل يي دا دعلم او حکمت خبري دي او وروره ما خو دډيرو اهل علمو نه اوريدلي دي چې کومو عربو به

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الحج ٧٩ (١٦٤٣) . والعمرة ١٠ (١٧٩٠) . وتفسير البقرة ٢١ (٤٤٩٥) . وتفسير النجم ٣ (٤٨٦١) . صحيح مسلم /الحج ٤٣ (١٢٧٧) . سنن ابي داود/ الحج ٥٦ (١٩٠١) . سنن النسائي/الحج ٤٣ (٢٩٨٦) (تحفة الأشراف: ١٦٤٣٨) . والمؤطاء: الحج ٤٢ (١٢٩) . و مسند احمد (٦/١٤٤، ١٦٢، ٢٢٧)

دصفا او مروه مينځ کي طواف نه کولو هغوئ به وئيل زمونږ طواف کول ددي دوه ګټو په مينځ کي دجاهليت دکارونو نه دي او بعضي انصاريانو به وئيل مونږ ته خو دکعبي دطواف حکم شوي دي نه چې دصفا او مروه مينځ کي دطواف کولو نو په همدي وخت کي الله تعالي ايت کريمه "ان الصفا والمروة من شعائر الله" نازل کړو ابوبکر بن عبدالرحمن وائي زما خيال دي چې دا ايت هم دغه کسانو باره کي نازل شوي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي:

تشريح: إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَآئِرِ اللهِ... (يقينا صفا او مروه چې دي دا دالله تعالي دادب دځايونونه دي) صفا او مروه په مکه کي دوه غرونه دي اوشعائر جمع دشعيرة ده په معنا دعلامي سره اودلته دشعائرنه مراد دعبادت طريقي دي ، اوشعائر يي ورته ځکه اوفرمائيل چې دا داطاعت الهيه علامات دي ، په صفا اومروه کي سعي کول په اجماع دامت سره واجب دي ليکن دامام احمد نه روايت دي چې هغه سنت ګڼرلي دي او استدلال يي ددي آيت کريمه نه کړي دي.

فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا... (پس څوك چې حج وکړي دکعبي ياعمره وکړي پس ګناه نشته پده باندي چې طواف وکړي پدي دواړو کي) ځکه چې الله تعالي فرمائي چې په طواف کونکي باندي څه ګناه نشته نومعلومه شوه چې مباح دي اوهمدارنګي راروان آيت: فمن تطوع هم ددوي دپاره دليل دي ځکه چې تطوع نفلوته وئيلي شي اوحق داده چې مباح کيدل اونفل کيدل دواړه دوجوب نه عام دي نوځکه ددي څه منافي اومخالف نشته، په يوڅيز باندي دواجب اومباح دواړو اطلاق کيدي شي حج په لغت کي قصد کولوته وئيلي شي او اعتمار زيارت کولوته اودلته ورنه مراد دوه مخصوص عبادتونه دي ، دمتوسطي طريقي نه انحراف کولو ته جناح وئيلي شي ددي آيت شان نزول داسي دي چې په صفا اومروه کي دوه بتان اساف اونائله پراته وو دجاهليت دوخت خلقوبه ددي بتانو دتعظيم دپاره د صفا اودمروه په مينځ کي طواف کولواودوي به ئي مسح کول ليکن کله چې داسلام نمر راوختلونومسلمانانوبه دصفا اومروه په مينځ کي دسعي کولو نه اجتناب کولواوپه زړه کي به ئي ورنه نفرت کولو، بل طرف ته انصاروبه مخکي داسلام دمنات بت عبادت کولواودهغه په وړاندي به ئي په چغو دعا غوښتله نوپدي وجه باندي انصاروهم دصفا اومروه په مينځ کي دسعي نه نفرت کولونوځکه الله تعالي ددواړو فرقو متعلق دا آيت کريمه نازل کړو. چنانچي داحاديثونه دا تمامه قصه معلوميږي

حاکم دابن عباس رضي الله عنه نه نقل کړي دي چې دصفا اومروه په مينځ کي دجاهليت په زمانه کي به شيطان تمامه شپه طواف کولواودصفا اومروه په مينځ کي بتان پراته وو، کله

چې اسلام راغي نو مسلمانانو ووئيل چې اې دالله رسوله دصفا اومروه په مينځ کې به مونږ طواف نه کوو ځکه چې مونږ به په جاهليت کې داسې کول نو الله تعالى ددې متعلق ان الصفا والمروة من شعائر الله الاية نازل کړو

بخاري په سند دعاصم سره دانس رضي الله عنه نه روايت نقل کړي دې چې دده نه دصفا اومروه په مينځ کې دسعي په باره کې تپوس وکړې شونو ورته نې وفرمائيل چې مونږ به داسلام دظهور نه مخکې به مونږ داسعي دجاهليت عمل ګڼړلو لکن کله چې اسلام راغې نو سعي موپريخودله نو الله تعالى ددې متعلق ان الصفا والمروة من شعائر الله الاية نازل کړو،

اوپه صحيحينو کې دعروه رضي الله عنه نه روايت مروي دې فرمائي چې ام المؤمنين عائشې رضي الله عنها ته مې عرض وکړو چې د فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا نه معلوميږي چې دصفا اومروه په مينځ کې سعي واجب نده عائشې رضي الله عنها چې دا واوريدل نو وئې فرمائيل اې خوريه دادې بده خبره وکړه که چرې دا يت مطلب داوی کوم چې تاووئيلو نو قراني عبارت به داسې وو: فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ لَا يَطَّوَّفَ بِهِمَا، دا آيت دانصارو په باره کې ددوی دمسلمانيدو نه مخکې نازل شوې وو، قصه ددې داسې وه چې انصارو دمنات بت عبادت کولو کله چې مسلمانان شول نو په صفا اومروه کې طواف کول يې بنه نه ګڼړل نو پدې وجه دوی رسول الله ته عرض وکړو چې اې دالله رسوله مونږ به داسلام نه مخکې په صفا اومروه کې سعي کوله اوس نې زمونږ زړونه نه مني نو پدې باره کې الله تعالى دا ايت: ان الصفا والمروة نازل کړو. اوهمدارنګې پدې باندې حديث دحبيبه بنت تجراه کوم چې دصفية بنت شيبه په واسطې سره مروي دې هم دلالت کوي چې په صفا او مروه کې سعي کول واجب دې اوهغه حديث دادې چې حبيبه فرمائي چې ما رسول الله اوليدو چې په صفا اومروه کې نې طواف کولو اونبي عليه السلام دټولو خلقونه وروسته اوخلق ورنه مخکې ووا وپه دومره شدت سره نې سعي کوله چې لنګ ورنه اوغورځيدو اوفرمائيل نې: چې اې خلقو واورئ الله تعالى پتاسو باندې سعي مقرر کړې ده، ددې حديث روايت امام شافعي او امام احمد کړي دې ليکن ددې حديث په سند کې يو راوي عبدالله بن مومل دې اوپه هغه کې څه ضعف نشته اوعلماؤ ورته ضعيف وئيلي دي.

ليکن ابن جوزي وئيلي دي چې يحيي بن معين وئيلي دي چې په عبدالله بن مومل کې څه ضعف نشته . اوداحديث دارقطني په يو بل سند سره هم نقل کړي دې اوپه هغه سند کې يو بل راوي منصور بن عبدالرحمن دې ابو حاتم دهغه متعلق لايحتج به وائي او يحيي بن معين ثقه ګڼړلي دې اوذهبي د مشهورو ثقاتو اودرجالو دمسلم نه بيان کړي دې . حافظ ابن حجر وائي چې دطبراني په نزد باندې داحديث دابن عباس نه په يوبل سند سره هم مروي دې اوکله

چې دا دمخکني سند سره جمع شي نو قوت پیدا کوي. (صاحب د مظهري دلته یو مفصل او مدلل بحث کړی دی، چې مونږ د طوالت په وجه نشو ذکر کولی. والله اعلم.

دعروه بن زبیر رضي الله عنه حالات

نوم عروه کنیه ابوعبدالله دپلار نوم زبیر بن عوام دمور نوم اسماء بنت ابي بکر، دعروه ولادت د عمر فاروق دخلافت په اخر یا دعثمان دخلافت په ابتداء کې شوی وو (تهذیب التهذیب).
دده دورور عبدالله بن زبیر دده په وینا عبدالملك دعبدالله بن زبیر د دفن کولو حکم اوکړو عروه دعلم او عمل مجمع البحرین وو ځکه چې دده پلار زبیر بن عوام حواري رسول وو او دده نیکه ابوبکر صدیق رضي الله عنه او دده ترور ام المؤمنین عائشه رضي الله عنها وه او دده مور اسماء ذات النطاقین وه دده وررور عبدالله هم داهل علمو صحابه کرامو نه وو. په ده کې یو څو خصوصیات وو مثلا صبر او استقامت، عبادت او ریاضت. صبر او شکر. ددنیا نه بې رغبتي او سخاوت وغیره دده ضرب المثل وو.
داحادیثو سره یې ډیره مینه وه چې دعائشه رضي الله عنها نه یې اکثر اوریدلي وو او هغه اعلم الناس وه (تهذیب التهذیب).
دام المومنین تمام علمي ذخیره یې محفوظ کړې وه پخپله فرمائي چې زما دترور دوفات نه څلور پنځه کاله مخکې ما دهغې ټول علم حاصل کړی وو که چرې دا په دې وخت کې مړه وی نو ما به دهغې دکوم حدیث په باقي پاتې کیدو افسوس نه وو کړی (تهذیب التهذیب).
په کال ۹۴ هجري کې په مدینه کې وفات شو (طبقات ابن سعد).
دده مزید حالاتو دپاره لاندیني کتابونه مفید دي ابن اسیر، طبقات ابن سعد. تهذیب الاسماء، تذکرة الحفاظ ابن خلکان.

* * * * * * * * * * * * * * * *

۲۹۶۶ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ أَبِي حَكِيمٍ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ عَاصِمٍ الْأَحْوَلِ، قَالَ: "سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ عَنِ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، فَقَالَ: كَانَا مِنْ شَعَائِرِ الْجَاهِلِيَّةِ، فَلَمَّا كَانَ الْإِسْلَامُ أَمْسَكْنَا عَنْهُمَا فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا (البقرة: ۱۵۸ قَالَ: هُمَا تَطَوُّعٌ وَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ اللَّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ (البقرة: ۱۵۸)" قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الحج ۸۰ (۱۶۴۸) . وتفسير البقرة ۲۱ (۴۴۹۶) . صحيح مسلم /الحج ۴۳ (۱۲۷۸) (تحفة الأشراف : ۹۲۹)

ترجمه: عاصم احول وائي دانس بن مالك نه مي دصفا او مروه باره كي تپوس اوكړو نو هغوئ اووئيل دا دواړه دجاهليت دشعائرو نه وو بيا چې كله اسلام راغي نو مونږ ددوئ دواړو په مينځ كي دطواف كولو نه منع شو تردي چې دي باره كي الله تعالي دا ايت كريمه "ان الصفا والمروة من شعائر الله" نازل كړو پس هر څوك چې دبيت الله طواف دحج دپاره كوي يا عمره كوي دهغه دپاره ددي دواړو په مينځ كي په طواف كولو كي څه حرج نشته ددوئ دواړو مينځ كي طواف (سعي) نفل ده او څوك چې دنيكئ كار دثواب په خاطر اوكړي نو الله تعالي دهغې قدرداني كوي او الله تعالي ورباندي خبردار دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

دعاصم احول حالات:

نوم عاصم دپلار نوم سليمان كنيه ابو عبد الرحمن دبصري اوسيدونكي دي، ثقه دي. او د درميانه درجي تابعي دي ، په ۱۴۰ هجري كي وفات شوي دي اوپه صحاح سته كي ورنه روايات موجود دي.

****

۲۹۶۷ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ قَدِمَ مَكَّةَ طَافَ بِالْبَيْتِ سَبْعًا، فَقَرَأَ " وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى (البقرة :۱۲۵)، فَصَلَّى خَلْفَ الْمَقَامِ، ثُمَّ أَتَى الْحَجَرَ فَاسْتَلَمَهُ، ثُمَّ قَالَ: نَبْدَأُ بِمَا بَدَأَ اللَّهُ وَقَرَأَ: إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ (البقرة :۱۵۸ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي دي چې كله مكي ته راغلو نو دحجر اسود نه يي اوه طوافونه اوكړل او بيا يي دا ايت كريمه "واتخذوا من مقام ابراهيم مصلي" تلاوت كړو او دمقام ابراهيم نه يي شاته مونځ اوكړو او بيا حجراسود ته ورغلو او بشكل يي كړو او بيا يي اوفرمائيل مونږ دهغه څه نه شروع كوو دكوم نه چې الله تعالي شروع كړي ده او بيا يي دا ايت تلاوت كړو "ان الصفا والمروة من شعائر الله".

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

---

[1] ـ انظر حديث رقم ۸۵۶

****

۲۹۶۸_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ إِسْرَائِيلَ بْنِ يُونُسَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْبَرَاءِ، قَالَ: "كَانَ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ الرَّجُلُ صَائِمًا فَحَضَرَ الْإِفْطَارُ فَنَامَ قَبْلَ أَنْ يُفْطِرَ لَمْ يَأْكُلْ لَيْلَتَهُ وَلَا يَوْمَهُ حَتَّى يُمْسِيَ، وَإِنَّ قَيْسَ بْنَ صِرْمَةَ الْأَنْصَارِيَّ كَانَ صَائِمًا، فَلَمَّا حَضَرَ الْإِفْطَارُ أَتَى امْرَأَتَهُ، فَقَالَ: هَلْ عِنْدَكِ طَعَامٌ؟ قَالَتْ: لَا، وَلَكِنْ أَنْطَلِقُ فَأَطْلُبُ لَكَ، وَكَانَ يَوْمَهُ يَعْمَلُ فَغَلَبَتْهُ عَيْنُهُ، وَجَاءَتْهُ امْرَأَتُهُ فَلَمَّا رَأَتْهُ قَالَتْ خَيْبَةٌ لَكَ، فَلَمَّا انْتَصَفَ النَّهَارُ غُشِيَ عَلَيْهِ، فَذَكَرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَى نِسَائِكُمْ (البقرة: ۱۸۷) فَفَرِحُوا بِهَا فَرَحًا شَدِيدًا وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ (البقرة: ۱۸۷)". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه: دبراء بن عازب رضي الله عنه بیان دي فرمائي چې داسلام په ابتداء کې دصحابه کرامو طریقه دا وه چې کله به چا روژه نیوله او دافطار وخت به شروع شو نو دافطار کولو نه مخکې به اوده شونو بیا به یې ټوله شپه او ټوله ورځ خوراك نه کولو ترڅو چې به ماښام شوي نه وو، دقیس بن صرمه انصاري واقعه ده چې هغه روژه نیولې وه کله چې دافطار وخت راغي نو هغه خپلې ښځې ته ورغلو او تپوس یې اوکړو ایا دخوراك دپاره درسره څه شته؟ هغې اوونیل شته خو نه لیکن زه ورځم او ستا دپاره چرته خوراك لټوم نو هغه به ټوله ورځ محنت او مزدوري کوله نو په دې وجه یې سترګې پټې شوي او اوده شو چې ښځه یې واپس راغله نو دې یې اوده بیاموندلو هغې اوونیل اې بدقسمته بیا چې کله ماسپخین شو نو په قیس باندې بیهوشي راغله کله چې رسول الله ته ددې خبرې ذکر اوکړې شو نو دغه وخت کې دا ایت "احل لکم لیلة الصیام الرفث الي نسائکم" نازل شو خلق په دې ډیر خوشحاله شول او بیا ددینه پس دا ایت نازل شو وَكُلُوْا وَاشْرَبُوْا حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْاَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْاَسْوَدِ... (اوخوراك څښاك جاري ساتئ تردې چې ښکاره شي تاسو ته هغه مزي سپین دمزي تور نه) یعني تاسو خوراك او څښاك کوئ تر څو چې تاسو داسمان په کنارو کې سپینه کرخه لیدلې نه وي.

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح/الصوم ۱۵ (۱۹۱۵). سنن ابي داود/ الصوم ۱ (۲۳۱۳). سنن النسائي/الصوم ۲۹ (۲۱۶۰) (تحفة الأشراف: ۱۸۰۱). و مسند احمد (۴/۲۹۵). وسنن الدارمي/الصيام ۷ (۱۷۳۵)

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

تشريح: وَكُلُوْا وَاشْرَبُوْا حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْاَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْاَسْوَدِ دخيط ابيض نه مراد دورخي رنړا ده اودخيط اسود نه مراد دشپې تياره ده دخيط ذکر يي ځکه اوکړو چې کله دسحر ابتداء کيږي نودجنوب نه شمال طرف ته داسمان په کناره کي يوه پتله ښکاره شي او من الفجر د الخيط الابيض نه حال دي اوددي دپاره بيان دي، اودخيط اسود بيان يي ځکه اونکړو چې کله په خيط ابيض سره مراد سحر دي نودخيط اسود نه شپه مراد کول پخپله سرګند شو او په من الفجر کي من ياخودتبغيض دپاره دي اومعني داده په داسي حال کي چې خيط ابيض پخپله دسحر حصه وي اوصراحتا حتي يتبين الفجر يي اونه فرمائيل داددي دپاره چې معلومه شي چې ددي ادني حصه هم معلومه شي نوخوراك بندول پکاردي اوبغير دخيط اسود دذکر کولو نه يي هم اونه فرمائيل چه: حتي يتبين لکم الخيط الابيض من الفجر، داددي دپاره چې په دي خبره دلالت اوکړي چې دفجر نه مراد صبح صادق دي، ځکه چې صبح صادق يوداسي سپين تار وي چې دجنوب دطرف نه شمال طرف ته خور شوي وي اوددي سره متصل ددي نه لږ مخکي يو تور تار چې اوږد وي ختم شي اوددينه پس دتياري په تمامو اطرافو احاطه اوکړي، اوداهم کيدي شي چې من الفجر د الخيط الاسود او د الخيط الابيض دپاره بيان وي ځکه چې په سحر کي دواړه خبري موجودي وي تياره هم وي اورنړا هم وي او داترکيب اولي دي ځکه چې په دي صورت کي به د حال او ذوالحال په مينځ کي فصل په اجنبي سره لازم نه شي والله اعلم.

دسمره بن جندب رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي خلقو دبلال داذان او دسحر داوږدوالي په وجه تاسو دپيشمني خوراك مه بندوئ بلکه دهغه وخته پوري تاخير اوکړئ چې داسمان په کنارو کي رنړا نه وي راښکاره شوي ، ترمذي.

دعبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي اي خلقو دبلال اذان دشپې وي خوتاسو دابن ام مکتوم داذان اوريدو پوري دپيشمني خوراك جاري اوساتئ . راوي وائي چې ابن ام مکتوم نابينا وو اواذان به يي په هغه وخت کي کولو چې يوځوپيري به ورته اووئيلي شول چې صبا شوي دي.

که څوك دا اعتراض اوکړي چې دعلي رضي الله عنه نه ثابت دي چې هغه دسحر دمونځ نه پس اوفرمائيل اوس سپين تار دتور تار نه جدا شو ددي حديث روايت ابن منذر کړي دي او همدارنګي ابن منذر په صحيح سند سره ابوبکر رضي الله عنه نه روايت بيان کړي دي چې هغه فرمائيلي دي که چري دخوراك دشوق اودحرص الزام خطره نه وي نو ما به دسحر دمونځ

نه پس پیشمني کولي ، همدارنګي ابن منذر او ابن ابي شیبه دابوبکر صدیق رضي الله عنه نه روایت نقل کړي دي چې هغه حکم فرمائیلي وو په بندولو ددروازو سره ترڅو چې صبا نه وي لیدلي شوي، پس دا ټول اثار په دي خبره واضح دلالت کوي چې دصبا دخوریدو نه پس خوراك كول جائز دي نو اوس به ددي اقوالو څه توجیه وي.

****

٢٩٦٩_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ ذَرٍّ، عَنْ يُسَيْعٍ الْكِنْدِيِّ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْلِهِ: "وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ (غافر :٦٠)"، قَالَ: "الدُّعَاءُ هُوَ الْعِبَادَةُ"، وَقَرَأَ وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِلَى قَوْلِهِ: دَاخِرِينَ (غافر :٦٠)". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دنعمان بن بشیر رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي چې دعا عبادت دی الله تعالي فرمائیلي دي زمانه اوغواړئ زه به ستاسو سوال قبول کړم.
امام ترمذي وايي: داحدیث حسن صحیح دي او دا حدیث منصور نقل کړي دي.

****

٢٩٧٠_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا حُصَيْنٌ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، أَخْبَرَنَا عَدِيُّ بْنُ حَاتِمٍ، قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ (البقرة :١٨٧)، قَالَ لِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّمَا ذَاكَ بَيَاضُ النَّهَارِ مِنْ سَوَادِ اللَّيْلِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [2]

ترجمه : دعدي بن حاتم نه روایت دی فرمائي چې کله ایت کریمه : (حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الأَسْوَدِ) نازل شو نو ماته رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل ددینه مراد د ورځي سپینوالی دی د شپي دتوروالي نه.
امام ترمذي وايي: داحدیث حسن صحیح دي.

---

[1] _ سنن ابي داود/ الصلاة ٣٥٨ (١٤٧٩) . سنن ابن ماجه/الدعاء ١ (٣٨٢٨) (تحفة الأشراف : ١١٦٤٣) . و مسند احمد (٤/٢٧١، ٢٧٦) . ويأتي برقم ٣٢٤٧

[2] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الصوم ١٦ (١٩١٦) . وتفسير البقرة ٢٨ (٤٥٠٩) . صحيح مسلم/الصوم ٨ (١٠٩٠) . سنن ابي داود/الصوم ١٧ (٢٣٤٩) (تحفة الأشراف : ٩٨٥٦) . و مسند احمد (٤/٣٧٧) . وسنن الدارمي/الصوم ٧ (١٧٣٦)

****

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، حَدَّثَنَا مُجَالِدٌ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ ذَلِكَ. (1)

ترجمه : شعبي دعدي بن حاتم په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي

****

۲۹۷۱ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مُجَالِدٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الصَّوْمِ، فَقَالَ: "حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الأَسْوَدِ (البقرة: ۱۸۷) قَالَ: فَأَخَذْتُ عِقَالَيْنِ، أَحَدُهُمَا أَبْيَضُ، وَالآخَرُ أَسْوَدُ، فَجَعَلْتُ أَنْظُرُ إِلَيْهِمَا، فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا لَمْ يَحْفَظْهُ سُفْيَانُ، قَالَ: إِنَّمَا هُوَ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : دعدي بن حاتم نه روايت دی فرمائي چې كله ايت كريمه : (حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الأَسْوَدِ) نازل شو نو ما دوه پړي راواخستل چې يو پكي سپين او بل تور وو، او ورته مي كتل عدي بن حاتم راوي وايي چې ددي نه پس چې راته رسول الله صلي الله عليه وسلم څه جواب راكړو هغه راته ياد نه دی شايد چې داسي يي اوفرمائيل: دسپين اوتور مزي نه مراد دشپي تياره اورڼا ده ،

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

تشريح ، دعدي بن حاكم رضي الله عنه نه روايت دي چې كله ايت كريمه "حتي يتبين لكم الخيط الابيض من الخيط الاسود" نازل شو نو ما يو تور تار او بل سپين تار راواغستل اودخپل بالخت لاندي مي كيخودل اودشپي مي ورته كتل نوپه دوئ كي راته هيڅ فرق معلوم نه شو كله چې سحر شو نودنبي عليه السلام په خدمت كي حاضر شوم او ددي ذكر مي ورته اوكړو نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ددينه خوددي شپي توراولي اودورځي سپينوالي مراد دي (بخاري او مسلم).

---

1 ـ تفرد به المؤلف. وانظر ماقبله (تحفة الأشراف: ۹۸٦٤)

2 ـ تفرد به المؤلف.

اوپه يو بل روايت كي دي چې نبي عليه السلام ورته اوفرمائيل ته خو عريض القفا (پلن څټ والايي يعني كم عقل يې) دا خو دشپې توروالي اودورځې سپينوالي وي.

دسهل بن سعد رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې كله كلوا وشربوا حتى يتبين لكم الخيط الابيض من الخيط الاسود نازل شو اوددغه وخته پوري من الفجر نه وو نازل شوي نوډيروخلقوبه داسي كول چې كله به يې دروژې نيولو اراده كوله نوپخپلودواړو خپوكي به يې سپين او تور تار اوتړلو اوخوراك به يې كولو كله چې به ورته هغه دواړه ښه ښكاره شول نوخوراك به يې پريښودو خوكله چې الله تعالى من الفجر لفظ نازل كړو نوهغوئ په دي پوهه شول چې ددي نه مراد دشپې توروالي اودورځې سپينوالي دي (بخاري مسلم).

****

٢٩٧٢ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا الضَّحَّاكُ بْنُ مَخْلَدٍ، عَنْ حَيْوَةَ بْنِ شُرَيْحٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ أَسْلَمَ أَبِي عِمْرَانَ التُّجِيبِيِّ، قَالَ: كُنَّا بِمَدِينَةِ الرُّومِ فَأَخْرَجُوا إِلَيْنَا صَفًّا عَظِيمًا مِنَ الرُّومِ، فَخَرَجَ إِلَيْهِمْ مِنَ الْمُسْلِمِينَ مِثْلُهُمْ أَوْ أَكْثَرُ، وَعَلَى أَهْلِ مِصْرَ عُقْبَةُ بْنُ عَامِرٍ، وَعَلَى الْجَمَاعَةِ فَضَالَةُ بْنُ عُبَيْدٍ، فَحَمَلَ رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ عَلَى صَفِّ الرُّومِ حَتَّى دَخَلَ فِيهِمْ، فَصَاحَ النَّاسُ وَقَالُوا: سُبْحَانَ اللَّهِ يُلْقِي بِيَدَيْهِ إِلَى التَّهْلُكَةِ، فَقَامَ أَبُو أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيُّ، فَقَالَ: "يَا أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّكُمْ تَتَأَوَّلُونَ هَذِهِ الْآيَةَ هَذَا التَّأْوِيلَ، وَإِنَّمَا أُنْزِلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ فِينَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ لَمَّا أَعَزَّ اللَّهُ الْإِسْلَامَ وَكَثُرَ نَاصِرُوهُ، فَقَالَ: بَعْضُنَا لِبَعْضٍ سِرًّا دُونَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ أَمْوَالَنَا قَدْ ضَاعَتْ وَإِنَّ اللَّهَ قَدْ أَعَزَّ الْإِسْلَامَ وَكَثُرَ نَاصِرُوهُ فَلَوْ أَقَمْنَا فِي أَمْوَالِنَا فَأَصْلَحْنَا مَا ضَاعَ مِنْهَا، فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَلَى نَبِيِّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرُدُّ عَلَيْنَا مَا قُلْنَا: وَأَنْفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ (البقرة: ١٩٥) فَكَانَتِ التَّهْلُكَةُ الْإِقَامَةَ عَلَى الْأَمْوَالِ وَإِصْلَاحِهَا وَتَرْكَنَا الْغَزْوَ فَمَا زَالَ أَبُو أَيُّوبَ شَاخِصًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ حَتَّى دُفِنَ بِأَرْضِ الرُّومِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. ([1])

ترجمه: دابو عمران اسلم تجيبي بيان دي فرمائي چې مونږ په روم ښار كي وو او روميانو يو لوي جماعت په مونږ باندي دحملي كولو دپاره راووتلو مسلمانان هم دهغوئ پشان بلكه دهغوئ نه په زيات تعداد كي ددوئ دمقابلي دپاره راووتل، عقبه بن عامر رضي الله عنه دمصر والي وو او فضاله بن عبيد رضي الله عنه دفوج سفه سالار وو يو مسلمان د روميانو په

[1] سنن ابي داود/ الجهاد ٢٣ (٢٥١٢) (تحفة الأشراف: ٣٤٥٢)

صف حمله اوکړه او په دوئ کي ورننوتل خلقو چغي وهلي اوه دا اواز يي کولو سبحان الله دد خو پخپله هلاکت ته ورودانګل ددي خبري په اوريدو ابو ايوب انصاري رضي الله عنه اودريدو او وئيل يي اي خلقو تاسو په دي ايت کي دا تاويل کوئ، او دا ايت خو ستاسو انصارو باره کي نازل شوي دي، کله چې الله تعالې اسلام ته طاقت ورکړو او مددګاران يي زيات شول نو په مونږ کي بعضي کسانو درسول الله صلي الله عليه وسلم نه په پټه پخپل مينځ کي درازداري په حال کي اووئيل چې زمونږ مالونه برباد شول (يعني فصلونه تباه شول) الله تعالي اسلام ته قوت او طاقت ورکړو او حمايتيان يي زيات شول نو اوس که مونږ خپل کاروبار او فصلونو ته توجه اوکړو نو چې کوم نقصان زمونږ شوي دي دهغي کمي به پوره شي چنانچې په مونږ کي چې چا دا خبره کړي وه دهغو په ترديد کي الله تعالي پخپل نبي دا ايت "وانفقوا في سبيل الله ولاتلقوا بايديکم الي التهلکة" يعني دالله تعالي په لار کي خرچ کوئ او خپل خانونه پخپلو لاسونو په هلاکت کي مه غورځوئ، نازل کړو، پس هلاکت دا وو چې دمالي حالت په درست کولو کي کوشش اوکړي شي او جهاد پريخودي شي همدا وجه ده چې ابو ايوب انصاري رضي الله عنه دالله په لار کي دجهاد کولو ديوي علامي او هدف حيثيت اختيار کړي وو تردي پوري چې دروم په زمکه کي دفن کړي شي.

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح غريب دي.

****

٢٩٧٣ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا مُغِيرَةُ، عَنْ مُجَاهِدٍ، قَالَ: قَالَ كَعْبُ بْنُ عُجْرَةَ: "وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَفِيَّ أُنْزِلَتْ هَذِهِ الآيَةَ وَإِيَّايَ عَنَى بِهَا فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِنْ صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ (البقرة :١٩٦)، قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحُدَيْبِيَةِ وَنَحْنُ مُحْرِمُونَ، وَقَدْ حَصَرَنَا الْمُشْرِكُونَ وَكَانَتْ لِي وَفْرَةٌ فَجَعَلَتِ الْهَوَامُّ تَسَاقَطُ عَلَى وَجْهِي، فَمَرَّ بِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: كَأَنَّ هَوَامَّ رَأْسِكَ تُؤْذِيكَ، قَالَ: قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: فَاحْلِقْ، وَنَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ"، قَالَ مُجَاهِدٌ: الصِّيَامُ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ، وَالطَّعَامُ لِسِتَّةِ مَسَاكِينَ، وَالنُّسُكُ شَاةٌ فَصَاعِدًا ".[1]

ترجمه: دمجاهد بيان دي کعب بن عجره رضي الله عنه فرمائيلي دي زما دي په هغه ذات قسم وي دچا په لاس کي چې زما روح دي دا ايت "فمن کان منکم مريضا" الخ، زما په باره کي نازل شوي دي مونږ په حديبيه مقام کي موجود وو او احرامونه مو تړلي وو او مشرکانو

[1] ـ انظر حديث رقم ٩٦٣ (تحفة الأشراف : ١١١١٣، و١١١١٦)

مونږ حصار کړي وو زما ويخته د اوګو دسرونو سره برابر وو او د سر سپږي به مي په مخ راپريوتلي چې دي دوران کې زمونږ په خوا کې دنبي کريم صلي الله عليه وسلم تيريدل اوشول مونږ ته چې يې اوکتل نو ويې فرمائيل داسي ښکاري چې ستاسو دسرونو سپږي تاسو ته تکليف رسوي ما اووئيل هو همداسي ده رسول الله اوفرمائيل سرونه اوخروئ او بيا مذکوره ايت نازل شو، مجاهد وائي روژي دري ورځي دي، او خوراك ورکول شپږو مسکينانو ته دي او قرباني کم از کم ديوګډ يا چيلۍ ده او ددينه زيات هم درست دي.

دابومحمد كعب بن عجره رضي الله عنه حالات

نوم كعب كنيه ابو محمد په يوه غزوه کې يې لاس کټ شوی وو او دسر ويخته يې ګنړ وو (طبقات ابن سعد).

دهجرت نه پس مسلمان شوی وو او دمسلمانيدو نه پس يې په تمامو غزواتو کې شرکت کړی دی په غزوه حديبيه کې هم درسول الله صلي الله عليه وسلم سره موجود وو دويختو دګنړوالي په وجه يې په سر کې دومره ډيري سپږي شوي وي چې په مخ به يې رارواني وي نو رسول الله ورته دويختو کټ کولو مشوره ورکړه نو بيا يې ددينه پس کټ کړل دده په سيرت کې دحق حمايت او حب رسول سر پهرست دي دکعب رضي الله عنه په اخلاقو کې دا دوه څيزونه ډير روښانه دي چې يو ځل درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شو چې درسول الله رنګ دلوږي په وجه تغير شوی وو نو دی فورا پوهه شو او ديهودي اوښ يې اوبه کولو ده به اوښ ته يوه بوکه اوبه په يوه کجوره اچولي کله چې يو څو کجوري ورسره جمع شوي نو هغه يې درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کې حاضري کړي (الاصابه).

دهجرت په ۵۱ کال کې کله چې دده عمر ۷۵ کلونه وو په مدينه کې وفات شو او درواياتونو تعداد يې ۴۷ دی.

****

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِ ذَلِكَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.(1)

ترجمه: ابن ابي ليلي دكعب بن عجره رضي الله عنه په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه ددي هم معني روايت نقل کړي دي.

---

1 ــ انظر حديث رقم ۹۵۳

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، عَنْ أَشْعَثَ بْنِ سَوَّارٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَعْقِلٍ، عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِ ذَلِكَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الأَصْبَهَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَعْقِلٍ نَحْوَ هَذَا أَيْضًا. (1)

ترجمه: كعب بن عجره رضي الله عنه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه د سابقه روايت هم معني حديث نقل كړي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او همدا رنګي داحديث عبدالرحمن بن اصبهاني دعبدالله بن معقل په سند ددي هم معني نقل كړي دي.

****

٢٩٧٤ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، قَالَ: " أَتَى عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أُوقِدُ تَحْتَ قِدْرٍ وَالْقَمْلُ يَتَنَاثَرُ عَلَى جَبْهَتِي، أَوْ قَالَ: حَاجِبَيَّ، فَقَالَ: أَتُؤْذِيكَ هَوَامُّ رَأْسِكَ. قَالَ: قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: فَاحْلِقْ رَأْسَكَ وَانْسُكْ نَسِيكَةً، أَوْ صُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ، أَوْ أَطْعِمْ سِتَّةَ مَسَاكِينَ. قَالَ أَيُّوبُ: لَا أَدْرِي بِأَيَّتِهِنَّ بَدَأَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه: دكعب بن عجره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم زما خواته تشريف راوړو او دغه وخت كي ما ديو ديګ لاندي اور بلولو او سپږي زما په تندي يا په وروزو راخوريدلي رسول الله اوفرمائيل ايا ستا دسر سپږي تاته تكليف نه رسوي ما اووئيل ولي نه رسول الله اوفرمائيل سر اوخره وه او په بدله كي قرباني اوكړه، او يادري روژې اونيسه، او يا شپږو مسكينانو ته خوراك وركړه، ايوب راوي وائي ماته ياد نه دي چې زما استاذ په دي څيزونو كي كوم يو څيز مخكي ذكر كړي وو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

---

1 ـ انظر حديث رقم ٩٥٣

2 ـ انظر حديث رقم ٩٥٣

٢٩٧٥_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ عَطَاءٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَعْمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الْحَجُّ عَرَفَاتٌ الْحَجُّ عَرَفَاتٌ الْحَجُّ عَرَفَاتٌ، أَيَّامُ مِنًى ثَلَاثٌ، فَمَنْ تَعَجَّلَ فِي يَوْمَيْنِ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ وَمَنْ تَأَخَّرَ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ (البقرة: ٢٠٣)، وَمَنْ أَدْرَكَ عَرَفَةَ قَبْلَ أَنْ يَطْلُعَ الْفَجْرُ فَقَدْ أَدْرَكَ الْحَجَّ ". قَالَ ابْنُ أَبِي عُمَرَ، قَالَ سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ: وَهَذَا أَجْوَدُ حَدِيثٍ رَوَاهُ ٦٣)الثَّوْرِيُّ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَرَوَاهُ شُعْبَةُ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ عَطَاءٍ، وَلَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ بُكَيْرِ بْنِ عَطَاءٍ. ([1])

ترجمه : دعبدالرحمن بن يعمر رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي حج په عرفات کي حاضري کول دي، حج په عرفات کي حاضري کول دي، حج په عرفات کي حاضري کول دي، او په مني کي دقيام ورځي دري دي مګر څوك چې جلتي اوکړي او په دوه ورځو کي واپس شي نو څه ګناه نشته او څوك چې دري ورځي پوره کړي په هغه باندي هم ګناه نشته او څوك چې دسبا کيدو نه مخکي عرفي ته ورسيږي هغه خپل حج پوره کړو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي، ابن ابي عمر وائي دسفيان بن عيينه قول دي چې دا دثوري په احاديثو کي دټولو نه عمده حديث دي چې کوم يي نقل کړي دي دا حديث شعبي دبکير بن عطاء نه نقل کړي دي او دا حديث مونږ صرف دبکير بن عطاء په سند پيژنو.

****

٢٩٧٦_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَبْغَضُ الرِّجَالِ إِلَى اللَّهِ الْأَلَدُّ الْخَصِمُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. ([2])

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دالله تعالي په نزد دټولو نه زيات قابل دنفرت هغه کس دي څوك چې دنورو نه زيات جګړه مار وي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي.

[1] _ انظر حديث رقم ٨٨٩

[2] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /المظالم ١٥ (٢٤٥٧) . وتفسير سورة البقرة ٣٧ (٤٥٢٣) . والأحكام ٣٤ (٧١٨٨) . صحيح مسلم/العلم ٢ (٢٦٦٨) . سنن النسائي/القضاة ٣٤ (٥٤٢٥) (تحفة الأشراف : ١٦٢٤٨) . و مسند احمد (٦/٥٥، ٦٣، ٢٠٥)

****

٢٩٧٧_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنِي سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: كَانَتِ الْيَهُودُ إِذَا حَاضَتِ امْرَأَةٌ مِنْهُمْ لَمْ يُؤَاكِلُوهَا وَلَمْ يُشَارِبُوهَا وَلَمْ يُجَامِعُوهَا فِي الْبُيُوتِ. " فَسُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ قُلْ هُوَ أَذًى (البقرة :٢٢٢) فَأَمَرَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُؤَاكِلُوهُنَّ وَيُشَارِبُوهُنَّ، وَأَنْ يَكُونُوا مَعَهُنَّ فِي الْبُيُوتِ، وَأَنْ يَفْعَلُوا كُلَّ شَيْءٍ مَا خَلَا النِّكَاحَ. فَقَالَتِ الْيَهُودُ: مَا يُرِيدُ أَنْ يَدَعَ شَيْئًا مِنْ أَمْرِنَا إِلَّا خَالَفَنَا فِيهِ، قَالَ: فَجَاءَ عَبَّادُ بْنُ بِشْرٍ، وَأُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَاهُ بِذَلِكَ وَقَالَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَفَلَا نَنْكِحُهُنَّ فِي الْمَحِيضِ، فَتَمَعَّرَ وَجْهُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ قَدْ غَضِبَ عَلَيْهِمَا، فَقَامَا فَجَاءَتْهُمَا هَدِيَّةٌ مِنْ لَبَنٍ، فَأَرْسَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي آثَارِهِمَا فَسَقَاهُمَا فَعَلِمْنَا أَنَّهُ لَمْ يَغْضَبْ عَلَيْهِمَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ. ([1])

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې كله به په يهوديانو كي كومه ښځه حائضه شوه نو هغوئ به دځان سره خوراك ته نه پريخودله او نه به يي څښاك ته دځان سره پريخودله او نه به يي په كور كي دځان سره اوسيدو ته پريخودله كله چې دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دي باره كي تپوس اوكړي شو نو په دي موقعه الله تعالي دا ايت كريمه " وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ قُلْ هُوَ أَذًى " نازل كړو بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم دوئ ته حكم اوكړو چې دوئ به دځان سره خوراك او څښاك ته پريږدئ او په كورونو كي به يي اوسيدو ته پريږدئ او دمجامعت نه علاوه هر څه كولي شئ يهوديانو اووئيل دا كس داسي دي چې زمونږ هيڅ يو كار دمخالفت كولو نه بغير نه پريږدي، عباد بن بشر او اسيد بن حضير رضي الله عنهما نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته راغلل او ديهوديانو دا خبره يي بيان كړه او عرض يي اوكړو اي

[1] _ صحيح مسلم/الحيض ٣ (٣٠٢) . سنن ابي داود/ الطهارة ١٠٣ (٢٥٨) . والنكاح ٤٧ (٢١٦٥) . سنن النسائي/الطهارة ١٨١ (٢٨٩) . والحيض ٨ (٣٦٩) . سنن ابن ماجه/الطهارة ١٢٥ (٦٤٤) (تحفة الأشراف : ٣٠٨) . و مسند احمد (٣/٢٤٦) . وسنن الدارمي/الطهارة ١٠٦ (١٠٩٣)

دالله رسوله ايا مونږ په حالت دحيض کي مجامعت اونکړو؟ ددي خبري په اوريدو سره درسول الله دمخ رنګ بدل شو تردي پوري چې مونږ پوه شو چې رسول الله ددوئ دواړو نه سخت خفه شو او ددوئ نه پاڅيدو (خپل کور ته لاړو) ددوئ دوتلو سره سم رسول الله ته شوده په هديه کي راوليږلي شول نو رسول الله په دوئ پسي څوک اوليږل او هغوئ راغلل رسول الله په دوئ دواړو شوده اوڅکل دکوم په وجه چې هغوئ ته دا معلومه شوه چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ددوئ نه خفه نه دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

دانس رضي الله عنه نه په مذکوره سند هم دماقبل هم معني روايت مروي دي.

****

٢٩٧٨_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ ابْنِ الْمُنْكَدِرِ، سَمِعَ جَابِرًا، يَقُولُ: "كَانَتِ الْيَهُودُ، تَقُولُ: مَنْ أَتَى امْرَأَتَهُ فِي قُبُلِهَا مِنْ دُبُرِهَا كَانَ الْوَلَدُ أَحْوَلَ. فَنَزَلَتْ نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ (البقرة: ٢٢٣) ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه دابن السنکدر بيان دي دجابر رضي الله عنه نه مي اوريدلي دي فرمائيل يي يهوديانو به وئيل چاچي راتلل وکړل خپلي ښځي ته په مخامخ طرف شرمګاه کي د شا دطرفه نو بچي به يي کوږسترګي پيدا کيږي، نو دي وخت کي دا ايت کريمه: نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ (البقرة: ٢٢٣)، نازل شو.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دی.

****

٢٩٧٩_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ ابْنِ خُثَيْمٍ، عَنِ ابْنِ سَابِطٍ، عَنْ حَفْصَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فِي قَوْلِهِ: " نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ (البقرة: ٢٢٣) يَعْنِي صِمَامًا وَاحِدًا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَابْنُ خُثَيْمٍ هُوَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُثْمَانَ بْنِ خُثَيْمٍ، وَابْنُ سَابِطٍ هُوَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَابِطٍ الْجُمَحِيُّ الْمَكِّيُّ، وَحَفْصَةُ هِيَ بِنْتُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ

1_ اورده البخاري في الجامع الصحيح /تفسير البقرة ٣٩ (٤٥٢٨). صحيح مسلم/النكاح ١٩ (١٤٣٥). سنن ابی داود/ النكاح ٤٦ (٢١٦٣). سنن ابن ماجه/النكاح ٢٩ (١٩٢٥) (تحفة الأشراف: ٣٠٢٢). وسنن الدارمی/الطهارة ١١٣ (١١٤٢). والنكاح (٢٦٦٠)

الصِّدِّيقِ، وَيُرْوَى "فِي سِمَامٍ وَاحِدٍ".(1)

ترجمه : دام المؤمنين ام سلمه رضي الله عنها نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دا ايت كريمه " نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ " په تفسير كي اوفرمائيل ددينه مراد په يوه لاره كي دخول كول دي. ، او د ابن خثيم نوم عبد الله بن عثمان بن خثيم دى، اود ابن سائط نوم عبد الرحمن بن عبد الله بن سائط دى، چي دمكي اوسيدونكي دي، اود حفصه نه مراد حفصه بنت عبد الرحمن بن ابي بكر ده، اوفي صمام واحد الفاظ هم مروي دي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي

****

٢٩٨٠_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْأَشْعَرِيُّ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ أَبِي الْمُغِيرَةِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: جَاءَ عُمَرُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، هَلَكْتُ، قَالَ: "وَمَا أَهْلَكَكَ؟" قَالَ: حَوَّلْتُ رَحْلِي اللَّيْلَةَ، قَالَ: فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا، قَالَ: فَأَنْزَلَ اللهُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذِهِ الْآيَةَ: نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ (البقرة :٢٢٣) أَقْبِلْ وَأَدْبِرْ وَاتَّقِ الدُّبُرَ وَالْحَيْضَةَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَيَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْأَشْعَرِيُّ هُوَ يَعْقُوبُ الْقُمِّيُّ.(2)

ترجمه : دا بن عباس رضي الله عنهما بيان دي چي عمر فاروق د نبي كريم صلي الله عليه وسلم خدمت كي حاضر شو او عرض يي وكړو اي د الله رسوله هلاك شوم، رسول الله ورته اوفرمائيل څه شي هلاك كړي؟ هغه ووئيل د شپي مي سورلئ بدله كړه (يعني د ښځي سره مي د مخامخ طرف په ځاي په شا طرف كي جماع وكړله) دا بن عباس رضي الله عنهما بيان دي چي ددي خبري په اوريدو رسول الله هيڅ جواب ورنكړو، ترڅي چي په دي باره كي دا ايت كريمه " : نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ (البقرة :٢٢٣)" زنانه ستاسو پټي د كروندى دي ستاسو د پاره. نو راځئ خپل پټي ته څنګه چي ستاسو خوښه وي، نازل شو.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن غريب دى

[1] _تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٨٢٥٢)

[2] _ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف : ٥٤٦٩) . وانظر مسند احمد (١/٢٩٧)

تشریح نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ. جابر رضي الله عنه فرمائیلي دي. یهودیانو به ونیل چې ښځې سره د شا د طرف نه (په فرج کي) راشيْ نو بچې کوږ سترګی پیدا کیږي. نو دا ایت نازل شو. (صحیح بخاري صحیح مسلم)

انصار به خپلو ښځو ته د شا د طرف نه راتلل او یهودو به وئیل چې چا ښځې ته د شا د طرف نه راتلل اوکړل نو بچې به کوږ سترګی وي. نو دا ایت نازل شو. (رواه احمد و روي الترمذي في ابواب التفسیر وسنده صحیح)

فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ. حرثْ د کروندې ځایْ چې په هغې کي فصل کیږي. نو د زنانه د بچې د پیدا کیدلو ځایْ چې د هغې فرج دی. نو په دې کي د جماع کولو د ځایْ تعین اوشو. او آنَّی د کَیْفَ په معنی سره دی څنګه مو چې خوښه وي.

د جماع اداب څه خو په دې ایت کي او وړاندې ایت کي ذکر شول

نور اداب د جماع دا دي.

(۱) چې کله جماع اراده اوکړي. نو دا دعا به وائي. بِسْمِ اللهِ. اَللّٰهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطٰنَ وَجَنِّبِ الشَّيْطٰنَ مَا رَزَقْتَنَا.

په نوم د الله تعالی. ای الله مونږ د شیطان نه محفوظ اوساتی او کوم اولاد چې ته مونږ له راکوی هغه هم د شیطان نه بچ اوساتی.

رسول الله صلی الله علیه سلم فرمائیلی دي. که چرې تاسو کي یو تن خپلې بي بي ته راغی او دا دعایې اولوستله او الله تعالی د دوي دپاره بچې لیکلی وي. نو شیطان هیچرې دې بچې ته نقصان نه شي رسولی.

(۲) که په دوباره جماع کول غواړي. نو اودس دې اوکړي.

رسول الله صلی علیه وسلم فرمائیلی دي. کله چې تاسو کي یو تن جماع اوکړی او بیا دوباره جماع کول غواړي نو د دې دواړو په مینځ کي دې اودس اوکړي. (صحیح مسلم)

(۳) عزل دې نه کوي. الله تعالی چې تقدیر کي کوم بچې مقرر کړی دې هغه به پیدا کیږي. زمونږ په حصه کي څه وینځې راغلې. (نو چې مونږ به (د هغوي سره) کوروالی کوؤ. نو مونږ به مني د فرج نه بهر تویوله. نو مونږ د رسول الله صلی الله علیه السلام نه تپوس اوکړو. نو هغوي اوفرمائیل. آیا تاسو دا کار کوی (درې ځله یې اوفرمائیل. بیا یې اوفرمائیل) هر هغه نفس چې پیدا کیدونکی دی د قیامته پوری. نو هغه به خامخا پیدا کیږي (متفق علیه. کتاب النکاح).

(۴) که چرې وینځه چاته په لاس راشي. نو تر هغې پورې به ورسره جماع نهٔ کوي. تر څو چې د هغې حیض نه وي راغلی. چې حیض یې راشي او بیا پاکه شي. نو کوروالی ورسره جائز دی. (ترمذی کتاب النکاح وسنده صحیح)

(۵) چې كومه وينځه حامله وي او په لاس راشي نو څو پورې چې بچى نه وي پيدا شوى يا حمل نه وي غورځيدلى نو جماع كول ورسره منع دي. (صحيح مسلم كتاب النكاح)

(۶) رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: يقيناً په خلقو كي ډير ناكاره خلق د قيامت په ورځ د الله تعالى په نيز هغه دي چې د خپلى ښځى نه حاجت پوره كړي او هغه بيا د ښځى پټى خبرى خلقو ته ښكاره كوي (يعنى د ښځى پټى خبرى ښكاره كول نه دي پكار) (صحيح مسلم كتاب النكاح)

****

۲۹۸۱ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا الْهَاشِمُ بْنُ الْقَاسِمِ، عَنِ الْمُبَارَكِ بْنِ فَضَالَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ، "أَنَّهُ زَوَّجَ أُخْتَهُ رَجُلًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَكَانَتْ عِنْدَهُ مَا كَانَتْ ثُمَّ طَلَّقَهَا تَطْلِيقَةً لَمْ يُرَاجِعْهَا حَتَّى انْقَضَتِ الْعِدَّةُ، فَهَوِيَهَا وَهَوِيَتْهُ ثُمَّ خَطَبَهَا مَعَ الْخُطَّابِ، فَقَالَ لَهُ: يَا لُكَعُ أَكْرَمْتُكَ بِهَا وَزَوَّجْتُكَهَا فَطَلَّقْتَهَا وَاللَّهِ لَا تَرْجِعُ إِلَيْكَ أَبَدًا آخِرُ مَا عَلَيْكَ، قَالَ: فَعَلِمَ اللَّهُ حَاجَتَهُ إِلَيْهَا وَحَاجَتَهَا إِلَى بَعْلِهَا، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ إِلَى قَوْلِهِ: وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ (البقرة: ۲۳۲)، فَلَمَّا سَمِعَهَا مَعْقِلٌ قَالَ: سَمْعًا لِرَبِّي وَطَاعَةً، ثُمَّ دَعَاهُ، فَقَالَ: أُزَوِّجُكَ وَأُكْرِمُكَ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنِ الْحَسَنِ وَهُوَ عَنِ الْحَسَنِ غَرِيبٌ، وَفِي هَذَا الْحَدِيثِ دَلَالَةٌ عَلَى أَنَّهُ لَا يَجُوزُ النِّكَاحُ بِغَيْرِ وَلِيٍّ لِأَنَّ أُخْتَ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ كَانَتْ ثَيِّبًا فَلَوْ كَانَ الْأَمْرُ إِلَيْهَا دُونَ وَلِيِّهَا لَزَوَّجَتْ نَفْسَهَا وَلَمْ تَحْتَجْ إِلَى وَلِيِّهَا مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ، وَإِنَّمَا خَاطَبَ اللَّهُ فِي هَذِهِ الْآيَةِ الْأَوْلِيَاءَ، فَقَالَ: فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ أَنْ يَنْكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ (البقرة: ۲۳۲) فَفِي هَذِهِ الْآيَةِ دَلَالَةٌ عَلَى أَنَّ الْأَمْرَ إِلَى الْأَوْلِيَاءِ فِي التَّزْوِيجِ مَعَ رِضَاهُنَّ. [1]

ترجمه: دمعقل بن يسار رضي الله عنه باره كي مروي دي چې هغه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په زمانه كي ديو مسلمان سره دخپلي خور نكاح اوكړه او هغي ورسره څه زمانه تيره كړه او بيا ورته خاوند طلاق وركړو چې رجوع يي ورته اونكړه تردي پوري چې دعدت موده يي ختمه شوه، بيا د دواړو په زړونو كي يو بل ته خواهش پيدا شو او دنكاح دپاره دنورو پيغام وركونكو سره هغه هم دنكاح پيغام وركړو معقل رضي الله عنه ورته اووئيل اي بي وقوفه ما

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /تفسير سورة البقرة ۴۰ (۴۵۲۹)، والنكاح ۶۰ (۵۱۵۹)، والطلاق ۴۴ (۵۳۳۱)، سنن ابي داود/ النكاح ۲۱ (۲۰۸۷) (تحفة الأشراف: ۱۱۴۶۵)

تاته په دي باندي عزت درکړي وو او تا بيا هم ديته طلاق ورکړل زما دي په الله قسم وي دا اوس په ټول ژوند کي هم تاته نشي واپس کيدي او الله تعالي ته معلومه وه چې ددي کس دي ښځي ته حاجت او خواهش وو او ددي ښځي دي کس ته حاجت او خواهش وو نو دي وخت کي الله تعالي دا ايت کريمه " وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ إِلَى قَوْلِهِ: وَأَنْتُمْ لا تَعْلَمُونَ " نازل کړو کله چې معقل بن يسار رضي الله عنه دا ايت واوريدو نو ويي وئيل اوس به زه دخپل رب خبره اورم او اطاعت به يي کوم او دي وينا کولو سره يي هغه کس راوغوښتلو او ورته يي اووئيل زه دوباره ستاسو نکاح نافذ کيدل غواړم او تاسو ته عزت درکول غواړم.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي، دا حديث په يو څو سندونو دحسن بصري نه مروي دي او دحسن بصري په واسطه دا روايت غريب دي، په دي حديث کي په دي خبره دلالت کوي چې نکاح بغير دولي نه جائز نه ده ځکه چې دمعقل بن يسار خور ثيبه وه، که دولي په ځاي دهغي معامله پخپل لاس کي وي نو بيا خو هغي خپله نکاح پخپله کولي شوه او خپل ولي يعني معقل بن يسار ته به محتاجه نه وه، په دي ايت کي الله تعالي اولياؤ ته خطاب کړي دي او ورته يي فرمائيلي دي چې دوئ لره دخپلو سابقه خاوندانو سره دنکاح کولو نه مه منع کوئ. په دي کي ددي خبري ثبوت دي چې دنکاح معامله د ښځو درضامندئ سره داولياؤ په لاس کي ده.

****

٢٩٨٢_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، قَالَ: ح وَحَدَّثَنَا الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنِ الْقَعْقَاعِ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِي يُونُسَ مَوْلَى عَائِشَةَ، قَالَ: أَمَرَتْنِي عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنْ أَكْتُبَ لَهَا مُصْحَفًا، فَقَالَتْ: " إِذَا بَلَغْتَ هَذِهِ الآيَةَ فَآذِنِّي حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلاةِ الْوُسْطَى (البقرة :٢٣٨) فَلَمَّا بَلَغْتُهَا آذَنْتُهَا، فَأَمْلَتْ عَلَيَّ: حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلاةِ الْوُسْطَى وَصَلاةِ الْعَصْرِ وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ، وَقَالَتْ: سَمِعْتُهَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ". وَفِي الْبَابِ، عَنْ حَفْصَةَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : د ابويونس (دعَائشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنهَا ازاد کړي غلام) نه روايت دي فرمائي چې ام المومنين راته حکم وکړوچې زه ددي دپاره قران پاك اوليکم اوراته ئي ووئيل کله چې دي (مذکوره) ايت ته ورسيږي نوماخبرکړه نوهرکله چې ورته ورسيدم نوماخبرکړه نوهغي راته

---

1 _ صحيح مسلم/المساجد ٣٦ (٦٢٩) . سنن ابي داود/ الصلاة ٥ (٤١٠) . سنن النسائي/الصلاة ١٤ (٤٧٣) (تحفة الأشراف: ١٧٨٠٩) . و مسند احمد (٦/٧٣)

داسي املاء شروع کړه ﴿ حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى وَصَلَاةِ الْعَصْرِ وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ ﴾ دمونځونوپابندي کوئ ددرمیانه مونځ ، دمازیګرمونځ. اوالله تعالي ته په ادب سره ودریږئ. بیا عائشې ووئیل درسول الله ﷺ نه مي اوریدلي دي

امام ترمذي وايي: په دي باب کي د حفصه رضي الله عنها نه هم حدیث وارد دی. او دا حدیث حسن صحیح دی

تشریح حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوٰتِ. د بنده د جانب نه د مونځ حفاظت دا دی چې مونځ همیشه کوي. په مستحب وختونو کي یې کوي. په اطمینان سره یې کوي. ارکان د مونځ په خپل خپل ځایٔ ادا کوي. خشوع او خضوع په کي وي انسان الله ته رجوع کوونکی وي. وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰی د دی نه د مازیګر مونځ مراد دی. علي رضي الله عنه فرمانیلی دي

ترجمه: چې کله جنګ احزاب وؤ. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمانیل چې الله تعالی دی د دوي کورونه او قبرونه د اور نه ډک کړي. خمونږ نه یې مینځنی مونځ قضا کړو. تردی چې نمر ډوب شو. ﴿ متفق علیه ﴾ او د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه صحیح مسلم کي هم داسي روایت دی.

نو د دی احادیثو نه معلومه شوه. چې د صَلٰوةُ الْوُسْطٰی نه مراد د مازیګر مونځ. او په حافظوا عَلَى الصَّلٰوتِ کي د مازیګر مونځ هم شامل دی. نو دیته تخصیص بعد التعمیم وائي. یعني د عام د ذکر نه پس د خاص ذکر. او د مازیګر د مونځ فضیلت په احادیثو کي راغلی دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي.

ترجمه چې څوک د مازیګر مونځ قضا کړي. نو ګویا چې د دهٔ اهل او مال او لوټلی شو ﴿ متفق علیه ﴾

په بل حدیث کي دي. چا چې د مازیګر مونځ پریخودلو. نو د ده عمل برباد شو

****

۲۹۸۳ـ حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ، أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " صَلَاةُ الْوُسْطَى صَلَاةُ الْعَصْرِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : د سمره بن جندب رضي الله عنهما بیان دی چي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمانیلي دي: د صلاة الوسطي نه مراد د مازیګر مونځ دی

---

[1] ـ انظر حدیث رقم ۱۸۲

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دی.

****

۲۹۸۴_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي حَسَّانَ الْأَعْرَجِ، عَنْ عَبِيدَةَ السَّلْمَانِيِّ، أَنَّ عَلِيًّا حَدَّثَهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ يَوْمَ الْأَحْزَابِ: "اللَّهُمَّ امْلَأْ قُبُورَهُمْ وَبُيُوتَهُمْ نَارًا كَمَا شَغَلُونَا عَنْ صَلَاةِ الْوُسْطَى حَتَّى غَابَتِ الشَّمْسُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، قَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ عَلِيٍّ، وَأَبُو حَسَّانَ الْأَعْرَجُ اسْمُهُ مُسْلِمٌ. (1)

ترجمه : د علیؓ رضی الله عنه روایت دي چي رسول الله ﷺ دغزوه احزاب په ورځ اوفرمائيل: دي ظالمانومونږ درمیانه مونځ دمازيگردمونځ نه منع كړوالله تعالي دي ددوي كورونه اوقبرونه داورنه ډك كړي. تردي پوري چي نمر غائب شو.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دی.اود علي رضي الله عنه نه ددي سند نه علاوه په په نورو سندونو هم مروي دي، اود ابو الحسان الاعرج نوم مسلم دي.

****

۲۹۸۵_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو النَّضْرِ، وَأَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ طَلْحَةَ بْنِ مُصَرِّفٍ، عَنْ زُبَيْدٍ، عَنْ مُرَّةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "صَلَاةُ الْوُسْطَى صَلَاةُ الْعَصْرِ". وَفِي الْبَابِ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، وَأَبِي هَاشِمِ بْنِ عُتْبَةَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : د ابن مسعود رضي الله عنهما بيان دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: د صلاة الوسطي نه مراد د مازيگر مونځ دی.

امام ترمذي وايي: په دي باب كي د زيد بن ثابت . ابو هاشم عتبه او ابو هريره رضي الله عنهم

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الجهاد ۹۸ (۲۹۳۱) ؛ والمغازي ۲۹ (۴۱۱۱) . وتفسير البقرة (۴۵۳۳) . والدعوات ۵۸ (۶۳۹۶) . صحيح مسلم /المساجد ۳۵ (۶۲۷) . سنن ابي داود/ الصلاة ۵ (۴۰۹) . سنن النسائي/الصلاة ۱۴ (۴۷۳) . سنن ابن ماجه/الصلاة ۶ (۶۸۴) (تحفة الأشراف : ۱۰۲۳۲) . و مسند احمد (۱/۸۱ ، ۸۲ ، ۱۱۳ ، ۱۲۲ ، ۱۲۶ ، ۱۳۵ ، ۱۳۷ ، ۱۴۴ ، ۱۴۶ ، ۱۵۰ ، ۱۵۲ ، ۱۵۳ ، ۱۵۴) . وسنن الدارمي/الصلاة ۲۸ (۱۲۶۸)

[2] _ انظر حديث رقم ۱۸۱

نه هم احاديث وارد دي، او دا حديث حسن صحيح دی

****

٢٩٨٦_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُعَاوِيَةَ، وَيَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ، عَنِ الْحَارِثِ بْنِ شُبَيْلٍ، عَنْ أَبِي عَمْرٍو الشَّيْبَانِيِّ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، قَالَ: "كُنَّا نَتَكَلَّمُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الصَّلَاةِ، فَنَزَلَتْ: وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ (البقرة:٢٣٨) فَأُمِرْنَا بِالسُّكُوتِ".[1]

ترجمه : د زيد بن ارقم رضي الله عنه بيان دي چې مونږ به د رسول الله صلي الله عليه وسلم په زمانه كي په مونځ كي خبري اترې كولې تردې پورې چې ايت كريمه "وقوموا لله قانتين" نازل شو نو مونږ ته دخاموش اودريدو حكم اوشو او دخبرو كولو نه مونږ منع كړې شو. نو مونځ كي په خاموش ودريدو حكم وشو.

تشريح : په خبرو كولوسره دمونځ فاسديدو متعلق دوه مذاهب دي:

(١) مسئله :كه يو كس په خپل مونځ كښې په قصد يا په سهوه كلام اوكړو.نو دده مونځ باطل شو.كلام د داسي حروفو آواز ته وائي چې مفيد د معنى وي.كله يو حرف وي.لكه .ق. يعنى بچ شه اوكه يوحرف بې معنى وي.نو كلام نه دې

(٢)او د امام شافعي په نزد د خطاء او نسيان په صورت كي مونځ نه فاسديږي.په دې شرط چې اوږد نه وي.ځكه چې اوږد كار دخطاء او نسيان سره منافي دی.

د امام شافعي مستدل حديث معروف دې (رفع عن أمتي الخطاء والنسيان) يعنى زما دامت نه خطاء او نسيان پورته كړې شوې. ددينه استدلال په دوه وجو دی

(١)او وجه د استدلال دا ده چې حكم په دوه قسمه وي.دنيوی (د مونځ فاسدونكى) او اخروی (گناهگاريدل)نو لكه چې رسول پاك صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چې زما د امت نه د خطاء او نسيان دنيوی او اخروی دواړه حكمونه پورته شوی دی.يعنى په دې دواړو كي نه څه څيز فاسديږي.اونه په آخرت كي څه گناه شته

(٢)صاحب دعنايه ليكلى دی چې وجه د استدلال دا ده چې ددې دواړه حقيقت خو غير مرفوع دي.ځكه چې دا دواړه په خلقو كي موجود دی.نو ددې حكم يعنى فساد راوستل به مرفوع وی.

د احنافو دليل د معاويه بن الحكم اسلمي(رضي الله عنه) حديث دې.پوره حديث داسې دې

---

[1] ـ انظر حديث رقم ٢٠٥

(قال صليت خلف رسول الله صلي الله عليه وسلم فعطش بعض القوم فقلت يرحكم الله فرماني القوم بأبصارهم فقلت واثكل اماه مالي أراكم تنظرون إلي شزرا فضربوا بأيديهم علي أفخاذهم فعلمت أنهم يسكتونني فلما فرغ النبي صلي الله عليه وسلم دعاني فوالله ما رأيت معلماً أحسن تعليما منه ماكهرني ولا زجرني ولكن قال إن صلاتنا هذه لايصلح فيها شئ من كلام الناس وإنما هي التسبيح والتهليل وقراءت القرآن)

يعنى معاويه بن حكم(رضي الله عنه) فرمائى چى ما په رسول الله صلي الله عليه وسلم پسې مونځ كولو.نو يو كس پرنجى اوكړو.ما ورته (يرحمك الله) اوويل.نو خلقو ماته ته خپل نظرونه ماته په تيز كړو.نو ما اوئيل.ددوى ميندي ذى بورى شى. ما څه چل كړې دي چى زه تاسو ته ګورم چى په برندو ستركو ګورئ.نو هغوى خپل پتونان په خپلو لاسونو اووهل.نو زه پوهه شوم چى دوى ما چپ كول غواړى چى كله رسول پاك صلي الله عليه وسلم د مانځه نه فارغ شو.نو زه يى راؤ غوښتلم.په الله قسم چى ما د رسول پاك صلي الله عليه وسلم نه ښه معلم نه دى ليدلې.دوى ماته نۀ په غصه شو.اونه ئې زه اورټلم.بلكه ويې فرمائيل چى زمونږ په دى مونځ كي د خلقو د خبرو نه دڅه څيز ګنجائش نشته.دا خوصرف تسبيح ،تهليل او قرات د قران دي ، ددى حديث نه معلومه شوه چى په مونځ كي د كلام عدم وجود د مونځ حق دي.لكه څنګه چى د طهارت وجود د مونځ حق دې.نو لكه څنګه چى دعدم طهارت سره مونځ جائز نه دې.دغه شان د كلام د وجود سره هم مونځ جائز نه دې.

دامام شافعى د پيش كړى حديث نه جواب دا دې چى حديث (رفع عن أمتي الخطأ والنسيان) د ګناه په پورته كيدو باندې محمول دې.حاصل دادى . چى په حديث كي د آخرت حكم يعنى ګناه نه واقع كيدل په اجماع سره مراد دې.اوس كه دنيوى حكم يعنى مفسد كيدل ترې هم مراد واخستى شي.نو عموم مشترك لازميږى.حالانكه عموم مشترك جائز نه دې.

په سهو او نسيان او خطا كي فرق دادې چى سهو وائى.د قوت مدركه نه د صورت زائله كيدل او نسيان د قوت حافظه نه د صورت زائله كيدل.تردى چى دا كس جديد محتاج شي.او خطاء دا ده چى صورت خو باقي وى.خو چى كله د يو څيز د تكلم اراده اوكړى.نو بغير د ارادى نه بل څيز په ژبه باندې راشى.په دى ځائې كي د سهو نه عامه معنى مراد ده.كومه چى درې واړه قسمونو ته شامل ده.اوچونكه په سهو او نسيان كي د شرعى حكم په اعتبار سره څه فرق نشته.نوځكه مصنف هم د دى دواړو په مينځ كي څه فرق اونكړو.

دزيد بن ارقم رضي الله عنه حالات

نوم زيد كنيه ابوعمر قبيله خزرج په ماشوموالي كې يتيم شوى وو او پرورش يي خپل تره عبدالله بن رواح رضي الله عنه اوكړو او همدا دزيد په اسلام كې دداخليدو سبب اوګرځيدو

دماشوموالي په وجه په عزواتو کې شريك شوى نه وو او شرکت يي په غزوه خندق کې کړى وو دى پخپله وائي ما په اولس غزواتو کې شرکت کړى دى، په دربار رسالت کې ډير مقرب وو کله چې به بيمار شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم به يي عيادت له راتلو يو خل يي په سترګه درد راغلى وو او رسول الله صلي الله عليه وسلم دده دعيادت دپاره راغى دجوړيدو نه پس يي ورنه تپوس اوکړو که دا مرض اوس هم باقي پاتي شوى وى نو څه به دي کول زيد صبر اوکړو چې صبر او داجر اميد به مي کولو رسول الله ورته اوفرمائيل که داسي دي کولى نو دالله تعالي په وړاندي به بي ګناه ګرځيدلى وى (مسند احمد).
په ۶۸هجري کې په کوفه کې وفات شوى دى او دا دمختار بن ابي عبيد ثقفي زمانه وه دمروياتو شمير يي ۹۰دى مزيد حالات يي ابن سعد په طبقات کې ذکر کړي دي.

****

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ أَبِي خَالِدٍ نَحْوَهُ، وَزَادَ فِيهِ "وَنُهِينَا عَنِ الْكَلَامِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو عَمْرٍو الشَّيْبَانِيُّ اسْمُهُ سَعْدُ بْنُ إِيَاسٍ.(1)

ترجمه : هشيم هم د اسماعيل بن ابي خالد نه ددي هم معني روايت نقل کړى دى، مګر ددومره اضافي سره چې بيا مونږ د خبرو کولو نه منع کړى شو.
امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دى.اود ابو عمرو شيباني نوم سعد بن اياس دى.

****

۲۹۸۷ـحَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنِ السُّدِّيِّ، عَنْ أَبِي مَالِكٍ، عَنِ الْبَرَاءِ، وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنْفِقُونَ (البقرة :۲۶۷)، قَالَ: نَزَلَتْ فِينَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ كُنَّا أَصْحَابَ نَخْلٍ فَكَانَ الرَّجُلُ يَأْتِي مِنْ نَخْلِهِ عَلَى قَدْرِ كَثْرَتِهِ وَقِلَّتِهِ، وَكَانَ الرَّجُلُ يَأْتِي بِالْقِنْوِ وَالْقِنْوَيْنِ فَيُعَلِّقُهُ فِي الْمَسْجِدِ، وَكَانَ أَهْلُ الصُّفَّةِ لَيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ، فَكَانَ أَحَدُهُمْ إِذَا جَاعَ أَتَى الْقِنْوَ فَضَرَبَهُ بِعَصَاهُ فَيَسْقُطُ مِنَ الْبُسْرِ وَالتَّمْرِ فَيَأْكُلُ، وَكَانَ نَاسٌ مِمَّنْ لَا يَرْغَبُ فِي الْخَيْرِ يَأْتِي الرَّجُلُ بِالْقِنْوِ فِيهِ الشِّيصُ وَالْحَشَفُ وَبِالْقِنْوِ قَدِ انْكَسَرَ فَيُعَلِّقُهُ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَبَارَكَ تَعَالَى: يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنْفِقُونَ وَلَسْتُمْ بِآخِذِيهِ إِلَّا أَنْ تُغْمِضُوا فِيهِ (البقرة :۲۶۷)، قَالَ: لَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ أُهْدِيَ إِلَيْهِ مِثْلُ مَا أَعْطَاهُ لَمْ يَأْخُذْهُ إِلَّا عَلَى إِغْمَاضٍ أَوْ حَيَاءٍ، قَالَ: فَكُنَّا بَعْدَ ذَلِكَ يَأْتِي

---
1 ـ انظر حديث رقم ۳۰۵

أَحَدُنَا بِصَالِحِ مَا عِنْدَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو مَالِكٍ هُوَ الْغِفَارِيُّ، وَيُقَالُ اسْمُهُ غَزْوَانُ، وَقَدْ رَوَى سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، عَنِ السُّدِّيِّ شَيْئًا مِنْ هَذَا. (1)

ترجمه: دبراء رضي الله عنه نه مروي دي ايت كريمه " وَلا تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنْفِقُونَ " زمونږ د انصارو باره كي نازل شوي دي مونږ كجورو والا خلق وو په مونږ كي به يو كس دخپلو كجورو دكم او زيات مقدار په اعتبار سره لږي يا ډيري كجوري رسول الله صلي الله عليه وسلم ته راوړلي او بعضي خلقو به دكجورو غونچك راوړلو او په مسجد كي به يي زوړند كړو داهل صفه دپاره دخوراك څه بندوبست او څه انتظام نه وو په دوئ كي چې به كله څوك اوږي شو نو دي غونچك ته به راغلو او ددي خاښ نه راپريوتلي خامي او پخي كجوري به يي پورته كولي او بيا به يي خوړلي بعضي كسان داسي وو دچاچې دخير سره مينه او شوق نه وو هغوئ به داسي غونچك راوړو چې په كوم كي به خرابي او ردي كجوري وي او بعضي كسانو به مات خاښونه هم راوړل او هغه به يي زوړندول نو دي باره كي الله تعالي ايت كريمه " يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُمْ مِنَ الأَرْضِ وَلا تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنْفِقُونَ وَلَسْتُمْ بِآخِذِيهِ إِلا أَنْ تُغْمِضُوا فِيهِ (البقرة: ٢٦٧). اى ايمان والو خرچ كوى د پاك هغه مال نه چې تاسو ګټلى وي او د هغه نه چې راويستلى دي مونږ تاسو له د زمكى نه او قصد مه كوى د ردي مال د هغى نه چې خرچ كوئ يې او نه يې تاسو اخستونكي د هغى مګر دا چې سترګى پټى كړى په هغى كي او پوهه شئ چې بى شكه الله تعالى بى حاجته دى ستائيلى شويدى. " نازل كړو خلقو په قسم سره اووئيل كه په تاسو كي چاته داسي هديه وركړي شي څنګه چې ددين نه بيزارو خلقو رسول الله صلي الله عليه وسلم ته راوړي ده نو دي دا نه اخلي او كه اخستل يي هم وي نو دمخ په اړولو به وي بيا ددينه پس په مونږ كي هر يو كس دخپل عمده او بهترين څيزونو راوړل شروع كړل.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب صحيح دي، سفيان ثوري دسدي نه دا روايت دڅه قدري زيادت سره نقل كړي دي.

تشريح: أَنْفِقُوا دا امر عام دى فرض او نفل خيراتونو (زكاة او عشر) ټولو ته شامل دى. مِنْ طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ. په دى كي اشاره ده هغه مال ته چې څوك يې د تجارت په ذريعه ګټي

وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُمْ مِنَ الأَرْضِ، په دى كي هغه مال ته اشاره ده چې كوم مال د ذمينداری په ذريعه ګټلى شي يا معدنيات وغيره وي.

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٩١١)

او د زکوٰة او د عشر نصاب په احاديثو کي په تفصيل سره ذکر دي. په روپو. سپينو زرو. او د تجارت د مالونو نصاب څلويښتمه حصه ده. او د فصلونو نصاب عشر (لسمه) يا شلمه حصه ده. او دا دليل دی چې په قرآن کريم باندي احاديثو نه بغير عمل نهٔ شي کيدی

وَلا تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنفِقُونَ. تيمم په لغت کي قصد کولو ته وائي او خبيث. که په ناجائز طريقه ګټلی شوی وي. او که خراب او ردي مال وي

وَلَسْتُمْ بِآخِذِيهِ إِلا أَنْ تُغْمِضُوا فِيهِ. په دی جمله کي د ردي مال تعريف دی يعني کوم مال چې تاسو د ځان د پاره نهٔ خوښوی. نو هغه بل چاله مهٔ ورکوی. ځکه چې الله داسی مال نه قبلوي. او هغه غني دی. د هغهٔ داسی مال ته حاجت نشته

****

۲۹۸۸_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ مُرَّةَ الْهَمْدَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ لِلشَّيْطَانِ لَمَّةً بِابْنِ آدَمَ وَلِلْمَلَكِ لَمَّةً. فَأَمَّا لَمَّةُ الشَّيْطَانِ فَإِيعَادٌ بِالشَّرِّ وَتَكْذِيبٌ بِالْحَقِّ، وَأَمَّا لَمَّةُ الْمَلَكِ فَإِيعَادٌ بِالْخَيْرِ وَتَصْدِيقٌ بِالْحَقِّ. فَمَنْ وَجَدَ ذَلِكَ فَلْيَعْلَمْ أَنَّهُ مِنَ اللَّهِ فَلْيَحْمَدِ اللَّهَ، وَمَنْ وَجَدَ الأُخْرَى فَلْيَتَعَوَّذْ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ، ثُمَّ قَرَأَ الشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُمْ بِالْفَحْشَاءِ (البقرة :۲۶۸)". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَهُوَ حَدِيثُ أَبِي الأَحْوَصِ لا نَعْلَمُهُ مَرْفُوعًا إِلا مِنْ حَدِيثِ أَبِي الأَحْوَصِ.[1]

ترجمه : دابن مسعود رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په انسان باندي دشيطان دوسوسي اثر وي او دفرشتو دالهام اثر ورباندي هم وي. دشيطان اثر دا دي چې انسان ته دبدئ وعدي ورکوي او دحق تکذيب کوي او دفرشتو اثر دادي چې دوئ دخير وعدي ورکوي او دحق تصديق کوي نو هر څوک چې دا حالت بيامومي په هغي دي دالله شکر اداء کړي او څوک چې دويم اثر يعني دشيطان اثر بيامومي نو دشيطان نه دي په الله پناه حاصل کړي او بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم دا ايت کريمه " الشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُمْ بِالْفَحْشَاءِ " تلاوت کړو.

امام ترمذي وايي. داحديث حسن غريب دي او دا حديث دابو الاحوص نه علاوه بل چا مرفوع نه دي ذکر کړي

[1] - (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف : ۹۵۵۰) (صحيح موارد الظمآن ۳۸)

****

۲۹۸۹_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ، حَدَّثَنَا فُضَيْلُ بْنُ مَرْزُوقٍ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَأَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّ اللَّهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا، وَإِنَّ اللَّهَ أَمَرَ الْمُؤْمِنِينَ بِمَا أَمَرَ بِهِ الْمُرْسَلِينَ، فَقَالَ: يَأَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ (المؤمنون :٥١)، وَقَالَ: يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ (البقرة :١٧٢)، قَالَ: وَذَكَرَ الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ يَمُدُّ يَدَهُ إِلَى السَّمَاءِ يَا رَبِّ يَا رَبِّ وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ وَغُذِّيَ بِالْحَرَامِ فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَإِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ فُضَيْلِ بْنِ مَرْزُوقٍ، وَأَبُو حَازِمٍ هُوَ الْأَشْجَعِيُّ اسْمُهُ سَلْمَانُ مَوْلَى عَزَّةَ الْأَشْجَعِيَّةِ. (1)

ترجمه: د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ای خلقو الله تعالي پاك دی او صرف پاك څيزونه قبلوي او بيشكه الله تعالي مومنانو ته دهغې څيز حكم كړی دی دكوم حكم چې يې رسولانو ته كړی دی يعني دپاك خوراك الله تعالي فرمائيلي دي ای رسولانو پاك څيزونه خورئ او نيك كارونه كوئ اوځه چې تاسو كوئ زه په هغې خبردار يم، او الله تعالي فرمائيلي دي ای مومنانو دهغې پاك رزق نه خورئ كوم چې مونږ دركړی دی بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم ديو سړي حالت ذكر كړو چې داوږد سفر والاوي سريې ببروي گردونه پرې پراته وي اسمان ته يې لاسونه اوچت كړي وي ډير په عاجزئ الله جل جلاله نه سوالونه كوي واي ای ربه ای ربه ليكن خوراك يې حرام څكاك يې حرام وي دبدن پرورش يې په حرامو شوی وي، نو دداسې سړي سوال په څنگه قبول شي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي او دا مونږ ته دفضيل بن مرزوق په سند رارسيدلي دي

لغات: المطعم دخوراك ځاي طعام معني خوراك . جمع يي اطعمة او اطعمات راځي معني غنم، طعم طعما وطعاما معني خوراك . استطعام خوراك غوښتل . مزه موندل

تشريح: دا حديث داسلامي قواعدو او احكامو بنياد بيانوي مطلب دادی چې په حرام مال كې نجاست او گندگي وي او ددي په مقابل كې په حلال مال كې پاكزگي وي نو تقاضا دعبديت داده چې دنجاست او حرام مال نه اجتناب اوكړی شي او دحلال او پاك مال په خوراك

---

1 مسلم/الزكاة ۲۰ (۱۰۱۵) (تحفة الأشراف: ۱۳۴۱۳)، و مسند احمد (۲/۳۲۸)، وسنن الدارمي/الرقاق ۹ (۲۷۵۹)

اکتفاء اوکړی شي ځکه چې ددي په سبب قرب الهي حاصليږي او د حرام مال په وجه انسان دالله نه لري کيږي اوهمدا حکم تمامو انبياؤ او په اخر کې محمد صلي الله عليه وسلم ته هم شوی دی چې حلال خوری او دحرامو نه ځان ساتئ؛

ثم ذکر الرجل يطيل السفر : بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم ديو کس حال بيان کړو چې اوږده اوږده سفرونه يي کول يعني که دا سفر دحج يا جهاد يا کوم بل ديني مقصد دپاره وي نو مقدس دی دعاګاني پکې قبليږي ليکن اوس دده دعا نه قبليږي ځکه چې دده خوراك حرام دی لباس يي حرام دی يعني دا کس دحرامي ګټي نه ځان نه ساتي علماء وائي چې ددعا قبوليت په حلال رزق موقوف دی.

يارب يارب : ددينه معلوميږي چې په يارب سره دعا غوښتل قبوليت ته زيات نژدي دي، په پورتني حديث کې دحلال مال دګټلو او خرچ کولو او خوړلو دپاره ترغيب دی.

****

٢٩٩٠ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنِ السُّدِّيِّ، قَالَ: حَدَّثَنِي مَنْ، سَمِعَ عَلِيًّا، يَقُولُ: "لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةَ وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللَّهُ فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَشَاءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَشَاءُ (البقرة :٢٨٤)، أَحْزَنَتْنَا. قَالَ: قُلْنَا: يُحَدِّثُ أَحَدُنَا نَفْسَهُ فَيُحَاسَبُ بِهِ، لَا نَدْرِي مَا يُغْفَرُ مِنْهُ وَلَا مَا لَا يُغْفَرُ، فَنَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةَ بَعْدَهَا فَنَسَخَتْهَا لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ (البقرة:٢٨٦)". (١)

ترجمه : دعلي رضي الله عنه بيان دي فرمائي کله چې ايت کريمه " وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللَّهُ فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَشَاءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَشَاءُ" که ښکاره کوئ تاسو هغه چې ستاسو په زړونو کې دي يا پټ ساتئ؛ هغه حساب به کوي تاسو سره په هغې باندی الله تعالی نو معاف به کړي هغه څوك چې اوغواړي او عذاب به ورکړي چاله چې اوغواړي

، نازل شو نو دي ايت مونږ ټول په غم او فکر کې مبتلا کړو مونږ اووئيل که په مونږ کې څوك په خپل زړه کې هم څه خبره اوکړي دهغې به ورسره حساب کيږي او مونږ ته دا معلومه نه وه چې په دې کې به څه بخلي کيږي او څه به نه بخلي کيږي تردي چې دا ايت کريمه " لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ (البقرة :٢٨٦)". " نازل شو او دي ايت مخکني ايت لره منسوخ کړو.

---

١ ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف :١٠٢٣٦)

تشریح وَإِن تُبْدُوا مَا فِي أَنفُسِكُمْ، الخ هر څيز چې په زړه کي وي. نو که څوك يې ښکاره کوي يا يې پټوي. نو الله تعالى به ورسره حساب کوي. او د حساب مطلب دا نه دی. چې سزا به ورکوي حساب صرف پيش کيدلو ته هم واني. او مناقشي (ډونگی حساب) ته هم واني. د مَا تخفوهُ نه مراد اختياري او غير اختياري ټولې خبرې دي. او الله تعالى په نيتونو باندی عالم دی نو چې د چا څنګه نيت وي. نو هغه شان حساب به ورسره کوي. ها کومې خبرې چې غير اختياري دي. نو په هغې باندی محاسبه نشته. ځکه يې ورپسی فَيَغْفِرُ لِمَن يَشَاءُ اوفرمائيل. او بيا ورپسی لا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلا وُسْعَهَا. نازل شو.

داسی ابن کثير د مسند احمد په روايت سره ذکر کړي دي. او د صحيح مسلم په حديث کي هم داسی دي. او بله معنی دا ده چې مآ فِيۤ اَنْفُسِكُمْ غير اختياري کارونو او خبرو ته نۀ دی شامل. بلکه هغه څيزونو ته شامل دی چې قصداً يې څوك په زړه کي ساتي. ليکن د هغی د ښکاره کولو وس نه لري.

****

٢٩٩١ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُوسَى، وَرَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ أُمَيَّةَ، أَنَّهَا سَأَلَتْ عَائِشَةَ، عَنْ قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللَّهُ (البقرة :٢٨٤) وَعَنْ قَوْلِهِ: مَنْ يَعْمَلْ سُوءًا يُجْزَ بِهِ (النساء :١٢٣)، فَقَالَتْ: " مَا سَأَلَنِي عَنْهَا أَحَدٌ مُنْذُ سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: هَذِهِ مُعَاتَبَةُ اللَّهِ الْعَبْدَ فِيمَا يُصِيبُهُ مِنَ الْحُمَّى وَالنَّكْبَةِ حَتَّى الْبِضَاعَةُ يَضَعُهَا فِي كُمِّ قَمِيصِهِ فَيَفْقِدُهَا فَيَفْزَعُ لَهَا حَتَّى إِنَّ الْعَبْدَ لَيَخْرُجُ مِنْ ذُنُوبِهِ كَمَا يَخْرُجُ التِّبْرُ الْأَحْمَرُ مِنَ الْكِيرِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ عَائِشَةَ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ. ([1])

ترجمه : داميه بيان دي فرماني چې ما دعائشه رضي الله عنها نه دالله تعالي دقول " وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللَّهُ (البقرة :٢٨٤) نازل شو . او دالله تعالي ددي قول: مَنْ يَعْمَلْ سُوءًا يُجْزَ بِهِ (النساء :١٢٣). " باره کي تپوس اوکړو چې ددي څه مطلب دي نو هغي اووئيل کله چې ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه ددي کلام دمطلب باره کي تپوس اوکړو دهغي نه پس بيا ستا نه علاوه بل چا زما نه په دي باره کي تپوس نه دي کړي، رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دا دالله تعالي دطرف نه په تبه او مصيبت وغيره کي دمبتلا کيدو

[1] ــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٢٢/١٥)

په صورت کي دبنده رټل دي تردي پوري چې کوم سامان هغه دخپل قمیص په نستونړي کي ایخودلي وي او بیا ورنه هغه ورك شي او بیا دي ورخطا شي او په دي وجه پریشان ګرځي تردي پوري چې بنده دخپلو ګناهونو نه داسي پاك او صاف شي لکه سره زر چې دبټۍ نه څنګه پاك راوځي.

امام ترمذي وايي: داحدیث حسن غریب دي په روایت د عائشه رضي الله عنها سره او دحماد بن سلمه دسند نه علاوه مونږ ته ددي بل سند نه دي معلوم.

****

۲۹۹۲_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ آدَمَ بْنِ سُلَيْمَانَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ: وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللَّهُ (البقرة :۲۸۴)، قَالَ: دَخَلَ قُلُوبَهُمْ مِنْهُ شَيْءٌ لَمْ يَدْخُلْ مِنْ شَيْءٍ، فَقَالُوا لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَقَالَ: " قُولُوا: سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا فَأَلْقَى اللَّهُ الْإِيمَانَ فِي قُلُوبِهِمْ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ (البقرة :۲۸۵) لا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلا وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ رَبَّنَا لا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا (البقرة :۲۸۶) قَالَ: قَدْ فَعَلْتُ رَبَّنَا وَلا تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِنَا (البقرة :۲۸۶)قَالَ: قَدْ فَعَلْتُ رَبَّنَا وَلا تُحَمِّلْنَا مَا لا طَاقَةَ لَنَا بِهِ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا (البقرة :۲۸۶)، قَالَ: قَدْ فَعَلْتُ ".

قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ وَقَدْ رُوِيَ هَذَا مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَآدَمُ بْنُ سُلَيْمَانَ يُقَالُ هُوَ وَالِدُ يَحْيَى بْنِ آدَمَ، وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. [1]

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي هركله چې ایت کریمه " وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللَّهُ (البقرة :۲۸۴)" نو د خلقو په زړونو کي داسي خوف او خطر پیدا شو، کوم چې په بل شي نشو پیدا کیدی، نو دوئ رسول الله ته شکایت وکړو نو رسول الله اوفرمائیل داسي وایئ: " سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا " نو الله تعالي ددوئ په زړونو کي ایمان واچولو، او الله تعالي دا ایتونه نازل کړل " آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ (البقرة :۲۸۵) لا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلا وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ رَبَّنَا لا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا (البقرة :۲۸۶)" الله تعالي اوفرمائیل: ما همداسي وکړل، رَبَّنَا وَلا تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ

---

[1] _ صحیح مسلم/الإیمان ۵۰(۱۲۵) (تحفة الأشراف : ۵۴۲۳)

عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِنَا (البقرة:٢٨٦). الله تعالي اوفرمائيل: ما همداسي وكړل، رَبَّنَا وَلا تُحَمِّلْنَا مَا لا طَاقَةَ لَنَا بِهِ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا (البقرة:٢٨٦) الله تعالي اوفرمائيل: ما همداسي وكړ.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دى، دا روايت ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم د ابن عباس او ادم بن سليمان نه مروي دى، وئيلي شوي دي چې داد يحي بن ادم پلار دي.

او په دي باب كي د ابو هريره رضي الله عنه نه هم حديث وارد دى.

تشريح: فضائل د سورت البقري

دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چې مونږ د نبي كريم صلي الله عليه وسلم په مجلس كي موجود ووا و جبريل هم دنبي عليه السلام سره ناست وو ، يكدم دبره نه ددروازي دكولاويدو پشان اواز راغي نوجبريل اسمان ته وكتل او وئي فرمائيل: دا دروازه چې اوس بيرته شوه ددينه مخكي چرته نده بيرته شوى . دراوي بيان دى چې پدي وخت كي يوه فرشته داسمان نه راكوزه شوه اود نبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضره شوه اوعرض ئي وكړو چې داسي دوه انوار دى تاته مبارك وي كوم چې ستانه مخكي بل نبي ته ندي وركړى شوي، يو فاتحة الكتاب اوبل دسورت البقري اخري حصه . كه چري ته پدي دواړو كي يوحرف هم ولولي نوهغه به تاته دركولى شي(مسلم)

يعني يوخو دالله تعالي تعليم دي كوم چې د اهدنا الصراط المستقيم لوستلوشوي وو كه چري دي لره څوك لولي نو الله تعالي به ورته ضرور صراط مستقيم ورپه برخه كړي او دويم "ربنا لاتواخذنا ان نسينا او اخطأنا" نه تراخر دسورت پوري كه چري څوك لولي نو الله تعالي به ئي ددعا مطابق سوال قبول كړي ، او دا دواړه صرف رسول الله صلي الله عليه وسلم ته وركړي شوي دي نوددي په وجه به دنبي عليه السلام امت دهغه نه پس په ګمراهئ باندي نه جمع كيږي، دويم حديث په روايت دمعاويه رضي الله عنه سره په صحيحينو كي ذكر شوي دي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چې زما په امت كي به يوه ډله هميشه په حق باندي قائمه وي ضرربه نشي رسولي دوي ته هغه څوك چې دوى لره ذليل كوي اونه به نقصان رسولي شي دوئ ته هغه څوك چې ددوئ مخالفت كوي، پدي حالت كي به دالله تعالي امر يعني دقيامت دقائميدو حكم به اوشي.

دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم چې كله معراج ته بوتلي شواوسدرة المنتهي ته ورسيدو اوسدرة المنتهي په شپږم اسمان كي ده ، دزمكي نه ورختونكي اعمال هم دلته ورخي، اودبره نه خكته راتلونكي احكام هم دلته ور رسيږي لكه چې الله تعالي فرمائيلي دي: إِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشَى (طه:١٦) ، دلته نبي عليه

السلام ته دري خيزونه وركړي شوي دي، پنځه وخته مونځونه، دسورت بقري اخري ايتونه. اوپه امت محمدي كي هغه خلقوته مغفرت كوموچې شرك نه وي كړي. (مسلم).
يعني الله تعالي دغير مشرك دپاره دكبائرو دمعافي وعده كړي ده برابره خبره ده چې دتوبي ويستلونه پس وي اوكه بغير دتوبي ويستلو نه محض په رحمت الهي سره وي چې دعذاب څكلو نه پس وي اوكه بغيردعذاب وركولونه وي . خلاصه داده چې مومن به دګناه په وجه په دوزخ كي هميشه نه وي ، هغه قول غلط دي كوم چې معتزليانو اوروافضو اوخوارجو كړي دي (چې مرتكب دكبيره مومن نه پاتي كيږي).
دابومسعود انصاري رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: څوك چې دشپي دسورت بقري دوه اخري اياتونه لولي نودابه دټولي شپي دپاره ده لره كافي وي (صحاح ستة).
دنعمان بن بشير رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: چې دزمكي او اسمان دپيدائش نه دوزره كاله مخكي الله تعالي يوتحرير ليكلي وودكوم نه چې ئي دسورت بقري دوه اخري ايتونه نازل كړي دي په كوم كوركي چې دا دوه ايتونه دري شپي ولوستل شي نوشيطان ورته نژدي نشي ورتلي (بغوي).
دابومسعود انصاري رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: چې الله تعالي دجنت دخزانونه دوه ايتونه نازل كړي دي دا اياتونه دمخلوق دپيدائش نه دوه زره كاله مخكي رحمٰن ذات پخپلو لاسونو ليكلي دي ، څوك چې دي لره دماخوستن دمونځ نه پس ولولي نودقيام الليل په ځاي به دده دپاره كافي شي (ابن عدي في الكامل).
دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: هغه سورت په كوم كي چې دبقري ذكر دي دقران ميزان دي ، تاسو دي لره ياد كړئ اوددي په يادولو كي بركت دي، اوددي پريخودل سبب دحسرت دي باطلين ددي طاقت نه لري عرض وكړي شو چې باطلين څوك دي نو وئي فرمائيل چې جادوګران (اخرجه الديلمي في مسند الفردوس).
بيهقي په شعب الايمان كي په روايت دصلصال په ضعيف سند سره مرفوع روايت بيان كړي دي چې څوك سورت بقره لولي په جنت كي به ورته يوتاج وربه سر كړي شي، ديلمي په روايت دابو هريره رضي الله عنه سره مرفوع روايت بيان كړي دي چې د سورت بقري دوه اخري ايتونه به دلوستونكي شفاعت كوي، ابوعيده يو روايت ذكر كړي دي چې په كوم كور كي څوك سورت بقره لولي اوشيطان ئي واوري نوددغه كور نه تختي، ددي مضمون مطابق احاديث دابن مسعود ، ابوهريره ، عبدالله بن مغفل رضي الله عنهم نه مروي دي، امام احمد

بن حنبل هم دبريده رضي الله عنه روايت نقل كړي دي چې ، تاسو دي لره ياد كړئ اوددي په يادولوكي بركت دي، اوددي پريخودل سبب د حسرت دي، اوجادوګر ددي طاقت نه لري . سورت بقره او ال عمران يادكړئ دا دواړه غوړيدلي ګلان دي . ابن حبان وغيره دسهل بن سعد رضي الله عنه روايت نقل كړي دي چې دهرشي دپاره يوغونډئ علامه، اود قران علامه سورت بقره ده. په كوم كوركي چې داد ورځي لوستلي شي شيطان به ورته دري ورځي نه ورننوځي، په كوم كوركي چې دا د شپي په تياره كي لوستلي شي شيطان به ورته دري شپي نه ورننوځي، ابوعبيده دعمر رضي الله عنه نه روايت نقل كړي دي چې څوك سورت بقره او ال عمران دشپي لولي نودقانتينو نه به وليكلي شي. دارمي په روايت دمغيره بن شعبه رضي الله عنه روايت بيان كړي دي چې څوك دسورت بقري لس اياتونه دپريوتوپه وخت كي لولي نوقران به ورنه نه هيريږي، څلور اولني ايتونه يو اية الكرسي او وروسي ايت او دري دسورت اخري ايتونه

****

٤_باب وَمِنْ سُورَةِ آلِ عِمْرَانَ

دسورة ال عمران دبعضي ايتونو تفسير

٢٩٩٣_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ وَهُوَ الْخَزَّازُ، وَيَزِيدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ كِلَاهُمَا، عَنْ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، قَالَ يَزِيدُ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَائِشَةَ، وَلَمْ يَذْكُرْ أَبُو عَامِرٍ الْقَاسِمَ، قَالَتْ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَوْلِهِ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ (آل عمران :٧)، قَالَ: "فَإِذَا رَأَيْتِيهِمْ فَاعْرِفِيهِمْ"، وَقَالَ يَزِيدُ: فَإِذَا رَأَيْتُمُوهُمْ فَاعْرِفُوهُمْ. قَالَهَا مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه دايت كريمه " فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ (آل عمران :٧) پس هغه كسان چې د هغوي په زړونو كي كوږوالی دی نو تابعداري كوي د هغه ايتونو چې پټ مراد والا دي د هغی نه دپاره د طلب د فتنی او دپاره د طلب د حقيقت د هغی ، ، دتفسير باره كي تپوس اوكړو نو ويي فرمائيل پس كله چې ته دي

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٦٢٣١)

خلقو لره په متشابهاتو پسې دورپسې كيدو په حال كي اووينې نو پوهه شه چې همدوئ اهل زيغ دي ديزيد بن هارون په روايت كي دي ته چې دوئ اووينې نو پوهه به شي او دوئ به اوپيژنې او بيا عائشه رضي الله عنها دا خبره دوه يا درې پيرې تكرار كړه

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي

تشريح په دې كي د توحيد د اثبات دپاره بل نقلي دليل دی چې الله تعالى هغه ذات دی چې په تا باندې يې كتاب نازل كړی دی. او د مخلوق د هدايت دپاره كتاب نازلول د خالق كار دی ځكه چې چا يو څيز جوړ كړی وي نو په هغې باندې هغه پوهيږي. نو الله تعالى عالم دی په خپل مخلوق باندې.

او دا داسې كتاب دی. چې په دې كي د انسانانو دپاره واضح أحكام بيان شوي دي. او هغه د دې كتاب اصل (مقصد) دی. او د انسانانو د كاميابۍ دپاره دغه محكم ايتونه كافي دي او بعض ايتونه په كي متشابهات دي. چې د هغې په حقيقت باندې صرف الله تعالى پوهيږي او هغې ته متشابهات وائي. مثلاً د تقدير مسئلې. جنت دوزخ ملائك. عذاب قبر. د الله تعالى صفت مثلاً يدْ. نفس. وجهه. ساق (پنډی) وغيره. نو د دې حقيقت د انسان د عقل نه لرې خبره ده. او څوك چې د دې حقيقت معلومولو كوشش كوي. نو د هغوي په زړونو كي كږوالې وي. او د خلقو په زړونو كي كوږوالې پيدا كوي. لكه عيسايانو په قرآن كريم كي عيسى عليه السلام ته عبدالله او نبي وئيلې دي. ليكن عيسايان دا محكم ايتونه پريږدي او په قرآن كريم كي چې د عيسىٰ عليه السلام متعلق روح الله او كلمته وئيلې شوي دي. نو د هغې نه دا ثابتوي چې عيسىٰ عليه السلام. الله دی. د الله ځوی دی او الهه درې دي يو په كي عيسى عليه السلام دی دا رنګ بدعتيانٍ د قرآن كريم د نورو ايتونو نه خپل بدعات ثابتوي. او دا د ټولو ګمراهانو طريقه ده.

او د دوي په مقابله كي چې پوخ علْم والاوي. نو هغوي دا وائي چې دا زمونږ د رب د طرف نه دي زمونږ په دې باندې ايمان دی.

****

٢٩٩٤ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ. أَخْبَرَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ. حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ. حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ. عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ. عَنْ عَائِشَةَ. قَالَتْ: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ هَذِهِ الْآيَةِ: هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ (آل عمران :٧ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا رَأَيْتُمُ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ فَأُولَئِكَ الَّذِينَ سَمَّاهُمُ اللهُ فَاحْذَرُوهُمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَرُوِيَ عَنْ أَيُّوبَ.

عَنْ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ عَائِشَةَ. هَكَذَا رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ هَذَا الْحَدِيثَ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ، وَإِنَّمَا ذَكَرَ يَزِيدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ التُّسْتَرِيُّ، عَنِ الْقَاسِمِ فِي هَذَا الْحَدِيثِ. وَابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ هُوَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ سَمِعَ مِنْ عَائِشَةَ أَيْضًا. (1)

ترجمه :دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه دايت كريمه " فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ (آل عمران :٧)." دتفسير باره كي تپوس اوكړو نو ويي فرمائيل پس كله چې ته دي خلقو لره په متشابهاتو پسي دورپسي كيدو په حال كي اووينې نو پوهه شه چې همدوئ هغه كسان دي دچاچې الله تعالي نومونه اخستلي دي او دهمداسي خلقو نه خان ساته.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي دا حديث دابو ايوب رضي الله عنه نه مروي دي. او ابوايوب په واسطه دابن ابي مليكه دعائشه رضي الله عنها نه روايت نقل كړي دي، دارنگي دا حديث متعددو راويانو دابن ابي مليكه نه دعائشه په واسطه نقل كړي دي ليكن دي راويانو پخپلو خپلو روايتونو كي دقاسم بن محمد واسطه نه ده ذكر كړي دده ذكر صرف يزيد بن ابراهيم تستري په دي حديث كي په "عن القاسم " وئيلو سره كړي دي او دابن ابي مليكه نوم عبدالله بن عبيدالله بن ابي مليكه دي او هغه دعائشه رضي الله عنها نه هم اوريدل كړي دي.

****

٢٩٩٥ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي الضُّحَى، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ وُلَاةً مِنَ النَّبِيِّينَ، وَإِنَّ وَلِيِّي أَبِي وَخَلِيلُ رَبِّي، ثُمَّ قَرَأَ إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِإِبْرَاهِيمَ لَلَّذِينَ اتَّبَعُوهُ وَهَذَا النَّبِيُّ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاللَّهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِينَ (آل عمران :٦٨)". حَدَّثَنَا مَحْمُودٌ، حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي الضُّحَى، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ، وَلَمْ يَقُلْ فِيهِ عَنْ مَسْرُوقٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ أَبِي الضُّحَى، عَنْ مَسْرُوقٍ، وَأَبُو الضُّحَى

---

1 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /تفسير آل عمران ١ (٤٥٤٧) . صحيح مسلم/العلم ١ (٢٦٦٥) . سنن ابن ماجه/المقدمة ٧ (٤٧) (تحفة الأشراف : ١٧٤٦٠) . و مسند احمد (٦/٤٨) . وسنن الدارمي/المقدمة ١٩ (١٤٥)

اسْمُهُ مُسْلِمُ بْنُ صُبَيْحٍ. حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي الضُّحَى، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ حَدِيثِ أَبِي نُعَيْمٍ وَلَيْسَ فِيهِ عَنْ مَسْرُوقٍ. (1)

ترجمه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دهر يو نبي په انبياؤ كي څوك نه څوك دوست وي او زما دوست زما پلار او زما درب پوخ دوست ابراهيم عليه السلام دي او بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم دا ايت كريمه " إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِإِبْرَاهِيمَ لَلَّذِينَ اتَّبَعُوهُ وَهَذَا النَّبِيُّ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاللَّهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِينَ (آل عمران: ٦٨)". اولوستلو.

امام ترمذي وايي: ابو الضحي هم دابن مسعود په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه ددي هم معني روايت نقل كړي دي او په سند كي يي دمسروق واسطه نه ده ذكر كړي. او دا روايت دابو الضحي دروايت نه كوم چي دمسروق نه نقل كوي زيات صحيح دي او دابو الضحي نوم مسلم بن صبيح دي، ابو الضحي په مذكوره سند هم دابن مسعود په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دابو نعيم دحديث پشان حديث نقل كړي دي او په سند كي يي دمسروق واسطه نه ده ذكر كړي.

****

حَدَّثَنَا مَحْمُودٌ، حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي الضُّحَى، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ وَلَمْ يَقُلْ فِيهِ: عَنْ مَسْرُوقٍ. (2)

ترجمه : ابو الضحي په مذكوره سند هم دابن مسبعود په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل پشان حديث نقل كړي دي او په سند كي يي دمسروق واسطه نه ده ذكر كړي.

****

٢٩٩٦_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ شَقِيقِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ هُوَ فِيهَا فَاجِرٌ لِيَقْتَطِعَ بِهَا مَالَ امْرِئٍ مُسْلِمٍ لَقِيَ اللَّهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ، فَقَالَ الأَشْعَثُ بْنُ قَيْسٍ: فِيَّ وَاللَّهِ كَانَ ذَلِكَ كَانَ بَيْنِي وَبَيْنَ رَجُلٍ مِنَ الْيَهُودِ أَرْضٌ فَجَحَدَنِي فَقَدَّمْتُهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩٥٨١)

2 ـ انظر ماقبله (تحفة الأشراف: ٩٥٨٤)

وَسَلَّمَ: "أَلَكَ بَيِّنَةٌ؟" فَقُلْتُ: لَا، فَقَالَ لِلْيَهُودِيِّ: احْلِفْ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِذَنْ يَحْلِفُ فَيَذْهَبُ بِمَالِي، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا (آل عمران :۷۷) إِلَى آخِرِ الْآيَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَفِي الْبَابِ عَنْ ابْنِ أَبِي أَوْفَى.[1]

ترجمه : دعبدالله بن مسعود ؓ نه روايت دى فرمائي چې نبي عليه الصلاة والسلام فرمائيلي دي چې څوك په څه خبره قسم وخوري اوپه دغه قسم كې دروغژن وي ددي دپاره چې ديومسلمان مال غصب كړي نودى به دالله تعالي سره په دي شان سره ملاويږي چې الله تعالي به په ده باندي غصه وي اشعث وئيلي دي په الله قسم رسول الله صلي الله عليه وسلم داحديث زماپه باره كې وئيلى وو ځكه چې زما او ديويهودي شريكه زمكه وه ماته يې زمادحصي دراكولونه انكاركړى وو نوما رسول الله صلي الله عليه وسلم ته بوتلو رسول الله صلي الله عليه وسلم زمانه تپوس اوكړو ايا ګواه درسره شته؟ ماعرض اوكړو نشته بيايي يهودي ته اووئيل چې ته به قسم كوي ماعرض اوكړو اي دالله رسوله داخويهودي دى په دروغه به قسم اوكړي اوزما مال به غصب كړي په دي وخت كې الله تعالي دا ايت نازل كړو: (إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلاً) إِلَى آخِرِ الْآيَةِ.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب كې د ابن ابي اوفي رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي.

تشريح : إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ، په صحيحينو كې دابو وائل په سند سره دعبدالله رضي الله عنه نه روايت منقول دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چې دكوم مسلمان مال خوړلو دپاره په دروغه قسم خوري نودالله تعالي په وړاندي به يي پيشي په داسي حالت كې اوشي چې الله تعالي به ورته غصه وي اوددي په تصديق كې مذكوره ايت تراخره پوري نازل شو، عبدالله رضي الله عنه چې دا حديث بيانولو نو اشعث بن قيس رضي الله عنه دبهرنه دننه راغي اوتپوس يي اوكړو چې تاسوته ابوعبدالرحمن كوم حديث بيان كړو؟ خلقو اووئيل چې دا، دا، يي بيانولو اشعث رضي الله عنه اووئيل دا ايت زما په باره كې نازل شوي وو، خبره داسي وه چه: چې زما يو كوهي زمادتره دخامنو په زمكه كې وو زه درسول الله په خدمت كې حاضر شوم او خواست مي اوكړو نبي عليه السلام اوفرمائيل ګواه پيش كړه اوكه نه وي نوددوئ قسم به مني ماعرض اوكړو اي دالله رسوله هغوئ خوپه دي باندي قسم كوي(يعني باك ئي نه ګڼړي) نبي عليه السلام اوفرمائيل چاچې ديو مسلمان

---

[1] _ انظر حديث رقم ۱۲۶۹

دمال خوړلو دپاره په دروغه قسم اوکړو اودد ته معلومه وي چې زه دروغ وايم نودقيامت په ورځ چې کله دالله تعالي په وړاندي پيش کيږي نوالله تعالي به ورته غصه وي
بغوي پخپل سند سره دبخاري نه داسي نقل کړي دي ليکن دابوداود او ابن ماجه په روايت کي داشعث بن قيس قول داسي منقول دي چې زما اوديو يهودي په مينځ کي په زمکه باندي لانجه وه هغه زما په حق باندي منکر وو نوما رسول الله صلي الله عليه وسلم ته بوتلو ماته يي اوفرمائيل ايا ګواه درسره شته ؟ ماعرض اوکړو نشته نونبي عليه السلام يهودي ته اوفرمائيل ته به قسم کوي ماعرض اوکړو اي دالله رسوله دي به قسم وخوري (يعني باك يي نه ګڼري) اوزما مال به واخلي نوپه دي باره کي الله تعالي دا ايت نازل کړو ، بخاري دعبدالله بن اوفي رضي الله عنه نه يو روايت بيان کړي دي چې يوکس څه تجارتي سامان بازار ته راوړو اوپه بل کس باندي يي دخرڅولودپاره په الله تعالي قسم اوکړو او ويي وئيل دا زما نه په دومره قيمت اوغوښتلي شو اوحال دادي چې په دومره قيمت ورنه نه وو غوښتلي شوي (يا دا چې ده قسم اوخوړلو چې دا سامان زمانه په دومره قيمت باندي غوښتلي شوي دي اوحال دادي چې په دغه هومره قيمت نه وو غوښتلي شوي) نوپه دي باره کي دا ايت کريمه نازل کړو. حافظ ابن حجر دبخاري په شرح کي ليکلي دي چې په دي دواړو حديثونو کي څه تضاد نشته (چې ديو په صحيح منلو کي ددويم غلط منل لازميږي) بلکه ممکن ده چې دواړه دايت دنزول سببونه وي اودواړه واقعي پيښي شوي وي.

قَلِيلًا... نه مراد متاع ددنيا ده برابره خبره ده چې لږه وي اوکه ډيره خکه چې دجنت دنعمتونو په مقابل کي ددنيا ډير سامان هم لږ دي . مطلب دادي چې کوم خلق په اداء کولو دامانتونوپه لوظونو او په دروغه قسمونه په عوض کي ددنيا متاع اخلي . ابن جريردعکرمه قول نقل کړي دي چې دا ايت دکعب بن اشرف او حيي بن اخطب او ددوئ پشان دنورو يهوديانو په حق کي نازل شوي دي کومو چې په تورات کي دنازل شوو اوصاف محمدي نه انکار کولو اوپټول به يي اوبدلول به يي اودهغي په ځاي باندي به يي بل څه ليکل اوقسمونه به يي کول چې دا دالله دطرف نه نازل شوي دي ، په دي تبديل اوتحريف سره ددوئ مقصد دا وو چې دوئ ته دخوراك دپاره څه ملاؤ شي اوکوم رشوتونه چې به دوئ دخپلو متبعينو نه اخستل چې په هغي کي څه فرق رانه شي . ابن حجر ليکلي دي په دي ايت کي ددي سبب نزول هم احتمال دي ليکن اصل سبب نزول هغه دي کوم چې په حديث کي راغلي دي
زه وايم چې دکلام رفتار اوسياق دابن جرير او دعکرمه دروايت دصحت تقاضا کوي اولکه څرنګه چې په دواړو مذکوره حديثونو کي تعارض نشته نوهمدارنګې ددي حديثونو دعکرمه دروايت سره هم تعارض نشته چې اسباب نزول دري شي علقمه دخپل پلار وائل نه روايت بيان کړي دي چې يوځل دوه کسان درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي

حاضرشول يو دحضرت موت وو اودويم دكنده قبيلي والا وو حضرمي عرض اوكړو اي دالله رسوله ده زما زمكه غصب كړي ده كندي اوويئيل دغه زما زمكه ده اوزما په قبضه كي ده په دي كي دهيڅ چا حق نشته ، رسول الله صلي الله عليه وسلم حضرمي ته اوفرمائيل ايا ګواهان درسره شته هغه اوويئيل نشته نو ويي فرمائيل ته دده نه دقسم اخستلو حقدار يي حضرمي عرض اوكړو اي دالله رسوله دي خو ښكاره اوعلاني فاسق دي په هيڅ ځيز باندي پرواه نه كوي نو بيا يي اوفرمائيل دددينه علاوه بله لار نشته اوددينه زيات درباندي ستا حق نشته چنانچې كله كندي قسم اوكړو اولاړو نورسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل كه چري ده په دروغه باندي په ناحقه ستادمال خوړلو دپاره قسم كړي وي چې كله دالله تعالي په وړاندي پيش كيږي هغه به ورنه مخ واړوي، مسلم

په يو روايت كي راغلي دي چې دكندي نوم امرء القيس بن عابس اودده دحريف نوم ربيعه بن عبدان وو. دابوداود په روايت كي راغلي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل: څوك چې دچادمال خوړلودپاره قسم وكړي نودي به دالله تعالي سره پداسي حال كي مخامخ كيږي چې اجزم (ناقص الخلقت) به وي ، ددي په اوريدو سره كندي دقسم كولو اراده وكړه نو دا ايت نازل شو نويدي سره امرء القيس (يعني كندي) دقسم كولو نه انكار وكړواودخپل جريف دحق اقرار ئي وكړو اوزمكه ئي هم ورته وركړه.

****

٢٩٩٧ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بَكْرٍ السَّهْمِيُّ، حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ: لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ (آل عمران :٩٢) أَوْ مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا (البقرة :٢٤٥ ، قَالَ أَبُو طَلْحَةَ، وَكَانَ لَهُ حَائِطٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ حَائِطِي لِلَّهِ، وَلَوِ اسْتَطَعْتُ أَنْ أُسِرَّهُ لَمْ أُعْلِنْهُ، فَقَالَ: "اجْعَلْهُ فِي قَرَابَتِكَ أَوْ أَقْرَبِيكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ. ([1])

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې كله ايت كريمه " لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ (آل عمران :٩٢)" يا " مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا " نازل شو دغه وخت كي دابو طلحه رضي الله عنه يو باغ وو ابو طلحه اوويئيل اي دالله رسوله زه خپل باغ دالله درضا

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع /الزكاة ٤٤ (١٤٦١) ، والوكالة ١٥ (٢٣١٨) ، والوصايا ١٧ (٢٧٥٨) ، وتفسير آل عمران ٥ (٤٥٥٤) ، والأشربة ١٣ (٥٦١١) . صحيح مسلم/الزكاة ١٤ (٩٩٨) (تحفة الأشراف : ٢٠٣، و٢٠٤)

دپاره صدقه کوم که چري دا ما پتيولي شوي نو پټ کړي به مي وو او اعلان به مي نه کولو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دا دخپلو رشته دارانو دپاره وقف کړه.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي، داحديث مالك بن انس داسحاق بن عبدالله بن ابو طلحه په واسطه دانس بن مالك رضي الله عنه نه نقل کړي دي.

****

٢٩٩٨ـحَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ يَزِيدَ، قَالَ: سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ عَبَّادِ بْنِ جَعْفَرٍ الْمَخْزُومِيَّ يُحَدِّثُ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَامَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: مَنِ الْحَاجُّ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: "الشَّعِثُ التَّفِلُ". فَقَامَ رَجُلٌ آخَرُ، فَقَالَ: أَيُّ الْحَجِّ أَفْضَلُ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: "الْعَجُّ وَالثَّجُّ". فَقَامَ رَجُلٌ آخَرُ، فَقَالَ: مَا السَّبِيلُ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: "الزَّادُ وَالرَّاحِلَةُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ عُمَرَ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ إِبْرَاهِيمَ بْنِ يَزِيدَ الْخُوزِيِّ الْمَكِّيِّ، وَقَدْ تَكَلَّمَ بَعْضُ أَهْلِ الْحَدِيثِ فِي إِبْرَاهِيمَ بْنِ يَزِيدَ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ.[1]

ترجمه : دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائي چې يو کس دنبي کريم صلي الله عليه وسلم په وړاندې اودريدو او عرض يي اوکړو اي دالله رسوله (واقعي) حاجي څوك دي؟ رسول الله اوفرمائيل کامل حاجي هغه څوك دي دچا سر چې ګرد او غبارېږ کړي وي او چاچې زيب او زينب او خوشبو پريخودلي وي او دچا بدن چې بوي شروع کړي وي بيا يو بل کس اودريدو او عرض يي اوکړو کوم يو حج په حجونو کي بهتر دي؟ رسول الله اوفرمائيل هغه حج په کوم کي چې لبيك کلمات په چغه اووئيلي شي او دقربانۍ دڅاروو بنه وينه اوبهيولي شي دي وخت کي يو بل کس اودريدو او عرض يي اوکړو اي دالله رسوله په "من استطاع اليه سبيلا" کي دسبيلا نه څه مراد دي رسول الله اوفرمائيل خرچې او سورلي.
امام ترمذي وايي: دابن عمر دا حديث مونږ ته دابراهيم بن يزيد په روايت رارسيدلي دي بعضي محدثينو په ابراهيم بن يزيد دحافظي په اعتبار کلام کړي دي.

****

٢٩٩٩ـحَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ مِسْمَارٍ هُوَ مَدَنِيٌّ ثِقَةٌ، عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "لَمَّا أَنْزَلَ اللَّهُ هَذِهِ الْآيَةَ تَعَالَوْا نَدْعُ أَبْنَاءَنَا وَأَبْنَاءَكُمْ (آل

---

[1] ـ تفرد به المؤلف.

عمران :٦١). دَعَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِيًّا، وَفَاطِمَةَ، وَحَسَنًا، وَحُسَيْنًا. فَقَالَ: اللَّهُمَّ هَؤُلَاءِ أَهْلِي". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه دسعد بن ابي وقاص رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې كله ايت كريمه " تَعَالَوْا نَدْعُ أَبْنَاءَنَا وَأَبْنَاءَكُمْ " راشئ چې رااوبلو خپل ځامن او ځامن ستاسو، نازل شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم علي، فاطمه، او حسن او حسين رضي الله عنهم راوغوښتل او ويې فرمائيل اي الله دا كسان زما خاندان دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب صحيح دي.

تشريح: په دې ايت كې هغوي ته د مباهلې دعوت وركوي. او دې ايت ته ايت مباهله وئيلى شي. د مباهلې معنى دا ده. چې دوه ډلې يو بل ته بد دُعا اوكړي. مطلب دا دې چې كله په دوه ډلو كې په يو مسئله كې د حق او باطل په باره كې اختلاف او جګړه پيدا شي. او په دلائلو باندې هغه اختلاف نه ختميږي. نو دواړه ډلې دِې د الله تعالى په دربار كې دا دُعا اوغواړي. چې يا الله تعالى په مونږ كې كومه چې ډله دروغژنه وي. نو په هغې باندې لعنت اوكړې. د دې واقعې پس منظر دا دې. چې په صحيح بخاري كتاب المغازي كې د حذيفه رضي الله عنه نه روايت دې. د نجران (د عيسايانو) نه دوه تنه عاقب او سيّد رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغلل. او د هغوي اراده وه چې هغوي د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره مباهله اوكړي. ليكن هغوي داسې اونه كړى شول، هغوي كې يو تن بل ته اووئيل چې داسې مهٔ كوه په الله قسم دې كه چرې دې نبي وي او مونږ په يو بل باندې لعنت اوكړو. نو څمونږ نه روستو خلق به هيچرې كامياب نه شي. (الغرض هغوي د مباهلې اراده ختم كړه) او رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې اوئيل. چې ته څمونږ نه څه غواړې. نو مونږ تاله دركوؤ. ته څمونږ سره يو امانت دار سړې اوليږه. رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چې څه تاسو سره يو امانت دار سړې ليږم او هغه واقعي امانت دار دې. د صحابه كرامو نه هر يو دا خواهش كوؤ چې دا فضيلت ماته ملاؤ شي. رسول الله صلى الله عليه وسلم ابو عبيده بن جراح ته اوفرمائيل. چې پاسه. كله چې هغه پاسيدلو. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چې دا د دې امت امين دې. بيا يې ابو عبيده د هغوي سره اوليږلو.

په بل حديث كې راغلي دي. سعد رضي الله عنه فرمائي كله چې دا ايت نازل شو. چې ته نصاراؤ ته اووايه چې راشئ چې خپل ځامن رااوغواړو او تاسو هم خپل ځامن رااوغواړئ. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم علي رضي الله عنه. فاطمه. حسن او حسين رضي الله عنهم

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٣٨٢٥)

رااوغوختل او اوئ وئيل چي اى الله دا څما اهل دى ليکن د نصاراؤ عالمانو مباهله اونه کړه

* * * * * * * * * * * * * * * * * *

٣٠٠٠ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنِ الرَّبِيعِ بْنِ صَبِيحٍ، وَحَمَّادُ ابْنُ سلمة، عَنْ أَبِي غَالِبٍ، قَالَ: " رَأَى أَبُو أُمَامَةَ رُءُوسًا مَنْصُوبَةً عَلَى دَرَجِ مَسْجِدِ دِمَشْقَ، فَقَالَ أَبُو أُمَامَةَ: كِلَابُ النَّارِ شَرُّ قَتْلَى تَحْتَ أَدِيمِ السَّمَاءِ خَيْرُ قَتْلَى مَنْ قَتَلُوهُ ثُمَّ قَرَأَ: يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ (آل عمران :١٠٦) إِلَى آخِرِ الْآيَةِ، قُلْتُ لِأَبِي أُمَامَةَ: أَنْتَ سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟ قَالَ: لَوْ لَمْ أَسْمَعْهُ إِلَّا مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا أَوْ أَرْبَعًا حَتَّى عَدَّ سَبْعًا مَا حَدَّثْتُكُمُوهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَأَبُو غَالِبٍ يُقَالُ اسْمُهُ حَزَوَّرٌ، وَأَبُو أُمَامَةَ الْبَاهِلِيُّ اسْمُهُ صُدَيُّ بْنُ عَجْلَانَ وَهُوَ سَيِّدُ بَاهِلَةَ. (1)

ترجمه : دابو غالب بيان دي فرمائي چې ابو امامه رضي الله عنه نه د دمشق دمسجد دپوړو سره اوليدلو چې دحروره مقتول دخوارجو سر زوړند کړي شوي وو نو ويي وئيل دجهنم سپي دي او داسمان دلاندي بدترين مخلوق دي مګر بهترين مقتول به هغه وي کوم چې هغوئ قتل کړي وي او بيا يي دا ايت کريمه "يوم تبيض وجوه وتسود وجوه" تلاوت کړو ما ابو امامه رضي الله عنه ته اووئيل ايا تا دا درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي؟ نو ويي وئيل: ما که دا درسول الله صلي الله عليه وسلم نه يو ځل يا دوه ځله يا دري ځله يا څلور ځله تردي پوري چې اوه ځلو پوري يي اوشميرل اوريدلي نه وي نو تاسو ته به مي نه وو بيان کړي امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي، دابوغالب باره کي وئيلي کيږي چې دده نوم حزور دي او دابو امامه باهلي نوم صدى بن عجلان دي او موصوف دباهله قبيلي سردار دي

* * * * * * * * * * * * * * * * *

٣٠٠١ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ (آل عمران :١١٠)، قَالَ: " إِنَّكُمْ تَتِمُّونَ سَبْعِينَ أُمَّةً أَنْتُمْ خَيْرُهَا وَأَكْرَمُهَا عَلَى اللَّهِ " هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ نَحْوَ هَذَا، وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ

---

1 ـ سنن ابن ماجه/المقدمة ١٢ (١٧٦) (تحفة الأشراف : ٤٩٣٥)

كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ (آل عمران :١١٠). (1)

ترجمه : دمعاويه بن حيده رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دالله تعالي ددي قول "كنتم خيرامة اخرجت للناس" په تفسير كښې اوريدلي دي تاسو داويا امتونو تكمله يئ او تاسو دالله په نزد په دوئ ټولو كي بهتر او دټولو نه زيات معزز يئ.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي، متعددو راويانو دبهز بن حكيم نه دا حديث په همدي مضمون نقل كړي دي ليكن دي راويانو پخپل روايت كي دايت كنتم خيرامة اخرجت للناس ذكر نه دي كړي

تشريح: د اد وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ سره متعلق دى. او په دى كي د دعوت وركولو دپاره ډير ترغيب دى او تيزي وركول دي. او د خير په وصف سره دَ دعوت فائده ذكر كوي. يعني د دعوت د خيريت سبب دى. د الله تعالى په نيز. كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ . دا خطاب اول صحابه كرامو ته دى او بيا د هغوي تابعدارانو ته ترقيامته پورى. أُخْرِجَتْ په معنى د ظهور او خوريدلو دى. او په دى كي اشاره ده چې د دعوت د كار د وجى نه دا امت ښكاره او مشهوردى.

****

٣٠٠٢ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا حُمَيْدٌ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كُسِرَتْ رَبَاعِيَتُهُ يَوْمَ أُحُدٍ وَشُجَّ وَجْهُهُ شَجَّةً فِي جَبْهَتِهِ حَتَّى سَالَ الدَّمُ عَلَى وَجْهِهِ، فَقَالَ: كَيْفَ يُفْلِحُ قَوْمٌ فَعَلُوا هَذَا بِنَبِيِّهِمْ وَهُوَ يَدْعُوهُمْ إِلَى اللَّهِ، فَنَزَلَتْ: لَيْسَ لَكَ مِنَ الأَمْرِ شَيْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ (آل عمران :١٢٨) إِلَى آخِرِهَا "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې په جنګ احد كي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم څلور مخامخ (رباعي) غاښونه مات كړي شول، او تندي يي زخمي كړي شو تردي چې وينه يي په مخ مبارك اوبهيدله نو ويي فرمائيل :څنګه به كامياب شي داسي قوم چاچې دخپل پيغمبر سره داسي كار كړي وي او هغه يي الله تعالي ته رابلي نو دي وخت كي ايت

---

[1] ـ سنن ابن ماجه/الزهد٣٤ (٤٢٨٧) (تحفة الأشراف : ١١٣٨٧)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع /المغازي٢١ ـ مسلم/الجهاد ٣٨ (١٧٩١) ـ سنن ابن ماجه/الفتن ٢٣ (٤٠٢٧) (تحفة الأشراف : ٦٨٤) ، ومسند احمد (٩٩/٣، ١٧٨، ٢٠١، ٢٠٦، ٢٥٣، ٢٨٨)

كريمه " لَيْسَ لَكَ مِنَ الأَمْرِ شَيْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ " نشته تا لره د اختيار نه څه څيز. يا به مهرباني اوكړي الله تعالى په دوي باندى يا به عذاب وركړي پس يقينا دوي ظالمان دي، نازل شو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٠٠٣ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، وَعَبْدُ بْنُ حميد، قَالَا: حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا حُمَيْدٌ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " شُجَّ فِي وَجْهِهِ، وَكُسِرَتْ رَبَاعِيَتُهُ، وَرُمِيَ رَمْيَةً عَلَى كَتِفِهِ فَجَعَلَ الدَّمُ يَسِيلُ عَلَى وَجْهِهِ وَهُوَ يَمْسَحُهُ، وَيَقُولُ: كَيْفَ تُفْلِحُ أُمَّةٌ فَعَلُوا هَذَا بِنَبِيِّهِمْ وَهُوَ يَدْعُوهُمْ إِلَى اللَّهِ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: لَيْسَ لَكَ مِنَ الأَمْرِ شَيْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظَالِمُونَ (آل عمران :١٢٨)"، سَمِعْتُ عَبْدَ بْنَ حُمَيْدٍ، يَقُولُ: غَلِطَ يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ فِي هَذَا، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم په مخ مبارك وينه اوبهيدلي شوه او غاښونه يي مات كړي شول او اوګه يي په كاڼړي اوويشتلي شوله ترديچې په مخ يي وينه اوبهيدله چې په لاس يي پاكوله او فرمائيل يي: څنګه به كامياب شي داسي قوم چاچې دخپل پيغمبر سره داسي كار كړي وي او هغه يي الله تعالي ته رابلي نو دي وخت كي ايت كريمه " لَيْسَ لَكَ مِنَ الأَمْرِ شَيْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ " نشته تا لره د اختيار نه څه څيز. يا به مهرباني اوكړي الله تعالى په دوي باندى يا به عذاب وركړي پس يقينا دوي ظالمان دي. نازل شو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي مادعبد بن حميد نه اوريدلي دي چې ديزيد بن هارون نه دي معامله كي غلطي شوي ده.

****

٣٠٠٤ـ حَدَّثَنَا أَبُو السَّائِبِ سَلْمُ بْنُ جُنَادَةَ بْنِ سَلْمٍ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ بَشِيرٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ حَمْزَةَ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ

[1] ـ اورده البخاري في الجامع /المغازي ٢١ .مسلم /الجهاد ٣٨ (١٧٩١) . سنن ابن ماجه /الفتن ٢٣ (٤٠٢٧)؛ تحفة الأشراف: ٧٨٤) . ومسند احمد (٩٩/٣ . ١٧٨ . ٢٠١ . ٢٠٦ . ٢٥٢ . ٢٨٨)

أُحُدٍ: " اللَّهُمَّ الْعَنْ أَبَا سُفْيَانَ، اللَّهُمَّ الْعَنِ الحَارِثَ بْنَ هِشَامٍ، اللَّهُمَّ الْعَنْ صَفْوَانَ بْنَ أُمَيَّةَ، قَالَ: فَنَزَلَتْ: لَيْسَ لَكَ مِنَ الأَمْرِ شَيْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ (آل عمران :١٢٨)فَتَابَ اللهُ عَلَيْهِمْ فَأَسْلَمُوا فَحَسُنَ إِسْلَامُهُمْ "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ يُسْتَغْرَبُ مِنْ حَدِيثِ عُمَرَ بْنِ حَمْزَةَ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، وَقَدْ رَوَاهُ الزُّهْرِيُّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، لَمْ يَعْرِفْهُ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ مِنْ حَدِيثِ عُمَرَ بْنِ حَمْزَةَ، وَعَرَفَهُ مِنْ حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ. ([1])

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دغزوه احد په ورځ اوفرمائيل اي الله لعنت نازل کړي په ابو سفيان، اي الله لعنت نازل کړي په حارث بن هشام، اي الله لعنت نازل کړي په صفوان بن اميه تردي چې دا ايت کريمه " لَيْسَ لَكَ مِنَ الأَمْرِ شَيْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ " نشته تا لره د اختيار نه څه څيز يا به مهرباني اوکړي الله تعالى په دوي باندې يا به عذاب ورکړي پس يقينا دوي ظالمان دي نازل شو نو الله تعالي دوئ ته دتوبې توفيق ورکړو او اسلام يې قبول کړو او ددوئ اسلام بهتر ثابت شو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي دا حديث عمر بن حمزه عن سالم عن ابيه سند سره غريب دي ، زهري هم دسالم نه او هغه دخپل پلار نه دا روايت نقل کړي دي، امام بخاري داحديث دعمر بن حمزه په سند نه پيژني بلکه دزهري په سند يې پيژني.

****

٣٠٠٥ـ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَبِيبِ بْنِ عَرَبِيٍّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا خَالِدُ ابْنُ الْحَارِثِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَجْلَانَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " كَانَ يَدْعُو عَلَى أَرْبَعَةِ نَفَرٍ فَأَنْزَلَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: لَيْسَ لَكَ مِنَ الأَمْرِ شَيْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظَالِمُونَ (آل عمران :١٢٨) فَهَدَاهُمُ اللهُ لِلإِسْلَامِ "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ يُسْتَغْرَبُ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَرَوَاهُ يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ. ([2])

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه

---

[1] ـ تفرد به المؤلف، وراجع: اورده البخاري في الجامع الصحيح/المغازي ٢١ (٤٠٦٩) (تحفة الأشراف : ٦٨٠٠)

[2] ـ تفرد به المؤلف، وراجع: اورده البخاري في الجامع الصحيح/المغازي ٢١ (٤٠٦٩، ٤٠٧٠) (تحفة الأشراف : ٨٣٣٦)

وسلم څلورو کسانو ته خیري کولي نو الله تعالي ایت کریمه "لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ " نشته تا لره د اختیار نه څه څیز یا به مهرباني اوکړي الله تعالی په دوي باندې یا به عذاب ورکړي پس یقینا دوي ظالمان دي ، نازل کړو او بیا الله تعالي هغوئ ته داسلام قبلولو هدایت او توفیق ورکړو.

امام ترمذي وایي: داحدیث حسن غریب صحیح دي، یعني په سند دنافع عن ابن عمر. دا حدیث یحي بن ایوب هم دابن عجلان نه نقل کړي دي

تشریح دا دَ جنګ أحد سره متعلق دی او په مینځ کي د جملی معترضی په طریقه سره واقعه د بدر ده. او د دی ایت شان نزول داسی دی. انس رضي الله عنه فرمائي د رعل. ذکوان عصیته او بني لحیان قبیلو د رسول الله صلی علیه وسلم نه (د دشمن په مقابله کي) مدد اوغوښتلو. نو رسول الله صلي علیه وسلم د هغوي سره او یا کسان د انصارو نه اولیږل چې هغوي په خپله زمانه کي په قراء مشهور وؤ. دوي به د ورځی لرګي راغوندول او د شپی به یې مونځونه کول. کله چې دوي بئرمعونه ته راورسیدل. نو دی قبائلو وعده ماته کړه او هغه او یا کسان یې اووژل. چې دا خبر نبي صلی الله علیه وسلم ته راغی نو هغوي یوه میاشت د سحر په مونځ کي هغوي ته بددعا کوله (متفق علیه)

کله چې به رسول الله صلی الله علیه وسلم د سحر په مونځ کي د دویم رکعت نه سر پورته کړو نو د سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ نه روستو به یې وئیل. ای الله تعالی په فلاني. فلاني او فلاني باندی لعنت اوکړی. نو الله تعالی دا ایت نازل کړو. (صحیح بخاري)

انس رضي الله عنه فرمائي. په جنګ احد کي د رسول الله صلی الله علیه وسلم مخکنی غاښ (مبارک) مات شو او سر (مبارک) یې زخمي شو. هغوي د مخ (مبارک) نه وینه لری کوله او دا یې فرمائیل. چې هغه خلق به څنګه خلاصی اومومي. چې د خپل نبي سر یې زخمي کړو او غاښ یې مات شو. په دی حال کي چې هغه دوي الله تعالی ته رابلي. نو الله تعالی دا ایت نازل کړو. (صحیح مسلم)

نو د دی حدیثونو نه معلومه شوه چې دا دری صدمی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په یو وخت یا په یو بل پسی اورسیدلی نو رسول الله صلی علیه وسلم په کفارو باندی قنوت نازله کوله. نو الله تعالی دا ایت نازل کړو. یعني د دی خلقو د توبی یا د عذاب اختیار تاسره نشته یا عام مراد دی. چې د الله تعالی په کارونو کي ستا څه وس نه رسي نو دا رد دی د شرک في التصرف دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه. او په هغه بی عقله خلقو باندی رد دی چې هغوي نبی صلی الله علیه وسلم مختار کل ګڼړي

أَوْيَتُوْبَ عَلَيْهِمْ. یعني یا به دوي له توفیق د توبی ورکړي. نو توبه به اوباسي. بعضو په کي

اسلام قبول کړو. لکه ابوسفیان او حارث بن هشام او يُعَذِّبَهُمْ د دې نه مراد د دنيا عذاب دې
يا د اخرت هغه چاته چې د کفر نه توبه نۀ کوي.

فَإِنَّهُمْ ظٰلِمُوْنَ. دا د يُعَذِّبَهُمْ دپاره علت دی. او د ظلم نه مراد په کفر او شرک باندې کلك پاتې کيدل دي.

****

۳۰۰۶_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ الْمُغِيرَةِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ رَبِيعَةَ، عَنْ أَسْمَاءَ بْنِ الْحَكَمِ الْفَزَارِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ عَلِيًّا، يَقُولُ: إِنِّي كُنْتُ رَجُلًا إِذَا سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثًا نَفَعَنِي اللَّهُ مِنْهُ بِمَا شَاءَ أَنْ يَنْفَعَنِي، وَإِذَا حَدَّثَنِي رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِهِ اسْتَحْلَفْتُهُ، فَإِذَا حَلَفَ لِي صَدَّقْتُهُ، وَإِنَّهُ حَدَّثَنِي أَبُو بَكْرٍ وَصَدَقَ أَبُو بَكْرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَا مِنْ رَجُلٍ يُذْنِبُ ذَنْبًا ثُمَّ يَقُومُ فَيَتَطَهَّرُ، ثُمَّ يُصَلِّي ثُمَّ يَسْتَغْفِرُ اللَّهَ إِلَّا غَفَرَ لَهُ، ثُمَّ قَرَأَ هَذِهِ الْآيَةَ وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللَّهَ فَاسْتَغْفَرُوا (آل عمران :۱۳۵) إِلَى آخِرِ الْآيَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ قَدْ رَوَاهُ شُعْبَةُ وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ الْمُغِيرَةِ، فَرَفَعُوهُ وَرَوَاهُ مِسْعَرٌ، وَسُفْيَانُ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ الْمُغِيرَةِ فَلَمْ يَرْفَعَاهُ، وَقَدْ رَوَاهُ بَعْضُهُمْ، عَنْ مِسْعَرٍ فَأَوْقَفَهُ وَرَفَعَهُ بَعْضُهُمْ، وَرَوَاهُ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ الْمُغِيرَةِ فَأَوْقَفَهُ، وَلَا نَعْرِفُ لِأَسْمَاءَ بْنِ الْحَكَمِ حَدِيثًا إِلَّا هَذَا.[1]

ترجمه : داسماء بن حکم ﷺ نه روايت دي فرمائي چې دعلي ﷺنه مي اوريدلي دي زه يو داسې سړې يم چې کله به مې درسول الله صلي الله عليه وسلم نه حديث واوريدو نوالله تعالي به په هغه باندې ماته فائده راکوله څومره چې به دهغه خوښه وه اوکله چې به راته په صحابوکې چا حديث بيان کړو نومابه ورته قسم ورکړو نوکه چرې قسم به ئې وکړو نومابه ئې تصديق وکړو اوعلي ﷺوائي چې ماته ابوبکرﷺحديث بيان کړې وو اوابوبکرريشتياوئيلي وو چې مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي وو هريوبنده چې يوه ګناه اوکړي اودالله نه بخنه اوغواړي نوالله تعالي ئې معاف کوي اوبيائې دا ذکرشوې ايت ولوستو. وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللَّهَ فَاسْتَغْفَرُوا.

---

[1] _ اخرجه ابوداود باب في الاستغفار. و انظر حديث رقم ۳۰۶

امام ترمذي وايي: دا حديث شعبه او نورو راويانو دعثمان بن مغيره نه نقل كړي دي او هغوئ مرفوع بيان كړي دي مګر مصعر او سفيان دعثمان بن مغيره نه مرفوع نه دي نقل كړي دي، بعضي راويانو دا د مصعر نه موقوف نقل كړي دي او بعضو ورنه مرفوع نقل كړي دي، او سفيان ثوري دعثمان بن مغيره نه موقوف نقل كړي دي،ددي روايت نه علاوه داسماء بن حكم بل روايت مونږ ته نه دي معلوم.

****

٣٠٠٧ــحَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، عَنْ أَبِي طَلْحَةَ، قَالَ: " رَفَعْتُ رَأْسِي يَوْمَ أُحُدٍ فَجَعَلْتُ أَنْظُرُ، وَمَا مِنْهُمْ يَوْمَئِذٍ أَحَدٌ إِلَّا يَمِيدُ تَحْتَ حَجَفَتِهِ مِنَ النُّعَاسِ، فَذَلِكَ قَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ: ثُمَّ أَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِنْ بَعْدِ الْغَمِّ أَمَنَةً نُعَاسًا (آل عمران :١٥٤)". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ. [1]

ترجمه : دابو طلحه رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې دغزوه احد په ورځ مي خپل سر پورته كړو او اخوا ديخوا مي اوكتل نو په دغه ورځ داسي هيڅوك نه وو چې سر يي دخوب په وجه په سينه رازوړند شوي نه وو پس دالله تعالي دقول "ثم انزل عليكم من بعدالغم امنة نعاسا" همدا مفهوم او مراد دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

دطلحه بن زيد حالات

نوم زيد كنيه ابو طلحه دبني نجار قبيلي عمرو بن مالك خاندان سره يي تعلق دى دپلار نوم يي سهل بن اسود وو او دمور نوم يي عباده وه دجاهليت په زمانه كې دعامو عربو پشان بت پرست او شرابي وو تقريبا دشلو كالو په عمر كې په اسلام كې داخل شو او دمسلمانيدو واقعه يي داسي ده چې مصلين ته يي دنكاح پيغام وركړو نو هغي ورباندي دمسلمانيدو شرط اولګولو ددي اثر دا وو چې دده په زړه كې داسلام حقيقت داخل شو او مسلمان شو كاركردګي يي داسي ده چې درسول الله صلي الله عليه وسلم سره هميشه په غزواتو كې شريك شوى دى او په هر يو جنګ كې يي ښه بهادري خودلي ده.دا هغه صحابي دى چاچې درسول الله صلي الله عليه وسلم دپاره قبر كنستلى وو درسول الله سره يي دومره محبت وو چې دهغه دوفات كيدو نه پس يي دهغه دناستي خاي خالي ليدل برداشت كولى نشول نوپه دي وجه شام ته لاړو او بيابه دپريشانيدو نه پس واپس دقبر زيارت ته راتلو دعمر رضي الله عنه د امارت په زمانه كې

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح/المغازي ٢١ (٤٠٦٨) . وتفسير آل عمران ١١ (٤٥٦٢) (تحفة الأشراف : ٣٧٧١)

هغه دمسائلو دحل دپاره دشپږ کسانو انتخاب کړی وو چې یو په هغوئ کې ابو طلحه هم وو. دده دوفات کیدو په کال کې اختلاف دی بعضو ۳۱او بعضو ۳۲هجري خودلي دی او بعضو ۵۱هجري خودلي دی کوم چې صحت ته زیات نږدې دی دمرویاتو شمیر یې ۹۲ دی دده مزید حالات تهذیب التهذیب الاصابه او تذکرة الحفاظ او بخاري کتاب المغازي وغیره کې کتلی شئ.

****

حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عَبَادَةَ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ الزُّبَيْرِ، مِثْلَهُ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : عروه بن زبیر هم دخپل پلار په واسطه دماقبل هم معني روایت نقل کړي دي.

امام ترمذي وایي: داحدیث حسن صحیح دي.

****

۳۰۰۸_حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ حَمَّادٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى بْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ أَبَا طَلْحَةَ، قَالَ: " غُشِينَا وَنَحْنُ فِي مَصَافِّنَا يَوْمَ أُحُدٍ، حَدَّثَ أَنَّهُ كَانَ فِيمَنْ غَشِيَهُ النُّعَاسُ يَوْمَئِذٍ، قَالَ: فَجَعَلَ سَيْفِي يَسْقُطُ مِنْ يَدِي وَآخُذُهُ، وَيَسْقُطُ مِنْ يَدِي وَآخُذُهُ، وَالطَّائِفَةُ الْأُخْرَى الْمُنَافِقُونَ لَيْسَ لَهُمْ هَمٌّ إِلَّا أَنْفُسُهُمْ، أَجْبَنُ قَوْمٍ وَأَرْعَبُهُ وَأَخْذَلُهُ لِلْحَقِّ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : دانس رضي الله عنه بیان دي ابو طلحه رضي الله عنه اوفرمائیل مونږ په غزوه احد کې پخپلو صفونو کې موجود وو چې په مونږ باندې پرکالي راغله طلحه وائي زه په هغه کسانو کې وم چا باندې چې په دغه ورځ پرکالي راخوره شوې وه داسې حالت راخور شوی وو چې توره مې دلاس نه پریوتله او ما به نیوله او هغه به مې دلاس نه بیا پریوتله او ما به ټینګوله. دویمه ډله دمنافقانو وه دچاسره چې صرف دخپل ځانونو دحفاظت فکر وو دوئ په خلقو کې ډېر چانه زیات بزدل او ډېر چانه زیات ویریدونکي وو او حق لره ډېر چانه زیات پریښودونکي وو.

امام ترمذي وایي: داحدیث حسن صحیح دي

****

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ۳۶۲۱)

2 _ انظر حديث رقم ۳۰۰۷

٣٠٠٩_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ، عَنْ خُصَيْفٍ، حَدَّثَنَا مِقْسَمٌ، قَالَ: قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: "نَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةَ ﴿وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَغُلَّ﴾ (آل عمران:١٦١) فِي قَطِيفَةٍ حَمْرَاءَ افْتُقِدَتْ يَوْمَ بَدْرٍ، فَقَالَ بَعْضُ النَّاسِ: لَعَلَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَهَا، فَأَنْزَلَ اللَّهُ ﴿وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَغُلَّ﴾ (آل عمران:١٦١) إِلَى آخِرِ الْآيَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رَوَى عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ حَرْبٍ، عَنْ خُصَيْفٍ نَحْوَ هَذَا، وَرَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ خُصَيْفٍ، عَنْ مِقْسَمٍ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. ([1])

ترجمه: دعبدالله بن عباس رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې دا ايت كريمه: ﴿وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَغُلَّ﴾ ديوسورخادر په باره كې نازل شوي دي كوم چې دغزوه بدر په ورځ ورك شوي وو، (داخادرچې كله ورك شو) نوخلقوووئيل كيدي شي چې داخادر رسول الله صلى الله عليه وسلم اخستلي وي نوددوي په جواب كې الله تعالى دا ايت كريمه نازل كړو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي، عبدالسلام بن حرب دخصيف نه ددي پشان روايت نقل كړي دي او بعضي راويانو داحديث په سند د خصيف عن مقسم نقل كړي دي ليكن دوئ په سند كې دابن عباس واسطه نه ده ذكر كړې.

****

٣٠١٠_حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَبِيبِ بْنِ عَرَبِيٍّ، حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ كَثِيرٍ الْأَنْصَارِيُّ، قَالَ: سَمِعْتُ طَلْحَةَ بْنَ خِرَاشٍ، قَالَ: سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، يَقُولُ: لَقِيَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لِي: "يَا جَابِرُ، مَا لِي أَرَاكَ مُنْكَسِرًا؟ قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، اسْتُشْهِدَ أَبِي، قُتِلَ يَوْمَ أُحُدٍ وَتَرَكَ عِيَالًا وَدَيْنًا، قَالَ: أَفَلَا أُبَشِّرُكَ بِمَا لَقِيَ اللَّهُ بِهِ أَبَاكَ؟ قَالَ: قُلْتُ: بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: مَا كَلَّمَ اللَّهُ أَحَدًا قَطُّ إِلَّا مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ، وَأَحْيَا أَبَاكَ فَكَلَّمَهُ كِفَاحًا. فَقَالَ: يَا عَبْدِي، تَمَنَّ عَلَيَّ أُعْطِكَ، قَالَ: يَا رَبِّ، تُحْيِينِي فَأُقْتَلَ فِيكَ ثَانِيَةً، قَالَ الرَّبُّ عَزَّ وَجَلَّ: إِنَّهُ قَدْ سَبَقَ مِنِّي أَنَّهُمْ إِلَيْهَا لَا يُرْجَعُونَ، قَالَ: وَأُنْزِلَتْ هٰذِهِ الْآيَةَ ﴿وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا﴾ (آل عمران:١٦٩)". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَلَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مُوسَى بْنِ إِبْرَاهِيمَ، وَرَوَاهُ عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْمَدِينِيِّ وَغَيْرُ وَاحِدٍ مِنْ كِبَارِ أَهْلِ الْحَدِيثِ، هَكَذَا عَنْ مُوسَى بْنِ

---

[1] ـ سنن ابي داود/ الحروف ٣ (٣٩٧١) (تحفة الأشراف: ٦٢٨٧)

إِبْرَاهِيمَ. وَقَدْ رَوَى عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ، عَنْ جَابِرٍ شَيْئًا مِنْ هَذَا.[1]

ترجمه : دعبدالله بن جابر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم زما سره مخامخ شو او ويې فرمائيل اي جابره څه خبره ده چې مات مات دي وينم ما اووئيل اي دالله رسوله زما پلار په غزوه احد کي شهيد کړي شوي دي او دهغه نه واړه ماشومان او قرض پاتي شوي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ايا تاته يو زيري درنکړم چې دالله تعالي سره دملاقات په وخت کي ستا پلار ته الله تعالي څه وئيلي دي هغه اووئيل ولي نه اي دالله رسوله رسول الله اوفرمائيل الله تعالي هيڅ کله دچاسره دپردي نه بغير کلام نه دي کړي ليکن ستا پلار يې ژوندي کړو او بيا يې ورسره بغير دپردي نه مخامخ خبري اوکړي او ويې فرمائيل اي زما بنده زما نه دڅه څيز دغوښتلو تمنا کوي زه به يې درکوم هغه اووئيل اي زما پروردګاره ما دوباره ژوندي کړه تردي چې زه ستا په لاره کي دوباره شهيد کړي شم الله تعالي اوفرمائيل زما دطرفه دافيصله شوي ده "انهم الينا لا يرجعون" يعني چې دنياته دوباره تلل نشته، راوي وائي چې ايت کريمه " وَلا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا " په همدي سلسله کي نازل شوي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند حسن غريب دي، عبدالله بن محمد بن عقيل ددي حديث څه حصه دجابر رضي الله عنه نه نقل کړي ده او دا حديث مونږ صرف دموسي بن ابراهيم په سند پيژنو، اودا حديث علي بن عبدالله مديني او بعضي نورومحدثينو دموسي بن ابراهيم په واسطه په همدي مضمون نقل کړي دي.

****

٣٠١١_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُرَّةَ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ قَوْلِهِ: " وَلا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ (آل عمران :١٦٩)، فَقَالَ: أَمَا إِنَّا قَدْ سَأَلْنَا عَنْ ذَلِكَ فَأُخْبِرْنَا، أَنَّ أَرْوَاحَهُمْ فِي طَيْرٍ خُضْرٍ تَسْرَحُ فِي الْجَنَّةِ حَيْثُ شَاءَتْ وَتَأْوِي إِلَى قَنَادِيلَ مُعَلَّقَةٍ بِالْعَرْشِ، فَاطَّلَعَ إِلَيْهِمْ رَبُّكَ اطِّلاعَةً، فَقَالَ: هَلْ تَسْتَزِيدُونَ شَيْئًا فَأَزِيدُكُمْ؟ قَالُوا: رَبَّنَا وَمَا نَسْتَزِيدُ وَنَحْنُ فِي الْجَنَّةِ نَسْرَحُ حَيْثُ شِئْنَا، ثُمَّ اطَّلَعَ إِلَيْهِمُ الثَّانِيَةَ فَقَالَ: هَلْ تَسْتَزِيدُونَ شَيْئًا فَأَزِيدُكُمْ؟ فَلَمَّا رَأَوْا أَنَّهُمْ لَمْ يُتْرَكُوا قَالُوا: تُعِيدُ أَرْوَاحَنَا فِي أَجْسَادِنَا حَتَّى نَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا فَنُقْتَلَ فِي سَبِيلِكَ مَرَّةً

---

[1] _ سنن ابن ماجه/المقدمة ١٣ (١٩٠)، والجهاد ١٦ (٢٨٠٠) (تحفة الأشراف : ٢٢٨٧)

أُخْرَى". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ مِثْلَهُ، وَزَادَ فِيهِ "وَتُقْرِئُ نَبِيَّنَا السَّلَامَ وَتُخْبِرُهُ عَنَّا أَنَّا قَدْ رَضِينَا وَرُضِيَ عَنَّا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ.(1)

ترجمه :مروي دي چې دابن مسعود رضي الله عنه نه دايت كريمه "وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ" اوخوك چې دالله په لاره كي وژلي شوي دي دوئ ته مړه مه وايئ ، دتفسير باره كي تپوس اوكړي شو نو ويي فرمائيل واورئ مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم نه ددي ايت دتفسير تپوس كړي وو نو مونږ ته يي اوفرمائيل دشهيدانو روحونه به دشنو مرغو په شكل كي وي او چې په جنت كي يي كوم خاي خوښ وي هلته به گرځي او مابنام وخت كي دعرش لاندي قنديلونو كي ارام كوي او شپه تيروي، يو خل ستاسو رب هغوئ ته راكوز شو او يو نظر يي ورته اوكتل او تپوس يي اوكړو ستاسو دپاره مزيد څه څيز ته ضرورت شته چې زه يي دركړم هغوئ اووئيل اي زمونږ پروردگاره مونږ مزيد نور هيڅ نه غواړو زمونږ چې په جنت كي كوم ځاي خوښ وي هلته گرځو بيا دوباره يوه ورځ الله تعالي دوئ طرف ته نزول اوكړو او ويي فرمائيل ايا مزيد څه ضرورت شته چې زه يي دركړم؟ هر كله چې هغوئ اوكتل چې الله تعالي په وركولو قادر دي او دڅه څيز دغوښتلو نه بغير څه چاره نشته نو هغوئ اووئيل زمونږ روحونه زمونږ جسمونو ته دوباره واپس كړه تردي چې مونږ دنيا ته واپس لاړ شو او بيا دوباره ستا په لاره كي قتل كړي شو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

تشريح :وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا..ترمذي په حسن سند سره او ابن خزيمه په صحيح سند سره او ابن ماجه اوبغوي دعبدالله بن جابر رضي الله عنه نه روايت بيان كړي دي فرمائيل ئي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم راسره ملاو شو او فرمائيل ئي اي جابره څه وجه ده چې دخفگان په حالت كي دي وينم ما عرض وكړو چې اي دالله رسوله زما پلار شهيد شو او واړه بچي ئي پاتي شو اوقرض وربانديې هم دي نو راته ئي اوفرمائيل ايا زيري درته دركړم چې ستا پلار دالله تعالي سره په څنگه شان كي مخامخ شوي دي ، ماعرض وكړو ولې نه نو وئي فرمائيل الله تعالي چې دهر چا سره خبري كړي دي نودپردي نه اخوائي

1 ـ صحيح مسلم/الإمارة (١٨٨٧) . سنن ابن ماجه/الجهاد ١٦ (٢٨٠١) (تحفة الأشراف : ٩٥٧٠) . وسنن الدارمي/الجهاد ١٩ (٢٤٥٤)

ورسره کړي دي ليکن ستا پلار ئی ژوندي کړو اومخامخ خبري ئي ورسره وکړي او ورته ئي اوفرمائيل اي زما بنده خپله ارزو دي راته بيان کړه چې پوره ئي کړم ، ستاپلار ووئيل اي زما ربه ماژوندي کړه چې دوباره ستا په لاره کي قتل کړي شم الله تعالي ورته اوفرمائيل زما فيصله مخکي شوي ده (چې دمرګ نه پس) واپس دنيا ته تلل نشته . دراوي بيان دي چې بيا دشهيدانو په باره کي ايت کريمه: وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللهِ أَمْوَاتًا .الاية . نازل شو.

مسلم، امام احمد، حاکم، اوبغوي دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي کله چې داحد په ورځ ستاسو رونړه ووژلي شول نو الله تعالي ددوئ روحونه دشنو مرغوپه ججورو کي داخل کړل اودجنت نهرونو ته ورځي، يعني دجنت دنهرونو نه او به څکي، دجنت ميوي خوري اوپه جنت کي چې ئي چرته خوښه وي ګرځي اود اوده کيدو دپاره هغه قنديلونو ته ورځي کوم چې دعرش دلاندي زوړند دي ، کله چې دوئ خپل عمده خوابګاه اوخوراك خښناك اوليدو او الله تعالي چې ددوئ دپاره کوم عزت فراهم کړي دي ددي معائنه ئي وکړه نو وئي وئيل کاش چې زمونږ قوم ته زمونږ موجوده حالت اود الله تعالي سلوك معلوم شوي وي تردي چې دهغوئ هم دجهاد سره رغبت پيدا شوي وي اودجهاد نه ئي مخ نه اړولي، الله تعالي به اوفرمائي زه به ورته ستاسو دطرف نه اطلاع ورکړم اوستاسو ورونړو ته به ستاسو خبر ور ورسوم شهداؤ چې دا واوريدل نوهشاش بشاش شول نو الله تعالي دا ايت نازل کړو.

ابن المنذر دانس رضي الله عنه نه روايت بيان کړي دي کله چې حمزه رضي الله عنه اوددده ملګري په احد کي شهيدان شول نوشهيدانو ووئيل کاش چې زمونږ ورونړو ته څوك زمونږ خبر ورسوي چې الله تعالي مونږ ته کوم عزت راکړي دي الله تعالي دوئ ته وحي وليږله چې زه به ورته ستاسو دطرف نه اطلاع ورکړم اوستاسو ورونړو ته به ستاسو خبر ور ورسوم پس الله تعالي ايت کريمه وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ . فَرِحِينَ بِمَا آتَاهُمُ اللهُ مِنْ فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا بِهِمْ مِنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ . يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِنَ اللهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ اللهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُؤْمِنِينَ. نازل کړو.

داهم وئيلي شوي دي چې دشهيدانو عزيزانو او اقاربوته چې په دنيا کي کوم راحت اونعمت ملاويږي نودوی افسوس کوي چې مونږ مزي کوو اوزمونږ ورونړه اوپلرونه اوخامن په قبرونو کي دي(کاش چې هغوئ هم زمونږ سره وي)، د"لاتحسبن" خطاب ياخو رسول الله صلي الله عليه وسلم ته دي ياد شهيدانو اقاربوته دي داهم کيدي شي چې منافقانو ته خطاب وي څکه

چې په طور دطعن هغوئ وئيلي وو. لَوْ أَطَاعُونَا مَا قُتِلُوا . پدي وخت کي به دا ايت دقل په ذيل کي داخل وي (يعني دقل مفعول به شي)
دسبيل الله نه مراد جهاد دي. دالفظ عام دي دهرخير په لاره کي مړکيدو ته شامل دي . مګر دلفظ قتل په وجه دنورو خيرونو په لارو کي مړکيدوته به صراحتا شامل نه وي مګرپه دلالت النص سره په درجه اولي ياکم از کم به بالمساوات شامل شي . يادنفس سره جهاد کونکي لره دي په مقتول في سبيل الله باندي قياس کړي شي خکه چې دخپل نفس سره جهاد کول جهاد اکبر دي اوجهاد اصغر نه زيات سخت دي . اود اموات نه هغه مړي مراد دي کوم چې دراحت اولذت احساس نه کوي.

بَلْ أَحْيَاءٌ ... بلکه هغوئ ژوندي دي ابوالعاليه ددي فقري په تشريح کي وئيلي دي چې هغه به دشنو مرغو په شکل باندي وي په جنت کي چې بې چرته خوښه وي الوزي به (رواه ابوحاتم) بغوي ليکلي دي چې دقيامت دورځي پوري هره شپه دعرش دلاندي ددوئ روحونه رکوع اوسجدي کوي.

ابن منذر دطلحه بن عبدالله رضي الله عنهما نه روايت کړي دي فرمائي چې زه په ځنګل کي دخپلو اوښانو په تلاش کي ګرځيدم او هلته په ما باندي شپه راغله نو مادعبدالله بن عمرو بن حرام دقبر سره قيام اوکړو هلته دقبر نه ماته دقران لوستو پشان داسي ښه اواز راغي چې دهغي نه بهتر اواز چرته ما نه وو اوريدلي ، زه واپس راغلم اودرسول الله په خدمت کي حاضر شوم او ددي ذکر مي اوکړو نبي عليه السلام اوفرمائيل هغه عبدالله وو ايا تاسو ته نه ده معلومه چې الله تعالي ددي شهيدانو روحونه دقبض کولونه پس دزمرود اوياقوت په قنديلونوکي دجنت په مينځ کي ايخودلي دي اوقنديلونه يي په جنت کي زوړند کړي دي کله چې شپه راشي نو ددوئ روحونه واپس راوګرځولي شي او تولـه شپه داسي اوسيږي بيا چې سحر راوخيژي نو دا روحونه واپس خپلو مقاماتو ته (قنديلونوته) لاړ شي . په دي قول باندي شهيد ته دمرګ نه پس دطاعاتو ثواب اودرجي هم ملاويږي شهيد په قبر کي رزيږي او پرسيږي نه اونه يي زمکه خوري دا دهغه دزندګئ په نښاناتو کي يوه نښانه ده.

بيهقي په خپل سند سره او ابن سعد او بيهقي په نورو سندونو سره اومحمد بن عمرو دخپلو مشائخو په سند سره نقل کړي دي چې جابر رضي الله عنه فرمائيلي دي کله چې معاويه رضي الله عنه نهر جاري کړو نو مونږه داحد دشهيدانو مزارونو ته اورسيدو اودوئ مو بهر راوويستل او. اوموليدل چې تر اوتازه پراته دي اوددوئ په لاسونو اوخپو کي دژوندو پشان لچک دي . دمحمد بن عمرو دمشائخو بيان دي چې خلقو دجابر رضي الله عنه پلار لره په داسي حالت کي اوموندو چې خپل لاس يي په زخم باندي ايخودلي وو کله چې لاس دزخم نه جدا کړي شو نو وينه ورنه راوخوټکيدله نو مجبورا لاس واپس پخپل ځاي باندي کيخودي

شو نو وينه ودريده، دجابر رضي الله عنه بيان دي ما چې خپل پلار په قبر کې اوليدو نو داسي ښکاريدو لکه چې اوده وي اودکومي کرخي والا کمبلي نه چې ورته کفن ورکړي شوي وو هغه هم دغسي پرته وه اوحال دادي چې دهغه څلويښت کاله شوي وو، په دې شهيدانو کې ديو کس په پنډۍ باندي دپلك ګذار اولګيدو نو وينه ورنه راووته ، مشائخو وئيلي دي چې دا حمزه رضي الله عنه وو ، ابوسعيد خدري رضي الله عنه فرمائيلي دي ددينه پس کوم منکر (دحيات شهداء نه) انکار نه شي کولي خلقو به ددې مزارونو خاوري کنستلي کله چې به يې لږه غونډي خاوره هم اوکنستله نود مشکو پشان خوشبوبه يې کوله.

بغوي دعبيد بن عمير بيان نقل کړي دي چې داحد نه دواپسۍ په وخت کې درسول الله صلي الله عليه وسلم تيريدل دمصعب بن عمير رضي الله عنه په خوا کې اوشو مصعب بن عمير شهيد شوي وو نورسول الله صلي الله عليه وسلم دده خواته اودريدو اودده دپاره يې دعا اوغوښتله او بيا يې دا ايت کريمه: مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَّن قَضَىٰ نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا، تلاوت کړو او بيا يې اوفرمائيل زه ګواهي ورکوم دقيامت په ورځ چې دوئ ټول دالله تعالي په نزد باندي شهيدان شوي دي، خبردار تاسو ددوئ خواته راتلل کوئ او ددوئ ملاقاتونه کوئ او دوئ ته سلام کوئ ، قسم دي په هغه ذات باندي دچا په لاس کې چې زما روح دي څوك چې دقيامته پوري دوئ ته سلام کوي نو دوئ به ضرور دسلام جواب ورکوي.

حاکم او بيهقي دابوهريره رضي الله عنه نه روايت نقل کړي دي او بيهقي دابو ذر رضي الله عنه نه او ابن مردويه دخباب بن ارب په روايت سره ليکلي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دمصعب بن عمير په خوا کې تيريدو مصعب دنبي عليه السلام په لاره کې شهيد پروت وو نبي عليه السلام هلته اودريدو اودده دپاره يې دعا اوغوښتله او بيا يې دا ايت کريمه: مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ، تلاوت کړو اوددينه پس يې اوفرمائيل ماته په مکه کې ليدلي وي چې په مکه کې نه ستا نه زيات څوك خوش لباس وو او نه ښائسته ويختو والا (اونن ستا دا حالت دي چې دالله په لاره کې مثله شوي يي).

عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ... دخپل رب سره دوئ ته دجنت نه رزق ورکولي شي ، يعني دالله په قرب کې بلا کيف (يعني داسي قرب ندي کوم چې جسماني يامکاني يا انضمامي يا ارغامي يا نسبي وي بلکه ددي ټولو نه جدا يو داسي قرب دي دکوم چې څه کيفيت نشي بيانيدي بلکه اعزازي قرب دي.

****

٣٠١٢_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ . حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ جَامِعٍ وَهُوَ ابْنُ أَبِي رَاشِدٍ، وَعَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ أَعْيَنَ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَا مِنْ رَجُلٍ لَا يُؤَدِّي زَكَاةَ مَالِهِ إِلَّا جَعَلَ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِي عُنُقِهِ شُجَاعًا، ثُمَّ قَرَأَ عَلَيْنَا مِصْدَاقَهُ مِنْ كِتَابِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ وَلا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ (آل عمران :١٨٠)الآيَةَ، وَقَالَ مَرَّةً: قَرَأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِصْدَاقَهُ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ (آل عمران :١٨٠) ، وَمَنِ اقْتَطَعَ مَالَ أَخِيهِ الْمُسْلِمِ بِيَمِينٍ لَقِيَ اللَّهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ ثُمَّ قَرَأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِصْدَاقَهُ مِنْ كِتَابِ اللَّهِ: إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ (آل عمران :٧٧)". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَمَعْنَى قَوْلِهِ شُجَاعًا أَقْرَعَ يَعْنِي حَيَّةً. [1]

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چې دخپل مال زکوة نه ورکوي الله تعالي به دقيامت په ورځ دهغه په غړئ کي يو مار واچوي او بيارسول الله ددي په ثبوت کي دالله تعالي دا قول "ولايحسبن الذين يبخلون بما اتاهم الله من فضله" اولوستلو، راوي يو ځل داسي اووئيل چي رسول الله ددي په مناسبت دا ايت "سيطوقون ما بخلوا به يوم القيامه" تلاوت کړو او بيا رسول الله ددي دمصداق ايت "ان الذين يشترون بعهدالله" الخ. تلاوت کړو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٠١٣_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، وَسَعِيدُ بْنُ عَامِرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ مَوْضِعَ سَوْطٍ فِي الْجَنَّةِ لَخَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا اقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلا مَتَاعُ الْغُرُورِ (آل عمران :١٨٥)". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [2]

[1] _ سنن النسائي/الزكاة ٢ (٢٤٤٣) ، سنن ابن ماجه/الزكاة ٢ (١٧٨٤) (تحفة الأشراف : ٩٢٣٤، ٩٢٨٣) ، و مسند احمد (١/٣٧٧) .

[2] _ (تحفة الأشراف : ١٥٠٢٨، و١٥١١٦) . وانظر : مسند احمد (٢/٣١٥، ٤٣٨، ٤٨٣)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په جنت کي ديوي کوړي برابر خاي دټولي دنيا نه او څه چې په دنيا کي دي دټولو نه بهتر دي او که په دي باندي زيات پوهيدل غواړئ نو دا ايت لولئ " فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلا مَتَاعُ الْغُرُورِ "

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٠١٤_حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ الزَّعْفَرَانِيُّ، حَدَّثَنَا الْحَجَّاجُ بْنُ مُحَمَّدٍ، قَالَ: قَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ: أَخْبَرَنِي ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ، أَنَّ حُمَيْدَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ أَخْبَرَهُ، أَنَّ مَرْوَانَ بْنَ الْحَكَمِ، قَالَ: اذْهَبْ يَا رَافِعُ لِبَوَّابِهِ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ فَقُلْ لَهُ: لَئِنْ كَانَ كُلُّ امْرِئٍ فَرِحَ بِمَا أُوتِيَ وَأَحَبَّ أَنْ يُحْمَدَ بِمَا لَمْ يَفْعَلْ مُعَذَّبًا لَنُعَذَّبَنَّ أَجْمَعُونَ، قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: مَا لَكُمْ وَلِهَذِهِ الآيَةِ إِنَّمَا أُنْزِلَتْ هَذِهِ فِي أَهْلِ الْكِتَابِ ثُمَّ تَلَا ابْنُ عَبَّاسٍ وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ لَتُبَيِّنُنَّهُ لِلنَّاسِ وَلا تَكْتُمُونَهُ (آل عمران :١٨٧)وَتَلَا لا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَفْرَحُونَ بِمَا أَتَوْا وَيُحِبُّونَ أَنْ يُحْمَدُوا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوا (آل عمران :١٨٨)، قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: سَأَلَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ شَيْءٍ فَكَتَمُوهُ وَأَخْبَرُوهُ بِغَيْرِهِ فَخَرَجُوا وَقَدْ أَرَوْهُ أَنْ قَدْ أَخْبَرُوهُ بِمَا قَدْ سَأَلَهُمْ عَنْهُ فَاسْتُحْمِدُوا بِذَلِكَ إِلَيْهِ وَفَرِحُوا بِمَا أُوتُوا مِنْ كِتْمَانِهِمْ وَمَا سَأَلَهُمْ عَنْهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دابن ابي مليکه بيان دي چې عبد بن حميد نه مي دا روايت اوريدلي دي چې مروان بن حکم خپل دربانچي ابو رافع ته اووئيل ابن عباس ته ورشه او ورته اووايه که چري يو بنده پخپل کړي کار خوشحالي ښکاره کونکي وي او په نه کړي کار تعريف حاصلونکي دسزا مستحق وي بيا خو به مونږ ټول دسزا مستحق شو. ابن عباس رضي الله عنهما اوفرمائيل ستا په دي ايت کي څه مطلب دي دا خو داهل کتابو باره کي نازل شوي دي او بيا ابن عباس دا ايت "وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ لَتُبَيِّنُنَّهُ لِلنَّاسِ وَلا تَكْتُمُونَهُ (آل عمران :١٨٧) او . وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَفْرَحُونَ بِمَا أَتَوْا وَيُحِبُّونَ أَنْ يُحْمَدُوا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوا "تلاوت کړو او ويي فرمائيل رسول الله ديهوديانو نه څه څيز باره کي تپوس اوکړو نو هغوئ هغه څيز پټ کړو او دهغه نه

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /تفسير آل عمران ١٦ (٤٥٦٨) ، صحيح مسلم/ المنافقين ٨ (٢٧٧٨) (تحفة الأشراف: ٥٢١٣)

علاوه کوم بل څیز یي اخودلو او بیا لاړو بیارسول الله ته داظاهر کړي شول تا چې ددوئ نه څه تپوس کړي وو دهغي متعلق دوئ اووئیل او ستا نه دوئ تعریف اوریدل غواړي او هغوئ دخپل کتاب نه پټ کړو او چې تاته یي کوم جواب درکړو او تا چې دوئ مخاطب کړل په دي باندي دوئ خوشحالي ښکاره کړه.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب صحيح دي.

****

٥_بَاب وَمِنْ سُورَةِ النِّسَاءِ

دسورة نساء دبعضي ایتونو تفصیل

شان نزول

د سورة د نازلیدلو د زمانی د معلومیدلو نه پس د دی زمانی تاریخ ته کتل پکار دی چې د سورة په بحثونو باندی د پوهیدلو د پاره د دی نه مدد واخستی شی.

نبی صلی الله علیه وسلم ته چې کوم کارونه وړاندی ؤو. هغه په دری شعبو کي تقسیم کولی شی.

(١) د نوی منظم مسلم سوسائتیٔ ترقی. چې د هغی بنا د هجرت سره وجود ته راغلی وه. او په دی کي د جاهلیت د زړو او پخوانو طریقو ختم کول ؤو. او د اخلاقو. تمدن. معاشرت. معیشت او د حکومت د پاره نوی اُصول جوړول او نافذ کول ؤو.

(٢) د هغه کشمکش مقابله چې هغه د مشرکین عرب. یهودو او نصاراؤ سرّه جاری ؤو. او د هغوی مقصد د اسلام مخالفت ؤو.

(٣) د دی کشمکش باوجود د اسلام دعوت خورول. او نور طاقت د افرادو حاصلول.

د الله تعالی د طرف نه چې څومره خطبی په دی موقع نازلی شوی دی هغه د دی دریو شعبو سره تعلق لری.

د اسلامی سوسائتیی د تنظیم د پاره چې کوم هدایات په سورة بقره کي ذکر شوی دی. نو د هغی نه زیات هدایات د مومنانو د پاره پکار ؤو. د دی وجی نه د سورة نساء په دی خطبو کي په زیات تفصیل سره وئیلی شوی دی. چې مومنان به خپله اجتماعی زندګی د اسلام په طریقه څنګه جوړوی. د خاندان د تنظیم اُصول خودلی شوی دی په نکاح باندی پابندیٔ لګیدلی دی. په معاشرت کي د زنانو او نارینو د تعلقاتو حد بندی شوی ده. د یتیمانانو حقونه خودلی شوی دی.

د وراثت د تقسیم ضابطه مقرر شوی ده. د معاشي معاملاتو او د خانګي جګړو د اصلاح د پاره هدایات بیان شویدي. د تعزیري قانون بنا شوی ده. په شراب نو شئ باندي پابندي لګولي شوي ده. د طهارت او پاکي احکام بیان شوي دي. او مومنانو ته وئیلي شوي دي چي د یو صالح انسان طرز عمل به د الله تعالی او د بندګانو سره څنګه وي. د مومنانو په جماعتي ژوند کي د نظم ساتلو متعلق هدایات بیان شوي دي. د اهل کتابو په اخلاقي او مذهبي رویه باندي تبصره شوي ده. چي مومنان د هغوی د نقش قدم نه خان بچ کړي. د منافقانو په طرز عمل باندي تنقید ئی کړي دي. او د ایمانداری تقاضي ئی واضح کړي دي. د ایمان او د نفاق ښکاره اوصاف ئی واضحه کړي دي.

د اصلاح مخالف طاقتونو سره چي کوم کشمکش جاري ؤو. د جنګ احد نه پس هغي نازك صورت حال اختیار کړو. د احد د شکست په وجه د مخالفینو همتونه زیات شول. او مومنان په لویه خطره کي راګیر شول. په دی حالاتو کي الله تعالی د جوش نه ډکي خطبي سره مومنان د مقابلي د پاره تیار کړل. او په جنګي حالاتو کي د کار کولو مختلف ضروري هدایات ئی بیان کړل. په مدینه کي منافقانو او کمزوري ایمان والو خلقو خوفناك خبري کولي. او بد حواسي ئی خوروله. په داسي صورت کي حکم ورکړی شو. چي هر داسي خبر ذمه دار خلقو ته رسوي.

او تر څو پوري چي د دی خبر تحقیق نه وي شوی. نو د هغي خورول دي بند کړی شي. مومنان به اکثر په جنګونو او غزواتو کي وتل نو اکثر اُوبه به نهٔ وي. نو اجازت اوشو چي که چري تاسو اوبه نهٔ مومئ نو د غسل او اودس دواړو په ځای تیمم کوئ. او په داسي حالت کي مونځ هم مختصر کوئ. کوم ځای چي خطره وي نو هلته صلوة خوف کوئ.

د عربو په مختلفو علاقو کي چي کوم مومنان د کافرانو په قبیلو کي اوسیدل. اکثر به د جنګ په صورت حال کي راګیر شول. نو د دوی معامله د مومنانو د پاره لویه پریشاني وه. نو په دی مسئله کي اسلامي حکومت ته هدایات ورکړی شول. او هغه مومنانو ته د هجرت ترغیب هم ورکړی شو په یهودیانو کي د بنو نضیر رویه خصوصاً د دشمنئ وه. او د وعدو او لوظونو خلاف ورزي به ئی کوله او د اسلام دشمنانو سره ښکاره ملګري ؤو. په مدینه کي هم د نبی صلی الله علیه وسلم او د هغوی د صحابه کرامو خلاف به ئی سازشونه کول نو د دوی په دی روش باندي نیول اوکړی شول او په صفا الفاظو کي ورته آخري تنبیه ورکړی شوه. د دی نه پس دوی د مدیني نه اوویستلی شول.

د منافقانو د مختلفو ډلو طرز عمل هم مختلف ؤو. د مومنانو د پاره دا فیصله کول ګران ؤو. چي کوم قسم منافقانو سره کوم قسم معامله اوکړو. نو دا منافقان په دی سورة کي په مختلفو طبقو کي تقسیم کړی شول او د هري طبقي د منافقانو متعلق او خودلی شول. چي دوی سره

دا قسم معامله پکار ده. او د غیر جانبدار معاهد قبائلو سره د سلوك متعلق هم وضاحت اوکړی شو. د ټولو نه زیات ضروری دا څیز ؤو. چې د مومنانو طرز عمل بی داغه وی څکه چې که په دی کشمکش کې دی کمزوری او وړوکی جماعت کامیابی حاصلولی شوه نو د هغی د پاره د مومنانو طرز عمل او اخلاق مثالی پکار ؤو. د دی وجی نه مومنانو ته د اعلی اخلاقیاتو تعلیم ورکړی شو. او چې کومه کمزوری په دی جماعت کې ښکاره شویده. نو په هغی باندی سخت نیول ذکر شوی دی د دعوت او تبلیغ د پاره هم په دی سورة کې هدایات بیان شوی دی د یهودیانو. د عیسایانو او مشرکینو دری واړه ډلو په غلط مذهبی تصوراتو او بدو اخلاقو او اعمالو باندی تنقید شوی دی.

****

٣٠١٥ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، حَدَّثَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، قَالَ: سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، يَقُولُ: " مَرِضْتُ فَأَتَانِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُنِي وَقَدْ أُغْمِيَ عَلَيَّ. فَلَمَّا أَفَقْتُ قُلْتُ: كَيْفَ أَقْضِي فِي مَالِي ؟ فَسَكَتَ عَنِّي حَتَّى نَزَلَتْ يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ (النساء :١١) ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ.

حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ ابْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، وَفِي حَدِيثِ الْفَضْلِ بْنِ الصَّبَّاحِ كَلَامٌ أَكْثَرُ مِنْ هَذَا. ([1])

ترجمه : محمد بن منکدر دجابر رضي الله عنه نه روایت نقل کوي چې فرمائیل یې زه بیمار شوم او رسول الله صلي الله علیه وسلم زما عیادت دپاره راغلو او دغه وخت کې ما باندي بیهوشي راغلي وه، کله چې په هوش کې راغلم نو عرض مې اوکړو زه خپل مال څنګه تقسیم کړم رسول الله چې واوریدل نو خاموش پاتې شو او ماته یې څه جواب رانکړو او بیا دا ایت کریمه " يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ " کلك حکم کوی تاسو ته الله تعالی په باره د میراث د اولاد ستاسو کې د نارینه دپاره په شان د برخې د دوؤ زنانو دی، نازل شو.

[1] ـ انظر حديث رقم ٢٠٩٧

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي داحديث نورو راويانو هم دمحمد بن منكدر نه نقل كړي دي.

تشريح يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ په دی ايت كي په جاهليت والو باندی رد دی چې هغوی به زنانو. نابالغ او كمزورو ته په ميراث كي حصه نۀ وركوله.

(يُوْصِيْكُمُ اللهُ) وصيت په معنی د فرض كولو او امر كولو دی. او په دی كي د ميراث د مسئلی په باره كي ډير تاكيد دی.

د ميراث دپار شرعًا دری اسباب دی اول. (توالد) اولاد او والدين دويم زوجيت. يعني خاوند او ښځه. دريم. روروالی او خوروالی په دی ايت كي د توالد (اولاد او والدين) په باره كي شپږ مسائل ذكر دی. وارثان دری قسمه دی. (۱) ذوی الفروض (۲) عصبه (۳) ذوی الارحام.

ذوی الفروض هغه كسان دی. چې د هغوی خاص برخی په قرآن كريم صحيح احاديثو يا په اجماع سره ثابت دی. او هغه شپږ برخی دی. (۱) نيمه (نصف) (۲) څلورمه حصه (۳) اتمه حصه (۴) دوه د دريمی حصی ۲.۳ (۵) دريمه حصه (۶) شپږمه حصه او ذوی الفروض دوه قسمه دی. (۱) نارينه (۲) زنانه.

بيا نارينه لس قسمه دی. (۱) ځوی. (۲) نوسی (اګر چې نور هم ښكته وی لكه نوسی.كړوسی) (۳) پلار. (۴) نيكه (اګر چې نور هم پورته وی) (۵) ورور (۶) وراره (۷) تره (۸) د تره ځوئی (۹) خاوند (۱۰) مولاد مرئ د ازارولو.

او زنانه اوو قسمه دی. (۱) لور (۲) نوسئ (اګر چې ښكته وی) (۳) مور. (۴) نيا (اګر چې پورته وی) (۵) خور (۶) ښځه (۷) مولاتة د مرئ د ازارولو.

او عصبه هغه كسان دی. چې د هغوی برخی مقرر نۀ وی. ليكن كوم ميراث چې د ذوی الفروض د برخو نه پاتی شی. نو هغه د دوی حق وی. او كه ذوی الفروض نه وی. نو بيا ټول مال د دوی حق دی. او د عصبو حق د قران كريم نه په سكوت سره او په احاديثو كي صراحتًا معلوم دی.

(يُوْصِيْكُمْ) اګر چې دا خطاب عام دی. ليكن په احاديثو سره ئی تخصيص كړی شوی دی (۱) وارث به كافر نۀ وی. (۲) مرئی د ازار سړی وارث نه شی كيدی (۳) قاتل د مقتول وارث نۀ شی كيدلی. (۴) د انبياؤ عليهم السلام ميراث نۀ وی. په دليل د صحيح حديث سره. (ترجمه) خمونږ د انبياؤ عليهم السلام د جماعت نه ميراث نۀ اوړلی كيږی. مونږ چې څه پريښودلی دی نو هغه به صدقه وی) دا حديث متواتر دی. د اوولس صحابه كرامو نه نقل دی. او دا مسئله د شيعه ګانو په كتابونو كي هم شته نهج البلاغه د ابن ابی الحديد كي ليكلی دی. چې ابوبكر رضی الله عنه دا حديث ذكر كړو. نو فاطمه رضی الله عنها راضي شوه.

﴿فِي أَوْلَادِكُمْ﴾ د میراث په مسئله کې نې اول اولاد ذکر کړو. ځکه چې د انسان تعلق د اولاد سره د هر څانه مخکې وی او ډیر وی.

لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ، دا اولنی مسئله ده او د دی دوه صورتونه دی. اول صورت دا دی چې څوك مړه شی او يو ځوئی او يو لور ئی پاتی شی نو مال په دری برخی شی دوه حصی به ځوی ته او يوه برخه به لور ته ورکولی شی. دويم صورت دا دی چې د چا يو ځوی او دوه لونړه پاتی شی نو نيم مال به ځوی ته او نيم مال به دواړو لونړو ته ورکولی شی.

****

٣٠١٦_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنَا حَبَّانُ بْنُ هِلَالٍ، حَدَّثَنَا هَمَّامُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، عَنْ أَبِي الْخَلِيلِ، عَنْ أَبِي عَلْقَمَةَ الْهَاشِمِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: " لَمَّا كَانَ يَوْمُ أَوْطَاسٍ أَصَبْنَا نِسَاءً لَهُنَّ أَزْوَاجٌ فِي الْمُشْرِكِينَ فَكَرِهَهُنَّ رِجَالٌ مِنْهُمْ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ: وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ (النساء: ٢٤)". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (١)

ترجمه: دابو سعيد خدري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې په غزوه اوطاس کې دغنيمت په مال کې بعضې داسي ښځې زمونږ لاسونو ته راغلې دچاچې مشرك خاوندان موجود وو بعضې مسلمانانو ددوئ سره صحبت کول مکروه اوګڼړل نو الله تعالي ايت کريمه "وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ " نازل کړو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي.

****

٣٠١٧_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا عُثْمَانُ الْبَتِّيُّ، عَنْ أَبِي الْخَلِيلِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: "أَصَبْنَا سَبَايَا يَوْمَ أَوْطَاسٍ لَهُنَّ أَزْوَاجٌ فِي قَوْمِهِنَّ، فَذَكَرُوا ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَنَزَلَتْ وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ (النساء: ٢٤)". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَهَكَذَا رَوَى الثَّوْرِيُّ، عَنْ عُثْمَانَ الْبَتِّيِّ، عَنْ أَبِي الْخَلِيلِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، وَلَيْسَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ عَنْ أَبِي عَلْقَمَةَ، وَلَا أَعْلَمُ أَنَّ أَحَدًا ذَكَرَ أَبَا عَلْقَمَةَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ إِلَّا مَا ذَكَرَ هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، وَأَبُو الْخَلِيلِ اسْمُهُ صَالِحُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ.

---

[1] ـ انظر حديث رقم ١١٣٢

ترجمه : دابو سعيد خدري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې په غزوه اوطاس كي دغنيمت په مال كي بعضي داسي ښځي زمونږ لاسونو ته راغلي، دچاچې مشرك خاوندان موجود وو. نو خلقو رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ددي ذكر اوكړو ترديې چې دي باره كي الله تعالي ايت كريمه "وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَاءِ إِلا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ " نازل كړو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي ابو الخليل هم په مذكوره سند دابوسعيد خدري رضي الله عنه په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي او په سند كي يي دابو علقمه واسطه نه ده ذكر كړي، او ماته علم نشته دهيچاپه باره كي چې دابو علقمه واسطه يي په دي حديث كي ذكر كړي وي مګر علاوه دحمام نه چې دقتاده نه يي نقل كوي او د ابو الخليل نوم صالح بن ابي مريم دي.

****

٣٠١٨_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الأَعْلَى الصَّنْعَانِيُّ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الحَارِثِ، عَنْ شُعْبَةَ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الكَبَائِرِ، قَالَ: " الشِّرْكُ بِاللَّهِ وَعُقُوقُ الوَالِدَيْنِ وَقَتْلُ النَّفْسِ وَقَوْلُ الزُّورِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ، وَرَوَاهُ رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، عَنْ شُعْبَةَ، وَقَالَ: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، وَلَا يَصِحُّ. (1)

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دكبيره ګناهونو باره كي فرمائيلي دي چې دالله تعالي سره شريك مقررول او دمور او پلار نافرماني كول او يو انسان قتل كول او دروغ ونيل (دا كبيره ګناهونه دي).

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب صحيح دي دا رنګي داحديث روح بن عباده دشعبه نه نقل كړي دي او شعبه دعبدالله بن ابي بكر نه مګر داسند صحيح نه دي.

تخريج : انظر حديث رقم ١٢٠٧

****

٣٠١٩_حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ بَصْرِيٌّ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، حَدَّثَنَا الْجُرَيْرِيُّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَلَا أُحَدِّثُكُمْ بِأَكْبَرِ

1_ انظر حديث رقم ١٣٢

الْكَبَائِرِ ؟ قَالُوا: بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: الْإِشْرَاكُ بِاللَّهِ، وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ، قَالَ: وَجَلَسَ وَكَانَ مُتَّكِئًا، قَالَ: وَشَهَادَةُ الزُّورِ أَوْ قَالَ قَوْلُ الزُّورِ، قَالَ: فَمَا زَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُهَا حَتَّى قُلْنَا لَيْتَهُ سَكَتَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.[1]

ترجمه : د ابو بکره نفیع بن حارث رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل ایا زه تاسو د دریو لویو ګناهونو نه خبر نکړم؟ مونږ عرض اوکړو چې یا رسول الله! ضرور اوفرمایئ، رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل . (۱) الله پاك سره څوك شریك جوړول (۲) دمور پلار نافرماني کول، دغه وخت رسول الله صلي الله علیه وسلم تکیه وهلې وه او بیا نیغ کیناستو وبې فرمائیل (۳) غور سره واورئ او دروغ خبره او دروغ ګواهي. او دا رسول الله صلي الله علیه وسلم دومره په سختئ او تکرارسره بیا بیا اوفرمائیل چې مونږ دا ارزو اوکړه چې کاش دوئ چپ شي.

امام ترمذي وایي: داحدیث حسن صحیح غریب دي.

لغات : انبئکم : نبأ تنبئة وانبأ فلانا یعني فلاني خبر ورکړو.

تشریح : "اکبر الکبائر ثلاث" یعني په تېولو ګناهونو کې درته لوي ګناهونه اونه بنایم. دلته یې په لویو ګناهونو کې دري ګناهونه بیان کړي دي علماء وائي کبیره ګناهونه په مقدار کې منحصر نه دي اوچرته چې دخاص عدد ذکر دی هلته هم حصر مقصود نه دی په دي موضوع علماؤ مستقل کتابونه لیکلي دي او په کبیره ګناه کې یې پنځه قسمونه شمیرلي دي. اول په کومه ګناه چې په قران او حدیث کې وعید راغلی وي، دویم په کومه ګناه چې لعنت راغلی وي، دریم په کومه ګناه چې حد مقرر وي، مثلا زنا سرقه قذف وغیره ، څلورم په کومه ګناه کې چې نقصان زیات وي مثلا کوم فوجي دمسلمانانو راز خور کړي پنځم صغیره ګناه بار بار کول او هغې لره معمولي ګنړل.

"الإِشْرَاكُ بِاللَّهِ . وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ" یعني دالله په ذات اوصفاتو کې چا لره شریکول دټولو نه لویه ګناه ده په قران کریم کې ددی په باره کې راغلي دي:

ان الله لا یغفر ان یشرك به ویغفر ما دون ذلك لمن یشاء. یعني الله تعالي شرك نه معاف کوي او ددینه علاوه ګناهونه که اوغواړي معاف کوي.

عقوق الوالدین. یعني د مور او پلار نافرمانئ هم لویه ګناه ده مګر علماؤ دا تصریح کړي ده چې ددوئ اطاعت دمباحاتو په دائره کې واجب دي او معاصي کې یې اطاعت جائز ندی.

---

[1] ـ انظر حدیث رقم ۱۹۰۱، و۳۲۰۱

6/31 "وَشَهَادَةُ الزُّورِ" په دروغه ګواهي کول، دا هم کبیره ګناه ده ځکه چې يوطرف ته خو په دي کې دروغ وي کوم چې پخپله حرام دي بيا چې ددي په ذريعه دچا مال واخستلي شي نو بيا خو په اکبر الکبائر کې راځي.

د نفيع بن الحارث حالات

نوم: نفيع رضي الله عنه کنيت ابوبکره، دوي دَ طائف دَ قبيله ثقيف اوسيدونکی وو د نيکه نوم ئي کلدة وو، ابوبکره د هغوي کنيت وو د بکره معنیٰ ده د لرګی پايه چې په دی باندی دَ دولچی رسئ چليږی. کله چې نبی کريم (صَلَّي اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) د طائف مَحاصره اوکړه نو دوی هم د لرګی د پايی سهارا اخستی وه او د نبی کريم (صَلَّي اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) په خدمت کې حاضر شو او اسلام ئي راوړو. نبي کريم (صَلَّي اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) دوي لره خپل ح○ وي جوړ کړی وو نبي کريم (صَلَّي اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) دوي لره ابوبکره سره مخاطب کړل او دوي ئي ازاد هم کړل ليکن دوي به ځان ته هم د حضور (صَلَّي اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) غلام وئيلو. (طبقات ابن سعد)

د بصری د ابادیدو نه پس بصری ته راغلو او په شروع کې په مدينه منوره کې هم اسيدلی وو. (اسد الغابه ۵/ ۱۵۱)

د فتنی نه به ډير زيات لری اوسيدو تردی پوری چې په جنګ جمل او جنګ صفين کې هم دوي شرکت نه وو فرمائيلی دده خصوصي شغل د الله تعاليٰ عبادت وو تر ا○خري وخته پوری به ئي عبادت کولو.

صاحب اسد الغابه ليکي: **"كان ابو بكرة كثير العبادة حتيٰ مات"** (اسد الغابة ۱۵۱/۵)

وفات: د امير معاويه رضي الله عنه په عهد کې په بصره کې وفات شو. (تهذيب الکمال ۴۰۴)

مرويات: دده نه د مروياتو تعداد ۱۳۲ دی ددی نه اته په بخاري او مسلم دواړو کې دي او په ۵ کې امام بخاري منفرد دی، دده روايات زياتره دده د صاحبزادګانو نه مرَوي دی.

****

۳۰۲۰ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ زَيْدِ بْنِ مُهَاجِرِ بْنِ قُنْفُذٍ التَّيْمِيِّ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ الأَنْصَارِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أُنَيْسٍ الْجُهَنِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ مِنْ أَكْبَرِ الْكَبَائِرِ: الشِّرْكُ بِاللَّهِ، وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ، وَالْيَمِينُ الْغَمُوسُ، وَمَا حَلَفَ حَالِفٌ بِاللَّهِ يَمِينَ صَبْرٍ فَأَدْخَلَ فِيهَا مِثْلَ جَنَاحِ بَعُوضَةٍ إِلَّا جُعِلَتْ نُكْتَةً فِي قَلْبِهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَأَبُو أُمَامَةَ الأَنْصَارِيُّ هُوَ ابْنُ ثَعْلَبَةَ وَلَا نَعْرِفُ اسْمَهُ وَقَدْ رَوَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَادِيثَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا

حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. ([1])

ترجمه : دعبدالله بن انيس جهني رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په لويو گناهونو كي دټولو نه لويه گناه داده چې دالله تعالي سره شريك مقرر كړي شي او وريسي دمور او پلار نافرماني كول دي ، او بيا په دروغه قسم خوړل دي پس هر څوك چې داسي قسم اوخوري په كوم چې دي مجبوره كړي شوي وي (اوپه همدي قسم دفيصلي انحصار وي) او بيادي په دي كي دمچ برابر دروغ هم شامل كړي نو ددي په وجه به ددي په زړه كي يو تور داغ جوړ شي چې دقيامت دورځي پوري به باقي وي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي، او ابو امامه انصاري دثعلبه ځوي دي او نوم يې مونږ ته معلوم نه دي هغوئ دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه احاديث نقل كړي دي.

****

٣٠٢١ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ فِرَاسٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " الْكَبَائِرُ: الإِشْرَاكُ بِاللَّهِ، وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ أَوْ قَالَ الْيَمِينُ الْغَمُوسُ " شَكَّ شُعْبَةُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه : عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي غټ گناهونه دادي،الله تعالي سره شريك منل دمور او پلار نافرماني كول ، او كه داسي يي اوفرمائيل: او د دروغو قسم خوړل.شعبه راوي په شك كي مبتلا شوى دى.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دى.

لغات : اليمين الغموس قصدا په دروغه قسم خوړل، جمع يي غمس ، من الرجال بهادر ته ويلي شي، طعنة غموس پوري راپوري وتونكي نيزه، غموس النجم دستورو ډوبيدل.

تشريح : دامام بخاري يو روايت داسى دى يو باندېچي د رسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شو عرض يى اوكړو غټ غټ گناهونه كوم‌كوم دي ، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ټولو نه غټه گناه الله سره شريك منل دي هغه عرض اوكړو بيا ، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل بيا يمين غموس غټه گناه ده (راوي وائي) ما تپوس اوكړو

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٥١٤٦)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الأيمان والنذور ١٦ (٦٦٧٥) . والديات ٢ (٦٨٧٠) . والمرتدين ١ (٦٩٢٠) (تحفة الأشراف : ٨٨٣٥) .

يمين غموس څه ته وائي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل داسی قسم چې دچا مسلمان مال ورباندی ناحقه اووهلی شي يعني دی داسی قسم وخوري چې دی پکي دروغژن وي.

قسم په دري قسمه دی اول يمين لغوه. دويم يمين منعقد. دريم يمين غموس. يمين لغوه دامام ابو حنيفه په نزد په ماضي کې په کوم کار باندي خلاف واقع قسم خوړل دي چې زه زشتيا وايم په دي کې نه کفاره شته او نه ګناه. امام شافعي وائي ديمين لغوه نه مراد هغه قسم دی کوم چې بغير دقصد نه دخولي نه اوخي او يمين منعقد په مستقبل کې دکوم کار کولو يا نه کولو دپاره قسم خوړل دي نو په دي صورت کې به په اتفاق سره کفاره لازميږي او يمين غموس دماضي په کوم خلاف واقع کار باندي په قصد سره قسم خوړل دي دغموس معني غوپه ورکول دي او دلته دا قسم کونکی هم په ګناه کې غوپه خوري دامام شافعي په نزد په دي قسم کې هم کفاره ده او دامام ابو حنيفه په نزد په يمين غموس کې کفاره نه وي.

****

٣٠٢٢ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، أَنَّهَا قَالَتْ: " يَغْزُو الرِّجَالُ وَلَا تَغْزُو النِّسَاءُ، وَإِنَّمَا لَنَا نِصْفُ الْمِيرَاثِ فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللَّهُ بِهِ بَعْضَكُمْ عَلَى بَعْضٍ (النساء :٣٢)، قَالَ مُجَاهِدٌ: فَأَنْزَلَ فِيهَا إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ (الأحزاب :٣٥ وَكَانَتْ أُمُّ سَلَمَةَ أَوَّلَ ظَعِينَةٍ قَدِمَتِ الْمَدِينَةَ مُهَاجِرَةً ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ مُرْسَلٌ، وَرَوَاهُ بَعْضُهُمْ عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ مُرْسَلٌ، أَنَّ أُمَّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: كَذَا وَكَذَا.[1]

ترجمه : دام سلمه رضي الله عنها بيان دي فرمائيل يي سړي غزاګانې کوي او ښځي غزاګانې نه کوي. او مونږ ښځو ته نيم ميراث ملاويږي (يعني دسړي په نيمه) نو الله تعالي ايت کريمه "وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللَّهُ بِهِ بَعْضَكُمْ عَلَى بَعْضٍ" نازل کړو. دمجاهد قول دي چې هم ددوی په باره کي ايت کريمه "ان المسلمين والمسلمات" هم نازل شوي دي، او ام سلمه هغه اولنۍ مسافره ده چاچې مديني ته هجرت کړي وو.

امام ترمذي وايي: داحديث مرسل دي او بعضي راويانو دا حديث دابي نجيح په سند دمجاهد نه مرسل نقل کړي دي چې ام سلمه رضي الله عنها داسي ونيلي دي.

****

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٨٢١٠)

٣٠٢٣_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ وَلَدِ أُمِّ سَلَمَةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ، لَا أَسْمَعُ اللَّهَ ذَكَرَ النِّسَاءَ فِي الْهِجْرَةِ فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: أَنِّي لَا أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِنْكُمْ مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى بَعْضُكُمْ مِنْ بَعْضٍ (آل عمران: ١٩٥)". (١)

ترجمه : دام المؤمنين ام سلمه رضي الله عنها بيان دي فرمائيل يي چې ما عرض اوکړو اې دالله رسوله زه دښځو دپاره دهجرت کولو دحکم ذکر په قران کې نه مومم نو الله تعالي ايت کريمه " أَنِّي لَا أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِنْكُمْ مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى بَعْضُكُمْ مِنْ بَعْضٍ "نازل کړو

****

٣٠٢٤_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، قَالَ: قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: "أَمَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَقْرَأَ عَلَيْهِ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَقَرَأْتُ عَلَيْهِ مِنْ (النِّسَاءِ حَتَّى إِذَا بَلَغْتُ فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيدًا (النساء :٤١)، غَمَزَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ فَنَظَرْتُ إِلَيْهِ وَعَيْنَاهُ تَدْمَعَانِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَكَذَا رَوَى أَبُو الْأَحْوَصِ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، وَإِنَّمَا هُوَ إِبْرَاهِيمُ، عَنْ عَبِيدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ. (٢)

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم په منبر ناست وو او ماته يي حکم اوکړو چې زه ورته قران واوروم چنانچې ما دهغوئ په وړاندې دسورة نساء څه حصه تلاوت کړه کله چې زه " فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيدًا" ته ورسيدم نورسول الله زما طرف ته اشاره اوکړه (چې بس کړه مخکې نور مه لوله) ما چې سر پورته کړو او اومې کتل نو دهغوئ دواړه سترګې داوښکو نه ډکې وې چې بهيدلې

امام ترمذي وايي: ابو الاحوص داعمش نه او هغه دابراهيم نه او هغه دعلقمه په واسطه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه ددې هم معني روايت نقل کړي دي او په حقيقت کې دغه سند داسې دې ابراهيم عن عبيدة عن عبدالله (او عن علقمه پکې نشته)

****

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٨٢٢٩)

2 ـ سنن ابن ماجه/الزهد ١٩ (٤١٩٤)

٣٠٢٥_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَبِيدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " اقْرَأْ عَلَيَّ. فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَقْرَأُ عَلَيْكَ وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ ؟ قَالَ: إِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِي، فَقَرَأْتُ (النِّسَاءِ حَتَّى إِذَا بَلَغْتُ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيدًا (النساء :٤١)قَالَ: فَرَأَيْتُ عَيْنَيِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَهْمِلَانِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ أَبِي الْأَحْوَصِ.

حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، نَحْوَ حَدِيثِ مُعَاوِيَةَ بْنِ هِشَامٍ. ([1])

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دى چې ماته رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چې ماته قران واوروه ، ما عرض اوکړو زه ستاسو مخکښې اولولم ، حال دادى چې دا قران خو په تاسو نازل شوى دى رسول الله صلي الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو زه دبل چانه قران اوريدل خوښوم ما دسورة النساء ايتونه تلاوت کړل او چې کله زه "فكيف اذا جئنا" ايت ته راورسيدم (چې ترجمه يى داده) بيابه هغه وخت دوي (مشرکان وغيره) څه کوي کله چې مونږ په هر يو قوم او امت باندي دهغوئ نه يو يو گواه اوکرخوو او دهغه ټولو دتصديق دپاره تاسو لره گواه جوړ کړو، ما چي وکتل د رسول الله صلي الله عليه وسلم سترګو نه اوښکي بهيدلي.

امام ترمذي وايي: دا حديث د ابو الاحوص د حديث نه زيات صحيح دى.

تشريح : "اقرء عليك وعليك انزل" يعني ايا زه تاته قران واوروم او حال دادى چې قران خو په تا باندي نازل شوى دى ، مطلب دادى چې قران خو په تا نازل شوى دى او ددي كيفيت او صحيح حقيقت خو تاته ډير ښه معلوم دى ته چې څومره په مناسب طريقي سره قران لوستلى شي دومره يي بل څوك نشي لوستلى.

دويمه خبره داده چې دبل چانه په قران اوريدو كې دا فائده كيږي چې دقران په مفهوم او معاني باندي دغور كولو موقعه لاس ته راځي.

څوك چې په قران څومره غور كوي هم دومره لطف به حاصلوي.

فكيف اذا جئنا من كل امة: پدي ايت كې دقيامت ورځ رايادوي نو ځكه رسول الله صلي الله

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح/تفسير النساء ٩ (٤٥٨٢) . وفضائل القرآن ٣٢ (٥٠٤٩) ، و٣٣ (٥٠٥٠) . و٣٥ (٥٠٥٥) صحيح مسلم/المسافرين ٤٠ (٨٠٠) . وانظر ماقبله (تحفة الأشراف : ٩٣٠٢) . و مسند احمد (١/٣٨٠)

عليه وسلم ددي ورځي ددهشت نه او دخپل امت دضعف په وجه ژاړي ددينه معلومه شوه چې درسول الله دخپل امت سره ډيره مينه وه.

ويستحب البكاء عند قراءت القران والتباكي لمن لا يقدر عليه والحزن والخشوع.
يعني د قران لوستلو وخت کي ژړا کول او په زوره ځان په ژړا کول مستحب دي خو چې څوك ورباندي قادر وي (الاتقان).
دهؤلاء نه مراد ملت اسلاميه دي ، رسول الله صلي الله عليه وسلم به په تمام امت اسلاميه باندي شهادت ورکوي ، چاچې نبي عليه السلام ليدلي وي دهرڅه متعلق به ګواهي ورکوي.
ابن مبارك دسعيد بن المسيب قول نقل کړي دي چې هره ورځ سحر اوماښام رسول الله ته خپل امت پيش کيږي او هغه ددوئ خصوصي اعمال او علامت پيژني ، نوځکه به هغه دقيامت په ورځ دتمام امت متعلق ګواهي ورکوي.
دبعضو په نزدباندي د هؤلاء نه مراد انبياء عليهم السلام دي ځکه چې انبياء به پخپلو خپلو امتونو باندي شهادت ورکوي اورسول الله صلي الله عليه وسلم به دانبياؤ دشهادت تصديق کوي ، دبعضي علماؤ قول دي چې دهؤلاء نه ددي امت مومنان مراددي دانبياؤ دطرف نه به شهادت ورکوي چې دوئ رښتيا وائي اورسول الله به دمومنانو تصديق کوي په انبياؤ باندي داهل اسلام دشهادت ذکر مونږ دسورة بقره په ايت لتکونوا شهداء علي الناس کي کړي دي.

****

٣٠٢٦_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ الرَّازِيِّ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ السُّلَمِيِّ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: "صَنَعَ لَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ طَعَامًا، فَدَعَانَا وَسَقَانَا مِنَ الْخَمْرِ، فَأَخَذَتِ الْخَمْرُ مِنَّا، وَحَضَرَتِ الصَّلَاةُ فَقَدَّمُونِي، فَقَرَأْتُ "قُلْ يَأَيُّهَا الْكَافِرُونَ" "لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ، وَنَحْنُ نَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ. قَالَ: فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَقْرَبُوا الصَّلَاةَ وَأَنْتُمْ سُكَارَى حَتَّى تَعْلَمُوا مَا تَقُولُونَ (النساء: ٤٣)".
قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دعلي رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه زمونږ دپاره خوراك تيار کړو او بيا يي مونږ ته دعوت راکړو په مونږ يي خوراك اوکړو ،او شراب يي راباندي اوڅکل نو شرابو زمونږ عقلونه بيکاره کړل او په دي دوران کي دمونځ وخت راغي نو خلقو زه دامامت دپاره مخکي کړم نو ما قل يا ايهاالکافرون لا اعبد ماتعبدون ونحن

[1] ــ سنن ابي داود/ الأشربة ١ (٣٦٧١) (تحفة الأشراف: ١٠١٧٥)

نعبدماتعبدون" اولوستلو نو دي وخت كي الله تعالي ايت كريمه " يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَقْرَبُوا الصَّلاةَ وَأَنْتُمْ سُكَارَى حَتَّى تَعْلَمُوا مَاتَقُولُونَ " نازل كړو

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح غريب دي

* *

٣٠٢٧ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ أَنَّهُ حَدَّثَهُ، أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ الزُّبَيْرِ حَدَّثَهُ، أَنَّ رَجُلًا مِنَ الأَنْصَارِ خَاصَمَ الزُّبَيْرَ فِي شِرَاجِ الْحَرَّةِ الَّتِي يَسْقُونَ بِهَا النَّخْلَ. فَقَالَ الأَنْصَارِيُّ: سَرِّحِ الْمَاءَ يَمُرُّ، فَأَبَى عَلَيْهِ. فَاخْتَصَمُوا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلزُّبَيْرِ: " اسْقِ يَا زُبَيْرُ، وَأَرْسِلِ الْمَاءَ إِلَى جَارِكَ ". فَغَضِبَ الأَنْصَارِيُّ، وَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَنْ كَانَ ابْنَ عَمَّتِكَ. فَتَغَيَّرَ وَجْهُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ قَالَ: " يَا زُبَيْرُ، اسْقِ وَاحْبِسِ الْمَاءَ حَتَّى يَرْجِعَ إِلَى الْجَدْرِ ". فَقَالَ الزُّبَيْرُ: وَاللهِ إِنِّي لَأَحْسِبُ هٰذِهِ الآيَةَ نَزَلَتْ فِي ذَلِكَ فَلا وَرَبِّكَ لا يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ (النساء :٦٥ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: سَمِعْت مُحَمَّدًا، يَقُولُ: قَدْ رَوَى ابْنُ وَهْبٍ هَذَا الْحَدِيثَ عَنِ اللَّيْثِ بْنِ سَعْدٍ، وَيُونُسُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ نَحْوَ هَذَا الْحَدِيثِ. وَرَوَى شُعَيْبُ بْنُ أَبِي حَمْزَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنِ الزُّبَيْرِ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ.([1])

ترجمه : دعبدالله بن زبير رضي الله عنه نه مروي دي چې يو انصاري د(دده دپلار) زبير بن عوام رضي الله عنه سره دحره مقام دلختي په معامله كي چې خلقو به ورباندي دكجورو باغونه اوبه كول جګړه اوكړه انصاري زبير بن عوام ته اوونيل اوبه پريږده چې بهيږي تردي چې زما پټي ته راشي زبير رضي الله عنه انكار اوكړو نو دوئ خپله جګړه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته پيش كړه نورسول الله زبير ته اوفرمائيل اي زبير ته خپل فصل خړوب كړه او بيا دګاونډي پټي ته اوبه پريږده ددي خبري په اوريدو انصاري غصه شو او ونيل يي اي دالله رسوله تا دا خبره خكه اوكړه چې زبير ستا دترور خوي دي؟ ددي په اوريدو سره درسول الله دمخ رنګ بدل شو او ويي فرمائيل اي زبير خپل فصل خړوب كړه او اوبه دومره پوري حصاري كړه چې پولو ته ورسيږي زبير وائي په الله قسم زه ګمان كوم چې ايت كريمه " فَلا وَرَبِّكَ لا

[1] ـ انظر حديث رقم ١٣٦٣

يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ " هرګز داسي نه ده ستا په رب قسم هغه وخته پورې دوئ مومنان نشي جوړيدی څو پورې چې دخپلو اندروني اختلافاتوفيصله کونکی اوحاکم تالره ونه ګرځوي. ددي مقدمي په باره کي نازل شوي دي.

امام ترمذي وايي: ما دامام بخاري نه اوريدلي دي چې ابن وهب په سند د الليث بن سعد ويونس عن الزهري عن عروة عن عبدالله بن زبير سره ددي هم معني روايت نقل کړي دي. او شعيب بن ابي حمزه په سند د زهري عن عروه عن الزبير سره نقل کړي دي او هغوئ پخپل سند کي دعبدالله بن زبير واسطه نه ده ذکر کړي.

تشريح :فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ. په صحاح سته کي مذکور دي چې د حره مقام دغر په يو لختي باندي دفصلونوداوبو کولو متعلق دزبيربن عوام رضي الله عنه ديو انصاري سره جګړه اوشوه دواړه دنبي عليه السلام په خدمت کي حاضر شول نبي عليه السلام حکم اوکړو اي زبير ته مخکي خپل فصل اوبه کړه او بيا خپل ګاونډي ته اوبه پريږده . انصاري په دي فيصله باندي راضي نه شو او ويي وئيل اي دالله رسوله ددي فيصلي وجه دا ده چې زبير ستا دترور ځوي دي نبي عليه السلام چې دا واوريدل نو رنګ يي بدل شو او ويي فرمائيل اي زبير دخپل فصل داوبه کولو نه پس اوبه دومره حصاري کړه چې ګيټو ته ورسيږي ،په شروع کي نبي عليه السلام داسي مشوره ورکړي وه چې دزبير او انصاري دواړو کار اوشي ليکن چې هغه ورباندي خوشحاله نه شو نو دوباره يي زبير ته داسي حکم اوکړو چې هغه خپل پوره حق وصول کړو (اګر چې دانصاري په دي کي نقصان وو يعني اولني حکم استحبابي وو او دويم استحقاقي) .

دزبير رضي الله عنه بيان دي کله چې انصاري رسول الله لره خفه کړو نوپه صراحت سره يي ماته دپوره حق ملاويدو حکم صادر کړو نوپه الله قسم زما خيال دي چې پورتني ايت هم په دي سلسله کي نازل شو .

طبراني په کبير کي اوحميدي په مسند کي دام سلمه رضي الله عنها نه روايت بيان کړي دي چې دزبير رضي الله عنه ديوکس سره جګړه اوشوه دواړو خپله معامله نبي عليه السلام ته پيش کړه نونبي عليه السلام دزبير په حق کي فيصله اوکړه نودهغه مخالف اووئيل دزبير په حق کي دي خکه فيصله اوکړه چې هغه ستا دترور ځوي دي نوپه دي باره کي دا ايت نازل شو.

بغوي ليکلي دي چې ديو انصاري دزبير رضي الله عنه سره جګړه اوشوه دانصاري نوم حاطب بن ابي بلتعه وو ، ابن ابي حاتم دسعيد بن مسيب نه روايت بيان کړي دي چې ددي ايت نزول دزبير بن عوام رضي الله عنه او دحاطب بن ابي بلتعه رضي الله عنه متعلق شوي دي داوبو په

معامله باندي دوارو جګړه کړي وه اورسول الله فيصله اوکړه چې اول لوړي زمکي ته اوبه ورکړئ بيا ژوري زمکي ته.

****

۳۰۲۸ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ يَزِيدَ يُحَدِّثُ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، أَنَّهُ قَالَ فِي هَذِهِ الآيَةِ: فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنَافِقِينَ فِئَتَيْنِ (النساء:۸۸)، قَالَ: رَجَعَ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ، فَكَانَ النَّاسُ فِيهِمْ فَرِيقَيْنِ: فَرِيقٌ يَقُولُ اقْتُلْهُمْ، وَفَرِيقٌ يَقُولُ: لَا، فَنَزَلَتْ هٰذِهِ الآيَةُ فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنَافِقِينَ فِئَتَيْنِ (النساء:۸۸)، وَقَالَ: إِنَّهَا طِيبَةُ، وَقَالَ: إِنَّهَا تَنْفِي الْخَبَثَ كَمَا تَنْفِي النَّارُ خَبَثَ الْحَدِيدِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَعَبْدُ اللهِ بْنُ يَزِيدَ هُوَ الأَنْصَارِيُّ الْخَطْمِيُّ وَلَهُ صُحْبَةٌ. [1]

ترجمه : دعبدالله بن يزيد رضي الله عنه نه مروي دي چې زيد بن ثابت رضي الله عنه دايت کريمه "فمالکم في المنافقين فئتين" دتفسير متعلق وائي دغزوه احد په ورځ درسول الله صلي الله عليه وسلم بعضي ملګري (يعني منافقان) دجنګ نه واپس شول نو خلق په دي سلسله کي په دوه ډلو اوويشل شول يوي ډلي وئيل دوئ قتل کړئ او بلي ډلي وئيل مه يي قتل کوئ نو دي باره کي ايت کريمه " فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنَافِقِينَ فِئَتَيْنِ " نازل شو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل مدينه يو پاک ښار دي دا ښار ناپاکي او ګندګي ډيره لري غورځوي لکه څنګه چې اور داوسپني خيري لري غورځوي (اومنافقان دلته نشي پاتي کيدي).

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او عبدالله بن يزيد انصاري خطمي دي او دنبي کريم صلي الله عليه وسلم دصحبت شرف ورته حاصل دي.

عبدالله بن يزيد خطمي صحابي رضي الله عنه مختصر حالات

نوم عبدالله کنيه ابو موسي قبيله اوس او دپلار نوم يي يزيد دی.

دخپل پلار سره يوځاي مسلمان شوی دی او په بيعت الرضوان کې يي شرکت کړی دی او پدغه وخت کې دده عمر اولس کاله وو عبدالله بن زبير دخلافت په زمانه کې ديو څو ورځو دپاره دمکي امير پاتي شوی دی دده په باره کې حافظ ابن حجر ليکلي دي کان اکثر الناس

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل المدينة ۱۰ (۱۸۸۴) . والمغازي ۱۷ (۴۰۵۰) . وتفسير النساء ۱۵ (۴۵۸۹) . صحيح مسلم /المناسک ۸۸ (۱۳۸۴) . والمنافقين ۶ (۲۷۷۶) (تحفة الأشراف : ۳۷۲۴)

صلاة وكان لايصوم الا يوم عاشورا، يعني دخپلو ملګرو نه دمونځ په كثرت كې ممتاز وو البته روژه به يي دعاشوري ضرور نيوله په كوفه كې وفات شوى دى او دمروياتو شمير يي ۱۲۷ دى چې بعضي په دي كې بلا واسطه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي او بعضي يي دابو ايوب انصاري او ابن مسعود او حذيفه بن يمان او عمر رضي الله عنهم نه نقل كړي دي.

****

۳۰۲۹_حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ الزَّعْفَرَانِيُّ، حَدَّثَنَا شَبَابَةُ، حَدَّثَنَا وَرْقَاءُ بْنُ عُمَرَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "يَجِيءُ الْمَقْتُولُ بِالْقَاتِلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ نَاصِيَتُهُ وَرَأْسُهُ بِيَدِهِ وَأَوْدَاجُهُ تَشْخَبُ دَمًا، يَقُولُ: يَا رَبِّ هَذَا قَتَلَنِي حَتَّى يُدْنِيَهُ مِنَ الْعَرْشِ". قَالَ: فَذَكَرُوا لِابْنِ عَبَّاسٍ التَّوْبَةَ فَتَلَا هَذِهِ الْآيَةَ وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ (النساء :۹۳)، قَالَ: مَا نُسِخَتْ هَذِهِ الْآيَةُ وَلَا بُدِّلَتْ وَأَنَّى لَهُ التَّوْبَةُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ نَحْوَهُ وَلَمْ يَرْفَعْهُ.[1]

ترجمه : عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دقيامت په ورځ به مقتول اوقاتل دواړه يو ځاي راوستلي شي چې دده تندي او سر به دمقتول په لاسونو كي وي دمقتول دركونو نه به وينه بهيږي او وائي به اي زما ربه ده زه قتل كړي وم او په راښكلو به يي عرش ته رانزدي كړي، راوي وائي خلقو ابن عباس ته دتوبي ذكر اوكړو نو هغه دا ايت كريمه "ومن يقتل مؤمنا متعمدا فجزاءه جهنم" تلاوت كړو او فرمائيل يي چې دا ايت نه منسوخ شوي دي او نه بدل شوي دي نو بيا دده توبه به څنګه قبوله شي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي، دا حديث بعضي راويانو دعمرو بن دينار په واسطه دابن عباس نه په همدي مضمون نقل كړي دي او مرفوع يي نه دي بيان كړي

****

۳۰۳۰_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي رِزْمَةَ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "مَرَّ رَجُلٌ مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ عَلَى نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ

---

[1] _ سنن النسائي/المحاربة (تعظيم الدم) ۲ (۳۰۱۰) (تحفة الأشراف : ۶۳۰۲) (وانظر أيضا: سنن النسائي/المحاربة ۲ (۴۰۰۳، ۴۰۰۹) ، و۴۸ (۴۸۷۰) . وسنن ابن ماجه/الديات ۲ (۲۶۲۱) . و مسند احمد (۱/۲۲۰، ۲۹۴، ۳۶۴)

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهُ غَنَمٌ لَهُ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ، قَالُوا: مَا سَلَّمَ عَلَيْكُمْ إِلَّا لِيَتَعَوَّذَ مِنْكُمْ ؟ فَقَامُوا: فَقَتَلُوهُ وَأَخَذُوا غَنَمَهُ فَأَتَوْا بِهَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى: يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا ضَرَبْتُمْ فِي سَبِيلِ اللهِ فَتَبَيَّنُوا وَلا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَى إِلَيْكُمُ السَّلَمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا (النساء :٩٤)". قَالَ أَبُو عِيسَى ١٢: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَفِي الْبَابِ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ. (١)

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې بني سليم قبيلي يو كس دصحابه كرامو په يوي ډلي تير شو چې خپلي چيلۍ هم وسره وي هغه خلقو ته سلام اوكړو خلقو ورته اووئيل چې ده خو ستاسو نه دپناه اخستلو دپاره سلام اوكړو بيا خلق وړپاڅيدل او دي يي قتل كړو او دده چيلۍ يي قبضه كړي او رسول الله صلي الله عليه وسلم ته يي راوستلي دي وخت كي الله تعالي دا ايت كريمه " يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا ضَرَبْتُمْ فِي سَبِيلِ اللهِ فَتَبَيَّنُوا وَلا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَى إِلَيْكُمُ السَّلَمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا " يعني اي مومنانو كله چې تاسو دالله په لار كي يئ نو تحقيق كوئ او چې څوك دربانديې سلام واچوي تاسو ورته مه وايئ چې ته مومن نه يې.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن دي او په دي باب كي داسامه بن زيد رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي.

****

٣٠٣١_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: " لَمَّا نَزَلَتْ لا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ (النساء :٩٥)، جَاءَ عَمْرُو ابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: وَكَانَ ضَرِيرَ الْبَصَرِ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، مَا تَأْمُرُنِي إِنِّي ضَرِيرُ الْبَصَرِ، فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى هَذِهِ الْآيَةَ: غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ (النساء :٩٥)، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِيتُونِي بِالْكَتِفِ وَالدَّوَاةِ أَوِ اللَّوْحِ وَالدَّوَاةِ "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَيُقَالُ عَمْرُو ابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ، وَيُقَالُ عَبْدُ اللهِ ابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ، وَهُوَ عَبْدُ اللهِ بْنُ زَائِدَةَ، وَأُمُّ مَكْتُومٍ أُمُّهُ. (٢)

ترجمه : دبراء بن عازب رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې كله ايت كريمه "لايستوي

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٦١١٩)

2 _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الجهاد ٣١ (٢٨٣١) . وتفسير النساء ١٨ (٤٥٩٣، ٤٥٩٤) . وفضائل القرآن ٤ (٤٩٩٠). صحيح مسلم /الإمارة ٤٠ (١٨٩٨) (تحفة الأشراف : ١٨٥٤)

القاعدون من المؤمنين" نازل شو نو عمرو بن ام مكتوم رضي الله عنه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم خدمت کي حاضر شو او هغه نابينا وو عرض يي اوکړو اي دالله رسوله تاسو ماته څه حکم کوئ زه خوړوند يم نو الله تعالي دا ايت کريمه "غير اولي الضرر" نازل کړو يعني مريضان او معذورين معاف دي، رسول الله اوفرمائيل ماته داوکي هډوکي او رنګ راوړئ او که داسي اووئيل چې تخته او رنګ راوړئ چې زه ورته ليکلي ورکړم چې ته دمعذورينو نه يې.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي روايت کي عمرو بن ام مکتوم رضي الله عنه وئيلي شوي دي مګر دده ته عبدالله بن ام مکتوم هم وئيلي شي هغه عبدالله بن زائده دي او ام مکتوم دده دمور نوم دي.

****

٣٠٣٢ـ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ الزَّعْفَرَانِيُّ، حَدَّثَنَا الْحَجَّاجُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي عَبْدُ الْكَرِيمِ، سَمِعَ مِقْسَمًا مَوْلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ يُحَدِّثُ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّهُ قَالَ: "لا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ (النساء :٩٥)عَنْ بَدْرٍ، وَالْخَارِجُونَ إِلَى بَدْرٍ لَمَّا نَزَلَتْ غَزْوَةُ بَدْرٍ، قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَحْشٍ، وَابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ: إِنَّا أَعْمَيَانِ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَهَلْ لَنَا رُخْصَةٌ ؟ فَنَزَلَتْ لا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ (النساء :٩٥)وَفَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ عَلَى الْقَاعِدِينَ دَرَجَةً، فَهَؤُلَاءِ الْقَاعِدُونَ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ وَفَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ عَلَى الْقَاعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمًا ٩٥ (دَرَجَاتٍ مِنْهُ (النساء :٩٤-٩٥)عَلَى الْقَاعِدِينَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ غَيْرِ أُولِي الضَّرَرِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَمِقْسَمٌ يُقَالُ: هُوَ مَوْلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ، وَيُقَالُ: هُوَ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ وَكُنْيَتُهُ أَبُو الْقَاسِمِ.[1]

ترجمه: عبدالله بن عباس رضي الله عنهما دا ايت کريمه "لا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ" بغيرد(جسماني اومالي) عذر نه ناست مومنان (جهاد پريخودونکي) چې خاوندان دضرر نه وي برابر ندي، په تفسير کي فرمائي کله چې دجنګ بدر موقعه راغله نو دغه وخت دا ايت کريمه په جنګ بدر کي دشريکيدونکو او نه شريکيدونکو مسلمانانو متعلق نازل شو دعبدالله بن جحش او ابن ام مکتوم رضي الله عنهما دواړو اووئيل اي دالله رسوله مونږ دواړه ړانده يو ايا زمونږ دپاره دپاتي کيدو اجازت شته چې دمجاهدينو سره لاړنشو؟ تردي چې دغه وخت کي ايت کريمه " لا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُولِي

---

[1] ــ اورده البخاري في الجامع الصحيح /المغازي ٥ (٣٩٥٣)، وتفسير النساء ١٩ (٤٥٩٥) (تحفة الأشراف : ٦٤٩٢)

الضَّرَرِ "او الله تعالى مجاهدينو ته په ناستو خلقو يوه درجه او فضيلت ورکړي دي او د ناستو خلقو نه مراد په دې ايت کې غير معذورين دي پاتې شول معذوران خلق نو هغوئ د مجاهدينو سره په ثواب کې برابر دي الله تعالى مجاهدينو ته په ناستو خلقو د اجر عظيم په ذريعه فضيلت ورکړي دي، او په ناستو مومنانو يې د خپل طرفه دوئ ته د درجو فضيلت ورکړي دي او ناست مومنان هغه دي څوك چې بيماران او معذور نه دي.

امام ترمذي وايي: دا حديث په دې سند دابن عباس رضي الله عنهما نه حسن غريب مروي دي، دمقسم باره کې وئيلې کيږي چې دي دعبدالله بن حارث ازاد کړي غلام دي او دا هم وئيلې کيږي چې دابن عباس ازاد کړي غلام دي او دابن مقسم اسم کنيه ابو القاسم ده.

تشريح: بخاري ، ابوداود ، نسائي دزيد بن ثابت په روايت سره اوصرف بخاري دبراء بن عازب رضي الله عنه په روايت سره اوطبراني دزيد بن ارقم نه او ابن حبان دابن عاصم نه اوترمذي دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت نقل کړي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم زيد بن ثابت رضي الله عنه ته ليکلي وو: لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللهِ ، غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ ، يعني په شروع دمن المومنين نه پس دغير اولي الضرر لفظ نه وو ، نبي عليه السلام په ليکلو کې مصروف وو چې ابن ام مكتوم راغي او عرض ئې وکړو چې ايا که ما جهاد کولي شوي نوضرور به مې کړي وو خکه چې هغه نابينا وو ، دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي چې عبدالله بن جحش او ابن ام مكتوم دواړه راغلل او عرض ئې وکړو چې مونږ خوړانده يونو ايت کريمه: لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُجَاهِدُونَ . نازل شو.

دزيد بن ثابت رضي الله عنه بيان دي چې کله دا ايت کريمه نازل شونو پدغه وخت دنبي کريم صلي الله عليه وسلم پتون زما په پتون باندې وو ، دوحي دنزول په مابانديي دومره بوج پريوتو چې زه وويريدم چې چرته زما ورون مات نشي نو وحي ختمه شوه اوموجوده ايت نازل شو.

په ايت کې غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ د القَاعِدُونَ صِفت دي اويا بدل دي اوغير دلته اکتساب دتعريف کړي دي خکه چې غير اولي الضرر هغه څوك وي چې مضرنه وي.

صاحب قاموس ليکلي دي چې دضر پشان ضرر هم په معني دبد حالئ دي هم په دې وجه باندې نابينا ته هم ضرير وئيلي شي (خکه چې دده سترګي مفقود کيږي) ، دلته داولي الضرر نه مراد هغه کسان دي چې ړانده اوګوډ اوجسماني ضعيفان ياضعيف البصر اوقليل المال نه وي. (قاموس)

****

٣٠٣٣_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، حَدَّثَنِي سَهْلُ بْنُ سَعْدٍ، قَالَ: رَأَيْتُ مَرْوَانَ بْنَ الْحَكَمِ جَالِسًا فِي الْمَسْجِدِ فَأَقْبَلْتُ حَتَّى جَلَسْتُ إِلَى جَنْبِهِ فَأَخْبَرَنَا، أَنَّ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ أَخْبَرَهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " أَمْلَى عَلَيْهِ، " لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ "، قَالَ: فَجَاءَهُ ابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ وَهُوَ يُمْلِيهَا عَلَيَّ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، وَاللهِ لَوْ أَسْتَطِيعُ الْجِهَادَ لَجَاهَدْتُ وَكَانَ رَجُلًا أَعْمَى، فَأَنْزَلَ اللهُ عَلَى رَسُولِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفَخِذُهُ عَلَى فَخِذِي فَثَقُلَتْ حَتَّى هَمَّتْ تَرُضُّ فَخِذِي ثُمَّ سُرِّيَ عَنْهُ، فَأَنْزَلَ اللهُ عَلَيْهِ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ (النساء :٩٥)"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، هَكَذَا رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ نَحْوَ هَذَا، وَرَوَى مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ قَبِيصَةَ بْنِ ذُؤَيْبٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، وَفِي هَذَا الْحَدِيثِ رِوَايَةُ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ رَجُلٍ مِنَ التَّابِعِينَ، رَوَاهُ سَهْلُ بْنُ سَعْدٍ الْأَنْصَارِيُّ، عَنْ مَرْوَانَ بْنِ الْحَكَمِ، وَمَرْوَانُ لم يسمع من النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهُوَ مِنَ التَّابِعِينَ.[1]

ترجمه : دسهل بن سعد رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې ما مروان بن حكم په مسجد كي ناست اوليدو نو زه هم ورمخكي شوم او دهغه په څنګ کي کيناستم هغه راته اووئيل چې زيد بن ثابت رضي الله عنه ماته خبر راکړي دي چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم په ما باندي ددي ايت املا اوکړه " لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ " يعني په كورونو كي ناست خلق او دالله په لار کي جهاد کونکي خلق دواړه يو برابر نشي کيدي نو په دي دوران کي ابن ام مکتوم رضي الله عنه نبي کريم صلي الله عليه وسلم ته راورسيدو او رسول الله مونږ ته املا کوله نو ابن ام مکتوم اووئيل اي دالله رسوله زما دي په الله قسم که ما دجهاد طاقت لرلي نو ضرور به مي جهاد کړي وي هغه يو نابينا انسان دي نو په دي وجه الله تعالي پخپل رسول باندي دهغه متعلق "غير اولي الضرر" ايت نازل کړو او څه وخت چې دا ايت نازل شو هغه وخت درسول الله زنګون زما په زنګون باندي پروت وو او دوحي دنازليدو په وجه دروند شو ماته داسي ښکاريده چې زما ورون ماتيږي (بيا چې کله دوحي دنزول کيفيت ختم شو) نو درسول الله پريشاني ختمه شوه.

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح/الجهاد ٣١ (٢٨٣٢) ، وتفسير النساء ١٩ (٤٥٩٢) (تحفة الأشراف: ٣٧٤٩)

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي دا رنګي نورو يو څو راويانو دزهري نه او زهري دسهل بن سعد نه دا روايت نقل كړي دي، معمرو دزهري نه دا حديث دقبيصه بن ذويب په واسطه دقبيصه بن زيد بن ثابت نه نقل كړي دي او په دي حديث كي يو روايت درسول الله صلي الله عليه وسلم ديو صحابي دي دتابعينو، چي سهل بن سعد صحابي دمروان بن حكم تابعي نه روايت كړي دي او مروان درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدل نه دي كړي هغه تابعي دي.

****

٣٠٣٤_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي عَمَّارٍ يُحَدِّثُ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بَابَاهُ، عَنْ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ، قَالَ: قُلْتُ لِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ: إِنَّمَا قَالَ اللهُ: أَنْ تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلَاةِ إِنْ خِفْتُمْ أَنْ يَفْتِنَكُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا (النساء :١٠١)، وَقَدْ أَمِنَ النَّاسُ. فَقَالَ عُمَرُ: عَجِبْتُ مِمَّا عَجِبْتَ مِنْهُ، فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "صَدَقَةٌ تَصَدَّقَ اللهُ بِهَا عَلَيْكُمْ، فَاقْبَلُوا صَدَقَتَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : يعلي بن اميه وائي چي ما عمربن الخطاب ﷺ ته اوونيل او ښايه چي خلق (په سفركي) ولی قصر كوي حالاتكه الله عز وجل فرمائي: أَنْ تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلَاةِ إِنْ خِفْتُمْ أَنْ يَفْتِنَكُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا (النساء :١٠١). كه چرى تاسو ويره محسوسوئ چي كافران به تاسو په فتنى كي اوغورځوي او اوس دكافرانو نه دويرى كيفيت ختم شوى دى هغه جواب وركړو چي ما هم تعجب كړی وو پس ماداخبره رسول الله ﷺ ته عرض كړله هغه اوفرمائيل داخوصدقه ده كومه چي الله په تاسو كړي ده، پس قبوله كړئ صدقه د الله تعالي.
امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دي.

****

٣٠٣٥_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ عَبْدِ الْوَارِثِ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُبَيْدٍ الْهُنَائِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ شَقِيقٍ، حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَزَلَ بَيْنَ

---

[1] _ : مسلم/المسافرين ١ (٦٨٦) . سنن ابي داود/ الصلاة ٢٧٠ (١١٩٩) . سنن النسائي/تقصير الصلاة ١ (١٤٣٣) . سنن ابن ماجه/الإقامة ٧٣ (١٠٦٥) (تحفة الأشراف : ١٠٦٥٩) . و مسند احمد (١/٢٥، ٣٦) . وسنن الدارمي/الصلاة ١٧٩ (١٥٣٦)

ضَجْنَانَ وَعُسْفَانَ، فَقَالَ الْمُشْرِكُونَ: إِنَّ لِهَؤُلَاءِ صَلَاةً هِيَ أَحَبُّ إِلَيْهِمْ مِنْ آبَائِهِمْ وَأَبْنَائِهِمْ وَهِيَ الْعَصْرُ، فَأَجْمِعُوا أَمْرَكُمْ فَمِيلُوا عَلَيْهِمْ مَيْلَةً وَاحِدَةً، وَأَنَّ جِبْرِيلَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَمَرَهُ أَنْ يَقْسِمَ أَصْحَابَهُ شَطْرَيْنِ فَيُصَلِّيَ بِهِمْ وَتَقُومُ طَائِفَةٌ أُخْرَى وَرَاءَهُمْ وَلْيَأْخُذُوا حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ، ثُمَّ يَأْتِي الْآخَرُونَ وَيُصَلُّونَ مَعَهُ رَكْعَةً وَاحِدَةً ثُمَّ يَأْخُذُ هَؤُلَاءِ حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ، فَتَكُونُ لَهُمْ رَكْعَةٌ رَكْعَةٌ وَلِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَانِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَقِيقٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، وَزَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَجَابِرٍ، وَأَبِي عَيَّاشٍ الزُّرَقِيِّ، وَابْنِ عُمَرَ، وَحُذَيْفَةَ، وَأَبِي بَكْرَةَ، وَسَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ، وَأَبُو عَيَّاشٍ الزُّرَقِيُّ اسْمُهُ زَيْدُ بْنُ صَامِتٍ.[1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم د ضجنان او عصفان مقاماتو په مينځ کي قيام اوکړو مشرکانو اووئيل دوئ يو مونځ کوي کوم چي هغوئ ته دخپل پلار او خامنو نه زيات محبوب وي او هغه دمازيگر مونځ دي پس تاسو پوره تياري اوکړئ او بيا په دوئ باندي ناڅاپي حمله اوکړئ دي وخت کي جبرائيل عليه السلام نبي کريم صلي الله عليه وسلم ته خبر راوړو او حکم يي اوکړو چي خپل صحابه په دوه حصو تقسيم کړه په دوئ کي به يوه ډله تا سره په مونځ ولاړ وي او دويمه ډله به ددوئ نه شاته دحفاظت دپاره ولاړ وي بيا دي ددويمي ډلي خلق راشي او تاسره دي په مونځ اودريږي او مخکنئ ډلي والا دي اسلحه اوچته کړي او دحفاظت دپاره دي اودريږي نو په دي طريقه به ددواړو يو يو رکعات اوشي او درسول الله به دوه رکعاتونه پوره شي.

امام ترمذي وايي: په دي سند دعبدالله بن شقيق په روايت چي دابوهريره نه يي نقل کوي دا حديث حسن صحيح غريب دي، او په دي باب کي دعبدالله بن زيد بن ثابت، ابن عباس، جابر، ابوعياش زرقي، ابن عمر، حذيفه، ابوبکره، او سهل بن ابو حثمه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او دابو عياش نوم زيد بن صامت دي.

****

٣٠٣٦ـ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ أَحْمَدَ بْنِ أَبِي شُعَيْبٍ أَبُو مُسْلِمٍ الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُمَرَ بْنِ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ قَتَادَةَ بْنِ النُّعْمَانِ، قَالَ: "كَانَ أَهْلُ بَيْتٍ مِنَّا يُقَالُ لَهُمْ بَنُو أُبَيْرِقٍ بِشْرٌ، وَبُشَيْرٌ، وَمُبَشِّرٌ، وَكَانَ بُشَيْرٌ رَجُلًا

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ١٣٥٦٦)

مُنَافِقًا يَقُولُ: الشِّعْرَ يَهْجُو بِهِ أَصْحَابَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ يَنْحَلُهُ بَعْضَ الْعَرَبِ،
6/32 ثُمَّ يَقُولُ: قَالَ فُلَانٌ كَذَا وَكَذَا، قَالَ فُلَانٌ كَذَا وَكَذَا، فَإِذَا سَمِعَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَلِكَ الشِّعْرَ، قَالُوا: وَاللهِ مَا يَقُولُ هَذَا الشِّعْرَ إِلَّا هَذَا الْخَبِيثُ أَوْ كَمَا قَالَ الرَّجُلُ، وَقَالُوا: ابْنُ الْأُبَيْرِقِ قَالَهَا، قَالَ: وَكَانُوا أَهْلَ بَيْتِ حَاجَةٍ وَفَاقَةٍ فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَالْإِسْلَامِ، وَكَانَ النَّاسُ إِنَّمَا طَعَامُهُمْ بِالْمَدِينَةِ التَّمْرُ وَالشَّعِيرُ وَكَانَ الرَّجُلُ إِذَا كَانَ لَهُ يَسَارٌ فَقَدِمَتْ ضَافِطَةٌ مِنَ الشَّامِ، مِنَ الدَّرْمَكِ، ابْتَاعَ الرَّجُلُ مِنْهَا فَخَصَّ بِهَا نَفْسَهُ، وَأَمَّا الْعِيَالُ فَإِنَّمَا طَعَامُهُمُ التَّمْرُ وَالشَّعِيرُ، فَقَدِمَتْ ضَافِطَةٌ مِنَ الشَّامِ فَابْتَاعَ عَمِّي رِفَاعَةُ بْنُ زَيْدٍ حِمْلًا مِنَ الدَّرْمَكِ، فَجَعَلَهُ فِي مَشْرَبَةٍ لَهُ، وَفِي الْمَشْرَبَةِ سِلَاحٌ وَدِرْعٌ وَسَيْفٌ، فَعُدِيَ عَلَيْهِ مِنْ تَحْتِ الْبَيْتِ فَنُقِبَتِ الْمَشْرَبَةُ وَأُخِذَ الطَّعَامُ وَالسِّلَاحُ، فَلَمَّا أَصْبَحَ أَتَانِي عَمِّي رِفَاعَةُ، فَقَالَ: يَا ابْنَ أَخِي، إِنَّهُ قَدْ عُدِيَ عَلَيْنَا فِي لَيْلَتِنَا هَذِهِ فَنُقِبَتْ مَشْرَبَتُنَا فَذُهِبَ بِطَعَامِنَا وَسِلَاحِنَا، قَالَ: فَتَحَسَّسْنَا فِي الدَّارِ وَسَأَلْنَا، فَقِيلَ لَنَا: قَدْ رَأَيْنَا بَنِي أُبَيْرِقٍ اسْتَوْقَدُوا فِي هَذِهِ اللَّيْلَةِ، وَلَا نَرَى فِيمَا نَرَى إِلَّا عَلَى بَعْضِ طَعَامِكُمْ، قَالَ: وَكَانَ بَنُو أُبَيْرِقٍ، قَالُوا: وَنَحْنُ نَسْأَلُ فِي الدَّارِ وَاللهِ مَا نُرَى صَاحِبَكُمْ إِلَّا لَبِيدَ بْنَ سَهْلٍ رَجُلٌ مِنَّا لَهُ صَلَاحٌ وَإِسْلَامٌ، فَلَمَّا سَمِعَ لَبِيدٌ اخْتَرَطَ سَيْفَهُ، وَقَالَ: أَنَا أَسْرِقُ! فَوَاللهِ لَيُخَالِطَنَّكُمْ هَذَا السَّيْفُ أَوْ لَتُبَيِّنُنَّ هَذِهِ السَّرِقَةَ، قَالُوا: إِلَيْكَ عَنْهَا أَيُّهَا الرَّجُلُ فَمَا أَنْتَ بِصَاحِبِهَا، فَسَأَلْنَا فِي الدَّارِ حَتَّى لَمْ نَشُكَّ أَنَّهُمْ أَصْحَابُهَا، فَقَالَ لِي عَمِّي: يَا ابْنَ أَخِي، لَوْ أَتَيْتَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْتَ ذَلِكَ لَهُ، قَالَ قَتَادَةُ: فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: إِنَّ أَهْلَ بَيْتٍ مِنَّا أَهْلَ جَفَاءٍ عَمَدُوا إِلَى عَمِّي رِفَاعَةَ بْنِ زَيْدٍ فَنَقَبُوا مَشْرَبَةً لَهُ وَأَخَذُوا سِلَاحَهُ وَطَعَامَهُ فَلْيَرُدُّوا عَلَيْنَا سِلَاحَنَا فَأَمَّا الطَّعَامُ فَلَا حَاجَةَ لَنَا فِيهِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: سَآمُرُ فِي ذَلِكَ، فَلَمَّا سَمِعَ بَنُو أُبَيْرِقٍ أَتَوْا رَجُلًا مِنْهُمْ، يُقَالُ لَهُ: أُسَيْرُ بْنُ عُرْوَةَ فَكَلَّمُوهُ فِي ذَلِكَ، فَاجْتَمَعَ فِي ذَلِكَ نَاسٌ مِنْ أَهْلِ الدَّارِ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّ قَتَادَةَ بْنَ النُّعْمَانِ وَعَمَّهُ عَمَدَا إِلَى أَهْلِ بَيْتٍ مِنَّا أَهْلِ إِسْلَامٍ وَصَلَاحٍ يَرْمُونَهُمْ بِالسَّرِقَةِ مِنْ غَيْرِ بَيِّنَةٍ وَلَا ثَبْتٍ، قَالَ قَتَادَةُ: فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَلَّمْتُهُ، فَقَالَ: عَمَدْتَ إِلَى أَهْلِ بَيْتٍ ذُكِرَ مِنْهُمْ إِسْلَامٌ وَصَلَاحٌ تَرْمِيهِمْ بِالسَّرِقَةِ عَلَى غَيْرِ ثَبْتٍ وَلَا بَيِّنَةٍ، قَالَ: فَرَجَعْتُ وَلَوَدِدْتُ أَنِّي خَرَجْتُ مِنْ بَعْضِ مَالِي وَلَمْ أُكَلِّمْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذَلِكَ، فَأَتَانِي عَمِّي رِفَاعَةُ، فَقَالَ: يَا ابْنَ أَخِي، مَا صَنَعْتَ فَأَخْبَرْتُهُ بِمَا قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ. فَقَالَ: اللَّهُ الْمُسْتَعَانُ فَلَمْ يَلْبَثْ أَنْ نَزَلَ الْقُرْآنُ إِنَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا أَرَاكَ اللَّهُ وَلَا تَكُنْ لِلْخَائِنِينَ خَصِيمًا (النساء :١٠٥) بَنِي أُبَيْرِقٍ وَاسْتَغْفِرِ اللَّهَ النساء :١٠٦) أَيْ مِمَّا قُلْتَ لِقَتَادَةَ: إِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَحِيمًا ١٠٦) وَلَا تُجَادِلْ عَنِ الَّذِينَ يَخْتَانُونَ أَنْفُسَهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ خَوَّانًا أَثِيمًا ١٠٧) يَسْتَخْفُونَ مِنَ النَّاسِ وَلَا يَسْتَخْفُونَ مِنَ اللَّهِ إِلَى قَوْلِهِ غَفُورًا رَحِيمًا (النساء :١٠٦-١١٠) أَيْ لَوِ اسْتَغْفَرُوا اللَّهَ لَغَفَرَ لَهُمْ وَمَنْ يَكْسِبْ إِثْمًا فَإِنَّمَا يَكْسِبُهُ عَلَى نَفْسِهِ إِلَى قَوْلِهِ وَإِثْمًا مُبِينًا (النساء :١١١ قَوْلَهُ لِلَبِيدٍ وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهُ إِلَى قَوْلِهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا (النساء :١١٣-١١٤). فَلَمَّا نَزَلَ الْقُرْآنُ أَتَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالسِّلَاحِ فَرَدَّهُ إِلَى رِفَاعَةَ. فَقَالَ قَتَادَةُ: لَمَّا أَتَيْتُ عَمِّي بِالسِّلَاحِ وَكَانَ شَيْخًا قَدْ عَشَا أَوْ عَسَى فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَكُنْتُ أَرَى إِسْلَامَهُ مَدْخُولًا. فَلَمَّا أَتَيْتُهُ بِالسِّلَاحِ، قَالَ: يَا ابْنَ أَخِي، هُوَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ. فَعَرَفْتُ أَنَّ إِسْلَامَهُ كَانَ صَحِيحًا. فَلَمَّا نَزَلَ الْقُرْآنُ لَحِقَ بُشَيْرٌ بِالْمُشْرِكِينَ فَنَزَلَ عَلَى سُلَافَةَ بِنْتِ سَعْدِ ابْنِ سُمَيَّةَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ وَمَنْ يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّى وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيرًا . إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا (النساء :١١٥-١١٦)، فَلَمَّا نَزَلَ عَلَى سُلَافَةَ رَمَاهَا حَسَّانُ بْنُ ثَابِتٍ بِأَبْيَاتٍ مِنْ شِعْرِهِ. فَأَخَذَتْ رَحْلَهُ فَوَضَعَتْهُ عَلَى رَأْسِهَا، ثُمَّ خَرَجَتْ بِهِ فَرَمَتْ بِهِ فِي الْأَبْطَحِ ثُمَّ قَالَتْ: أَهْدَيْتَ لِي شِعْرَ حَسَّانَ مَا كُنْتَ تَأْتِينِي بِخَيْرٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْلَمُ أَحَدًا أَسْنَدَهُ غَيْرَ مُحَمَّدِ بْنِ سَلَمَةَ الْحَرَّانِيِّ، وَرَوَى يُونُسُ بْنُ بُكَيْرٍ وَغَيْرُ وَاحِدٍ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُمَرَ بْنِ قَتَادَةَ مُرْسَلٌ. لَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، وَقَتَادَةُ بْنُ النُّعْمَانِ هُوَ أَخُو أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ لِأُمِّهِ، وَأَبُو سَعِيدٍ الْخُدْرِيُّ اسْمُهُ سَعْدُ بْنُ مَالِكِ بْنِ سِنَانٍ. (1)

ترجمه : قتاده بن نعمان رضي الله عنه وائي په انصارو كي دبنو ابيرق په نوم يو خاندان وو او په دي خاندان كي دري رونړه وو بشر، بشير، او مبشر بشير منافق وو شعرونه به يي وئيل. او په شعرونو كي به يي دصحابه كرامو هجوه بيانوله بيا به يي دا شعر بعضي عربو ته منسوب كړو او وئيل به يي چي فلاني داسي وئيلي دي او فلاني داسي داسي وئيلي

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١١٠٤٥)

دي صحابه کرامو چې دا شعرونه واوريدل نو وئيل يې په الله قسم دا دبل چا نه دي بلکه دا هم ددي خبيث کار دي او يا دا چې راوي د خبيث په ځاي الرجل لفظ استعمال کړو هغوئ اووئيل دا شعرونه دابن ابيرق دخولي دي دوئ داسي خلق وو چې دجاهليت او اسلام په دواړو زمانو کي ولږي او فقر زپلي وو، په مدينه کي به دخلقو خوراك کجوري او وربشي وي او چې دکوم بنده سره به وسعت زيات وو او مالدار به وو او چرته به کوم تاجر دشام نه غله او سپين اوړه راوړل نو دي مالدار کس به ورنه لږ واخستل او دا به يې دخان دخوراك دپاره خاص کړل او بال بچ به يې کجوري او وربشي خوړلي يو خل داسي اوشول چې يو مال بردار اوښ سوار دشام نه راغلو نو زما تره رفاعه بن زيد دسپينو اوړو يوه بورئ واخستله او دا يې پخپل گودام کي کيخودله او په دي گودام کي اسلحه، زغره، او توره هم ايخودلي شوي وه. په دوئ باندي دا ظلم شوي وو چې چا دبهرنه د گودام په کوټه کي سوري اوکړو او تمام راشن او اسلحه يې غلا کړه سحر وخت کي زما تره رفاعه ماته راغلو او وئيل يې اي وراره نن شپه خو ماسره ډير ظلم او زياتي شوي دي زما گودام وهلي شوي دي او زمونږ راشن او اسلحه ټول غلا کړي شوي دي ما په محله کي دمعلومات کولو کوشش اوکړو او دخلقو نه مي تپوسونه اوکړل نو دي باره کي مونږ ته اووئيلي شول چې مونږ بني ابيرق نن شپه ليدلي دي چې اور يې بل کړي وو او زمونږ خيال دادي چې ستاسو په راشن يې جشن مناوولو (يعني دغلامال يې پخولو) کله چې مونږ په کلي کي تپوسونه کول نو بني ابيرق اووئيل په الله قسم مونږ ته خو ستاسو غل صرف لبيد بن سهل ښکاري لبيد په مونږ کي يو صالح او رښتوني مسلمان وو کله چې لبيد واوريدل چې بني ابيرق ورباندي دغلام الزام لگوي نو هغه خپله توره راوويستله او ويې وئيل زه غل يم په الله مي دي قسم وي زما دا توره به ستاسو په مينځ کي وي او يا خو به تاسو ددي غلا پته لگوئ خلقو ورته اووئيل توره دي زمونږ نه لري اوساته ته غل نشي کيدي، مونږ په محله کي مزيد لټول اوکړل نو شك زمونږ صرف په دي کي پاتي شو چې زمونږ غلا بني ابيرق کړي ده زما تره اووئيل اي وراره که ته رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ورغلي وي او زما دحادثي ذکر دي ورته کړي وي نو کيدي شي چې زما مال ماته په لاس راغلي وي قتاده بن نعمان وائي زه درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شوم او عرض مي اوکړو چې زمونږ دخاندان په کورونو کي په يو کور والا باندي ظلم او زياتي شوي دي (غلا ورنه شوي ده) او زمونږ په تره رفاعه بن زيد باندي ورغلي دي دهغه دکور گودام يې سوري کړي دي او اسلحه او راشن يې غلا کړي دي مونږ دا غواړو چې زمونږ اسلحه مونږ ته واپس راکړي شي او دراشن دواپسئ مطالبه نه کوو، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زه په دي باره کي دمشوري او تحقيق کولو نه پس فيصله کوم ، کله چې دا خبره بني ابيرق واوريدله نو هغوئ دخپل قوم يو کس ته ورغلل چې په اسير بن عروه ياديدو

هغه په دي معامله كي خبري اتري اوكړي او دمحلي څه كسان هم په دي معامله كي دهغه سره متفق شول او دوئ ټول رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ورغلل او وئيل يي اي دالله رسوله قتاده بن نعمان او دهغه تره دواړه زمونږ دجملي نه دي او مسلمانان دي او نيك خلق دي بغير دكوم ګواه او بغير دكوم ثبوت نه هغوئ په مونږ باندي دغلا الزام لګوي او حال دادي الله تعالي فرمائي " وَمَن يَكْسِبْ إِثْمًا فَإِنَّمَا يَكْسِبُهُ عَلَىٰ نَفْسِهِ إِلَى قَوْلِهِ وَإِثْمًا مُّبِينًا " په دي كي دابن ابيرق خبري ته اشاره ده چي هغوئ وئيلي وو چي مونږ ته ښكاره چي دا غل لبيد بن سهل دي. وړاندي الله تعالي فرمائيل " وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهُ إِلَى قَوْلِهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا " كله چي دا ايت نازل شو نو بني ابيرق رسول الله ته راغلل او رسول الله رفاعه ته واپس كړه قتاده وائي چي زما تره بوډا وو او داسلام راوړلو نه مخكي دجاهليت په زمانه كي دهغه نظر كمزوري شوي وو او زه پوهيدم چي دده په ايمان كي څه خلل دي ليكن ماچي كله توره راواخستله او خپل تره ته راورسيدم نو هغه اووئيل اي زما وراره دا زه دالله په لار كي په صدقه كي وركول غواړم نو زه په دي وخت كي پوهه شوم او يقين مي اوكړو چي زما دتره اسلام پوخ او درست وو پاتي شوه دا چي دقران ايتونه نازل شول نو بشير لاړو او دمشركانو سره شامل شو او دسلافه بنت سعد بن سميه سره اوسيدو نو دي وخت كي الله تعالي ايت كريمه " وَمَن يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَىٰ وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّىٰ وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيرًا . إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ وَمَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا " او چا چي خلاف اوكړو د رسول الله صلى الله عليه وسلم پس د هغى نه چي ښكاره شو هغۀ ته هدايت او روان شو په غير د لارى د مومنانو نو وابه روؤ ده لره كوم خواته چي اوړى او داخل به كړو دى جهنم ته. او بد دى ځائى د ورتللو(دا جهنم) يقينا الله تعالى نۀ بخى چي شرك اوكړى شى د هغه سره او بخنه كوى د هغه ګناهونو چي كم دى د دى نه هغه چاته چي اوغواړى او چا چي شرك اوكړو الله تعالى سره نو يقينا ګمراه شو په ګمراهى لرى سره . نازل كړو كله چي ده دسلافه سره اوسيدل شروع كړل نو حسان بن ثابت رضي الله عنه پخپلو شعرونو كي دهغه هجوه اوكړه ددي په اوريدو هغه دصدافه بن سعد سامان پخپل سر كيخودو او دكور نه اووتلو او په يو ميدان كي يي اوغورځولو او بيا يي اووئيل تاسو مونږ ته دحسان دشعر تحفه راكړي ده؟ ستاسو نه مونږ ته هيڅ فائده نه راځي.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي او مونږ ته دمحمد بن سلمه حراني نه علاوه بل څوك نه دي معلوم چي دا يي مرفوع بيان كړي وي، يونس بن بكير او بعضي نورو راويانو دا حديث دمحمد بن اسحاق نه او هغه دعاصم بن عمرو بن قتاده نه مرسل نقل كړي دي او هغوئ دا نه

دي ذكر كړي چې عاصم دخپل پلار نه او هغه دده دنيكه نه نقل كړي دي. قتاده بن نعمان دابو سعيد خدري رضي الله عنه مورني ورور دي. او دابوسعيد خدري نوم سعد بن مالك بن سنان دي.

تشريح: په دې ايت كې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اتباع ذكر كوي. چې په هغې سره اخلاص كې ثمره پيدا كيږي. او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مخالفت نه د ځان بچ كولو دپاره ترغيب وركوي. د تخويف په طريقه سره. يعنې د رسول الله صلى الله عليه وسلم اتباع وكړئ او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مخالفت نه ځان بچ كړئ او د صحابه كرامو رضى الله عنهم طريقه اختيار كړئ چې هغوى د رسول الله صلى الله عليه وسلم پوره اتباع اختيار كړې وه. ګنې نو د مخالفت په صورت كې جهنم ته به ورداخل شي.

ومن يشاقق الرسول: چې يو سړى په غير شرعي طريقه روان وي او شرع بل طرف ته وي. د دې لار يوه وي او د رسول الله طريقه بله وي حالانكه په دې سړي باندې حق واضح شوى وي د هغې د حقانيت دليل ورته معلوم وي بيا هم د رسول الله مخالفت كوي نو الله تعالى فرمائي. چې مونږه هم داسې سړي په كږه لار روان كړو.

سبيل المؤمنين نه مراد حق دين دى (ابو حيان) د مومنانو عقيده او اعمال او فروع ټولو ته شامل دي (الوسى) المومنين كې الف لام د استغراق د پاره دى د هرې زمانې د مومنانو د پاره دي يا الف لام عهدي دى يعنې صحابه كرام فقط. او دا قول غوره دى. دا رنګ د غلطې لارې اتباع كول مذموم كار دى. او هغه خاص دى په مسلك او مذهب جوړولو پورې او مخالفت عام دى مخالفت د فسق په طور او مخالفت په اجتهادي خطائي سره دواړو ته شامل دى. د فسق په طور خو مخالفت ښكاره خبره ده. ليكن چې عالم اجتهادي خطا كړې وي او يو بل سړى د تقليد د وجې نه د هغهٔ د اجتهادي خطا اتباع كوي او صحيح او صريح حديث د رسول الله صلى الله عليه وسلم رد كوي. نو دا هم لويه ګناه ده. او دا مرض په ډيرو مقلدينو كې شته دى.

ضلال دوه قسمه دى يو هغه چې د ايمان سره نهٔ شي يو ځاى كيدلى نو هغې ته ضلال بعيد وائي او بل ضلال ګناهونه دي.

****

٣٠٣٧_ حَدَّثَنَا خَلَّادُ بْنُ أَسْلَمَ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ. عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ ثُوَيْرِ بْنِ أَبِي فَاخِتَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: "مَا فِي الْقُرْآنِ :أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ هَذِهِ الْآيَةِ إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ (النساء :٤٨)". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

وَأَبُو فَاخِتَةَ اسْمُهُ سَعِيدُ بْنُ عِلَاقَةَ، وَثُوَيْرٌ يُكْنَى أَبَا جَهْمٍ وَهُوَ رَجُلٌ كُوفِيٌّ مِنَ التَّابِعِينَ، وَقَدْ سَمِعَ مِنَ ابْنِ عُمَرَ، وَابْنِ الزُّبَيْرِ، وَابْنُ مَهْدِيٍّ كَانَ يَغْمِزُهُ قَلِيلًا. (1)

ترجمه : د علي رضي الله عنه بيان دی فرماني چې ماته په قران کې د ټولو نه زيات محبوب آيت دادی "إِنَّ اللَّهَ لا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ"

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن غريب دی، اود ابو فاخته نوم سعيد بن علاقه دی، اود ثوير اسم كنيه ابو جهم ده، چې يو كوفي تابعي دی، اود عبدالله بن زبير او ابن عمر نه يې سماع كړې ده، ليكن ابن مهدي به وربانديې تنقيدونه كول.

****

۳۰۳۸ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ أَبِي عُمَرَ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ الْمَعْنَى وَاحِدٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ ابْنِ مُحَيْصِنٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ قَيْسِ بْنِ مَخْرَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "لَمَّا نَزَلَ مَنْ يَعْمَلْ سُوءًا يُجْزَ بِهِ (النساء: ١٢٣) شَقَّ ذَلِكَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ فَشَكَوْا ذَلِكَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "قَارِبُوا وَسَدِّدُوا وَفِي كُلِّ مَا يُصِيبُ الْمُؤْمِنَ كَفَّارَةٌ حَتَّى الشَّوْكَةَ يُشَاكُهَا أَوِ النَّكْبَةَ يُنْكَبُهَا". ابْنُ مُحَيْصِنٍ هُوَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مُحَيْصِنٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (2)

ترجمه : دابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چې كله ايت كريمه: "مَنْ يَعْمَلْ سُوءًا يُجْزَ بِهِ (النساء: ١٢٣)" نازل شول نو مسلمانانو ته وربانديې عمل ګران ښكاره شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم ته يې شكايت وكړو نو رسول الله اوفرمائيل: اعتدال سره ددين په لاره باندي چليږئ او دی باندي مضبوطيا سره كلك پاتي شئ مسلمان ته چې څه تكليف اورسي ستوماني، بيماري، پريشاني، غم، تكليف او خفګان تردی چې كه اغزی يې په خپه كې مات شي ددی بدله كې ورته الله تعالي ګناهونه معاف كوي

امام ترمذي وايي: دابن محيصن نوم عمر بن عبد الرحمن بن محيصن دی، او دا حديث حسن غريب دی

لغات : الشوكة: واحد يې شوكة راځي او جمع يې اشواك ده په معني دازغو سره.

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠١١١)

2 ـ صحيح مسلم/البر والصلة ١٣ (٢٥٧٤) (تحفة الاشراف: ١٤٥٩٨)

تشريح "حتي الشوكة يشاكها الا كفر الله بها من خطاياه" يعني تردي چې په خپه کې دازعي تلو په وجه سړي ته کومه پريشاني اورسيږي نو دهغي په بدل کې هم دده ګناهونه معاف کيږي.

ددينه معلومه شوه چې کله هم کوم انسان ته څه قسم راحت يا تکليف اورسيږي نو دهغه ذهن فورا الله تعالي ته ورځي چې دا دهغه دطرفه دی او صبر دي اوکړي او که صبر اونکړي او دصبر په ځاي جزع فزع او دتقدير نه شکايت شروع کړي نو يو خودده دپاره دنياوي تکليف شو ليکن ددي سره سره به دده دپاره په اخرت کې دثواب نه محرومیدل هم وي بلکه ددينه علاوه به دی ګنهګار هم وي.

****

۳۰۳۹_حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، وَعَبْدُ بْنُ حميد، قَالَا: حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُبَيْدَةَ، أَخْبَرَنِي مَوْلَى ابْنِ سِبَاعٍ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ، قَالَ: كُنْتُ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُنْزِلَتْ عَلَيْهِ هَذِهِ الآيَةَ: مَنْ يَعْمَلْ سُوءًا يُجْزَ بِهِ وَلَا يَجِدْ لَهُ مِنْ دُونِ اللهِ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا (النساء: ۱۲۳)، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يَا أَبَا بَكْرٍ، أَلَا أُقْرِئُكَ: أُنْزِلَتْ عَلَيَّ؟ قُلْتُ: بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ. قَالَ: فَأَقْرَأَنِيهَا فَلَا أَعْلَمُ إِلَّا أَنِّي قَدْ كُنْتُ وَجَدْتُ انْقِصَامًا فِي ظَهْرِي فَتَمَطَّأْتُ لَهَا. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا شَأْنُكَ يَا أَبَا بَكْرٍ؟ قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي وَأَيُّنَا لَمْ يَعْمَلْ سُوءًا وَإِنَّا لَمُجْزَوْنَ بِمَا عَمِلْنَا. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَمَّا أَنْتَ يَا أَبَا بَكْرٍ وَالْمُؤْمِنُونَ فَتُجْزَوْنَ بِذَلِكَ فِي الدُّنْيَا، حَتَّى تَلْقَوْا اللهَ وَلَيْسَ لَكُمْ ذُنُوبٌ، وَأَمَّا الآخَرُونَ فَيُجْمَعُ ذَلِكَ لَهُمْ حَتَّى يُجْزَوْا بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَفِي إِسْنَادِهِ مَقَالٌ، وَمُوسَى بْنُ عُبَيْدَةَ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ، ضَعَّفَهُ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، وَأَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَمَوْلَى ابْنِ سِبَاعٍ مَجْهُولٌ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ عَنْ أَبِي بَكْرٍ، وَلَيْسَ لَهُ إِسْنَادٌ صَحِيحٌ أَيْضًا، وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَائِشَةَ. (1)

ترجمه د ابوبکر صديق رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې زه درسول الله صلي الله عليه وسلم سره موجود وم چې دا ايت کريمه "مَنْ يَعْمَلْ سُوءًا يُجْزَ بِهِ وَلَا يَجِدْ لَهُ مِنْ دُونِ اللهِ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا" نازل شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي ابوبکر ايا زه درته يو ايت

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٦٠٣)

(چې همدا اوس نازل شو) بيان نکړم؟ ما اووئيل اي دالله رسوله ولې نه ابوبکر رضي الله عنه وائي چې رسول الله ماته مذکوره ايت بيان کړو زه نه پوهيږم چې څه خبره وه مګر دومره مې محسوس کړه چې ملا مې ماتيږي نو ما په دې وجه ځان تاؤ کړو رسول الله اوفرمائيل اي ابوبکر څه حال دې ما اووئيل اي دالله رسوله زما مور او پلار دې په تا قربان شي په مونږ کې به څوک داسې وي چې څه بدې او ګناه ورنه نه وي شوي او حال دادې چې زمونږ نه کوم عمل صادريږي زمونږ نه به دهغې بدله اخستلې کيږي رسول الله اوفرمائيل ويريږه مه اي ابو بکر ته او ټول مومنان به وړې وړې سزاګانې تيروي او په همدې دنيا کې به ورته ورکولې کيږي تردې پورې چې کله تاسو دالله تعالى سره مخامخ شوئ نو ستاسو په ذمه به هيڅ ګناه نه وي پاتې شوي البته دنورو خلقو حال به داوي چې ګناهونه به يې جمع شوي وي چې دقيامت په ورځ به ورنه دهغې بدله اخستلې شي.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دې او محدثينو ددې په سند کلام کړې دې موسى بن عبيده په باب دحديث کې ضعيف ګنړلې شوي وي يحي بن سعيد او احمد بن حنبل ورباندې کلام کړې دې او مولى بن سباع مجهول دې، او دا حديث ددې سند نه علاوه په يو بل سند دابوبکر نه هم مروي دې ليکن سند يې صحيح نه دې او په دې باب کې دعائشه رضي الله عنها نه هم روايت وارد دې.

دابوبکر صديق رضي الله عنه مختصر حالات

نوم عبدالله کنيه ابوبکر عتيق او صديق يې لقب وو دپلار نوم يې عثمان وو چې په ابو قحافه مشهور وو او دمور نوم يې سلمى وه چې په ام الخير مشهوره وه دپلار دطرفه يې نسب نامه داده عبدالله بن عثمان بن عامر بن عمرو بن کعب بن سعد بن تميم بن مره بن کعب بن لوئ القريشي التميمي اؤ دمور دطرفه يې نسب نامه داده ام الخير بنت الصخر بن عامر بن عمرو بن کعب بن سعد بن تميم بن مرة (طبقات ابن سعد).

شپږم پشت مره کې صديق اکبر رضي الله عنه نسب درسول الله صلى الله عليه وسلم دنسب سره يوځاي کيږي دماشوموالي نه يې درسول الله سره دوستي وه او په تجارت کې به هم ورسره يوځاي تلو (کنز العمال ۳۱۳/۲).

دټولو انسانانو نه مخکې داسلام قبلولو سعادت ورته هم په نصيب شوى وو او په هره غزوه کې درسول الله سره شريك شوى دى او هيڅ کله درسول الله صلى الله عليه وسلم نه جدا شوى نه دى نه داسلام نه مخکې او نه داسلام نه پس بلکه په زندګئ کې او دمرګ نه پس هم يوځاي دي رسول الله صلى الله عليه وسلم دوفات نه پس دهجرت په يولسم کال تمامو خلقو په اتفاق سره اولنى خليفه مقرر کړو دخلافت موده يې دوه کاله او څلور مياشتې وه واضحه کارنامه يې داده چې دقران کريم متفرق اجزاء يې ديوکتاب په شکل کې جمع کړل او ددينه مخکې به قران په

يوخاي نشو موندلی او په ځلورو واړو اطرافو کې چې داسلام خلاف کومي خبري خوريدلي دهغي مخه يي اونيوله او دين ته يي دوباره هغه نوی ترتيب ورکړو په کوم چې رسول الله صلي الله عليه وسلم پريخودلي وو.

وفات: په صديق اکبر رضي الله عنه باندي تبه راغله او تقريبا پنځلس ورځي په همدي حالت کې تيري شوي چې بيا دګل په ورځ دسه شنبي په شپه د٦٣ کلونو په عمر کې او دجمالي الاولي په دیارلسم ددي دنيا نه سفر اوکړو (ربيع الاول).

دمروياتو شمير يي ١٤٢ دی چې شپږ يکې متفق عليه دي او يولس صرف په بخاري کې دي او يو په مسلم کې دی.

****

٣٠٤٠_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ مُعَاذٍ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: " خَشِيَتْ سَوْدَةُ أَنْ يُطَلِّقَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: لَا تُطَلِّقْنِي وَأَمْسِكْنِي وَاجْعَلْ يَوْمِي لِعَائِشَةَ، فَفَعَلَ فَنَزَلَتْ فَلا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا وَالصُّلْحُ خَيْرٌ (النساء :١٢٨)"، فَمَا اصْطَلَحَا عَلَيْهِ مِنْ شَيْءٍ فَهُوَ جَائِزٌ كَأَنَّهُ مِنْ قَوْلِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. [1]

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې دسوده رضي الله عنها سره دا ويره وه چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم راته چرته طلاق رانکړي نو په دي وجه يي عرض اوکړو ماته طلاق مه راکوه او ما پخپلو بي بيانو کي شامل پريږده او زما دشپي نمبر عائشي ته ورکړه نورسول الله همدابي اوکړل تردي چې دي باره کي ايت کريمه " فَلا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا وَالصُّلْحُ خَيْرٌ " نازل شو داسي ښکاري چې دا دابن عباس قول دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي.

****

٣٠٤١_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ مِغْوَلٍ، عَنْ أَبِي السَّفَرِ، عَنِ الْبَرَاءِ، قَالَ: " آخِرُ :أُنْزِلَتْ أَوْ آخِرُ شَيْءٍ نَزَلَ يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلالَةِ (النساء :١٧٦)". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَأَبُو السَّفَرِ اسْمُهُ سَعِيدُ بْنُ أَحْمَدَ الثَّوْرِيُّ، وَيُقَالُ ابْنُ

---

[1] ــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٦١٢٢)

يُخبِرَ. (1)

ترجمه: دبراء بن عازب رضي الله عنه بيان دي فرمائي اخري چې كوم ايت نازل شوي وو هغه دادي "يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلالَةِ".

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي.

****

۳۰۴۲_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ: حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَيَّاشٍ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْبَرَاءِ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلالَةِ (النساء: ۱۷۶)، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "تُجْزِئُكَ: الصَّيْفِ". (2)

ترجمه: دبراء بن عازب رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې يو كس د رسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شو او عرض يي اوكړو اي دالله رسوله دايت كريمه "يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلالَةِ" تفسير څه دي؟ رسول الله اوفرمائيل په دي سلسله كي ستاسو دپاره ايت دصيف كافي دي.

****

٦_بَاب وَمِنْ سُورَةِ الْمَائِدَةِ

دسورة مائدي دبعضي ايتونو تفسير

د دی سورة نوم د دی ايت نه اخستلی شويدی هل يستطيع ربك ان تنزل علينا مائدة من السماء . د قرآن پاك د اكثرو سورتونو د نومونو په شان د دی نوم د سورة د موضوع سره څه خاص تعلق نشته. صرف د نورو سورتونو نه د جدا كولو دپاره د علامت په طور دا نوم ايخودلی شويدی.

د نزول زمانه: د سورة د مضمون نه معلوميږی او د رواياتو نه هم د دی تصديق كيږی چې دا

---

1 _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /المغازي ٦٦ (۴۳۶۴). وتفسير النساء ۲۷ (۴۶۰۵). والفرائض ۱۴ (۶۷۴۴). صحيح مسلم /الفرائض ۳ (۱۶۱۸). سنن ابي داود/ الفرائض ۳ (۲۸۸۸) (تحفة الأشراف: ۱۸۶۵)

2 _ انظر ماقبله (تحفة الأشراف: ۱۹۰۶)

سورة د صلح حدیبیه ۶ هـ په اخر یا د ۷ هـ په شروع کي نازل شوی دی. هر کله چې مشرکانو نبی صلی الله علیه وسلم او صحابه کرام په ۶ هـ کي د عمری کولو نه منع کړل. او د حدیبیې په مقام کي فیصله اوشوه چې دا عمره به په راتلونکی کال کي کیږي. نو په دی موقع کي مومنانو ته د بیت الله شریف د سفر اداب اوخودلی شول چې په راتلونکی کال کي د عمری سفر په پوره اسلامی شان سره اوکړی شي او مومنانو ته تاکید اوکړی شي. چې کوم زیاتی کافرانو د دوی سره کړی دی د هغې په جواب کي مومنان د کافرانو سره ناروا زیاتی اونه کړي.

د دی سورة د بیان نه معلومیږي چې په دی سورة کي یو خُطبه ده چې دا ټول سورت په یو ځایٔ نازل شوی دی. کیدی شي چې څو ایتونه روستو نازل شوی وی. او د مضمون د مناسبت د وجی نه په دی سورة کي لیکلی شوی وی.

شان نزول: هر کله چې د سورة العمران او سورة نساء نزول پوری حالات ډیر بدل شوی ؤو. او په عرب کي اسلام یو داسی طاقت جوړ شو. چې د مشرکانو د وس او طاقت نه مومنانو له شکست ورکول بهر شو. او باقاعده اسلامی ریاست جوړ شو. او مومنان په اخلاقو. معاشرت او تمدن او په هر څیز کي د کافرانو نه جُدا شول. نو غیر مسلم نا اُمیده شول چې مومنان به بیا د دوی سره په دین کي یو شان شي. او چې کله صلح حدیبیه اوشوه. نو مومنانو ته د دین د تبلیغ یوه بله موقع په لاس راغله. او د خوا او شا په علاقو کي خواره شول او د دعوت کار ئی شروع کړو. او د دی کار افتتاح نبی صلی الله علیه وسلم اوکړه. د ایران. روم. مصر او عرب بادشاهانو ته ئی خطونه اولیکل په دی حالاتو کي سورهٔ مائده نازل شو.

مضمون او بحث: په دی سورة کي دری ضروری بحثونه دی.

(۱) د مسلمینو د مذهبی. تمدنی او سیاسی ژوند د پاره نور احکام او هدایات په دی کي د حج د سفر اداب مقرر شول. د شعائر الله احترام. د خوراك څښکاك په څیزونو کي د حلال او حرام حدود اوخودلی شول. او د جاهلیت د زمانی خود ساخته حلال او حرام بند کړی شول. د اهل کتابو سره د خوراك څښکاك او د هغوی د زنانو سره د نکاح اجازت ورکړی شو. د اودس. غسل او تیمم قاعدی ذکر شوی. د بغاوت فساد او غلا سزاګانی مقرر شوی. شراب او جواری قطعًا حرام کړی شول. د قسم کفّاره مقرر کړی شوه. او د قانون شهادت د پاره نوری دفعی ذکر شوی.

(۲) مسلمانانو ته نصیحت: چونکه مومنان حاکمان شوی ؤو. د هغوی لاس ته نور طاقت راغلو. چې د دی طاقت او حکمرانی په وجه اکثر قومونه ګمراه کیږي. د مظلومیت دور په ختمیدلو ؤو. نو دوی ته بار بار نصیحت اوکړی شو. چې په عدل او انصاف سره قائم اوسیږي. د اهل کتابو دروش نه ځان بچ اوساتی. د الله اطاعت او فرمان برداری کویٔ. او کوم لوظونه چې تاسو کړی دی. هغه مهٔ ماتویٔ. او د ټولو معاملو په فیصلو کي د الله د کتاب پابند اوسیږئ او د منافقت دروش نه هم ځان بچ ساتی.

(۳) يهوديانو او عيسايانو ته نصيحت: د يهوديانو زور او طاقت ختم شوى ؤو. او د شمالي عرب ټول كلي د يهوديانو د مومنانو د حكومت د لاندې راغلل. نو يهوديانو ته تنبيه وركړې شوه. او نيغې لارې طرف ته ورته دعوت وركړى شو. عيسايانو ته هم د هغوى غلطې عقيدې په تفصيل سره اوخودلې شوې. او دويته په نبي صلى الله عليه وسلم باندې د ايمان راوړلو دعوت وركړى شو. او چې كوم قومونه بُت پرست او مجوسيان ؤو. نو هغوى ته نيغ په نيغه خطاب نه دې كړې شوى. د هغوى د پاره هغه خطبې كافي دي كومې چې د عرب مشركانو ته په دې سورة كې شوې دي.

****

٣٠٤٣ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مِسْعَرٍ وَغَيْرِهِ، عَنْ قَيْسِ بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ، قَالَ: "قَالَ رَجُلٌ مِنَ الْيَهُودِ لِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، لَوْ عَلَيْنَا أُنْزِلَتْ هٰذِهِ الْآيَةَ ﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا﴾ (المائدة: ٣) لَاتَّخَذْنَا ذٰلِكَ الْيَوْمَ عِيدًا، فَقَالَ لَهُ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ: إِنِّي أَعْلَمُ أَيَّ يَوْمٍ أُنْزِلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ أُنْزِلَتْ يَوْمَ عَرَفَةَ فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: د طارق بن شهاب نه روايت دې فرمائي چې يو يهودي عمرفاروق رضي الله عنه ته اووئيل اې اميرالمؤمنين كه چرې دا ايت كريمه "الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا" نن ورځ پوره كړو ما تاسو لره دين ستاسو او پوره م كړو نعمت خپل په تاسو او غوره كړې دې ما تاسو لره اسلام دين. په مونږ باندې (په تورات كې) نازل شوې وې نو مونږ به ددې دنازليدو ورځ اختر مقرر كړې وو عمر فاروق رضي الله عنه ورته اووئيل ماته ښه معلومه ده چې دا ايت په كومه ورځ نازل شوې وو هغه دعرفې ورځ (نهم ذي الحجه) دجمعې ورځ وه
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دې.

اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ، يعني داصولو او عقائدو صراحت مې اوكړو يعني فرائض، واجبات، مستحبات، حلال، حرام، مكروه، مفسدات، مشروعات، بيع وغيره اوپه غير منصوص كې داجتهاد قوانين مې بيان كړل، دا هم كيدې شي چې ددين دتكميل نه مراد

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح/الإيمان ٣٣ (٤٥). والمغازي ٧٧ (٤٤٠٧). وتفسير المائدة ٢ (٤٦٠٦). والاعتصام ١ (٧٢٦٨). صحيح مسلم/التفسير (٣٠١٧). سنن النسائي/الحج ١٩٤ (٣٠٠٥). والإيمان ١٨ (٥٠١٥) (تحفة الأشراف: ١٠٤٦٨). و مسند احمد (١/٢٨، ٣٩).

درسول الله هغي مرتبي ته رسول دي كوم چې دمخكنو او ورستنو ټولو كاملينو خلقو ارمان دي تردي پوري چې دنبي عليه السلام دمحبوبيت په درجه دفائز كيدو په وجه الله تعالي دده تمام امت ته گناهونه معاف كړي دي برابره خبره ده چې دالله حقوق وي اوكه دبندگانو دحقوقو نه وي.

دعباس بن مرداس نه روايت دي چې دعرفي په شپه رسول الله صلي الله عليه وسلم دخپل امت دمعافئ دپاره دعا اوكړه كومه چې يي قبوله كړي شوه او ويي فرمائيل ما علاوه دهغي ظلمونونه كوم چې تاسو پخپل مينځ كي په يوبل كړي وي دټولو گناهونو معافي اوغوښتله اودمظلوم بدله به دظالم نه ضرور اخستلي شي، نبي عليه السلام عرض اوكړو زما پروردگاره كه چري ته غواړي نومظلوم ته په بدله كي دجنت كومه حصه وركړه اوظالم معاف كړه خودمابنامه پوري دا سوال قبول نه شو سحربيا په مزدلفه كي رسول الله صلي الله عليه وسلم دخپلي دعا اعاده اوكړه نوپه دغه وخت كي دده درخواست قبول كړي شو اوويي خاندل ابوبكر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه عرض اوكړو الله تعالي دي خنديدونكي اوساته تاخوبه په داسي وخت كي نه خاندل دننه ني خاندلو وجه څه ده ؟ نو ويي فرمائيل دالله تعالي دشمن ابليس ته چې كله معلومه شوه چې الله تعالي زمادعا قبوله كړه او زماامت ته يي بخشش اوكړو نوپخپل سر يي خاوري شيندلي او چغي يي وهلي ماچې دده گډوډ كيدل اوليدل نو ومي خندل (رواه البيهقي وابن ماجه في كتاب البعث).

دابن عباس رضي الله عنهمانه روايت دي فرمائي چې ددي ايت دنزول نه پس دحلالو اوحرامو اوفرائضو اوسننو اوحدودو او احكامو په باره كي هيڅ حكم نه دي نازل شوي.

دجابر رضي الله عنه په روايت سره دحجة الوداع په قصه كي درسول الله دا فرمان مروي دي چې دجهالت دزماني سود ساقطوم او پخپلو سودونو كي زه اول د عباس بن عبد المطلب سود ساقطوم اوهغه ټول سود معاف كړي شو.

سعيد بن جبير دمذكوره ايت تشريح داسي كړي ده چې ما اوس ستاسو دين كامل كړو او اوس ستاسو سره په حج كي كوم مشرك شريك نه دي، ددي دا مطلب هم بيان شوي دي چې په ټولو دينونو مي ستاسو دين غالب كړو اوتاسو مي د[illegible]نانونه بي ويري كړئ.

په حجة الوداع كي دعرفي په مقام دجمعي [illegible] ورځ دمازيگر دمونځ نه پس دا ايت نازل شو اوپه دغه وخت كي رسول الله صلي الله عليه وسلم په عرفه كي پخپله اوښه عضباء باندي ولاړ وو چې دوحي دبوج په وجه داوښي خپي ماتيدو ته نږدي شوي او دا ايت كريمه نازل شو.

بخاري او مسلم په صحيحينو كي يو روايت بيان كړي دي چې يو يهودي عمر رضي الله عنه ته عرض اوكړو چې اي امير المؤمنين يو ايت ستاسو په كتاب كي دي چې تاسو يي لولئ كه چري دا په مونږ نازل شوي وي نومونږ به ددي دنازليدو ورځ داختر ورځ گرځولي وه عمر

رضي الله عنه تپوس اوکړو چې کوم يو ايت نويهودي اووئيل اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ عمر رضي الله عنه اوفرمائيل مونږ ته هغه ورځ او هغه مقام معلوم دي په کوم کې چې دا ايت په رسول الله نازل شوي وو په عرفه کې دجمعې په ورځ رسول الله ولاړ وو چې دا ايت نازل شو عمررضي الله عنه پخپل کلام کې دې خبرې ته اشاره وکړه چې ددې ايت دنازليدوورځ زمونږ دپاره دوچنده اختر شو يو دعرفې ورځ اوبله دجمعې ورځ.

بغوي وئيلي دي کله چې دا ايت نازل شو نوددې په اوريدو سره عمر رضي الله عنه اوژړل رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل اې عمر ولې ژاړې عمر رضي الله عنه عرض اوکړو اې دالله رسوله مالره دا خبره ژړوي چې اوس زمونږ دين په ترقئ کې شروع شو اوکامل شو نودترقئ اوکامل کيدونه پس په ائينده کې دنقصان داحتمال نه علاوه نور څه نشته نبي عليه السلام اوفرمائيل تاربښتيا اووئيل دا ايت دررسول الله صلى الله عليه وسلم دوفات کيدو يوخبروو اوچنانچې ددې دنزول نه پس نبي عليه السلام يو اتيا ورځې ژوند تير کړي دي اوپه دريم ربيع الاول په يولسم کال دهجرت ددوشمبې په ورځ دزوال نه پس وفات شو اودهجرت کولوتاريخ يې دولسم ربيع الاول وو.

****

۳۰۴۴ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ عَمَّارِ بْنِ أَبِي عَمَّارٍ، قَالَ: "قَرَأَ ابْنُ عَبَّاسٍ اَلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا (المائدة: ۳) وَعِنْدَهُ يَهُودِيٌّ، فَقَالَ: لَوْ أُنْزِلَتْ هَذِهِ عَلَيْنَا لاَتَّخَذْنَا يَوْمَهَا عِيدًا، قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: فَإِنَّهَا نَزَلَتْ فِي يَوْمِ عِيدٍ فِي يَوْمِ جُمُعَةٍ وَيَوْمِ عَرَفَةَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَهُوَ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه: دعمار بن ابي عمار بيان دي فرمائي چې ابن عباس رضي الله عنهما ايت کريمه "اَلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا" اولوستلو او يو يهودي يې خوا کې ناست وو هغه اووئيل که چرې دا ايت په مونږ يهوديانو نازل شوې وې نو ددې دنازليدو ورځ به مونږ داختر ورځ مقرر کړې وه ددې خبرې په اوريدو ابن عباس اووئيل دا ايت هم داختر په ورځ نازل شوي دي او په دغه ورځ جمعه او عرفه وه.

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح/الإيمان ۳۳ (۴۵)، والمغازي ۷۷ (۴۴۰۷)، وتفسير المائدة ۲ (۴۶۰۶)، والإعتصام ۱ (۷۲۶۸)، صحيح مسلم/التفسير (۳۰۱۷)، سنن النسائي/الحج ۱۹۴ (۳۰۰۶)، والإيمان ۱۸ (۵۰۱۵) (تحفة الأشراف: ۱۰۴۶۸)، ومسند احمد (۱/۲۸، ۳۹).

امام ترمذي وايي: داحديث دابن عباس په روايت حسن غريب دي.

دبراء بن عازب رضي الله عنه دژوندکئ حالات

نوم براء کنيه ابو عماره او دبنو حارثه سره يي تعلق وو دپلار نوم يي عازب دی دده ماما ابوبرده بن نبار چې بدري صحابي دی په عقبه کې اسلام قبول کړی دی او دهغه په برکت سره دهغه په خاندان کې اسلام خور شو او چې مسلمان شو نو په مدينه کې يي دمصعب بن عمير او ابن ام مکتوم نه قران يادول شروع کړل په بدر کې براء حاضر شوی وو ليکن دماشوم توب په وجه رسول الله صلي الله عليه وسلم واپس کړی وو (بخاري).

عرض دا چې په احد ، خندق، حديبيه، خيبر او حنين کې يي شرکت کړی دی او دطائف په محاصره حجة الوداع کې يي هم درسول الله صلي الله عليه وسلم ملګرتيا کړي ده تردي چې په پنځلس غزواتو کې شريك شوی دی (مسند احمد).

تواضع او عاجزي او انکساري يي امتيازي صفات دي خپل ځان به يي ناچيز ګڼړلو په کوفه کې يي يو کور جوړ کړی وو او په هغي کې اوسيدو په رواياتو کې به يي ډير احتياط کولو چې دمروياتو شمير يي ۳۰۵ دی ۳۲ متفق عليه دي په احاديثو نقل کولو کې به يي داحتياط په مناسبت وئيل "ماکل الحديث سمعناه من رسول الله صلي الله عليه وسلم کان يحدثنا اصحابنا عنه کانت شغلنا عنه رعية الابل ، مسند احمد".

يعني ټول هغه احاديث چې زه بيانوم په هغي کې دا ضروري نه ده چې ټول مي دي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي مونږ خو به اوښان څرول نو په دي وجه به هر وخت درسول الله په خدمت کې حاضريدی نشو.

****

٣٠٤٥ــ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يَمِينُ الرَّحْمَنِ مَلأَى سَحَّاءُ لاَ يُغِيضُهَا اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ، قَالَ: أَرَأَيْتُمْ مَا أَنْفَقَ مُنْذُ خَلَقَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ؟ فَإِنَّهُ لَمْ يَغِضْ مَا فِي يَمِينِهِ، وَعَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ، وَبِيَدِهِ الأُخْرَى الْمِيزَانُ يَرْفَعُ وَيَخْفِضُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ وَهَذَا الحَدِيثُ فِي تَفْسِيرُ هَذِهِ الآيَةَ وَقَالَتِ الْيَهُودُ يَدُ اللَّهِ مَغْلُولَةٌ غُلَّتْ أَيْدِيهِمْ وَلُعِنُوا بِمَا قَالُوا بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَاءُ (المائدة: ٦٤) وَهَذَا حَدِيثٌ قَدْ رَوَتْهُ الأَئِمَّةُ نُؤْمِنُ بِهِ كَمَا جَاءَ مِنْ غَيْرِ أَنْ يُفَسَّرَ أَوْ يُتَوَهَّمَ. هَكَذَا قَالَ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الأَئِمَّةِ مِنْهُمْ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَمَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، وَابْنُ عُيَيْنَةَ، وَابْنُ الْمُبَارَكِ أَنَّهُ تُرْوَى هَذِهِ الأَشْيَاءُ وَيُؤْمَنُ بِهَا

وَلَا يُقَالُ كَيْفَ. (1)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دالله تعالي ښئ لاس ډك وي (هيڅ كله نه خالي كيږي) بخشش او عطاء كوي او په شپه او ورځ وركولو سره هيڅ كله په دي كي كمي نه راځي ايا تاسو وينئ كله نه چې الله تعالي اسمانونه پيدا كړي دي دهغه وخت نه به څومره خرچ شوي وي ددومره خرچ كولو باوجود چې دالله تعالي په لاس كي څه دي په هغي كي هيڅ كمي نه دي راغلي او دهغه عرش داوبو دپاسه دي، او په دويم لاس كي يي ميزان دي چې پورته كوي يي او ښكته كوي يي (چاته چې زيات وركول غواړي زيات ورته وركوي او چاته چې كم وركول غواړي او هغه ته كم وركوي).

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او داحديث ددي ايت كريمه " وَقَالَتِ الْيَهُودُ يَدُ اللَّهِ مَغْلُولَةٌ غُلَّتْ أَيْدِيهِمْ وَلُعِنُوا بِمَا قَالُوا بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَاءُ " تفسير دي، ددي حديث باره كي داهل علمو قول دادي چې په دي به همداسي ايمان راوړلي شي څنګه چې ددي ذكر راغلي دي نه به ددي څه تفسير كولي شي او نه به هيڅ كله وهم او قياس جنګولي شي همدا رنګي ډيرو اهل علمو لكه سفيان ثوري ، مالك بن انس، سفيان بن عيينه، ابن مبارك وغيره هم قول كړي دي چې دا څيزونه به همداسي بيانولي شي څنګه چې بيان شوي او ايمان لرل ورباندي ضروري دي ليكن ددي دكيفيت باره كي به سوال نشي كيدي

****

٣٠٤٦ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا الْحَارِثُ بْنُ عُبَيْدٍ، عَنْ سَعِيدٍ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَقِيقٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: " كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحْرَسُ حَتَّى نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةَ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ (المائدة :٦٧) فَأَخْرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأْسَهُ مِنَ الْقُبَّةِ، فَقَالَ لَهُمْ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ، انْصَرِفُوا فَقَدْ عَصَمَنِي اللَّهُ ".

حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَقِيقٍ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحْرَسُ، وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ عَنْ عَائِشَةَ. (2)

---

1 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /تفسير هود ٢ (٤٦٨٤) . والتوحيد ١٩ (٧٤١١) ، و ٢٢ (٧٤١٩) . صحيح مسلم /الزكاة ١١ (٩٩٣) . سنن ابن ماجه/المقدمة ١٣ (١٩٧) (تحفة الأشراف : ١٣٨٦٢) . و مسند احمد (٢/٣١٣، ٥٠٠)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٦٢١٥)

6/33

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم نګراني او حفاظت به کيدل تردي پوري چې کله ايت کريمه "والله يعصمك من الناس" نازل شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم خپل سر دخيمي نه راوويستلو او پهره دارانو ته يې اووئيل تاسو واپس لاړ شئ ځکه چې زما دحفاظت ذمه داري الله تعالي پخپله اخستلي ده.

****

٣٠٤٧_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا شَرِيكٌ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ بَذِيمَةَ، عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَمَّا وَقَعَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ فِي الْمَعَاصِي نَهَتْهُمْ عُلَمَاؤُهُمْ فَلَمْ يَنْتَهُوا " فَجَالَسُوهُمْ فِي مَجَالِسِهِمْ، وَوَاكَلُوهُمْ، وَشَارَبُوهُمْ، فَضَرَبَ اللَّهُ قُلُوبَ بَعْضِهِمْ بِبَعْضٍ، وَلَعَنَهُمْ عَلَى لِسَانِ دَاوُدَ، وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَلِكَ بِمَا عَصَوْا وَكَانُوا يَعْتَدُونَ، قَالَ: فَجَلَسَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ مُتَّكِئًا، فَقَالَ: لَا وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ حَتَّى تَأْطُرُوهُمْ عَلَى الْحَقِّ أَطْرًا ". قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَ يَزِيدُ: وَكَانَ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ لَا يَقُولُ فِيهِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ مُسْلِمِ بْنِ أَبِي الْوَضَّاحِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ بَذِيمَةَ، عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، وَبَعْضُهُمْ يَقُولُ عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلٌ. [1]

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل: بني اسرائيل په ګناهونو کې ګنده شول نو اول خو به خپلو عالمانو هغوي منع کول، نو چې کله هغوي منع نه شول او عالمان به هم ورسره په مجلسونو کې کيناستل او خوراك څښاك به يې ورسره کولو نو الله تعالي دبعضې تورو زړونو والو پشان دهغوي زړونه هم خيرن کړل او د داود او عيسي عليهما السلام په ژبه يې پري لعنت اوکړو او سبب دلعنت دا وو چې هغوي دحکم نافرماني اوکړه او دحد نه اووتل (راوي وائي چه) رسول الله صلي الله عليه وسلم ددي فرمان په وخت ډډه وهلی وه بيا پاسيدو کيناستو او ويې فرمائيل په هغه ذات قسم دچا په قبضه کې چې ځما ساه ده چې تاسو خلاصي نشئ موندی ترڅو چې هغوي حق ته رانه ولئ (ترمذي) دتاطروهم، معني ده حق ته مائل کول او دتقصرونه معني او مطلب په حق باندي قائمول او مضبوطول دي.

---

[1] ـ سنن ابي داود/ الملاحم ١٧(٤٣٣٦) . سنن ابن ماجه/الفتن ٢٠(٤٠٠٦) (تحفة الأشراف : ٩٦١٤)

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي دارنكي دا حديث محمد بن مسلم بن ابي الوضاح دعلي بن بذيمه نه او هغه دابو عبيده نه دابن مسعود رضي الله عنه په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه ددي هم معني نقل كړي دي او بعضي راويانو عن ابي عبيدة عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره مرسل نقل كوي.

لغات: ولتاطرنه: اطره اطرا دضرب اونصر نه په معني دتاوولو.

تشريح: "ضرب الله قلوب بعضهم ببعض" يعني الله تعالي ددوئ دعلماؤ او بدعمله خلقو زړونه كډ وډ كړل (ملا علي قاري).

ملا علي قاري داهم وايي چې په ببعض كې باء دسببيت دپاره ده نومعني به داوي چې الله تعالي دګناهګارانو دنحوست په وجه به ددوئ دنيكانو زړونه هم تور كړي، ددوئ ټولو زړونه به سخت شي او بيا به ورباندي عذاب نازل شي.

په شروع كې دبني اسرائيلوعلماؤ خپلو عوامو لره پوهه كول بيادهغوئ دنه پوهيدو نه پس دهغوئ پشان اعمال دوئ هم شروع كړل حالانكه دعلماؤ دپاره داسي كول نه وو پكار.

دقران كريم او احاديثو نه معلوميږي چې نهي عن المنكر او امر بالمعروف ددي امت ذمه واري ده . كنتم خير امة اخرجت للناس تامرون بالمعروف وتنهون عن المنكر .

****

٣٠٤٨ـ حَدَّثَنَا بُنْدَارٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ بَذِيمَةَ، عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ بَنِي إِسْرَائِيلَ لَمَّا وَقَعَ فِيهِمُ النَّقْصُ كَانَ الرَّجُلُ فِيهِمْ يَرَى أَخَاهُ عَلَى الذَّنْبِ فَيَنْهَاهُ عَنْهُ، فَإِذَا كَانَ الْغَدُ لَمْ يَمْنَعْهُ مَا رَأَى مِنْهُ أَنْ يَكُونَ أَكِيلَهُ وَشَرِيبَهُ وَخَلِيطَهُ، فَضَرَبَ اللَّهُ قُلُوبَ بَعْضِهِمْ بِبَعْضٍ وَنَزَلَ فِيهِمُ الْقُرْآنُ، فَقَالَ: لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُدَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَلِكَ بِمَا عَصَوْا وَكَانُوا يَعْتَدُونَ (المائدة :٧٨) فَقَرَأَ حَتَّى بَلَغَ وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالنَّبِيِّ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَاءَ وَلَكِنَّ كَثِيرًا مِنْهُمْ فَاسِقُونَ (المائدة :٨١). قَالَ: وَكَانَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَّكِئًا فَجَلَسَ، فَقَالَ: لَا حَتَّى تَأْخُذُوا عَلَى يَدَيِ الظَّالِمِ فَتَأْطُرُوهُ عَلَى الْحَقِّ أَطْرًا ".[1]

ترجمه : د ابو عبيده رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چې په بني اسرائيلو كې كومه ړومبنئ خرابي پيدا شوه هغه دا وه چې يو كس به دبل

---

[1] ـ تفرد به المؤلف، وانظر ماقبله (تحفة الأشراف : ٩٥٩٠)

(ګناه کونکي) سره ملاؤ شو نو وئيل به يې چې ګوره دالله نه اويريږه او ته چې دا څه کوې دا پريږده ځکه چې دا ستا دپاره جائز نه دي او کله چې به ورسره په صبا ملاؤ شو او هم په هغه حالت کې به يې اخته اوليدو نو بيابه يې ورسره ناسته پاسته او خوراك څښاك کولو هر کله چې عام طور داسې کار شروع شو نو الله تعالي دهغوي زړونه خپل مينځ کې يو شان کړل ، بيا دا ايتونه نازل شول :لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُدَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَلِكَ بِمَا عَصَوْا وَكَانُوا يَعْتَدُونَ يعني د داود او عيسي عليهما السلام په ژبه الله تعالي دبني اسرائيلو په هغه خلقو باندي لعنت اوکړو چاچې کفر اوکړو سبب دلعنت دا وو چې هغوي نافرماني کړې وه او دالله تعالي دحدودو نه يې تجاوز کړې وو او دنړواو کارونو نه به يې يو بل نه منع کولو ددوي دا حرکت ډيريد وو دوي کې به ته ډير داسې کسان اووينې چې کافرانو سره يې دوستي کړې ده مخکې دپاره چې هغوي کوم څه ليږلي دي هغه ډير زيات بد دي،د ايت تر اخره، فاسقون پورې ، راوي وايي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دي وخت کې ډډه وهلي وه اوددې بيان په اوريدو سره کيناستلو او ويې فرمائيل: هيڅ کله (نه دي پکار) تاسو به ضرور امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوئ او دظالم لاس به نيسئ او هغه به حق خبرې ته رابنکلی راولئ.

****

حَدَّثَنَا بُنْدَارٌ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، وَأَمْلاهُ عَلَيَّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُسْلِمِ بْنِ أَبِي الْوَضَّاحِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ بَذِيمَةَ، عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ. [1]

ترجمه : ابوعبيده دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت نقل کړي دي.

****

۳۰۴۹_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ، أَخْبَرَنَا إِسْرَائِيلُ، حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُرَحْبِيلَ أَبِي مَيْسَرَةَ، عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، أَنَّهُ قَالَ: " اللَّهُمَّ بَيِّنْ لَنَا فِي الْخَمْرِ بَيَانَ شِفَاءٍ، فَنَزَلَتِ الَّتِي فِي الْبَقَرَةِ يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ (البقرة :۲۱۹)، فَدُعِيَ عُمَرُ فَقُرِئَتْ عَلَيْهِ، فَقَالَ: اللَّهُمَّ بَيِّنْ لَنَا فِي الْخَمْرِ بَيَانَ شِفَاءٍ، فَنَزَلَتِ الَّتِي فِي النِّسَاءِ يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَقْرَبُوا الصَّلاةَ وَأَنْتُمْ سُكَارَى (النساء :۴۳) فَدُعِيَ عُمَرُ فَقُرِئَتْ عَلَيْهِ، ثُمَّ قَالَ: اللَّهُمَّ بَيِّنْ لَنَا فِي

---

[1] _ انظر حديث رقم ۳۰۴۷

الْخَمْرِ بَيَانَ شِفَاءٍ فَنَزَلَتِ الَّتِي فِي الْمَائِدَةِ إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ إِلَى قَوْلِهِ فَهَلْ أَنْتُمْ مُنْتَهُونَ (المائدة: ٩١) فَدُعِيَ عُمَرُ، فَقُرِئَتْ عَلَيْهِ. فَقَالَ: انْتَهَيْنَا انْتَهَيْنَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رُوِيَ عَنْ إِسْرَائِيلَ هَذَا الْحَدِيثُ مُرْسَلٌ. [1]

ترجمه: دعمر فاروق ﷛ نه روايت دی فرمائي كله چې دشرابو دحرمت متعلق ايت نازل شو نو ما اووئيل اي الله زمونږ دپاره دشرابو متعلق واضح حكم بيان كړي ، نويه دي وخت كې د سورت بقري ايت ، يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ ،نازل شو، نو عمرفاروق﷛ راوغوښتلی شو اوداحكم ورته واورولی شو هغه اووئيل اي الله مونږ ته صاف صاف حكم بيان كړي نويه دي وخت كې دسورة النساء دا ايت كريمه (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَقْرَبُوا الصَّلَاةَ وَأَنْتُمْ سُكَارَى) نازل شو نو عمرفاروق﷛ راوغوښتلی شو اوداحكم ورته واورولی شو هغه اووئيل اي الله مونږ ته صاف صاف حكم بيان كړي نويه دي وخت كې مائدي ايت كريمه نازل شو (إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ إِلَى قَوْلِهِ فَهَلْ أَنْتُمْ مُنْتَهُونَ) ، نو عمرفاروق﷛ راوغوښتلی شو اوداحكم ورته واورولی شو هغه اووئيل اي الله مونږ منع شو مونږ منع شو.

امام ترمذي وايي: داحديث داسرائيل په واسطه په مرسل سند مروي دي.

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي مَيْسَرَةَ عَمْرِو بْنِ شُرَحْبِيلَ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ، قَالَ: اللَّهُمَّ بَيِّنْ لَنَا فِي الْخَمْرِ بَيَانَ شِفَاءٍ فَذَكَرَ نَحْوَهُ، وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ يُوسُفَ. [2]

ترجمه: ابوميسره عمرو بن شرحبيل دعمرفاروق رضي الله عنه بيان نقل كوي چې فرمائيل يې اي الله زمونږ دپاره دشرابو باره كې فيصله كونكي بيان نازل كړه او باقي حديث يې دماقبل پشان بيان كړو او داحديث دمحمد بن يوسف دحديث نه زيات صحيح دي.

****

٣٠٥٠ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْبَرَاءِ، قَالَ: " مَاتَ رِجَالٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ أَنْ تُحَرَّمَ الْخَمْرُ، فَلَمَّا

---

[1] ـ سنن ابي داود/ الأشربة ١ (٣٦٧٠)، سنن النسائي/ الأشربة ١ (٥٥٤٢) (تحفة الأشراف: ١٠٦١٤)، و مسند احمد (١/٥٣)

[2] ـ سنن ابي داود/ الأشربة ١ (٣٦٧٠)، سنن النسائي/ الأشربة ١ (٥٥٤٢) (تحفة الأشراف: ١٠٦١٤)، و مسند احمد (١/٥٣)

حُرِّمَتِ الْخَمْرُ قَالَ رِجَالٌ: كَيْفَ بِأَصْحَابِنَا وَقَدْ مَاتُوا يَشْرَبُونَ الْخَمْرَ ؟ فَنَزَلَتْ لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوا إِذَا مَا اتَّقَوْا وَآمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ (المائدة: ٩٣)".
قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق، عَنِ الْبَرَاءِ أَيْضًا. (1)

ترجمه : دبراء بن عازب رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې دشرابو دحرمت نازليدو نه مخکې دنبي کريم صلي الله عليه وسلم بعضې صحابه کرام وفات شوي وو نو کله چې شراب حرام شول نو بعضې کسانو اووئيل زمونږ دهغه ملګرو سره به څه کيږي چاچې دحرمت دزمانې نه مخکې شراب څکل او اوس وفات شوي دي نو دي باره کې دا ايت کريمه " لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوا إِذَا مَا اتَّقَوْا وَآمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ"
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي، شعبه هم دابواسحاق په واسطه دبراء نه دا روايت نقل کړې دي.

****

٣٠٥١ـ حَدَّثَنَا بِذَلِكَ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ بُنْدَارٌ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق بِهَذَا، قَالَ: قَالَ الْبَرَاءُ بْنُ عَازِبٍ: "مَاتَ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُمْ يَشْرَبُونَ الْخَمْرَ، فَلَمَّا نَزَلَ تَحْرِيمُهَا، قَالَ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَكَيْفَ بِأَصْحَابِنَا الَّذِينَ مَاتُوا وَهُمْ يَشْرَبُونَهَا ؟ فَنَزَلَتْ لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوا (المائدة: ٩٣)". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : او په همدې سند ابو اسحاق دبراء بن عازب رضي الله عنه نه روايت نقل کوي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم بعضې صحابه کرام دشرابو دحرمت نه مخکې په داسې حال کې وفات شوي وو چې شراب به يې څکل بيا چې دشرابو حرمت نازل شو نو بعضې کسانو اووئيل زمونږ دهغه ملګرو به څه حال وي چاچې دحرمت نه مخکې شراب څکلي دي او اوس وفات شوي دي نو دي باره کې دا ايت کريمه " لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوا إِذَا مَا اتَّقَوْا وَآمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ " نازل شو.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٨٢١)

2 ـ انظر ماقبله (تحفة الأشراف: ١٨٨٢)

****

٣٠٥٢_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي رِزْمَةَ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالُوا: "يَا رَسُولَ اللهِ، أَرَأَيْتَ الَّذِينَ مَاتُوا وَهُمْ يَشْرَبُونَ الْخَمْرَ لَمَّا نَزَلَ تَحْرِيمُ الْخَمْرِ؟ فَنَزَلَتْ لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوا إِذَا مَا اتَّقَوْا وَآمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ (المائدة: ٩٣)". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه: دابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي كله چې دشرابو حرمت نازل شو صحابه كرامو اوفرمائيل اي دالله رسوله كومو كسانو چې مخكې شراب څكل او اوس وفات شوي دي دهغوئ به څه حال وي نو دي وخت كي دا ايت كريمه " لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوا إِذَا مَا اتَّقَوْا وَآمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ " نازل شو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٠٥٣_حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ مَخْلَدٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ مُسْهِرٍ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: "لَمَّا نَزَلَتْ لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوا إِذَا مَا اتَّقَوْا وَآمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ (المائدة: ٩٣)، قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَنْتَ مِنْهُمْ"، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[2]

ترجمه: دابن مسعود رضي الله عنه بيان دي فرمائي كله چې ايت كريمه " لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوا إِذَا مَا اتَّقَوْا وَآمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ " نازل شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته اوفرمائيل ته هم ددوئ نه يي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٠٥٤_حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ أَبُو حَفْصٍ الْفَلَّاسُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ سَعْدٍ، حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنِّي

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦١١٨)

[2] _ صحيح مسلم/فضائل الصحابة ٢٢ (٢٤٥٩) (تحفة الأشراف: ٩٤٢٤)

إِذَا أَصَبْتُ اللَّحْمَ انْتَشَرْتُ لِلنِّسَاءِ وَأَخَذَتْنِي شَهْوَتِي فَحَرَّمْتُ عَلَيَّ اللَّحْمَ. فَأَنْزَلَ اللَّهُ: يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكُمْ وَلا تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ ، وَكُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ حَلالا طَيِّبًا (المائدة: ٨٧،٨٦)". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ وَرَوَاهُ بَعْضُهُمْ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ سَعْدٍ مُرْسَلًا لَيْسَ فِيهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَرَوَاهُ خَالِدٌ الْحَذَّاءُ، عَنْ عِكْرِمَةَ مُرْسَلًا. (1)

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې يو كس دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شو او عرض يي اوكړو اي دالله رسوله كله چې زه غوښه خورم نو ښځي ته مي توجه پيدا شي او شهوت رابانديغالب شي چنانچې ما پخپل خان باندي غوښه حرامه كړي ده نو په دي باره كي ايت كريمه " يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكُمْ وَلا تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ . وَكُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ حَلالا طَيِّبًا " نازل شو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي، بعضي محدثينو دا روايت دعثمان بن سعد نه مرسل نقل كړي دي او په سند كي يي دابن عباس واسطه نه ده ذكر كړي، خالد خزاء هم دا حديث دعكرمه نه مرسل نقل كړي دي.

****

٣٠٥٥_حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ الْأَشَجُّ، حَدَّثَنَا مَنْصُورُ بْنُ وَرْدَانَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِ الْأَعْلَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي الْبَخْتَرِيِّ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: "لَمَّا نَزَلَتْ وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلا (آل عمران: ٩٧)، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، فِي كُلِّ عَامٍ. فَسَكَتَ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، فِي كُلِّ عَامٍ. قَالَ: لَا، وَلَوْ قُلْتُ نَعَمْ لَوَجَبَتْ. فَأَنْزَلَ اللَّهُ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ (المائدة: ١٠١)". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ عَلِيٍّ، وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. (2)

ترجمه : دعلي رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې كله ايت كريمه " وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلا" نازل شو خلقو عرض اوكړو اي دالله رسوله ايا هر كال به حج فرض وي رسول الله خاموشي اختيار كړه خلقو بيا اووئيل اي دالله رسوله اياهر كال به حج فرض وي رسول الله اوفرمائيل نه دي سړي دا خبره دري خله وكړه بيا رسول الله اوفرمائيل كه ما هو

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦١٥٣)

2 _ انظر حديث رقم ٨١٣

وئيلي وی، نو هر کال به درباندی فرض شوی وو. او بیا الله تعالي دا ایت کریمه نازل کړو "يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ".

امام ترمذي وايي: داحديث دعلي رضيَ الله عنه په سند حسن غريب دي، او په دي باب کي دابوهريره او ابن عباس رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

تشريح: ددي سوال کونکي صحابي نوم په نورو احاديثو کې اقرع بن حابث ذکر شوی دی او دا سوال يي څکه اوکړو چې حج يي په نورو عبادتونو قياس کړو لکه مونځ او روژه او زکوٰة وغيره نو په دي وخت کې رسول الله صلي الله عليه وسلم دخفګان اظهار اوکړو او دايي اوفرمائيل که چري ما هو وئيلي وی نو هر کال به په تاسو فرض شوی وو ځکه چې زه جواب دالله دحکم په موجب ورکوم او دالله تعالي دحکم نه بغير زما دژبي نه کومه تشريعي خبره نه وځي او که چري هر کال فرض شوی وی نو په هر چاکې دومره طاقت چرته دی چې بيايي اوکړی شي.

****

٣٠٥٦ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَعْمَرٍ أَبُو عَبْدِ اللهِ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، أَخْبَرَنِي مُوسَى بْنُ أَنَسٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، يَقُولُ: قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ، مَنْ أَبِي؟ قَالَ: "أَبُوكَ فُلَانٌ". فَنَزَلَتْ يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ (المائدة :١٠١) قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. ([1])

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي يو کس عرض اوکړو اي دالله رسوله زما پلار څوك دي؟ هغه اوفرمائيل ستا پلار فلاني دي راوي وائي چې بيا دا ايت "يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ" نازل شو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي.

****

٣٠٥٧ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبِي خَالِدٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ، أَنَّهُ قَالَ: "يَا أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّكُمْ تَقْرَءُونَ هَذِهِ الآيَةَ يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ (المائدة :١٠٥)، وَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /تفسير المائدة ١٢ (٤٦٢١). والاعتصام ٣ (٧٢٩٥). صحيح مسلم /الفضائل ٣٧ (٢٣٥٩) (تحفة الأشراف : ١٦٠٨)

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوْا ظَالِمًا فَلَمْ يَأْخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ أَوْشَكَ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللهُ بِعِقَابٍ مِنْهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ نَحْوَ هَذَا الْحَدِيثِ مَرْفُوعًا، وَرَوَى بَعْضُهُمْ عَنْ إِسْمَاعِيلَ، عَنْ قَيْسٍ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ، قَوْلَهُ: وَلَمْ يَرْفَعُوهُ. (1)

ترجمه دابوبکر صديق رضي الله عنه نه مروي دي چې ويې فرمانيل اي خلقو تاسو خو دا ايت "يَا أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّكُمْ تَقْرَءُونَ هَذِهِ الآيَةَ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ" لوستلي دي او ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چې کله خلق ظالم لره په ظلم کولو اوويني او بيا دهغه لاس اونه نيسي (دظلم نه يې منع نکړي) ډيره نژدې ده چې په دوئ به دالله دطرفه عام عذاب راشي او په دوئ ټولو به احاطه اوکړي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي بعضي راويانو داحديث داسماعيل بن خالد نه مرفوعا په همدې مضمون نقل کړي دي، او بعضي راويانو دا مرفوع نه دي بيان کړي بلکه دابوبکر قول يې کرځولي دي چې داسماعيل نه يې دقيس په واسطه دابوبکر رضي الله عنه نه نقل کړي دي.

****

٣٠٥٨ـ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ يَعْقُوبَ الطَّالَقَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا عُتْبَةُ بْنُ أَبِي حَكِيمٍ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ جَارِيَةَ اللَّخْمِيُّ، عَنْ أَبِي أُمَيَّةَ الشَّعْبَانِيِّ، قَالَ: أَتَيْتُ أَبَا ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيَّ، فَقُلْتُ لَهُ: كَيْفَ تَصْنَعُ بِهَذِهِ الآيَةِ؟ قَالَ: أَيَّةُ آيَةٍ؟ قُلْتُ: قَوْلُهُ تَعَالَى: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ (المائدة: ١٠٥)، قَالَ: أَمَا وَاللهِ لَقَدْ سَأَلْتَ عَنْهَا خَبِيرًا، سَأَلْتُ عَنْهَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "بَلِ ائْتَمِرُوا بِالْمَعْرُوفِ، وَتَنَاهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ، حَتَّى إِذَا رَأَيْتَ شُحًّا مُطَاعًا، وَهَوًى مُتَّبَعًا، وَدُنْيَا مُؤْثَرَةً، وَإِعْجَابَ كُلِّ ذِي رَأْيٍ بِرَأْيِهِ فَعَلَيْكَ بِخَاصَّةِ نَفْسِكَ وَدَعِ الْعَوَامَّ، فَإِنَّ مِنْ وَرَائِكُمْ أَيَّامًا الصَّبْرُ فِيهِنَّ مِثْلُ الْقَبْضِ عَلَى الْجَمْرِ، لِلْعَامِلِ فِيهِنَّ مِثْلُ أَجْرِ خَمْسِينَ رَجُلًا يَعْمَلُونَ مِثْلَ عَمَلِكُمْ". قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ: وَزَادَنِي غَيْرُ عُتْبَةَ، قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَجْرُ خَمْسِينَ مِنَّا أَوْ مِنْهُمْ؟ قَالَ: بَلْ أَجْرُ خَمْسِينَ مِنْكُمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ

---

1 ـ انظر حديث رقم ٢١٦٨

غَرِيبٌ. (١)

ترجمه : دابو اميه شعباني نه روايت دي فرمائي چې دابوثعلبه خشني ﷛نه مي تپوس وکړوچې اي ابوثعلبه ددي ايت کريمه: (عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ) په باره کې ته څه وائې؟هغه ووئيل ددي په باره کې مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه تپوس وکړونو راته ئې اوفرمائيل تاسو امربالمعروف اونهي عن المنکرکوئ تردي پورې چې تاسووينئ چې دکنجوس پيروي کيږي اودنفساني خواهش تابع داري کيږي اوپه دنياپسي منډې وهلې شي اوهريو ذي راي په ودپسندئ کې مبتلادي نوپداسي وخت کې تاسودخپل ځان خيال اوساتئ اودعواموخيال دزړه نه اوباسئ ځکه چې ستاسونه پس يوه داسي ورځ را روانه ده په کومه کې چې به صبرکول داسي مشکل وي لکه په لاس کې سکروټه نيول اوپداسي ورځوکې به په دين باندي عمل کونکي ته دپنځوسو کسانوداجربرابر اجر ورکولي شي ، راوي وائي چې يوبل راوي دا اضافه کړي ده چې يوصحابي عرض وکړو اي دالله رسوله ايا دهغوي نه دپنځوس کسانو اجر؟رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل نه بلکه ستاسونه دپنځوسو کسانو داجر برابراجربه ورته ورکړي شي.

امام ترمذي وايي: داحيث حسن غريب دي.

دمعرور بن سويد رضي الله عنه حالات

نوم معروف دپلار نوم سويد دبني اسد قبيلي سره تعلق لري او کنيه يي ابو اميه ده دلويو تابعينو دجملي نه دی دعمر فاروق او عبدالله بن مسعود رضي الله عنهما نه يي احاديث اوريدلي دي او داکثر اسماء الرجال والا په نزد ثقه دی دهجرت په ١٢٠ کال وفات شوی دی او مرويات يي په صحاح سته کې موجود دی.

****

٣٠٥٩_حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ أَحْمَدَ بْنِ أَبِي شُعَيْبٍ الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي النَّضْرِ، عَنْ بَاذَانَ مَوْلَى أُمِّ هَانِئٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ تَمِيمٍ الدَّارِيِّ، فِي هٰذِهِ الآيَةِ "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ (المائدة: ١٠٦)، قَالَ: بَرِئَ مِنْهَا النَّاسُ غَيْرِي وَغَيْرَ عَدِيِّ بْنِ بَدَّاءٍ، وَكَانَا نَصْرَانِيَّيْنِ يَخْتَلِفَانِ إِلَى الشَّامِ قَبْلَ الإِسْلَامِ، فَأَتَيَا الشَّامَ لِتِجَارَتِهِمَا وَقَدِمَ عَلَيْهِمَا مَوْلًى لِبَنِي سَهْمٍ، يُقَالُ لَهُ: بُدَيْلُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ بِتِجَارَةٍ، وَمَعَهُ جَامٌ مِنْ فِضَّةٍ يُرِيدُ بِهِ الْمَلِكَ، وَهُوَ عُظْمُ تِجَارَتِهِ، فَمَرِضَ فَأَوْصَى إِلَيْهِمَا وَأَمَرَهُمَا أَنْ

---

1 ــ سنن ابي داود/ الملاحم ١٧(٤٣٤١). سنن ابن ماجه/الفتن ٢١(٤٠١٤) (تحفة الأشراف: ١١٨٨١)

يُبَلِّغَا مَا تَرَكَ أَهْلَهُ. قَالَ تَمِيمٌ: فَلَمَّا مَاتَ أَخَذْنَا ذَلِكَ الْجَامَ فَبِعْنَاهُ بِأَلْفِ دِرْهَمٍ، ثُمَّ اقْتَسَمْنَاهُ أَنَا وَعَدِيُّ بْنُ بَدَّاءٍ. فَلَمَّا قَدِمْنَا إِلَى أَهْلِهِ دَفَعْنَا إِلَيْهِمْ مَا كَانَ مَعَنَا، وَفَقَدُوا الْجَامَ فَسَأَلُونَا عَنْهُ. فَقُلْنَا: مَا تَرَكَ غَيْرَ هَذَا وَمَا دَفَعَ إِلَيْنَا غَيْرَهُ. قَالَ تَمِيمٌ: فَلَمَّا أَسْلَمْتُ بَعْدَ قُدُومِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ تَأَثَّمْتُ مِنْ ذَلِكَ فَأَتَيْتُ أَهْلَهُ فَأَخْبَرْتُهُمُ الْخَبَرَ وَأَدَّيْتُ إِلَيْهِمْ خَمْسَ مِائَةِ دِرْهَمٍ وَأَخْبَرْتُهُمْ أَنَّ عِنْدَ صَاحِبِي مِثْلَهَا، فَأَتَوْا بِهِ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَهُمُ الْبَيِّنَةَ. فَلَمْ يَجِدُوا، فَأَمَرَهُمْ أَنْ يَسْتَحْلِفُوهُ بِمَا يُعْظَمُ بِهِ عَلَى أَهْلِ دِينِهِ فَحَلَفَ. فَأَنْزَلَ اللَّهُ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِلَى قَوْلِهِ أَوْ يَخَافُوا أَنْ تُرَدَّ أَيْمَانٌ بَعْدَ أَيْمَانِهِمْ (المائدة: ١٠٦-١٠٨). فَقَامَ عَمْرُو بْنُ الْعَاصِ وَرَجُلٌ آخَرُ فَحَلَفَا. فَنُزِعَتِ الْخَمْسُ مِائَةِ دِرْهَمٍ مِنْ عَدِيِّ بْنِ بَدَّاءٍ".

قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِصَحِيحٍ، وَأَبُو النَّضْرِ الَّذِي رَوَى عَنْهُ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ هَذَا الْحَدِيثَ هُوَ عِنْدِي مُحَمَّدُ بْنُ السَّائِبِ الْكَلْبِيُّ، يُكْنَى أَبَا النَّضْرِ، وَقَدْ تَرَكَهُ أَهْلُ الْعِلْمِ بِالْحَدِيثِ وَهُوَ صَاحِبُ التَّفْسِيرِ، سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ، يَقُولُ: مُحَمَّدُ بْنُ السَّائِبِ الْكَلْبِيُّ يُكْنَى أَبَا النَّضْرِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَلَا نَعْرِفُ لِسَالِمٍ أَبِي النَّضْرِ الْمَدَنِيِّ رِوَايَةً عَنْ أَبِي صَالِحٍ مَوْلَى أُمِّ هَانِئٍ وَقَدْ رُوِيَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ شَيْءٌ مِنْ هَذَا عَلَى الِاخْتِصَارِ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ.[1]

ترجمه : دتميم داري رضي الله عنه بيان دي چې دايت كريمه "" يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ '' باره كي يې فرمائيل زما او دعدي بن بداء نه علاوه نور ټول خلق ددې ايت لاندې دراتلو نه محفوظ دي، مونږ دواړه نصرانيان وو داسلام نه مخكې به مونږ شام ته تلو راتلو يو خل مونږ دواړه دتجارت دپاره شام ته لاړو او زمونږ سره دبني هاشم يو غلام هم روان شو چې بديل بن ابي مريم به ورته وئيلې كيدل هغه هم دتجارت دپاره شام ته راغلي وو او دهغه سره دسپينو زرو يو جام وو چې هغه يې په بادشاه باندې خرڅول غوښتل او همدا جام دده دتجارت سامان كي دټولو نه لوئ څيز وو اتفاقا داسې اوشول چې هغه بيمار شو نو مونږ دواړو ته يې وصيت اوكړو او مونږ ته يې عرض اوكړو كه زه مړ شوم او مانه څه پاتې شول دا به زما كور والا ته رسوئ، كله چې دې مړ شو نو مونږ دا جام واخستلو او په زر درهمه مو خرڅ كړو او بيا ما او عدي بن بداء پخپل مينځ كي تقسيم كړو كله چې مونږ دده بچو او دده ښځو ته ورغلو او چې مونږ سره دده كوم سامان وو دا مونږ هغوئ ته واپس كړو كله چې هغوئ ته دسپينو زرو جام په لاس ورنغلو نو زمونږ نه يې په دې باره كي تپوس اوكړو مونږ ورته

---

[1] تفرد به المؤلف

اووئيل مونږ چې درله څه راوړي دي او درموکړل ددینه علاوه زمونږ سره نور هيڅ نه دي پاتي مګر بيا چې کله مديني ته درسول الله صلي الله عليه وسلم دتلو نه پس ما اسلام قبول کړو نو زه ددي ګناه نه اوويريدم چنانچې زه دهغه کور ته ورغلم او دجام باره کي مي صحيح خبر ورکړو او دخپلي حصي پنځه سوه درهم مي ورته ورکړل او هغوئ ته مي دا هم اووئيل چې زما په شان د عدي بن بداء سره هم ددي جام دقيمت پنځه سوه درهم موجود دي بيا هغوئ رسول الله صلي الله عليه وسلم ته نيولي راوستو رسول الله ددوئ نه دثبوت مطالبه اوکړه نو هغوئ ثبوت نشو پيش کولي بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم دوئ ته حکم اوکړو چې دوئ په داسي څيز قسم اوکړي کوم چې په دين کي لوي ګڼرلي کيږي نو دوئ قسم اوخوړلو تردي چې په دي باره کي " يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِلَى قَوْلِهِ أَوْ يَخَافُوا أَنْ تُرَدَّ أَيْمَانٌ بَعْدَ أَيْمَانِهِمْ " نو عمرو بن العاص رضي الله عنه او دبديل په وارثانو کي يو کس اودريدل او هغوئ قسم اوخوړلو چې عدي دروغژن دي او بيا دهغه نه پنځه سوه درهم په زور واخستلي شول.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي او سند يي صحيح نه دي، ابو النضر دچانه چې محمد بن اسحاق دا روايت نقل کړي دي هغه زما په نزد محمد بن سائب کلبي دي او ابو النضر دده اسم کنيه ده دمحدثينو په نزد متروك دي او دده يو تفسير هم دي چې په تفسير کلبي مشهور دي مادامام بخاري نه اوريدلي دي چې دمحمد بن سائب کلبي اسم کنيه ابوالنضر ده او مونږ دسالم ابوالنضر مديني کوم روايت دام هاني دازاد کړي غلام صالح نه نه پيژنو ددي حديث بعضي حصه مختصرا په يو بل سند هم دابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي چې عنقريب راتلونکي ده.

****

٣٠٦٠ـ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، عَنِ ابْنِ أَبِي زَائِدَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي الْقَاسِمِ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: " خَرَجَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي سَهْمٍ مَعَ تَمِيمٍ الدَّارِيِّ، وَعَدِيِّ بْنِ بَدَّاءٍ فَمَاتَ السَّهْمِيُّ بِأَرْضٍ لَيْسَ فِيهَا مُسْلِمٌ. فَلَمَّا قَدِمَا بِتَرِكَتِهِ فَقَدُوا جَامًا مِنْ فِضَّةٍ مُخَوَّصًا بِالذَّهَبِ، فَأَحْلَفَهُمَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ وُجِدَ الْجَامُ بِمَكَّةَ، فَقِيلَ: اشْتَرَيْنَاهُ مِنْ عَدِيٍّ، وَتَمِيمٍ، فَقَامَ رَجُلَانِ مِنْ أَوْلِيَاءِ السَّهْمِيِّ، فَحَلَفَا بِاللَّهِ لَشَهَادَتُنَا أَحَقُّ مِنْ شَهَادَتِهِمَا وَأَنَّ الْجَامَ لِصَاحِبِهِمْ، قَالَ: وَفِيهِمْ نَزَلَتْ يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ (المائدة

:١٠٦". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ وَهُوَ حَدِيثُ ابْنِ أَبِي زَائِدَةَ. (1)

ترجمه: دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې دبني سهم قبيلي يو كس دتميم داري او عدي بن بداء سره په سفر روان شو او دا كس په يو داسي زمكه كي مړ شو چرته چې هيڅوك مسلمان نه وو كله چې دده دواړه ملګرو تركه راوړله نو دده كور والادده په متروكه سامان كي هغه دسپينو زرو جام اونه موندلو په كوم چې يي دسرو زرو كار شوي وو كله چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ته مقدمه پيش شوه نو دوئ دواړو ته يي قسم وركړو او هغه قسم اوخوړلو چې مونږ ته جام نه دي ملاؤ شوي ليكن هغه جام دسهمي كور والاته په مكه كي دبل چاسره ملاؤ شو او هغوئ ورته اووئيل چې دا مونږ دتميم او عدي نه په قيمت اخستلي دي دي وخت كي دسهمي په وارثانو كي دوه كسان راغلل او قسم يي اوخوړلو او وئيل يي چې زمونږ شهادت ددوئ دواړو دګواهئ نه زيات رښتوني دي او دا جام زمونږ دكس دي ابن عباس رضي الله عنهما وائي هم ددوئ په باره كي ايت كريمه " يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ " نازل شوى.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي او دابن ابي زائده په سند مروي دي.

****

٣٠٦١ـ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ قَزَعَةَ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ حَبِيبٍ، حَدَّثَنَا سَعِيدٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ خِلَاسِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أُنْزِلَتِ الْمَائِدَةُ مِنَ السَّمَاءِ خُبْزًا وَلَحْمًا، وَأُمِرُوا أَنْ لَا يَخُونُوا وَلَا يَدَّخِرُوا لِغَدٍ، فَخَانُوا وَادَّخَرُوا وَرَفَعُوا لِغَدٍ فَمُسِخُوا قِرَدَةً وَخَنَازِيرَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، قَدْ رَوَاهُ أَبُو عَاصِمٍ وَغَيْرُ وَاحِدٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ خِلَاسٍ، عَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ مَوْقُوفًا، وَلَا نَعْرِفُهُ مَرْفُوعًا إِلَّا مِنْ حَدِيثِ الْحَسَنِ بْنِ قَزَعَةَ.

حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ حَبِيبٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ نَحْوَهُ وَلَمْ يَرْفَعْهُ، وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ الْحَسَنِ بْنِ قَزَعَةَ، وَلَا نَعْلَمُ لِلْحَدِيثِ الْمَرْفُوعِ أَصْلًا. (2)

ترجمه: د عمار بن ياسر رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي

1 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح/الوصايا ٣٥ (٢٧٨٠). سنن ابي داود/ الأقضية ١٩ (٣٦٠٦) (تحفة الأشراف: ٥٥٥١)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٣٢٨)

دعیسي علیه السلام په قوم باندي داسمان نه د ډوډۍ او غوښي دسترخوان نازل کړي شو او حکم ورته اوشو چې خیانت به نه کوئ او دبلي ورځي دپاره به یي نه ساتئ مګر هغوی خیانت هم اوکړو او دنورو ورځو دپاره جمع کول به یي هم کول او دسبانۍ ورځي دپاره به یي هم ساتل نو ددوی مخونه مسخ کړي شول تردي چې شادوګان او خنزیران ورنه جوړ کړي شول

امام ترمذي وایي. داحدیث ابو عاصم او بعضي نورو راویانو په سند دسعید بن ابي عروبه عن قتادة عن خلاس عن عمار بن یاسر موقوفا نقل کړي دي

دعماربن یاسر رضي الله عنه حالات

نوم عمار کنیه ابو الیقظان دپلار نوم یاسر د مور نوم سمیه عمار او صهیب بن سنان په یو ځای دارقم بن ابي ارقم په کور کې مسلمانان شوي وو او تردغه وخته تقریبا دیرشت کسان مسلمانان شوي وو (فتح الباري).

دي خاندان ددین دپاره ډیر مشقت برداشت کړو دده مور داسلام په تاریخ کې هغه اولنۍ زنانه ده کومه چې داسلام دپاره شهیده شوي ده او دده پلار یاسر او دده ورور عبدالله هم شهیدان شوي وو (اصابه).

یوځل نبي کریم صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل ای دعمار خاندان ستاسو دپاره دي بشارت وي جنت ستاسو انتظار کوي.

لیکن دتاریخ والا په دي کې اختلاف دی چې حبشي ته یي هجرت کړی وو او که نه وو لیکن مدیني ته یي هجرت کړی وو او رسول الله صلي الله علیه وسلم دده ورورولي دحذیفه بن الیمان انصاري سره مقرر کړي وه په ټولو غزواتو کې درسول الله سره شریك شوی وو او په جنګ یمامه کې یي یوغوږ شهید شو بیاعمر رضي الله عنه دهجرت په دریم کال صفر کې دکوفي والي مقرر کړو یو کال او نهه میاشتي والي پاتي شوی.

شهادت په جنګ صفین کې شهید شو کله چې ده ته دڅکلو دپاره شوده ورکړی شو نو وئیل یي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي چې په دنیا کې به ستا اخري توخه شوده وي ابن الغاویه په نیزه اووهلو او زخمي شو او بیایو بل شامي دده سر دتن نه جدا کړو (طبقات ابن سعد).

علي رضي الله عنه ورباندي جنازه اوکړه او په دي وخت کې دده عمر ۹۱ کلونه وو او په کوفه کې همدا صحابي دفن شوی دی. ۱۶۲ احادیث دده نه مروي دي چې دوه په دي کې متفق علیه دي

****

۳۰۶۲_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ. عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ. عَنْ طَاوُسٍ. عَنْ أَبِي

هُرَيْرَةَ، قَالَ: " يُلَقَّى عِيسَى حُجَّتَهُ وَلَقَّاهُ اللَّهُ فِي قَوْلِهِ: وَإِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ أَأَنتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَهَيْنِ مِنْ دُونِ اللَّهِ (المائدة: ١١٦)، قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَقَّاهُ اللَّهُ سُبْحَانَكَ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أَقُولَ مَا لَيْسَ لِي بِحَقٍّ (المائدة: ١١٦) الْآيَةَ كُلَّهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي عيسي عليه السلام ته به خپل جواب القاء كړي شي، الله تعالي به هغه ته خپل جواب دخپل دي قول په جواب كي القاء كوي " وَإِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ أَأَنتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَهَيْنِ مِنْ دُونِ اللَّهِ" دابوهريره رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چې بيا الله تعالي عيسي عليه السلام ته ددي دا جواب القاء كړو " سُبْحَانَكَ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أَقُولَ مَا لَيْسَ لِي بِحَقٍّ ".

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٠٦٣ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، عَنْ حُيَيٍّ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحُبُلِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: "آخِرُ (أُنْزِلَتْ الْمَائِدَةُ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَرُوِيَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّهُ قَالَ: "آخِرُ (أُنْزِلَتْ" إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ".[2]

ترجمه : دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې په ټولو سورتونو كي اخري نازليدونكي سورة سورة المائده دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي. اود ابن عباس نه دا هم مروي دي چې فرمائيل يي: اخري نازليدونكي سورت ، سورت نصر او سورت فتح دي.

****

٧ـ بَاب وَمِنْ سُورَةِ الْأَنْعَامِ

دسورة انعام دبعضي ايتونو تفسير

وجه دتسميه د دی سورة : په ايت. ١٣٨ . او وريسی د بعضِ څاروو. (انعام) د حرمت او د

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ١٣٥٢١)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٨٦٢)

بعضِ د حلت متعلق د اهل وعرب د رسمونو تردید کړي شویدي. د دې مناسبت د وجې نه د دې سورت نوم ,,الانعام،، کیخودلی شوی دی.

د نزول زمانه: د دې سورة په مضمون باندې د غور کولو نه روستو دا معلومیږي چې دا سورت به د مکّي دور په آخري زمانه کې نازل شوی وی.

شانِ نزول: د دې سورت د نزول په وخت کې د اسلام په دعوت او تبلیغ باندې دولس کالونه تیر شوي وُو. د قریشو ظلمونه او مخالفت انتها ته رسیدلی وُو. د مشرکانو د ظلمونو د وجې نه د مومنانو ډیر لوئ تعداد حبشې ته هجرت کړی وُو. د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حمایت او د تائید د پاره هیڅوك ملاتړ د نبي صلی الله علیه وسلم په خاندان کې نهٔ وو. ابو طالب او خدیجه رضی الله عنها وفات شوي وُو. د نبي صلی الله علیه وسلم د تبلیغ د اثر د وجې نه په قبائلو کې ډیر خلق اسلام ته راتلل. لیکن بیا هم په مجموعي حیثیت مشرکین په سخته دښمنئ کې پراته وُو. او څوك چې هم اسلام ته مائله کیدلو. نو هغهٔ ته به ئې تکلیفونه رسول او معاشرتي او معاشي مقاطعه به ئې ورسره کوله د ظلم او د کفر په دې تیارو کې د یثرب د طرف نه د اوس او خزرج قبیلو اثرناك خلق په اسلام کې داخل شوي وُو او د نبي صلی الله علیه وسلم سره ئې بیعت کړی وُو. او ورځ په ورځ اسلام مخ په وړاندې ترقي کوله. خو بیا هم مخالفینو دا ګنړله. چې دا یو کمزوري تحریك دې مادي طاقت ورسره هم نیشته او د داعي د خپل خاندان ملګرتیا ورسره هم نیشته. نو د دوی ختمول ډیر آسان دي.

دانس رضي الله عنه بیان دي چې کله په رسول الله سورة انعام نازل شو نوسبحان الله يي اووئیل اوبیا يي اوفرمائیل پدي سورة پسي دومره فرشتي وریسي وي چې داسمان کناري يي بندي کړي وي (یعني دټول اسمان په کنارو خوري شوي وي) (رواه الحاکم في المستدرك)

داحدیث هم پدي دلالت کوي چې سورة انعام په یو خل ټول نازل شوي دي اودمختلفو ایتونو چې کوم اسباب دنزول جدا جدا بیان شوي دي شاید چې ددي صورة دا وو چې مختلف واقعات په قریب قریب وختونو کي ظاهر شوي وو اوچونکه دایت دبعضي اسبابو سره دایت دنورو اسبابو سره ربط او تناسب وو نوپدي وجه ددي ایت دنزول سبب دا واقعه اوګرځولي شوه او ووئیلي شول چې دا ایت دفلاني واقعي متعلق دي او دا ایت دفلاني سبب لاندي نازل شوي دي (ورنه دذکر شوو احادیثو نه معلومیږي چې تمام سورة په یو خل نازل شوي وو).

امیرالمؤمنین عمر فاروق رضي الله عنه فرمائیلي دي چې سورة انعام دقران کریم په لویو سورتونو کي یو سورة دي بیهقي په شعب الایمان کي په مجهول سند سره دعلي رضي الله عنه قول موقوفا نقل کړي دي چې سورة انعام دکومي بیماریٔ په باره کي اولوستلي شي نو الله تعالي ورته شفا ورکوي.

****

٣٠٦٤_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ هِشَامٍ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق، عَنْ نَاجِيَةَ بْنِ كَعْبٍ، عَنْ عَلِيٍّ، أَنَّ أَبَا جَهْلٍ، قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّا لَا نُكَذِّبُكَ وَلَكِنْ نُكَذِّبُ بِمَا جِئْتَ بِهِ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى "فَإِنَّهُمْ لا يُكَذِّبُونَكَ وَلَكِنَّ الظَّالِمِينَ بِآيَاتِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ (الأنعام: ٣٣)" ([1])

ترجمه : دعلي رضي الله عنه نه مروي دي چې ابو جهل نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته اووئيل مونږ ستا تكذيب نه كوو بلكه مونږ دهغه دين تكذيب كوو كوم چې تا راوړي دي نو الله تعالي دا ايت كريمه "فَإِنَّهُمْ لا يُكَذِّبُونَكَ وَلَكِنَّ الظَّالِمِينَ بِآيَاتِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ". اودوئ تالره دروغژن نه ګنړي مګر دا ظالمان دالله تعالي داياتونو نه انكار كوي.

تشريح : ... بيضاوي ليكلي دي دلته قد لفظ دفعل زيادت اودكثرت ظاهرولو دپاره راغلي دي لكه چې په ولكنه قد يملك المال نائله، كي راغلي دي او په انه كي ضمير شان دي (دكوم چې كومي مرجع ته ضرورت نه وي) دسدي بيان دي چې اخنس بن شريق دابو جهل سره ملاقات اوكړو او ويي وئيل اي ابو الحكم دمحمد بن عبدالله متعلق راته اووايه چې رښتوني دي او كه دروغژن اوپدغه وخت كي زمانه علاوه دده دخبرو بل څوك اوريدونكي نه وو، ابو جهل اووئيل په الله قسم په يقيني طور سره محمد (صلي الله عليه وسلم) رښتوني دي ليكن كله چې دقصي اولاد ته جهنډه او دحاجيانو اوبه وركول او دكعبي حواله كيدل او نبوت وركړي شو نو باقي قريشو ته څه پاتي شول (زه څكه دمحمد دنبوت نه انكار كوم) نو په دي باره كي دا ايت كريمه فانهم لا يكذبونك نازل شو.

دناجيه بن كعب بيان دي چې ابو جهل رسول الله صلي الله عليه وسلم ته اووئيل مونږ په تا باندي ددروغژنتوب شك نه كوو اونه دي تكذيب كوو بلكه كوم څيز چې تا پيش كړي دي دهغي تكذيب كوو.

په ځاي د غائب ضمير په الظالمين لفظ سره صراحت كول په دي خبره دلالت كوي چې دانكار كولو په وجه دغه خلق ظالمان شوي وو، يادي داسي اوويلي شي چې حق پټول چونكه ددوئ عادت وو نو څكه يي انكار كړي وو او چونكه په جهود كي دتكذيب مفهوم داخل دي (اودتكذيب نه پس راځي) نو څكه يي دايات نه مخكي ب ذكر كړه، مطلب دا دي چې ستا تكذيب په حقيقت كي دالله تكذيب دي څكه چې ستا تكذيب خو هغوئ دنبوت په اعتبار

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٢٨٨)

سره كوي (هسي خو په نورو خبرو كي تا دروغژن نه گنړي) او په حقيقت كي دا د نبوت تكذيب دي.

****

حَدَّثَنَا إِسْحَاق بْنُ مَنْصُورٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ نَاجِيَةَ، أَنَّ أَبَا جَهْلٍ، قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ نَحْوَهُ وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ عَلِيٍّ وَهَذَا أَصَحُّ. (1)

ترجمه: سفيان دابواسحاق په سند كي دناجيه قول نقل كړي دي چې ابو جهل نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته اوويل او باقي حديث يې دماقبل پشان ذكر كړو او په سند كي يې دعلي رضي الله عنه واسطه نه ده ذكر كړي او دا روايت دنورو نه زيات صحيح دي.

****

٣٠٦٥ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ يَقُولُ: لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةَ قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَى أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِنْ فَوْقِكُمْ أَوْ مِنْ تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ (الأنعام: ٦٥)، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَعُوذُ بِوَجْهِكَ. فَلَمَّا نَزَلَتْ أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَيُذِيقَ بَعْضَكُمْ بَأْسَ بَعْضٍ (الأنعام: ٦٥. قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: هَاتَانِ أَهْوَنُ أَوْ هَاتَانِ أَيْسَرُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه: دجابر رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائي چې كله ايت كريمه "قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَى أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِنْ فَوْقِكُمْ أَوْ مِنْ تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ" اووايه چې الله تعالي په دي خبره قدرت لري چې په تاسو دبره نه كوم عذاب رانازل كړي، يا ستاسو دخپو دلاندي نه كوم عذاب راوليږي، ، نازل شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زه ستا په ذات پوري پناه غواړم او بيا چې كله وړاندي "أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَيُذِيقَ بَعْضَكُمْ بَأْسَ بَعْضٍ" ياچې تاسو لره ډلي ډلي كړي او وځكوي بعضو ستاسو باندي دجنگ مزه دنورو نازل شو نو رسول الله اوفرمائيل دا دواړه خبري الله تعالي ته اساني دي.

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٢٨٨)

2 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /تفسير الأنعام ٢ (٤٦٢٨)، والإعتصام ١١ (٧٣١٣)، والتوحيد ١٦ (٧٤٠٦) (تحفة الأشراف: ٢٥٣٦)، و مسند احمد (٣/٣٠٩)

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

تشريح: ... لكه قوم نوح ، قوم عاد ، او قوم لوط او اصحاب الفيل سره چې يې كړي وو.
لكه دنوح عليه السلام دقوم سره چې يې كړي وو چې دزمكې دلاندي نه يې چينې جاري كړي او طوفان ټول ډوب كړل او يا فرعون چې يې غرق كړي وو او يا قارون چې يې په زمكه كې ښخ كړي وو. عبدالله بن عباس اومجاهد قول دي چې دعذاب فوق نه ظالم بادشاه او تحت ارجلكم نه بد كرداره غلام مراد دي. دضحاك قول دي دفوق او تحت دواړو نه لوي او وړوكي عذاب مراد دي، بعضي علماؤ وئيلي دي فوقكم نه باران مراد دي او تحت ارجلكم نه دزمكې شنه كيدلو بنديدل مراد دي.
يلبس په معني د يخلط دي او شيعا په معنى دمختلفو ډلودي دچاچې خيالات او خواهشات جدا جدا وي. او دباس معني عذاب او دجنګ سختي ده (قاموس).
مراد دا دي چې په تاسو كي به بعضي بعضو لره قتل كول شروع كړي، جابر بن عبدالله رضي الله عنه نه روايت دي چې كله دمذكوره ايت كريمه اولنۍ حصه يعني: قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَى أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِنْ فَوْقِكُمْ. نازل شو نورسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل: اعوذ بوجهك الكريم ، خو كله چې دويمه حصه يعني: أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَيُذِيقَ بَعْضَكُمْ بَأْسَ بَعْضٍ. نازل شو نو ويې فرمائيل دا عذاب داولني عذاب نه اسان دي (رواه البخاري وغيره).
دايت داخري حصې تعبير دهجرت نه ۳۵ كلونه مخكي ظاهر شوي وو كله چې په جنګ جمل او صفين كي مسلمانان پخپل مينځ كي په جنګ جګړو كي مبتلا شول.
دسعد بن ابي وقاص رضي الله عنه بيان دي چې مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم په ملګرتيا كي دبني معاويه دمسجد په خوا كي تير شو اورسول الله مسجد ته داخل شو دوه ركعاته مونځ يې اوكړو او مونږ هم اوكړو او بيا يې دډير ساعته پوري ددعا كولو نه پس اوفرمائيل چې مادخپل رب نه د دري خبرو سوال اوكړو ما دا سوال اوكړو چې زما امت به په عمومي عذاب دغرق كيدو سره نه هلاكوي (لكه چې دنوح عليه السلام امت سره يې كړي وو) نو الله تعالي زما دا دعا قبوله كړه او بله مي دا دعا كړي وه چې زما امت به په قحط نه هلاكوي دا دعا مي هم قبوله شوه اوبله مي دا دعا غوښتلي وه چې زما امت لره پخپل مينځ كي په جنګ جګړو كي مبتلا نكړي نو دا دعا مي قبوله نه شوه (رواه البغوي).
دعبدالله بن عبدالرحمن انصاري بيان دي چې عبدالله بن عمر رضي الله عنهما زمونږ خواته تشريف راوړو اويې فرمائيل چې رسول الله صلي الله عليه وسلم په يو مسجد كي دري دعاګاني كړي وي او الله تعالي يې دوه دعاګاني قبولي كړي او يوه دعا يې قبوله نكړه يوه دعا يې دا كړي وه چې زما په امت باندي كوم غير دشمن مسلط نكړي تردي چې هغه په ټولو

حمله اوكړي نو الله تعالى يي دا دعا قبوله كړه، بله دعا يي دا كړي وه چې زما امت دعمومي قحط سالۍ نه اوساتلي شي نو الله تعالي يي دا دعا هم قبوله كړه ليكن اخري دعا يي دا كړي وه چې زما امت په كورنۍ جګړو كي مبتلا نكړي نو الله تعالي يي دا دعا قبوله نكړه (رواه البخاري).

ابن ابي حاتم دزيد بن اسلم بيان نقل كړي دي چې كله ايت كريمه : قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَى أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِنْ فَوْقِكُمْ، نازل شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زما نه پس به كفر ته نه واپس كيږئ تردي چې پخپل مينځ كي د يو بل څټونه په تورو اووهئ صحابه كرامو عرض اوكړو مونږه ګواهي وركوو چې دالله نه علاوه بل كوم معبود نشته او ته دالله رسول يي (نو ايا ددي شهادت باوجود به هم مونږ داسي كوو) يو كس اووئيل داسي هرګز نشي كيدي يعني مونږ مسلمانان يو اوبيا به مونږه ديو بل څټونه وهو داسي نه شي كيدي نوددي په باره كي لاندېني ايت كريمه نازل شو.

****

٣٠٦٦ـحَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَرَفَةَ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَبِي مَرْيَمَ الْغَسَّانِيِّ عَنْ رَاشِدِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هٰذِهِ الْآيَةِ قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَى أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِنْ فَوْقِكُمْ أَوْ مِنْ تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ (الأنعام :٦٥) ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَمَا إِنَّهَا كَائِنَةٌ وَلَمْ يَأْتِ تَأْوِيلُهَا بَعْدُ "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. [1]

ترجمه : دسعد بن ابي وقاص رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم دايت كريمه "قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَى أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِنْ فَوْقِكُمْ أَوْ مِنْ تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ" متعلق اوفرمائيل خبردار دا كيدونكي خبره ده او دي وخته پوري ددي وقوع او ظهور نه دي شوي (يعني عذاب لانه دي راغلي).

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي.

****

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٣٨٥١)

٣٠٦٧ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ خَشْرَمٍ، أَخْبَرَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ (الأنعام :٨٢) شَقَّ ذَلِكَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَأَيُّنَا لَا يَظْلِمُ نَفْسَهُ؟ قَالَ: "لَيْسَ ذَلِكَ إِنَّمَا هُوَ الشِّرْكُ، أَلَمْ تَسْمَعُوا مَا قَالَ لُقْمَانُ لِابْنِهِ: يَا بُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللَّهِ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ (لقمان :١٣)". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي فرمائي كله چې ايت كريمه "الذين امنوا ولم يلبسوا ايمانهم بظلم" نازل شو نو مسلمانانو ته دا خبره گرانه ښكاره شوه خلقو عرض اوكړو اي دالله رسوله په مونږ كې څوك داسي دي چاچې دخپل ذات په حق كې ظلم او زياتي نه وي كړې رسول الله اوفرمائيل خبره هرگز داسي نه ده ددې ظلم نه مراد صرف شرك دې ايا تاسو نه دي اوريدلي چې لقمان عليه السلام خپل ځوي ته څه نصيحت كړي وو هغه داسي وئيلي وو "يابني لاتشرك بالله ان الشرك لظلم عظيم".
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٠٦٨ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ يُوسُفَ الأَزْرَقُ، حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ أَبِي هِنْدٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ مَسْرُوقٍ، قَالَ: كُنْتُ مُتَّكِئًا عِنْدَ عَائِشَةَ، فَقَالَتْ: "يَا أَبَا عَائِشَةَ، ثَلَاثٌ مَنْ تَكَلَّمَ بِوَاحِدَةٍ مِنْهُنَّ فَقَدْ أَعْظَمَ عَلَى اللَّهِ الْفِرْيَةَ: مَنْ زَعَمَ أَنَّ مُحَمَّدًا رَأَى رَبَّهُ فَقَدْ أَعْظَمَ الْفِرْيَةَ عَلَى اللَّهِ، وَاللَّهُ يَقُولُ: لَا تُدْرِكُهُ الأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الأَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ (الأنعام :١٠٣) وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُكَلِّمَهُ اللَّهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ (الشورى :٥١) وَكُنْتُ مُتَّكِئًا فَجَلَسْتُ فَقُلْتُ: يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ، أَنْظِرِينِي وَلَا تُعْجِلِينِي أَلَيْسَ يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى: وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَى (النجم :١٣) وَلَقَدْ رَآهُ بِالأُفُقِ الْمُبِينِ (التكوير :٢٣)، قَالَتْ: أَنَا وَاللَّهِ أَوَّلُ مَنْ سَأَلَ عَنْ هَذَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: إِنَّمَا ذَاكَ جِبْرِيلُ، مَا رَأَيْتُهُ فِي الصُّورَةِ الَّتِي خُلِقَ فِيهَا غَيْرَ هَاتَيْنِ الْمَرَّتَيْنِ، رَأَيْتُهُ مُنْهَبِطًا مِنَ السَّمَاءِ سَادًّا عِظَمُ خَلْقِهِ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ، وَمَنْ زَعَمَ أَنَّ مُحَمَّدًا كَتَمَ شَيْئًا مِمَّا

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الإيمان ٢٣ (٣٢)، وأحاديث الأنبياء ٨ (٣٣٦٠)، و٤١ (٣٤٢٨، ٣٤٢٩)، تفسير الإنعام ولقمان ١ (٤٧٧٦)، والمرتدين ١ (٦٩١٨)، و٩ (٦٩٣٧)، صحيح مسلم /الإيمان ٥٦ (١٢٤) (تحفة الأشراف : ٩٤٢٠)

أَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْهِ فَقَدْ أَعْظَمَ الْفِرْيَةَ عَلَى اللّٰهِ يَقُولُ اللّٰهُ: يَأَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ (المائدة: ٦٧) . وَمَنْ زَعَمَ أَنَّهُ يَعْلَمُ مَا فِي غَدٍ فَقَدْ أَعْظَمَ الْفِرْيَةَ عَلَى اللّٰهِ وَاللّٰهُ يَقُولُ: قُلْ لا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوَاتِ وَالأَرْضِ الْغَيْبَ إِلا اللّٰهُ (النمل: ٦٥) ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَمَسْرُوقُ بْنُ الأَجْدَعِ يُكْنَى أَبَا عَائِشَةَ وَهُوَ مَسْرُوقُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ. وَهَكَذَا كَانَ اسْمُهُ فِي الدِّيوَانِ. ([1])

ترجمه : دمسروق بيان دي فرمائي چې ما دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها كره ډډه وهلي وه او ناست وم چې هغوئ اووئيل اې ابو عائشه دري څيزونه داسي دي كه چا په دي كي يو هم اوكړو نو دي به په الله باندي لوي بهتان اوتړي اول دادي چاچې دا خيال اوكړو چې محمد صلي الله عليه وسلم دمعراج په شپه الله تعالي ليدلي دي نو هغه دالله تعالي په ذات پوري لوي بهتان اوتړلو خكه چې الله تعالي دخپل ذات باره كي فرمائي " لا تُدْرِكُهُ الأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الأَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ " او دهغه ذات لطيف او خبير دي او همدارنګي "وماكان لبشر ان يكلمه الله الا وحيا او من وراء حجاب" راوي وائي چې ما دغه وخت كي ډډه وهلي وه خو چې دا مي اوريدل نو نيغ كيناستم او ما اووئيل اې ام المؤمنين ماته دځه ويلو اجازت راكړه او زما باره كي په حكم لګولو كي جلتي مه كوه، ايا الله تعالي دا نه دي فرمائيلي "ولقد راه نزلة اخري، ولقد راه بالافق المبين" دي وخت كي عائشه رضي الله عنها اووئيل زما دي په الله قسم وي زه هغه اولني ذات يم چاچې درسول الله صلي الله عليه وسلم نه په دي باره كي تپوس كړي وو رسول الله فرمائيلي وو هغه خو جبرائيل عليه السلام دي "او په دي ايتونو كي زما دليدو نه مراد جبرائيل عليه السلام دي او دالله تعالي ليدل ورنه مراد نه دي" او ددي دوه مواقعو نه علاوه داسي كومه موقعه نه ده راغلي په كوم كي چې ما جبرائيل عليه السلام خپل اصلي صورت كي ليدلي وي په كوم صورت كي چې دهغه تخليق شوي دي ما هغه لره داسمان نه په كوزيدلو كي ليدلي وو دهغه دځاخت لوي والي يعني جسامت دزمكي او اسمان په مينځ كي ټوله خلاء راګيره كړي وه، او دويم هغه كس څوك چې په الله باندي د دروغو الزام لګولو لوي جرم اوكړي هغه دادي څوك چې دا خيال اوكړي الله تعالي چې په محمد صلي الله عليه وسلم څه نازل كړي دي په هغي كي محمد څه پټ كړي دي مګر الله تعالي فرمائي "يا ايهالرسول بلغ ما انزل اليك من ربك" او هغه كس هم په الله پوري د دروغو الزام تړونكي دي

---

[1] ــ اورده البخاري في الجامع الصحيح /تفسير سورة النجم ١ (٤٨٥٥) . والتوحيد ٤ (٧٣٨٠) . و ٤٦ (٧٥٣١) . صحيح مسلم/الإيمان ٧٧ (١٧٧) (تحفة الأشراف : ١٧٦١٣)

څوك چې دا ګمان کوي چې سبا څه کيدونکي دي محمد صلي الله عليه وسلم په هغې باندې خبردار دي او حال دادې چې الله تعالي پخپله فرمائي "قل لايعلم من في السماوات والارض الغيب الا الله" يعني په زمکه او اسمانونو کې دالله تعالي نه علاوه بل هيڅوك عيب دان نشته.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

دمسروق رضي الله عنه حالات

نوم مسروق کنيه ابو عائشه دجاهليت په زمانه کې يې دپلار نوم اجدع وو بيا په عبدالرحمان باندې تبديل شو په يمن کې يې دهمدان خاندان سره يې تعلق لرلو دده داسلام راوړو په باره کې دومره معلوميږي چې دصديق اکبر رضي الله عنه په زمانه کې مسلمان شوی وو دی پخپل وائي زما په ابوبکر صديق رضي الله عنه پسې مونځ کړی دی (طبقات ابن سعد).

کله چې دعمر فاروق په زمانه کې مدينې ته راغی نو دنوم په باره کې ورنه اميرالمؤمنين تپوس اوکړو نو ده ورته اووئيل مسروق بن اجدع عمر فاروق ورته اوفرمائيل داسي مه وايه ته مسروق بن عبدالرحمان شوي.

دشعبي قول دی چې د مسروق پشان دعلم زده کولو شوقي ما بل څوك چرته نه دی ليدلی عائشه رضي الله عنها به ده ته دخپل ځوي درجه ورکوله او ورته به يې وئيل بچيه دهغې نه يې کافي علم حاصل کړی وو حافظ ذهبي وائي مسروق فقيه وو د علامه نووي قول دی چې دده جلالت شان ، توثيق، او فضيلت او امامت باندې دټولو علماؤ اتفاق دی ددې هر څه سره سره مسروق دالله تعالي نه يريدونکی هم ډير وو او ښکلی عبادت به يې هم کولو توبه او استغفار کونکی وو او ددنيا نه اعراض کونکی وو او دالله تعالي په ذات ډير اعتماد کونکی وو چې دهجرت په ۶۳ کال وفات شو.

****

۳۰۶۹_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُوسَى الْبَصْرِيُّ الْحَرَشِيُّ، حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْبَكَّائِيُّ، حَدَّثَنَا عَطَاءُ بْنُ السَّائِبِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: " أَتَى أُنَاسٌ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَنَأْكُلُ مَا نَقْتُلُ وَلَا نَأْكُلُ مَا يَقْتُلُ اللَّهُ ؟ فَأَنْزَلَ اللَّهُ فَكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ إِنْ كُنْتُمْ بِآيَاتِهِ مُؤْمِنِينَ إِلَى قَوْلِهِ: وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ (الأنعام :۱۱۸-۱۲۱) "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَيْضًا، وَرَوَاهُ بَعْضُهُمْ عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ مُرْسَلًا . [1]

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې څه کسان دنبي کريم صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شول او عرض يي اوکړو اي دالله رسوله ايا مونږ هغه ښاروي خوړلي شو کوم چې مونږ ذبح کوو او هغه ښاروي به نه خورو کوم چې الله تعالي ذبح کړي دي نو دي وخت کي الله تعالي دا ايت " فَكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ إِنْ كُنْتُمْ بِآيَاتِهِ مُؤْمِنِينَ إِلَى قَوْلِهِ: وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ " نازل کړو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي او دا حديث ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم دابن عباس نه مروي دي بعضو داحديث دعطاء بن سائب نه او عطاء دسعيد بن جبير په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه مرسل نقل کړي دي.

****

٣٠٧٠ـ حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ دَاوُدَ الْأَوْدِيِّ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى الصَّحِيفَةِ الَّتِي عَلَيْهَا خَاتَمُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلْيَقْرَأْ هَذِهِ الْآيَاتِ قُلْ تَعَالَوْا أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ إِلَى قَوْلِهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ (الأنعام :١٥١ـ ١٥٣)". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. [2]

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي فرمائي که څوك دا خواهش لري چې هغه صحيفه اووينې په کومه چې درسول الله صلي الله عليه وسلم مهر لګولي شوي دي دهغه دپاره ددي ايت کريمه " قُلْ تَعَالَوْا أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ إِلَى قَوْلِهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ " تلاوت کړي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي.

****

٣٠٧١ـ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْلِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ: أَوْ يَأْتِيَ بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ (الأنعام :١٥٨)، قَالَ: "طُلُوعُ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ وَرَوَاهُ بَعْضُهُمْ وَلَمْ يَرْفَعْهُ. [3]

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٩٣٦٤)

[2] ـ تفرد به المؤلف رحمه الله تعالي.

[3] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٤٢٢٦)

ترجمه: ابوسعيد خدري رضي الله عنه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دا ارشاد نقل كوي چې دا ايت كريمه " أَوْ يَأْتِيَ بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ " دتفسير متعلق يي اوفرمائيل په دي ايت كې دمغرب دطرفه دنمر راختل مراد دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي او بعضو راويانو موقوف ذكر كړي دي او مرفوع يي نه دي بيان كړي.

****

٣٠٧٢ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا يَعْلَى بْنُ عُبَيْدٍ، عَنْ فُضَيْلِ بْنِ غَزْوَانَ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " ثَلَاثٌ إِذَا خَرَجْنَ لا يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ (الأنعام :١٥٨) ، الدَّجَّالُ، وَالدَّابَّةُ، وَطُلُوعُ الشَّمْسِ مِنَ الْمَغْرِبِ أَوْ مِنْ مَغْرِبِهَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو حَازِمٍ هُوَ الْأَشْجَعِيُّ الْكُوفِيُّ وَاسْمُهُ سَلْمَانُ مَوْلَى عَزَّةَ الْأَشْجَعِيَّةِ. [1]

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دري علامات داسي دي كله چې دا ظاهر شي نو يو نفس ته به دغه وخت كې ايمان راوړل څه فائده نه وركوي مګر څو پوري چې مخكي يي ايمان نه وي راوړي يو خروج د دجال دي او بل ظهور د دابة الارض دي او بل دمغرب دطرفه دنمر راختل دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او ابو حازم اشجعي قبيلي والا دكوفي اوسيدونكي دي او نوم يي سلمان دي او داشجعيه قبيلي ازاد كړي غلام دي.

****

٣٠٧٣ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ وَقَوْلُهُ الْحَقُّ: إِذَا هَمَّ عَبْدِي بِحَسَنَةٍ فَاكْتُبُوهَا لَهُ حَسَنَةً، فَإِنْ عَمِلَهَا فَاكْتُبُوهَا لَهُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا، وَإِذَا هَمَّ بِسَيِّئَةٍ فَلَا تَكْتُبُوهَا، فَإِنْ عَمِلَهَا فَاكْتُبُوهَا بِمِثْلِهَا، فَإِنْ تَرَكَهَا وَرُبَّمَا قَالَ لَمْ يَعْمَلْ بِهَا فَاكْتُبُوهَا لَهُ حَسَنَةً، ثُمَّ قَرَأَ مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا (الأنعام :١٦٠) ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [2]

---

[1] ـ صحيح مسلم/الإيمان ٧٢ (١٥٨) (تحفة الأشراف : ١٣٤٢١)

[2] ـ صحيح مسلم/الإيمان ٥٩ (١٢٨) (وما بعده) (تحفة الأشراف : ١٣٦٧٩)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي فرمائي او فرمان يي درست او حق دي كله چې زما بنده دكومي نيكئ اراده اوكړي نو اي زما فرشتو دده دپاره نيكياني اوليكئ، او كله چې زما بنده كوم نيك كار اوكړي نو دده دپاره لس نيكياني اوليكئ او كله چې زما بنده ديو بد كار اراده اوكړي نو دهغه دپاره هيڅ مه ليكئ او كله چې يو بد كار اوكړي نو صرف يوه ګناه دهغه دپاره اوليكئ او بيا كه چرې زما بنده دا ګناه پريږدي (كله كله به راوي داسي وئيل چې دوباره ددې ګناه ارتكاب اونكړي) نو په هغي باندي هم دهغه دپاره يوه نيكي اوليكئ او بيا رسول الله دا ايت كريمه "من جاء بالحسنة فله عشر امثالها" تلاوت كړو

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٨_بَاب وَمِنْ سُورَةِ الأَعْرَافِ

دسورة اعراف دبعضي ايتونو تفسير

وجه دتسميه د دی سورة: سورة اعراف نوم په دی وجه ايخودی شوی دی چې د دی په ۴۶ .۴۷ ايت كي د اعراف او اعراف والو ذكر راغلی دی. يعنی دا هغه سورة دی چې په هغی كي ,, د اعراف ذكر دی،،

د نزول زمانه: د دی په مضمونونو باندی د غور كولو نه معلوميږی چې د دی زمانه هغه ده. كومه چې د سورة انعام ده.

د دی سورة مركزی مضمون د رسالت دعوت دی. يعنی د الله تعالی د رسول تابعداری او پيروی كول او د مخالفينو د پوهه كولو دپاره دوی ته وئيلی شوی دی. چې كوم روش تاسو د خپل پيغمبر په مقابله كي اختيار كړي دی. نو داسی روش ستاسو نه مخكي خلقو هم د خپلو پيغمبرانو په مقابله كي اختيار كړی وؤ. او د هغوی انجام ډير خراب وؤ. په مشركينو باندی د حجت پوره كولو نه پس د تقرير په آخر كي اهل كتابو ته هم خطاب شويدی او يو ځای كي د ټولی دنيا خلقو ته خطاب دی. او دا خطاب د دی خبری علامت دی. چې د هجرت وخت نژدی دی. او په آخر كي د رسول الله صلی الله عليه وسلم خپلو خلقو ته خطاب دی. او صحابه كرامو ته د دعوت او تبليغ متعلق يو څو اداب خودلی شوی دی او صحابه كرامو ته نصيحت شوي دی. چې د مخالفينو د تكليفونو او چالونو په مقابله كي د صبر نه كار اخلئ. او داسی كار مه كوئ چې د هغی نه اصل مقصد ته نقصان اورسيږی.

٣٠٧٤_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "قَرَأَ هٰذِهِ الآيَةَ فَلَمَّا تَجَلَّى رَبُّهُ لِلْجَبَلِ جَعَلَهُ دَكًّا (الأعراف:) ١٤٣) ، قَالَ حَمَّادٌ: هٰكَذَا وَأَمْسَكَ سُلَيْمَانُ بِطَرَفِ إِبْهَامِهِ عَلَى أُنْمُلَةِ إِصْبَعِهِ الْيُمْنَى قَالَ فَسَاخَ الْجَبَلُ: وَخَرَّ مُوسَى صَعِقًا (الأعراف:١٤٣) ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ. (1)

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه مروي دي فرماي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم دا ايت كريمه " فَلَمَّا تَجَلَّى رَبُّهُ لِلْجَبَلِ جَعَلَهُ دَكًّا " تلاوت كړو حماد راوي وائي چې داسي او بيا سليمان راوي دخپلي ګوتي په بند بله ګوته كيخوده چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل بس په هم دومره وخت كي به غرونه په زمكه كي ډوب كړي شي "فخرموسي صعقا".

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن غريب صحيح دي او مونږ يي صرف دحماد بن سلمه په سند پيژنو.

****

حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ الْوَرَّاقُ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ مُعَاذٍ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (2)

ترجمه : ثابت دانس رضي الله عنه په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي.

****

٣٠٧٥_حَدَّثَنَا الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ زَيْدِ ابْنِ أَبِي أُنَيْسَةَ، عَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ زَيْدِ بْنِ الْخَطَّابِ، عَنْ مُسْلِمِ بْنِ يَسَارٍ الْجُهَنِيِّ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ سُئِلَ عَنْ هٰذِهِ الآيَةِ وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِي آدَمَ مِنْ ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَى أَنْفُسِهِمْ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوا بَلَى شَهِدْنَا أَنْ تَقُولُوا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هٰذَا غَافِلِينَ (الأعراف :١٧٢) ،

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٣٨٠)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٣٨٠)

فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسْأَلُ عَنْهَا. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللهَ خَلَقَ آدَمَ. ثُمَّ مَسَحَ ظَهْرَهُ بِيَمِينِهِ. فَاسْتَخْرَجَ مِنْهُ ذُرِّيَّةً. فَقَالَ: خَلَقْتُ هَؤُلَاءِ لِلْجَنَّةِ وَبِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ يَعْمَلُونَ. ثُمَّ مَسَحَ ظَهْرَهُ فَاسْتَخْرَجَ مِنْهُ ذُرِّيَّةً. فَقَالَ: خَلَقْتُ هَؤُلَاءِ لِلنَّارِ وَبِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ يَعْمَلُونَ". فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ فَفِيمَ الْعَمَلُ؟ قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللهَ إِذَا خَلَقَ الْعَبْدَ لِلْجَنَّةِ اسْتَعْمَلَهُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ حَتَّى يَمُوتَ عَلَى عَمَلٍ مِنْ أَعْمَالِ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَيُدْخِلَهُ اللهُ الْجَنَّةَ. وَإِذَا خَلَقَ الْعَبْدَ لِلنَّارِ اسْتَعْمَلَهُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ حَتَّى يَمُوتَ عَلَى عَمَلٍ مِنْ أَعْمَالِ أَهْلِ النَّارِ فَيُدْخِلَهُ اللهُ النَّارَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. وَمُسْلِمُ بْنُ يَسَارٍ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ عُمَرَ. وَقَدْ ذَكَرَ بَعْضُهُمْ فِي هَذَا الْإِسْنَادِ بَيْنَ مُسْلِمِ بْنِ يَسَارٍ وَبَيْنَ عُمَرَ رَجُلًا مَجْهُولًا. (1)

ترجمه : دمسلم بن يسار نه روايت دي فرمائي چې دعمر بن الخطاب رضي الله عنه نه ددې ايت مباركه آلاية وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِي آدَمَ مِنْ ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَى أَنْفُسِهِمْ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوا بَلَى شَهِدْنَا أَنْ تَقُولُوا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هَذَا غَافِلِينَ اوكله چې ستا رب دادم اوده داولاد دشا نه ددوئ نسل راوويستلو او ددوئ نه يې دهغوئ متعلق اقرار واغستلو چې ايا زه ستاسو رب نه يم نوټولو په جواب کې اوونيل ولې نه پس مونږ پدې باندې ګواهي کونکي يو، په باره کې تپوس وکړې شو نو عمر رضي الله عنه اوفرمائيل دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي ووچې ددې ايت په باره کې ورنه تپوس شوې وو.رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي ووچې الله تعالي ادم عليه السلام پيداكړوبيائې دهغه په شاباندې خپل ښي لاس راښکلونودهغې نه ئې بچې راوويستل الله تعالي اوفرمائيل دامخلوق مي دجنت دپاره پيداكړي دي دوي به دجنتيانوعملونه كوي . اوبيا ئې دهغه په شاباندې خپل ښي لاس راښکلونودهغې نه ئې بچې راوويستل الله تعالي اوفرمائيل دامخلوق مي ددوزخ دپاره پيداكړي دي دوي به ددوزخيا نوعملونه كوي. نويوكس عرض وكړو يارسول الله بيادعمل كولوڅه ضرورت دی؟رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چالره چې الله تعالي دجنت دپاره پيداكوي نودهغه دلاس نه دجنتيانوعمل واخلي تردې چې دجنتيانوبه عملونوکې به کوم عمل باندې دده خاتمه وشي نويدې وجه ده لره جنت ته داخل کړي ، اوهرهغه څوك چې ددوزخ دپاره پيداكوي

1 ـ سنن ابي داود/ السنة ١٧ (٤٧٠٣، و٤٧٠٤) (تحفة الأشراف : ١٠٦٥٤) . و مسند احمد (١/٤ ٤ ٥ ٤ ٣)

نوهغه ددوزخيانو دعملونو توفيق ورته ورکړي تردي چې ددوزخيانويه کارونوکې په کوم کارکې مړشي اوبيائي جهنم ته بوځي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي او دعمر رضي الله عنه نه دمسلم بن يسار سماع ثابت نه ده او بعضي راويانو ددي حديث په سند کي دمسلم بن يسار اوعمر په مينځ کي يو بل مجهول راوي داخل کړي دي.
تشريح: دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي دادم پيدا کولو نه پس دهغه په شا لاس راښکلو نوکوم انسان چې دقيامت دورځې پوري دده په نسل کي پيدا کيدونکي وو راووتلو او الله تعالي دهر انسان ددوه سترګو په مينځ کي دنور يو پړق پيدا کړو، او بيا يې ټول ادم عليه السلام ته مخامخ کړل ادم عرض اوکړو اي زما پروردګاره دا څوك دي الله تعالي اوفرمائيل دا ستا اولاد دي، پس ادم عليه السلام په دوئ کي ديو کس ددواړو سترګو په مينځ کي يو چمك اوليدو و ډير ښائسته ورته ښکاره شو او عرض يې اوکړو اي پروردګاره دا څوك دي الله تعالي اوفرمائيل دا داود دي ادم عليه السلام عرض اوکړو اي پروردګاره تا دده عمر څومره مقرر کړي دي الله تعالي اوفرمائيل شپيته کاله، عرض يې اوکړو چې اي پروردګاره زما دعمرٌ نه ورته څلويښت کاله نور ورکړي چنانچې کله دادم عليه السلام عمر پوره شو اوصرف هغه څلويښت کلونه پاتې شول کوم چې يې داود عليه السلام ته ورکړي وو نو دمرګ فرشته ورته راغله، ادم عليه السلام اووئيل اوس خو لازما څلويښت کلونه باقي دي ملك الموت اووئيل ايا تا خپل خوي داود عليه السلام ته څلويښت کلونه نه وو ورکړي ؟ نو ادم عليه السلام انکار اوکړو، نوپدې وجه دادم عليه السلام اولاد هم (دکړو وعدو نه) انکار کوي او ادم عليه السلام دالله تعالي حکم هير کړو او دممنوعه ونې نه يې خوراك اوکړو نو پدې وجه دده اولاد هم هيرول کوي. او ادم عليه السلام خطا کړي وه نوپدې وجه دده اولاد هم خطاګاني کوي.
ترمذي دا روايت دابو الدرداء رضي الله عنه په روايت سره نقل کړي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په کوم وخت کي چې الله تعالي ادم عليه السلام پيدا کړو نو دهغه په ښئ اوږه يې لاس راښکلو نوددې په ذريعه دوړو ميګانو په شکل کي ټول سپين رنګي نسل راووتلو او چې په چپه اوږه يې لاس راښکلو نو د کوئلي پشان طور نسل راووتلو دښئ طرف والا متعلق الله تعالي اوفرمائيل دوئ دجنت طرف ته تلونکي دي او زه ددوئ داطاعت څه پرواه نه ساتم اودچپ طرف والا متعلق يې اوفرمائيل دوئ ددوزخ طرف ته تلونکي دي او زه ددوئ دنافرمانئ څه پرواه نه کوم (رواه احمد) مقاتل او نورو مفسرينو هم ددي پشان روايت ذکر کړي دي ليکن دمقاتل درروايت په اخر کي دومره اضافه ده چې الله تعالي بيا ټولو لره دادم عليه السلام په شا کي واپس کړل ترڅو چې تمام ميثاق دازل والا

دپلرونو دشاګانو او دميندو دخيتو نه راوتلي نه وي او قبرونو والاپه قبرونو کي موجود وي (ترهغي به قيامت نه راځي اونه به حشر وي) پس ددي د ازل ميثاق ماتونکو متعلق الله تعالي اوفرمائيل "وما وجدنا لأكثرهم من عهد".

دابن عباس رضي الله عنهما روايت دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي دادم عليه السلام دشا نه اولاد راوويستلو او په عرفات کي يې ورنه عهد واخستلو او څومره نسل چې الله تعالي په اننده کي پيدا کوي دا يې ټول دادم عليه السلام دشا نه راوويستل او خپلي مخي ته يې دوړو ميړو پشان وشيندل اودوی ته يې په مخامخ اوفرمائيل ايا زه ستاسو رب نه يم ؟ ټولو په جواب کي اووئيل ولي نه مونږ په دي باندي ګواهي کونکي يو (الي اخر الايه) (رواه احمد والنسائي والحاكم) او حاکم ددي روايت تصحيح کړي ده.

دابیٔ بن کعب رضي الله عنه بيان دي چې الله تعالي دادم عليه السلام ټول اولاد راجمع کړو او بيا يې ددوئ قسمونه جدا جدا کړل او بيا يې دوئ ته شکلونه ورکړل او بيا يې دوئ ګويا کړل نوټولو خبري اوکړي او بيا يې ددوئ نه عهد او ميثاق واخستو او ددوئ نه يې پخپله په دوئ باندي اقرار واخستو او ويې فرمائيل ايا زه ستاسو رب نه يم نو ټولو اووئيل ولي نه، الله تعالي اوفرمائيل زه ستاسو په دي اقرار باندي په تاسو اوه اسمانونه او اوه زمکي ګواه کوم او ستاسو پلار ادم هم درباندي ګواه کوم ددي دپاره چې دقيامت په ورځ تاسو داسي اونه وائي چې مونږ ددي توحيد نه خبر نه وو، ښه واورئ چې زما نه علاوه بل معبود نشته اوزماسره به هيڅوك نه شريكوئ زه به تاسو ته خپل پيغمبر درليږم څوك چې به تاسو ته دا عهد او ميثاق راياد وي اوزه به په تاسو خپل کتابونه نازلوم، نو ټولو په جواب کي اووئيل مونږ ګواهي ورکوو چې هم ته په يقيني طور سره زمونږ رب يې او زمونږ معبود يې او ستا نه علاوه کوم بل معبود او رب نشته. ددينه پس ادم عليه السلام رامخامخ کړي شو نو ادم عليه السلام دپورته نه ذدوئ معائنه اوکړه مالدار او نادار ښکلي اوبدرنګه ټول يې اوليدل او عرض يې اوکړو چې اي پروردګاره تادوئ ټول يو شان ولي نه دي پيدا کړي الله تعالي اوفرمائيل زه غواړم چې زما شکر دي ادا کړي شي (امير چې کله فقير اووينې نو شکر دي ادا کړي او ښکلي چې بدرنګه اووينې نو شکر دي ادا کړي) ادم عليه السلام پخپل اولاد کي پيغمبران دچراغونو پشان پړقيدونکي اوليدل بيا دانبياؤ نه په خاص طور سره درسالت او نبوت متعلق يو جدا ميثاق واخستلي شو هم ددي ميثاق متعلق الله تعالي فرمائيلي دي وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ وَمِنْكَ وَمِنْ نُوحٍ وَإِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ.

عیسي بن مریم علیه السلام هم په هغه روحونو کي شامل وو کوم چې الله تعالی مریم ته لیږلي وو، دابي بن کعب رضي الله عنه قول په یو روایت کي راغلي دي چې عیسي علیه السلام مریم ته دخولي دطرفه داخل شوي وو (رواه احمد)

****

٣٠٧٦ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَمَّا خَلَقَ اللَّهُ آدَمَ مَسَحَ ظَهْرَهُ فَسَقَطَ مِنْ ظَهْرِهِ كُلُّ نَسَمَةٍ هُوَ خَالِقُهَا مِنْ ذُرِّيَّتِهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَجَعَلَ بَيْنَ عَيْنَيْ كُلِّ إِنْسَانٍ مِنْهُمْ وَبِيصًا مِنْ نُورٍ، ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى آدَمَ، فَقَالَ: أَيْ رَبِّ مَنْ هَؤُلَاءِ؟ قَالَ: هَؤُلَاءِ ذُرِّيَّتُكَ، فَرَأَى رَجُلًا مِنْهُمْ فَأَعْجَبَهُ وَبِيصُ مَا بَيْنَ عَيْنَيْهِ، فَقَالَ: أَيْ رَبِّ مَنْ هَذَا؟، فَقَالَ: هَذَا رَجُلٌ مِنْ آخِرِ الْأُمَمِ مِنْ ذُرِّيَّتِكَ يُقَالُ لَهُ: دَاوُدُ، فَقَالَ: رَبِّ كَمْ جَعَلْتَ عُمْرَهُ؟، قَالَ: سِتِّينَ سَنَةً، قَالَ: أَيْ رَبِّ زِدْهُ مِنْ عُمْرِي أَرْبَعِينَ سَنَةً، فَلَمَّا قُضِيَ عُمْرُ آدَمَ جَاءَهُ مَلَكُ الْمَوْتِ، فَقَالَ: أَوَلَمْ يَبْقَ مِنْ عُمْرِي أَرْبَعُونَ سَنَةً؟، قَالَ: أَوَلَمْ تُعْطِهَا ابْنَكَ دَاوُدَ، قَالَ: فَجَحَدَ آدَمُ، فَجَحَدَتْ ذُرِّيَّتُهُ، وَنَسِيَ آدَمُ فَنَسِيَتْ ذُرِّيَّتُهُ، وَخَطِئَ آدَمُ فَخَطِئَتْ ذُرِّيَّتُهُ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.[1]

ترجمه: دابوهریره رضي الله عنه نه مروي دي نبي کریم صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي هر کله چې الله تعالی ادم علیه السلام پیدا کړو نو دده په ملا یي لاس راښکلو نو ددینه دده داولاد هغه ټول روحونه بهر راووتل کوم چې دقیامت دورځي پوري پیداکیدونکي دي او بیا په دي کي دهر یو انسان دسترګي په مینځ کي دنور یو پړق واچولي شي او بیا دوئ ادم علیه السلام ته پیش کړي شو نو ادم علیه السلام اووئیل اي زما ربه دوئ څوك دي؟ الله تعالي اوفرمائیل دا ستا اولاد دي بیا هغه په دوئ کي یو کس اولیدلو دچا ددواړو سترګو په مینځ کي چې چمك ډیر زیات ښکاریدو او ښه ښکاریدو ادم علیه السلام اووئیل اي زما ربه دا څوك دي الله تعالي اوفرمائیل ستا داولاد په اخري امتونو کي یو کس دي چې داود ورته وئیلي شي هغه اووئیل اي زما پروردګاره دده دپاره دي عمر څومره مقرر کړي دي الله تعالي اوفرمائیل شپیته کاله ادم علیه السلام اووئیل اي زما ربه زما دعمر نه څلویښت کاله واخله او دده په عمر کي اضافه اوکړه بیا چې کله د ادم علیه السلام عمر پوره شو ملك الموت ورته ورغلو نو هغه اووئیل زما

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٢٢٢٥)

په ژوندكې كې څو ځلو يښت كاله لاباقي دي ملكوت الموت ورته اوونيل ايا هغه دي خپل خوي داود ته نه ووو. كړي رسول الله اوفرمائيل چې ادم عليه السلام انكار اوكړو نو په دې وجه دده اولاد هم انكاريان اوگرځيدل او د ادم عليه السلام نه هيريدل اوشول نو دده اولاد هم هيرونكي دي ادم عليه السلام غلطي اوكړه نو دده اولاد هم خطاكار اوگرځولي شو

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي، داحديث په يو څو سندونو دابوهريره رضي الله عنه په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي

****

٣٠٧٧ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ عَبْدِ الْوَارِثِ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَمَّا حَمَلَتْ حَوَّاءُ طَافَ بِهَا إِبْلِيسُ وَكَانَ لَا يَعِيشُ لَهَا وَلَدٌ، فَقَالَ: سَمِّيهِ عَبْدَ الْحَارِثِ فَسَمَّتْهُ عَبْدَ الْحَارِثِ فَعَاشَ، وَكَانَ ذَلِكَ مِنْ وَحْيِ الشَّيْطَانِ وَأَمْرِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ مَرْفُوعًا إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عُمَرَ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ قَتَادَةَ، وَرَوَاهُ بَعْضُهُمْ عَنْ عَبْدِ الصَّمَدِ وَلَمْ يَرْفَعْهُ، عُمَرُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ شَيْخٌ بَصْرِيٌّ.[1]

ترجمه : دسمره بن جندب رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چې حواء بي بي حامله شوه نو شيطان ورته راغلو او دهغې ولادت نه وو شوي شيطان ورته اوونيل كله چې دې بچي پيدا شي نو نوم ورله عبدالحارث كيږده چنانچې حواء ورباندې عبدالحارث نوم كيخودو نو هغه ژوندي پاتي شو او دا كار هغې دشيطان په وسوسه او مشهوري كړي وو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي او دا مونږ ته صرف دعمر بن ابراهيم په روايت مرفوع معلوم دي اوهغه يي دقتاده نه نقل كوي، بعضي راويانوداحديث دعبدالصمد نه نقل كړي دي ليكن مرفوع يي نه دي بيان كړي او عمر بن ابراهيم يو بصري شيخ دي.

****

٣٠٧٨ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَمَّا خُلِقَ آدَمُ" الْحَدِيثُ.

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٦٠٢)

(1)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هر كله چې ادم عليه السلام پيداكړي شو او بيا يي پوره حديث تراخره پوري بيان كړو.

****

۹_ باب وَمِنْ سُورَةِ الأَنْفَالِ

دسورة انفال دبعضي ايتونو تفسير

ددي سورت نوم د ړومبني ايت يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْاَنْفَالِ نه اغستي شوي دي.

شان نزول: دا سورة په ۲ هـ كي د جنگ بدر نه پس نازل شوي دي.

بحث: په دې سورة كي هغه كمزورې په گوته كړې شوي دي. چې هغه په اخلاقي حيثيت سره په مومنانو كي باقي وې.

بيا په دې كي مومنانو ته خودلې شوي دي چې په دې فتح كي د الله تعالى د طرف نه تاسو سره نصرت او امداد شوي دي. نو د دينه په الله تعالى باندې د توكل او د رسول د اطاعت سبق حاصل كړې.

بيا هغه اخلاقي مقصد واضح كړې شوي دې. چې د هغې دپاره مسلمانانو هغه معركه د حق او باطل شروع كړه.

بيا هغه مشركين او منافقان او يهوديان چې په دې جنگ كي قيد شوي ؤو هغوی ته سبق آموز خطاب دی.

په دې جنگ كي چې كوم مالونه مسلمانانو ته په لاس راغلي ؤو. د هغې متعلق دوي ته اوويلې شول. چې څومره حصه الله تعالى تاسو له په دې مالونو كي مقرر كړې ده هغه په خوشحالي او شكريه سره واخلئ. او چې كومه حصه الله تعالى د خپل كار او خپلو غريبانانو بندگانو دپاره مقرر كړې ده، نو په هغې هم خوشحاله شئ بيا د جنگ او د صلح د قانون اخلاقي هدايات بيان شوي دي. چې په دنيا باندې دويته اخلاقي برتري حاصله شي او په جنگ او صلح كي د جاهليت د طريقو نه ځان بچ اوساتي.

بيا د اسلامي رياست د دستوري قانون بعضِ دفعات بيان شوي دي. چې په هغې كي د دارالاسلام د مسلمانانو آئيني حيثيت د هغه مسلمانانو نه جدا بيان شوي دي. كوم مسلمانان چې د اسلامي رياست د حدودو نه بهر اوسيږي.

---

[1] _ كفر د به المؤلف.

ابن مردویه د کلبي په واسطي سره دابوصالح نه اوهغه دعطاء نه اوهغه دابن عجلان نه اوهغه عکرمه نه دابن عباس رضي الله عنهما دقول موافق بیان نقل کړي دي څوك چې کوم دشمن لره قتل کړي نو دهغه نه اخستلي شوي مال (اسلحه وغیره) به هم دده وي ، پس ددي فرمان نه پس بوډاګان خلق خو دجهند و نیولو دپاره کلك شول اوځوانان په تیزۍ سره قتل کولو اولوټ کولو ته ورمخکي شول ، بوډاګانو ځوانانو ته ووئیل مونږ هم دځان سره په غنیمت کي شریك کړئ ځکه چې مونږ ستاسو شاته ولاړ يو که چري پتاسو څه کیږي نوتاسو دپناه دپاره مونږ ته راځئ . غرض داچې دواړو ډلو خپله مقدمه رسول الله ته پیش کړه ، او ابو الیسر دوه کسان قید کړي راوستل او عرض یې وکړو اي دالله رسوله تازمونږ سره وعده کړي وه نوپدي وخت کي سعد بن معاذ ودریدو اوعرض یې وکړو تاسو دي خلقو ته هرڅه ورکړل اودملګرو دپاره دي هیڅ پاتي نشول ، مونږ خوپدي وجه نه وو پاتي شوي چې ګني داخرت طلب مو غرض نه وو او یا دقتل نه ویریدو او یا مودبزدلۍ په وجه دخپل نفس متعلق بخل کولو لکه چې زمونږ ورونړو وکړل مګر خبره داوه مونږ ولیدل چې تاسو یواځي پاتي شوئ اومونږ دامناسب ونه ګڼړل چې تالره پریږدو اویواځي ورمخکي شو ستادحفاظت دپاره مونږ دلته پاتي شوي يو چې دشادطرف نه دربانديد دشمن حمله ونکړي ، خلاصه داده چې په خلقو کي ډیر اختلاف پیدا شونوپدغه وخت کي دا ایت نازل شو.

دابن عباس رضي الله عنهما بیان دي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي: څوك چې کوم دشمن لره قتل کړي نو هغه ته به دا ، دا ، ورکړي شي اوڅوك چې چالره قید کړي هغه ته به دا ، دا ، ورکړي شي. (ابن ابي شیبه ، ابوداود ، حاکم ، ابن حبان، عبد الرزاق ، عبد بن حمید ، ابن عابد ، ابن مردویه)

٣٠٧٩ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ بَهْدَلَةَ، عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: لَمَّا كَانَ يَوْمُ بَدْرٍ جِئْتُ بِسَيْفٍ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ اللَّهَ قَدْ شَفَى صَدْرِي مِنَ الْمُشْرِكِينَ أَوْ نَحْوَ هَذَا، هَبْ لِي هَذَا السَّيْفَ، فَقَالَ: "هَذَا لَيْسَ لِي وَلاَ لَكَ". فَقُلْتُ: عَسَى أَنْ يُعْطَى هَذَا مَنْ لاَ يُبْلِي بَلاَئِي، فَجَاءَنِي الرَّسُولُ فَقَالَ: "إِنَّكَ سَأَلْتَنِي وَلَيْسَ لِي وَإِنَّهُ قَدْ صَارَ لِي وَهُوَ لَكَ. قَالَ: فَنَزَلَتْ يَسْأَلُونَكَ عَنِ الأَنْفَالِ (الأنفال :١) ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ سِمَاكُ بْنُ حَرْبٍ، عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ أَيْضًا، وَفِي الْبَابِ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ. [1]

---

[1] ـ صحیح مسلم/الجهاد ١٢ (١٧٤٨) . سنن ابي داود/ الجهاد ١٥٦ (٢٧٤٠) (تحفة الأشراف : ٣٩٣٠)

ترجمه : دسعد بن ابي وقاص رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې ما دجنګ بدر په ورځ يوه توره راواخستله او رسول الله صلي الله عليه وسلم ته راورسيدم ما عرض اوکړو اي دالله رسوله ما په مشرکانو خپل زړه ښه يخ کړي دي (يعني ښه ډير مي قتل کړل) راوي وائي چې داسي يي اووئيل او که ددي پشان يي کومه بله جمله اووئيله، تاسو دا توره ماته راکړئ رسول الله اوفرمائيل دا نه زما ده او نه ستا ده ما په زړه کي اووئيل کيدي شي دا کوم داسي کس ته ورکړي شي چاچې به په جنګ کي کارنامه نه وي کړي زه دهغوئ دخوا نه په حسرت کي ډوب حالت کي واپس راغلم تردي چې په ما پسي درسول الله صلي الله عليه وسلم قاصد راغلو او درسول الله دطرفه يي راته اووئيل تا زما نه توره غوښتلي وه نو دا توره هغه وخت زما نه وه او اوس دالله تعالي په حکم زما په اختيار کي ده او دا اوس ستا شوه راوي وائي په دي موقعه باندي "يسئلونك عن الانفال" والا ايت نازل شو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او دا حديث سماك بن حرب هم دمصعب نه نقل کړي دي، او په دي باب کي دعباده بن صامت رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي.

****

۳۰۸۰ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: لَمَّا فَرَغَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَدْرٍ قِيلَ لَهُ: عَلَيْكَ الْعِيرَ لَيْسَ دُونَهَا شَيْءٌ، قَالَ: فَنَادَاهُ الْعَبَّاسُ وَهُوَ فِي وَثَاقِهِ لَا يَصْلُحُ، وَقَالَ: "لِأَنَّ اللهَ وَعَدَكَ إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ وَقَدْ أَعْطَاكَ مَا وَعَدَكَ". قَالَ: صَدَقْتَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي کله چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دغزوه بدر نه فارغ شو ورته اووئيلي شول دشام نه راتلونکي قافله ستاسو دلاس لاندي ده او په دوئ باندي په غالب کيدو کي هيڅ مانع او رکاوټ نشته دي وخت کي عباس رسول الله ته چغه کړل او دا وخت هغه قيدي وو په زنځيرونو تړلي شوي وو او وئيل يي ستاسو دا اقدام درست نه دي او درست به څکه نه وي چې الله تعالي تاسو سره په دوه ډلو کي (قافله يا لښکر) باندي په يوي دغالب کيدو وعده کړي وه او الله تعالي به تاسو سره خپلي کړي وعده پوره کوي رسول الله اوفرمائيل ته رښتيا وائي.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دي او په دي کي دالله تعالي قول "واذيعدكم الله في احدي الطائفتين انها لكم" ته اشاره ده.

---

[1] ــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦١١٢)

****

٣٠٨١_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ يُونُسَ الْيَمَامِيُّ. حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ بْنُ عَمَّارٍ. حَدَّثَنَا أَبُو زُمَيْلٍ. حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عبَّاسٍ. حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ. قَالَ: " نَظَرَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْمُشْرِكِينَ وَهُمْ أَلْفٌ وَأَصْحَابُهُ ثَلَاثُ مِائَةٍ وَبِضْعَةَ عَشَرَ رَجُلًا. فَاسْتَقْبَلَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقِبْلَةَ ثُمَّ مَدَّ يَدَيْهِ وَجَعَلَ يَهْتِفُ بِرَبِّهِ: اللَّهُمَّ أَنْجِزْ لِي مَا وَعَدْتَنِي. اللَّهُمَّ آتِنِي مَا وَعَدْتَنِي. اللَّهُمَّ إِنْ تُهْلِكْ هَذِهِ الْعِصَابَةَ مِنْ أَهْلِ الْإِسْلَامِ لَا تُعْبَدُ فِي الْأَرْضِ. فَمَا زَالَ يَهْتِفُ بِرَبِّهِ مَادًّا يَدَيْهِ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ حَتَّى سَقَطَ رِدَاؤُهُ مِنْ مَنْكِبَيْهِ. فَأَتَاهُ أَبُو بَكْرٍ فَأَخَذَ رِدَاءَهُ فَأَلْقَاهُ عَلَى مَنْكِبَيْهِ ثُمَّ الْتَزَمَهُ مِنْ وَرَائِهِ. فَقَالَ: يَا نَبِيَّ اللهِ كَفَاكَ مُنَاشَدَتَكَ رَبَّكَ إِنَّهُ سَيُنْجِزُ لَكَ مَا وَعَدَكَ فَأَنْزَلَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُمْ بِأَلْفٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ (الأنفال: ٩) فَأَمَدَّهُمُ اللهُ بِالْمَلَائِكَةِ ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ عُمَرَ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عِكْرِمَةَ بْنِ عَمَّارٍ، عَنْ أَبِي زُمَيْلٍ. وَأَبُو زُمَيْلٍ اسْمُهُ سِمَاكٌ الْحَنَفِيُّ. وَإِنَّمَا كَانَ هَذَا يَوْمَ بَدْرٍ. (١)

ترجمه : دعمرفاروق رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې دجنګ بدر په موقعه رسول الله صلي الله عليه وسلم په مشركانو نظر واچولو او هغوئ دزرو په تعداد كي وو او درسول الله صحابه كرام څه دپاسه دري سوه (٣١٣) وو. بيا رسول الله قبلي ته مخامخ شو او دواړه لاسونه يي دالله تعالي په حضور كي اوغوړول او خپل رب ته يي فرياد او چغه شروع كړه او ويي فرمائيل اي زما پروردګاره ماسره خپله كړي وعده پوره كړي، دڅه دراكولو چې تا ماسره وعده كړي ده هغه راته راكړي او اي زماپروردګاره كه دمسلمانانو دا مختصر جماعت تا هلاك كړو نو بيا به په مخ دزمكه ستا عبادت اونه شي، رسول الله قبلي ته مخامخ حالت كي خپل دواړه لاسونه غوړولي وو او خپل رب ته زاري او فرياد كوي تردي پوري چې څادر يي ددواړو اوګو نه راپريوتو، بيا ابوبكر رضي الله عنه راغلو او درسول الله څادر يي راپورته كړو او دهغه په اوګو يي واچولو او دشا دطرفه رسول الله صلي الله عليه وسلم پوري جوخت شو او وئيل يي اي دالله نبي بس كړه څومره دعاچې دي دخپل رب نه اوغوښتله هم دومره كافي ده. الله تعالي چې تاسره كومه وعده كړي ده هغه به انشاء الله ضرور پوره كوي او بيا الله تعالي

---

١ _ صحيح مسلم /الجهاد ١٨ (١٧٦٣) (تحفة الأشراف : ١٠٣٩٦) . و مسند احمد (١/٣٠)

دا ايت كريمه "إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُم بِأَلْفٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ" نازل كړو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي مونږ دعمر رضي الله عنه داحديث صرف دعكرمه بن عمار په روايت پيژنو چې دابوزميل نه يي نقل كوي او دابو زميل نوم سماك حنفي دي او دا واقعه دبدر په ورځ شوي وه.

****

٣٠٨٢ـ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مُهَاجِرٍ، عَنْ عَبَّادِ بْنِ يُوسُفَ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ بْنِ أَبِي مُوسَى، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَنْزَلَ اللَّهُ عَلَيَّ أَمَانَيْنِ لِأُمَّتِي وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ (الأنفال: ٣٣) وَمَا كَانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ (الأنفال: ٣٣) فَإِذَا مَضَيْتُ تَرَكْتُ فِيهِمُ الِاسْتِغْفَارَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ". هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَإِسْمَاعِيلُ بْنُ مُهَاجِرٍ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ.[1]

ترجمه : دابوموسي اشعري رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما دامت دپاره الله تعالي په ما باندي دوه امانونه نازل كړي دي يو په "وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ" كي، او دويم په "وَمَا كَانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ" كي. كله چې زه ددي دنيا نه لاړ شم نو ددوئ دپاره به دويم امان يعني استغفار دقيامت ورځي پوري پريږدم.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي، اسماعيل بن مهاجر په باب دحديث كي ضعيف ګڼرلي شوي دي.

****

٣٠٨٣ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ، عَنْ رَجُلٍ لَمْ يُسَمِّهِ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ هَذِهِ الآيَةَ عَلَى الْمِنْبَرِ: وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ (الأنفال: ٦٠)، قَالَ: أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، أَلَا إِنَّ اللَّهَ سَيَفْتَحُ لَكُمُ الْأَرْضَ وَسَتُكْفَوْنَ الْمُؤْنَةَ فَلَا يَعْجِزَنَّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَلْهُوَ بِأَسْهُمِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩١٠٩)

عَامِرٍ. رَوَاهُ أَبُو أُسَامَةَ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، وَحَدِيثُ وَكِيعٍ أَصَحُّ، وَصَالِحُ بْنُ كَيْسَانَ لَمْ يُدْرِكْ عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ وَقَدْ أَدْرَكَ ابْنَ عُمَرَ. [1]

ترجمه : دعقبه بن عامر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم په منبر باندي دا ايت كريمه "وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ" تلاوت كړو او بيا يي اوفرمائيل په دي كي د "قوة" نه مراد غشي ويشتل دي او دا خبره يي دري پيري تكرار كړه او فرمائيل يي واورئ ډيره نزدي ده چې الله تعالي به په زمكه تاسو ته فتح دركړي او تاسو به مستغني او بي پرواه كړي پس داسي كول هرگز نه دي پكار چې په تاسو كي څوك هم دغشو ويشتلو نه عاجز او غافل شي.

امام ترمذي وايي: بعضي راويانو داحديث داسامه بن زيد نه نقل كړي دي او صالح بن كيسان نه نقل كري دي، ابو اسامه او بعضي نورو راويانو دا دعقبه بن عامر نه نقل كړي دي، اودوكيع حديث دنورو په نسبت زيات صحيح دي، او دصالح بن كيسان ملاقات دعقبه بن عامر سره ثابت نه دي مگر دابن عمر سره يي ملاقات شوي دي.

دعقبه بن عامر رضي الله عنه حالات

نوم عقبه كنيه ابوعمرو دپلار نوم عامر رسول الله صلي الله عليه وسلم چې كله مديني ته راغى نو عقبه په اسلام مشرف شو علامه ذهبي ليكلي دي چې عقبه فقيه او دكتاب الله قاري وو او دفرائضو ماهر او فصيح اللسان شاعر وو (تذكرة الحفاظ).

دقران كريم سره يي خصوصي مينه وه يوه نسخه دقران كريم يي پخپل لاس هم ليكلي وه (تهذيب التهذيب).

دنبي كريم صلي الله عليه وسلم ښه خدمت يي كړى دى په سفر كي به درسول الله سورلئ راښكل دده متعلق وو لكه چې په روايتونو كي راځي كان صاحب بغلة رسول الله صلي الله عليه وسلم الشهباء.

دده دوفات دتاريخ باره كې مختلف اقوال مروي دي صحيح قول دادى چې په ۵۸هجري كي وفات شوى دى، او دده دمروياتو شمير ۵۵ دى چې يو په دي كي متفق عليه دى او يو په بخاري كې دى او اوه په مسلم كې دي (تهذيب الكمال).

داكابرو صحابه كرامو نه نقل دروايت كوي تردي چې صرف ديو حديث اوريدو دپاره مصر ته دابوايوب انصاري سره دملاويدو دپاره تلى وو خو چې هغه يي واوريدو نو فورا واپس لاړو.

---

[1] ـ صحيح مسلم/الإمارة ۵۲ (۱۹۱۷) . سنن ابي داود/الجهاد ۲۴ (۲۵۱۴) . سنن ابن ماجه/الجهاد ۱۹ (۲۸۱۳) (تحفة الأشراف : ۹۹۷۵) . و مسند احمد (۴/۱۵۷) . وسنن الدارمي/الجهاد ۱۴ (۲۴۴۸)

****

۳۰۸۴_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: لَمَّا كَانَ يَوْمُ بَدْرٍ وَجِيءَ بِالْأَسَارَى، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا تَقُولُونَ فِي هَؤُلَاءِ الْأَسَارَى؟ فَذَكَرَ فِي الْحَدِيثِ قِصَّةً طَوِيلَةً، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَنْفَلِتَنَّ مِنْهُمْ أَحَدٌ إِلَّا بِفِدَاءٍ أَوْ ضَرْبِ عُنُقٍ". قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْعُودٍ: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِلَّا سُهَيْلَ ابْنَ بَيْضَاءَ فَإِنِّي قَدْ سَمِعْتُهُ يَذْكُرُ الْإِسْلَامَ، قَالَ: فَسَكَتَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَمَا رَأَيْتُنِي فِي يَوْمٍ أَخْوَفَ أَنْ تَقَعَ عَلَيَّ حِجَارَةٌ مِنَ السَّمَاءِ مِنِّي فِي ذَلِكَ الْيَوْمِ، قَالَ: حَتَّى قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِلَّا سُهَيْلَ بْنَ بَيْضَاءَ". قَالَ: وَنَزَلَ الْقُرْآنُ بِقَوْلِ عُمَرَ: مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَكُونَ لَهُ أَسْرَى حَتَّى يُثْخِنَ فِي الْأَرْضِ (الأنفال: ٦٧) إِلَى آخِرِ الْآيَاتِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَأَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ أَبِيهِ.[1]

ترجمه: دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي فرمائي كله چې جنګ بدر اوشو او قيديان نيولي شوي راوستلي شول نورسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دقيديانو باره کي ستاسوخه خيال دي؟ او بيا راوي په حديث کي دصحابه کرامو دمشوري يو اوږده قصه بيان کړه، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل بغير دفديه اخستلو نه دي هيڅوک پرينخودلي شي او يا دي دهغه ځټ اووهلي شي، عبدالله بن مسعود وائي ماعرض اوکړو اي دالله رسوله سهيل بن بيضاء پريږده خکه چې ما دده نه داسلام خبري اوريدلي دي (زما اميد دي چې ايمان به راوړي) ددي په اوريدو رسول الله صلي الله عليه وسلم خاموشي اختيار کړه نو په دي ورځ ما دومره ويره محسوس کړه چې چرته ما باندي دکاڼرو باران اونه شي او دومره ويره په بله ورځ ما چرته نه وه ليدلي تردي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل سهيل بن بيضاء پريږده او دعمر رضي الله عنه په تائيد کي "مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَكُونَ لَهُ أَسْرَى حَتَّى يُثْخِنَ فِي الْأَرْضِ" نازل شو دهيڅ يو نبي سره مناسب نه دي چې دده سره قيديان موجود وي تر څو پوري چې هغه پوره خونريزي نه وي کړي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي ابوعبيده دخپل پلار عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه اوريدل نه دي کړي

****

[1] انظر حديث رقم ۱۷۱۴

٣٠٨٥ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنِي مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو، عَنْ زَائِدَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَمْ تَحِلَّ الْغَنَائِمُ لِأَحَدٍ سُودِ الرُّءُوسِ مِنْ قَبْلِكُمْ كَانَتْ تَنْزِلُ نَارٌ مِنَ السَّمَاءِ فَتَأْكُلُهَا". قَالَ سُلَيْمَانُ الأَعْمَشُ: فَمَنْ يَقُولُ هَذَا إِلَّا أَبُو هُرَيْرَةَ الآنَ. فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ بَدْرٍ وَقَعُوا فِي الْغَنَائِمِ قَبْلَ أَنْ تَحِلَّ لَهُمْ فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى: لَوْلَا كِتَابٌ مِنَ اللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَا أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ (الأنفال :٦٨). قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ الأَعْمَشِ.[1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي تاسو مسلمانانو نه مخكي دكوم تورو ويختو والا انسان دپاره مالونه دغنيمت حلال نه وو داسمان نه به يو اور راتلو او غنيمتونه به يي خوړل، سليمان اعمش وائي دا دابوهريره نه علاوه بل څوك وئيلي شي دغه وخت دغزوه بدر په موقعه دمسلمانانو داحال وو مخكي ددينه چي مالونه دغنيمت تقسيم كړي او هر يو ته يي وركړي او دا ددوئ دپاره حلال شوي دي ددينه مخكي دوئ دغنيمت په مالونو راپريوتل نو دي وخت كي الله تعالي دا ايت كريمه "لَوْلَا كِتَابٌ مِنَ اللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَا أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ" نازل شو يعني كه دمخكي نه دالله تعالي دطرفه ستاسو په حق كي ليكل شوي نه وي چي تاسو ته غنائم دركولي كيږي نو تاسو ته به ددي دركولو په وجه سخت او لوي عذاب دركړي شوي وو

امام ترمذي وايي: داحديث داعمش په روايت حسن صحيح غريب دي.

****

١٠ـ بَاب وَمِنْ سُورَةِ التَّوْبَةِ

دسورة توبي دبعضي ايتونو تفسير

سورة التوبة مدني سورت دي اوپه ١٢٩ يا ١٣٠ ايتونو مشتمل دي

قاضي ثناء الله پاني پتي دابوعطيه همداني نه روايت نقل كړى دي چي عمر فاروق رضي الله عنه تحرير ليكلي وو چي سورت توبه پخپله هم زده كړئ اوخپلو ښځوته هم ددي تعليم وركړئ، ددي وجه دا ښكاري چي په سورة براءت كي ترغيب دي جهاد ته اوپه سورة النور كي دپردي كولو تلقين دي (اولنئ فريضه دسړوده اودويمه فريضه دښځوده) عثمان بن عفان رضي الله عنه فرمائيلي دي درسول

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٢٣٤٨)، و مسلم/الجهاد ١١(١٧٤٧)، و مسند احمد (٢/٢٥٢، ٣١٤، ٣١٨)

الله صلي الله عليه وسلم په زمانه كي به مونږ دسورة انفال اوسورة براءت په يوبل پسې متصل لوستل همدا وجه ده چې په سبع طوال كي مادي لره په يوځاي ليكلي دي
ددي سورة متعدد نومونه دي (١) براءت ، ځكه چې پدي كي دكافرانو نه دبيزارئ اعلان دي (٢) توبه ځكه چې پدي كي دتوبي دقبليدو ذكر دي (٣) المقشقشة ، دنفاق نه بيزاري كونكي، ابوالشيخ او ابن مردويه دزيد بن اسلم په روايت سره بيان كړي دي چې عبدالله بن عمر رضي الله عنهما به فرمائيل چې دمقشقشه وئيلو وجه داده چې دا سورة دنفاق نه بيزاري كول ظاهروي
(۴) مبعثره ، دانوم ابن المنذر دمحمد بن اسحاق په روايت سره بيان كړي دي، چونكه دخلقو دپټو رازونو نه پرده پورته كوي نوپدي وجه ورته مبعثره وئيلي شوي دي.
(۵) البحوث، دانوم ابن ابي حاتم، طبراني اوحاكم دابو رشد حرافي په روايت سره دمقداد بن اسود نه بيان كړي دي.
(٦) المثيره، دانوم ابن المنذر او ابوالشيخ او ابن ابي حاتم دقتاده په حواله نقل كړي دي، وجه دتسميه داده چې دا سورة دنفاق حالت لره دجرړو نه اوباسي او خلقوته يې راوړاندي كوي اودمنافقانو نفاق لره خلقو ته ظاهروي.
(٧) منكله، (عذاب والا). (٨)مدمدمه تباهي راوستونكي. (٩) سورة عذاب دا نوم حذيفه رضي الله عنه بيان كړي دي اوفرمائيلي يې دي كوم سورة ته چې تاسو سورة توبه وايي هغه دعذب سورة دي په الله قسم دي سورة هيڅ لره بغير داثر كولو نه ندي پريخودي ، رواه ابن ابي شيبه والطبراني وابو الشيخ والحاكم وابن مردويه.
ابن عباس رضي الله عنهما هم عمرفاروق رضي الله عنه ته په نسبت كولو سره ددي سورة نوم سورة عذاب ذكر كړي دي (اخرجه ابو عوانه وابن المنذر وابو الشيخ وابن مردويه).
(١٠) الفاضحه ، داهم ددي سورة نوم دي اودا دمنافقانو دپاره رسواكونكي دي.
بغوي دسعيد بن جبير نه روايت نقل كړي دي چې ابن عباس رضي الله عنهماته مي اووئيل تا اووئيل چې دسورة توبي نوم الفاضحه دي يعني مسلسل نازل شوي دي اوخلقوته اطلاع وركوي تردي چې دخلقو داګمان پيدا شو چې څوك يې بغير دتذكري كولو ندي پريخودلي ما اووئيل سورة انفال نو ويې فرمائيل دا خوسورة بدر دي بيا مي اووئيل سورة حشر نو ويې فرمائيل ديته سورة نفير وائي (پدي كي دقبرونونه دمړو راوتلو اودحشر په ميدان كي دجمع كيدو بيان دي).

دسورة توبي په شروع كي بسم الله نه راوړلو وجه

دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي چې عثمان بن عفان رضي الله عنه ته مي عرض اوكړو چې ايا سورة انفال دسبع المثاني نه دي او براءت دمئين نه دي؟ داخودواړه يوځاي كړي دي اوددواړو په مينځ كي دي بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ نده ليكلي اوپه سبع طوال كي دي درج كړي ندي ددي وجه څه ده عثمان رضي الله عنه اوفرمائيل په مختلفوزمانو كي درسول الله صلي الله عليه وسلم دمتعددو سورتونو دنزول سلسله جاري وه كله چې به څه نازليدل نوځپل كاتب به يې راوغوښتلو اوحكم به يې ورسره كولو چې دا ايت په فلاني سورة كي اوليكه ، سورة انفال دمديني په ابتدائي ورځو كي (يعني

دهجرت نه فورا بعد نازل شوي وو وسورة براءت په اخري زمانه كي او ددوارو بيان ديوبل سره مشابه وو او رسول الله صلي الله عليه وسلم پخپله زندګئ كي دا صراحت نه دي فرمائيلي چې سورة انفال دسورة براءت جز دي نوپدي وجه مادواړه يوځاي كړل اوسورة برءت مي په سبع طوال كي درج كړو اوددوارو په مينځ كي مي د بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ كرخه اونه ليكله ، رواه البغوي واحمد وابوداود والنسائي وابن حبان والحاكم والترمذي، حاكم دا روايت صحيح اوترمذي حسن ګڼړلي دي.

دبسم الله دترك كولو يوه وجه دا هم بيان شوي ده چې دبراءت نزول دامان دحكم دختمولو دپاره شوي دي اوبِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ دامان تعليم وركوي ، دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي چې دعلي بن ابي طالب رضي الله عنه نه مي تپوس اوكړو چې په سورة براءت كي بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ولي نده ليكلي شوي نو ويې فرمائيل بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ امان دي اوبراءت توره نازله كړي ده (اخرجه ابوشيخ وابن مردويه).

په بعضي رواياتوكي راغلي دي چې دصحابه كرامو اراء پخپل مينځ كي مختلف وو دبعضي خلقو خيال دا وو چې سورة انفال او براءت ديو سورة مجموعه ده او بعضي خلقو به وئيل دواړه جدا جدا سورتونه دي چاچې دا دوه سورتونه ګڼړل دهغوئ دقول په رعايت كولو سره ددوارو سورتونو په مينځ كي فاصله پريخودي شوه اوچاچې دواړه مستقل سورتونه ګڼړل و دا يي په سبع طوال كي اوم سورت ګڼړلو ذكوم نزول چې دجهاد متعلق شوي وو نودهغوئ دقول په رعايت كولو سره يي ددوارو په مينځ كي بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اونه ليكله.

بغوي ليكلي دي دمفسرينو بيان دي چې كله رسول الله صلي الله عليه وسلم تبوك طرف ته روان شو نو منافقانو افواه ګاني شروع كړي اوداسي خبري يي شروع كړي چې په مسلمانانو كي يي انتشار پيدا كولو اوكومه معاهده چې رسول الله صلي الله عليه وسلم كړي وه دهغي ماتول يي شروع كړل، زه وايم ددي وجه دا وه چې ددوئ دا يقين وو چې دمسلمانانو بادشاه دشام يعني دقيصر مقابله نشي كولي (اوهم هلته به تباه كيږي) نوپدي بنا الله تعالي خپل پيغمبر ته دكافرانو سره دمعاهدي ختمولو حكم اوكړو او ويې فرمائيل :

۳۰۸۶ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ ، وَمُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ ، وَابْنُ أَبِي عَدِيٍّ ، وسهل بن يوسف ، قَالُوا: حَدَّثَنَا عَوْفُ بْنُ أَبِي جَمِيلَةَ ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ الْفَارِسِيُّ ، حَدَّثَنَا ابْنُ عَبَّاسٍ ، قَالَ: قُلْتُ لِعُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ: مَا حَمَلَكُمْ أَنْ عَمَدْتُمْ إِلَى الأَنْفَالِ وَهِيَ مِنَ الْمَثَانِي ، وَإِلَى بَرَاءَةٌ وَهِيَ مِنَ الْمِئِينَ فَقَرَنْتُمْ بَيْنَهُمَا وَلَمْ تَكْتُبُوا بَيْنَهُمَا سَطْرَ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ، وَوَضَعْتُمُوهَا فِي السَّبْعِ الطُّوَلِ ، مَا حَمَلَكُمْ عَلَى ذَلِكَ ؟ فَقَالَ عُثْمَانُ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّا يَأْتِي عَلَيْهِ الزَّمَانُ وَهُوَ تَنْزِلُ عَلَيْهِ السُّوَرُ ذَوَاتُ الْعَدَدِ ، فَكَانَ إِذَا نَزَلَ عَلَيْهِ الشَّيْءُ دَعَا بَعْضَ مَنْ كَانَ يَكْتُبُ

فَيَقُولُ: ضَعُوا هَؤُلَاءِ الْآيَاتِ فِي السُّورَةِ الَّتِي يُذْكَرُ فِيهَا كَذَا وَكَذَا، وَإِذَا نَزَلَتْ عَلَيْهِ الْآيَةُ فَيَقُولُ ضَعُوا هٰذِهِ الْآيَةَ فِي السُّورَةِ الَّتِي يُذْكَرُ فِيهَا كَذَا وَكَذَا، وَكَانَتِ الْأَنْفَالُ مِنْ أَوَائِلِ مَا أُنْزِلَتْ بِالْمَدِينَةِ، وَكَانَتْ بَرَاءَةٌ مِنْ آخِرِ الْقُرْآنِ، وَكَانَتْ قِصَّتُهَا شَبِيهَةً بِقِصَّتِهَا فَظَنَنْتُ أَنَّهَا مِنْهَا، فَقُبِضَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يُبَيِّنْ لَنَا أَنَّهَا مِنْهَا فَمِنْ أَجْلِ ذٰلِكَ قَرَنْتُ بَيْنَهُمَا، وَلَمْ أَكْتُبْ بَيْنَهُمَا سَطْرَ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ فَوَضَعْتُهَا فِي السَّبْعِ الطُّوَلِ".

قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَوْفٍ، عَنْ يَزِيدَ الْفَارِسِيِّ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَيَزِيدُ الْفَارِسِيُّ هُوَ مِنَ التَّابِعِينَ، قَدْ رَوَى عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ غَيْرَ حَدِيثٍ، وَيُقَالُ هُوَ يَزِيدُ بْنُ هُرْمُزَ، وَيَزِيدُ الرَّقَاشِيُّ هُوَ يَزِيدُ بْنُ أَبَانَ الرَّقَاشِيُّ، وَهُوَ مِنَ التَّابِعِينَ وَلَمْ يُدْرِكْ ابْنَ عَبَّاسٍ إِنَّمَا رَوَى عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ وَكِلَاهُمَا مِنَ التَّابِعِينَ مِنْ أَهْلِ الْبَصْرَةِ، وَيَزِيدُ الْفَارِسِيُّ أَقْدَمُ مِنْ يَزِيدَ الرَّقَاشِيِّ. (1)

ترجمه: ابن عباس ﷺ فرمائي چې ما عثمان ﷺ ته اووئيل څه خبره ده چې تاسو دسوره براة کوم چې مئين (يعني سلو ايتونو والا) سورتونونه دي اوسورة انفال کوم چې دمثاني نه دی یوځاي کړي دي؟ اوپه اوه طوال سورتونو کې شامل کړی دی اوددي دواړو په مينځ کې بسم الله الرحمن الرحيم کرخه نه ده ليکلي عثمان رضي الله عنه اووئيل په نبي ﷺ چې به کله دقران ايتونه نازليدل نوهغه به يوکاتب راغوښتلو اوفرمائيل به يې دا ايت په دي سورة کې اوليکئ چې په هغي کې دفلانکي فلانکي نه روايت دی بيابه يو يادوه ايتونه نازل شو نو هم داسي به يې فرمائيل او سورة انفال په هغو سورتونو کې دی چې دهغه دمدينې ته دراتلو نه پس په ابتدائي ورځو کې نازل شوي وو اوسورة براة دنزول قران داخيري دوردسورتونو نه دی اوددي مضامين ديوبل سره مشابه دي لهٰذا ماداګنړل دي چې سورة براءت دسورة انفال حصه ده اوهم ددي وجې نه مادا په طوال کې درج کړل اوددوي په مينځ کې دبسم الله الرحمن الرحيم کرخه نه دليکلي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي دا مونږ صرف دعوف په روايت پيژنو کوم چې هغه ديزيد فارسي په واسطه دابن عباس نه نقل کوي او يزيد فارسي دتابعينو نه دي دابن عباس نه يي متعدد احاديث نقل کړي دي او وئيلي شوي دي دده نوم يزيد بن هرمز دي او يزيد رقاشي يزيد بن ابان رقاشي دي دي هم دتابعينو نه دي او دابن عباس سره يي ملاقات نه دي شوي رقاشي صرف دانس بن مالك نه روايت نقل کړي دي او دا دواړه دبصري اوسيدونکي

---

1 ـ سنن ابي داود/ الصلاة ١٢٥ (٧٨٦) (تحفة الأشراف: ٩٨١٩) . و مسند احمد (١/٥٧، ٦٩)

دي مګر يزيد فارسي په يزيد رقاشي متقدم دي .

****

۳۰۸۷_حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ عَلِيٍّ الْجُعْفِيُّ، عَنْ زَائِدَةَ، عَنْ شَبِيبِ بْنِ غَرْقَدَةَ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ عَمْرِو بْنِ الأَحْوَصِ، حَدَّثَنَا أَبِي، أَنَّهُ شَهِدَ حَجَّةَ الْوَدَاعِ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ وَذَكَّرَ وَوَعَظَ، ثُمَّ قَالَ: "أَيُّ يَوْمٍ أَحْرَمُ؟ أَيُّ يَوْمٍ أَحْرَمُ؟ أَيُّ يَوْمٍ أَحْرَمُ؟ قَالَ: فَقَالَ النَّاسُ: يَوْمُ الْحَجِّ الأَكْبَرِ يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: "فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ وَأَعْرَاضَكُمْ عَلَيْكُمْ حَرَامٌ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا، فِي بَلَدِكُمْ هَذَا، فِي شَهْرِكُمْ هَذَا، أَلَا لَا يَجْنِي جَانٍ إِلَّا عَلَى نَفْسِهِ، وَلَا يَجْنِي وَالِدٌ عَلَى وَلَدِهِ وَلَا وَلَدٌ عَلَى وَالِدِهِ، أَلَا إِنَّ الْمُسْلِمَ أَخُو الْمُسْلِمِ فَلَيْسَ يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ إِلَّا مَا أَحَلَّ مِنْ نَفْسِهِ، أَلَا وَإِنَّ كُلَّ رِبًا فِي الْجَاهِلِيَّةِ مَوْضُوعٌ لَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ وَلَا تُظْلَمُونَ، غَيْرَ رِبَا الْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، فَإِنَّهُ مَوْضُوعٌ كُلُّهُ، أَلَا وَإِنَّ كُلَّ دَمٍ كَانَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ مَوْضُوعٌ، وَأَوَّلُ دَمٍ وُضِعَ مِنْ دِمَاءِ الْجَاهِلِيَّةِ دَمُ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ كَانَ مُسْتَرْضَعًا فِي بَنِي لَيْثٍ فَقَتَلَتْهُ هُذَيْلٌ، أَلَا وَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا فَإِنَّمَا هُنَّ عَوَانٍ عِنْدَكُمْ لَيْسَ تَمْلِكُونَ مِنْهُنَّ شَيْئًا غَيْرَ ذَلِكَ، إِلَّا أَنْ يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُبَيِّنَةٍ فَإِنْ فَعَلْنَ فَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ، وَاضْرِبُوهُنَّ ضَرْبًا غَيْرَ مُبَرِّحٍ، فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا، أَلَا إِنَّ لَكُمْ عَلَى نِسَائِكُمْ حَقًّا وَلِنِسَائِكُمْ عَلَيْكُمْ حَقًّا، فَأَمَّا حَقُّكُمْ عَلَى نِسَائِكُمْ فَلَا يُوطِئْنَ فُرُشَكُمْ مَنْ تَكْرَهُونَ وَلَا يَأْذَنَّ فِي بُيُوتِكُمْ مَنْ تَكْرَهُونَ، أَلَا وَإِنَّ حَقَّهُنَّ عَلَيْكُمْ أَنْ تُحْسِنُوا إِلَيْهِنَّ فِي كِسْوَتِهِنَّ وَطَعَامِهِنَّ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ أَبُو الأَحْوَصِ، عَنْ شَبِيبِ بْنِ غَرْقَدَةَ. (1)

ترجمه : سليمان بن عمرو بن احوص وائي ز . پلار ماته حديث بيان کړي دي فرمائيل يي چې زه په حجة الوداع کې درسول الله صلي الله عليه وسلم سره موجود وم او هغوئ دالله تعالي تعريف او ثناء بيان کړه، وعظ او نصيحت يي اوکړو بيا يي اوفرمائيل په ورځو کې کومه يوه ورځ زيات حرمت او تقدس والا ده، په ورځو کې کومه يوه ورځ زيات حرمت او تقدس والا ده، په ورځو کې کومه يوه ورځ زيات حرمت او تقدس والا ده؟ خلقو اووئيل اي دالله رسوله دحج اکبر ورځ زيات شرف او تقدس والا ورځ ده، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ستاسو وينه او ستاسو مالونه او ستاسو عزتونه په تاسو باندي داسي حرام دي لکه څرنګه چې دننه نن

---

1 ــ انظر حديث رقم ۲۱۵۹

ورځي حرمت دي ستاسو په دي ښار کي او ستاسو په دي میاشت کي، واورئ هیڅ یو انسان یو جرم نه کوي مګر ددي وبال به په هم هغه باندي راځي او هیڅ یو پلار به قصور نه کوي چي سزا یي بیا خوي ته ورکړي شي او نه به داسي څوك خوي وي چي ګناه یي کړي وي او سزا یي پلار ته ورکړي شي خبردار یو مسلمان دبل مسلمان ورور دي دیو مسلمان دپاره دخپل ورور کوم څيز حلال نه دي مګر علاوه دهغه څيز نه کوم چي ده ته هغه پخپله ورکړي وي، واورئ دجاهلیت دوخت هر یو سود باطل دي او تاسو صرف خپل اصل مال اخستلي شئ تاسو به نه په چا باندي ظلم او زیاتي کوئ او نه دبل چا دپاره داحق شته چي په تاسو ظلم او زیاتي اوکړي، مګر علاوه د عباس بن عبدالمطلب دسود نه ځکه چي دا ټول په ټوله معاف دي، خبردار دجاهلیت دوخت هر یو خون ختم کړي شوي دي اودجاهلیت دوخت په خونونو کي کوم چي زه اول معاف کوم هغه دحارث بن عبدالمطلب خون دي هغه په بني لیث قبیله کي پئ خوړل تردي چي بني هزیل قبیلي والا قتل کړو، واورئ دښځو سره ښه سلوك کوئ ځکه چي دوئ تاسو سره دبي کسئ او بي چارګئ په حالت کي اوسیږي او تاسو په دوئ باندي لاس نشئ پورته کولي مګر دا چي دوئ کله ښکاره بدکاري اوکړي او که چري دوئ کومه قبیحه ګناه اوکړي نو بستري ورنه جدا کړئ او ویي وهئ مګر داسي یي مه وهئ چي هډوکي او پوختئ یي ماتي شي بیا که چري دوئ ستاسو دخبري منل اوکړي نو په دوئ باندي دظلم او زیاتي کولو دپاره لار مه لټوئ خبردار ستاسودپاره ستاسو په ښځو باندي حقوق دي او ستاسو دښځو دپاره په تاسو باندي حقوق دي ستاسو دپاره ستاسو په ښځو حق دادي چي چالره تاسو نه خوښوئ دوئ به هغه لره ستاسو په بستره کیناستو ته نه پریږدي او نه به ستاسو کورونو ته د داخلیدو دپاره هغوئ ته اجازت ورکوي او ددوئ حق په تاسو باندي دادي چي تاسو ورسره ښه سلوك اوکړئ او ښه جامه او ښه خوراك ورکړئ.

امام ترمذي وايي: داحدیث حسن صحیح دي او داحدیث ابوالاحوص دشبیب بن غرقده نه نقل کړي دي

تشريح: "ان الله حرم علیکم دمائکم واموالکم" یعني بیشکه الله تعالي په تاسو باندي ستاسو وینې او مالونه حرام کړي دي ددي مطلب دادی چي هر یو مسلمان دبل مسلمان ورور دی او دهغه د جان او مال او عزت حفاظت کول دده ذمه واري ده همداوجه ده چي دمسلمانانو پخپل مینځ کي خنریزي کول خیانت او قبیح جرم ګنړلی شوی دی.

لکه څرنګه چي دذي الحجي لسم یعني لوي اختر ورځ دحرمت والا ده او د ذي الحجي میاشت هم حرمت والا ده او دمکي ښار هم حرمت والا دی نو ددي ټولو حرمتونو پشان دمسلمان وینه مال او عزت هم حرمت لري او په یو بل باندي حرام دي بلکه دانسان حرمت ددینه زیات دی لکه چي په یو روایت کي راغلي دي چي ابن عمر رضي الله عنهما یو ځل بیت الله ته اوکتل او

ويې فرمائيل ته څومره عظمت والا يي او څومره عظيم دی حرمت ستا ليکن دمومن حرمت ستا دحرمت په مقابله کې نور هم زيات دی. أَيُّ شَهْرٍ هَذَا . يعني رسول الله دمياشتي او ورځي اودښار دنوم په باره کې تپوس اوکړو ددې دپاره چې دخلقو په ذهن کې ددې مياشتي او ورځي او ښار عظمت پيدا شي او ددې په اهميت باندې پوهه شي.

****

٣٠٨٨ـحَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ بْنُ عَبْدِ الصَّمَدِ بْنِ عَبْدِ الْوَارِثِ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ يَوْمِ الْحَجِّ الأَكْبَرِ؟ فَقَالَ: "يَوْمُ النَّحْرِ".[1]

ترجمه : دعلي رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مې دحج اکبر ورځې باره کې تپوس اوکړو نو ويې فرمائيل دادلوي اختر ورځ ده.

****

٣٠٨٩ـحَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: "يَوْمُ الْحَجِّ الأَكْبَرِ يَوْمُ النَّحْرِ". قَالَ: هَذَا الْحَدِيثُ أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ لأَنَّهُ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ. هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ مَوْقُوفًا، وَلاَ نَعْلَمُ أَحَدًا رَفَعَهُ إِلاَّ مَا رُوِيَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، وَقَدْ رَوَى شُعْبَةُ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُرَّةَ، عَنِ الْحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ مَوْقُوفًا.[2]

ترجمه : دعلي رضي الله عنه بيان دې دحج اکبر ورځ دلوي اختر ورځ ده.

امام ترمذي وايي: دا روايت دمحمد بن اسحاق دروايت نه زيات صحيح دې ځکه چې دا حديث په يو څو سندونو دابو اسحاق نه مروي دې او ابو اسحاق دحارث په واسطه دعلي رضي الله عنه نه موقوفا نقل کړي دې او مونږ ته دمحمد بن اسحاق نه علاوه بل څوک داسې نه دې معلوم چې دا يې مرفوع بيان کړي دي، شعبه دا حديث دابواسحاق نه او هغه دعبدالله بن مره نه او هغه دحارث په واسطه دعلي رضي الله عنه نه موقوفا نقل کړي دې.

****

[1] ـ انظر حديث رقم ٩٥٤

[2] ـ تفرد به المؤلف. انظر حديث رقم ٩٥٤

۳۰۹۰_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَفَّانُ بْنُ مُسْلِمٍ، وَعَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ عَبْدِ الْوَارِثِ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبَرَاءَةَ مَعَ أَبِي بَكْرٍ ثُمَّ دَعَاهُ، فَقَالَ: "لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ أَنْ يُبَلِّغَ هَذَا إِلَّا رَجُلٌ مِنْ أَهْلِي، فَدَعَا عَلِيًّا فَأَعْطَاهُ إِيَّاهَا"، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ. (1)

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم سورة برائت دابوبكر رضي الله عنه سره اوليږلو او بيا يي ابوبكرراوغوښتلو او ورته يي اوفرمائيل زما دخاندان دكوم فرد نه علاوه دبل چا دپاره دا مناسب نه دي چې لاړ شي او دا پيغام هلته اورسوي (نو په دي وجه دا پيغام ته مه اوړه) بيا يي علي رضي الله عنه راوغوښتلو سورة برائت يي ورته ورکړو او مکي ته يي اوليږلو.

امام ترمذي وايي: داحديث دانس بن مالك په روايت حسن غريب دي.

****

۳۰۹۱_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ سُلَيْمَانَ، حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ الْعَوَّامِ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ حُسَيْنٍ، عَنِ الْحَكَمِ بْنِ عُتَيْبَةَ، عَنْ مِقْسَمٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَا بَكْرٍ وَأَمَرَهُ أَنْ يُنَادِيَ بِهَؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ، ثُمَّ أَتْبَعَهُ عَلِيًّا، فَبَيْنَا أَبُو بَكْرٍ فِي بَعْضِ الطَّرِيقِ إِذْ سَمِعَ رُغَاءَ نَاقَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقَصْوَاءِ، فَخَرَجَ أَبُو بَكْرٍ فَزِعًا فَظَنَّ أَنَّهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَإِذَا هُوَ عَلِيٌّ فَدَفَعَ إِلَيْهِ كِتَابَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَمَرَ عَلِيًّا أَنْ يُنَادِيَ بِهَؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ، فَانْطَلَقَا فَحَجَّا، فَقَامَ عَلِيٌّ أَيَّامَ التَّشْرِيقِ، فَنَادَى ذِمَّةُ اللَّهِ وَرَسُولِهِ بَرِيئَةٌ مِنْ كُلِّ مُشْرِكٍ، فَسِيحُوا فِي الْأَرْضِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَلَا يَحُجَّنَّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ، وَلَا يَطُوفَنَّ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ، وَلَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا مُؤْمِنٌ، وَكَانَ عَلِيٌّ يُنَادِي فَإِذَا عَيِيَ قَامَ أَبُو بَكْرٍ فَنَادَى بِهَا".

قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ عَبَّاسٍ. (2)

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ابوبكر رضي الله عنه لره مکي ته وليږلو او ورته يي اوفرمائيل چې هلته ورسيږي نو خلقو ته ددي کلماتو (دسورة توبي دابتدائي ايتونو) اعلان اوکړه او بيا يي دهغه دليږلو نه پس فورا

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۸۹٦)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٣٤٦)

علي رضي الله عنه اوليږلو ابوبكر رضي الله عنه چرته په لاره وو چې يو دم يې درسول الله صلي الله عليه وسلم دقصوي اوښې اواز واوريدو او دخيمې نه رابهر شو او دا خيال يې اوكړو چې رسول الله صلي الله عليه وسلم راروان دي ليكن دهغوئ په ځاي علي رضي الله عنه وو علي رضي الله عنه ورته درسول الله صلي الله عليه وسلم خط وركړو او رسول الله علي رضي الله عنه ته حكم كړې وو چې ته به دا كلمات پخپله خوله خلقو ته رسوي بيا دوئ دواړه روان شو ،دواړو حج اوكړو اوعلي رضي الله عنه په ايام تشريق كې اودريدو او اعلان يې اوكړو چې الله تعالي او دهغه رسول دهر مشرك او كافر نه بيزاره دي ، صرف څلور مياشتې دمكې په زمكه كې اوګرځي او بيا به ددي كال نه پس هيڅ يو مشرك حج نه كوي او هيڅ يو كس به په بربنډه طواف نه كوي جنت ته به صرف مومنان داخليږي علي رضي الله عنه اعلان كولو كله چې به ستړې شو نو ابوبكر به ددې كلماتو اعلان شروع كړو.

امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند دابن عباس رضي الله عنه په روايت سره حسن غريب دي.

****

٣٠٩٢_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ يُثَيْعٍ، قَالَ: "سَأَلْنَا عَلِيًّا بِأَيِّ شَيْءٍ بُعِثْتَ فِي الْحَجَّةِ؟ قَالَ: بُعِثْتُ بِأَرْبَعٍ: أَنْ لَا يَطُوفَ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ، وَمَنْ كَانَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَهْدٌ فَهُوَ إِلَى مُدَّتِهِ، وَمَنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ عَهْدٌ فَأَجَلُهُ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ، وَلَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا نَفْسٌ مُؤْمِنَةٌ، وَلَا يَجْتَمِعُ الْمُشْرِكُونَ وَالْمُسْلِمُونَ بَعْدَ عَامِهِمْ هَذَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ مِنْ حَدِيثِ سُفْيَانَ بْنِ عُيَيْنَةَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، وَرَوَاهُ الثَّوْرِيُّ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ بَعْضِ أَصْحَابِهِ، عَنْ عَلِيٍّ، وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ.

حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ يُثَيْعٍ، عَنْ عَلِيٍّ نَحْوَهُ.

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ خَشْرَمٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أُثَيْعٍ، عَنْ عَلِيٍّ نَحْوَهُ، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رُوِيَ عَنِ ابْنِ عُيَيْنَةَ كِلْتَا الرِّوَايَتَيْنِ، يُقَالُ عَنْهُ، عَنِ ابْنِ أُثَيْعٍ، وَعَنِ ابْنِ يُثَيْعٍ، وَالصَّحِيحُ هُوَ زَيْدُ بْنُ أُثَيْعٍ، وَقَدْ رَوَى شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ زَيْدٍ، غَيْرَ هَذَا

الْحَدِيثِ فَوَهِمَ فِيهِ وَقَالَ زَيْدُ بْنُ أُثَيْلٍ، وَلَا يُتَابَعُ عَلَيْهِ، وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. (1)

ترجمه زيد بن يثيع وائي چې دعلي رضي الله عنه نه مي تپوس اوکړو چې ته حج ته دکوم پيغام رسولو دپاره ليږلي شوي وې؟ هغه اووئيل زه دڅلورو خبرو داعلان کولو دپاره ليږلي شوي وم يوه خبره دا وه راتلونکي وخت کي به څوک په کعبه کي په بربنډه طواف نه کوي دويمه خبره دا وه درسول الله او دکافرانو په مينځ کي چې کومي معاهدي دي دا معاهدي به دختميدو مودي پوري قائم وي او دچا سره چې معاهده نشته دهغوئ دپاره دڅلور مياشتو نيته تاکلي شوي ده، دريمه خبره دا وه چې صرف ايمان والابه او مسلمان به جنت ته داخليږي. څلورمه خبره داوه چې ددي کال نه پس به مسلمانانو سره مشرکان په حج کي نشي شريکيدي.
امام ترمذي وايي: داحديث دسفيان بن عيينه په روايت چې دابو اسحاق نه يې نقل کوي حسن صحيح دي دا روايت سفيان ثوري دابواسحاق دبعضي استاذانو نه نقل کړي دي او هغوئ دعلي رضي الله عنه نه نقل کړي دي، او په دي باب کي دابوهريره رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي.

****

٣٠٩٣ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا رِشْدِينُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ دَرَّاجٍ، عَنْ أَبِي الْهَيْثَمِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا رَأَيْتُمُ الرَّجُلَ يَعْتَادُ الْمَسْجِدَ فَاشْهَدُوا لَهُ بِالْإِيمَانِ، قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ (التوبة: ١٨". (2)

ترجمه: دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي کله چې تاسو يو کس اووينئ چې دمسجد سره عادت دي (يعني مسلسل مسجد ته تلل کوي) نو تاسو دده په مومن کيدو ګواهي ورکړئ ځکه چې الله تعالي فرمائيلي دي "إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ" يعني دالله تعالي مساجد هغه څوک اباد ساتي څوک چې په الله تعالي او په ورځ داخرت ايمان لري.

****

حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ دَرَّاجٍ، عَنْ أَبِي الْهَيْثَمِ،

---

1 ـ انظر حديث رقم ٨٧١

2 ـ انظر حديث رقم ٢٦١٧

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: "يَتَعَاهَدُ الْمَسْجِدَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. وَأَبُو الْهَيْثَمِ اسْمُهُ سُلَيْمَانُ بْنُ عَمْرِو بْنِ عَبْدٍ الْعُتْوَارِيُّ، وَكَانَ يَتِيمًا فِي حِجْرِ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ. (1)

ترجمه : ابوالهيثم هم دابوسعيد خدري رضي الله عنه په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي مگر دده په روايت كي ددي الفاظو اضافه ده چي دمسجد سره تړون لري.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي او دابو الهيثم نوم سليمان بن عمرو بن عبدالعتواري دي او دي د ابوسعيد خدري رضي الله عنه په پرورش كي يتيم پاتي شوي دي.

****

٣٠٩٤ ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ، عَنْ ثَوْبَانَ، قَالَ: "لَمَّا نَزَلَتْ وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ (التوبة :٣٤ قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ، فَقَالَ بَعْضُ أَصْحَابِهِ: أُنْزِلَ فِي الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ مَا أُنْزِلَ لَوْ عَلِمْنَا أَيُّ الْمَالِ خَيْرٌ فَنَتَّخِذَهُ، فَقَالَ: "أَفْضَلُهُ لِسَانٌ ذَاكِرٌ، وَقَلْبٌ شَاكِرٌ، وَزَوْجَةٌ مُؤْمِنَةٌ تُعِينُهُ عَلَى إِيمَانِهِ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ سَأَلْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ، فَقُلْتُ لَهُ: سَالِمُ بْنُ أَبِي الْجَعْدِ سَمِعَ مِنْ ثَوْبَانَ؟ فَقَالَ: لَا، فَقُلْتُ: لَهُ مِمَّنْ سَمِعَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ: سَمِعَ مِنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، وَذَكَرَ غَيْرَ وَاحِدٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (2)

ترجمه : دثوبان رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي كله ايت كريمه " وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ " نازل شو دغه وخت كي مونږ دنبي كريم صلي الله عليه وسلم سره په يو سفر كي موجود وو بعضي صحابه كرامو اووئيل دسرو زرو او سپينو زرو په باره كي چي څه نازل شول هغه خو نازل شول كه چري مونږ ته معلومه وي چي په مال كي كوم مال بهتر دي نو هم هغه به مونږ حاصل كړي وو، رسول الله اوفرمائيل بهترين مال هغه دي دچا سره چي الله لره يادونكي ژبه وي، او شكرويستونكي زړه وي او دده ښځه يوه داسي مومنه ښځه وي څوك چي دده

---

[1] ـ انظر حديث رقم ٢٦١٧

[2] ـ سنن ابن ماجه/النكاح ٥ (١٨٥٦) (تحفة الأشراف : ٢٠٨٢) ، و مسند احمد (٥/٢٧٨، ٢٨٢)

دايمان په مضبوطولو كې مددګار وي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي ما دامام بخاري نه تپوس اوكړو چې ايا دثوبان نه دسالم بن ابي الجعد سماع ثابت ده؟ نو هغه اوونيل نه ده ما ورته اوونيل بيا هغه په صحابه كرامو كې دچانه سماع كړي ده؟ هغه اوونيل دجابر بن عبدالله او انس بن مالك رضي الله عنهما نه يې اوريدل كړي دي او امام بخاري ددوئ نه علاوه نور يو څو صحابه كرام هم ذكر كړل.

دثوبان رضي الله عنه حالات

نوم ثوبان كنيه ابو عبدالله چې په يمن كې دمشهور خاندان حمير سره يې تعلق وو ثعبان يو غلام وو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل كه خوښه دي وي خپل خاندان ته لاړ شه او كه زمونږ سره دي اوسيدل خوښ وي نو اوسيږه ته به داهل بيتو نه شميرلی شي نو په دي بنا ثوبان په اهل بيتو كې شميرلو ته پخپل خاندان ترجيح وركړه.

هميشه به يې درسول الله صلي الله عليه وسلم خدمت كولو او د رسول الله دفرمان سره به يې دځان نه زيات محبت كولو يو ځل نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هيڅ كله به چاته لاس نه خوروي نو ددينه پس كه به دده نه داس چابك هم اوغورځيدو نو پخپله به وريسې كوځيدو او اوچتولو به يې خو دچانه به يې سوال نه كولو (مسند احمد).

دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دخدمت كولو په وجه يې پخپله بهترينه استفاده اوكړه په همدي وجه ابن عبدالبر ليكلي دي چې ثوبان دهغه دري كسانو نه دی چاچې احاديث محفوظ كړي دي او ددي اشاعت يې هم كړی دی (استيعاب) دمروياتو شمير يې ۱۲۷ دی.

****

٣٠٩٥ـ حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ يَزِيدَ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلاَمِ بْنُ حَرْبٍ، عَنْ غُطَيْفِ بْنِ أَعْيَنَ، عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ، قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي عُنُقِي صَلِيبٌ مِنْ ذَهَبٍ، فَقَالَ: "يَا عَدِيُّ، اطْرَحْ عَنْكَ هَذَا الوَثَنَ"، وَسَمِعْتُهُ يَقْرَأُ فِي سُورَةِ بَرَاءَةٌ اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ (التوبة :٣١)، قَالَ: "أَمَا إِنَّهُمْ لَمْ يَكُونُوا يَعْبُدُونَهُمْ، وَلَكِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا أَحَلُّوا لَهُمْ شَيْئًا اسْتَحَلُّوهُ وَإِذَا حَرَّمُوا عَلَيْهِمْ شَيْئًا حَرَّمُوهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لاَ نَعْرِفُهُ إِلاَّ مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ السَّلاَمِ بْنِ حَرْبٍ، وَغُطَيْفُ بْنُ أَعْيَنَ لَيْسَ بِمَعْرُوفٍ فِي الْحَدِيثِ.[1]

ترجمه : دعدي بن حاتم رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې زه درسول الله په خدمت كې

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٩٨٤٤)

حاضر شوم او زما په مرئ کي د سرو زرو صليب ځوړند وو رسول الله اوفرمائيل اي عدي دا بوت لري کړه او ويي غورځوه او ما ورنه اوريدلي وو چې په سورة توبه کي يي لوستل "اتخذوا احبارهم ورهبانهم اربابا من دون الله" رسول الله اوفرمائيل هغوئ ددي څيزونو عبادت نه کولو ليکن کله چې به هغوئ کوم څيز لره حلا بيانولو نو دوئ به هغه حلال اوګڼړلو او چې کله به هغوئ کوم څيز حرام اوګڼړلو نو هغه به دوئ هم حرام ګڼړلو.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي دا حديث مونږ صرف دعبدالسلام بن حرب په روايت پيژنو، غطيف بن اعين په حديث کي معروف نه دي.

****

٣٠٩٦_حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا عَفَّانُ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، حَدَّثَنَا ثَابِتٌ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ أَبَا بَكْرٍ حَدَّثَهُ، قَالَ: قُلْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ فِي الْغَارِ: لَوْ أَنَّ أَحَدَهُمْ يَنْظُرُ إِلَى قَدَمَيْهِ لَأَبْصَرَنَا تَحْتَ قَدَمَيْهِ، فَقَالَ: "يَا أَبَا بَكْرٍ، مَا ظَنُّكَ بِاثْنَيْنِ اللَّهُ ثَالِثُهُمَا"، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، إِنَّمَا يُعْرَفُ مِنْ حَدِيثِ هَمَّامٍ تَفَرَّدَ بِهِ، وَقَدْ رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ حَبَّانُ بْنُ هِلَالٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ هَمَّامٍ نَحْوَ هَذَا. [1]

ترجمه: انس رضي الله عنه وايي چي ماته ابوبکر صديق رضي الله عنه (چې نوم يې عبدالله بن عثمان بن عامر بن عمر بن کعب بن سعد بن تيم بن مره ابن کعب بن لوي بن غالب قريشي تيمي دی او مور او پلار يې ټول اصحاب دي) روايت بيان کړو فرمائيل يې چې ما رسول الله صلي الله عليه وسلم ته عرض اوکړو يا رسوله الله! که دوئ يو کس هم خپلو پښو لاندي خاي ته اوګوري نو مونږ به اوويني رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اې ابوبکر! دهغې دوو کسانو په باره کي دي څه خيال دی چې دريم ورسره الله وي (يعني الله زمونږ نګهبان دی مشرکان به لاندي کتوته نه پريږي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي دحمام حديث مشهور دي او حمام ددوئ په روايت کي منفرد دي داحديث حبان بن هلال او بعضي نورو راويانو ددي پشان ذکر کړي دي

لغات: ظنك ظنّ ظنا دنصر نه په معني ديقين او ګمان کولو باندي راځي.

---

[1] اورده البخاري في الجامع الصحيح /مناقب الصحابة ٢ (٣٦٥٣)، ومناقب الأنصار ٤٥ (٣٩٢٢)، وتفسير التوبة ٩ (٤٦٦٣)، صحيح مسلم/فضائل الصحابة ١ (٢٣٨١) (تحفة الأشراف: ٦٥٨٣)

تشريح : په دي حديث کې چې کومه واقعه بيان شوي ده ددي مختصر خلاصه داده چې کله نبي کريم صلي الله عليه وسلم دابوبکر رضي الله عنه سره دمکي نه مديني ته هجرت کولو نو ددينه مخکې باقي مسلمانانو هجرت کړی وو مشرکانو درسول الله دګرفتار راوستلو دپاره سل اوښان انعام مقرر کړی وو چې ددي په لالچ کې ډير خلق درسول الله په تلاش کې سرګردانه وو ترديي چې مشرکان غارثور (په کوم کې چې رسول الله او ابوبکر قيام کړی وو) ته هم اورسيدل مګر الله تعالي دخپل قدرت اظهار داسي اوکړو چې د يو جولا په ذريعه يي جال جوړ کړو او ديوي ځنګلي کمتري دهګو په ذريعه يي دوی بچ کړل مشرکانو چې کله دا منظر اوليدو نو هغوی اووئيل چې دخپو دقدمونو نشانات خو ترديي ځاي پوري رارسيدلي دي خو بيا پته نه لګي چې ددي ځاي نه کوم خواته تللي دي که دي غار ته ورغلی وی نو بيا خو دجولا دا جال او انډي روغي نشوي پاتي کيدی او ددئنه نه ابوبکر رضي الله عنه ددوی خپې ليدلي دهغه سره دا ويره وه که چري ددوی نظر په مونږ اولګي نو مونږ به ګير شو ليکن په دي وخت کې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ای ابوبکر الله تعالي زمونږ سره دی دا واقعه قران مجيد هم نقل کړي ده: إِلَّا تَنصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا فَأَنزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُ بِجُنُودٍ لَّمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُوا السُّفْلَىٰ وَكَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ (التوبة: ٤٠)

يعني کله چې ته کفارو په وتلو مجبوره کړي وي ، کله چې نبي دويم ددوو نه وو چې ويل يي خپل ملګري ته خفګان مه کوه يقينا الله تعالي زمونږ سره دي نو الله تعالي ورباندي خپل خاص سکون نازل کړو اود فرشتو په لښکر سره يي دده مدد وکړو کوم چې تاسو نه ليدلو ، دکافرو خبره ښکته وي اود الله کلام بلند او بالا وي. نوحسان بن ثابت رضي الله عنه پدی باره کې مندرجه زيل اشعار ووئيل:

وثاني اثنين في الغار المنيف وقد ... طاف العداء به اذا صعد الجبلا

وكل حب رسول الله قد علموا ... من الخلائق لم يعدل به رجلا

نو رسول الله صلي الله عليه وسلم ددي اشعارو په اوريدو سره مسکی شو.

د ابوبکر صديق رضي الله عنه حالات

نوم عبدالله کنيه ابوبکر عتيق او صديق يي لقب وو دپلار نوم يي عثمان وو چې په ابو قحافه مشهور وو او دمور نوم يي سلمي وه چې په ام الخير مشهوره وه دپلار دطرفه يي نسب نامه داده عبدالله بن عثمان بن عامر بن عمرو بن کعب بن سعد بن تميم بن مره بن کعب بن لوئ القريشي التميمي او دمور دطرفه يي نسب نامه داده ام الخير بنت الصخر بن عامر بن عمرو بن کعب بن سعد بن تميم بن مره (طبقات ابن سعد)

شپږم پشت مره کې صديق اکبر رضي الله عنه نسب درسول الله صلي الله عليه وسلم دنسب سره يوځاي کيږي دماشوموالي نه يي درسول الله سره دوستي وه او په تجارت کې به هم ورسره يوځاي تلو (کنز العمال ٢/ ٣١٣)

دټولو انسانانو نه مخکې داسلام قبلولو سعادت ورته هم په نصيب شوی وو او په هره غزوه کې درسول

الله سره شريك شوى دى او هيڅ كله د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه جدا شوى نه دى نه د اسلام نه مخكې او نه د اسلام نه پس بلكه په ژوندكې كې او د مرګ نه پس هم يوځاي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم د وفات نه پس د هجرت په يولسم كال تمامو خلقو په اتفاق سره اولنى خليفه مقرر كړو د خلافت موده يې دوه كاله او ځلور مياشتې وه واضحه كارنامه يې داده چې د قران كريم متفرق اجزاء يې د يو كتاب په شكل كې جمع كړل او كوم ډله مخكې به قران په يوځاي نشو موندلى او په ځلورو واړو اطرافو كې چې د اسلام خلاف كومې خبرې خورېدلې د هغې مخه يې اونيوله او دين ته يې دوباره هغه نوى ترتيب وركړو په كوم چې رسول الله صلي الله عليه وسلم پريخودلى وو.

وفات: په صديق اكبر رضي الله عنه باندې تبه راغله او تقريبا پنځلس ورځې په همدې حالت كې تيرې شوې چې بيا د ګل په ورځ د سه شنبې په شپه د ۲۳ كلونو په عمر كې او د جمادي الاولى په دیارلسم ددې دنيا نه سفر اوكړو (ربيع الاول).

د مروياتو شمير يې ۱۴۲ دى چې شپږ پكې متفق عليه دي او يولس صرف په بخاري كې دي او يو په مسلم كې دى.

****

۳۰۹۷ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ، يَقُولُ: لَمَّا تُوُفِّيَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أُبَيٍّ، دُعِيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلصَّلَاةِ عَلَيْهِ، فَقَامَ إِلَيْهِ فَلَمَّا وَقَفَ عَلَيْهِ يُرِيدُ الصَّلَاةَ تَحَوَّلْتُ حَتَّى قُمْتُ فِي صَدْرِهِ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَعَلَى عَدُوِّ اللَّهِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أُبَيٍّ القَائِلِ يَوْمَ كَذَا وَكَذَا كَذَا وَكَذَا يَعُدُّ أَيَّامَهُ. قَالَ: وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَبَسَّمُ، حَتَّى إِذَا أَكْثَرْتُ عَلَيْهِ، قَالَ: " أَخِّرْ عَنِّي يَا عُمَرُ، إِنِّي خُيِّرْتُ فَاخْتَرْتُ قَدْ قِيلَ لِي: اسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ إِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً فَلَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ (التوبة :۸۰) لَوْ أَعْلَمُ أَنِّي لَوْ زِدْتُ عَلَى السَّبْعِينَ غُفِرَ لَهُ لَزِدْتُ، قَالَ: ثُمَّ صَلَّى عَلَيْهِ وَمَشَى مَعَهُ فَقَامَ عَلَى قَبْرِهِ حَتَّى فُرِغَ مِنْهُ قَالَ: فَعَجَبٌ لِي وَجُرْأَتِي عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَاللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، فَوَاللَّهِ مَا كَانَ إِلَّا يَسِيرًا حَتَّى نَزَلَتْ هَاتَانِ الْآيَتَانِ وَلَا تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَى قَبْرِهِ (التوبة :۸۴) إِلَى آخِرِ الْآيَةِ، قَالَ: فَمَا صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَهُ عَلَى مُنَافِقٍ، وَلَا قَامَ عَلَى قَبْرِهِ حَتَّى قَبَضَهُ اللَّهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. ([1])

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الجنائز ۸۳ (۱۳۶۶) . وتفسير التوبة ۱۲ (۴۶۷۱) . سنن النسائي/الجنائز ۶۹ (۱۹۶۸) (تحفة الأشراف : ۱۰۵۰۹) . و مسند احمد (۱/۱۶)

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې دعمر رضي الله عنه نه مي اوريدلي دي فرمائي چې كله عبدالله بن ابيّ مړ شو رسول الله صلي الله عليه وسلم په هغه باندي دجنازي كولو دپاره راوغښوتلي شو رسول الله اودريدو او دده طرف ته ورمخكي شو او دده په مخامخ اودريدو او د مونځ شروع كولو اراده يي كوله تردي چې ما ورتوپ كړل او دهغه دسيني مخامخ اودريدم ما اووئيل اي دالله رسوله ايا ته دالله تعالي په دشمن عبدالله بن ابيّ باندي دجنازي مونځ كوي دا هغه كس دي چاچې په فلانئ فلانئ داسي وئيلي وو هغه دده دبي ادبئ او بدتميزئ ورځو دشميرلو په حال كي بيانولي او رسول الله صلي الله عليه وسلم خاندل تردي پوري چې ما ډير څه اووئيل «دحد نه مي تجاوز اوكړو» نو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل «بس بس» اي عمر زما نه لرې دراخوا شه ماته اختيار راكړي شوي دي ما دده دپاره مغفرت غوښتلو ته ترجيح وركړه ځكه چې ماته وئيلي شوي دي " اسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْ لا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ إِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً فَلَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ " بيا رسول الله په عبدالله بن ابيّ باندي جنازه اوكړه او دجنازي سره يي لاړو او دده په قبر باندي اودريدو تردي پوري چې دده دكفن او دفن نه فارغ شو، نو رسول الله صلي الله عليه وسلم په شان كي زه پخپل جرئت باندي حيران شوم الله او دهغه رسول بهتر پوهيږي زما دي په الله قسم وي لږ وخت نه وو تير شوي چې دا دوه ايتونه نازل شول " وَلا تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا وَلا تَقُمْ عَلَى قَبْرِهِ " بيا ددينه پس رسول الله صلي الله عليه وسلم دوفات كيدو پوري هيڅ كله په كوم منافق باندي دجنازي مونځ نه دي كړي او نه يي په قبر باندي د دعا كولو دپاره اودريدلي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي.

****

٣٠٩٨_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ، أَخْبَرَنَا نَافِعٌ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: جَاءَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أُبَيٍّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ مَاتَ أَبُوهُ، فَقَالَ: أَعْطِنِي قَمِيصَكَ أُكَفِّنْهُ فِيهِ، وَصَلِّ عَلَيْهِ، وَاسْتَغْفِرْ لَهُ. فَأَعْطَاهُ قَمِيصَهُ وَقَالَ: إِذَا فَرَغْتُمْ فَآذِنُونِي". فَلَمَّا أَرَادَ أَنْ يُصَلِّيَ جَذَبَهُ عُمَرُ، وَقَالَ: أَلَيْسَ قَدْ نَهَى اللَّهُ أَنْ تُصَلِّيَ عَلَى الْمُنَافِقِينَ ؟ فَقَالَ: "أَنَا بَيْنَ خِيَرَتَيْنِ اسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْ لا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ (التوبة :٨٠) فَصَلَّى عَلَيْهِ. فَأَنْزَلَ اللَّهُ وَلا تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا وَلا تَقُمْ عَلَى قَبْرِهِ (التوبة :٨٤) فَتَرَكَ الصَّلاةَ عَلَيْهِمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ

حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی فرمائي چي کله د عبد الله بن ابیٔ پلار مړ شو نو عبد الله د نبي کريم صلي الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شو اوعرض يی اوکړو اي دالله رسوله عبدالله بن ابي مړشو تاسوراته دهغه دکفن دپاره خپل قميص مبارك راکړئ، رسول الله ورباندي جنازه وکړله او دهغه دمغفرت دعا يي اوغوښتله او خپل قميص اوويستلو او ورته يی ورکړو او ورته يي اوفرمائيل که ويره درباندي راغله نو بيا ما خبر کړئ. راوي وايي کله چي رسول الله په هغه باندي د جنازي کولو اراده وکړله نو عمر رضي الله عنه راښکلو او عرض يي وکړو ايا ته الله تعالي په منافقانو دجنازي کولو نه نه يي منع کړی نو وئي فرمائيل زه د دوه اختيارونو په مينځ کي يم چي ددوئ دپاره مغفرت اوغواړم اوکه نه نو چي جنازه يي ورباندي وکړله نو الله تعالي دا ايت نازل کړو: وَلا تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا وَلا تَقُمْ عَلَى قَبْرِهِ نو بيا رسول الله ددينه پس په منافقانو جنازه کول پرينښودل.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دی.

تشريح : ددي حديث نه يوه مسئله معلومه شوه چي ديهوديانوسره محبت کول دبدي خاتمي سبب دی ، اوددوي سره بغض اوحسد ساتل دقرب الهي اودخاتمه بالخير سبب دی .

****

٣٠٩٩_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ أَبِي أَنَسٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّهُ قَالَ: "تَمَارَى رَجُلَانِ فِي الْمَسْجِدِ الَّذِي أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَى مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ فَقَالَ رَجُلٌ هُوَ مَسْجِدُ قُبَاءَ، وَقَالَ الآخَرُ: هُوَ مَسْجِدُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " هُوَ مَسْجِدِي هَذَا "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ عِمْرَانَ بْنِ أَبِي أَنَسٍ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا عَنْ أَبِي سَعِيدٍ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ، وَرَوَاهُ أُنَيْسُ بْنُ أَبِي يَحْيَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. (2)

---

1 _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الجنائز ٢٢ (١٢٦٩) . وتفسير التوبة ١٢ (٤٦٧٠) . و١٣ (٤٦٧٢) . واللباس ٨ (٥٧٩٦) . صحيح مسلم /فضائل الصحابة ٢ (٢٤٠٠) . والمنافقين (٢٧٧٤) . سنن ابن ماجه/الجنائز ٣١ (١٥٢٣) (تحفة الأشراف : ٨١٣٩) . و مسند احمد (٢/١٨)

2 _ صحيح مسلم/المناسک ٩٦ (١٣٩٨) (تحفة الأشراف : ٤١١٨) (تحفة الأشراف : ١٢٣٠٩)

ترجمه: دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې دوه کسان وو دهغه مسجد باره کي اختلاف کولو دکوم تاسيس او تعمير چې داولي ورځي نه په تقوي باندي شوي وو يو کس اووئيل دا مسجد قبا دي او بل کس اووئيل هغه مسجد نبوي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هغه زما همدامسجد (مسجد نبوي) دي.

امام ترمذي وايي: دعمران بن ابي انس په روايت داحديث حسن صحيح غريب دي دا حديث دابوسعيد خدري نه ددي سند دا حديث انيس بن ابي يحي دخپل پلار نه او هغه دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه هم نقل کړي دي.

****

٣١٠٠ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ الْحَارِثِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ أَبِي مَيْمُونَةَ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ فِي أَهْلِ قُبَاءَ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ (التوبة :١٠٨)، قَالَ: كَانُوا يَسْتَنْجُونَ بِالْمَاءِ فَنَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ فِيهِمْ ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ. عَنْ أَبِي أَيُّوبَ، وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، وَمُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ. (1)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ايت کريمه " فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ " داهل قبا باره کي نازل شوي دي دهغوی دا عادت وو چې استنجاء به يي په اوبو باندي کوله تردي چې ددوی په شان کي دا ايت نازل شو.

امام ترمذي وايي: دا حديث په دي سند غريب دي، او په دي باب کي دابوايوب ، انس بن مالك، محمد بن عبدالله بن سلام رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي.

****

٣١٠١ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي الْخَلِيلِ كُوفِيٌّ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: " سَمِعْتُ رَجُلًا يَسْتَغْفِرُ لِأَبَوَيْهِ وَهُمَا مُشْرِكَانِ، فَقُلْتُ لَهُ: أَتَسْتَغْفِرُ لِأَبَوَيْكَ وَهُمَا مُشْرِكَانِ ؟ فَقَالَ: أَوَلَيْسَ اسْتَغْفَرَ إِبْرَاهِيمُ لِأَبِيهِ وَهُوَ مُشْرِكٌ ؟ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَزَلَتْ مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ (التوبة : ١١٣) ". قَالَ أَبُو

---

1 ـ سنن ابي داود/الطهارة ٢٣ (٤٤) ، سنن ابن ماجه/الطهارة ٢٨ (٣٥٧) (تحفة الأشراف : ١٢٣٠٩)

عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِيهِ. (1)

ترجمه: دعلي رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې ما ديو کس نه دخپل مشرك مور پلار دپاره دمغفرت غوښتلو دعا واوريدله نو ما ورته اووئيل ايا دخپل مشرك مور پلار دپاره دمغفرت دعا غواړي؟ هغه اووئيل ايا ابراهيم عليه السلام دخپل مشرك پلار دپاره دمغفرت دعانه وه غوښتلې بيا ما ددې خبرې ذکر نبي کريم صلي الله عليه وسلم ته اوکړو نو دا ايت کريمه "ماکان للنبي والذين امنوا ان يستغفروا للمشرکين" نازل شو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دی ، او په دې باب کې دسعيد بن مسيب رضي الله عنه نه هم روايت وارد دې او هغه دخپل پلار نه روايت نقل کوي.

****

٣١٠٢_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: لَمْ أَتَخَلَّفْ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةٍ غَزَاهَا حَتَّى كَانَتْ غَزْوَةُ تَبُوكَ، إِلَّا بَدْرًا وَلَمْ يُعَاتِبِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَدًا تَخَلَّفَ عَنْ بَدْرٍ، إِنَّمَا خَرَجَ يُرِيدُ الْعِيرَ فَخَرَجَتْ قُرَيْشٌ مُغَوِّثِينَ لِعِيرِهِمْ، فَالْتَقَوْا عَنْ غَيْرِ مَوْعِدٍ، كَمَا قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: وَلَعَمْرِي إِنَّ أَشْرَفَ مَشَاهِدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي النَّاسِ لَبَدْرٌ، وَمَا أُحِبُّ أَنِّي كُنْتُ شَهِدْتُهَا مَكَانَ بَيْعَتِي لَيْلَةَ الْعَقَبَةِ حَيْثُ تَوَاثَقْنَا عَلَى الْإِسْلَامِ، ثُمَّ لَمْ أَتَخَلَّفْ بَعْدُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، حَتَّى كَانَتْ غَزْوَةُ تَبُوكَ وَهِيَ آخِرُ غَزْوَةٍ غَزَاهَا، وَآذَنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسَ بِالرَّحِيلِ فَذَكَرَ الْحَدِيثَ بِطُولِهِ، قَالَ: فَانْطَلَقْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا هُوَ جَالِسٌ فِي الْمَسْجِدِ وَحَوْلَهُ الْمُسْلِمُونَ، وَهُوَ يَسْتَنِيرُ كَاسْتِنَارَةِ الْقَمَرِ، وَكَانَ إِذَا سُرَّ بِالْأَمْرِ اسْتَنَارَ فَجِئْتُ فَجَلَسْتُ بَيْنَ يَدَيْهِ، فَقَالَ: "أَبْشِرْ يَا كَعْبُ بْنَ مَالِكٍ بِخَيْرِ يَوْمٍ أَتَى عَلَيْكَ مُنْذُ وَلَدَتْكَ أُمُّكَ". فَقُلْتُ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ، أَمِنْ عِنْدِ اللَّهِ أَمْ مِنْ عِنْدِكَ؟ قَالَ: "بَلْ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ، ثُمَّ تَلَا هَؤُلَاءِ الْآيَاتِ لَقَدْ تَابَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِنْ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ إِنَّهُ بِهِمْ رَءُوفٌ رَحِيمٌ (التوبة: ١١٧)، قَالَ: وَفِينَا أُنْزِلَتْ أَيْضًا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ (التوبة: ١١٩)"، قَالَ: قُلْتُ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ، إِنَّ مِنْ تَوْبَتِي أَنْ لَا أُحَدِّثَ إِلَّا صِدْقًا وَأَنْ أَنْخَلِعَ مِنْ مَالِي كُلِّهِ صَدَقَةً إِلَى اللَّهِ وَإِلَى رَسُولِهِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "

---

1 _ سنن النسائي/الجنائز ١٠٢ (٢٠٣٨) (تحفة الأشراف: ١٠١٨١). ومسند أحمد (١/١٣٠، ١٣١)

أَمْسِكْ عَلَيْكَ بَعْضَ مَالِكَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ "، فَقُلْتُ: فَإِنِّي أُمْسِكُ سَهْمِيَ الَّذِي بِخَيْبَرَ. قَالَ: " فَمَا أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيَّ نِعْمَةً بَعْدَ الْإِسْلَامِ أَعْظَمَ فِي نَفْسِي مِنْ صِدْقِي رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ صَدَقْتُهُ أَنَا وَصَاحِبَايَ لَا نَكُونُ كَذَبْنَا فَهَلَكْنَا كَمَا هَلَكُوا، وَإِنِّي لَأَرْجُو أَنْ لَا يَكُونَ اللَّهُ أَبْلَى أَحَدًا فِي الصِّدْقِ مِثْلَ الَّذِي أَبْلَانِي، مَا تَعَمَّدْتُ لِكَذِبَةٍ بَعْدُ وَإِنِّي لَأَرْجُو أَنْ يَحْفَظَنِي اللَّهُ فِيمَا بَقِيَ ".

قَالَ: وَقَدْ رُوِيَ عَنِ الزُّهْرِيِّ هَذَا الْحَدِيثُ بِخِلَافِ هَذَا الْإِسْنَادِ، وَقَدْ قِيلَ: عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ عَمِّهِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ كَعْبٍ، وَقَدْ قِيلَ غَيْرُ هَذَا، وَرَوَى يُونُسُ بْنُ يَزِيدَ هَذَا الْحَدِيثَ عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ أَبَاهُ حَدَّثَهُ عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ. [1]

ترجمه: عبد الرحمن بن كعب بن مالك رضي الله عنه د خپل پلار نه روايت كوي چي د تبوك نه علاوه په يوه غزا كې رسول الله صلي الله عليه وسلم دملګرتيا نه نه يم پاتي شوى كومو ته چي رسول الله صلي الله عليه وسلم پخپله تلي دى ليكن دبدر نه پاتي كيدونكو ته زورنه نه ده وركړي شوي تردي چي غزوه تبوك واقع شوه، ځكه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم او مسلمانان دقريشو دقافلى مخي ته وتلي وو، دجنګ اراده يي نه وه، ليكن بي ارادي الله تعالي دشمن سره مخامخ كړل لكه چي الله تعالي فرمائيلي دي ، او زه درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كې حاضر وم دعقبى په شپه كله چي مونږ په اسلام دمضبوط پاتي كيدو قول او اقرار كړى وو او زه دا نه خوښوم چي دعقبي په بدل كې دبدر په غزا كې شريك شوى وى اګر چي خلقو كې ددي شهرت زيات دى ، بيا ددي نه پس په بله غزا كې زه چرته درسول الله نه وروسته نه يم پاتي شوى تردي چي غزوه تبوك راغله او دا يي د ټولو نه اخري غزوه وه، بيا رسول الله خلقو ته د تلو حكم وكړو، بيا راوي اوږد حديث ذكر كړو، كعب وايي چي بيا زه رسول الله طرف ته روان شوم چي ورغلم نو په مسجد كي ناست وو چي مسلمانان ورنه چاپيره ناست وو، او مخ مبارك يي د سپوږمۍ پشان پړقيدو دهغوئ دا عادت وو چي كله به خوشحاله وو نو مخ به يي پړقيدو نو زه ورغلم او مخامخ ورته كيناستم نو ماته يي وفرمائيل اي كعب تاته بشارت دى ، ستا دپيدائش د ورځي نه تردي ورځي پوري دا ستا دپاره د ټولو نه لوى د نيك بختئ خبر دى، ما عرض وكړو اي دالله رسوله دا بشارت ستاسو د طرفه دي او كه د الله تعالي دطرفه دى راته يي وفرمائيل بلكه د الله تعالي دطرفه دى او بيا يي دا ايتونه: لَقَدْ تَابَ

[1] ــ البخاري في الجامع الصحيح /الجهاد ١٠١ (٢٩٤٧، ٢٩٤٨)، والمغازي ٧٩ (٤٤١٨)، وسنن ابي داود/ الجهاد ١٠١ (٢٦٣٧) (تحفة الأشراف : ١١١٥٣)

اللهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ الخ. تلاوت کړل: کعب وايي دا ايت. اتَّقُوا اللهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ هم زمونږ باره کي نازل شوی دی ، کعب وايي ما عرض وکړو يا رسول الله: زما دتوبي تکميل به په دي کيږي چې د رښتياؤ نه علاوه به درته بل څه نه وايم. او په دي چي د ټول مال نه خان خلاص کړم زه ټول مال دالله او دهغه رسول ته صدقه پيش کړم. رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ټول مه صدقه کوه څه خان ته پريږده داسي بهتره ده، ما عرض اوکړو ښه نو دخيبر خپله حصه خان ته پريږدم او عرض مي اوکړو، يا رسول الله ! الله تعالي راباندي دا نجات او احسان دصداقت په وجه اوکړو نو زما دتوبي يوه حصه دا هم شوه چي تر څو ژوندي يم رښتيا به وايم کعب رضي الله عنه اوفرمائيل کله نه چې ما دا خبره کړي ده والله يومسلمان باندي هم الله تعالي په رښتيا وينا کې دومره ازمائش نه دی کړی ، والله دکله نه چې ما درسول الله صلي الله عليه وسلم په مخ کې دا اقرار کړی دی ددينه پس مي هيڅ کله د دروغو اراده هم نه ده کړي او دالله تعالي نه اوميد لرم چې باقي پاتي عمر کې به مي هم د دروغو نه بچ کړي.

امام ترمذي وايي: دا روايت د زهري نه ددي سند په خلاف په بل سند هم مروي دي، او پدي سند هم مروي دي عن عبد الرحمن بن عبد الله بن كعب بن مالك عن عمه عبيد الله عن كعب، او ددي سند نه په علاوه په سند د يونس بن يزيد عن الزهري عن عبد الرحمن بن عبد الله بن كعب بن مالك ان اباء حدثه عن كعب بن مالك روايت کړي.

لغات: تخلف: خلف دخلفا نه ماخوذ دي په معني دوروسته پاتي کيدو خلف خلفا دسمع نه په معني د چپ لاس ته کيدل او بيوقوف کيدو دي.

يعاتب ، عتب عتبا وعتبانا د نصر او ضرب نه په معني درټلو دي .

شهدت، شهد شهودا دسمع باب نه دي په معني دحاضريدو په مجلس کې اود کرم نه هم راځي په معني دګواهئ ورکولو.

تواثق دمفاعله نه په معني دمعاهدي کولو پخپل مينځ کې وريّ دتوريه نه په معني دپټولو.

يعتذرون: اعتذر اعتذارا دباب افتعال نه معني دعذر بيانولو دي او کله کله په معني دعذر قبلولو هم راځي.

تبسم: تبسم تبسما په معني دمسکا سره دي.

تشريح: ددي حديث نه دا اهمه خبره معلومه شوه:: په دروغو کي نجات نشته.

زيري ورکونکو ته تحفه ورکول مستحب دي همدارنګي يعقوب عليه السلام ته چي کله قميص راوړی شو نو هغه هم انعام ورکړی وو داهل تاريخ خيال دی چې دزيري ورکولو دپاره راتلونکي دوه کسان صديق اکبر او عمر فاروق رضي الله عنهما وو.

د کعب بن مالک رضي الله عنه حالات

نوم کعب کنيه ابو عبدالله دپلار نوم يي مالك او دمور نوم يي ليلي بنت زيد بن ثعلبه وه، دبنو سلمه

قبيلې سره يې تعلق وو دجاهليت په زمانه کې يې کنيه ابوبشر وه نو رسول الله صلي الله عليه وسلم وربانديې بدل کړه نو بيايې کنيه ابوعبدالله شوه، په عقبه ثانيه کې داويا کسانو سره وو ،بخاري ۱-۵۵۰،

په بدر کې يې شرکت اونکړې شو او داحد نه پس په تمامو غزاواتو کې شريك شوی دی

دعلي او معاويه رضي الله عنهما په جنگونو کې ددواړو نه جدا پاتې شوی وو دنبي کريم صلي الله عليه وسلم په زمانه کې دري شاعران وو او يو په هغوئ کې کعب وو نو دده په کلام کې ډير اثر وو کله چې دوس قبيلې والادده صرف دوه شعرونه واوريدل نو تول مسلمانان شول.

فقضينا من تهامة كل ريب وخيبر ثم اغمدنا السيوفا

نخيرها ولو نطقت لقالت قواطعهن دوسا وثقيفا

وفات: دامير معاويه رضي الله عنه په زمانه کې دهجرت په ۵۰ کال داويا کالو په عمر کې وفات شو تعداد درواياتو يې ۸۰ دی کوم چې په بخاري او مسلم کې متفق عليه دي او دوه صرف په مسلم کې دي او دري صرف په بخاري کې دي.

****

۳۱۰۳_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ بْنِ السَّبَّاقِ، أَنَّ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ حَدَّثَهُ، قَالَ: بَعَثَ إِلَيَّ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ مَقْتَلَ أَهْلِ الْيَمَامَةِ، فَإِذَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ عِنْدَهُ، فَقَالَ: إِنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ قَدْ أَتَانِي، فَقَالَ: "إِنَّ الْقَتْلَ قَدِ اسْتَحَرَّ بِقُرَّاءِ الْقُرْآنِ يَوْمَ الْيَمَامَةِ، وَإِنِّي لَأَخْشَى أَنْ يَسْتَحِرَّ الْقَتْلُ بِالْقُرَّاءِ فِي الْمَوَاطِنِ كُلِّهَا، فَيَذْهَبَ قُرْآنٌ كَثِيرٌ وَإِنِّي أَرَى أَنْ تَأْمُرَ بِجَمْعِ الْقُرْآنِ، قَالَ أَبُو بَكْرٍ لِعُمَرَ: كَيْفَ أَفْعَلُ شَيْئًا لَمْ يَفْعَلْهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَقَالَ عُمَرُ: هُوَ وَاللَّهِ خَيْرٌ، فَلَمْ يَزَلْ يُرَاجِعُنِي فِي ذَلِكَ حَتَّى شَرَحَ اللَّهُ صَدْرِي لِلَّذِي شَرَحَ لَهُ صَدْرَ عُمَرَ، وَرَأَيْتُ فِيهِ الَّذِي رَأَى، قَالَ زَيْدٌ: قَالَ أَبُو بَكْرٍ: إِنَّكَ شَابٌّ عَاقِلٌ لَا نَتَّهِمُكَ، قَدْ كُنْتَ تَكْتُبُ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْوَحْيَ فَتَتَبَّعِ الْقُرْآنَ، قَالَ: فَوَاللَّهِ لَوْ كَلَّفُونِي نَقْلَ جَبَلٍ مِنَ الْجِبَالِ مَا كَانَ أَثْقَلَ عَلَيَّ مِنْ ذَلِكَ، قَالَ: قُلْتُ: كَيْفَ تَفْعَلُونَ شَيْئًا لَمْ يَفْعَلْهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: هُوَ وَاللَّهِ خَيْرٌ، فَلَمْ يَزَلْ يُرَاجِعُنِي فِي ذَلِكَ أَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ حَتَّى شَرَحَ اللَّهُ صَدْرِي لِلَّذِي شَرَحَ لَهُ صَدْرَهُمَا صَدْرَ أَبِي بَكْرٍ، وَعُمَرَ، فَتَتَبَّعْتُ الْقُرْآنَ أَجْمَعُهُ مِنَ الرِّقَاعِ، وَالْعُسُبِ، وَاللِّخَافِ يَعْنِي الْحِجَارَةَ، وَصُدُورِ الرِّجَالِ، فَوَجَدْتُ آخِرَ سُورَةِ بَرَاءَةَ مَعَ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ ۱۲۸ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِيَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ

الْعَظِيمِ ۱۲۹ (التوبة :۱۲۸-۱۲۹)". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه :دعبید بن سباق بیان دي فرمائي چې زه زید بن ثابت رضي الله عنه ماته حدیث بیان کړې دی چي ابو بکر صدیق رضي الله عنه داهل یمامه دقتل باره کي په ما پسي څوك راولیګلو زه چي ورغلم نو دي وخت کي عمر فاروق ور سره ناست وو ماته یي ووئیل عمر فاروق ماته راغلو او داسي يي اووئیل په جنګ یمامه کي دقران کریم ډیر زیات حافظان شهیدان شوي دي او ماسره دا ویره ده که په همدي طریقه په مختلفو مقاماتو کي دحافظانو دشهادت سلسله جاري پاتي شي نو ددي په نتیجه کي دقران کریم یوه لویه حصه ضایع کیدي شي په دي وجه مناسب ګنړم چې دا قران په یو کتابي شکل کي راجمع کړي شي او په دي باندي حکم اوکړئ دي باره کي ابوبکر عمر رضي الله عنه ته اووئیل زه هغه کار څنګه کولي شم کوم چي رسول الله صلي الله علیه وسلم نه دي کړي عمر رضي الله عنه اووئیل په الله مي دي قسم وي دا ډیر بهتر کار دي او هغه په دي باره کي مسلسل زما سره خبري کول جاري اوساتل تردي پوري چې الله تعالي په دي باره کي زما سینه هم پرانیستله څنګه چې يي دعمر سینه پرانیستلي وه او ما هم په دي باره کي هغه رائي قائم کړه کومه چې دعمر وه، دزید بن ثابت بیان دي ابوبکر رضي الله عنه اوفرمائیل ته یو ځوان او قابل انسان يي مونږ په تا باندي هیڅ الزام نه لګوو (یعني ستا کردار دتعریف قابل دي) تا درسول الله صلي الله علیه وسلم دپاره دوحي کتابت هم کړي دي نو په دي وجه ته دقران پاك تلاش کوه زید بن ثابت رضي الله عنه وائي په الله مي دي قسم وي که هغه ماته دا حکم کړي وي چې زه یو غر دځپل ځاي نه منتقل کړم نو دغه کار به ماته ددي کار نه زیات ګران نه وو ماورته اووئیل تاسو ولي یو داسي کار کول غواړي کوم چې رسول الله صلي الله علیه وسلم پخپله نه دي کړي ابوبکر رضي الله عنه اوفرمائیل په الله مي دي قسم وي دا ډیر بهتر کار دي او بیا ددینه پس ابوبکر او عمر مسلسل ماسره په دي باره کي خبري اتري کولي تردي پوري چې الله تعالي زما سینه هم پرانیستله څنګه چې يي ددوئ دواړو سینه پرانیستلي وه نو ما دقران پاك تلاش شروع کړو او ما دا د چمړي دمختلفو ټکړو او دکجورو دپاڼړو او دخلقو دسینو نه راجمع کړل ، او دسورة توبي اخري ایت مي دخزیمه بن ثابت رضي الله عنه سره اوموندلو " لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ ۱۲۸ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِيَ اللَّهُ لا إِلَهَ إِلا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ " یعني تاسو ته یوداسي رسول راغلي دي ځوك چې تاسو سره تعلق لري او ستاسو په تکلیف کي واقع کیدل نه خوښوي او

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح/تفسير التوبة ۲۰ (۴۶۷۹)، وفضائل القرآن ۳ (۴۹۸۶) (تحفة الأشراف: ۳۴۲۹)

هغه ستاسو دښیګڼي حریص دي او په مومنانو مهربان او رحم کونکي دي مګر که تاسو بیا هم مخ واړولو نو اې رسوله ته ورته اووایه چې زما دپاره الله تعالي کافي دي او دهغه نه علاوه زما بل هیڅ معبود او کارساز نشته ما خاص په هغه توکل کړي دي او هغه دعرش دعظیم پروردګار دي.

امام ترمذي وائي: داحدیث حسن صحیح دي.

لغات : فعرفت: عرف یعرف عرفة وعرفانا په معني دمعرفت سره دي دباب سمع نه : عقال معني پړي جمع یې اعقال راځي.

دزید بن ثابت رضي الله عنه حالات

نوم زید کنیه ابوسعید ، ابوخارجه ، ابوعبدالرحمان لقب مقري ، فرضي، کاتب الوحي ، حبرالامت.

په خزرج قبیله کې دبنو نجار سره تعلق لري او دشپږو کالو عمر کې یې پلار وفات شوی و او دیولسو کالو په عمر کې دمصعب بن عمیر په لاس مسلمان شوی وو کله چې رسول الله صلي الله علیه وسلم مدیني ته راغی نو دی داولسو سورتونو حافظ وو دده عمر په دیارلسو کالو کې روان وو چې دبدرغزوه راغله دده دا خواهش وو چې دی هم پکې شرکت اوکړي مګر دعمر دکموالي په وجه واپس کړی شو او په غزوه خندق کې درسول الله صلي الله علیه وسلم سره یوځای وو.

په جنګ یمامه کې هم شریك شوی وو او په دې جنګ کې په یو غشي هم لګیدلی وو لیکن جسم ته یې څه نقصان نه وو رسیدلی ، رسول الله صلي الله علیه وسلم دوحي دلیکلو کار دډیرو صحابه کرامو نه اخستلی وو په دوئ کې زید بن ثابت رضي الله عنه هم شامل وو.

زید یو عقلمند او انتهائي ذکي انسان وو دهجرت په پنځم کال رسول پاك صلي الله علیه وسلم وفرمائیل ماته دخلقو خطونه راځي چې په عبراني ژبه کې دي په یهودیانو مې اعتبار نشته نو په دې وجه زید صرف په پنځلسو ورځو کې عبراني او سریاني ژبې زده کړې (مسند احمد).

زید دفقه امام وو ګویا کې زید دخلفاء راشده او معاویه رضي الله عنه په زمانه کې مفتي اعظم وو (اعلام الموقعین).

دهجرت په ۴۵کال د ۵۵یا۵۲کالو په عمر کې وفات شو دده دوفات کیدو په مناسبت ابوهریره رضي الله عنه اوفرمائیل نن دعلم یوه خزانه ختمه شوه دده دمرویاتو شمیر ۹۲دی پنځه پده دي کې متفق علیه دي

****

۳۱۰۴ـحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ،

عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ حُذَيْفَةَ قَدِمَ عَلَى عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ وَكَانَ يُغَازِي أَهْلَ الشَّامِ فِي فَتْحِ أَرْمِينِيَةَ وَأَذْرَبِيجَانَ مَعَ أَهْلِ الْعِرَاقِ، فَرَأَى حُذَيْفَةُ اخْتِلَافَهُمْ فِي الْقُرْآنِ، فَقَالَ لِعُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، أَدْرِكْ هَذِهِ الْأُمَّةَ قَبْلَ أَنْ يَخْتَلِفُوا فِي الْكِتَابِ كَمَا اخْتَلَفَتِ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى، فَأَرْسَلَ إِلَى حَفْصَةَ أَنْ أَرْسِلِي إِلَيْنَا بِالصُّحُفِ نَنْسَخُهَا فِي الْمَصَاحِفِ، ثُمَّ نَرُدُّهَا إِلَيْكِ، فَأَرْسَلَتْ حَفْصَةُ إِلَى عُثْمَانَ بِالصُّحُفِ، فَأَرْسَلَ عُثْمَانُ إِلَى زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، وَسَعِيدِ بْنِ الْعَاصِ، وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، أَنِ انْسَخُوا الصُّحُفَ فِي الْمَصَاحِفِ، وَقَالَ لِلرَّهْطِ الْقُرَشِيِّينَ الثَّلَاثَةِ، مَا اخْتَلَفْتُمْ أَنْتُمْ وَزَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ فَاكْتُبُوهُ بِلِسَانِ قُرَيْشٍ فَإِنَّمَا نَزَلَ بِلِسَانِهِمْ، حَتَّى نَسَخُوا الصُّحُفَ فِي الْمَصَاحِفِ بَعَثَ عُثْمَانُ إِلَى كُلِّ أُفُقٍ بِمُصْحَفٍ مِنْ تِلْكَ الْمَصَاحِفِ الَّتِي نَسَخُوا، قَالَ الزُّهْرِيُّ: وَحَدَّثَنِي خَارِجَةُ بْنُ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، أَنَّ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ، قَالَ: فَقَدْتُ :مِنْ سُورَةِ الْأَحْزَابِ، كُنْتُ أَسْمَعُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَؤُهَا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ سورة الأحزاب :٢٣) فَالْتَمَسْتُهَا فَوَجَدْتُهَا مَعَ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ، أَوْ أَبِي خُزَيْمَةَ فَأَلْحَقْتُهَا فِي سُورَتِهَا، قَالَ الزُّهْرِيُّ: فَاخْتَلَفُوا يَوْمَئِذٍ فِي التَّابُوتِ وَالتَّابُوهِ، فَقَالَ الْقُرَشِيُّونَ: التَّابُوتُ، وَقَالَ زَيْدٌ: التَّابُوهُ، فَرُفِعَ اخْتِلَافُهُمْ إِلَى عُثْمَانَ، فَقَالَ: اكْتُبُوهُ التَّابُوتُ فَإِنَّهُ نَزَلَ بِلِسَانِ قُرَيْشٍ، قَالَ الزُّهْرِيُّ: فَأَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ: أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مَسْعُودٍ كَرِهَ لِزَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ نَسْخَ الْمَصَاحِفِ، وَقَالَ: يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِينَ أُعْزَلُ عَنْ نَسْخِ كِتَابَةِ الْمُصْحَفِ وَيَتَوَلَّاهَا رَجُلٌ، وَاللَّهِ لَقَدْ أَسْلَمْتُ وَإِنَّهُ لَفِي صُلْبِ رَجُلٍ كَافِرٍ، يُرِيدُ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ، وَلِذَلِكَ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْعُودٍ: يَا أَهْلَ الْعِرَاقِ اكْتُمُوا الْمَصَاحِفَ الَّتِي عِنْدَكُمْ وَغُلُّوهَا، فَإِنَّ اللَّهَ يَقُولُ وَمَنْ يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ (آل عمران :١٦١) فَالْقُوا اللَّهَ بِالْمَصَاحِفِ، قَالَ الزُّهْرِيُّ: فَبَلَغَنِي أَنَّ ذَلِكَ كَرِهَهُ مِنْ مَقَالَةِ ابْنِ مَسْعُودٍ رِجَالٌ مِنْ أَفَاضِلِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَهُوَ حَدِيثُ الزُّهْرِيِّ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِهِ.[1]

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې حذيفه بن يمان رضي الله عنه عثمان رضي الله عنه ته راغلو او په دې ورځو كې هغه دشام والاسره دارمينيه په فتح كې او دعراق والاسره

[1] ـ أورده البخاري في الصحيح /المناقب ٣ (٣٥٠٦) ، وفضائل القرآن ٢ (٤٩٨٤) ، و٣ (٤٩٨٧) (تحفة الأشراف : ٩٧٨٣)

6/37

دازربائيجان په فتح کې مشغول وو، حذيفه رضي الله عنه دقران په قرائت کې دخلقو اختلاف ته په کتلو سره عثمان رضي الله عنه ته اووئيل اې اميرالمؤمنين د امت په حالاتو سوچ اوکړه مخکې ددينه چې دا کتاب داختلاف ښکار شي (او پخپل مينځ کې جنګونه شروع شي) لکه چې يهود او نصارې پخپلو کتابونو کې اختلاف کړې دې نو عثمان رضي الله عنه حفصه رضي الله عنها ته پيغام اوليږلو (چې دابوبکر او عمر رضي الله عنهما تيارې کړې صحيفې مونږ ته راوليږه مونږ يې په مصاحفو کې ليکو او بيا يې تاته واپس کوو چنانچې ام المؤمنن حفصه رضي الله عنها داصحيفې عثمان بن عفان ته ورواليږلې او بيا عثمان رضي الله عنه زيد بن ثابت او سعيد بن العاص او عبدالرحمن بن حارث بن هشام او عبدالله بن زبير رضي الله عنهم ته دا صحيفې دحکم سره اوليږلې چې دوئ دې ددې مصاحفو نه نقل کړې وې او درې واړه قريشي صحابه کرامو ته يې اووئيل کله چې په تاسو او زيد بن ثابت کې اختلاف راشي دغه وخت کې به قران دقريشو په لهجه کې ليکئ ځکه چې هم د دوئ په ژبه نازل شوې دې ترديه پورې چې کله هغوئ صحيفې مصحف ته نقل کړې نو عثمان دا تيار مصاحف (داسلامي مملکت په حدود اربعه کې) هر يو طرف ته يو يو مصحف اوليږلو، زهري وائي ماته خارجه بن زيد بيان کړې دې چې زيد بن ثابت رضي الله عنه اووئيل ماته دسورة احزاب يو ايت کوم چې ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلې وو دې وخت کې ياد نه دې پاتې شوې او هغه ايت دادې " مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ" نو ما ددې لټون اوکړو او ډير لټون نه پس مې دخزيمه بن ثابت سره اوموندلو خزيمه بن ثابت اووئيل يا ابو خزيمه اووئيل (دراوي شك دې) نو ما دا دده په سورة کې شامل کړو، زهري وائي دغه وخت کې په مسلمانانو کې په يو لفظ کې اختلاف پيدا شو قريشيانو به "التابوت" وئيلو او زيد "التابوه" وئيلو نو ددې اختلاف مې دعثمان رضي الله عنه په وړاندې پيش کړو هغه راته اووئيل التابوت اوليکه ځکه چې قران دقريشو په ژبه نازل شوې دې، ماته عبدالله بن عبيدالله بن عتبه وئيلې دې چې عبد الله بن مسعود رضي الله عنه په مصاحف کې دزيد بن ثابت رضي الله عنه ليکل خوښ نکړل او وئيل يې اې دمسلمانانو ډلې زه په مصاحفو کې دليکلو نه منع کړې شوې يم او دا کار هغه کس ته سپارلې شوې دې څوک چې زما داسلام راوړلو وخت کې ديو کافر په خيټه کې پروت وو (يعني لاپيدا شوې هم نه وو) چې کله ما اسلام قبول کړې وو) دعبدالله بن مسعود مراد زيد بن ثابت رضي الله عنه وو، همدا وجه ده عبدالله بن مسعود رضي الله عنه به فرمائيل اې عراقيانو تاسو دخپل ځان سره قران پاك محفوظ اوساتئ ځکه چې الله تعالي فرمائيلې دې څوك چې کوم څيز لره پټ کړې دې به دقيامت په ورځ خپل پټ کړې څيز دځان سره راوړي، عبدالله بن مسعود اوفرمائيل تاسو به خپل مصحف

دخان سره دالله تعالي دربار ته راوړئ، زهري وائي ماته دا خبره معلومه شوي ده چې دنبي کريم صلي الله عليه وسلم په صحابه کرامو کي بعضي دبعضي اکابرو صحابه کرامو دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه داخبره خوښه نه شوه، او دقران دجمع کولو په لفظ بعضي خلق دوکه کيږي او دا گمان کوي چې قران کريم دنبي کريم صلي الله عليه وسلم په زمانه کي جمع نه وو او بيا روسته صحابه کرامو جمع کړي دي او حال دادي چې دا خبره درست نه ده قران کريم بالکل جمع او مرتب وو او دا رنگي حافظانوته هم ياد وو مگر په يو ځاي ليکلي شوي موجود نه وو او حکومت ته سپارلي شوي هم نه وو، دابوبکر رضي الله عنه په زمانه کي قران سرکاري رکاډ کي داخل شو لکه چې په اولني روايت کي راغاي دي، بيا عثمان رضي الله عنه دمخکي پشان مسلمانانو ته اوسپارلو (دکتاب په مقدمه کي) ددي موضوع تفصيلي بحث تير شوي دي چې مراجعه ورته کولي شئ.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او دزهري په روايت داحديث ددي سند نه علاوه په بل سند مونږ ته معلوم نه دي.

****

۱۱_بَابٌ وَمِنْ سُورَةِ يُونُسَ

دسورة يونس دبعضي ايتونو تفسير

دَدې سورة نوم هم دَ علامت په طور دَ ايت .۹۸ نه اخستی شوی دی. چې په هغی کي دَيُونُس عليه السلام ذکر دی. دَ سورت موضوع بحث دَ يُونُس عليه السلام قصه نۀ ده.

دَ رواياتو او دَ دې سورة دَ موضوع نه دَ دې خبرې تائيد کيږي. چې دا پوره سورة په مکه کي نازل شويدې. دَ بعض خلقو گمان دی چې دَ دې بعضِ ايتونه دَ مدنی دور دی. ليکن دا خبره صحيح نۀ ده. دَ کلام په سلسله چې غور اوکړی شی. نو دا خبره محسوس کيږي. چې دا دَ مختلفو ايتونو يا مختلفو موقعو دَ نازل شوی ايتونو مجموعه نۀ ده. بلکه دَ شروع نه تر آخره پورې دا يو مربوط تقرير دی. چې په يو وخت به دا نازل شوی وی او دَ کلام مضمون په دې خربه دلالت کوی. چې دا دَ مکی دور کلام دی.

دَ زمانه نزول متعلق په رواياتو کي څه ذکر نيشته. ليکن دَ مضمون نه داسی معلوميږي. چې دا سورة به دَ مکی په آخري دور کي نازل شوی وی. ځکه چې دَ کلام دَ انداز نه صفا معلوميږي. چې دَ دعوت دَ مخالفينو د طرف نه مزاحمت انتها ته رسيدلی وۀ. هغوی نبی صلی الله عليه وسلم او صحابه کرام په خپل مينځ کي نه برداشت کول. او دَ دوی نه دا اُميد ختم شوی وۀ. چې دوی به په نيغه لار راشی. نو دويته دَ هغه انجام نه دَ خبرولو وخت راغلو. چې دوی به هغه انجام خامخا اووينی

۳۱۰۵_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ ثَابِتٍ

الْبُنَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ صُهَيْبٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْلِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ: لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَى وَزِيَادَةٌ (يونس :٢٦) قَالَ: " إِذَا دَخَلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ نَادَى مُنَادٍ إِنَّ لَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ مَوْعِدًا يُرِيدُ أَنْ يُنْجِزَكُمُوهُ، قَالُوا: أَلَمْ تُبَيِّضْ وُجُوهَنَا وَتُنَجِّنَا مِنَ النَّارِ وَتُدْخِلْنَا الْجَنَّةَ ؟ قَالَ: فَيُكْشَفُ الْحِجَابُ، قَالَ: فَوَاللَّهِ مَا أَعْطَاهُمُ اللَّهُ شَيْئًا أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِنَ النَّظَرِ إِلَيْهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، هَكَذَا رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، مَرْفُوعًا. وَرَوَى سُلَيْمَانُ بْنُ الْمُغِيرَةِ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى قَوْلَهُ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ صُهَيْبٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.[1]

ترجمه : صهيب رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلي الله عليه وسلم: د ايت كريمه " لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَى وَزِيَادَةٌ " دتفسير متعلق فرمائيلي دي كله چې جنتيان چې جنت ته لاړ شي نويو اعلان كونكي به ورنه تپوس اوكړي تاسو سره د الله تعالي يوه وعده ده چې پوره كول يي غواړي، جنتيان به اووائي ايا تازمونږ مخونه سپين نه كړل ايا مونږ ته دى جنت رانه كړو داور نه دى بچ كړو يعني دا نعمتونه مو بس دي نور څه نه غواړو بيا به الله تعالي پرده پورته كړي نو جنتيان به دخپل رب ديدار اوكړي نو دالله تعالي دديدار نه به زيات هيڅ شى هغوئ ته محبوب نه وي.(الله تعالي دى مونږ ټولو ته خپل ديدار نصيب كړي امين.)

امام ترمذي وايي: دحماد بن سلمه حديث نورو راويانو هم مرفوعا نقل كړي دي او سليمان بن مغيره داحديث عن ثابت عن عبدالرحمن عن ابي ليلي سند سره ذكر كړي دي او په سند كي يي عن صهيب عن النبي صلي الله عليه وسلم الفاظ نه دي ذكر كړي.

لغات :انظر: نظر دنصر او سمع نه نظرا ومنظرا ومنظرة وتنظارا معني كتل ، په غور سره كتل.

تشريح : "فيكشف الهجاب" يعني پرده به پورته كړي، كله چې پرده پورته كړى شي نو جنتيان به په تعجب او حيرانئ كې وي او دا سوچ به كوي چې اخر كوم يو داسي نعمت به پاتي شوى وي چې الله به لاوسه پوري مونږ ته نه وي راكړى ليكن كله چې ورباندي الله تعالي خپل ديدار اوكړي نو ددي په مقابله كې به ورته تمام نعمتونه حقير ښكاره شي دالله تعالي ديدار به دالله دطرفه يو عظيم احسان وي دكوم چې په اصل كې بندګان مستحق نه دي الله تعالي به يي ورباندي دخپل فضل په بنا اوكړي .

"فيكشف الحجاب" دالله تعالي ذات اقدس دپردي نه پاك او منزه دى، دا مطلب نه دى

---

[1] ـ صحيح مسلم/الإيمان ٨٠ (١٨١) ، سنن ابن ماجه/المقدمة ١٣ (١٨٧) (تحفة الأشراف : ٤٩٦٨)

چه(معاذ الله) الله تعالي په پرده کې پټ شوی دی دالله تعالي ددیدار په وخت کې چې کوم منظر وي دا به داسي ښکاري لکه چې پرده پورته کړی شي ځکه چې الله تعالي محجوب نه دی محبوب دی الله تعالي غالب مطلق دی نو پردي دپورته کولو مطلب دادی چې کتونکو ته به داسي ښکاري چې لکه پرده پورته کړی شي.

****

٣١٠٦_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ ابْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ مِصْرَ، قَالَ: سَأَلْتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ، عَنْ هٰذِهِ الآيَةِ لَهُمُ الْبُشْرَى فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا (يونس: ٦٤)، قَالَ: مَا سَأَلَنِي عَنْهَا أَحَدٌ مُنْذُ سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْهَا، فَقَالَ: "مَا سَأَلَنِي عَنْهَا أَحَدٌ غَيْرُكَ مُنْذُ أُنْزِلَتْ فَهِيَ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ يَرَاهَا الْمُسْلِمُ أَوْ تُرَى لَهُ".

حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ رُفَيْعٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ السَّمَّانِ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ مِصْرَ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، فَذَكَرَ نَحْوَهُ.

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ بَهْدَلَةَ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، وَلَيْسَ فِيهِ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ، وَفِي الْبَابِ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ. (1)

ترجمه : د ابو الدرداء ﷛نه د ایت کریمه لَهُمُ الْبُشْرَى فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا متعلق منقول دي فرمائیل یي چې نبي ﷺ نه مي کله دي باره کي تپوس کړي وودهغي نه پس دي باره کي ما نه اوسه پوري بل چا تپوس نه دي کړي ، او بيا يي وفرمائيل کله نه چي دا ايت نازل شوي دي دهغي نه پس دي باره کي ما نه اوسه پوري بل چا تپوس نه دي کړي ، او هغه صرف ښه خوب ليدل باقي پاتی شوی دی چې یو مسلمان يي اووینی یا (دچادپاره) چاته ښودلی شي.

****

٣١٠٧_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا الْحَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ مِهْرَانَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَمَّا أَغْرَقَ اللهُ فِرْعَوْنَ قَالَ: آمَنْتُ أَنَّهُ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ الَّذِي آمَنَتْ بِهِ بَنُو إِسْرَائِيلَ فَقَالَ جِبْرِيلُ: يَا مُحَمَّدُ! فَلَوْ رَأَيْتَنِي وَأَنَا آخُذُ مِنْ حَالِ الْبَحْرِ، فَأَدُسُّهُ فِي فِيهِ مَخَافَةَ أَنْ تُدْرِكَهُ الرَّحْمَةُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هٰذَا حَدِيثٌ

---

1 _ انظر حديث رقم ٢٢٧٣

حَسَنٌ. (۱)

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چې الله تعالي فرعون غرق كړو نو هغه په دي موقعه اووئيل "امنت انه لا اله الا الذي امنت به بنو اسرائيل وانا من المسلمين" بيا جبرائيل عليه السلام اووئيل اي محمد (صلي الله عليه وسلم) كاش چې هغه وخت كي دي زما حالت ليدلي وي ما ددي ويري په وجه چې چرته دا مردود دالله درحم نه لاندي رانشي دسمندر ختي مي راويستلي او دده په خوله كي مي منډلي. امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي

****

۳۱۰۸ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى الصَّنْعَانِيُّ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الْحَارِثِ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، أَخْبَرَنِي عَدِيُّ بْنُ ثَابِتٍ، وَعَطَاءُ بْنُ السَّائِبِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، ذَكَرَ أَحَدُهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ ذَكَرَ أَنَّ جِبْرِيلَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " جَعَلَ يَدُسُّ فِي فِي فِرْعَوْنَ الطِّينَ خَشْيَةَ أَنْ يَقُولَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ فَيَرْحَمُهُ اللَّهُ، أَوْ خَشْيَةَ أَنْ يَرْحَمَهُ اللَّهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (۲)

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل كله چې فرعون ډوبيدو دغه وخت جبرائيل عليه السلام دفرعون په خوله كي ختي منډلي او دا ددي ويري په وجه چې چرته لااله الا الله اونه وائي او دالله تعالي رحم وربانډي رانشي، راوي شك دي چې رسول الله "خشية ان تقول لااله الا الله" اووئيل او كه "خشية ان يرحمه الله" اووئيل.

امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي

****

۱۲ـ بَاب وَمِنْ سُورَةِ هُودٍ

د سورة هود دبعضي ايتونو تفسير

ددي سورة نوم هم د علامي په طور.. سورة هُود ايخودلى شوى دى

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف : ۵۵۶۱، ۵۵۴۲)

[2] ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف : ۵۵۶۱، ۵۵۴۲)

د نزول زمانه د سورة د نزول زمانه هم هغه ده كومه چې د سورة يونس ده. ليكن په دې كې په تنبيه او انداز كې لږه سختي ده.

موضوع او مباحث: د دې سورة د موضوع تقرير هم هغه شان دی لکه څنګه چې د سورة يونس دی. په دې دعوت. فهمائيش او تنبيه ده د دې سورة دعوت مختصر دی او وعظ نصيحت په كې ډير دی او په تنبيه كې تفصيل او زور دی.

دعوت دا دی چې د دې پيغمبر خبره اومنئ: شرك پرېږدئ د مخلوق بندګي مه كوئ او د الله تعالى بندګي اختيار كړئ. او خپل دنيوی نظام په دې احساس سره قائم كړئ. چې په آخرت كې تاسو جواب وركونكي يئ.

حقيقت دا دی. چې چا د دنيا په ظاهري ژوند اعتماد كړی دی او د رسولانو د خبرې نه ئې انكار كړی دی. د هغوی انجام ډير خراب ؤو. نو تاسو د هغوی د نقش قدم نه ځان بچ اوساتئ تنبيه دا ده. چې الله تعالى ستاسو په عذاب كې روستو والی كوی نو دا په اصل كې يو مهلت دی. چې الله تعالى په خپل فضل سره تاسو ته دركړی دی. كه په دې مهلت كې تاسو خپل طرز عمل صحيح نه كړو. نو هغه عذاب به خامخا راځي. او بيا به نې څوك واپس كولی نه شي.

د دې مضمون دپاره د خطاب په ځای باندې براه راست د قوم نوح عاديانو. ثموديانو. قوم لوط. مدين والو او د فرعون د قوم د واقعاتو بيانولو نه كار اخستی شوی دی. او په دې قصو كې چې كومه خبره ښكاره ده. نو هغه دا ده. چې الله تعالى يو ځل د عذاب فيصله اوكړی نو عذاب راولی. په دې كې د هيچا سره هيڅ رعايت نه كيږی. كه هر څوك وی. او د هر څومره بزرګي، هستي سره د هغه تعلق وی. خو چې نافرمان وی نو بچ كيدی نه شي او نه ئې هغه هستي بچ كولی شي. كه د پيغمبر ځوئ وی او كه د پيغمبر بي بي وی. او رحمت په هغه چا كيږی. چې په نيغه لار روان وی. بلكه دا چې د كفر او ايمان په مينځ كې آخری فيصله كيږی. نو د دين فطرت دا غواړی. چې دپلار او ځوی او د خاوند او ښځې رشته دې هيره كړی. او د الله تعالى د انصاف د تورې په شان د حق نه علاوه ټولې رشتې دې ختم كړی شي. او په داسې موقعه باندې د وينې او نسب د رشتې هيڅ لحاظ نه دی پكار.

او د دې تعليم د وجې نه د بدر په جنګ كې صحابه كرامو د دې جزيي مظاهره كړی ده.

٣١٠٩ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ يَعْلَى بْنِ عَطَاءٍ، عَنْ وَكِيعِ بْنِ حُدُسٍ، عَنْ عَمِّهِ أَبِي رَزِينٍ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيْنَ كَانَ رَبُّنَا قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ خَلْقَهُ؟ قَالَ: "كَانَ فِي عَمَاءٍ مَا تَحْتَهُ هَوَاءٌ وَمَا فَوْقَهُ هَوَاءٌ وَخَلَقَ عَرْشَهُ عَلَى الْمَاءِ". قَالَ أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، قَالَ يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ الْعَمَاءُ: أَيْ لَيْسَ مَعَهُ شَيْءٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَكَذَا رَوَى حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، وَكِيعُ بْنُ حُدُسٍ، وَيَقُولُ شُعْبَةُ، وَأَبُو عَوَانَةَ، وَهُشَيْمٌ: وَكِيعُ بْنُ عُدُسٍ وَهُوَ أَصَحُّ.

وَأَبُو رَزِينٍ اسْمُهُ لَقِيطُ بْنُ عَامِرٍ، قَالَ: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. [1]

ترجمه :دابورزين بيان دي فرمائي چې مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه تپوس اوکړو الله تعالي دمخلوق پيداکولو نه مخکي چرته وو ؟ رسول الله اوفرمائيل "عماء" کي وو، نه ورنه لاندي هواء وه او نه دپاسه او خپل عرش يي په اوبو باندي جوړکړي وو، احمد بن منيع وائي زمونږ داستاذ يزيد قول دي عماء مطلب دادي چې کوم څيز ورسره نه وو.

امام ترمذي وايي:داحديث حسن دي دارنګي حماد بن سلمه پخپل روايت کي خدس واسطه ذکر کړي ده او شعبه او ابو عوانه او هشيم وکيع بن عدس ذکر کړي دي.او همدازيات صحيح دي او دابو رزين نوم لقيط بن عامر دي.

****

٣١١٠ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِي مُوسَى، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّ اللَّهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يُمْلِي، وَرُبَّمَا قَالَ: يُمْهِلُ، لِلظَّالِمِ حَتَّى إِذَا أَخَذَهُ لَمْ يُفْلِتْهُ ثُمَّ قَرَأَ وَكَذَلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرَى وَهِيَ ظَالِمَةٌ (هود :١٠٢) الْآيَةَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رَوَاهُ أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ بُرَيْدٍ نَحْوَهُ، وَقَالَ: يُمْلِي. [2]

ترجمه : دابو موسي اشعري رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي يقينا الله تعالي ظالم ته مهلت ورکوي مګر کله چې ده لره اونيسي نو بيا يي نه پريږدي او بيا يي دا ايت کريمه "وَكَذَلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرَى وَهِيَ ظَالِمَةٌ" تلاوت کړو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي او همدارنګي ابو اسامه هم دبريده نه دماقبل هم معني نقل کړي دي او يملي لفظ يي استعمال کړي دي.

****

حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعِيدٍ الْجَوْهَرِيُّ، عَنْ أَبِي أُسَامَةَ، عَنْ بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ

---

1 ـ سنن ابن ماجه/المقدمة ١٣ (١٨١) (تحفة الأشراف : ١١١٧٦)

2 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /تفسير هود ٣ (٤٦٨٦) . صحيح مسلم/البر والصلة ١٥ (٢٥٨٣) . سنن ابن ماجه/الفتن ٢٢ (٤٠١٨) (تحفة الأشراف : ٩٠٣٧)

جَدِّهِ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِي مُوسَى، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، وَقَالَ: يُمْلِي وَلَمْ يَشُكَّ فِيهِ. [1]

ترجمه : ابوبرده دخپل پلار ابوموسي اشعري رضي الله عنه په واسطه هم دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه ددي هم معني روايت نقل كړي دي او يملي لفظ يي بغير دشك نه ذكر كړي دي.

د ابوبرده بن ابوموسي اشعري رضي الله عنه حالات

نوم عامر كنيه ابوبرده عامر دمشهور صحابي ابوموسي اشعري ځوي دی چې زيات علم يي دعبدالله بن سلام نه حاصل كړی دی او دده سره سره يي دخپل پلار نه هم حاصل كړی دی په دي باره كې حافظ ذهبي داسي ليكلي دي ابو برده بن ابي موسي اشعري الفقيه احد الائمه الاثبات (تذكرة الحفاظ).

امام نووي په تهذيب الاسماء كې ليكلي دي چې دده په توثيق دټولو اهل علمو اتفاق دی علامه ابن سعد وائي كان ثقة كثير الحديث يعني ابو برده يو داسي ثقه راوي دی چې په كثرت سره احاديث بيانوي، قاضي شريح نه پس دكوفي قاضي پاتي شوی دی (شذرات الذهب) او بيا دده دوفات نه پس دده ځوي قاضي مقرر كړی شو ۱۰۴ كې وفات شوی دی.

****

۳۱۱۱ـ حَدَّثَنَا بُنْدَارٌ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ الْعَقَدِيُّ هُوَ عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ سُفْيَانَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، قَالَ: "لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَسَعِيدٌ (هود: ۱۰۵) سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ، فَعَلَى مَا نَعْمَلُ عَلَى شَيْءٍ قَدْ فُرِغَ مِنْهُ أَوْ عَلَى شَيْءٍ لَمْ يُفْرَغْ مِنْهُ؟ قَالَ: "بَلْ عَلَى شَيْءٍ قَدْ فُرِغَ مِنْهُ وَجَرَتْ بِهِ الْأَقْلَامُ يَا عُمَرُ وَلَكِنْ كُلٌّ مُيَسَّرٌ لِمَا خُلِقَ لَهُ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عَمْرٍو. [2]

ترجمه : دعمرفاروق رضي الله عنه بيان دي فرمائي كله چې ايت كريمه "فمنهم شقي وسعيد" نازل شو نو مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه تپوس اوكړو چې اي دالله رسوله بيا به مونږ دخه څيز موافق عمل كوو؟ ايا دهغه څيز موافق عمل به كوو دكوم نه چې فارغيدل

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /تفسير هود ۴ (۴۶۸۶)، صحيح مسلم/البر والصلة ۱۵ (۲۵۸۳)، سنن ابن ماجه/الفتن ۲۲ (۴۰۱۸) (تحفة الأشراف: ۹۰۳۶)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۱۰۵۴۰)

شوي دي (يعني دكوم څيز چې فيصله شوي ده) او كه دداسي څيز مطابق به عمل كوو دكوم نه چې فارغيدل نه دي شوي (يعني لاتراوسه يي فيصله نه ده شوي) رسول الله اوفرمائيل اي عمر مونږ دهغه څيز موافق عمل كوو دكوم نه چې فارغيدل شوي دي او زمونږ دعمل نه مخكې دغه څيز په ضبط او تحرير كې راغلي دي ليكن خبره صرف دومره ده هر يو كس ته هغه څيز اسان كړي شوي دي دكوم دپاره چې دده پيدائش شوي دي.
امام ترمذي وايي: داحديث په دې سند حسن غريب دي او مونږ يي صرف دعبدالملك بن عمرو په سند پيژنو.

****

٣١١٢ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، وَالأَسْوَدِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: إِنِّي عَالَجْتُ امْرَأَةً فِي أَقْصَى الْمَدِينَةِ وَإِنِّي أَصَبْتُ مِنْهَا مَا دُونَ أَنْ أَمَسَّهَا، وَأَنَا هَذَا فَاقْضِ فِيَّ مَا شِئْتَ. فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: لَقَدْ سَتَرَكَ اللَّهُ لَوْ سَتَرْتَ عَلَى نَفْسِكَ، فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا، فَانْطَلَقَ الرَّجُلُ فَأَتْبَعَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا فَدَعَاهُ فَتَلَا عَلَيْهِ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَلِكَ ذِكْرَى لِلذَّاكِرِينَ (هود: ١١٤) إِلَى آخِرِ الآيَةِ. فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ: هَذَا لَهُ خَاصَّةً، قَالَ: لَا بَلْ لِلنَّاسِ كَافَّةً".

قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَهَكَذَا رَوَى إِسْرَائِيلُ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، وَالأَسْوَدِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، وَرَوَى سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ، وَرِوَايَةُ هَؤُلَاءِ أَصَحُّ مِنْ رِوَايَةِ الثَّوْرِيِّ، وَرَوَى شُعْبَةُ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الأَسْوَدِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ.

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى النَّيْسَابُورِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ، عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنِ الأَعْمَشِ، وَسِمَاكٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ.

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ.

وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ الأَعْمَشَ، وَقَدْ رَوَى سُلَيْمَانُ التَّيْمِيُّ هَذَا الحَدِيثَ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (1)

ترجمه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دي فرماني چې يوكس رسول الله صلي الله عليه وسلم ته راغي او وئي وئيل چې مادمديني دلاندي حصي ديوي ښځي نه فائده واخستله په خكلولواومعانقي وغيره سره اودجماع نه علاوه مي ورسره هرڅه وكړل ، زه ستاپه وړاندي حاضريم زماداپاره چې څه سزاوي ماته ئي راكړه ، عمر رضي الله عنه ورته ووئيل يقيناپتاباندي الله تعالي پرده اچولي وه خوكاش چې تاپه خپل ځان باندي په خپله پرده اچولي وي ، اورسول الله صلي الله عليه وسلم ورته هيڅ جواب ورنكړو او دي روان شو. بياورپسي رسول الله صلي الله عليه وسلم څوك ورواليګلو اودي ئي راوغوښتلواو دا ايت كريمه ئي ورته تلاوت كړو: (وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ) ايت تراخره پوري نويه خلقوكي يوكس ووئيل اي دالله رسوله ايا داحكم دده دپاره خاص دي اوكه دهرچاداپاره دي؟رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل بلكه دهرچاداپاره دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي دارنګي ددي پشان روايت اسرائيل دسماك نه او سماك دابراهيم نه او ابراهيم دعلقمه او اسود دواړو نه او دوئ دواړو دعبدالله بن مسعود په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي، او همدي سفيان ثوري دا روايت دسماك نه او سماك دابراهيم نه او ابراهيم دعبدالرحمن بن يزيد نه او عبدالرحمن دعبدالله په واسطه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مګر ددوئ روايت دسفيان درروايت نه زيات صحيح دي، شعبه دسماك بن حرب نه او سماك دابراهيم نه او ابراهيم داسود نه او اسود دعبدالله په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه.

****

٣١١٣_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ عَلِيٍّ الجُعْفِيُّ، عَنْ زَائِدَةَ، عَنْ عَبْدِ المَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، قَالَ: " أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَرَأَيْتَ رَجُلًا لَقِيَ امْرَأَةً وَلَيْسَ بَيْنَهُمَا مَعْرِفَةٌ فَلَيْسَ يَأْتِي الرَّجُلُ شَيْئًا إِلَى

---

1 _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /مواقيت الصلاة ٤ (٥٢٦) . وتفسير هود ٤ (٤٦٨٧) . صحيح مسلم/التوبة ٧ (٢٧٦٣) . سنن ابي داود/ الحدود ٣٢ (٤٤٦٨) . سنن ابن ماجه/الإقامة ١٩٢ (١٣٩٨) . ويأتي بعد حديث (تحف الأشراف : ٩١٦٣)

امْرَأَتِهِ إِلَّا قَدْ أَتَى هُوَ إِلَيْهَا إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يُجَامِعْهَا. قَالَ: فَأَنْزَلَ اللهُ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَلِكَ ذِكْرَى لِلذَّاكِرِينَ (هود: ١١٤) فَأَمَرَهُ أَنْ يَتَوَضَّأَ وَيُصَلِّيَ. قَالَ مُعَاذٌ: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَهِيَ لَهُ خَاصَّةً أَمْ لِلْمُؤْمِنِينَ عَامَّةً؟ قَالَ: بَلْ لِلْمُؤْمِنِينَ عَامَّةً". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِمُتَّصِلٍ. عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي لَيْلَى لَمْ يَسْمَعْ مِنْ مُعَاذٍ، وَمُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ مَاتَ فِي خِلَافَةِ عُمَرَ، وَقُتِلَ عُمَرُ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي لَيْلَى غُلَامٌ صَغِيرٌ ابْنُ سِتِّ سِنِينَ وَقَدْ رَوَى عَنْ عُمَرَ وَرَآهُ، وَرَوَى شُعْبَةُ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلٌ. (1)

ترجمه : دمعاذ بن جبل رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې يو كس درسول الله په خدمت كي حاضر.شو او عرض يي اوكړو اي دالله رسوله ديوداسي كس باره كي راته اووايه څوك چې ديوي داسي ښځي سره ملاؤ شوي وي دچا په مينځ كي چې رشته داري اومعرفت نه وي او هغه ددي سره دجماع نه علاوه نور هر څه كړي وي كوم چې يو سړي دخپلي ښځي سره كوي؟ نو دي باره كي الله تعالي دا ايت كريمه " وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَلِكَ ذِكْرَى لِلذَّاكِرِينَ" نازل شو رسول الله ده ته د اودس كولو نه پس دمونځ كولو حكم اوكړو ما عرض اوكړو اي دالله رسوله دا حكم به ددغه كس دپاره خاص وي او كه دعامو مومنانو دپاره دي؟ رسول الله اوفرمائيل نه بلكه دټولو مسلمانانو دپاره عام دي.

امام ترمذي وايي: ددي حديث سند متصل نه دي ځكه چې د معاذ بن جبل نه دعبدالرحمن بن ابي ليلي سماع ثابت نه ده معاذ بن جبل دعمرفاروق دخلافت په دور كي وفات شوي وو عمر فاروق چې كله شهيد كړي شو دغه وخت كي دعبدالرحمن بن ابي ليلي عمر شپږ كاله وو او حال دادي چې هغه دعمرفاروق نه روايت نقل كړي دي بلكه صرف ليدلي يي دي، شعبه دا حديث دعبدالملك بن عمير نه او هغه دعبدالرحمن بن ابي ليلي په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مرسل نقل كړي دي.

دمعاذ بن جبل رضي الله عنه حالات

نوم معاذ كنيه ابو عبدالرحمان لقب امام الفقهاء نذيل العلماء چې دقبيله خزرج سره يي تعلق وو او داتلسو كالو په عمر كي دمصعب بن عمير په لاس مسلمان شوی وو درسول الله صلي الله عليه وسلم ورسره ډير محبت وو او په تمامو غزواتو كي درسول الله سره شريك شوی وو چې

---

1 ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ١١٣٤٢)

كله يي يمن ته ليږلو نو يمن والاته يي اوليكل "اني بعثت اليكم خيراهلي " يعني ماپخپلو كسانو كې تاسو ته بهترين كس درولیږلو كله چې عمرفاروق رضي الله عنه مجلس شورا جوړه كړه نو دهغې يو ركن معاذ رضي الله عنه هم وو. اميرالمؤمنين دمعاذ په باره كې اوفرمائيل "اعلمهم بالحلال والحرام معاذ بن جبل" يعني په صحابه كرامو كې دحلال او حرام په علم زيات خبردار معاذ بن جبل دى او په يو بله موقعه كې يي هم فرمائيلي وو لولا معاذ لهلك عمر.
وفات: دطاعون عمواس په كال وفات شوى وو چې عمريي ۳۲ كلونه وو دهجرت په اتلسم كال په هغه ځاى كې دفن كړى شو دكوم ځاي نه چې عيسي عليه السلام اسمان ته پورته كړى شوى وو.

****

۳۱۱٤ـحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ التَّيْمِيِّ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، أَنَّ رَجُلًا أَصَابَ مِنَ امْرَأَةٍ قُبْلَةً حَرَامٍ، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَهُ عَنْ كَفَّارَتِهَا فَنَزَلَتْ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ (هود :١١٤)، فَقَالَ الرَّجُلُ: أَلِي هَذِهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَقَالَ: لَكَ وَلِمَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ أُمَّتِي ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې يو كس يوه غيرمحرمه په ناجائزه طريقه ښكل كړه او بيا درسول الله په خدمت كې حاضر شو او عرض يي اوكړو چې ددې كفاره څه ده ترڅې چې ددې باره كې دا ايت كريمه " وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَلِكَ ذِكْرَى لِلذَّاكِرِينَ "بازل شو دي كس تپوس اوكړو ايا دا كفاره صرف زما دپاره ده، رسول الله اوفرمائيل دا ستاديپاره ده او زما په امت كې دهر هغه كس دپاره ده چاچې دا غلطي كړي وي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

۳۱۱٥ـحَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا قَيْسُ بْنُ الرَّبِيعِ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَوْهَبٍ، عَنْ مُوسَى بْنِ طَلْحَةَ، عَنْ أَبِي الْيَسَرِ، قَالَ: أَتَتْنِي امْرَأَةٌ تَبْتَاعُ

---

[1] ـ انظر حديث رقم ٣١١٢ (تحفة الأشراف : ٩٣٨٦)

تَمْرًا. فَقُلْتُ: إِنَّ فِي الْبَيْتِ تَمْرًا أَطْيَبَ مِنْهُ. فَدَخَلَتْ مَعِي فِي الْبَيْتِ فَأَهْوَيْتُ إِلَيْهَا فَتَقَبَّلْتُهَا. فَأَتَيْتُ أَبَا بَكْرٍ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهُ، قَالَ: اسْتُرْ عَلَى نَفْسِكَ وَتُبْ وَلَا تُخْبِرْ أَحَدًا. فَلَمْ أَصْبِرْ فَأَتَيْتُ عُمَرَ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهُ، فَقَالَ: اسْتُرْ عَلَى نَفْسِكَ وَتُبْ وَلَا تُخْبِرْ أَحَدًا. فَلَمْ أَصْبِرْ فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهُ، فَقَالَ: "أَخَلَفْتَ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فِي أَهْلِهِ بِمِثْلِ هَذَا حَتَّى تَمَنَّى أَنَّهُ لَمْ يَكُنْ أَسْلَمَ إِلَّا تِلْكَ السَّاعَةَ حَتَّى ظَنَّ أَنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ. قَالَ: وَأَطْرَقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَوِيلًا حَتَّى أَوْحَى اللَّهُ إِلَيْهِ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِلَى قَوْلِهِ ذِكْرَى لِلذَّاكِرِينَ (هود: ١١٤). قَالَ أَبُو الْيَسَرِ: فَأَتَيْتُهُ فَقَرَأَهَا عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ أَصْحَابُهُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَلِهَذَا خَاصَّةً أَمْ لِلنَّاسِ عَامَّةً؟ قَالَ: "بَلْ لِلنَّاسِ عَامَّةً". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَقَيْسُ بْنُ الرَّبِيعِ ضَعَّفَهُ وَكِيعٌ وَغَيْرُهُ، وَأَبُو الْيَسَرِ هُوَ كَعْبُ بْنُ عَمْرٍو، قَالَ: وَرَوَى شَرِيكٌ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ هَذَا الْحَدِيثَ مِثْلَ رِوَايَةِ قَيْسِ بْنِ الرَّبِيعِ، قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، وَوَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ، وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ. (1)

ترجمه : دابواليسر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې يوه ښځه ماته دكجورو اخستلو دپاره راغله ما ورته اووئيل كومي كجوري چې دلته ته وينې ددينه ښې كجوري زمونږ په كور كي پرتي دي چنانچې هغه ماسره كور ته راغله او زه ورته مائل شوم تردي چې بيا ابوبكر رضي الله عنه ته ورغلم او واقعه مي ورته بيان كړه ابوبكر اووئيل پخپل ځان باندي پرده واچوه او توبه اوباسه او بل چاته دا واقعه مه ذكركوه، ليكن زما نه صبر اونه شوچنانچې عمرفاروق رضي الله عنه ته ورغلم او هغه ته مي هم ددي واقعي ذكر اوكړو نو هغه راته هم دخپل ځان دپردي اچولو خبره اوكړه او دتوبي كولو حكم يي راته اوكړو او بل چاته په نه بيانولو يي راته اصرار اوكړو مگر زما زړه نه منل او په دي خبره قائم پاتي نشوم تردي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ورغلم او هغوئ ته مي هم خپله واقعه بيان كړه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ايا تا ديو غازي دښځي سره څوك چې دالله تعالي په لار كي جهاد ته تلي دي دهغه په غير موجودگئ كي داسي حركت كړي دي؟ درسول الله په دومره خبري كولو سره په ماكي دومره غيرت راغلو چې ما دا تمنا اوكړه چې كاش ما ددينه مخكي ايمان نه وي راوړي بلكه همدا اوس مي راوړي وي دهغه دا خيال راغلو چې زه جهنمي شوم رسول الله صلي الله عليه وسلم په سوچ كي ډير ساعت سر ټيټ كړي وو تردي چې دوحي په ذريعه درباندي دا ايت "

---

1 _ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ١١١٢٥)

وَأَقِمِ الصَّلاَةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَلِكَ ذِكْرَى لِلذَّاكِرِينَ
" نازل شو ابواليسر وائي زه درسول الله دخوانه راتلم نو هغوئ راته دا ايت كريمه بيان كړو صحابه كرامو عرض اوكړو اي دالله رسوله ايا دا بشارت دده دپاره خاص دي او كه دټولو خلقو دپاره عام دي رسول الله اوفرمائيل بالكل نه بلكه دټولو خلقو دپاره عام دي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي قيس بن ربيع لره وكيع وغيره ضعيف ګڼړلي دي او دابواليسر نوم كعب بن عمرو دي، شريك دعثمان بن عبدالله نه داحديث دقيس بن ربيع دروايت هم معني نقل كړي دي، او په دي باب كي دابوامامه، واثله بن اسقع، او انس بن مالك رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

۱۳_ باب وَمِنْ سُورَةِ يُوسُفَ

دسورة يوسف دبعضي ايتونو تفسير

د دى سورة نوم هم د علامي په طور سورة يوسف دى. ځكه چې په دى سورة كي د يوسف عليه السلام واقعه بيان شوى ده.

شان نزول: د دى سورة د مضمون نه معلوميږى چې دا سورة هم دَ مكى په آخرى دور كي نازل شوى دى. كله چې مشركينو په دى خبره باندى غور كولو چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم قتل كړو يا ئى دَ ملك نه اوباسو يا ئى قيد كړو په دى زمانه كي بعض كافرانو (غالبًا دَ يهوديانو په اشاره) دَ نبى صلى الله عليه وسلم نه دَ امتحان اغستلو دَپاره دَ هغوى صلى الله عليه وسلم نه سوال اوكړو. چې بنى اسرائيل دَ مصر نه په څه وجه وتلي وو. عرب د دى قصى نه خبر نهٔ وو. دَ نبى صلى الله عليه وسلم نه ئى هم دَ دى په باره كي څه نهٔ وو. اوريدلى. نو د دوى دا خيال وو. چې نبى صلى الله عليه وسلم به هيڅ جواب اونه كړى. يا به دَ چا يهودى نه دَ دى په باره كي تپوس اوكړى او نبى صلى الله عليه وسلم به ملامته شى. نو الله تعالى فوراً دَ يوسف عليه السلام قصه نازله كړه. او مخالفين ملامته شول او دوى ته اوخودلى شول چې څنګه دَ يوسف عليه السلام رونړو دَ خپل رور سره كړى وو. نو تاسو هم داسى غواړى.

په دى قصه كي دوه ضرورى مقصدونه دى. يو دا چه: دَ نبى صلى الله عليه وسلم دَ نبوت اثبات او ثبوت. او هغه هم دَ مخالفينو په غوختلى شوى مطالبه او امتحان كي دا خبره ثابته كړى شوى ده. چې دا پغمبر دَ خان نه او نه دَ بل چا اوريدلى شوى خبرى نه بيانوى. بلكه دهٔ ته وحى كيږى. دا مقصد په ايت. ۳ او ۷ كي واضح كړى شوى دى. او په ايت. ۱۰۲، ۱۰۳ كي دَ

دی تصریح شوی ده.
دویم مقصد دا دی چې دَ سردارانو دَ قریشو او دَ نبی صلی الله علیه وسلم په مینځ کې کومه معامله چلیدله. نو دَ دی دپاره دَ یوسف علیه السلام او دَ هغه دَ رونړو واقعه بیان کړی شوی ده. چې تاسو د خپل رور سره څه کوئی نو داسی یوسف علیه السلام سره هم شوی وؤ. لیکن څنګه چې هغوی په خپل مقصد کې کامیاب نه شول. او آخر کار دَ خپل رور په خپو کې پریوتل. چې هغوی دهٔ لره په کوهی کې غورځولی وو.
دا رنګ ستاسو مخالفت هم دَ الله تعالی دَ تدبیر په وړاندی کامیابیدلی نشی. او تاسو به هم دَ دی خپل رور (نبی صلی الله علیه وسلم) په خپو کې پریوځی او دَ دهٔ نه به دَ رحم وکرم سوال کوئی.
حقیقت کې د یوسف علیه السلام واقعه یو پیشن ګوئی ده. دَ نبی صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو دَ کامیابی او دَ اسلامی حکومت دَ قائم کیدلو او دَ جاهلیت دَ مغلوب کیدلو.
دا رنګ دَ دی سورة دَ نازلیدلو نه یو نیم یا ذوه کاله پس قریشو د یوسف علیه السلام د رونړو په شان دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ قتل سازش تیار کړو او نبی صلی الله علیه وسلم په هجرت باندی مجبور شو. بیا دَ مشرکینو د. توقعاتو خلاف په مدینه کې دَ جلا وطنئ باوجود مومنانو ته اقتدار ملاؤ شو. لکه چې یوسف علیه السلام ته حاصل شوی وؤ بیا دَ فتح مکه په وخت کې هغه صورت وؤ. کوم چې دَ یوسف علیه السلام په اقتدار کې دَ خپلو رونړو سره وؤ. او دَ یوسف علیه السلام رونړه په انتهائی عاجزی سره مصر ته داخل شول. او د یوسف علیه السلام نه ئی د رحم وکرم سوال اوکړو. اووئیل ئی. تَصَدَّقْ عَلَيْنَا. اِنَّ اللهَ يَجْزِي الْمُتَصَدِّقِيْنَ. (په مونړه باندی صدقه اوکړه. یقینا الله تعالی صدقه کوونکو ته جزا ورکوی) نو یو سف علیه السلام د بد اخستلو دَ طاقت باوجود اوفرمائیل: لَاتَثْرِيْبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ. يَغْفِرُ اللهُ لَكُمْ. وَهُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ. (نن په تاسو څه ملامتیا نیشته. الله تعالی دی تاسو معاف کړی. او هغه دَ ټولو رحم کوونکو نه زیات رحم کوونکی دی)
دا رنګ چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخکې شکست خوړونکی قریش په ټیټ سر اودریدل. او رسول الله صلی الله علیه وسلم د هر ظلم بدله اخستلی شوه. نو نبی صلی الله علیه وسلم هغوی ته اوفرمائیل. چې ستاسو څه خیال دی. چې زه د تاسو سره څه معامله کوونکی یم. نو هغوی اوئیل. اَخٌ كَرِيْمٌ وَابْنُ كَرِيْمٍ. ته کرم کونکی رور ئی او د کرم کونکی رور څوئ ئی. نو نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل فَاِنِّيْ اَقُوْلُ لَكُمْ كَمَا قَالَ يُوْسُفُ لِاِخْوَتِهٖ لَاتَثْرِيْبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ. اِذْهَبُوْا فَاَنْتُمُ الطُّلَقَآءُ (زه تاسو ته هغه جواب درکووم کوم چې یوسف

عليه السلام خپلو رونړو ته ورکړی وو چې په تاسو څه ملامتيا نيشته ځی تاسو ازاد ئي

۳۱۱۶_حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ الْخُزَاعِيُّ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ الْكَرِيمَ ابْنَ الْكَرِيمِ ابْنِ الْكَرِيمِ ابْنِ الْكَرِيمِ يُوسُفُ بْنُ يَعْقُوبَ بْنِ إِسْحَاقَ بْنِ إِبْرَاهِيمَ. قَالَ: وَلَوْ لَبِثْتُ فِي السِّجْنِ مَا لَبِثَ يُوسُفُ ثُمَّ جَاءَنِي الرَّسُولُ أَجَبْتُ ثُمَّ قَرَأَ: فَلَمَّا جَاءَهُ الرَّسُولُ قَالَ ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ مَا بَالُ النِّسْوَةِ اللَّاتِي قَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ (يوسف :٥٠) قَالَ: وَرَحْمَةُ اللهِ عَلَى لُوطٍ إِنْ كَانَ لَيَأْوِي إِلَى رُكْنٍ شَدِيدٍ إِذْ قَالَ: لَوْ أَنَّ لِي بِكُمْ قُوَّةً أَوْ آوِي إِلَى رُكْنٍ شَدِيدٍ (هود :٨٠) فَمَا بَعَثَ اللهُ مِنْ بَعْدِهِ نَبِيًّا إِلَّا فِي ذِرْوَةٍ مِنْ قَوْمِهِ".[1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كريم بن كريم بن كريم بن كريم يوسف بن يعقوب بن اسحاق بن ابراهيم دي او بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل څومره موده چې يوسف عليه السلام په جيل كي تيره كړي وه كه دومره موده زه په جيل كي پاتي شوي وي نو دقاصد دراتلو سره سم به مي فورا دبادشاه دعوت قبول كړي وو او بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم دا ايت كريمه تلاوت كړو "فَلَمَّا جَاءَهُ الرَّسُولُ قَالَ ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ مَا بَالُ النِّسْوَةِ اللَّاتِي قَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ " او بيايي اوفرمائيل دالله رحمت دي وي په لوط عليه السلام هغه خو پناهي حاصلوله ركن شديد ته چې ونيلي يي وو "لَوْ أَنَّ لِي بِكُمْ قُوَّةً أَوْ آوِي إِلَى رُكْنٍ شَدِيدٍ" ارشاد نبوي دي چې بيا ددينه پس الله تعالي نه دي راليږلي مگر هم ددغه قوم نه يي ليږلي دي.

****

حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، وَعَبْدُ الرَّحِيمِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، نَحْوَ حَدِيثِ الْفَضْلِ بْنِ مُوسَى، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: مَا بَعَثَ اللهُ بَعْدَهُ نَبِيًّا إِلَّا فِي ثَرْوَةٍ مِنْ قَوْمِهِ. قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو: الثَّرْوَةُ الْكَثْرَةُ وَالْمَنَعَةُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ رِوَايَةِ الْفَضْلِ بْنِ مُوسَى وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ.[1]

ترجمه : عبدالرحيم بن دمحمد بن عمرو نه دفضل بن موسي دحديث پشان روايت نقل كړي دي مگر دهغه دحديث الفاظ دادي " مَا بَعَثَ اللهُ بَعْدَهُ نَبِيًّا إِلَّا فِي ثَرْوَةٍ مِنْ قَوْمِهِ" مگر معني ددواړو يو ده مگر محمد بن عمرو وائي چې معني يي دكثرت او قوت ده او دا حديث دفضل

---

[1] _ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) وانظر مسند احمد (٢/٣٢٢، ٣٨٤، ٣٨٣) (تحفة الأشراف : ١٥٠٨١)

بن موسي دروايت نه زيات صحيح دي.
6/38 امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي.

****

١٤_بَاب وَمِنْ سُورَةِ الرَّعْدِ

دسورة رعد دبعضي ايتونو تفسير

٣١١٧_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا أَبُو نُعَيْمٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْوَلِيدِ، وَكَانَ يَكُونُ فِي بَنِي عِجْلٍ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: أَقْبَلَتْ يَهُودُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالُوا: يَا أَبَا الْقَاسِمِ، أَخْبِرْنَا عَنِ الرَّعْدِ مَا هُوَ؟ قَالَ: "مَلَكٌ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُوَكَّلٌ بِالسَّحَابِ، مَعَهُ مَخَارِيقُ مِنْ نَارٍ يَسُوقُ بِهَا السَّحَابَ حَيْثُ شَاءَ اللَّهُ. فَقَالُوا: فَمَا هَذَا الصَّوْتُ الَّذِي نَسْمَعُ؟ قَالَ: زَجْرُهُ بِالسَّحَابِ إِذَا زَجَرَهُ حَتَّى يَنْتَهِيَ إِلَى حَيْثُ أُمِرَ. قَالُوا: صَدَقْتَ. فَأَخْبِرْنَا عَمَّا حَرَّمَ إِسْرَائِيلُ عَلَى نَفْسِهِ؟ قَالَ: اشْتَكَى عِرْقَ النَّسَا فَلَمْ يَجِدْ شَيْئًا يُلَائِمُهُ إِلَّا لُحُومَ الْإِبِلِ وَأَلْبَانَهَا فَلِذَلِكَ حَرَّمَهَا. قَالُوا: صَدَقْتَ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.[2]

ترجمه: دابن عباس رضي الله عنهمانه مروي دي چي يويهودي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شو او وئيل يي اي ابوالقاسم مونږ ته درعد باره كي معلومات راكړه چي څه څيز دي رسول الله اوفرمائيل دا په فرشتو كي يوه فرشته ده چي وريځي ورته سپارلي شوي دي او د اور كوړي ورسره دي چي دالله دمشيت مطابق ورباندي وريځي شړي، هغه اووئيل دا كوم اواز چي مونږ اورو دا دڅه څيز دي رسول الله اوفرمائيل دا دهغي دړټلو دي هغه وريځو لره رټي تردي چي دحكم مطابق رواني شي يهودي اووئيل رښتيا دي اووئيل او بيا يي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه تپوس اوكړو چي اسرائيل (يعقوب) په ځان باندي څه څيز حرام كړي دي رسول الله اوفرمائيل په هغه باندي عرق النساء بيماري وه او هغه ته داوښ دغوښي او شودو نه علاوه بل مناسب څيز نه ملاويدو نو ځكه يي دا په ځان باندي حرام كړل يهودي اووئيل رښتيا دي اووئيل.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي.

1_ انظر ماقبله (تحفة الأشراف: ١٥٠٤٣، ١٥٠٥٥)

2_ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ٥٤٢٥)

****

٣١١٨_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خِدَاشٍ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا سَيْفُ بْنُ مُحَمَّدٍ الثَّوْرِيُّ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فِي قَوْلِهِ: وَنُفَضِّلُ بَعْضَهَا عَلَى بَعْضٍ فِي الْأُكُلِ (الرعد :٤)، قَالَ: "الدَّقَلُ وَالْفَارِسِيُّ وَالْحُلْوُ وَالْحَامِضُ"، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رَوَاهُ زَيْدُ بْنُ أَبِي أُنَيْسَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ نَحْوَ هَذَا، وَسَيْفُ بْنُ مُحَمَّدٍ هُوَ أَخُو عَمَّارِ بْنِ مُحَمَّدٍ، وَعَمَّارٌ أَثْبَتُ مِنْهُ وَهُوَ ابْنُ أُخْتِ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ.[1]

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم دالله تعالي دقول "ونفضل بعضها علي بعض في الاكل" باره كي اوفرمائيل ددينه مراد ردي او اوچي كجوري دي، او ددينه مراد فارسي كجوري دي او ددينه مراد خوږي او تروشي كجوري دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي، زيد بن ابي انيسه داعمش نه ددي پشان روايت نقل كړي دي او سيف بن محمد چې دعمار بن محمد ورور دي او عمار دده نه زيات ثقه دي او دسفيان ثوري دخور ځوي دي هم ددي پشان روايت بيان كړي دي.

****

١٥_بَاب وَمِنْ سُورَةِ إِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ

دسورة ابراهيم دبعضي ايتونو تفسير

دَ دی سورة نوم دَ ايت. ٣٥ دَ جملي واذ قال ابراهيم رب اجعل هذا البلد امنا ، نه اخستلی شوی دی. دَ دی نوم دا مطلب نه دی چې په دی كي دَ ابراهيم عليه السلام سوانح عمری بيان شويده. بلكه دَ نورو سورتونو په شان دَ علامت په طور دا دَ دی سورة نوم دی. يعنی هغه سورة چې په هغی كي دَ ابراهيم عليه السلام ذكر دی.

شان نزول: دَ دی سورة عام انداز بيان دَ مكی دَ اخری دور دَ سورتونو په شان دی. او دَ دی زمانه دَ نزول دَ سورة رعد دَ زمانی سره نزدی معلوميږی خصوصا دَ ايت. ١٣ دَ الفاظونه صفا معلوميږی. چې په مكه كي په مومنانو باندی ظلمونه كيدل او انتهاء ته رسيدلی وؤ.

٣١١٩_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ شُعَيْبِ بْنِ

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٢٣٩١)

الْحَبْحَابِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: " أُتِيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقِنَاعٍ عَلَيْهِ رُطَبٌ، فَقَالَ: " مَثَلُ كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ ٢٤) تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا (إبراهيم :٢٤ ـ ٢٥. قَالَ: هِيَ النَّخْلَةُ وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٍ كَشَجَرَةٍ خَبِيثَةٍ اجْتُثَّتْ مِنْ فَوْقِ الأَرْضِ مَا لَهَا مِنْ قَرَارٍ (إبراهيم :٢٦ قَالَ: هِيَ الْحَنْظَلُ ". قَالَ: فَأَخْبَرْتُ بِذَلِكَ أَبَا الْعَالِيَةِ، فَقَالَ: صَدَقَ وَأَحْسَنَ. (١)

ترجمه دانس بن مالك رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ته د تازه او پخو كجورو يوه ټكرئ راوړلي شوه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل "مَثَلُ كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ ٢٤) تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا" يعني مثال د پاكي كلمي د پاكي وني پشان دي چې جرړي يې په زمكه كي مضبوطي وي او او ښاخونه يي په اسمان كي وي او وركوي ميوه خپله هر وخت په حكم د رب خپل. په دي ايت كي دبيكاره بوټي نه مراد دمرغوني بوټي دي شعيب بن حجاب وائي ما ددي حديث ذكر ابو العاليه ته اوكړو هغه اوونيل هغه رښتيا او صحيح ونيلي دي

****

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ شُعَيْبِ بْنِ الْحَبْحَابِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ، وَلَمْ يَرْفَعْهُ وَلَمْ يَذْكُرْ قَوْلَ أَبِي الْعَالِيَةِ، وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ. وَرَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ مِثْلَ هَذَا مَوْقُوفًا وَلَا نَعْلَمُ أَحَدًا رَفَعَهُ غَيْرَ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ. وَرَوَاهُ مَعْمَرٌ، وَحَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ وَلَمْ يَرْفَعُوهُ. حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ. حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ شُعَيْبِ بْنِ الْحَبْحَابِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ نَحْوَ حَدِيثِ قُتَيْبَةَ وَلَمْ يَرْفَعْهُ. (٢)

ترجمه په مذكوره سند هم دانس بن مالك رضي الله عنه نه دماقبل هم معني روايت مروي دي او مرفوع يي نه دي بيان كړي او دابو العاليه قول يي نه دي ذكر كړي او دا حديث دحماد بن سلمه دحديث نه زيات صحيح دي او ددينه علاوه نورو راويانو هم ددي پشان موقوف روايت بيان كړي دي او دحماد بن سلمه نه علاوه موږ ته بل څوك نه دي معلوم چې دا يي مرفوع بيان كړي وي دا رنګي دا روايت معمرو او حماد بن زيد او نورو راويانو هم بيان كړي

---

1 تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى)

2 تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى)

دي مكر مرفوع يي نه دي ذكر كړي.

****

۳۱۲۰_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، أَخْبَرَنِي عَلْقَمَةُ بْنُ مَرْثَدٍ، قَال: سَمِعْتُ سَعْدَ بْنَ عُبَيْدَةَ يُحَدِّثُ، عَنِ الْبَرَاءِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الآخِرَةِ (إبراهيم :۲۷) قَالَ: "فِي الْقَبْرِ إِذَا قِيلَ لَهُ مَنْ رَبُّكَ وَمَا دِينُكَ وَمَنْ نَبِيُّكَ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه . دبراء بن عازب رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دايت كريمه '' يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الآخِرَةِ '' داسي تفسير بيان كړو چې دثابت ساتلو نه مراد په قبر كي هغه وخت كي ثابت ايخودل دي كله چې په قبر كي دمړي نه دا تپوس اوكړي شي ''من ربك'' يعني ستا رب څوك دي؟ ''ومادينك'' او ستا دين كوم يو دي؟ ''ومن نبيك'' ستا نبي څوك دي؟.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

۳۱۲۱_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ أَبِي هِنْدٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ مَسْرُوقٍ، قَالَ: "تَلَتْ عَائِشَةُ هَذِهِ الآيَةَ يَوْمَ تُبَدَّلُ الأَرْضُ غَيْرَ الأَرْضِ (إبراهيم :٤٨) قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَأَيْنَ يَكُونُ النَّاسُ؟ قَالَ: عَلَى الصِّرَاطِ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ عَنْ عَائِشَةَ. [2]

ترجمه دمسروق بيان دي فرمائي چې عائشه رضي الله عنها "يوم تبدل الارض غير الارض" اولوستلو او سوال يي اوكړو اي دالله رسوله دغه وخت كي به خلق چرته وي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل "علي الصراط" يعني په پل صراط باندي به وي.

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الجنائز ٨٦ (١٣٦٩) . وتفسير سورة ابراهيم ٢ (٤٦٩٩) . صحيح مسلم الجنة ١٧ (٢٨٧١) . سنن ابي داود/ السنة ٢٧ (٤٧٥٠) . سنن النسائي/الجنائز ١١٤ (٢٠٥٩) . سنن ابن ماجه/الزهد ٣٢ (٤٢٦٩) (تحفة الأشراف : ١٧٦٢) (وانظر أيضا ماعند د برقم ٣٢١٢، و ٣٨٥٣)

[2] _ صحيح مسلم/المنافقين ٢ (٢٧٩١) . سنن ابن ماجه/الزهد ٣٣ (٤٢٧٩) (تحفة الأشراف : ١٧٦١٧) . و مسند احمد (٦/٣٥، ١٠١، ١٣٤، ٢١٨) . وسنن الدارمي/الرقاق ٨٨ (٢٨٥١)

امام ترمذي وايي. داحديث حسن صحيح دي او دعائشه رضي الله عنها نه دا حديث په نورو سندونو هم مروي دي.

****

١٦_باب وَمِنْ سُورَةِ الْحِجْرِ

دسورة حجر دبعضي ايتونو تفسير

شان نزول

د دی سورة نوم د ایت. ۸۰ د فقری كَذَّبَ اَصْحَابُ الْحِجْرِ الْمُرْسَلِيْنَ. نه اخستی شوی دی.
د دی سورة په مضمونو باندی دَ غور كولو نه معلوميږی چې دَ دی دَ نزول زمانه دَ سورة ابراهيم عليه السلام سره متصل ده. او دَ دی په پس منظر كي دوه څيزونه بالكل ښكاره دی. يو دا چې دَ نبی صلی الله عليه وسلم په دعوت څه زمانه تيره شوی وه. او دَ مخالفينو ضد او عناد تړوقی مزاحمت او ظلم وستم حد ته رسيدلی وه. په دی كي دَ فهمائش اندازكم دی او دَ انذار انداز ډير دی.
بله دا چې دَ خپل قوم او دَ انكار په وجه نبی صلی الله عليه وسلم ډير ستړی شوی وؤ او نبی صلی الله عليه وسلم به هر وخت دَ قوم دَ دی رويّی نه په پريشانئی كي وؤ. نو په دی كي الله تعالی نبی صلی الله عليه وسلم ته تسلی وركړی ده.
موضوع او مركزی مضمون. هم دغه دوه خبری په دی سورة كي بيان شوی دی. هغه خلقو ته تنبيه ده. كوم چې انكار كوی. او دَ رسول الله صلی الله عليه وسلم پوری ټوقی مسخری كولی. او دَ نبی په لار كي به ئی بندونه جوړول. او نبی صلی الله عليه وسلم ته تسلی هم ده. او ورسره ئی دَ فهمائش او نصيحت دَپاره دَ توحيد دليلونه هم ذكر كړی دی. او دَ وعظ او نصيحت په طور دَ عبرت دَپاره ئی دَ ادم عليه السلام او ابليس واقعه هم بيان كړي ده.

٣١٢٢_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا نُوحُ بْنُ قَيْسٍ الْحُدَّانِيُّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي الْجَوْزَاءِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "كَانَتِ امْرَأَةٌ تُصَلِّي خَلْفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَسْنَاءُ مِنْ أَحْسَنِ النَّاسِ، فَكَانَ بَعْضُ الْقَوْمِ يَتَقَدَّمُ حَتَّى يَكُونَ فِي الصَّفِّ الْأَوَّلِ لِئَلَّا يَرَاهَا، وَيَسْتَأْخِرُ بَعْضُهُمْ حَتَّى يَكُونَ فِي الصَّفِّ الْمُؤَخَّرِ فَإِذَا رَكَعَ نَظَرَ مِنْ تَحْتِ إِبْطَيْهِ فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَقْدِمِينَ مِنْكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَأْخِرِينَ (الحجر :٢٤)"

قَالَ أَبُو عِيسَى: وَرَوَى جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ عَمْرِو بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي الْجَوْزَاءِ نَحْوَهُ،

وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَهَذَا أَشْبَهُ أَنْ يَكُونَ أَصَحَّ مِنْ حَدِيثِ نُوحٍ. (1)

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي يوي ښائسته ښځي به (دښځو په صف كي) په رسول الله صلي الله عليه وسلم پسي مونځ كولو نو بعضي كسان به دمخكي كيدو په حال كي اولني صف ته تلل ددي دپاره چې په دي يي نظر اونه لګي او بعضي كسان به دمخكي صف نه شاته راتلل (چې كوم صف دښځو دصف سره پيوست وو په هغي كي به اودريدل) او بيا چې به كله ركوع ته تلل نو پخپلو ترخونو لاندي به يي ورته كتل دي وخت كي الله تعالي دا ايت كريمه " وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَقْدِمِينَ مِنْكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَأْخِرِينَ " اويقينا پيژنو مونږه دمخكيني ستاسو نه اويقينا پيژنوروستني خلق ، نازل كړو.

امام ترمذي وايي: جعفر بن سليمان دا حديث دعمرو بن مالك نه او هغه دابوالجوزاء نه په همدي مضمون نقل كړي دي او په سند كي يي دابن عباس ذكر نه دي كړي په دي كي ددي خبري زيات امكان دي چې دا حديث دنوح دحديث نه زيات صحيح او درست وي.

تشريح : ... يعني زمونږ نه ستاسو هيڅ حالت پټ نه دي ، په مخكي ايت كي يي دخپل قدرت كامله دليل بيان كړي دي نوپدي ايت كي يي هم دخپل علم داحاطي اظهار اوكړو كوم چې دقدرت دليل دي، علامه بغوي ليكلي دي ابن عباس رضي الله عنهما فرمائيلي دي د مستقدمين نه مراد مړي او دمستاخرين نه مراد ژوندي دي. دشعبي قول دي چې ددينه مخكني او وروستني خلق مراد دي دعكرمه قول دي دمستقدمين نه هغه خلق مراد دي څوك چې پيدا شوي دي اودخپلو پلارانو دشاګانونه وتلي وي اودمستاخرين نه هغه خلق مراد دي څوك چې لاتراوسه نه دي پيدا شوي اونه دپلرونو دشاګانو نه وتلي وي.

د امام مجاهد رحمة الله عليه په نزد تير شوي اقوام مستقدمين دي او امت محمديه مستاخرين دي ، دحسن قول دي په اطاعت اوخير كي مخكي كيدونكي مستقدمين دي اوپدي كي سستي كونكي مستاخرين دي.

دبعضي علماؤ قول دي چې دمستقدمين اومستاخرين نه مراد دمونځ كونكو مخكني او وروستني صفونه دي، دابن مردويه بيان دي چې داود بن صالح دسهل بن حنيف انصاري نه تپوس اوكړو چې ايا دا ايت دجهاد په باره كي نازل شوي دي (يعني ايا دمستقدمين اومستاخرينو نه مراد مجاهدين دي؟) سهل اوفرمائيل نه، ددي نزول دمونځ كونكو دصفونو متعلق شوي دي. دمقاتل په نزد ددينه په جهاد كي مخكي او وروسته صفونه مراد دي اودابن عوينه په نزد هغه خلق مراد دي څوك چې مخكي مسلمانان شوي دي اوڅوك چې لاته

---

1 ــ سنن النسائي/الإمامة ٦٢ (٨٧١). سنن ابن ماجه/الإقامة ٦٨ (١٠٤٦) (تحفة الأشراف : ٥٣٦٤). و مسند احمد (١/٣٠٥)

دي مسلمانان شوي اود اوزاعي په نزد ددينه په اول وخت كي او په اخر وخت كي مونځ كونكي مراد دي.

ابن عباس رضي الله عنهما فرمائيلي دي چې يوي ښائسته ښځي به رسول الله صلي الله عليه وسلم پسي (دجماعت سره) مونځ كولو نوپدي باندي دنظر نه لګيدو دپاره بعضي خلق ورنه دير مخكي شول چې پدي بي نظر اونه لګي، او بعضي خلق دومره وروسته شول چې اخري صف ته ورسيدل اوپدوي كي بعضي خلقو به په ركوع كي دي ښځي ته په تخر ګونو كي كتل نوپدي وخت كي دا ايت كريمه نازل شو (رواه الترمذي ، نسائي، ابن ماجه، ابن حبان، حاكم) اوحاكم دي لره صيح هم ګڼلي دي.

****

٣١٢٣ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ، عَنْ مَالِكِ بْنِ مِغْوَلٍ، عَنْ جُنَيْدٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " لِجَهَنَّمَ سَبْعَةُ أَبْوَابٍ بَابٌ مِنْهَا لِمَنْ سَلَّ السَّيْفَ عَلَى أُمَّتِي أَوْ قَالَ عَلَى أُمَّةِ مُحَمَّدٍ "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مَالِكِ بْنِ مِغْوَلٍ. [1]

ترجمه : عبدالله بن عمر رضي الله عنهما دا ارشاد نبوي بيانوي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دجهنم اوه دروازي دي او په دي دروازو كي يوه دروازه دهغه چاد پاره ده څوك چې زما په امتي توره (اسلحه) راوباسي.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي او مونږ يي صرف دمالك بن مغول په سند پيژنو.

****

٣١٢٤ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَلِيٍّ الْحَنَفِيُّ، عَنِ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ، عَنِ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الْحَمْدُ لِلَّهِ أُمُّ الْقُرْآنِ وَأُمُّ الْكِتَابِ وَالسَّبْعُ الْمَثَانِي "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [2]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الحمد لله سورة ام القران، ام الكتاب، او سبع المثاني (هغه اوه ايتونه چې بار بار تكرار كيږي) ده.

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٦٦٤٨)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /تفسير الحجر ٣ (٤٧٠٤) ، سنن ابي داود/ الصلاة ٣٥١ (تحفة الأشراف : ١٣٠١٤)

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي

****

٣١٢٥_حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنِ جَعْفَرٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا أَنْزَلَ اللَّهُ فِي التَّوْرَاةِ وَلَا فِي الْإِنْجِيلِ مِثْلَ أُمِّ الْقُرْآنِ وَهِيَ السَّبْعُ الْمَثَانِي، وَهِيَ مَقْسُومَةٌ بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ".[1]

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي ابي بن كعب به وئيل نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي نه په تورات كي او نه په انجيل كي دام القران (فاتحه) پشان سورة نازل كړي دي او دا اوه ايتونه دي كوم چې (په هر ركعات كي د لوستلي كيدلو په وجه) بار بار تكرار كيدونكي دي الله تعالي فرمائيلي دي دا سورة زما او زما دبنده په مينځ كي تقسيم شوي دي او زما دبنده دپاره هغه څه دي كوم چې دي اوغواړي.

هي السبع المثاني والقران العظيم: يعني سورة فاتحه سبع المثاني اوقران عظيم دی سورة فاتحي ته سبع مثاني هم وئيلی شي ځكه چې مثاني دمثني جمع ده په معني د دوو دوو سره او ددي سورة نزول هم دوه پيري شوی دی يو ځل په مكه كې او بل ځل په مدينه كې يا دا وجه ده چې دا سورة په هر يو ركعات كې بيا بيا لوستلی كيږي او قران عظيم ورته په دي وجه وئيلی شوي دي چې دقران بنيادي مضامين مبداء او معاد دي او هغه په دي سورة كې جمع دي ګويا كې دا د تسمية الكل باسم الجزء دقبيلي نه شو.

****

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ عَلَى أُبَيٍّ وَهُوَ يُصَلِّي فَذَكَرَ نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ مُحَمَّدٍ أَطْوَلُ وَأَتَمُّ، وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنِ جَعْفَرٍ، هَكَذَا رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ.[2]

---

[1] ـ انظر حديث رقم ٢٨٤٥

[2] ـ تفرد به المؤلف وانظر ماقبله (تحفة الأشراف : ١٤٠٧٠)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم په داسي حال کي راووتلو چې ابيّ بن کعب مونځ کولو او باقي حديث يي دماقبل پشان ذکر کړو.
امام ترمذي وايي: داحديث عبدالعزيز بن محمد ددينه اوږد او کامل بيان کړي دي او داحديث دعبدالحميد بن جعفر دحديث نه زيات صحيح دي او دمذکوره راويانو نه علاوه نورو ډيرو راويانو دعلاء بن عبدالرحمن نه هم نقل کړي دي.

****

٣١٢٦_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ، حَدَّثَنَا مُعْتَمِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ لَيْثِ بْنِ أَبِي سُلَيْمٍ، عَنْ بِشْرٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فِي قَوْلِهِ: لَنَسْأَلَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ .عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ‹الحجر :٩٢-٩٣› قَالَ: " عَنْ قَوْلِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ لَيْثِ بْنِ أَبِي سُلَيْمٍ، وَقَدْ رَوَى عَبْدُ اللَّهِ بْنُ إِدْرِيسَ، عَنْ لَيْثِ بْنِ أَبِي سُلَيْمٍ، عَنْ بِشْرٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ نَحْوَهُ وَلَمْ يَرْفَعْهُ. (1)

ترجمه : انس بن مالك رضي الله عنه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه دالله تعالي ددي قول باره کي نقل کوي " لَنَسْأَلَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ .عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ " يعني دټولو خلقو نه به مونږ ضرور دقيامت په ورځ تپوس کوو راوي وائي چې دلته لا اِلٰهَ الا الله يعني دتوحيد کلمه مراد ده او دا تپوس به ددي باره کي کيږي.
امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي او دا مونږ ته صرف دليث بن ابي سليم په سند معلوم دي دا رنګي دا روايت عبدالله بن ادريس عن ليث بن ابي سليم عن بشر عن انس بن مالك رضي الله عنه سند سره دماقبل هم معني نقل کړي دي او مرفوع يي نه دي بيان کړي.

****

٣١٢٧_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل، حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي الطَّيِّبِ، حَدَّثَنَا مُصْعَبُ بْنُ سَلَّامٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ قَيْسٍ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " اتَّقُوا فِرَاسَةَ الْمُؤْمِنِ فَإِنَّهُ يَنْظُرُ بِنُورِ اللَّهِ، ثُمَّ قَرَأَ إِنَّ فِي ذَلِكَ لآيَاتٍ لِلْمُتَوَسِّمِينَ ‹الحجر :٧٥› . قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ بَعْضِ أَهْلِ

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٢٣٤)

الْعِلْمِ فِي تَفْسِيرِ هٰذِهِ الْآيَةِ إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَآيَاتٍ لِلْمُتَوَسِّمِينَ (الحجر :٧٥) . قَالَ: لِلْمُتَفَرِّسِينَ. (1)

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دمومن دفراست نه اوويريږئ ځكه چې دي دالله تعالي دنور په وساطت ليدل كوي او بيا يي دا ايت كريمه " ان في ذلك لايات للمتوسمين" تلاوت كړو يعني بيشكه په دي كي نشانات او علامات دقدرت دي دپوهيدونكو دپاره.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف په دي مذكوره سند پيژنو او بعضي اهل علمو دايت كريمه "ان في ذلك لايات للمتوسمين" دتفسير باره كي وائي چې په دي كي علامات دقدرت داصحاب فراست دپاره دي.

****

١٧_بَاب وَمِنْ سُورَةِ النَّحْلِ

دسورة النحل دبعضي ايتونو تفسير

دَ ايت ٦٨ دَ جملي واوحي ربك الي النحل نه په طور د علامي د سورت نوم ماخوذ دی.

دَ نزول زمانه: دَ دی سورة دَ شهادتونو نه دَ دی دَ نزول زمانه معلوميدی شی. مثلاً دَ ايت ٤١ د فقرى وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا فِي اللهِ مِنْ بَعْدِ مَاظُلِمُوْا نه معلوميږی چې هغه وخت دَ حبشی هجرت شوی وؤ.

دَ ايت ١٠٦ دَ جملي من كفر بالله بعد ايمانه نه معلوميږی چې هغه وخت ظلم وستم خه په زور سره جاری وؤ. او دا سوال پيدا شوی وؤ. چې كه چرى ظلم دَ برداشت كولو نهٔ وی او څوك په مجبورئ سره دَ كفر كلمه او وائی. نو دَ هغوی حكم څهٔ دی ؟

ايت ١١٢. ١١٤كي صفا اشاره ده. چې دَ نبی صلی الله عليه وسلم دَ بعثت نه پس په مكه كي كوم قحط راغلي وؤ. هغه دَ دی سورت دَ نزول په وخت كي ختم شوی وؤ.

دَ دی سورت ايت ١١٥ داسی دی چې دَ هغی حواله دَ سورة انعام. ايت ١١٩ كي ده. او بل آيت ١١٨ داسی دی چې دَ هغی حواله په سورة انعام ١٤٦ كي ده. نو دا دَ دی خبری دليل دی چې دَ دواړو سورتونو زمانه يو بل ته نزدی ده.

نو دَ دی شهادتونو نه معلوميږی چې دا سورت دَ مكی په اخری دور كي نازل شوی دی. او دَ دی تائيد دَ سورت دَ عام انداز نه هم كيږی.

: په دی سورة كي مركزی مضمون دَ شرك ابطال او دَ توحيد اثبات دی. دَ پيغمبر دَ نهٔ منلو په

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٤٢١٤)

خطرناك انجام باندې تنبيه زورنه ده. مضامين دسورت دادي.

١ آفاقي او انفسي دليلونه دَ شرك په ابطال او دَ توحيد په اثبات.

٢. دَ منكرينو دَ اعتراضونو شكونو او حيلو او بهانو جوابونه.

٣. په باطل باندې كلك پاتې كيدل او دَ حق په مقابله كي دَ استكبار دَ بد انجام نه يرول

۴. اخلاقي او عملي تبديلي بيان شوي دي كومې چې دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم دَ دعوت په وجه باندې دَ انسان په ژوند كي راځي. په دې سلسله كي مشركينو ته خودلې شي چې الله تعالى خپل رب اومنى څكه چې تاسو هم دَ ربوبيت عقيده لرئ. صرف په ژبه باندې منل كافي نهٔ دي. بلكه دَ دې اقرار او عقيدې تقاضې هم پوره كړئ. چې هغه په خالص عقيده اخلاقو او عملي ژوند كي ښكاره كيدل پكار دي

٥. نبي صلى الله عليه وسلم او صحابه كرامو ته تسلي او زړه ورتيا وركول. او ورسره دا هم خودلې شويدي چې دَ كفارو دَ مقابلې او ظلم په مقابله كي دَ مؤمنانو څهٔ رويه پكار ده.

٦. ٣١٢٨_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَاصِمٍ، عَنْ يَحْيَى الْبَكَّاءِ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، قَالَ: سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَرْبَعٌ قَبْلَ الظُّهْرِ بَعْدَ الزَّوَالِ تُحْسَبُ بِمِثْلِهِنَّ فِي صَلَاةِ السَّحَرِ". قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وَلَيْسَ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا وَيُسَبِّحُ اللَّهَ تِلْكَ السَّاعَةَ ثُمَّ قَرَأَ يَتَفَيَّأُ ظِلَالُهُ عَنِ الْيَمِينِ وَالشَّمَائِلِ سُجَّدًا لِلَّهِ وَهُمْ دَاخِرُونَ (النحل:٤٨) الْآيَةَ كُلَّهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَلِيِّ بْنِ عَاصِمٍ. [1]

٧. **ترجمه** : عمر فاروق رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دزوال نه پس دماسپخين دمونځ نه مخكي څلور ركعاتونه دسحر د څلور و ركعاتونو تهجدو برابر ثواب درجه لري او بيايي اوفرمائيل هيڅ يو څيز داسي نشته كوم چي په دغه وخت (يعني زوال) كي دالله تعالي تسبيح نه وائي او بيا يي دا ايت كريمه " يَتَفَيَّأُ ظِلَالُهُ عَنِ الْيَمِينِ وَالشَّمَائِلِ سُجَّدًا لِلَّهِ وَهُمْ دَاخِرُونَ" يعني ايا دوئ دالله تعالي پيداكړو څيزونو ته نه ګوري چي سوري يي ښي طرف او ګس طرف ته داطاعت كولو په حال كي تيټ شوي دي.

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٥٤٣)

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف دعلي بن عاصم په روايت پيژنو

****

٣١٢٩ـ حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ الحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، حَدَّثَنَا الفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنْ عِيسَى بْنِ عُبَيْدٍ، عَنِ الرَّبِيعِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ أَبِي العَالِيَةِ، قَالَ: حَدَّثَنِي أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ، قَالَ: لَمَّا كَانَ يَوْمُ أُحُدٍ أُصِيبَ مِنَ الأَنْصَارِ أَرْبَعَةٌ وَسِتُّونَ رَجُلًا، وَمِنَ المُهَاجِرِينَ سِتَّةٌ فِيهِمْ حَمْزَةُ فَمَثَّلُوا بِهِمْ، فَقَالَتِ الأَنْصَارُ: لَئِنْ أَصَبْنَا مِنْهُمْ يَوْمًا مِثْلَ هَذَا لَنُرْبِيَنَّ عَلَيْهِمْ، قَالَ: فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ فَتْحِ مَكَّةَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُمْ بِهِ وَلَئِنْ صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِلصَّابِرِينَ (النحل :١٢٦)، فَقَالَ رَجُلٌ: لَا قُرَيْشَ بَعْدَ اليَوْمِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كُفُّوا عَنِ القَوْمِ إِلَّا أَرْبَعَةً".

قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ. [1]

ترجمه : دابیٔ بن کعب رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې کله جنګ احد واقع شو نو په دي کي دانصارو ۶۴او دمهاجرينو ۶کسان شهيدان شول او په دوئ کي حمزه رضي الله عنه هم شامل وو چې کافرانو مثله کړي وو، انصارو اووئيل که چري کومه ورځ مونږ په دوئ باندي غالب شو نو مونږ به ددوئ دمړو مثله ددينه زياته اوکړو مګر بيا چې کله دمکي دفتح وخت راغي نو الله تعالي دا ايت کريمه " وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُمْ بِهِ وَلَئِنْ صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِلصَّابِرِينَ" نازل کړو دي وخت کي يو صحابي اووئيل "لاقريش بعداليوم" يعني دنن نه پس به قريشيان نه پريخودلي کيږي رسول الله اوفرمائيل هيڅ کله نه دڅلورو کسانو نه علاوه بل هيڅوک مه قتل کوئ.

امام ترمذي وايي: داحديث دابیٔ بن کعب په سند حسن غريب دي.

****

١٨ـ بَاب وَمِنْ سُورَةِ بَنِي إِسْرَائِيلَ

دسورة بني اسرائيل دبعضي ايتونو تفسير

شان نزول

رومبنی آيت په دی خبره نشان دهی کوی. چې دا سورت دَ معراج په موقع نازل شوی دی. دَ

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف : ١٢)

معراج واقعه دَ هجرت نه يو كال وړاندې ده. دَ دې وجې نه دا سورة دَ مكې دور په آخر كي نازل شوې دې.

دَ توحيد په دعوت باندې دولس كلونه تير شوې وو مخالفينو دَ نبي صلى الله عليه وسلم دَ لارې دَ بندولو دَپاره هر قسم كوششونو كول. ليكن بيا هم دَ توحيد دعوت دَ عربو هر طرف ته رسيدلى وو. په هره قبيله كي دَ دې دعوت په څه كسانو باندې اثر شوې وو. په مكه كي دَ مخلصو خلقو يو مضبوطه ډله جوړه شوې وه. هغوى دَ حق دعوت دَپاره هر قسم كوششونه كول. په مدينه كي دَ اوس او خزرج قبيلې دَ مومنانو ملګرې وې او هغه وخت نژدې وو. چې نبي صلى الله عليه السلام او صحابه كرام مدينې ته هجرت اوكړى. او خوارهٔ وارهٔ مومنان دَ اسلام په اصولو باندې يو رياست قائم كړى.په دې حالاتو كي د معراج واقعه شويده. او نبي دا پيغام د دنيا خلقو ته واوړولو.

په دې سورة كي مخالفينو ته تنبيه وركړې شويده. چې دَ بني اسرائيلو او نورو قومونو د انجام نه عبرت او سبق واخلى. او الله تعالى چې كوم مهلت تاسو ته دركړيدى. د هغې نه فائده واخلى. او د نبي دا دعوت قبول كړې ګنې نو الله تعالى به تاسو هلاك كړى. او ستاسو په ځائې به نور خلق راولى. د تفهيم په ذريعه خودلى شوې دى. چې د نيك بختئ او بدبختئ او كاميابى او ناكامئ مدار په توحيد. دوباره ژوند. نبوت او په قرآن باندې دى. او په دليلونو سره ئې دا څلور خبرې واضح كړې دى.

د تعليم په ذريعه دَ اخلاقو او تمدن غټ غټ اصول بيان شوې دى. او دَ ژوند نظام قائمول دَ دعوت محمدى په وړاندې وو. نو ګويا چې دا دَ اسلام منشور وو. چې د اسلامي رياست قائمولو نه يو كال وړاندې عرب ته پيش كړې شو. او په صفا الفاظو سره دا خودلى شوې دى. چې محمد په دې خاكه دَ خپل ملك او بيا د ټول انسانيت ژوند تيارول غواړى. د دې تعليماتو سره نبي ته هدايت كړې شويدې چې د مشكلاتو په دې طوفان كي په خپل دعوت سره كلك اودريږه. او د كفر سره د روغې. جوړې هيڅ خيال په زړه كي مهٔ راوله. او دا رنګ مومنانو ته هم وئيلى شويدى چې په پوره صبر او سكون سره دَ حالاتو مقابله كوئ او دَ تبليغ او دَ اصلاح په كار كي خپل جذبات په قابو كي اوساتى. په دې سلسله كي د نفس د اصلاح او تزكئې دَ پاره دَ مونځ نسخه خودلى شويده. دَ رواياتو نه معلوميږې چې دا ړومبنئ موقعه ده چې په ديكي په مومنانو باندې دَ وخت دَ پابندئ سره پنځه مونځونه فرض شويدى.

٣١٣٠ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، أَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيِّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " حِينَ أُسْرِيَ بِي، لَقِيتُ مُوسَى، قَالَ فَنَعَتَهُ، فَإِذَا رَجُلٌ حَسِبْتُهُ، قَالَ: مُضْطَرِبٌ رَجِلُ الرَّأْسِ كَأَنَّهُ مِنْ رِجَالِ شَنُوءَةَ، قَالَ:

وَلَقِيتُ عِيسَى، قَالَ فَنَعَتَهُ، قَالَ: رَبْعَةٌ أَحْمَرُ كَأَنَّمَا خَرَجَ مِنْ دِيمَاسٍ يَعْنِي الْحَمَّامَ، وَرَأَيْتُ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: وَأَنَا أَشْبَهُ وَلَدِهِ بِهِ، قَالَ: وَأُتِيتُ بِإِنَاءَيْنِ أَحَدُهُمَا لَبَنٌ وَالآخَرُ خَمْرٌ، فَقِيلَ لِي: خُذْ أَيَّهُمَا شِئْتَ، فَأَخَذْتُ اللَّبَنَ فَشَرِبْتُهُ، فَقِيلَ لِي: هُدِيتَ لِلْفِطْرَةِ أَوْ أَصَبْتَ الْفِطْرَةَ، أَمَا إِنَّكَ لَوْ أَخَذْتَ الْخَمْرَ غَوَتْ أُمَّتُكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دمعراج په شپه چې زه اسمان ته اوخيژولي شوم نو زما ملاقات دموسي عليه السلام سره اوشو او رسول الله دهغه حليه بيان کړه راوي وائي زما خيال دي چې داسي يې اوفرمائيل موسي عليه السلام يو لوړ قد والا انسان دي چې خړ پړ او غوړو ويختو والاوو او دشنوءه قوم دخلقو پشان ښکاريدو، فرمائي چې بيا زما ملاقات دعيسي عليه السلام سره اوشو او ددوئ وصف يې هم بيان کړو چې هغه يو درميانه قد والا سور سپين رنګ والا انسان وو داسي ښکاريدو لکه چې همدا اوس دغسل خاني نه راوتلي وي او راغلي وي، ما ابراهيم عليه السلام هم اوليدو او زه دهغه په اولاد کي دهغه سره دټولو نه زيات مشابه يم رسول الله اوفرمائيل ماته دوه لوښي راوړلي شول چې په يو کي شوده وو او په بل کي شراب وو ماته اووئيلي شول چې کوم دي خوښ وي هغه واخله نومادشودو لوښي واخستلو او بيا مي اوڅکل ماته اووئيلي شول تاته دفطرت په طرف رهنمائي اوکړي شوه او که داسي يې اوفرمائيل تا دفطرت طرف ته قدم پورته کړو که چرې رسول الله دشرابو لوښي اخستلي وي نو امت به يې ګمراه شوي وي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣١٣١ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أُتِيَ بِالْبُرَاقِ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِهِ مُلْجَمًا مُسْرَجًا فَاسْتَصْعَبَ عَلَيْهِ، فَقَالَ لَهُ جِبْرِيلُ: أَبِمُحَمَّدٍ تَفْعَلُ هَذَا فَمَا رَكِبَكَ أَحَدٌ أَكْرَمُ عَلَى اللَّهِ مِنْهُ، قَالَ: فَارْفَضَّ عَرَقًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَلَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الرَّزَّاقِ.[2]

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /أحاديث الأنبياء ٢٢ (٣٣٩٤)، و ٤٩ (٣٤٣٧)، وتفسير الإسراء ٣ (٤٧٠٩)، والأشربة ١ (٥٥٧٦)، و ١٢ (٥٦٠٣)، صحيح مسلم /الإيمان ٧٤ (١٦٨)، سنن النسائي/الأشربة ٤١ (٥٦٦٠) (تحفة الأشراف: ١٣٢٧٠)، و مسند احمد (٢/٥١٢)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٢١)

ترجمه دانس رضي الله عنه بيان دي فرماني چې په کومه شپه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته معراج حاصل شو نو دده دسورلۍ دپاره براق راوستلي شو براق ته واګي اچولي شوي وي او زين ورباندي اچولي شوي وو رسول الله صلي الله عليه وسلم په دي باندي دسوريدو وخت کي تکليف محسوس کړو نوجبرائيل عليه السلام ورته اووئيل ايا دمحمد (صلي الله عليه وسلم) سره داسي کوي په براق باندي داوسه پوري درسول الله نه زيات عزتمند کس چرته بل څوک نه دي سور شويددي خبري په اوريدو باندي دبراق نه خولي رواني شوي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي او دعبدالرزاق دسند نه علاوه داحديث مونږ ته په بل سند معلوم نه دي.

****

٣١٣٢_حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الدَّوْرَقِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو تُمَيْلَةَ، عَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ جُنَادَةَ، عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَمَّا انْتَهَيْنَا إِلَى بَيْتِ الْمَقْدِسِ، قَالَ جِبْرِيلُ: بِإِصْبَعِهِ فَخَرَقَ بِهِ الْحَجَرَ وَشَدَّ بِهِ الْبُرَاقَ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي دمعراج په شپه چې کله مونږ بيت المقدس ته ورسيدو نو جبرائيل عليه السلام دځپلي ګوتي په اشاري په کاڼړي کي سوري اوکړو او براق يي ورپوري اوتړلو.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي.

****

٣١٣٣_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ عُقَيْلٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَمَّا كَذَّبَتْنِي قُرَيْشٌ قُمْتُ فِي الْحِجْرِ فَجَلَا اللهُ لِي بَيْتَ الْمَقْدِسِ، فَطَفِقْتُ أُخْبِرُهُمْ عَنْ آيَاتِهِ وَأَنَا أَنْظُرُ إِلَيْهِ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَفِي الْبَابِ، عَنْ مَالِكِ بْنِ صَعْصَعَةَ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي ذَرٍّ، وَابْنِ مَسْعُودٍ. (2)

ترجمه : دجابر رضي الله عنهمابيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي کله چې قريشو دمعراج دسفر باره کي زماتکذيب اوکړو نو زه دحجر (حطيم) سره اودريدم او الله تعالي

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٩٤٥)

2 _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /مناقب الأنصار ٤١ (٣٨٨٦) . وتفسير الإسراء ٢ (٤٧١٠) . صحيح مسلم /الإيمان ٧٥ (١٧٠) (تحفة الأشراف : ٣١٥١) . و مسند احمد (٣/٣٧٧)

بيت المقدس زما په وړاندي ظاهر کړو او ما ورته دکتلو په حال کي دوئ ته ددي علامات بيانول شروع کړل.

امام ترمذي وايي:داحديث حسن صحيح دي، او په دي باب کي دمالك بن صعصعه، ابوسعيد، ابن عباس، ابوذر او ابن مسعود رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٣١٣٤ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، فِي قَوْلِهِ: وَمَا جَعَلْنَا الرُّؤْيَا الَّتِي أَرَيْنَاكَ إِلا فِتْنَةً لِلنَّاسِ (الإسراء:٦٠)، قَالَ: "هِيَ رُؤْيَا عَيْنٍ أُرِيَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِهِ إِلَى بَيْتِ الْمَقْدِسِ، قَالَ: وَالشَّجَرَةَ الْمَلْعُونَةَ فِي الْقُرْآنِ هِيَ شَجَرَةُ الزَّقُّومِ"، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.([1])

ترجمه: دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه دايت كريمه " وَمَا جَعَلْنَا الرُّؤْيَا الَّتِي أَرَيْنَاكَ إِلا فِتْنَةً لِلنَّاسِ " باره کي مروي دي چې ددينه مراد په سترګو ليدل دي کومه ورځ چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دبيت المقدس چکر اولګولي شو نو هغوئ دا هم وئيلي وو چې په "وَالشَّجَرَةَ الْمَلْعُونَةَ فِي الْقُرْآنِ هِيَ شَجَرَةُ الزَّقُّومِ" نه مراد دزقوم ونه ده.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣١٣٥ـ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ أَسْبَاطِ بْنِ مُحَمَّدٍ قُرَشِيٌّ كُوفِيٌّ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فِي قَوْلِهِ: وَقُرْءَانَ الْفَجْرِ إِنَّ قُرْءَانَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا (الإسراء:٧٨) قَالَ: "تَشْهَدُهُ مَلَائِكَةُ اللَّيْلِ وَمَلَائِكَةُ النَّهَارِ"، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.([2])

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم د ايت كريمه " وَقُرْءَانَ الْفَجْرِ إِنَّ قُرْءَانَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا " متعلق اوفرمائيل په دغه وخت کي دشپې فرشتي او دورځي فرشتي ټولي موجود وي.

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /مناقب الأنصار ٤٢ (٣٨٨٨)، وتفسير الإسراء (٤٧١٦)، والقدر ١٠ (٦٦١٣) (تحفة الأشراف: ٦١٦٧)

[2] ـ سنن ابن ماجه/الصلاة ٢ (٦٧٠) (تحفة الأشراف: ١٢٣٢٢)

6/39

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

وَرَوَى عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ. حَدَّثَنَا بِذَلِكَ عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ، عَنِ الأَعْمَشِ فَذَكَرَ نَحْوَهُ. (1)

ترجمه : ابوصالح دابوهريره دابوسعيد خدري رضي الله عنهما نه دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي دارنګي علي بن حجر هم دعلي بن مسعود نه داعمش په واسطه دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي.

****

٣١٣٦ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنِ السُّدِّيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فِي قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: يَوْمَ نَدْعُو كُلَّ أُنَاسٍ بِإِمَامِهِمْ (الإسراء :٧١) ، قَالَ: "يُدْعَى أَحَدُهُمْ فَيُعْطَى كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ وَيُمَدُّ لَهُ فِي جِسْمِهِ سِتُّونَ ذِرَاعًا وَيُبَيَّضُ وَجْهُهُ وَيُجْعَلُ عَلَى رَأْسِهِ تَاجٌ مِنْ لُؤْلُؤٍ يَتَلأْلأُ، فَيَنْطَلِقُ إِلَى أَصْحَابِهِ فَيَرَوْنَهُ مِنْ بَعِيدٍ فَيَقُولُونَ: اللَّهُمَّ ائْتِنَا بِهَذَا وَبَارِكْ لَنَا فِي هَذَا، حَتَّى يَأْتِيَهُمْ فَيَقُولُ: أَبْشِرُوا لِكُلِّ رَجُلٍ مِنْكُمْ مِثْلُ هَذَا. قَالَ: وَأَمَّا الْكَافِرُ فَيُسَوَّدُ وَجْهُهُ وَيُمَدُّ لَهُ فِي جِسْمِهِ سِتُّونَ ذِرَاعًا عَلَى صُورَةِ آدَمَ فَيُلْبَسُ تَاجًا، فَيَرَاهُ أَصْحَابُهُ فَيَقُولُونَ: نَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شَرِّ هَذَا اللَّهُمَّ لاَ تَأْتِنَا بِهَذَا. قَالَ: فَيَأْتِيهِمْ، فَيَقُولُونَ: اللَّهُمَّ أَخْزِهِ، فَيَقُولُ: أَبْعَدَكُمُ اللَّهُ فَإِنَّ لِكُلِّ رَجُلٍ مِنْكُمْ مِثْلَ هَذَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَالسُّدِّيُّ اسْمُهُ إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ. (2)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دا ايت كريمه " يَوْمَ نَدْعُو كُلَّ أُنَاسٍ بِإِمَامِهِمْ " متعلق اوفرمائيل په دوئ كي چې څوك جنتي راوغوښتلي شي هغه ته به عمل نامه په ښي لاس كي وركړي شي او دده جسم به شپيته ګزو پوري غټ كړي شي او مخ به يي پرقيږي او په سر به يي دملغلرو پرقيدونكي تاج كيخودلي شي او بيا به خپلو ملګرو ته راشي چې څوك يي دلري نه اوګوري نو وائي به اي الله دداسي نعمتونو نه مونږ ته هم راكړي او مونږ ته هم په دي كي بركت واچوي دي چې ملګرو ته ورسيږي

---

1 ـ انظر ماقبله (تحفة الأشراف : ١٢٤٤٤)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٣٦١٢)

نو وائي به تاسو ټول خوشحاله شئ هريو كس ته به همداسي ملاويږي ليكن دكافر معامله به څه وي دكافرمخ به تور كړي شي او جسم به يي شپيته ګزو ته ورسولي شي څومره چې دادم عليه السلام لوړوالي وو او تاج به ورته پسر كيخودلي شي چې خپل ملګري يي اووينې نو وائي به دده دشر نه مونږ په الله باندي پناه غواړو او اي الله دده پشان تاج مونږ ته رانكړي او بيا به دي خلقو ته ورشي خلق به وائي اي الله ده لره ذليل كړې. دي به وائي الله تعالي دي تاسو زما نه لري اوساتي څكه چې په تاسو كي به هم هر يو كس داسي وي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او دسدي نوم اسماعيل بن عبدالرحمن دي.

* * * * * * * * * * * * * * * *

٣١٣٧ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ يَزِيدَ الزَّعَافِرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فِي قَوْلِهِ: " عَسَى أَنْ يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَحْمُودًا (الإسراء ٧٩) سُئِلَ عَنْهَا، قَالَ: هِيَ الشَّفَاعَةُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَدَاوُدُ الزَّعَافِرِيُّ هُوَ دَاوُدُ الْأَوْدِيُّ بْنُ يَزِيدَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ وَهُوَ عَمُّ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ إِدْرِيسَ. ([1])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دايت كريمه " عَسَى أَنْ يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَحْمُودًا " باره كي مي تپوس اوكړو نو ويي فرمائيل ددينه مراد شفاعت دي.

امام ترمذي وايي داحديث حسن دي او داود زعافري نوم داود بن يزيد بن عبدالرحمن اودي دي او دا دعبدالله بن ادريس تره دي.

* * * * * * * * * * * * * * * *

٣١٣٨ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ أَبِي مَعْمَرٍ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: " دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ عَامَ الْفَتْحِ وَحَوْلَ الْكَعْبَةِ ثَلَاثُ مِائَةٍ وَسِتُّونَ نُصُبًا، فَجَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَطْعَنُهَا بِمِخْصَرَةٍ فِي يَدِهِ وَرُبَّمَا قَالَ بِعُودٍ وَيَقُولُ: " جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا (الإسراء :٨١) جَاءَ الْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيدُ (سبأ :٤٩) ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ وَفِيهِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ. ([2])

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٣٨٢٨) ، و مسند احمد (٢/٤٤١، ٤٤٤، ٥٢٨)

2 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /المظالم ٣٢ (٢٤٧٨) ، والمغازي ٤٩ (٤٢٨٧) ، وتفسير الإسراء ١١ (٤٧٢٠) ، صحيح مسلم /الجهاد ٣٢ (١٧٨١) (تحفة الأشراف : ٩٣٣٤)

ترجمه : دابن مسعود رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې په کوم کال مکه فتح شوه او رسول الله صلي الله عليه وسلم ورداخل شو نو په کعبه کي ګيرچاپيير دري سوه شپيته بتان موجود وو نورسول الله صلي الله عليه وسلم پخپل لاس په چوکه اووهلو ،او عبدالله به کله کله داسي وئيل چې رسول الله پخپل لاس کي يو لرګي نيولي وو چې دوئ ته به يي وروړلو او دا کلمات به يي فرمائيل " جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا " يعني حق راغلو او باطل ختم شو او باطل واقعي ختميدونکي دي او همدا رنګي " جَاءَ الْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيدُ " حق غالب شو او اوس باطل نشي سرګند کيدي او نه راواپس کيدي شي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دابن عمر رضي الله عنهما نه هم حديث وارد دي.

****

٣١٣٩_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ قَابُوسَ بْنِ أَبِي ظَبْيَانَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ ثُمَّ أُمِرَ بِالْهِجْرَةِ فَنَزَلَتْ عَلَيْهِ: وَقُلْ رَبِّ أَدْخِلْنِي مُدْخَلَ صِدْقٍ وَأَخْرِجْنِي مُخْرَجَ صِدْقٍ وَاجْعَلْ لِي مِنْ لَدُنْكَ سُلْطَانًا نَصِيرًا (الإسراء: ٨٠)". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائي چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم په مکه کي موجود وو چې دهجرت کولو حکم ورته اوشو نو په دي وخت کي ايت کريمه "وَقُلْ رَبِّ أَدْخِلْنِي مُدْخَلَ صِدْقٍ وَأَخْرِجْنِي مُخْرَجَ صِدْقٍ وَاجْعَلْ لِي مِنْ لَدُنْكَ سُلْطَانًا نَصِيرًا" يعني دعا اوغواړه چې اي زما پروردګاره ما يو ښکلي ځاي ته ورسي او په ښه طريقه مي اوباسي ددي ځاي نه او دخپل طرفه زما دپاره يو قوي مددګار مهيا کړي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣١٤٠_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ أَبِي هِنْدٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: " قَالَتْ قُرَيْشٌ لِيَهُودَ: أَعْطُونَا شَيْئًا نَسْأَلُ هَذَا الرَّجُلَ، فَقَالَ: سَلُوهُ عَنِ الرُّوحِ، قَالَ: فَسَأَلُوهُ عَنِ الرُّوحِ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٣٠٥)

وَمَا أُوتِيتُمْ مِنَ الْعِلْمِ إِلا قَلِيلا (الإسراء :٨٥)، قَالُوا: أُوتِينَا عِلْمًا كَثِيرًا. أُوتِينَا التَّوْرَاةَ وَمَنْ أُوتِيَ التَّوْرَاةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا. فَأُنْزِلَتْ: قُلْ لَوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا لِكَلِمَاتِ رَبِّي لَنَفِدَ الْبَحْرُ (الكهف :١٠٩ إِلَى آخِرِ الآيَةِ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [1]

ترجمه : عبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې قريشيانو يهوديانو ته اووئيل مونږ ته كوم داسي سوال اوښايئ چې په دي كس (محمد صلي الله عليه وسلم) باندي يي اوكړو هغوئ اووئيل دروح په باره كي ورنه تپوس اوكړئ نو هغوئ درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دروح باره كي سوال اوكړو چې دروح حقيقت څه دي ترديي چې دي باره كي الله تعالي ايت كريمه " وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي وَمَا أُوتِيتُمْ مِنَ الْعِلْمِ إِلا قَلِيلا " دوى تپوس كوى ستا نه د روح په باره كښ. ته اووايه چې روح حكم د رب ځما نه دى او نه دى دركړي شوى تاسو ته د علم نه مگر لږ غوندي. ،نازل كړو يعني دوئ درنه دروح باره كي سوال كوي ته ورته اووايه چې روح دالله تعالي حكم دي او تاسو ته ډير لږ علم دركړي شوي دي، هغوئ اووئيل مونږ سره خو ډير علم دي مونږ ته تورات راكړي شوي دي او تورات چې چاته وركړي شوي وي هغه سره لوي خبر وي نو دي باره كي دا ايت كريمه "قُلْ لَوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا لِكَلِمَاتِ رَبِّي لَنَفِدَ الْبَحْرُ " نازل شو يعني دوئ ته اووايه كه چري زما درب كلماتو او معلوماتو او مقدوراتو دليكلو دپاره سمندر سياهي اوګرځي نو سمندر به ختم شي مگر زما درب حمد او ثناء به ختم نشي.

امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي.

تشريح: په دى كي د سوال جواب دى. او دا سوال د منكرينو د ضد او په عناد د وجه ؤو. ځان پوهول ئى مراد نه ؤو. دا سوال يهودو كړى ؤو. عبدالله بن مسعود رضى الله عنه فرمائيلى دى. په داسى حال كي چې څه د نبى صلى الله عليه وسلم سره په يو پټى كي روان وم او هغه د كجورى د لختى په مدد سره روان ؤو. څه يهوديان راغلل. نو يو بل ته ئى اوئيل. چې د دۀ نه د روح په باره كي تپوس اوكړى. بيا ئى اووئيل چې داسى څه حاجت دى. او بعضو اووئيل چې داسى جواب درنه كړى چې تاسو پرى بد ګنړئ. (اخر) دوى اووئيل چې تپوس ترينه اوكړى. نو تپوس ئى ترينه اوكړو د روح په باره كښ. نو نبى صلى الله عليه وسلم څه جواب ورنۀ كړو. او خاموش شو. نو زه پوهه شوم. چې په دۀ وحى راځى. زه په خپل ځاىٔ ولاړ ووم چې كله وحى راغله نو نبى صلى الله عليه وسلم دا ايت اولوستلو. (متفق عليه). يعنى د حق دين نه مخ ګرځوونكى داسى تپوسونه كوى. چې روح څه شى دى د كوم ځاىٔ نه ښكاره شويدى. نو جواب وركړى شو. چې دا د الله تعالى د حكم نه دى. د دينه زيات په

[1] ـــ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف : ٦٠٨٣)

تفصيل باندې تاسو پوهيدلی نشئ.
دويم قول دا دی چې د روح نه مراد قرآن پاك دی. لکه په سورة نحل ۲ پ ۱۴ کې الله تعالی فرمائی: ينزل الملائكة بالروح من امر ربه علي من يشاء من عباده، (نازلوی ملائك په روح سره د خپل حکم د وجی نه په چا چې اوغواړی د خپلو بندګانو نه).
نو د دوی سوال دا ؤو. چې دا قرآن تا د خان نه جوړ کړی دی او که جبرائيل عليه السلام د خان نه جوړ کړی دی. نو جواب اوشو چې دا د الله تعالی په حکم سره نازل شويدی.
دريم قول دا دی چې د دينه مراد جبرائيل دی ځکه چې قرآن کريم کې هغهٔ ته الروح الامين او روح القدس وئيلی شويدی. يعنی دوی سوال کوؤ چې جبرائيل عليه السلام د څهٔ نه پيدا دی. نو جواب اوشو. چې د الله تعالی په حکم پيدا شويدی د روح او نفس په باره کې د علماؤ مختلف اقوال دی.
څوك وائی چې نفس ساه ته وائی او روح يو قسم مخلوق دی. ساه هغی ته وائی چې انسانان او حيوانات په هغی سره ژوندی وی. د دی وجی نه د مرګ په وخت د نفس د ايستلو ذکر دی او د روح ذکر ئی نه دی کړی. بل قول دا دی چې روح او نفس يو شی دی. خو چې کله په بدن کې وی نو نفس ورته وائی. او روح عام دی که په بدن کې وی او که نهٔ وی.
وما اوتيتم من العلم الا قليلا ، عام خطاب دی او دا دليل دی چې د مخلوق علم لږ دی. نو د الله تعالی سره په علم محيط او علم کلی او علم غيب کې شريك نشی کيدی. او دا رنګ د کم او لږ علم په وجی سره په متشابه څيزونو باندې هم نهٔ پوهيږی.

****

٣١٤١ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ خَشْرَمٍ، أَخْبَرَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: كُنْتُ أَمْشِي مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَرْثٍ بِالْمَدِينَةِ وَهُوَ يَتَوَكَّأُ عَلَى عَسِيبٍ فَمَرَّ بِنَفَرٍ مِنَ الْيَهُودِ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: لَوْ سَأَلْتُمُوهُ. فَقَالَ بَعْضُهُمْ: لَا تَسْأَلُوهُ فَإِنَّهُ يُسْمِعُكُمْ مَا تَكْرَهُونَ. فَقَالُوا لَهُ: يَا أَبَا الْقَاسِمِ، حَدِّثْنَا عَنِ الرُّوحِ. فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاعَةً وَرَفَعَ رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ، فَعَرَفْتُ أَنَّهُ يُوحَى إِلَيْهِ، حَتَّى صَعِدَ الْوَحْيُ، ثُمَّ قَالَ: "الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي وَمَا أُوتِيتُمْ مِنَ الْعِلْمِ إِلا قَلِيلا (الإسراء: ٨٥)"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه: عبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې يو ځل دنبي كريم صلي الله عليه وسلم سره دمديني په پټو او فصلونو كي روان وو رسول الله صلي الله عليه وسلم به كله كله دكجوري يوخانښ ته ډډه وهله او ديهوديانو په خوا به تيريدو نو په دوئ كي بعضي

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /العلم ۴۷ (۱۲۵). وتفسير الإسراء ۱۲ (۴۷۲۱). والإعتصام ۳ (۷۲۹۷). والتوحيد ۲۸ (۷۴۵۶). و ۲۹ (۷۴۶۲). صحيح مسلم /المنافقين ۴ (۲۷۹۴) (تحفة الأشراف: ۹۴۱۹)

يهوديانو ګنګوسي اوکړل کاش چې دده نه مو سوالات کړي وي، بعضو اوويل دده نه دڅه څيز تپوس مه کوئ څکه چې داسي جواب به درکړي چې ستاسو به بيا خوښ نه وي مګر هغوئ اونه منل او ترديې چې سوال يي اوکړو اي ابوالقاسم مونږ ته دروح باره کي معلومات راکړه ددي سوال په اوريدو رسول الله يوه شيبه خاموش اودريدو او بيا يي سر اسمان طرف ته پورته کړو نو زه پوهه شوم چې په رسول الله باندي وحي راتلونکي ده چنانچې وحي راغله او بيا يي اوفرمائيل "الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي وَمَا أُوتِيتُمْ مِنَ الْعِلْمِ إِلا قَلِيلا".

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي

****

٣١٤٢_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُوسَى، وَسُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ أَوْسِ بْنِ خَالِدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثَلَاثَةَ أَصْنَافٍ: صِنْفًا مُشَاةً، وَصِنْفًا رُكْبَانًا، وَصِنْفًا عَلَى وُجُوهِهِمْ ". قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَكَيْفَ يَمْشُونَ عَلَى وُجُوهِهِمْ ؟ قَالَ: " إِنَّ الَّذِي أَمْشَاهُمْ عَلَى أَقْدَامِهِمْ قَادِرٌ عَلَى أَنْ يُمْشِيَهُمْ عَلَى وُجُوهِهِمْ، أَمَا إِنَّهُمْ يَتَّقُونَ بِوُجُوهِهِمْ كُلَّ حَدَبٍ وَشَوْكٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رَوَى وُهَيْبٌ، عَنِ ابْنِ طَاوُسٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا مِنْ هَذَا. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دقيامت په ورځ به خلق په دري قسمونو کي راجمع کړي شي يوه ډله به پيدل راروان وي او بله ډله به سوره راروان وي او بله ډله به نسکور په خاپوړو راروان وي، عرض اوکړي شو اي دالله رسوله په خاپوړو به څنګه ځي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل، چاچې دوئ پخپو روان کړي دي هغه ذات په دي باندي هم قادر دي چې دوئ لره په مخونو روان کړي واوري (داسي به نه وي چې دوئ به روان وي) بلکه دوئ به په مخ باندي دهري لوړي نه ژوري ته رازغلي او دازغو نه به دبچ کيدو په حالت کي راروان وي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي ، اهيب دابن طاوس نه او هغه دخپل پلار طاوس نه او هغه دابوهريره په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه ددي حديث څه حصه نقل کړي ده.

****

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٢٢٠٣)

٣١٤٣_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا بَهْزُ بْنُ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّكُمْ مَحْشُورُونَ رِجَالًا وَرُكْبَانًا وَيُجَرُّونَ عَلَى وُجُوهِهِمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (١)

ترجمه : دمعاويه بن هيده رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي تاسو به په قيامت کي راجمع کړي شئ څه کسان به پيادل روان وي او څه به سواره روان وي او څه کسان به پړمخي درابښکلي کيدو په حال کي جمع کولي شي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي.

****

٣١٤٤_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، وَيَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، وَأَبُو الْوَلِيدِ، وَاللَّفْظُ لَفْظُ يَزِيدَ وَالْمَعْنَى وَاحِدٌ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ عَسَّالٍ، أَنَّ يَهُودِيَّيْنِ قَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ اذْهَبْ بِنَا إِلَى هَذَا النَّبِيِّ نَسْأَلُهُ، فَقَالَ: لَا تَقُلْ لَهُ نَبِيٌّ فَإِنَّهُ إِنْ سَمِعَنَا نَقُولُ نَبِيٌّ كَانَتْ لَهُ أَرْبَعَةُ أَعْيُنٍ، فَأَتَيَا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَسَأَلَاهُ عَنْ قَوْلِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ: وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى تِسْعَ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ (الإسراء :١٠١). فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تُشْرِكُوا بِاللَّهِ شَيْئًا، وَلَا تَزْنُوا، وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ، وَلَا تَسْرِقُوا، وَلَا تَسْحَرُوا، وَلَا تَمْشُوا بِبَرِيءٍ إِلَى سُلْطَانٍ فَيَقْتُلَهُ، وَلَا تَأْكُلُوا الرِّبَا، وَلَا تَقْذِفُوا مُحْصَنَةً، وَلَا تَفِرُّوا مِنَ الزَّحْفِ شَكَّ شُعْبَةُ وَعَلَيْكُمْ يَا مَعْشَرَ الْيَهُودِ خَاصَّةً أَنْ لَا تَعْدُوا فِي السَّبْتِ. فَقَبَّلَا يَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ". وَقَالَا: نَشْهَدُ أَنَّكَ نَبِيٌّ، قَالَ: فَمَا يَمْنَعُكُمَا أَنْ تُسْلِمَا ؟، قَالَا: إِنَّ دَاوُدَ دَعَا اللَّهَ أَنْ لَا يَزَالَ فِي ذُرِّيَّتِهِ نَبِيٌّ وَإِنَّا نَخَافُ إِنْ أَسْلَمْنَا أَنْ تَقْتُلَنَا الْيَهُودُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (٢)

دصفوان بن عسال رضي الله عنه نه منقول دي :يوه ورځ يو يهودي خپل يو ملګري ته اووئيل چې راشه چې دې نبي ته ورشو ملګري يې ورته اووئيل نبي ورته مه وايه که چرې وايي اوريدل

---

1 _ انظر حديث رقم ٢٤٢٣

2 _ :(رواه الترمذي: ٣١٤٤ و النسائي في السنن الكبرى: ٨٦٥٦ـ وابن ماجة: ٣٧٠٥ـ انظر حديث رقم ٢٧٣٣. سنن ابن ماجه/الأدب ١٦ (٣٧٠٥) . والنسائي في الكبرى في السير (٨٦٥٦) وفي المحاربة (٣٥٢١) (تحفة الأشراف : ٤٩٥١) وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٢٣٩)

چې يهوديان خو هم مانبي گڼړي نو سترګي به يي ځلور شي يعني دخوشحالۍ نه به په جامو کې نه ځايږي. بهر حال دوئ دواړه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شول او دنهه واضحو احکامو په باره کې يي ورنه سوال اوکړو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هيڅوك به دالله تعالي سره نه شريکوئ، غلا به نه کوئ، زنا به نه کوئ او دکوم نفس وژل چې الله حرام کړي دي هغه به په ناحقه نه قتل کوئ او دکوم بي ګناه دقتل کولو دپاره به په هغه باندي ددي دپاره الزام نه لګوئ چې حاکم ته يي ورولئ (او سزا ورته ورکړي) جادو به نه کوئ، سود به نه خورئ، او په پاکدامنو ښځو به دزنا تهمت نه لګوئ، او دجنګ په ميدان کې به دشمن ته شا نه ورګرځوئ او اي يهوديانو په تاسو باندي په خصوصيت سره واجب دي چې دخالي دورځي په معامله کې دالله دحکم نه تجاوز اونکړئ . راوي وائي چې ددي په اوريدو سره دواړو يهوديانو دنبي کريم صلي الله عليه وسلم لاس او ځپي خکل کړل او ويي وئيل مونږ ګواهي ورکوو چې ته واقعي دالله نبي او رسول يي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هر کله چې تاسو زماپه رسالت يقين اوکړو نو زما داتباع نه ستاسو دپاره کوم ځيز مانع دی ؟ هغوئ اووئيل حقيقت دادی چې داود عليه السلام دخپل رب نه دعا غوښتلي وه چې نبوت دي هميشه زماپه اولاد کې وي لهذا مونږ ويريږو چې که ستا پيروي اوکړو نو يهوديان به مو قتل کړي.

تشريح : ددي حديث نه معلومه شوه چې په رسول الله ايمان لرل جدا ځيز دی او اتباع رسول جدا ځيز دی . خلاصه داده چې دالله تعالي داطاعت سره ځاي په ځاي داطاعت رسول حکم بار بار شوی دی او په مختلفو عنواناتو سره درسول دبيان کړو احکامو دمنلو هدايت شوی دی دا هر څه ددي خطري پيش نظر دي چې څوك احاديث رسول لره دقران نه جدا اونه ګڼړي او داطاعت الهيه نه يي جدا اونه ګڼړي او انکار ورنه اونکړي داتباع رسول متعلق احاديث او دعلماؤ اقوال نور هم ډير زيات دي ليکن مونږ په مذکوره بحث اکتفاء کوو.

دصفوان ابن عسال رضي الله عنه حالات

نوم صفوان دپلار نوم عسال دکوفي اوسيدونکي دي او اکثر يي نقل دروايت داهل کوفه نه کړي دي چې يوڅو روايات ورنه منقول دي.

****

٣١٤٥ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، وَلَمْ يَذْكُرْ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَهُشَيْمٍ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَلا تَجْهَرْ بِصَلاتِكَ (الإسراء :١١٠) قَالَ: نَزَلَتْ بِمَكَّةَ، كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا

رَفَعَ صَوْتَهُ بِالْقُرْآنِ سَبَّهُ الْمُشْرِكُونَ، وَمَنْ أَنْزَلَهُ وَمَنْ جَاءَ بِهِ، فَأَنْزَلَ اللهُ وَلا تَجْهَرْ بِصَلاتِكَ (الإسراء :١١٠) فَيَسُبُّوا الْقُرْآنَ وَمَنْ أَنْزَلَهُ وَمَنْ جَاءَ بِهِ وَلا تُخَافِتْ بِهَا (الإسراء :١١٠) عَنْ أَصْحَابِكَ بِأَنْ تُسْمِعَهُمْ حَتَّى يَأْخُذُوا عَنْكَ الْقُرْآنَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : ابن عباس رضي الله عنهما دايت كريمه " وَلا تَجْهَرْ بِصَلاتِكَ " په باره كي وائي دا ايت په مكه كي هغه وخت كي نازل شو كله چې رسول الله صلي الله عليه وسلم په مكه كي پټ دعوت چلولو كله چې رسول الله دخپلو صحابه كرامو سره مونځ كولو نو قران يې په جهري اواز سره لوستلو مشركينو چې به اوريدلو نو قران او دقران نازلونكي او دقران راوړونكي ټولو ته به يې كنځل كول نو دي باره كي الله تعالي خپل نبي ته اوفرمائيل "ولاتجهربصلاتك" يعني په جهري اواز سره قرائت مه كوه دكوم په اوريدو سره چې مشركينو كنځلي شروع كړي او نه يې بيخي په خفيه اواز سره وائي (چې ستا ملګري يې هم نشي اوريدلي) بلكه ددي درميانه لاره اختيار كړه.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣١٤٦ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، حَدَّثَنَا أَبُو بِشْرٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، فِي قَوْلِهِ: وَلا تَجْهَرْ بِصَلاتِكَ وَلا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذَلِكَ سَبِيلا (الإسراء :١١٠) ، قَالَ: نَزَلَتْ وَرَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم مختف بمكة. فَكَانَ إِذَا صَلَّى بِأَصْحَابِهِ رَفَعَ صَوْتَهُ بِالْقُرْآنِ فَكَانَ الْمُشْرِكُونَ إِذَا سَمِعُوهُ شَتَمُوا الْقُرْآنَ وَمَنْ أَنْزَلَهُ وَمَنْ جَاءَ بِهِ فَقَالَ اللَّهُ لِنَبِيِّهِ: وَلا تَجْهَرْ بِصَلاتِكَ أَيْ بِقِرَاءَتِكَ فَيَسْمَعَ الْمُشْرِكُونَ فَيَسُبُّوا الْقُرْآنَ وَلا تُخَافِتْ بِهَا عَنْ أَصْحَابِكَ وَابْتَغِ بَيْنَ ذَلِكَ سَبِيلا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[2]

ترجمه : دسعيد بن جبير بيان دي چې ابن عباس رضي الله عنهما دايت كريمه " وَلا تَجْهَرْ بِصَلاتِكَ وَلا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذَلِكَ سَبِيلا "باره كي اوفرمائيل دا ايت په مكه كي هغه وخت

---

[1] اورده البخاري في الجامع الصحيح /تفسير الإسراء ١٤ (٤٧٢٢) . والتوحيد ٣٢ (٧٤٩٠) . و ٤٤ (٧٥٢٥) . و ٥٢ (٧٥٤٧) . صحيح مسلم /الصلاة ٣١ (٤٤٦) . سنن النسائي/الإفتتاح ٨٠ (١٠١٢) (تحفة الأشراف : ٥٤٥١) . و مسند احمد (٢٣/١ . ٢١٥)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /تفسير الإسراء ١٤ (٤٧٢٢) . والتوحيد ٣٢ (٧٤٩٠) . و ٤٤ (٧٥٢٥) . و ٥٢ (٧٥٤٧) . صحيح مسلم /الصلاة ٣١ (٤٤٦) . سنن النسائي/الإفتتاح ٨٠ (١٠١٢) (تحفة الأشراف : ٥٤٥١) . و مسند احمد (٢٣/١ . ٢١٥)

كي نازل شوي دي كله چې به رسول الله پټ اوسيدلو كله چې رسول الله دخپلو صحابه كرامو سره مونځ كولو نو قران يې په جهري اواز سره لوستلو مشركينو چې به اوريدلو نو قران او دقران نازلونكي او دقران راوړونكي ټولو ته به يې كنځل كول نو دي باره كي الله تعالي خپل نبي ته اوفرمائيل "ولاتجهربصلاتك" يعني په جهري اواز سره قرائت مه كوه دكوم په اوريدو سره چې مشركينو كنځلي شروع كړي او نه يې بيخي په خفيه اواز سره وائي (چې ستا ملګري يې هم نشي اوريدلي) بلكه ددي درميانه لاره اختيار كړه.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣١٤٧ـحَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مِسْعَرٍ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ أَبِي النَّجُودِ، عَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ، قَالَ: قُلْتُ لِحُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ "أَصَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَيْتِ الْمَقْدِسِ؟. قَالَ: لَا، قُلْتُ: بَلَى، قَالَ: أَنْتَ تَقُولُ ذَاكَ يَا أَصْلَعُ، بِمَ تَقُولُ ذَلِكَ؟ قُلْتُ: بِالْقُرْآنِ، بَيْنِي وَبَيْنَكَ الْقُرْآنُ، فَقَالَ حُذَيْفَةُ: مَنِ احْتَجَّ بِالْقُرْآنِ فَقَدْ أَفْلَحَ، قَالَ سُفْيَانُ: يَقُولُ فَقَدِ احْتَجَّ وَرُبَّمَا قَالَ قَدْ فَلَجَ، فَقَالَ: سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى (الإسراء:١)، قَالَ: أَفَتَرَاهُ صَلَّى فِيهِ؟ قُلْتُ: لَا، قَالَ: لَوْ صَلَّى فِيهِ لَكُتِبَتْ عَلَيْكُمُ الصَّلَاةُ فِيهِ كَمَا كُتِبَتِ الصَّلَاةُ فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ، قَالَ حُذَيْفَةُ: أُتِيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِدَابَّةٍ طَوِيلَةِ الظَّهْرِ مَمْدُودَةٍ هَكَذَا خَطْوُهُ مَدُّ بَصَرِهِ، فَمَا زَايَلَا ظَهْرَ الْبُرَاقِ حَتَّى رَأَيَا الْجَنَّةَ وَالنَّارَ، وَوَعْدَ الْآخِرَةِ أَجْمَعَ ثُمَّ رَجَعَا عَوْدَهُمَا عَلَى بَدْئِهِمَا، قَالَ: وَيَتَحَدَّثُونَ أَنَّهُ رَبَطَهُ لِمَ أَيَفِرُّ مِنْهُ وَإِنَّمَا سَخَّرَهُ لَهُ عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: زر بن حبيش وائي مادحذيفه بن يمان رضي الله عنه نه تپوس اوكړو ايا رسول الله صلي الله عليه وسلم په بيت المقدس كي مونځ كړي وو؟ هغه اوونيل نه ما ورته اوونيل يقينا چې كړي يې وو هغه اوونيل اې ګنجيه ته څنګه داسي وائي او په څه بنا داخبره كوي ما اوونيل زه يې دقران په دليل وايم زما او ستا په مينځ كي قران فيصله كونكي دي، حذيفه رضي الله عنه اوونيل چاچې دقران نه استدلال اوكړو هغه كامياب پاتي شو، اوچاچې قران په دليل كي پيش كړو هغه په حجت كي غالب پاتي شو زر بن حبيش وائي ما دا ايت " سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى " په دليل كي پيش كړو حذيفه

---

1 ـ اخرجه النسائي في الكبرى في التفسير (١١٢٨٠) (تحفة الأشراف: ٣٣٢٤)

اووئيل ته ددي ايت نه څنګه ثابتوي چې رسول الله مونځ کړي دي؟ ما اووئيل داسي نه ده هغه اووئيل که رسول الله هلته مونځ کړي وي نو په تاسو هم داسي فرض کيدو لکه څرنګه چې په مسجد حرام کي يي کول فرض کړي شوي دي او بيا حذيفه اووئيل رسول الله صلي الله عليه وسلم ته اوړدي او پلني خيتي والا څاروي (براق) راوستلي شو دده قدم به دومره خاي کي ايخودل کيدو چرته چې به نظر رسيدو او هغوئ دواړه هغه وخته پوري په براق سواره وو چې څو پوري يي دجنت او جهنم او اخرت دوعدي ټول څيزونه ليدلي نه وو او بيا دواړه واپس شول او ددوئ واپس کيدل د دوئ دشروع کولو به اندازه وو خلق وائي چې جبرائيل عليه السلام براق تړلي وو او ولي يي تړلي وو؟ ايا ددي دپاره چې چرته اونه تختي (داخو غلطه خبره ده) کوم څاروي لره چې عالم الغيب والشهاده دهغه دپاره مسخر کړي وي ايا هغه تختيدي شي؟ هيڅ کله نه.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣١٤٨ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدِ بْنِ جُدْعَانَ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا فَخْرَ، وَبِيَدِي لِوَاءُ الْحَمْدِ وَلَا فَخْرَ، وَمَا مِنْ نَبِيٍّ يَوْمَئِذٍ آدَمُ فَمَنْ سِوَاهُ إِلَّا تَحْتَ لِوَائِي، وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ تَنْشَقُّ عَنْهُ الْأَرْضُ وَلَا فَخْرَ، قَالَ: فَيَفْزَعُ النَّاسُ ثَلَاثَ فَزَعَاتٍ، فَيَأْتُونَ آدَمَ، فَيَقُولُونَ: أَنْتَ أَبُونَا آدَمُ فَاشْفَعْ لَنَا إِلَى رَبِّكَ، فَيَقُولُ: إِنِّي أَذْنَبْتُ ذَنْبًا أُهْبِطْتُ مِنْهُ إِلَى الْأَرْضِ، وَلَكِنْ ائْتُوا نُوحًا، فَيَأْتُونَ نُوحًا، فَيَقُولُ: إِنِّي دَعَوْتُ عَلَى أَهْلِ الْأَرْضِ دَعْوَةً فَأُهْلِكُوا، وَلَكِنْ اذْهَبُوا إِلَى إِبْرَاهِيمَ، فَيَأْتُونَ إِبْرَاهِيمَ، فَيَقُولُ: إِنِّي كَذَبْتُ ثَلَاثَ كَذِبَاتٍ، ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا مِنْهَا كَذِبَةٌ إِلَّا مَا حَلَّ بِهَا عَنْ دِينِ اللَّهِ وَلَكِنْ ائْتُوا مُوسَى، فَيَأْتُونَ مُوسَى، فَيَقُولُ: إِنِّي قَدْ قَتَلْتُ نَفْسًا، وَلَكِنْ ائْتُوا عِيسَى، فَيَأْتُونَ عِيسَى فَيَقُولُ: إِنِّي عُبِدْتُ مِنْ دُونِ اللَّهِ، وَلَكِنْ ائْتُوا مُحَمَّدًا، قَالَ: فَيَأْتُونَنِي فَأَنْطَلِقُ مَعَهُمْ، قَالَ ابْنُ جُدْعَانَ: قَالَ أَنَسٌ: فَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: فَآخُذُ بِحَلْقَةِ بَابِ الْجَنَّةِ فَأُقَعْقِعُهَا، فَيُقَالُ: مَنْ هَذَا؟ فَيُقَالُ: مُحَمَّدٌ فَيَفْتَحُونَ لِي وَيُرَحِّبُونَ بِي، فَيَقُولُونَ: مَرْحَبًا، فَأَخِرُّ سَاجِدًا فَيُلْهِمُنِي اللَّهُ مِنَ الثَّنَاءِ وَالْحَمْدِ، فَيُقَالُ لِي: ارْفَعْ رَأْسَكَ سَلْ تُعْطَ، وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ وَقُلْ يُسْمَعْ لِقَوْلِكَ وَهُوَ الْمَقَامُ الْمَحْمُودُ الَّذِي قَالَ اللَّهُ: عَسَى أَنْ يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَحْمُودًا (الإسراء: ٧٩)". قَالَ سُفْيَانُ: لَيْسَ عَنْ أَنَسٍ إِلَّا هَذِهِ الْكَلِمَةُ فَآخُذُ بِحَلْقَةِ بَابِ الْجَنَّةِ

فَأُقَعْقِعُهَا. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ الْحَدِيثَ بِطُولِهِ. (1)

ترجمه : د ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: زه به دقيامت په ورځ دادم عليه السلام داولاد سرداريم او زه په دي باندي هيڅ فخر نه کوم او زما په لاس کي به د حمد جنډه وي او زه په دي باندي هيڅ فخر نه کوم، اوپدغه ورځ به ادم عليه السلام او دهغه نه علاوه چې څومره انبياء دي ټول به زما دجنډي لاندي وي، او زه په دي باندي هيڅ فخر نه کوم او دقيامت په ورځ به اول زمکه زمادخوانه وشلولي شي او زه په دي باندي هيڅ فخر نه کوم او بيا يي اوفرمائيل چې دغه وخت کي به په خلقو دري ويري تيري شي اوبعضي کسان به اووايي راځئ چي ادم عليه السلام ته ورشو نو ټول به ادم عليه السلام ته لاړ شي ورته به اووائي ته ابوالبشر يعنی دټولو بنيادمو پلار يې الله تعالي ته زمونږ سفارش وکړه هغه به ورته اووائي زه ديو بوټي نه منع کړی وم ما نافرماني اوکړه او دهغي په سبب زه ځمکي ته را کوز کړی شوی وم ، تاسونوح عليه السلام ته لاړ شئ هغوئ به نوح عليه السلام ته ورشي هغه به ورته اووائي ما خپل قوم ته خيری اوکړی چې تباه شوتاسو ابراهيم عليه السلام ته تاسو لاړ شئ هغوئ به ابراهيم عليه السلام ته لاړ شي ورته به اووائي ما دری څله دروغ وئيلي دي ، بيا رسول الله اوفرمائيل : هغه کوم حقيقي دروغ نه وو بلکه د الله تعالي ددين حمايت کول يي مقصود وو البته تاسو موسي عليه السلام ته ورشئ خلق به موسي عليه السلام ته ورشي ورته به ووائي ما يو داسی بنده قتل کړی دی چې دهغه دقتل کولو حکم راته نه وو شوی تاسو عيسي عليه السلام ته لاړ شئ خلق به عيسي عليه السلام ته ورشي ورته به اووائي زما خو د الله تعالي نه علاوه بندګي شوي وه، تاسو محمد (رسول الله صلي الله عليه وسلم) ته ورشئ ، په يو روايت کي دي خلق به ماته راشي او زه به ورسره روان شم، ابن جدعان وايي چې انس رضي الله عنه ووئيل ماته داسي ښکاري لکه چې اوس هم زه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ګورم او بيا يي اوفرمائيل زه به د جنت ددروازي ځنځير ونيسم او وبه يي ګړنګوم اواز به او شي چې څوك دی؟ په جواب کي به ووئيل شي محمد (صلي الله عليه وسلم) دي نو ماته به ور پرانستلي شي او پخير راغلي به راته ووئيلي شي نو زه به په سجده پريوځم او الله تعالي به ماته په زړه کي د حمد ويلو طريقه واچوي کوم چې يی ددی نه مخکي هيچاته نه دي خودلي بيابه راته حکم اوشي ای رسول الله صلي الله عليه وسلم سر پورته کړه غواړه چې څه غواړی درکولی به شي او سفارش اوکړه منلی به شي او دا به هغه مقام محمود وي د کوم باره

---

1 ـ سنن ابن ماجه/الزهد ٣٧ (٤٣٠٨) (تحفة الأشراف : ٤٣٦٧)

كي چي الله تعالي فرمائيلي دي: عَسَىٰٓ أَن يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُودًا.
امام ترمذي وايي: سفيان ثوري وائي انس رضي الله عنه په روايت كي صرف دا كلمات دي "فأخذ بحلقة باب الجنة فاقعقعها". امام ترمذي وائي داحديث حسن دي او بعضي راويانو داحديث دابونضره په واسطه دابن عباس رضي الله عنهما نه بطوله نقل كړي دي.

لغات : ابواب جمع دباب ده معني دروازه، ، الاعمال، دعمل جمع ده مصدر دي معني د كار اراده كول، عامل معني كار كونكي.

تشريح : دقيامت په ورځ به دنبي كريم صلي الله عليه وسلم فضيلت په تمامو انبياؤ باندي ظاهر كړى شي كله چې دقيامت په ورځ دپريشانئ حالت وي كله چې به هر يو سړى پريشان وي نو په دغه وخت كې به رسول الله دتمام امت شفاعت كوي او درسول الله په شفاعت شروع كولو سره به دالله تعالي غصه كمه شي.

سوال: تمام خلق به يو دبل نه پس يو يو پيغمبر ته راځي ، تردي چې اخر به رسول الله صلي الله عليه وسلم ته راشي او سفارش به يي اوكړي نو چې وروسته راځي نو داول نه ورته ولي نه راځي؟ جواب: په داسي كولو كې الله تعالي درسول الله فضيلت دتمامو خلقو په وړاندي ظاهرول غواړي.

"كنت كذبت ثلاث كذبات" ابراهيم عليه السلام به اووائي ما دري پيري دروغ وئيلي دي، حالانكه علماء وائي چې هغه دروغ نه وو بلكه تعريض او توريه وه چې ظاهرا دروغ ښكاره كيدل او په حقيقت كې دروغ نه وو په هغه دري خبرو كې يوه دا وه چې زه بيمار يم ستاسو سره تلى نشم او سړى خو څه ناڅه بيمار ضرور وي، دويم دا كاردي غټ بوت كړى دى دده نه تپوس اوكړئ دا يي ددي دپاره وئيلي وو چې خلقو ته دبتانو حقيقت ښكاره شي چې دوئ دچا عبادت كوي هغه څومره مجبور دي، دريم دخپلي ښځي په باره كې يي وئيلي وو چې دا زما خور ده، نو داسلامي رشتي په اعتبار سره هر مسلمان دبل مسلمان وړور دى او مسلمانه ښځه هم خور وي. خلاصه داده چې هر يو نبي به دخپلو لغزشونو په سبب معذرت كوي ددي وجه دا ده چې انبياء عليهم السلام دايمان او تقوي په اعلي درجه فائض وي خو هغوئ معمولي لعزش هم غلطي ګڼړي او په دي وجه بياخان مجرم ګڼړي په همدي وجه وئيلى شوي دي حسنات الابرار سيات المقربين.

واشفع تشفع : سفارش كوه ستا شفاس به قبلولى شي ددي شفارس نه مخكې به رسول الله دالله تعالي حمد او تعريف بيان كړي.

****